فتاوی دار العلوم دیوبند

پښتو

مکمل او مدلل

له افاداتو

حضرت مفتی عزیز الرحمن عثمانی صاحب

تر هدایت لاندی

حکیم الاسلام حضرت مولانا محمد طیب صاحب

ترتیب

مولانا محمد ظفیر الدین صاحب

تخریج او نوی زیاتونه

مولانا محمد یامین صاحب

مکتبه رشیدیه

سرکی روڈ کوئٹہ

0812-662263

۳- شیش محل روڈ نزد داتا دربار لاہور

042-37364516

په دار الافتاوو کي درائج
الوقت نسخوله تخريج سره

فتاوی دار العلوم دیوبند

له نوي اضافي سره

له افاداتو: حضرت مفتي عزيز الرحمن عثماني صاحب
ترهدايت لاندي: حکيم السلام حضرت مولانا محمد طيب صاحب
ترتيب مولانا محمد ظفير الدين صاحب
تخريج او نوي اضافه: مولانا محمد يامين صاحب
خپرونکی: محمد ساجد

اوولسم ټوک

مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ
شیش محل روڈ لاہور

فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

د كتاب الحظر و الإباحة پاته برخه
د مکروه او مباح شیانو بیان

د تصوف بیان

د تصوف حقیقت او شرعي حیثیت

سوال: (۱۰۹۹) ... (الف) تصوف څه ته وايي؟

(ب) په یهودو، نصاری او هندوانو کي تر اسلام مخکي د تصوف وجود ؤ، بیا په اسلام کي د دوی په اړیکو راغلی، ځکه و تصوف ته محدث فی الدین ویل صحیح دي؟

(ج) آیا تصوف داسي ګناه ده چي له امله د حنفي ملت پر سپین مخ داغونه وي؟

(د) د تصوف د مسئلو سره د حنفي دین څه تړون دی؟

(ه) په یهودو او نصاری کي هم صوفیان شته په هندو فقیرانو او نجومیانو کي هم دا ډ ،ل د خاندانو مریدان کېدل، شجره اخیستل او نور او نور محدث فی الدین او بدعت دی؟

(و) آیا د همدغه خبرو په هکله دیارلس سوه کاله مخکي "و کل بدعة ضلالة" فرمایل شوي دي؟ (۱۰۳۱/۲۹ ۱۳۳۰هـ)

ځواب: (الف) تصوف او طریقت یو شی هم له شریعت څخه جلا نه دی، پر شرعي احکامو استقامت او د ظاهري او باطني اخلاقو سمون همدا تصوف دی.

(ب) تصوف محدث فی الدین نه دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق او د صحابه رضی الله عنهم اخلاق عین تصوف دی.

(ج) دا غلطه خبره ده، بلکه تصوف خو د ایمان د حلاوت د حصول باعث دی.

(د) په تصوف او ملت حنیفیه کي تغایر او تخالف نشته، و من لم یذق لم یدر (چا چي څکلي نه وي، هغه یې په خوند څه پوهیږي!)

(ه) دا غلطه خبره ده، تصوف د اسلام د حقیقي حصول نوم دی، د یهودو، نصاری او کفارو د تصوف سره څه اړه ده؟ او مرید کېدل شجره اخیستل بدعت نه دی، و حققه الشیخ ولی الله المحدث الدهلوی فی القول الجمیل بما لا مزید علیه(۱)

---

(۱) فلنبحث عن البیعة من أی قسم هی؟ فظن قوم أنها مقصورة علی قبول الخلافة و أن الذی تعتاده الصوفیة من مبایعة المتصوفین لیس بشیئ، و هذا ظن فاسد لما ذکرنا من أن النبی صلی الله علیه وسلم کان یبایع تارة علی إقامة أرکان الإسلام و تارة علی التتمسک بالسنة و هذا صحیح البخاری شاهدا علی أنه صلی الله علیه وسلم اشترط علی جریر عند مبایعته فقال: و النصح لکل مسلم، و أنه بایع قوما من الأنصار فاشترط أن لا یخافوا فی الله لومة لائم وي قولوا بالحق حیث کانوا فکان أحدهم یجاهر الأمراء، و الملوک بالرد و الإنکار و أنه صلی الله علیه وسلم بایع نسوة من الأنصار و اشترط الاجتناب عن النوحة إلی غیر ذلک و کل ذلک من باب التزکیة و الأمر بالمعروف و النهی عن المنکر الخ(شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۹-۱۰، فصل اول، استدلال بیعت) او د حقیقه د ضمیر مرجع دا جمله ده: "تصوف د اسلام د حقیقي حصول نوم دی"

(و) د تصوف اعمال د "کل بدعة ضلالة"(۱) مصداق نه دی، دا خيال غلط او د جهالت په وجه دی. فقط و الله تعالی اعلم

د بيعت شرعي حيثيت

سوال: (۱۱۰۰) ... (الف) آيا بيعت کول ضروري کار دی، که چا بيعت نه وي کړی نو ګنهګار دی او کنه؟

(ب) د مسلم شريف يو حديث دی چي کوم څوک په داسي حال کي مړ شو چي په غاړه بيعت نه ؤ نو مرګ يې د جاهليت دی(۲) دا حديث څنګه دی؟ او له جاهليت څخه څه مراد دی؟ (۱۳۲۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: (الف) بيعت کول فرض او واجب کار نه دی بلکه سنت دی لکه چي حضرت شاه ولی الله قدس سره په قول جميل کي ثابت کړی دی(۳)

(ب) دا حديث صحيح دی او د جاهليت له مرګ څخه مراد د هغه حال مرګ دی چي د امام په اطاعت کي نه وي بلکه د امام څخه بغاوت وکړي او د ده له اطاعته خارج شي لکه چي د مسلم شريف په بل حديث کي راغلي دي: من خرج من الطاعة و فارق

---

(۱) مشکوة المصابيح، ص: ۲۷، کتاب الإيمان، باب الاعتصام بالکتاب و السنة.

(۲) عن نافع قال: جاء عبد الله بن عمر إلی عبد الله بن مطيع حين کان من أمر الحرة ما کان زمن يزيد بن معاوية، فقال: اطرحوا الأبی عبد الرحمان وس ادة، فقال: إني لم آتک لأجلس اتيتک لأحد ثک حديثا سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول: من خلع يدا من طاعة لقی الله يوم القيامة لا حجة لهو و من مات و ليس فی عنقه بيعة مات ميتة جاهلية(الصحيح لمسلم: ۱۲۸/۲، کتاب الإمارة، باب وجوب ملازمة جمعة المسلمين عند ظهور الفتن إلخ)

(۳) أما المسئلة الأولی فاعلم أن البيعة سنة و ليست بواجبة، الناس بايعوا النبی صلی الله عليه وسلم و تقربوا بها إلی الله تعالی و لم يدل دليل علی تأثيم تارکها و لم ينکر أحد من الأئمة علی تارکها کان کالإجماع علی أنها ليست بواجبة(شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ۱۳، فصل ثاني، مسنون بودن بيعت)

الجماعة فمات مات میتة جاهلية الحديث(۱) د جاهلیت زمانه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر بیعت مخکې زمانه ده، نو ګویا خروج عن طاعة الإمام نبي عليه الصلاة و السلام د جاهلیت کار بللی دی(۲) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۰۱) ... (الف) آیا بیعت پر هر مسلمان نارینه او ښځه فرض دی؟ او د دې تارک ګنهکار دی؟

(ب) چا چې بیعت نه وي کړی د هغه څه سزا ده؟ (۱۳۴۱/۱۴۷۲هـ)

ځواب: (الف) کوم بیعت چې د حضرات صوفیه علیهم الرحمة په منځ کې متعارف دی، هغه سنت دی، کما قال مولانا الشاه ولی الله الدهلوي و لا شبهة أنه إذا ثبت عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل على سبيل العبادة و الاهتمام بشأنه، فإنه لا ينزل عن كونه سنة في الدين(۳) او نارینه او ښځه دواړه په دغه حکم کې مساوي دي(القول الجمیل)

(ب) د بیعت سنت والی خو پورته ثابت شو، لهذا کوم څوک چې بیعت نه کوي هغه تارک د سنت دی او استحقاراً که څوک پرېږدي نو عاصي او ګنهکار دی ځکه څوک چې بیله کوم تاویله د سنتو انکار او استحقار کوي پر هغه د کفر خطره ده، او که د سستۍ یا کوم عذر په وجه بیعت ونکړي نو ګنهکار نه دی، کوم څوک چې پابند د شریعت وي او استحقاراً للسنة د بیعت پرېښودونکی نه وي هغه ناجي دی، کما في القول الجمیل: و لم يدل دليل على تأثيم تاركها و لم ينكر احد من الأئمة على تاركها كان كالإجماع على أنها ليست بواجبة(۴) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۰۲) بیعت کول شرعاً څنګه دی؟ (۱۳۴۲/۹۰۵هـ)

---

(۱) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من خرج من الطاعة و فاق الجماعة ثم مات مات ميتة جاهلية الحديث(الصحيح لمسلم: ۱۲۸/۲، كتاب الإمارة، باب وجوب ملازمة جماعة المسلمين عند ظهور الفتن إلخ)

(۲) د جاهلیت په زمانه کې بدنظمي وه، د خلګو پر یو سرې اتفاق نهٔ ځکه د جاهلیت سره تشبیه ورکړه د جاهلیت مرګ یې ورته ویلی دی ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۳) شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ۸، فصل اول، استدلال بیعت.

(٤) شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ۱۳، فصل دوم، سنیت بیعت.

ځواب: د بيعت د دغه مسئلې تحقيق په القول الجميل او شفاء العليل کې وګورئ(۱) لنډه دا چې د کامل او سنتو اتباع کونکي شيخ سره بيعت کول سنت دی، فرض او واجب نه دی او پير به متبع د شريعت، عالم باعمل متقي او صاحب د باطن وي، د شرعي په خلاف پير سره بيعت کول ناروا دی.

حضرت عارف رومي رحمه الله فرمايي: شعر

اے بسا ابلیس آدم روئے ہست   پس بہ ہر دستے نشاید داد دست (۲)

و قال العارف لشيرازي رحمة الله عليه: شعر

خلاف پیمبر کسے رہ گزید   کہ ہر گز بہ منزل نخواہد رسید (۳)

د بيعت سنتوالی په قرآن او حديثو ثابت دی

سوال: (۱۱۰۳) د بيعت حکم د بيعت حکم او د هغه شرطونه او طريقې د قرآن او حديثو په رڼا کې وليکئ. (۲۲۰۴/۱۳۴۳ھ)

ځواب: د بيعت اصل او د هغه سنت کېدل په قرآن او حديثو دواړو ثابت دي، قال الله تعالی خطابا لنبيه محمد صلی الله عليه وسلم: "إن الذين يبايعونک انما يبايعون الله يد الله فوق ايديهم" (سورة فتح، آيت: ۱۰) و قال الله تعالی: اذا يبايعونک تحت الشجرة الآية (سورة فتح، آيت: ۱۸) و قال الله تعالی خطابا لنبيه عليه السلام: "يا ايها النبي اذا جاءک المؤمنات يبايعنک علی أن لا يشرکن بالله شيئا و لا يسرقن و لا يزنين ... فبايعهن الآية" (سورة ممتحنه، آيت: ۱۲)

---

(۱) شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ۷-۸، فصل اول، استدلال بيعت.

(۲) ترجمه: ډير شيطانان د انسان په بڼه وي نو په هر لاس کې لاس نه دی ورکول په کار يعني ډيرو انسانانو د بزرګانو جامې اغوستي راځي نو د بيعت کولو پر مهال لازم دي چې له ښه تحقيق وروسته بيعت وکړي (دغه شعر پر مخ شو، شو واره راځي)

(۳) ترجمه: د نبي په خلاف چې څوک په هره لاره ولاړ شي هيڅکله به منزل ته ونه رسي. (دا د شيخ سعدي رحمه الله شعر دی)

و استقاض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أن الناس كانوا يبايعونه تارة على الهجرة و الجهاد، و تارة على إقامة أركان الإسلام، و تارة على الثبات و القرار فى معركة الكفار، و تارة على اتمسک بالسنة و الاجتناب عن البدعة و الحرص على الطاعات كما صح أنه صلى الله عليه وسلم بايع نسوة من الأنصار على أن لا ينحن (۱) (القول الجميل للشيخ ولى الله الدهلوى) د دغه قرآن له ایتونو او د بیلابیلو حدیثونو له ټوټو څخه ثابت شو چې بیعت کول کوم نوی کار نه دی بلکه له نبوي سنتو څخه دی او دا چې په نبوي زمانه کې د دې پوره اهتمام ؤ اما که کوم ما به انفرق شته نو هغه صرف دا دی چې مخکې د دې بیلابیلې طریقې وې (یعني د بیلابیلو مقصدونو لپاره بیعت کېدی) اوس همدغه مروج طریقه ده (یعني اوس بیعت د حال د اصلاح لپاره کیږي) د بیعت شرطونه که په تفصیل سره کتل غواړئ نو شفاء العلیل د القول الجمیل ترجمه وګورئ (۲) لیکن مجمل (یعني مختصر) مګر جامع شرط دا دی چې بیعت ورکوونکی به عالم او متمسک په کتاب او سنت رسول الله او متقي وي، هر سړی او دوکه باز د دې اهل نه دی، و نعم ما قیل:

اے بسا ابلیس آدم روئے ہست ‏ پس بہ ہر دستے نشاید داد دست (۳)

د پیرۍ او مریدۍ مقصد څه دی؟

سوال: (۱۱۰۴) د پیرۍ او مریدۍ مقصد څه دی؟ (۷۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د خلق الله د هدایت د شریعت او سنت د اتباع لپاره باید پیري او مریدي وي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) القول الجميل مع ترجمه شفاء العليل، ص: ۷-۸، فصل اول، استدلال بیعت.

(۲) وګورئ القول الجمیل، ص: ۱۴-۲۰، دوهم فصل، شروط مرشد.

(۳) د دغه شعر ترجمه د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۱۰۲) په حاشیة (۲) کې وګورئ.

صرف مجاهده او رياضت مقصد نه دی

سوال: (۱۱۰۵) يو سړی تر شرح وقايه پوري کتابونه ويلي دي په مسجد کي امامت کوي او هلکانو ته سبقونه وايي، د مشغوليت په وجه دائمي ذکر نشي کولای که دی دوه ځلور کاله سخت رياضت وکړي نو څنګه دی؟ (۳۳/۳۸۲-۱۳۳۴ھ)

ځواب: د کامل مرشد او سنتو پابندي عالم سره دي بيعت وکړي صرف مجاهده او رياضت مقصود نه دی بلکه مقصد د الله پاک رضا ده، کامل مرشد چي څرنګه ورته وايي هغسي عمل دي کوي فقط و الله تعالی اعلم

د مذهب د امام تقليد واجب دی که د کامل شيخ؟

سوال: (۱۱۰۶) شرعًا د کامل شيخ د مريدانو لپاره د مذهب د امام تقليد واجب دی، که د کامل شيخ؟

ځواب: په شرعي احکامو کي د خپل مذهب د امام تقليد کوئ فقط و الله تعالی اعلم

پيري مريدي له کوم وخته راشروع ده؟

سوال: (۱۱۰۷) د پيري مريدي لړۍ له کوم وخت څخه ده او سنت او مستحب ده که څه ده؟ (۳۲/۲۰۰۷-۱۳۳۳ھ)

ځواب: پيري او مريدي يو سنت طريقه ده او د نبي عليه الصلاة و السلام په زمانه کي ثابته او له هغه وخته راروانه ده، کما حققه الشيخ العلامة الشاه ولی الله المحدث الدهلوي فی "القول الجميل" و من شاء التفصيل و الاطلاع علی النصوص المثبتة للبيعة فليرجع إليه(۱) قال الله تعالی: "إن الذين يبايعونک انما يبايعون الله يد الله فوق ايديهم" الآية (سورة فتح، آيت ۱۰) او د کوم پير طريقه چي د شريعت خلاف وي نو هغه مريد کېدل هم صحيح نه دي که چا ورسره کړي وي نو بيعت دي مات کړي او

---

(۱) شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ۷-۸، فصل اول، استدلال بيعت.

هیڅکله دي د شریعت په خلاف کارونو کي د پیر خبره نه مني، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق(۱) فقط

د صحابه کرامو تصوف او د دوی نسبت څه ډول حاصلېدلای شي؟

سوال: (۱۱۰۸) د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین تصوف څه ؤ؟ او د صحابیت نسبت څه ډول حاصلېدلای شي؟ (۱۳۴۱/۸۰۸هـ)

ځواب: د صحابه کرامو رضی الله عنهم تصوف د شریعت اتباع وه او نسبت د دوی احسانیه نسبت ؤ چي د هغه په اړه راغلي دي، أن تعبد الله کانک تراه الحدیث(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د اویسیه طریقې حقیقت

سوال: (۱۱۰۹) د اولیاء کرامو په طریقو کي یوه طریقه اویسیه هم شته او کنه؟ د حضرت اویس قرني رحمه الله څوک مرید شوی دی او کنه؟ نن صبا د ده په طریقه څوک بیعت ورکوي؟ د اویس قرني رحمه الله د حالاتو په هکله کوم کتاب دی؟ ځیني علماء د اویسیه طریقې انکار کوي، دوی وایي چا که په اویسیه طریقه بیعت وکړی، هغه کافر دی، د نبي علیه الصلاة و السلام ملاقات ته دريې واره حضرت اویس قرني رحمه الله راغلی، لیکن ملاقات یې ونه شو، بیرته ولاړی دا خبره صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۴۲هـ)

---

(۱) عن النواس بن سمعان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا طاعة لمخلوق الحدیث (مشکوة المصابیح، ص: ۳۲۱، کتاب الإمارة و القضاء، الفصل الثانی)

(۲) عن أبی هریرة رضی الله عنه قال: کان النبی صلی الله علیه وسلم بارزًا یوما للناس فأتاه رجل، فقال: ما الإیمان؟ ... قال: ما الإحسان؟ قال: أن تعبد الله الحدیث (صحیح البخاری: ۱۲/۱، کتاب الإیمان باب سؤال جبریل النبی صلی الله علیه وسلم عن الإیمان و الإسلام و غیرهما)

د احسان معنی ده: نکو کردن، ښه کول، یعني شریعت په ښه طریقه عملي کول یعني دا ډول عبادت او نور کول چي ګو الله ویني دا ډول چي هر څوک په شریعت عمل کوي د هغه عمل به شانداروي او چي په اسنان دغه ملکه (د ساتحضار) پیدا شي د همدې نوم احسانیه نسبت دی او دغه ملکه د ذکر په کثرت سره حاصلیږي او د تصوف بنیادي عمل همدغه دی کوم چي مأمور به دی. په سورۀ احزاب (آیت: ۴۱-۴۲) کي راغلي دي: اې ایمان والو ا تاسو الله په کثرتس ره یادوئ او سهار مابنام یعني علی الدوام د ده تسبیح او تقدیس کوئ ۱۲ سعید احمد پالن پوري

ځواب: د اویسیه طریقې معنی اوس اصطلاحًا دا ده چې کوم بزرګ چې له بل بزرګ څخه روحاني فیض حاصل وي او په ظاهره د صحبت فیض نه وي حاصل شوی هغه ته ویل کیږي چې په اویسیه طریقه ده فیض حاصل دی لکه چې له حضرت ملوانا شاه عبد العزیز صاحب رحمه الله څخه مولانا خرم علي صاحب مترجم په قول جمیل (شفاء العلیل) کې رانقل کوي:

فایده: مولانا فرمايي چې ما له حضرت ولي نعمت یعني مصنف څخه پوښتنه وکړه چې شیخ ابو علي فارمدي چې ابو الحسن خرقاني سره نسبت لري ولي دی په دغه رساله د ده یادونه ونه کړه؟ ده راته وفرمایل چې دا نسبت د اویسیت دی یعني روحاني فیض دی او په دغه رساله کې مي غرض دا دی چې د صحبت نسبت من و عن چې په عالم د شهادت کې ثابت وي هغه بیان کړم، او لیکن د اویسیت نسبت قوي او صحیح دی، شیخ ابو علي فارمدي له ابو الحسن خرقاني څخه روحاني فیض حاصل کړی دی او هغه ته له بایزید بسطامي له روحانیت څخه او هغه ته له امام جعفر صادق له رحانیته تربیت حاصل دی لکه څرنګه چې په قدسیه رساله کې خوجه محمد پارسا علیه الرحمة بیان کړی دی. انتهی شفاء العلیل ترجمه قول جمیل(۱)

له دغه عبارت څخه معلوم شو چې د اویسي نسبت معنی روحاني فیض دی او دغه نسبت قوي او صحیح دی، دا هم معلوم شو چې د اویسي نسبت لپاره دا ضروري نه ده چې د حضرت اویس قرني رحمه الله سره به چا بیعت کړی وي او دا خبره دي هم څرګنده وي چې د اویسي نسبت انکار غلط دی، و حضرت اویس قرني رحمة الله علیه له نبي علیه الصلاة و السلام څخه روحاني فیض خو حاصل شوی ؤ او صحبت د نبي علیه الصلاة و السلام ده ته نه ؤ حاصل، لکه چې پخپله نبي علیه الصلاة و السلام فرمایلي دي: خیر التابعین اویس القرنی او کما قال صلی الله علیه وسلم(۲) څکه چا ته چې

(۱) شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۱۶۲، فصل أحد عشر، ذکر سلاسل طریقت مصنف.

(۲) عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال: إني سمعت رسول الله صلى الله علیه وسلم یقول: إن خیر التابعین رجل یقال له أویس و له والدة و کان به بیاض فمروه فلیستغفرلکم (الصحیح لمسلم: ۳۱۱/۲، کتاب الفضائل، باب من فضائل اویس القرنی رحمه الله تعالی)

روحاني فیض له کوم بزرګ څخه حاصل وي هغه به په اویسي نسبت تعبیرؤ، و عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: إن رجلا یأتیکم من الیمن یقال له أویس، لا یدع بالیمن غیر ام له، قد کان به بیاضو فدعا الله فأذهبه عنه إلا موضع الدینار او الدرهم، فمن لقیه منکم فلیستغفر لکم(۱) و في روایة: قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: إن خیر التابعین رجل یقال له أویس و له والدة، و کان به بیاض، فمروه فلیستغفر لکم رواه مسلم(۲) (مشکوة شریف، ص: ۵۷۴)

د حضرت عمر رضی الله عنه له دغه حدیث څخه دا هم څرګند شو چي د نبي علیه الصلاة و السلام په زمانه کي اویس قرني د ده مبارک په خدمت کي نه شو حاضر او وجه د دې په بل روایت دا معلومه شوه چي د مور د خدمت په وجه حاضر نه شو، د نبي علیه الصلاة و السلام له دغو الفاظو إن رجلا یأتیکم الخ څخه معلومیږي چي اویس قرني به د صحابؤ په خدمت کي راځي او پخپله د ده مبارک صلی الله علیه وسلم و ده ته تابعي ویل هم د دې دلیل دی، پاته شوه دا خبره چي اویس قرني رحمه الله دي نبي علیه الصلاة و السلام ته راغلی وي او ملاقات نه وي شوی، هیڅ ځای ثابت نه معلومیږي او د حضرت اویس قرني رحمه الله د حالاتو په هکله کوم کتاب هم ماته نه دی معلوم او د ده د سلسلې حال هم نه دی معلوم چي د ده مرید څوک شو؟ بیا څوک شو؟ الخ او نه دا معلوم چي نن صبا د ده په سلسله کي څوک مرید کوي او کنه؟ فقط و الله تعالی اعلم

د ولي پېژندنه

سوال: (۱۱۱۰) خلاصه د سوال دا ده چي د اولیاء الله څه علامت دی؟ (۴۵۹/۴۶-۱۳۴۷هـ)

ځواب: الله تعالی د اولیاء الله علامت دا بیان کړی دی: "ألا إن اولیاء الله لا خوف علیهم و لا هم یحزنون، الذین آمنوا و کانوا یتقون" (سورة یونس، آیت: ۶۲-۶۳) یعني خبردار یقیناً

---

(۱) عن أسیر بن جابر رضی الله عنه أن أهل الکوفة وفدوا إلی عمر و فیهم رجل ممن کان یسخر بأویس، فقال عمر: هل ههنا أحد من القرنیین؟ فجاء ذلک الرجل، فقال عمر: إن رسول الله صلی الله علیه وسلم قد قال: إن رجلا یأتیکمن من الیمن الخ (مشکوة ص: ۵۸۱-۵۸۲، باب ذکر الیمن، و الشام و ذکر أویس القرني، الفصل الأول و الصحیح لمسلم: ۳۱۱/۲، کتاب الفضائل، باب من فضائل أویس القرني رحمه الله تعالی)

دوستان د الله تعالى نه به وي هيڅ ويره پر دوى باندي او نه به دوى غمجن كيږي، دا هغه كسان دي چي ايمان راوړى دى او دوى ځان ساتي له هري ګناه څخه، په بل آيت كي راغلي دي "إن اولياءه إلا المتقون" (سورة انفال، آيت: ٣٤) يعني اولياء الله هم هغه دي چي متقيان دي نو معلوم شو چي كوم پوره متقيان دي او له الله څخه ويريږي، هم هغه وليان دي او په اهل تصوف كي دا روايت منقول دى: اوليائي تحت قبابي لا يعرفهم غيري(١) يعني الله تعالى فرمايي: زما وليان زما په ګومبتو كي دي، له ما څخه پرته دوى هيڅوک نه پيژني. لهذا په دا خبره پسي مه لګيږئ چي ولي په دا زمانه كي څوک دى؟ او فلانى سړى ولي دى او كنه؟ او كه دي د كوم بزرګ سره د بيعت كولو اراده ده نو د هغه علماء صوفياء كرامو دا ليكلي دي چي كوم بزرګ عالم، صاحب د باطن او د يو بزرګ له طرفه ورته اجازه وي او د هغه په صحبت كي زړه ته اطمينان حاصل وي او الله سړي ته ورپه ياد شي د هغه سره بيعت وكړئ. خوش ګفت:

با هر كه نشستيو نشد جمع دلت | وز تو نه رميد صحبت آب و ګلت
زنهار ز صحبتش ګريزاں مى باش | ورنه نكند روح عزيزاں به حلت (٢)

---

(١) مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح: ٥١٣/٩، كتاب الرقاقو باب الرياء و السمعة، الفصل الثالث (حديث ٥٣٢٨ په شرح كي ملا علي قاري رحمه الله دا د حديث قدسي په توګه ليكلى دى او كوم كتاب ته حواله نه ده وركړې او په هغه كي قبائي راغلى دى، د قباء معنى ده: چوغه نو ترجمه دا ده: زما وليان زما په چوغه كي دي، له ما څخه پرته دوى هيڅوک نه پيژني. مګر د فتاوى په رجسټر كي قبابي دى، دا د قبة جمع ده په فتوى كي د دې ترجمه كړې ده، له دې وروسته په دې خبره ځان پوهول پكار دى چي دا ا يو بې اصل روايت دى، د حديثو په كوم كتاب كي نشته او د حيرانتيا خبره ده چي ملا علي قاري رحمه الله پر موضوعاتو دوه كتابونه ليكلي دي، بيا د ده ذهن په دې خوا ولي نه ولاړى ١٢ سعيد احمد پالن پوري)

(٢) دا د حضرت عزيزان علي راميتني رباعي ده (ما لا بد منه، ص: ١٧٩. كتاب الإحسان) شاعر په څلورمه مصرعه كي خپل تخلص ذكر كړى دى. د دې ترجمه دا ده:

د هر چا سره چي كښيني او تا ته د زړه تسلي حاصله نشي او له تا څخه ونه تښتي ستا د دنيا تعلق (آب و ګل يعني د دنيا . صحبت يعني تعلق) يعني ستا د دنيا مينه كمه نه شوه.

نو واوره ! د هغه سړي له صحبت څخه ليري ګرځه. كنې د عزيزان روح به تا معاف نكړي (په فارسي كي د به حل كردن معنى ده: معافول، دغه رباعي پر مخ خو واره راغي)

جاهل، مکرجن او بې لمانځه ولي نشي کېدلای

سوال: (۱۱۱۱) ... (الف) يو فقير و جاهلانو ته بيعت ورکوي او وايي چي زه د يو کلني يا شپږو مياشتو د ساي غوا چي نه وي لنګه شيدې راوباسم د داسي سړي مريدي کول څنګه دي؟

(ب) يو سړی په مسجد کي لوڅ ناست وي او لمونځ هم نه کوي، حواس يې سم دي، داسي سړي ته ولي ويلای شو؟ او ولي کېدلای شي او کنه؟ (۲۳۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: (الف) د داسي مکرجن او دوکه باز سره بيعت کول صحيح نه دی. مولانا رومي قدس سره فرمايلي دي:

اے بسا ابلیس آدم روئے ہست پس بہ ہر دستے نشاید داد دست (۱)

(ب) سره د دې چي سړی روغ جوړ عقل او حواس يې پر ځای وي بيا هم د شرعي خلاف د فرائضو تارک او حرامو کارونو کونکی وي هغه ولي نشي کېدلای، قال الله تعالى: "إن اولياءه إلا المتقون" (سورهٔ انفال، آیت: ۳٤) و قال تعالى: "ألا إن أولياء الله لا خوف عليهم و لا هم يحزنون الذين آمنوا و كانو يتقون" (سورة يونس، آيت: ٦٢-٦٣) فقط و الله تعالى اعلم

د پير صفات

سوال: (۱۱۱۲) ... (الف) د صوفي سره بيع کول واجب دی که د عالم سره؟

(ب) په کوم عمر کي بيعت کول په کار دی؟ د پير څه صفات دي؟

(ج) آيا بيله بيعت کولو انسان پر صراط مستقيم تګ نشي کولای سره د دې چي عالم وي؟ (۱۴۷۲/۱۳۴۱هـ)

ځواب: (الف-ج) بيعت د هغه چا سره کول پکار دی چي پکي دا لاندي ليکل شوي خبري وي، د قرآن شريف په تفسير کي لږ نه لږ په مدارک او جلالين پوهيږي او په حديثو کي په مصابيح او مشکوة بنه پوه وي يعين بنه علم لري او په حلال او حرام بنه خبر وي، مقتي وي، زاهد وي، د مؤکده طاعاتو او مأثوره منقوله فى الصحاح اذکارو هم پابند وي او د دې سره د زړه غافل نه وي بلکه د نصيحت يا د يعني د پاس انفاس بنه

(۱) د دغه شعر ترجمه د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۱۰۲) په حاشيه (۲) کي راغلې ده.

عادي وي امر بالمعروف او نهي عن المنکر کونکی وي د کاملو پیرانو سره وخت تیر کړی وي. فقط و الله تعالی اعلم

پیر باید د سنتو پیروي کونکی او عالم باعمل وي

سوال: (۱۱۱۳) د پیر کیدو لپاره کوم، کوم شرطونه ضروري دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۵۸۷هـ)

ځواب: پیر باید د سنتو پیروي کونکی او عالم باعمل وي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۱۴) د پیر طریقت څه شرطونه دي؟ هر سید او هر عالم بې د شرعي احکامو له پابندي کولو پیر کیدلای شي؟ او بې د کامل شیخ له جازته څوک مرید کولای شي؟ (۱۳۳۵/۱۲۱۱هـ)

ځواب: بیله تقوی او د شرعي احکامو له پیروي څوک د پیر جوړولو لائق نه دی او داسي څوک پیر جوړول حرام او منع دي. قال العارف الشیرازي: شعر:

خلاف پیمبر کسے رہ گزید — کہ ہر گزبہ منزنخواہد رسید (۱)

و قال العارف الرومي قدس سره: شعر:

اے بسا ابلیس آدم روئے ہست — پس بہ ہر دستے نشاید داد دست (۲)

او د طریقت د پیر نور شرطونه په قول جمیل کي په وضاحت سره بیان شوي دي، شفاء العلیل ترجمه د قول جمیل چاپ شوی ملاویږي، هغه وګورئ (۳) فقط و الله تعالی اعلم

د کامل او مقبولي ولي پیژندنه

سوال: (۱۱۱۵) د کامل او مقبول ولي څه علامت دی؟ د تصوف په کتابونو کي لیکلي دي چي اهل الله د فتوح لپاره کوم عمل نه وایي نو بیا د دوی فتوحات څه ډول حاصلیږي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۳۸۲هـ)

ځواب: شرعًا د کامل او مقبول علامت دا دی چي له کبائرو به اجتناب کوونکی وي پر صغائرو به ټینګار کوتنکی نه وي، زاهد فی الدنیا به وي، راغب فی الآخرت به وي،

---

(۱) ترجمه: د نبي په خلاف چي په هره لاره ولاړ شي هیڅکله به تر منزله ونه رسي. ۱۲

(۲) د دغه شعر ترجمه د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۱۰۲) په حاشیه (۲) کي راغلې ده.

(۳) شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۱۴–۲۰، دوهم فصل، شروط مرشد.

پر طاعاتو باندي مداومت کونکی به وي، د زړه تعلق به يې له الله تعالی سره وي، نور او نور او د دغه عمل او رسوخ ثمره په دنیا کي هم من جانب الله بیله طلبه دا ظاهریږي چي هر شی ده ته مائلیږي او الله تعالی پخپله هم د د همکار او متکفل شي، من کان لله کان الله له(۱) کله چي دی له دنیا څخه اعراض کونکی شي او د الله تعالی په خدمت او اطاعت کي ولګي نو دنیا د ده و خدمت ته متوجه شي، لنډه دا چي ده ته فتوحات د مروج عملیاتو په وجه نه وي بلکه د الله پاک د ارشاد: "إن الذين آمنوا و عملوا الصالحات سيجعل لهم الرحمن ودا "(سورة مريم، آيت:۹۶) سره سم هر شی د ده مطیع او منقاد شي. فقط و الله تعالی اعلم

د سنتو اتباع کونکی له بیعت څخه منع کول صحیح نه دی

سوال: (۱۱۱۲) زموږ په وطن کي یو صالح ولي دی چي د الله له لوري ورته الهام شوی دی، و عامو خلکو ته د بیعت ورکولو او د ده په بیعت ډیر خلګ نیکیو ته مائل شوي دي داسي خلګ چي بیله زنا، شراب خوړلو او خمار کولو به بل څه نه پیژندل، هم هغه خلګ عابدان او د مسجدونو معتکفان شول، په داسي حال کي یوه ډله د علماء د غه ولي سره بیعت کول جائز بولي بله ډله یې ناجائز بولي، ډیر نبک او له اثره ډک سړی دی چي څرنګه بیعت ته متوجه شي مرید مجذوب شي. بینوا توجروا (۱۳۳۵/۳۵۳هـ)

ځواب: د صالح او سنتو پیروي کونکي ولي سره بیعت کول صحیح بلکه مستحب دی، د داسي د سنتو پیروي کونکي له بیعت څخه منع کول چي صحبت یې مؤثر وي او د اصلاح، تقوی او سنتو پیروي و طرف ته رابلونکی وي، صحیح نه دي، بلکه د ده سره بیعت کول عین شرعي حکم دی او د صالح شیخ علامت بزرګانو همدا لیکلي دي چي د ده په صحیبت کي د صلاح او تقوی و طرف ته شوق وي او له منهیاو څخه پرهېز وي او

---

(۱) په مرقاة المفاتيح ۳۵۵/۳، کتاب الصلاة، باب صلاة الضحى أوائل الفصل الثاني کي دي و مقولې په توګه لیکلي دي مفتي صاحب رحمه الله هم دې ته حدیث نه دي ویلي. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

نور او "إذا رءوا ذكر الله "(١) د حديث شريف جمله ده چي دوی ته په کتلو سړي ته الله ورپه ياد شي او يو بزرګ فرمايلي دي:

باہر کہ نشستیو نشد جمع دلت — وز تو نہ رمید صحبت آب وگلت
زنہار ز صحبتش گریزاں می باش — ورنہ نکتہ روح عزیزاں بہ حلت (٢)

نو د دې له مفهوم څخه معلوم شول چي د چا په صحبت يک د زړه اطمينان وي او د دنيا مينه سړه شي د هغه صحبت اختيارول پکار دي فقط و الله تعالى اعلم

د پير لپاره سيد کيدل ضروري نه دي

سوال: (١١١٧) د پير کېدو لپاره سيد کيدل ضروري دي که د بل قوم هم پير کېدلای شي؟ (١٣٣٥/١٧٠٤هـ)

ځواب: سيد کېدل ضرط نه دي، عالم با عمل په شريعت او طريقت باخبر کېدل پکار دي، که شيخ وي که سيد يا کوم بل قوم، قال الله تعالى: "إن اكرمكم عند الله اتقاكم" (سورة حجرات، آيت: ١٣)

د جنت د دخول لپاره بيعت شرط نه دی

سوال: (١١١٨) يو سړی د بيعت منکر دی، مګر د شريعت پابند دی نو دا سړی ناجي او جنت ته به داخليږي او کنه؟ (١٣٣٣-٣٢/٢٥٨هـ)

ځواب: حضرت شاه ولی الله رحمه الله په قول جميل کي ثابت کړي دي چي بيعت سنت دی(٣) او انکار له دي څخه غلط او ناداني ده ليکن که څوک د شريعت او سنتو

---

(١) عن أسماء بنت يزيد رضى الله عنها أنها سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ألا أنبئكم بخياركم؟ قالوا: بلى يا رسول الله! قال: خياركم الذين إذا رءوا ذكر الله عز وجل (سنن ابن ماجة، ص: ٣٠٣، ابواب الزهد، باب من لا يؤبه له)

(٢) د دغه رباعي ترجمه د كتاب الحظر و الإباحة دس وال(١١١٠) په حيايه(٢) کي وګورئ.

(٣) و استفاض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أن الناس كانوا يبايعونه تارة على الهجرة و الجهاد و تارة على إقامة أركان الإسلام و تارة على الثبات و القرار في معركة الكفار و تارة على التمسک بالسنة و الاجتناب عن البدعة و الحرص على الطاعات كما صح أنه صلى الله عليه وسلم بايع نسوة من الأنصار على أن لا ينحن ... مما لا شک فيه و لا شبهة أنه إذا ثبت عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل على سبيل

پابند وي خو بیعت یې نه وي کړی نو هیڅ پرواه نلري او د لاصون او جنت د دخول لپاره د شریعت اتباع کافي ده او په حقیقت کي له بیعت څخه غرض هم د شریعت د اتباع تکمیل دی. فقط و الله تعالی اعلم

صرف بیعت کول د خلاصون لپاره کافي نه دي

سوال: (۱۱۱۹) زید د یو بزرګ سره بیعت کړی دی مګر د روژې او لمانځهٔ پابندي نه کوي چي خلګ ورته ووایي نو وایي چي زه د یو غټ بزرګ مرید یم، زما د خلاصون کار به وشي، دا وینا د زید صحیح ده او کنه؟ (۲۱۲۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: داسي ویل جئز نه دي، د قیامت په ورځ خپل عمل په کار راځي بیله خپل عمله د پیر بزرګي او عمل هیڅ ګټه نه رسوي، داسي سړی فاسق او مبتدع دی، توبه دي وباسي. فقط

د نارینه د بیعت کولو طریقه

سوال: (۱۱۲۰) د بیعت کولو لپاه د شیخ په لاس کي لاس ورکول لازم او ضروري دي او کنه؟ (۱۲۴۰/۱۳۳۵هـ)

ځواب: په بیعت کولو کي لاس په لاس کي ورکول ضروري او شرط نه دی اما د نرو په بیعت کولو کي دا مستحب او سنت دي نو که په خوله دي و شیخ مرید شو د استقامت علی الشریعة عهد یې ورسره وکړی بیع وشو، که څه هم لاس په لاس کي نه وي ورکړی. فقط و الله تعالی اعلم

د ښځو د بیعت کولو طریقه

سوال: (۱۱۲۱) د ښځو لپاره د بیعت کولو پر مهال چي په پرده کي وي، پټو نیول جائز دی او کنه؟ (۱۲۰۲/۱۳۴۳هـ)

العبادة و الاهتمام بشأنه: فإنه لا ينزل عن كونه سنة فى الدين (شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ۷-۸، فصل اول)

ځواب: د بيعت دا طيقه محموده ده شرعًا کومه ناوړتيا پکي نشته، حضرت شاه ولی الله رحمه الله او نورو په تفصيل سره ليکلي دي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۲۲) و اجنبي ښځو ته بيعت ورکولو لپاره لاس په لاس کي ورکول که پر لاس ټوکر وپيچي يا که د پټو پلو ونيسي او يا که په اوب، ډکه پياله کي لاس واچوي کوم يو جائز دی؟ او په تفسير کبير، روح البيان او احمدي کي چي له کومو حديثونو څخه د دغه ټولو جواز معلوميږي، هغه صحيح او د مجوزينو د استدلال وړ دی او کنه؟ (۱۳۲۱/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: و ښځو ته بيعت ورکولو پر مهال لاس په لاس کي مه ورکوئ. بلکه په حديثو کي راغلي دي چي نبي عليه الصلاة و السلام ښځو ته صرف په خوله بيعت ورکاوی، د کومي ښځي لاس ته نبي عليه الصلاة و السلام لاس نه دی وروړی(۲) نور د ټوکر او پټو پلو نيول پروا نلري او د هغو روايتونو حال نه دی راته معلوم کوم چي تاسو د تفسير کبير او نورو په حواله بيان کړی دی(۳) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۲۳) د ښځو د بيعت کولو څه طريقه ده؟ نبي عليه الصلاة و السلام او راشده خلفاؤ رضی الله عنهم ښځو ته څه ډول بيعت ورکاوی؟ (۱۳۳۵/۱۱۷۸ھ)

ځواب: د ښځو بيعت په خوله وي د آيت: "يايها النبی إذا جاءک المؤمنات يبايعنک " الآية (سورة ممتحنه، آيت: ۱۲) د مضمون سره سم په خوله اقرار په وکړي فقط

---

(۱) امام بيعة النساء فبأن يأخذ الشيخ طرف ثوب و التی تبايع طرفه الآخر، و الله اعلم (القول الجميل مع اردو ترجمه شفاء العليل، ص: ۲۹، ذوهم فصل)

(۲) عن عروة أن عائشة رضی الله عنها أخبرته عن بيعة النساء، قالت: ما مس رسول الله صلى الله عليه وسلم بيده امرأة إلا أن يأخذ عليها فإذا أخذ عليها فأعطته: قال: اذهبی فقد بايعتک (الصحيح لمسلم: ۱۳۱/۲، کتاب الإمارة، باب کيفية بيعة النساء؟)

(۳) داسي روياتونه شته او د استدلال قابل هم دی مګر معتمد عليه نه دی، په روح المعاني: (۸۷/۲۸، سورة ممتحنه، آيت ۱۲ په تفسير کي) راغلي دي: و من يثبت ذلک يقول بالمصافحة وقت المبآيعة، و الأشهر المعول عليه أن لا مصافحة، بلکه اعتماد د مسلم شريف پر روايت دی چي په تېره حاشيه کي راغلی ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

بیله نیته صرف په الفاظو ویلو بیعت نه کیږي

سوال: (۱۱۲۴) د زید اراده وه چي زه د یو عالم سره بیعت وکړم یوه ورځ یو سړی زید ته راغلی، ده ته وویل چي تا د یو چا سره بیعت کړی دی؟ زید ورته وویل چي نه، هغه ورته وویل: تیار شه او لاس راکړه، زید خبره هم واړوله، مگر په خبرو. خبرو کي د شرم په وجه بیعت وشو مگر کوم الفاظ چي وویل د بیعت په نیت یې نه دي ویلي او د دغه سړي سره بیعت کول د زید زړه هیڅکله نه غوښتل، په داسي صورت کي کي زید بل ځای بیعت کولای شي او کنه؟ (۳۳/۷۳۰-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په دساي حال کي زید بل ځای بیعت کولای شي، ځکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي: إنما الأعمال بالنيات(۱) او د زید نیت خو د دغه سړي سره د بیعت کولو نه ؤ او ده چي کوم الفاظ ویلي دي هغه یې د بیعت په نیت نه دي ویلي نو زید د دغه سړي مرید نه شو. فقط و الله تعالی اعلم

و ښځو ته بیعت ورکول صحیح دی

سوال: (۱۱۲۵) و ښځو ته بیعت ورکول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۴۷۱هـ)

ځواب: و ښځو ته بیعت ورکول صحیح دی، نبي علیه الصلاة و السلام ښځو ته بیعت ورکړی دی او له سلفو او خلفو څخه په هره زمانه کي دا سنت راروان دی، اما د ښځو بیعت صرف په خوله وي، لاس په لاس کي ورکولو سره بیعت مه ورکوئ. فقط و الله تعالی اعلم

ښځه د خاوند بې اجازته د پیر سره بیعت کولای شي او کنه؟

سوال: (۱۱۲۶) ښځي د خاوندانو بې اجازته د پیر سره بیعت کولای شي او کنه؟ (۳۲/۷۹۲-۱۳۳۳هـ)

---

(۱) صحیح البخاری: ۲/۱، کتاب بدء الوحی، باب کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم إلخ.

ځواب: بیعت کولای شي په دې شرط چي په دغه بزرگ کي د بیعت شرطونه موجود وي. و التفصیل فی القول الجمیل(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۲۷) ښځه بې د خاوند له خوښي د پیر سره بیعت کولای شي او کنه؟ که د خاوند د ناخوښی سره بیعت وکړي نو د داسي ښځي په اړه شرعًا څه حکم دی؟ او په دغه صورت کي نکاح قائمه ده او کنه؟ (۱۳۰۴/۱۳۴۰ھ)

ځواب: د کامل او سنتو پیروي کونکي شیخ سره بیعت کولو لپاره د خاوند رضا او اجازه شرعًا ضروري نه ده، لیکن غوره دي چي د خاوند په اجازه او د هغه په خبرولو بیعت وي ترڅو دی بدګمانه او زړه یې زهیر نشي او دا کتل ضروري دي چي پیر به د شرعي خلاف نه وي کني له ده سره بیعت کول حرام ګرځي. شعر:

اے بسا ابلیس آدم روئے ہست　　　پس بہ ہر دستے نشاید داد دست (۲)

سوال: (۱۱۲۸) آیا ښځه د خاوند بې اجازته بیعت کولای شي؟ (۱۳۴۱/۱۴۷۲ھ)

ځواب: ښځه د کامل پیر سره د خاوند بې اجازته بیعت کولای شي ځکه چي په شرعي مأموراتو کي د خاوند اذن ضروري نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

د ښځي لپاره له خپل پیر څخه پرده کول فرض ده

سوال: (۱۱۲۹) آیا پیر نیول فرض دی؟ او د پیر نیولو پر مهال پیر د ښځي لاس په لاس کي نیولو سره بیعت کولای شي او کنه؟ او د پیر څخه د پردې کولو و ښځي ته څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۲۴۵۲ھ)

ځواب: بیعت کول یعني پیر نیول فرض نه دی بلکه سنت او مستحب دی او د پیر نیولو غرض هم د شریعت پر اتباع پوخوالی او قائم پاتېدل دي نو کله چي یو نر یا ښځه شرعي احکام پوره پر ځای کړي او فرائض، واجبات او سنت د شرعي حکم سره سم ادا

---

(۱) شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۱۴-۲۰، فصل دوم، شروط مرشد.

(۲) د دغه شعر ترجمه د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۱۰۲) په حاشیه کي راغلې ده.

کړي او له محرماتو او معاصي څخه حتى الوسع پرهېز وکړي، هغه پوخ مؤمن او متقي دی او د الله محبوب او مقرب دی، لکه چي الله تعالى فرمايي: "قل إن كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله" الآية (سورة آل عمران، آيت: ۳۱) نو کله چي معلوم شو چي بيعت کول او پير نيول فرض نه دی نو که مي د بيعت کولو اراده وي او برکت حاصلول غواړئ نو د داسي پير سره بيعت وکړئ چي رباني عالم او دش ريعت متبع وي کوم کار د شرعي خلاف پکي موجود نه وي او د ښځي لپاره په بيعت کولو کي دا هم ضروري دي چي پير به صرف په خوله بيعت کوي او له بيعت کولو وروسته د ښځي لپاره له پير څخه همداسي پرده کول فرض ده لکه چي د اجنبي نارينه څخه او کوم پير چي د خپلو مريدو ښځو سره بې پرده ملاقات کوي او دوی ته د پردې کولو نه وايي، هغه فاسق او عاصي دی، هغه د دې وړ نه دی چي سړی يې پير جوړ کړي، په حديث شريف کي راغلي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم چي به کله ښځو ته بيعت ورکاوی نو صرف په خوله باندي به اقرار په کاوی، نبي عليه الصلاة و السلام د يو ښځي و لاس ته لاس هيڅکله نه دی وروړی(۱) و قد قال الله تعالى: "لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة" الآية (سورة احزاب، آيت: ۲۱) فقط و الله تعالى اعلم

د خاوندانو راز و پير ته ويل

سوال: (۱۱۳۰) د خاوند راز و پير ته ويل څنګه دی؟ (۱۳۴۱/۱۴۷۲هـ)

---

(۱) عن عروة بن الزبير رضى الله عنه أن عائشة زوج النبى صلى الله عليه وسلم قالت: كان المؤمنات إذا هاجرن إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم يمتحن بقول الله تعالى: "يايها النبى إذا جاءک المؤمنات يبايعنک على أن لا يشركن بالله شيئا و لا يسرقن و لا يزنين إلى آخر الآية" قالت عائشة رضى الله عنها: فمن اقر بهذا من المؤمنات فقد أقر بالمحنة، و كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أقررن بذلک من قولهن، قال لهن رسول الله صلى الله عليه وسلم: انطلقن، فقد بايعتكن و لا و الله! ما مست يد رسول الله صلى الله عليه وسلم يد امرأة قط غير أنه يبايعهن بالكلام الحديث(الصحيح لمسلم: ۱۳۱/۲، كتاب الإمارة، باب كيفية بيعة النساء؟)

ځواب: د خاوند هغه راز چې دی يې پټ ساتل غواړي او خپله ښځه امينه بولي ځکه پخپله راز يې خبروي، داسي راز ويل خيانت دی. فقط و الله تعالی اعلم

د ښځي او خاوند د يو پير سره بيعت کول

سوال: (۱۱۳۱) يو سړي د يو شاه صاحب سره بيعت وکړی، د ده ښځي او بچيانو هم ورسره بيعت وکړی، په داسي حال کي د ښځي او خاوند په اړيکو کي فرق راغلی او کنه؟ ښځه او خاوند د پير د يو والي په وجه ورور او خور شو او کنه؟ (۳۳/۱۱۲۵-۱۳۳۴ھ)

ځواب: ښځي او خاوند که دي و پير مريدان شول نو په دې سره پر نکاح او نورو معاملو څه فرق نه دی راغلی، بلکه پکار دي چې د زوجيت اړيکي نوري هم قوي شي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره به د صحابه وو ښځو او خاوندانو دواړو بيعت کاوی او داغسي هم ټول مسلمانان نارينه او ښځي سره ورونه خوندي دي: "إنما المؤمنون إخوة" (سورة حجرات، آيت: ۱۰) په قرآن شريف کي راغلي دي لنډه دا چې په دې کي هيڅ وهم مه کوئ. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۳۲) که ښځه او خاوند دواړه د يو پير مريدان وي نو جائز دي او کنه؟ (۹۰۱/۱۳۴۰ھ)

ځواب: ښځه او خاوند که دواړه د يو پير مريدان وي نو صحيح دي. فقط

له خپلي مريدي سره نکاح کول

سوال: (۱۱۳۳) د خپلي مريدي سره نکاح جائز ده او کنه؟ چې مخکي يې مريده کړي بيا نکاح ورسره وکړي؟ (۹۷۰/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: له مريدي سره نکاح صحيح ده ليکن دوکه کول حرام دي. فقط

ښځوته په خلوت کې بیعت ورکول

سوال: (۱۱۳۴) و ښځو ته په خلوت کې بیعت ورکول جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۲۲۵هـ)

ځواب: خلوة بالأجنبية حرام دی ځکه په خلوت کې دې ښځو ته بیعت نه ورکوي ، أما که کوم بل نارينه هلته موجود وي یا کومه محرمه ښځه موجوده وي نو بیا صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

و ښځې ته جلا په یو سرای کې وظیفه ښودل یا حلقه په کول

سوال: (۱۱۳۵) د پیرو مخته د ښځې بې پرده کېدلو سره دیدن کول او د پیر صاحب ښځه د وظیفې او نورو ښودلو لپاره جلا ځای ته بیول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۳۱۹هـ)

ځواب: نه دي پکار. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۳۶) یو سړی و ښځو، نرو او ماشمانو ته بیعت ورکوي او په ښځو په خلوت کې حلقه کوي، دا فعل جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۹۸۹هـ)

ځواب: و ښځو، نرو او ماشومانو ته بیعت ورکول جائز دی مګر په ښځو په خلوت کې چیرې چې بل کوم نارينه یا محرمه ښځه نه یو حلقه کول مکروه ده، لکه چې د فقهې په کتابونو کې راغلي دي چې یو اځې د ښځو امام کېدل له مسجد څخه پرته چیرې چې کومل بل نر یا محرمه ښځه نه وي مکروه دي(۱) فما ظنک بالحلقة المرسومة؟ فقط و الله تعالی اعلم

له مریدانو سره د پیر حلقه کول

سوال: (۱۱۳۷) له مریدانو سره د پیر حلقه کول څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۱۱هـ)

---

(۱) تكره إمامة لارجل لهن في بيت ليس معهن رجل غيره لا محرم منه كأخته او زوجته او أمته أما إذان كان مهن واحد ممن ذكر او أمهن في المسجد لاي كره، بحر(الدر) و في الشامي: قوله: (في المسجد) لعدم تحقق الخلوة فيه، و لذا لو اجتمع بزوجته فيه لا يعد خلوة (الدر مع الرد كتاب الصلاة، باب الإمامة، مطلب: إذا صلى الشافعي قبل الحنفي هل الأفضل الخ. ط رشيديه)

ځواب: حلقه کول د افادې او ستفادې په غرض او ذکر الله، درود، تسبیح او تهلیل دا ټول کارونه مستحب مشروع دي اما د ځينو زياتوب خصوصياتو التزام يې بدعت ګرځوي، په همدې وجه له سلفو څخه پر داسې کارونو انکار راغلی دی فقط و الله تعالی اعلم

ښځو ته بې پرده بیعت ورکول صحیح نه دی

سوال: (۱۱۳۸) يو پير صاحب بې پرده ښځې کښينوي، دستمال په لاس کې ورکړي، بيعت ورکوي، داسې جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۲۷۵هـ)

ځواب: په حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم صرف په خوله بيعت ورکاوی، و يو ښځې ته هيڅکله ده لاس په لاس کې نه دی ورکړی(۱) اما مشائخو دا ليکلي دي چې که د دستمال او نورو يو پلو په لاس کې ورکړل شي په پرده کې نو دا هم څه پروا نلري او بيله پرده د ښځو مخامخ راتلل صحيح نه دي، په دې کې ډېر احتياط په کار دی فقط

يو نا معتبره تلقين

سوال: (۱۱۳۹) يو پير صاحب و خپلو مريدانو ته دا وايي چې ووايه: ای الله! زه رجوع شوم خپل زړه ته او زما زړه رجوع شو د پير نيکه پيرو زړه ته او د هغه زړه رجوع شو و عرش ته، او له عرش څخه فيض زما زړه ته رارروان دی دا ډول تلقين کول د تصوف په معتبرو کتابونو ثابت دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۳۲۹هـ)

ځواب: دا ډول د طريقة له مشائخو منقول نه دي بلکه د طريقت مشائخ د قلبي وقوف او د يادوني د کيفيت څرګندونه کوي چې ذاکر دي خپل زړه ته متوجه وي او زړه دي الله ته متوجه کړي، په القول الجميل کې راغلي دي: و اما ياد داشت فعبارة عن التوجه الصرف المجرد عن

---

(۱) قال عروة قالت عائشة رضى الله عنها: .. و الله! ما مست يده يدا مرأة قط فى المبايعة ما بايعهن إلا بقوله (صحيح البخارى: ۱/ ۳۷۴-۳۷۵، كتاب الشروط، باب ما يجوز من الشروط فى الإسلام و الأحكام و المبايعة)

الالفاظ و التخیلات إلی حقیقة واجب الوجود إلاخ و أما وقوف قلبی فمعناه التوجه إلی القلب إلخ (۱) فقط و الله تعالی اعلم

څو ځایه بیعت کول

سوال: (۱۱۴۰) څو ځایه بیعت کول جائز دی او کنه؟ (۳۲/۱۲۹۰-۱۳۳۳هـ)

ځواب: که له یو پیر څخه نفع نه حاصلیږي یا په هغه کي څه نقصان او خلل معلوم شي یا هغه وفات شي یا ډیر لیري وي چي ملاقات او صحبت مشکل وي نو په دغو حالاتو کي د بل پیر سره بیعت کول او بل پیر جوړول د اهل تحقیق په نزد جائز دی، دا غه راز دریم او څلورم پیر حال دی، حضرت شاه ولی الله صاحب په القول الجمیل کي فرمايي: و أما المسئلة السادسة: فاعلم أن تکرار البیعة من رسول الله صلی الله علیه وسلم مأثور، و کذلک من الصوفیة، أما من الشخصین فإن کان بظهور خلل فی من بایعه فلا بو کذلک بعد موته او غیبته المنقطعة و أما بلا عذر فإنه یشبه المتلاعب وي ذهب بالبرکة الخ(۲)

سوال: (۱۱۴۱) ... (الف) یو سړی په دوو دریو طریقو کي داخیدلای شي او کنه؟ مثلاً په چشتیه او نقشبندیه په دواړو کي بیعت وکړي نور او نور؟

(ب) د دیوبند سادات په چشتیه طریقه کي دي مګر د څلورو طریقو سند لري له دیو څخه څوک نقشبندي کیدلای شي؟ (۳۲/۲۰۷۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: (الف) په طریقت کي دا جائز دي چي د طریقت والو د شرطونو سره سم مکرر بیعت وکړی او په څو طریقو کي داخل شي په دې کي څه منع نشته.

(ب) د چشتیه طریقې سره دوی نقشبندیان هم دي نو نقشبندیه طریقه له دیو څخه اخیستلای شي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۴۲) د څو پیرانو سره بیعت کول جائز دی، په څه وجه؟ (۱۳۳۷/۲۲۷۱هـ)

---

(۱) شفاء العلیل ترجمة لاقول الجمیل، ص: ۸۲-۸۳، فوائد فصل سادس، بیان یادداشت.

(۲) شفاء العلیل، ص: ۲۴، فصل دوم، حکم تکرار بیعت.

ځواب: داسي هغه وخت جائز دی چي له مخکني پير څخه فائده نه کيږي يا که هغه مبتدع وي نو په داسي حالت کي دوهم پير سنتو متبع جوړول ضروري دی فقط

سوال: (۱۱۴۳) يو سړی يو وار دي و سړي سره بيعت وکړي څه موده وروسته د بل درويش عالم سره بيعت وکړی نو د ده غاړي خوبه نه وي بندي؟ (۱۳۳۹/۷۲۳هـ)

ځواب: که دوهم پير عالم متبع سنت او متقي دی او لومړی پير داسي نهٔ نو د دوهم پير سره بيعت کول ښه دی او شرعًا په دې کي هيڅ ګناه ورباندي نشته فقط

د خپل پير په موجوديت کي له بل بزرګ څخه زده کړه کول

سوال: (۱۱۴۴) د يو پير تر وفاتٔ وروسته د بل بزرګ سره د زده کړي او نورو په غرض بيعت کول جائز دی او کنه؟

(ب) د خپل پير په موجوديت کي له بل بزرګ څخه زده کړه کول څنګه ده؟ که خپل پير عالم وي او که نه وي؟

(ج) يو سړي د قادريه طريقي بيعت کړی دی مګر دی اوس له بل بزرګ څخه د بلي طريقي زده کړه کول غواړي نو آيا دا طريقه د بيعت منافي ده؟ (۱۳۳۸/۱۰۲۴هـ)

ځواب: (الف) جائز دی

(ب) که بل ځای فايده معلوميږي نو هيڅ پروا نلري، بلکه غوره دی، که د لومړي پير اجازه وي او کنه وي، و تفصيله فی القول الجميل(۱)

(ج) پروا نلري، طالب دي خپل نفس ته وګوري چي په کومه زده کړه فايده وي که څه هم هغه د کومي طريقي وي، هغه دي اختيار کړي فقط و الله تعالى اعلم

د خپل پير له وفات وروسته د بل کامل پير سره بيعت کول صحيح دی

سوال: (۱۱۴۵) که سړي د يو چا سره بيعت کړی وي خو د ده د زده کړي پوره کولو مخکي د ده پير وفات شي نو دی د بل کوم کامل عالم سره بيعت کولای شي؟ او

---

(۱) مخکني حواله

کنه؟(۱۳۳۵/۱۷۰۴هـ)

ځواب: د بل کامل پیر سره بیعت کول په دغه صورت کې صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۴۶) د چا چې پیر وفات شي هغه د بل چا سره بیعت کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۵۴۸ه)

ځواب: صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

د شیخ په موجودیت کې له شیخ الشیخ سره بیعت کول صحیح دی

سوال: (۱۱۴۷) د شیخ په موجودیت کې له شیخ الشیخ سره بیعت کول صحیح دی او کنه؟(۱۳۳۸/۲۱۰۵هـ)

ځواب: د شیخ په موجودیت کې د شیخ الشیخ سره بیعت صحیح دی ځکه چې دا په حقیقت کې یوه خبره ده. فقط و الله تعالی اعلم

که له لومړي شیخ سره باطني نفع نه وي نو له بل سره بیعت کولای شي

سوال: (۱۱۴۸) زه په سهارنپور کې د حکومت له طرفه مأمور یم کار کوم او د میرټه ښار اوسیدونکی یم، دلته زما د دکان سره نژدې یو منشي اوسیږئ، دی وایي چې ما د چشتیه خاندان څخه بیعت کړی دی او ډېره موده مې ورسره تېره کړې ده، اوس زموږ پیر صاحب وفات شوی دی، مزار یې په مراد اباد کې دی نو دغه منشي ماته ترغیب راکړی د خپل خلیفه سره په ما بیعت وکړی ما صرف د بیعت پر وخت خلیفه ولیدی له دې څخه مخکې ما نه و لیدلی، زما نه د بیعت کولو پر مهال کومه تسلي شوې ده نه تر اسوه پورې کومه نوې خبره راته معلومیږي و منشي ته که ووایم نو راته وایي خاموش کښېنه، څه مه کوه، لهذا تر اوسه چې زما د زړه کوم ارمان دی هغه پوره نه معلومیږي، په دې وجه هیله لرم چې تاسو ماته په دې هکله فتوی راکړئ. (۱۳۴۱/۲۲۴۲هـ)

ځواب: دا مسئله د بیعت د تصوف مسئله ده په شریعت کي اختیار دی چي کوم مسلمان د کوم بزرګ سره بیعت نه وي کړی او د ش ریعت او سنت طریقې سره سم عمل کوي و ذلک هو الشرط العظیم نور نو اهل حقیقت د دې خطکند و نه کړې ده چي که له لومړي شیخ څخه کوم مرید ته باطني نفع نه وي نو دی له بل شیخ سره بیعت کولای شي او دا جائز دی لیکن د لومړي شیخ انکار دي نه کوي، د هغه په هکله دي هم ښه اعتقاد ساتي، په دې شرط چي هغه بدعتي نه وي، و قد صرح الجواز إمامنا شیخ الشیوخ شیخ ولی الله الدهلوي فی القول الجمیل(۱) فقط

د یو پیر بیعت ماتول او له بل سره بیعت کول

سوال: (۱۱۴۹) کوم څوک چي د له یو پیر څخه په شرعي وجه بیعت مات کړي، د بل بزرګ سره بیعت وکړي، هغه حنفي دی که مرتد که غیر مقلد ؟(۱۰۱۳/۲۹-۱۳۳۰ه)

ځواب: د کوم پیر څخه چي شرعًا بیعت ماتول ضروري دی مثلاً په دې وجه چي د سنتو متبع نه دی، د داسي پیر بیعت ماتول او د بل شرعي او تصوف سره سم پیر سره بیعت کول ضروري دی نو دی مرتد یا غیر مقلد څرنګه کېدلای شي؟ پوره حنفي د سنتو متبع دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۵۰) یو پیر پرېښودل له بل سره بیعت کول څنګه دی؟(۲۰۲۷/۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب: که په لومړي پیر کي کوم قصور وي یعني هغه د شرعي خلاف وي نو د هغه پرېښ،دل او د بل پیر سره بیعت کول صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

و سلسله بدلونکي ته مرتد ویل صحیح نه دي

سوال: (۱۱۵۱) د قادریه سلسلې مرید د خپل پیر په ژوند کي د پیر بې اجازته د نقشبندیه سلسلې مرید شو،

---

(۱) فعلم أن تکرار البیعة من رسول الله صلی الله علیه وسلم مأثور و کذلک من الصوفیة، أما من الشخصین فإن کان بظهور خلل فی من بایعه فلا بو کذلک بعد موته او غیبته المنقطعة و أما بلا عذر فإنه یشبه المتلاعب و یذهب بالبرکة و یصرف قلوب الشیوخ عن تعهده و الله اعلم(شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۲۴، فصل ثانی، حکم تکرار بیعت)

ده ته مرتد ويلای شو او کنه؟ (۳۵/۷۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: ده ته مرد ويل حرام او د کفر خطره ده، فاسق او عاصي هم نشي ورته ويلای، د دې تحقيق په قول جميل او نورو کي راغلی دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د ګمراه سړي سره بيعت کول حرام دی

سوال: (۱۱۵۲) له يو سړي سره د دې چې د خلګو پيشوا دی خو ډول، سروز او غزلي اوري، د بزرګانو دق برونو طواف کوي، په کال کي په يوه خاص شپه کي د هندوانو د ديوالۍ په رنګه د بزرګانو پر خانقاوو ډيري بتۍ لګوي، په مريدانو په زور او رضا مالونه راجمع کوي، پخپلو ښځو پرده نه کوي، د خپل قوم د کونډو بله نکاح نه ورککوي، د داسي سړي سره د بيعت کولو څه حکم دی؟ او کوم خلګ چي د ده سره له بيعت کولو څخه نه منع کيږي او په دغه رواجونو ي ورسره برخه اخلي د ده و ميلو ته ترقي ورکوي، د هغو په هکله څه حکم دی؟ (۳۵/۱۲۹-۱۳۳۲هـ)

ځواب: داسي سړی او داسي خلګ د حديث شريف فضلو او أضلوا الحديث(۲) په حکم پخپله هم ګمراه او نور هم ګمراه کونکی دی، دوی مقتدا جوړول او بيعت ورسره کول حرام دي، د دوی په بدعاتو کي برخه اخيستل او ترقي ورکول د الله له رحمته د ليري والي سبب دی، د دوی لمونځونه روژې او نور هيڅ شی نه قبليږي(۳)

---

(۱) مخکنۍ حواله.

(۲) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم، يقول: إن الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من العباد ول كن يقبض العلم بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالم اخذ الناس رؤسا جهلا، فسئلوا بأفتوا بغير علم ، فضلوا و اضلوا (صحيح البخارى: ۱/۲۰، كتاب العلم، باب كيف يقبض العلمّ؟)

(۳) عن حذيفة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يقبل الله لصاحب بدعة صوما و لا صلوة و لا صدقة و لا حجا و لا عمرة و لا جهدا و لا صرفا و لا عدلا، يخرج من الإسلام كما تخرج الشعرة من العجين و عن عبد الله بن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه سولم: أبى

و فی الحدیث: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من وقر صاحب بدعة فقد أعان علی هدم الإسلام(۱) یعني چا چي د کوم بدعتي توقیر او درناوی وکړی هغه د سالام په نړولو د هغه مرسته وکړه، له دې څخه معلوم شو چي بدعتي د اسلام بنیاد ا،باسي، او د ده مرسته کوونکی او د ده تقیرکونکی د اسلام په بنیاد ایستلو او د ایمان په مانۍ نړولو کي د ده معاون او همکار دی او دا خبره هم په حدیث شریف کي راغلي ده چي کوم چا بدعتي ته پناه ورکړه، پر هغه د الله لعنت دی(۲)

سوال: (۱۱۵۳) کوم سړی چي د محرم په اوویشتمه او اته ویشتمه په پابندۍ سره یوه زړه جامه اغوندي چي ورته خرقه وایي دا واغوندي له تالابه اوبه راوړي، او په همدغه ورځو کي غوا په خپل لاس حلالوي، د هغه په وینه تعویذ لیکي چي ماشومانو ته په ناجوړي کي ورپه غاړه کیږي او غوښه د تبرک په توګه تقسیموي، په همدغه ورځو کي ډول او باجې راولي او په ډیره خریلو رافضیانو سندري وایي چي اوري یې هم او رقص هم ورباندي کوي نور دا ډول ډیر رواجونه کوي، د داسي سړي سره بیعت کول څنګه دی؟(۱۳۳۸/۲۳۲۸هـ)

ځواب: دا ټول کارونه ناجائز او بدعت دی، داسي کارونه کونکی او ورباندي ټینګار او مداومت کونکی هیڅکله سني حنفي نه دی، بلکه بدعتي او فاسق دی، بیعت ورسره

الله أن یقبل عمل صاحب بدعة حتی یدع بدعته (سنن ابن ماجة، ص: ٦، المقدمة، باب الجتناب البدع و الجدل)

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من وقر صاحب بدعة الحدیث(المعجم الاوسط للطبراني: ١١٨/٥، بقیة ذکر من اسمه محمد، رقم الحدیث ٦٧٧٢ المطبوعة: دار الکتب العلمیة بیروت، و مشکوة المصابیح، ص: ٣١، کتاب الإیمان، باب الاعتصام بالکتاب و السنة، الفصل الثالث)

(۲) عن علی رضی الله تعالی عنه قال: ما عندنا شئ إلا کتاب اله، و هذه الصحیفة عن النبی صلی الله علیه وسلم المدینة حرم ما بین عائر إلی کذا من أحدث فیها حدثا او آوی محدثا فعلیه لعنة الله و الملائکة و الناس أجمعین (صحیح البخاری: ٢٥١/١، کتاب فضائل المدینة، اوائل باب حرم المدینة)

کول جائز نه دی، بلکه حرام دی، قال علیه الصلاة و السلام: کل بدعة ضلالة الحدیث(۱)
او فرمايي: من أحدث فی أمرنا ما لیس منه فهو رد الحدیث(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د فاسق او مبتدع سره بیعت کول هیڅکله جائز نه دی

سؤال: (۱۱۵۴) یو سړی داسي روایتونه بیانوي چي کوم څوک د محرم په میاشت کي اوښکي وبهیوي نو د دوږخ اور مري، و نرو او ښځو ته بیعت ورکوي، مګر و ښځو ته بې پرده او پخپل لاس کي لاس ونیسي په تېره بیا داسي ښځي چي بازاري وي او په دلیل کي د نبي علیه الصلاة و السلام حواله ورکوي چي هغه هم لاس په لاس کي نیوی، د داسي سړي سره بیعت کول څنګه دی؟ (۱۱۴۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا سړی پر رسول الله صلی الله علیه وسلم افتراء او دروغ وتړل چي ده هم د ښځو لاس په لاس کي د بیعت ورکولو پر مهال نیوی، حال دا چي په حدیث شریف کي په تأکید سرهر اغلي دي: و الله! ما مست یده ید امرأة قط(۳) په الله دي مي قسم وي چي نه دی مسه کړی د نبي علیه الصلاة و السلام لاس د کومي ښځي لاس په بیعت کي او کوم روایتونه چي دی د محرم په اړه بیانوي هغه هم افتراء او کذب دی نو دی جاهل د سنتو مخالف او فساق او مبتدع دی، هیڅکله د دې وړ نه ید چي بیعت ورسره وشي او دی مقتدا جوړل کړل شي.

---

(۱) عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم أما بعد! فإن خیر الحدیث کتاب الله و خیر الهدی هدی محمد صلی الله علیه وسلم و شر الأمور محدثاتها و کل بدعة ضلالة رواه مسلم (مشکوة المصابیح، ص: ۲۷، کتاب الإیمان، باب العتصام بالکتاب و السنة)

(۲) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال النبی صلی الله علیه وسلم: من أحدث فی أمرنا هذا الحدیث (صحیح البخاری: ۳۷۱/۱، کتاب لاصلح، باب قول الله أن یصالحا بینهما صلحا الخ)

(۳) قال عروة قالت عائشة رضی الله عنها: فمن أقر بهذا الشرط منهن، قال لها رسول الله صلی الله علیه وسلم قد بایعتکک کلاما یکلمها به، و الله! ما مست یده ید امرأة قط فی المبایعة ما یعهن إلا بقوله(صحیح البخاری: ۳۷۵/۱، کتاب الشروط، باب ما یجوز من الشروط فی الإسلام و الأحکام و المبایعة)

سوال: (۱۱۵۵) یو سړی دعوی کوي چې زه سلطان الأولیاء یم او هر څوک چې غواړي، هغه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم عدالت ته حاضر کړم او د نبي علیه الصلاة و السلام زیارت په کولای شم او ډیر بدعات کوي، د دساي سړي سره بیعت کول څرنګه دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۸۹۴هـ)

ځواب: و نعم ما قال العارف الرومي قدس الله تعالی أسراره:

اے بسا ابلیس آدم روئے ہست　　　پس بہ ہر دستے نشاید داد دست (۱)

کوم څوک چې دعوی اوږده وکړي او پخپله عمل د دعوی خلاف وي د سنتو په اتباع کې سست او د بدعاتو په کولو کې تکړه، د نبي علیه الصلاة و السلام و مجلس ته د حاضرېدو دعوی او په ناوړه او خبیثو اعمالو دی ککړ وي، معاذ الله هیڅکله هم داسي سړی د دې وړ نه دی چې بیعت ورسره وشي، مردود، مبتدع، فاسق او بدکار دی. فقط و الله تعالی اعلم

د بیعت کولو پر مهال ږیره بریتونه خریل

سوال: (۱۱۵۶) رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت علي کرم الله وجهه، حضرت خواجه حسن بصري، حضرت خواجه حبیب عجمي، حضرت خواجه بایزید بسطامي، خواجه جنید بغدادي او نور چې کله مریدان شوي ؤ نو ږیره او بریتونه یې خریلي ؤ او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۱۵۲هـ)

ځواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: اعفوا اللحی و احفو الشوارب(۲) یعني ږیرې غټې کړي او بریتونه کوچني کړئ نو د ډې په خلاف چې کوم جاهل پر نبي علیه الصلاة و السلام، رشاد خلفوو رضی الله عنهم او آئمه د دین دروا غ وایي چې معاذ الله هغو ږیرې بریتونه خریلي ؤ، هغه مفتری او غټ درواغجن دی او د "من کذب علی متعمدا فلیتوبأ

---

(۱) د دغه شعر ترجمه د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۱۰۲) په حاشیة (۲) کې تېره شوه.

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: احفوا الشوارب و اعفوا اللحی (سنن النسائی: ۲/۲۳٤، کتاب الزینة من السنن الفطرة، احفاء الشارب)

مقعده من النار"(۱) د وعید مستحق دی و العیاذ بالله تعالی له داسي خیالاتو څخه توبه ایستل پکار دي او کوم څوک چي داسي وايي، هغه درواغجن او مفتری بولئ.

پیر حاجت پوره کونکی بلل

سوال: (۱۱۵۷) په نن صبا زمانه کي د مروج پیرانو سره عمومًا خلګ بیعت کوي او دوی حاجت تر سره کونکي بولي، دا بیعت فرض دی که واجب؟ او که سنت او مستحب؟ (۱۳۴۳/۱۸۷هـ)

ځواب: د کوم بزرګ د سنتو متبع او صاحب د باطن سره بیعت کول سنت دی، په القول الجمیل کي مولانا شاه ولی الله رحمه الله د دې پوره تحقیق بیان کړی دی، د هغه ترجمه شفاء العلیل وګورئ(۲) د بدعتیانو سره بیعت نه دی کول پکار او حاجت پوره کونکی له الله تعالی پرته بل هیڅوک نه دی نو دا عقیده ساتل پکار ده او پیر حاجت تر سره کونکی مه بولئ. فقط و الله تعالی اعلم

و پیر ته سجده کول حرام دي

سوال: (۱۱۵۸) و پیر ته سجده کول جائز ده که څنګه؟ کوم پیران چي په مریدانو داسي سجدې کوي د هغو څه حکم دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۲۸۲هـ)

ځواب: سجده کول او پیر یا بل چا ته له الله تعالی څخه پرته حرامه او کبیره ګناه ده او کوم پیران چي په مریدانو سجدې کوي او جائز یې بولي هغه فاسقان او جاهلان دي،

---

(۱) عن المغيرة رضى الله عنه قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: إن كذبا على ليس ككذب على أحد، من كذب على متعمدا فليتبومقعده من النار(صحيح البخارى: ۱۷۲/۱، كتاب لاجنائز، باب ما يكره من النياحة على الميت إلخ)

(۲) بیع سنت دی واجب نه دی، ځکه چي صحابه رضی الله عنهم د نبي علیه الصلاة و السلام سره بیعت کړی ؤ او په دې سبب سره د الله تعالی قربت وغوښتی او کوم شرعي دلیل د بیعت پرېښودونکی پر ګنهکار کېدو دلالت نه کوي او آئمه د دین پر تارک د بیعت منکیر نه دی کړی نو دا نکیر نه کول ګو اجماع شوه پر دې چي واجب نه دی (شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۱۳، فصل ثانی، مسنون بودن بیعت)

د پیر جوړولو وړ نه دی، و غیر الله ته د سجدې د حرمت په هکله ډیر آیتونه او حدیثونه راغلي دي(۱) فقط

د طریقت له شریعت څخه افضل دی وینا کونکی گمراه دی

سوال: (۱۱۵۲) یو مولوي صاحب بیان کوي چي طریقت له شریعت څخه افضل دی، د طریقت په مقابل شریعت هیڅ شی نه دی او دل مانځه روژې هیڅ ضرورت نشته. دا مولوي صاحب پر حق دی او کنه؟ د ده اقتداء جائز ده او کنه؟ (۱۱۸۸/۱۳۳۹ھ)

ځواب: دا د جاهلانو وینا ده چي شریعت هیڅ شی نه دی د خلاصون اصل او بنیاد د شریعت پیروي ده، شیخ سعدي رحمه الله فرمايي:

خلاف پیمبر کسے رہ گزید | کہ ہر گز بہ منزل نخواہد رسید(۲)

لنډه دا چي وینا د ددغه سړي چي ځان ته ملا وایي یو مخ غلطه ده، دی ملا نه بلکه درواغجن او دجال دی چي مسلمانان گمراه کوي او له اسلامه یې باسي، قال الله تعالى: "و من يتبع غير الإسلام دينا فلن يقبل منه و هو فى الآخرة من الخاسرين" (سورة آل عمران، آیت ۸۵)

د پیر حکم د الله تر حکم زیات دی داسي ویل کفر دی

سوال: (۱۱۲۰) یو سړی ځان ته پیر وایي او پیري مریدي کوي خو عالم نه دی انگریزي یې ویلې ده چي په وجه په څه عربي هم پوهیږي د ده پیر په خلکو سجده کوي

---

(۱) "لا تسجدوا للشمس و لا للقمر و اسجدوا الله الذى خلقهن إن كنتم أياه تعبدون" (سورة حم السجدة، آیت: ۳۷) و عن قيس بن سعد رضى الله عنه قال: أتيت الحيرة، فرأيتهم يسجدون لمرزبان لهم، فقلت: لرسول الله صلى الله عليه وسلم أحق أن يسجد له، فأتيت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت: إنى أتيت الحيرة فرأيتهم يسجدون لمرزبان لهم، فانت أحق بأن يسجد لک فقال لى: أرأيت لو مررت بقبرى أكنت تسجد له؟ فقلت لا، فقال: لا تفعلوا، لو كنت آمر أحدا أن يسجد لأحد لأمرت النساء، أن يسجدن لأزواجهن، لماجعل الله لهم عليهن من حق رواه أبو داؤد و رواه أحمد عن معاذ بن جبل (مشكوة المصابيحو ص: ۲۸۲، كتاب لانكاح، باب عشرة النساء و ما لكل واحد من الحقوق، الفصل الثالث)

(۲) ترجمه: د نبي پر خلاف چي هره لاره اختیار کړي، هغه به دی هیڅکله تر منزله ونه رسوي.

غزلي د سرنا او ډول سره اوري او زياتره د ده په مجلسونو کي ښځي هم برخه اخلي لنډه دا چي ښه مجلس ګرم وي نو دا نامحرمو سره چي کومه طريقه کوي آيا نا جائز ده؟ و داسي سړي ته شرعًا څه ويل پکار دي؟ او ځيني دا وايي چي د پير حکم او وينا د الله تر حکم زيات دی آيا دا صحيح دي؟ (۲۰۲۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا طريقه ناجائزه او حرامه ده او دا سړی چي مريدان کوي فاسق او بدکار دی د پير جوړولو لايق نه دی او څوک چي وايي چي د پير حکم د الله تر حکم زيات دی هغه غلط وايي او د کفر کلمه وايي. فقط و الله تعالی اعلم

زما په مجلس کي دي څوک حديث نه بيانوي، داسيّ وينا کونکی فاسق دی

سوال: (۱۱۲۱) يو مولوي صاحب په يو مجلس کي مرفوع حديث بيان کړی يو سړي ورته وويل چي زه دا حديث نه منم او زما په مجلس کي دي له نن څخه وروسته څوک حديث نه بيانوي، مولوي صاحب يې ډير سپک کړی او حديث ته بد وويل د داسي سړي څه حکم دی؟ او د ده سره بيعت کول صحيح دی او کنه؟ (۱۲۳۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق دی، د ده سره بيعت کول صحيح نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

و سندري اورېدلو ته سنت ويونکی ګمراه دی

سوال: (۱۱۲۲) عمرو وايي چي سندري اورېدل سنت دي او د بي بي عائشې رضی الله عنها او د انجونو حديث په دليل کي پيشوي او وايي چي نبي عليه الصلاة و السلام هم سندري اورېدلي دي او بي بي عائشې رضی الله عنها ته د حبشيانو رقص ورښکاره کړی دی او څومره حديثونه چي د سندرو د حرمت په اړه راغلي دي، هغه نه مني او مريدان هم کوي، د دساي سړي په شريعت کي څه حکم دی؟ (۱۹۶۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق او مبتدع دی، بيعت د ده سره کول حرام دی، دی ضال او مضل دی، هادي او مقتد څرنګه کېدلای شي؟ او ناسته ولاړه د ده سره په طريقه د محبت او اړيکي ساتلو ناجائز دی. فقط و الله تعالی اعلم

و پيرانو ته هديه ورکول

سوال: (۱۱۲۳) نن صبا چي کوم پيران دي دوی ته نغدي ورکول ثواب لري او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۳۳۲هـ)

ځواب: إنما الاعمال بالنيات(۱) که په اخلاص سره څه ورکول شي نو ثواب پکي شته، نور نو د نن صبا له پيرانو څخه معلومه نه ده چي کوم پيران مراد دي، نن صبا په دنيا دواړه رنګه پيران شته، درويشان صادقان د سنتو پيروي کونکي او علماء باعمله هم شته او بدعتيان، جاهلان او دشرعي خلاف هم شته، د لومړي ډلي سره بيعت کوئ او د هغو خدمت کوي او د دوهمي ډلي سره بيعت مه کوئ او ليري حني ګرځئ. فقط و الله تعالی اعلم

د پير و مشر زوی ته ملاؤ شوي هديه کي نور اولاد حق لري او کنه؟

سوال: (۱۱۲۴) يو بزرګ وفات شو زامن او لوڼي يې شته، اوس خلګ د ده و مشر زوی ته د علم او تقوی په وجه تحفې او هديې ورکوي نو دغه تحفې د ده دي که نور وارثان هم ورسره برخه لري؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۴۷۱هـ)

ځواب: تحفې او هديې چي کومه څه و مشر زوی ته ورکول شي، هغه د ده ملک دی بل يو برخه ورسره پکي نلري، دی که له ځانه و چاته ورکړي نو دا تبرع او احسان دی، دعوی هيڅوک نشي کولای. فقط و الله تعالی اعلم

له مريدانو چنده او مالي جرمانه اخيستل

سوال: (۱۱۲۵) ځيني خلګ پيري مريدي کوي او د دې په وسيله روزي ګټي، هر کال دوه دري واره له مريدانو چنده کوي، څوک چي يې نه ورکوي په جبر او وهلو ټکولو يې ځني اخلي او چي کوم څوک قصور وکړي له هغه څخه جرمانه اخلي، دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲هـ)

---

(۱) صحيح البخاري: ۲/۱، کتاب بدء الوحي، باب کيف کان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم إلخ.

ځواب: په زور له خلکو روپۍ اخیستل او مال یجرمانه ځني اخیستل حرام دي. په حدیث شریف کي راغلي دي چي د کوم مسلمان وروړ مال بې د ده زړه له رضا اخیستل جائز نه دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

استدراج د فاسق فاجر مسلمان پر لاس هم ظاهریږي

سوال: (۱۱۷۲) استدراج(۲) د مسلمان پر لاس ظاهریږي او کنه؟ یوه ډله وایي چي د مسلمان او کافر دواړو پر لاس ظاهریږي او په دلیل کي د ملا علي قاري رحمه الله د شرح فقه اکبر عبارت پیشوي چي د هغه حاصل دا دی چي استدراج او خوارق عادات و مسلمان او کافر او نورو ته عام دی، بله ډله وایي چي استدراج د مسلمان په لاس نه ظاهریږي د کافر سره خاص دی په دلیل کي د الله تعالی ارشاد "سنستدرجهم من حیث لا یعلمون" (سورة قلم، آیت: ۴۴) پیشوي (۱۳۳۸/۱۳۷۱هـ)

ځواب: استدراج(۱) و عارصي فاسق او عافجر مسلمان او کافر ته عام دی لکه چي د شرح فقه اکبر(۳) له عبارت څخه چي راهر دي او جګړه په دې کي ګټه نه کوي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابي حرة الرقاشي عن عمه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا، الا لا یحمل مال امرئ الا بطیب نفس منهو رواه البیهقی فی شعب الایمان(مشکوة المصابیح، ص: ۲۵۵، کتاب البیوع باب الغصب و العاریة، الفصل الثانی)

(۲) د استدراج لغوي معنی ده: مهلت ورکول بیا یو دم نیول، الله ارشاد دی: "سنستدرجهم من حیث لایعلمون" (سورة اعراف، آیت: ۱۸۲) موږ دوی(کفار) سوکهو سوکه (د دوږخ) و ذرف ته بیایو، داسي چي دوی په پوهیږي هم نه او اصطلاحي معنی یې ده: له نامسلمان څخه د عادت په خلاف کار ظاهریدل، که له نبي څخه داسي کار ظاهر شي هغه ته معجزه وایي او که د ولي څخه ظاهر وي نو کرامت ورته وایي. ۱۲ سعید احمد

(۳) و أما التی تکون ای الخواق للعادة التی توجد لأعدائه أی لأعداء الله سبحانه مثل ابلیس ای فی طی الارض له حتی یوسوس من فی الشرق و الغرب ... و فرعون ای حیث کان یأمر النیل بأنه یجری علی وفق حکمه ... و الدجال ای حیث ورد أله یقتل شخصا و یحییه مما روی فی الاخبار ... أنه کان أی بعض الخورق

د چا پیر چي نه وي د هغه پیر شیطان دی دا موقله بې اصله ده

سوال: (۱۱۲۷) چي د چا پیر نه وي د هغه پیر شیطان دی: دا مقوله صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۷۲۰هـ)

ځواب: دا مقوله عمومًا صحیح نه ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۲۸) چي د چا پیر نه وي، د هغه پیر به د قیامت په ورځ شیطان وي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۵۱هـ)

ځواب: دا افتراء او بې اصله ده. فقط و الله تعالی اعلم

د "من لا شیخ له فهو شیطان" مطلب

سوال: (۱۱۲۹) په کتاب گنج الابرار کي لیکلي دي: لا دین لمن لا شیخ له، و من لا شیخ له فهو شیطان (د هغه چا مذهب نشته چي پیر نلري او د چا چي پیر نه وي هغه شیطان دی) دا حدیث دی که مقوله؟ او د دې څه مطلب دی؟ (۱۳۳۲-۳۵/۷۵هـ)

ځواب: دا حدیث نه دی، د یو چا مقوله ده او مطلب یې دا دی چي بې د کامل او سنتو متبع پیر له وسیلې د شیطان او نفس له چلونو او مکایدو ځانس اتل مشکل دی لکه چي د مولانا جامي رحمه الله قول دی:

تو اے بے پیر تا پیرت نباشد ہوائے معصیت جان می خراشد (۱)

مگر څرگندونه دې وي چي دا حکم کلي نه دی او شرعًا د کامل مرشد بیعت فرض او واجب نه دی، سنت او مستحب ضرور دی. کما حققه فی القول الجمیل(۱)

لهم ... فلا نسميها أى تلک الخوارق آيات اى معجزات ... و لا كرامات ... و لكن نسميها قضاء حاجات لهم اى للاعداء من الأنبياء أعم من الكفار و الفجار، و ذلک أى ما ذر من أن خوارق العادات قد تكون للأعداء على وفق قضاء الحاجات، لأن الله تعالى ... يقضى حاجات اعداءه استدراجا لهم اى مكرابهم فى الدنيا و عقوبة لهم فى العقبى كما قال الله تعالى: سندرجهم من حيث لا يعلمون الخ (شرح الفقه الأكبر لملا على القاري، ص: ۹۷-۹۸ بيان الفراسة المطبوعة: المطبع المجتبائي الواقع فى الدهلى)

(۱) ای پیر نه لرونکې! ترڅو چي ستا څوک پیر نه وي، د گناهونو خواهشات به خورونه واړوي، یعني له گناهونو څخه ته نشې بچ کېدی. ۱۲

څوک چې مريد نه وي هغه له شفاعته محروم دی ويل غلط دي

سوال: (۱۱۷۰) دوه کسان نيکان لمونځ گزاره او حتی الوسع له محرماتو او مکروهاتو څخه هم پرهيز کوي، په ديو کي يو خو د يو بزرگ مريد دی مگر د ده پير ورده ته و چاته د بيعت کولو اجازه نه ده کړې نو آيا د ده لپاره مريدان نيول جائز دي او کنه؟ دی په دې نيت مريدان کوي چې خلگ به مي له مريد کيدو وروسته نصيحت مني او سوکه، سوکه به سمي لاري ته راشي، هغه بل کس د چا مريد نه دی، په خلگو کي دا مشهوره ده چې څوک د چا مريد نه وي هغه له شفاعته محروم وي. آيا دا خبره صحيح ده او کنه؟ (۳۰۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا خبره غلطه ده چې څوک د چا مريد نه وي، هغه له شفاعته محروم وي، معاذ الله، کوم مسلمان چې د نبي عليه الصلاة و السلام امتي وي، او د سنتو اتباع کونکی دی، هغه د نبي عليه الصلاة و السلام مريد او تابع دی نو دا بس دي او بې د کامل شيخ له اجازې بيعت ورکول جائز نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

له بيعت وروسته که گناه وشي نو ...

سوال: (۱۱۷۱) که له بيعت کولو ورسوته کوم سخت حرکت له سړي وشي نو خپل شيخ ته وو ايي معافي ځني واخلي که بيا بيعت وکړي؟ (۱۲۸۲/۱۳۳۸هـ)

ځواب: توبه دې وباسي، او آئنده دې له دغه گناه څخه پرهيز کوي، همدا بس دی او که تجديد د بيعت وکړي نو دا هم ښه دي. فقط و الله تعالی اعلم

د شيخ تصور شرعًا جائز دی او کنه؟

سوال: (۱۱۷۲) د شيخ تصور د قرآن او حديث له مخه جائز دی او کنه؟ (۱۳۲۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د دې په اړه حضرت شاه ولی الله رحمه الله په القول الجميل کي داسي ليکلي دي: قالوا: طرق الوصول إلی الله ثلاث إلخ و ثالثها: الرابطة بشيخه و شرطها: أن يکون الشيخ قوی التوجه، دائم الياد داشت، فإذا صحبه خلی نفسه عن کل شئ إلا

---

(۱) شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ۱۳، فصل ثاني، مسنون بودن بيعت. ۱۲

محبته و ينتظر لما يفيض منه و يغمض عينيه او يفتحهما و ينظر بين عيني الشيخ، فإذا أفاض شئ فليتبعه بمجامع قلبه و ليحافظ عليه و إذا غاب الشيخ عنه يخيل صورته بين عينيه بوصف المحبة و التعظيم، فيفيد صورته ما تفيد صحبته إلخ(۱)

سوال: (۱۱۷۳) د پير او شيخ تصور د ښځي لپاره جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۴۷۲هـ)

ځواب: تصور شيخ چي ورته "ربط قلب به شيخ" ويل کيږي د صوفيانو په نزد د زړه د صفايي لپاره ضروري دی او علماء هم دې ته جائز ويلي دي، لکه چي شاه ولی الله رحمه الله په قوله جميل کي د دې يادونه فرمايلې ده او اشارةً يې دا هم فرمايلي دي چي تصر د شيخ دا ډول پکار دی چي د الهي فيوضاتو د حصول لپاره شيخ صرف يوه وسيله وبولي، د ده صورت په عقيدت سره په خيال کي راولي، دا ډول دا تصور جائز دی، ځکه چي په دې کي نه خود شيخ سره د عابد او معبود معامله وشوه او نه دی مستقل بالذات مقصود اصلي ګرځول شوی دی او د دې ادنی فايده دا ده چي په هر عمل کي به احتياط وي ځکه چي کله کوم عمل کوي نو لومړی به دا خيال کوي چي ګو دا عمل زه د شيخ و مخته کوم، لهذا د شيخ و مخته کيدو اثر به ضرور وي(۲)

---

(۱) شفاء العليل ترجمة القول الجميل، ص: ٦٦-٧٢، فصل سادس، اشغال نقشبندية.

(۲) اوس د ديوبند بزرګانو د شيخ تصور ختم کړی دی، دوی و سالکينو ته د دې تعليم نه ورکوي اوس د دوی عمل د شيخ الطائفه حضرت ګنګوهي رحمه الله په لاندي ليکل شوي فتوی ده:

سوال: تصور د شيخ او شغل د برزخ چي د زړه د توجه حاصلولو او خطراتو دفع کولو لپاره مشائخ د زمانې کوي او دا رکن د طريقت او له واجباتو څخه ب،لي چي بيله دې د فيض او برکاتو حصول محال دی لهذا په دساي صورت کي دا شغل کول څنګه دی؟ او په قرون ثلاثة مشهود لها بالخير کي له کوم صحابي ، تابعي او امام رضوان الله عليهم اجمعين څخه ثابت دي او کنه؟ څکه چي داسي ضروري وي نو صحابه به څه ډول له داسي فعل څخه محروم وي؟ او کله چي په خير القرون زمانه کي د دې وجود نه ؤ نو بيا څرنګه داسي ضروري مذکور سوال کېدلای شي، که څه عقيده تر شرک نه وي رسېدلې.

ځواب: په دغه شغل کي متاخرينو صوفيا غلو کړې ده او خبره تر شرک رسېدلې دهو څکه متاخرينو علماء د دې منع کړې ده او اوس د متاخرينو علماء په قول بايد عمل وشي، د دغه شغل هېڅ ضرورت

د بزرګ پر مزار د فیض حاصلولو لپاره مراقبه کول

سوال: (۱۱۷۴) د کوم بزرګ پر مزار د فیض حاصلولو لپاره رماقبه کول. داغه راز د مرشد د صورت تصول کول د فیض اخیستلو لپاره جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۲۹۰هـ)

ځواب: دا ثابت نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

پیر خوشحاله ساتل پکار دي

سوال: (۱۱۷۵) د پیر لپاره تحفه او هدیه اخیستل څنګه دي؟ پر کوچنۍ خبره د پیر بددعا (ښرا) کول څنګه دي؟ (۲۰۲۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د پیر لپاره تحفه اخیستل صحیح دي حتی الوسع پیر خوشحاله ساتل پکار دي چي دی ناراضه نشي چي بد دعا وکړي لیکن په کوم کار کي چي د الله معصیت وي، په هغه کي د پیر اطاعت صحیح نه دی که څه هم دی بددعا کوي، انشاء الله هیڅ اثر به نه کوي، پیر باید برداشت لرونکی او د سنتو پیروي کونکی وي، داسي نه چي پر کوچنۍ خبره بد دعاوي کوي. فقط و الله تعالی اعلم

سجاده او متولي باید څرنګه وي؟

سوال: (۱۱۷۶) سجاده او متولي چاته ویل کیږي؟ او سجاده او متولي څوک جوړ کړو؟ (۷۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: څوک چي د کوم کامل شیخ مرید شي او د سنتو په اتباع، علم او عمل او معرفت قدمونه کلک شي، هغه باید سجاده شي، نور شرطونه، اجازت او خلافت د حضرت شاه ولی الله رحمه الله په قول جمیل کي کتل پکار دي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۷۷) د طریقت د سجاده نشین لپاره د کومو صفتو وجود واجب دی؟ چي په نه کیدو کي سجاده نشیني ناجائز وي؟ (۵۱۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

نشته او نه په صحابه وو کي د دغه شغل څه اثر ؤ. فقط و الله تعالی اعلی (فتاوی رشیدیه، ص: ۲۲۰، ط جسیم بک ډپو، دهلي)

(۱) شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۱۴-۲۰، فصل دوم، شروط مرشد.

ځواب: د کوم بزرګ د ځای ناستي او خلافت لپاره لومړی خو د علم ضرورت دی، بیا اتباع د شریعت، تقوی، تواضع او ټول حسنه اوصاف ضروري دي او باطني کمال د محققینو صوفیاء د بیان او تفصیل سره سم ضروري دی، تفصیل د دغه خبرو د حضرت شاه ولی الله رحمه الله په القول الجمیل کي وګوري (۱)

د دولتي سجاده نشین حکم

سوال: (۱۱۷۸) ... (الف) لنډیز د سوال دا دی چي یوه خانقاه د حکومت په حکم وقف شوې ده، د دې ګدي نشین یو داسي سړی له کورنۍ مقرر شو چي د هغه له چا سره بیعت کول ثابت نه دي نو د سجاد نشینۍ په وجه دی د پیر جوړولو لائق دی او کنه؟

(ب) نومړی سجاده نشین خپل اکا په مخکښي مقرر شویو ختونو کي د مزارو له زیارتو څخه منع کولای شي او کنه؟

(ج) خپل اکا په خانقاه کي له کښېنستلو منع کول جائز دي او کنه؟ (۸۷۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: (الف) دا سجاده نشیني د تولیت په طریقه ده یعني حکومت خو دی متولي او سجاده نشین جوړ کړی، لهٰذا دی سجاده نشین شو، د دغه سجاده نشینۍ په رواج دی د بیعت ورکولو او مریدانو نیولو او د طریقت معلم او پیر لائق نه وګرځېدی، د دې لپاره بیل شرطونه دي چي د تصوف په کتابونو کي په تفصیل سره بیان شوي دي، تحقیق یې په القول الجمیل کي وګورئ(۱)

(ب) و نومړي سجاده نشین ته دا حق نشته چي اکا په مقرر وختونو کي د مزارو له زیارتو څخه منع کړي

(ج) د نومړي سجاده نشین لپاره دا منع کول هم ناروا ده او په خانقاه کي چي چیري اکا کښیني له ناستي دی نشي منع کولای. فقط و الله تعالی اعلم

(۱) شفاء العلیل ترجمة القول الجمیل، ص: ۱٤-۲۰، فصل دوم.

د کامل شیخ بې اجازې بیعت ورکول

سوال: (۱۱۷۹) زید او د ده ورور عمرو د کوم اجازت خاوند پیر مریدان نه دي او نه دوی ته کوم پیر د پیرۍ او مریدۍ اجازه ورکړې ده خو بیا هم دوی دواړو پیري او مریدي شروع کړې ده او سیئه بدعات او حرام کارونه کول شپه او ورځ مکر، چل درواغ او دوکې کوي، پرهېزګاري نلري، د دوی بیعت ورکول او امامت کول څنګه دي؟ (۱۴۳۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: بې د کوم کامل او متبع شریعت شیخ له اجازته و چاته بیعت ورکول صحیح نه دي او د پیرۍ مریدۍ سلسله جاري کول صحیح نه ده او د بدعتي سره بیعت کول صحیح نه دی او د مبتدع امامت مکروه دی. فقط و الله تعالی اعلم

د دار العلوم دیوبند پر اکابرینو درواغ تړونکي سره بیعت کول

سوال: (۱۱۸۰) یو سړی خلکو ته بیعت ورکوي او وایي چې مولانا رشید احمد صاحب، مولانا اشرف علي صاحب او د دیوبند مدرسه او مرزاقادیاني دا ټول وهابیان دي او دی وایي چې درواغ ویل جائز دي او دوی لیکلي دي چې که په لمانځه کې د خره خیال راشي نو لمونځ صحیح کیږي، که د نبي علیه الصلاة و السلام خیال راغی نو لمونځ نه صحیح کیږي، د داسي سړي په اړه څه حکم دی؟ (۲۱۰۷/۱۳۳۸هـ)

ځواب: دا ټول د دغه سړي درواغ دي او د ده پیروي کونکی ضال او مضل دی، د داسي جاهل، مفتري او ذاب سره بیعت کول صحیح نه دی، پخپله هم ګمراه دي او نور خلک هم ګمراهان کوي، هیڅکله مولانا رشید احمد او مولانا اشرف علي داسي نه دي لکه چې دی درواغجن وایي او داسي دوی هیڅ ځای نه دي لیکلي. فقط و الله تعالی اعلم

په معاملاتو کې صفایي نلرونکي پیر څخه اړیکي قطع کول

سوال: (۱۱۸۱) ما د یو سید صاحب سره بیعت وکړی، یوه ورځ ده له ما څخه پنځه ویشت روپۍ قرض واخیستې، ما له بل چ وروا خیستې، اوس ده په نن صبا کولو کې کال تېر کړی خو نه یې ادا کوي، چا راته وویل چې له بل چا څخه هم سل روپۍ وړې دي

او نـه يـې ادا کـوي، د داسـي سـړي سـره بيعـت بـاقي سـاتل پکـار دی او کـنـه؟
(۱۳۴۰/۱۴۹۲هـ)

ځواب: که د د معامله ښهٔ نه ده او دا خبره ثابته شي چي دی په دغه حیله دنیا طلبوي او د افلاس او نورو کوم شرعي عذر هم نلري چي د قرض ادا کولو مانع وي نو له ده څخه تعلق قطع کړي د کوم بل بزرګ د سنتو اتباع کونکی عالم باعمل تارک دنیا سره بیعت کول غوره دي. فقط و الله تعالی اعلم

په مسجد کي شعرونه ويل، ژړل او شور او غوغا کول

سوال: (۱۱۸۲) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرعي متين په دغه مسئله کي چي مولوي صاحب څه خلک مريدان جوړ کړو د جمعې په شپه دی د مريدانو سره مسجد ته ورشي، شعرونه او غزلي وايي او په چغو چغو ژاړي او ډيري زياتي زاری کوي او چکچکي وهي، لنډه دا چي په مسجد کي دومره شور او غوغا شي چي ټول کلی پر سر واخلي، کله نا کله چي په جوش کي راشي نو رقصيږي هم او ټوپونه هم وهي او دی خپلو مريدانو تـه وايي چي دا وخت يو څاڅکي هم د اوښکو بهيول ستاسو د خلاصون باعث کيدلای شي، په دې باندي مريدان نور هم وژاړي او شور غوغا وکړي.

او کله چي د محرم مياشته راشي نو مولوي صاحب د مياشتي په ديارلسمه او څورلسمه جلسه کوي، په هغه هم داغه ډول ټوپونه وهلو شعرونه ويل، چکچکي وهل، ژړل او شور و غوغا وي او دا وخت پر ټول خلکو دا حکم لګوي چي پر هر چا ضروري ده چي په دغه کار کي زموږ په دغه جلسه کي د غوا، وزې، چرګي يا بل کوم حيوان په راوړلو سره برخه واخلي او که څوک ډير زيات مفلس او مسکين وي نو پر هغه لازم دي چي لږ نه لږ څه اوړه يا وريجي راوړي، تش لاسونه څوک مه راځئو ځکه نو دا ډول خلک برخه هم پکي اخلي نو په دغه صورت کي دا ډول افعال او احکام شرعًا جائز دي او کنه؟ که ناجائز وي نو د مولوي صاحب د ده د ده د مريدانو او نورو شرعًا څه حکم دی؟ په تفصيل او د کتابونو په حوالو ځواب راکړئ عند الله مأجور او مشکور شي.
(۱۳۴۵-۴۴/۳۹۴هـ)

ځواب: د ټوله خرافات سر تا پایه سیئه بدعات او قبیحه مخترعات دي، د هیڅ یو مسلمان لپاره یوه شیبه هم په دغه شیطاني مجلسونو کي شرکت جائز نه دی، د دې موجد د دې مرتکب په دې کي برخه اخیستونکي ټوله فاسقان او بدعتیان دي، په داسوال کي چي د دغه د تصوف دعوی کونکیو څومره حرکتونه بیان شوي دي، په دې کي هر یو د کرکي وړ او له اسلامي تعلیماتو په میلونو لیري دی، آیا په کومو مسجدونو کي چي د لمونځ کونکیو له اذی څخه د بچ کیدو په خاطر له الهي ذکر څخه په جهر کولو هم منع راغلې ده، هلته دا ډول غزلي، شعرونه او شرو و غوغا جائز کېدلای شي؟ د اسلامي احکامو له مخه د مسجد یو، یو کونج پر داسي خلګو ملامتي وایي، ټولو مسلمانانو ته پکار دي چي د عامو خلګو له دغه فتنې څخه بچ کولو هر ممکن کوښښ وکړي او په دې کي برخه اخیستونکیو څخه یو مخ مقاطعه وکړي او که مسلمانان په اجتماعي توګه کوم قوت لري نو له دغه انسان په بڼه شیطانانو څخه دي لږ نه لږ د الهي مسجدونه خوندي کړي چي د دغه مسجدونو وضع د خالص عبادت او الهي ذکر لپاره ده، قول الشامي فی تحت قول الدر المختار: هل یکره رفع الصوت بالذکر و الدعاء إلخ، لما صح عن ابن مسعود رضی الله عنه أنه اخرج جماعة من المسجد یهللون و یصلون علی النبی صلی الله علیه وسلم جهرًا، و قال لهم: ما أراکم إلا مبتدعین إلخ(۱) (شامي، چاپ مصر: ۲۸۲/۵) و فیه ایضًا أخرج الطحاوي فی شرح معانی الآثار أنه صلی الله علیه وسلم نهی عن أن ینشد الأشعار فی المسجد إلخ، ص: ۴۴۴(۲) و فی البحر: و استماع صوت الملاهی حرام.. قال علیه الصلاة و السلام:

---

(۱) الدر و الشامي کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی أن تنشد الأشعار فی المسجد و أن یباع فیه السلع و أن یتحلق فیه قبل لاصلاة (شرح معانی الآثار: ۳۷۸/۲، کتاب الزیادات، باب الشاد الشعر فی المساجد)

استماع الملاهي معصية، و الجلوس عليها فسق، و التلذذ بها كفر(۱) (تكملة البحر الرائق: مصر: ۱۸۹/۸) و قد بسط العلامة الشامي بسطا طويلا في تحقيق حقيقة التغني المحرمة و قال: عرف القهستاني الغناء بأنه ترديد الصوت بالألحان في الشعر مع انضمام التصفيق المناسب لها إلخ و في الملتقى: و عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه كره رفع الصوت عند قراءة القرآن (الحديث) فما ظنك به عند الغناء الذي يسمونه وجدًا و محبة فإنه مكروه لا اصل له في الدين، قال الشارح: زاد في الجوهرة: و ما يفعله متصوفة زماننا حرام، لا يجوز العقد و الجلوس إليه إلخ(۲) (شامي) دلته د وجد او محبت پر حرمت باندي مختصرًا دوه څلور روايتونه وړاندي کړل شو، کنې په سلګونو حديثونه دس لفو آثار بې انتها ذخيره د فقهي کتابونو په سلګونو عبارتونه د دې په تائيد کي بيانېدلای شي، د مسجدونو پر آدابو او د اشعارو د تغني پر حرمت نورو او نورو باندي که په تفصيل سره دلائل بيان شي نو يو غټ کتاب ځني جوړېدلای شي، د حق طلب کونکيو لپاره چي څه وليکل شو، همدغه بس دي فقط و الله تعالى اعلم

خلفاء د خپل شيخ او مرشد د ترکې وارثان نه دي

سوال: (۱۱۸۳) که د کوم شيخ او پير څو خليفګان او ځای ناستي وي نو آيا دوی به د ده په ترکه کي وارثان وي؟ که د دې حقداران وارثان دي؟ د خلافت په مجلس کي که د مرشد وارثان موجود وي نو آيا دا برخه اخيستل به شرعي حق باطلوي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۷۴هـ)

ځواب: شرعي وارثان نشي محرومېدلای او مريدان او خلفاء د کوم شيخ شرعي وارثان د ده د ترکې نه دي او د خلافت په مجلس کي د شرعي ورثاء وجود شرعي حق نه باطلوي.

---

(۱) تكملة البحر الرائق: ۳٤٦/۹، كتاب الكراهية، فصل في الأكل و الشرب تحت قوله: دعي إلى وليمة و ثمة لعب و غناء يقعد و يأكل.

(۲) الشامي كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه

په دورد شریف کې د خپل پیر او مرشد نوم ورګډول

سوال: (۱۱۸۴) یو سړی خلګو ته بیعت ورکوي او شجره ورکوي، په هغه کې دا الفاظ لیکلي دي: اللهم صل و سلم علی محمد وس یدنا و هادینا و مرشدنا و مخدومنا حافظ سید جماعت علي شاه صاحب، د نبي علیه الصلاة و السلام د نوم مبارک سره د سیدنا او نور الفاظ نشته او په درود کې د خپل پیر نوم هم وراچولی دی. (۳۵/۷۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: پر غیر د انبیاء علیهم الصلاة و السلام درود شریف تبعًا للأنبیاء علیهم السلام فقهاء جائز لیکلي دیوي وازي پر غیر د انیاء علیهم الصلاة و السلام یې درود منع لیکلی دی نور نو دغه عبارت او طریقه د درود شریف چې په سوال کې لیکلې ده، ښه نه ده او دا کار ډیر ناوړه او بې ادبي ده چې د نبي علیه الصلاة و السلام د نوم سره سیدنا هم نشته او ورسره د خپل پیر د نوم سره داسي الفاظ لیکلي دي فقط و الله تعالی اعلم بالصواب.

شیخ عبد القادر جیلاني افضل دی که سید احمد کبیر فاعي؟

سوال: (۱۱۸۵) زید وایي چې سید عبد لقار جیلاني قدس سره پخپله زمانه کې غوث یا قطب الأقطاب نه ؤ او س ید عبد القادر جیلاني رحمه الله د سید احمد کبیر فاعي رحمه الله سره په مدینه منوره کې د څو ولیانو سره بیعت کړی دی، دا بیعت هغه وخت شوی ؤ کله چې و سید احمد کبیر رفاعي رحمه الله ته له منور مزاره لاس مبارک راوتلی ؤ، عمر وایي چې د سید احمد کبیر رفاعي رحمه الله په ولایت او قطبیت کې یوه خبره هم نشته مګر د ده پر سید عبد القادر جیلاني رحمه الله فضیلت نشي کېدلای، په دواړو کې فضیلت چاته دی؟ (۱۳۳۷/۹۱۷هـ)

ځواب: اسلمه طریقه دا ده چې د دواړو بزرګانو د بزرګی، عظمت او د الله په دربار کي د مقرب کیدو عقیده وساتله شي او په اولیاء الله کي د یو پر بل تفضیل دا ډول چې د بل کمي او تنقیص پکي راشي مه کوي، سره د دې چې د انبیاء علیهم الصلاة و السلام د یو پر بل فضیلت په قطعي نص ثابت دی لکه چې فرمایي: "تلک الرسل فضلنا بعضهم علی بعض" (سورة بقره، آیت: ۲۵۳) نو د اولیاء په هکله هم داسي اعتقاد وساتئ چې

ټوله بزرګان او ټوله په الهي دربار کي مقربين دي، پاته شوه دا خبره چي څوک په دوی کي افضل دی او څوک مفضول؟ او څوک قطب دی یا څوک قطب الأقطاب دی او څوک نه دی؟ د دې هيڅ تعين مه کوئ او دا الهي علم ته وسپارئ، ځکه د شرعي له مخه موږ دې مکلف نهي و او نه کوم نص په دې هکله راغلی دی. فقط و الله تعالی اعلم

د حضرت شيخ الهند رحمه الله پر مرثيه(وير) د اعتراض جواب

سوال: (۱۱۸۲) زيد د خپل شيخ طريقت پر مرثيه ليکلو داسي الفاظ کاروي، آسمان پر موږ ظلم وکړی، زموږ ارمانونه د خاورو سره خاوري کړل، زما شيخ غوث اعظم دی، هغه د سالام باني ثاني دی، هغه محي الدين جيلاني دی، هغه لا ثاني دی، دش يخ د حيات منکر احمق دی، ظاهري ليري والی هيڅ شی نه دی، هغه د مخلوقاتو مربي دی، موږ په بيت الله کي د شيخ د مکان تلاښ کونکي يو، که څه هم دی له نظره غائب دی مګر په زړه کي اوسيږي، آيا د داسي کلماتو استعمال شرعًا جائز دی؟ او د داسي وينا کونکي سره بيعت کول او د ده امامت صحيح دی او کنه؟ (۱۸۲/۱۳۴۳ھ)

ځواب: لومړی خبره تا چي د کومي مرثيې په اړه پوښتنه کړې ده، د هغې په اړه لومړی خو اجمالًا دومره ځان پوه کړه چي د مرثيې کوم الفاظ چي تاسو څڼ کړي دي دا حضرت مولانا شيخ الهند مولانا محمود حسن صاحب رحمة الله عليه د خپل شيخ طريقت قطب الأقطاب غوث اعظم محدث، فقيه، محقق عالم جامع د شريعت او طريقت حضرت مولانا رشيد احمد صاحب قدس سره ګنګوهي پر وفات باندي ليکلي د نو هر سړيی په دې کي پوهيږي چي د کومي مرثيې ليکونکی داسي لوی عالم، محدث او فقيه وي چي تقريبًا په ټول هندوستان کي د ده د علم فيض جاري دی، په دې کي به يوه خبرهٔ هم ناجائزه او د شرعي خلاف نه وي.

او دوهمه خبره دا چي په اشعارو او نعمتونو کي زياتره د استعارو او مجاز استعمال وي او دا ډول استعارات او مجازات د علماوو او عرفاوو په کلام کي ډير وي، د حضرت مولانا جامي عليه الرحمة اشعار وګورئ؛ بلکه دا ډول استعارات او مجازات په نبوي حديثونو او قرآني نصوصو کي هم موجود دي چي د کتاب او سنت له ماهره پټ نه دی او زياتره د اشعار اساس پر عرف باندي وي او په محاوراتو کي داسي


استعارات ډېر زيات مروج دي او تشبيهات زيات وي، د الفاظو حقيقت مراد نه وي، لهذا دا محل د اعتراض نه دی، و سخي ته ثاني حاتم او شجاع ته ثاني رسم وايي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د امت علماء د انبياء په مثل بللي ديک علماء امتي كأنبياء بني اسرائيل(۱) من صلى خلف عالم تقى فكأنما صلى خلف نبى(۲) و بندګانو ته د خپل زمانې جنيد، شبلي او نور ويل كيږي نو دا محل د اعتراض نه دی او نو ر تحقيق د دې په ژبه کېدلای شي چي د مرقيې او نورو اشعار سرې مخته کنبيږي د هغه په اړه څه ويلای شي، د دومره ليک لپاره نه وخت شته او نه سرې په پوه کېدلای شي، لنډه دا چي اجمالاً په دومره خبره ځان پوه كول پكار دي چي د داسي محقق عالم، محدث او فقيه كلام د شرعي خلاف نشي كيدلای، ضرور به ګنجائش پكي وي او ممكن تأويل به پكي وي، لنډه دا چي تاسو او موږ ته په دې هكله آئنده د ليكلو حاجت نشته، كه تاسو فكر او انصاف كوئ نو پخپله پكي فكر وكړئ كنې د بل په پوه كولو هم ځان پوه كول مشكل دي. فقط و الله تعالى اعلم

---

(۱) و أما حديث "علماء امتى كأنبياء بني اسرائيل" فقد صرح الحفاظ كالزركشي و العسقلاني و لادميري و السيوطي أنه لا أصل له إلخ(مرقاة لامفاتيح شرح مشكوة المصابيح: ۲٤١/١١، كتاب المناقب، باب مناقب علي بن آبي طالب رضى الله عنه، الفصل الأول، رقم الحديث: ٦٠٨٨) قال لاسيوطي فى الدرر: لا أصل له، و قال فى المقاصد شيخنا يعني ابن حجر: لا أصل له(كشف الخفاء و مزيل الإلباس: ٨٣/٢، رقم الحديث: ١٧٤٤، المطبوعة: مؤسسة الرسالة بيروت)

(۲)قال في الأصل: و ما وقع فى الهداية للحنفية بلفظ "من صلى خلف عالم تقى فكأنما صلى خلف نبى" فلم أقف عليه بهذا اللفظ (كشف الخفاء و مزيل الإلباس للعجلوني: ١٢٢/٢، رقم الحديث: ١٨٦٥، و المقاصد الحسنة فى بيان كثير من الأحاديث المشتهرة على الألسنة للسخاوى، ص: ٣٠٤، رقم الحديث: ٧٦٤، المطبوعة، مكتبة الخانجى بمصر)

و قال الزيعلى فى "الدراية فى تخريج أحاديث الهداية": لم أجده و قد روى الحاكم و الطبراني من حديث مرثد بن ابي مرثد الغنوي: إن سركم أن تقبل صلاتكم فليؤمكم خياركم إلخ(الهداية مع الدراية: ١٢٣/١، كتاب الصلاة، باب الإمامة)



د ذکر او دعا بیان

د مناجات لپاره کوم کتابونه غوره دي؟

سوال: (۱۱۸۷) د مناجات لپاره کوم کتاب غوره دی؟ مناجات مقبول چې پکې مأثوره دعاګاني دي که دلائل الخیرات؟ (۱۷۴۱/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د مأثوره دعاګانو ورد ډیر ښه دی او کوم قبولیت او برکت چې په مأثوره دعاګانو کې دی، هغه په نورو دعاګانو کې نشته، په الحزب الأعظم کې مأثوره دعاګاني راجمع کړې دي او په مناجات مقبول کې هم د الحزب العظم او نورو خلاصه بیان شوې ده او په مناجات مقبول کې خو د مأثوره دعاګانو ترجمه په اشعارو کې کړې ده ځکه د مناجات لپاره د دې ویل غوره دي او په دلائل الخیرات کې د درود شریف بیلا بیلې صیغې راجمع کړې دي، د دې ویل هم ښه دي او ثواب دی لیکن د مأثوره دعاګانو په اعتبار الحزب الأعظم او مناجات مقبول غوره دي. فقط و الله تعالی اعلم

د دعاء کنز العرش، عهد نامه، درود لکهي، درود تنجینا او درود تاج خاصیات او اسناد ثابت دي او کنه؟

سوال: (۱۱۸۸) څه فرمایي علماء د دین د کنز العرش دعاء، عهد نامه، درود لکهي، درود تنجینا، درود تاج او نورو چې کوم خاصیات، تأثیرات او اسناد او نور چې لیکل شوي دي، هغه صحیح دي او کنه؟ او عقیده وربآندې ساتل پکار ده او کنه؟ (۱۲۰۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د کنز العرش دعاء سند و نه یو مخ بې اصل او بالیقین موضوع او باطل دي، دغه سندونه کتل او یقین وربانديې کول جایز نه دي، که ګورئ نو دردولو لپاره و ګورئ

لکه چي د موضوع روایتونو حکم چي دی او د عهدنامې د سندونو هم همدا حکم او حل معلومیږي او د درود لکهي سند ونه د محمود غزنوي رحمة الله خوب لیکلی دی، هغه شرعي حجت نه دی یعني که بالفرض ده په خوب کي داسي لیدلي هم وي نو هیڅ حجت نه دی او په ظاهره دا خوب هم صحي نه دی او د دې سند نشته او د درود تنجینا په هکله چي په مناهج الحسنات کي کومه قصه رانقل کړې ده ، هغه ممکنه ده چي صحیح وي او د دغه درود شریف په برکت کښتۍ له ډوبېدو څخه بچ شوې وي مګر یقین د دغه سند هم نشته، اما امکان شته چي داسي دي شوي وي، لهذا د دې د انکار هم ضرورت نشته، صرف دا عقیده دي وساتي چي که داسي شوي وي نو ممکن دي او په دې کي کومه منع او خرابي نشته، پاته شو درود تاج د هغه چي کوم څه خاصیتونه لیکل شوي دي د هغو هیڅ شرعي ثبوت نشته او په هغه کي ځیني الفاظ داسي دي چي ویل یې نه دي پکار او احتیاط یې په پرېښودلو کي دی او کوم څوک چي د دغه تأثیراتو عقیده نه ساتي هغه شرعًا هیڅ مجرم او ګنهکار نه دی او د عربیت په اعتبار ګنج العرش ویل صحیح نه دی، ځکه چي العرش عربي لفظ دی ورباندي الف او لام دی او ګنج د فارسي لفظ دی، د ګنج اضافت یې کړی دی د العرش و طرف ته نو فارسي لفظ و عربي لفظ ته مضافول د عربي الفاظ، له ترکیب سره سم صحیح نه دی، اما کنز العرش لفظ صحیح دی. فقط

سوال: (۱۱۸۹) درود تاج ویل څنګه دی؟(۱۹۰۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: محققین علماء او فقهاء د دې څرګندونه فرمایلي ده چي درود شریف کومه صیغه چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه رانقل شوې ده، هغه تر نورو صیغو افضله ده او کوم درود چي په لمانځه کي ویل کیږي، هغه تر ټلوو غوره دی، په درود تاج کي داسي موهوم الفاظ دي چي پرهیز ځني لازم دی او داغه راز د درود تاج چي کوم سند لیکل کیږي، هغه هیڅ اصل نلري، ځکه دا نه دي ویل په کار چي دا طریقه اسلم للدین ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۹۰) ... (الف) زید وایي چي دعا ګنج العرش له لوح محفوظ څخه د حضرت جبریل علیه الصلاة و السلام په وسیله نبي علیه الصلاة و السلام ته راغلي ده،

دا صحیح دي او کنه؟ او دا په حدیثو ثابته ده او کنه؟ او کوم سند چي د دې لیکلي دي، هغه صحیح دي او کنه؟

(ب) درود تاج په حدیثو ثابت دی او کنه؟ (۴۸۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: (الف) د زید وینا صریح کذب دروا غ او غلطه ده، سند و نه د دې ثابت نه دي. دغه دعا په حدیث کي نه ده راغلې.

(ب) دا هم په حدیثو ثابت نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۱۹۱) په درود تاج کي هغه کوم الفاظ دي چي د هغو په وجه ویل جائز نه دی که دغه الفاظ ځني اوباسو نو ویل یې صحیح دي او کنه؟ (۵۲۹/۱۳۴۵هـ)

ځواب: دافع البلاء والوباء او نور الفاظ موهوم (د شرک) دي، په دې وجه د دې منع کیږئ، دغه الفاظ که ونه ویل شي نو نفس درود، جائز دی او افضل او غوره په ټولو درودانو هغه دی چي په لمانځه کي تر التحیات وروسته ویل کیږي چي ورته صلاة ابراهیمي ویل کیږي. فقط

درود بې اودسه ویل

سوال: (۱۱۹۲) بې اودسه درود ویل جائز دی او کنه؟ داغه راز په پروته، ناسته او ولاړه ویلو کي په ثواب کي څه فرق راځي او کنه؟ (۱۷۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: بې اودسه هم جائز دی لیکن په اوداسه ویل افضل دي او په ولاړه ناسته هر حال کي صحیح دي، ثواب پکښي شته. فقط و الله تعالی اعلم

بې اودسه یا الله، یا رحمان او نور ویل

سوال: (۱۱۹۳) یو سړی بیله د پاکۍ او ناپاکۍ خیال ساتلو هر وخت په ناسته، ولاړه او روانه یا الله، یا رحمان، یا رحیم، یا کریم وایي دا جایز دي او کنه؟ او ثواب پکي شته او کنه؟ (۱۵۵۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: یا الله، یا رحمان، یا رحیم، یا کریم په ولاړه، ناسته ویل او د دې عادت گرځول جایز بلکه غوره او اولی دي او د ویونکي لپاره اجر او ثواب دی، ان شاء الله تعالی او که په اوداسه وي نو ښه دی نور زیات ثواب دی او بې اودسه هم صحیح دی، په دې کي هم ثواب شته. فقط و الله تعالی اعلم

په ذکر کې سر ښورول

سوال: (۱۱۹۴) ځیني خلک د تهد تر لمانځه وروسته د دوولسو ا زیاتو تسبیحو اړولو ذکر کوي کله سر کښته او کله پورته کوي چې ورته وواییي نو دوی وایي چې موږ ته استاذ داسي حکم کړی دی نو دا خلک خو ګنهکاران یا کافران نه دي؟(۱۲۷/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: دا ډول ذکر کول صحیح او جائز دی او د طریقت د علماوو مجرب دی چې دا د حضور مع الله حاصلیدو مقدمه او آله ده نو نوموړي کسان خطاکونکي نه دي بلکه کله چې د کامل شیخ او سنتو پیروي کونکي په ښوونه دا وکړي نو بیله شکه صحیح دي فقط و الله تعالی اعلم

د اسم ذات ذکر څه ډول کیږي؟

سوال: (۱۱۰۵) په تفسیر مظهري کي د قرآن شریف په لوړ آواز ویل مستحب لیکلي دي(۱) نو په څومره لوړ آواز ویل پکار دي؟ د نقشبندیه او چشتیه تر منځ چې کوم اختلاف د اسم ذات په ذکر او دعا کي دی نو اوس زه د اسم ذکر په قلب او ژبه دواړو کولای شم او کنه؟(۱۰۹۷/۱۳۴۵ھ)

ځواب: قرآن شریف په جهر ویل مستحب دی لیکن په متوسط جهر ویل پکار دی نه دیر په زوره اواز سره او نه ډیر په سوکه اواز، کما قال الله تعالی: "و لا تجهر بصلاتک و لا تخافت بها و ابتغ بین ذلک سبیلا" (سورة بني اسرائیل، آیت: ۱۱۰) نو د الله د دغه

---

(۱) عن ابي قتادة رضی الله عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم خرج لیلة، فإذا هو بأبی بکر یصلی یخفض من صوته قال: و مر بعمر بن الخطاب و هو یصلی رافعًا صوته، قال: فلما اجتمعا عند النبی صلی الله علیه وسلم، قال النبی صلی الله علیه وسلم: یا أبابکر! مررت بک و انت تصلی تخفض صوتک، قال: قد اسمعت من ناجیت یا رسول الله! قال: و قال لعمر: مررت بک و انت تصلی رافعًا صوتک، قال: فقال یا رسول الله! اوقظ الوسنان واطرد الشیطان، زاد الحسن فی حدیثه، فقال النبی صلی الله علیه وسلم: یا ابابکر! ارفع من صوتک شیئا و قال لعمر: اخفض من صوتک شیئا(سنن ابي داؤد: ۱/۱۸۸، کتاب الصلاة باب رفع الصوت بالقرأة فی صلاة اللیل)

حکم سره سم په درمیانه اواز ویل پکار دي همدارنګه په حدیثو ثابت دي او د اسم ذات ذکر په ژبه کول هم جائز او مستحب دی لیکن د نقشبندیه معمول دا دی چې په زړه کي ذکر وشي او که کله نا کله په خوله هم وشي نو څه پروا نلري، تاسو ته اجازه ده چې که کله په خوله ذکر کول درته ښه معلومیدی نو په خول باندي کوه. فقط و الله تعالی اعلم

د لا حول و لا قوة إلا بالله فضیلتونه

سوال: (۱۱۹۲) ... (الف) په حدیث کي راغلي دي: لا حول و لا قوة إلا بالله د جنت له خزانو څخه یوه خزانه ده(۱) د دې څه سبب دی؟

(ب) په حدیث کي راغلي دي چي لا حول و لا قوة إلا بالله د نهه نوي(۹۹) ناجوړیو دوا ده چي تر ټولو کمه یې غم دی(۲) په دنیا کي تر غم زیات یو شی نشته نو نوري ناجوړې کومي دي؟

(ج) په حدیث کي راغلي دي چي کله بنده لا حول و لا قوة إلا بالله وایي نو الله تعالی فرمایي چي بنده خپل کارونه ماته وسپارل نو په دغه حدیث سره خو نور ذکرونه کول ضروري نه دي.

(د) په حدیث کي راغلي دي چي لا حول و لا قوة إلا بالله د جنت له دروازو څخه یوه دروازه ده(۱) د دې څه سبب دی؟ (۱۳۴۳/۴۳هـ)

---

(۱) عن ابي موسى رضى الله عنه قال: كنا مع النبى صلى الله عليه وسلم فى سفر، فكنا إذا علونا كبرنا، فقال النبى صلى الله عليه وسلم: أيها الناس! أربعوا على أنفسكم، فإنكم لا تدعون أصم و لا غائبا، و لكن تدعون سميعا بصيرا، ثم أتى على و أنا أقول فى نفسي: لا حول و لا قوة إلا بالله، فقال: يا عبد الله بن قيس! قال: لا حول و لا قوة إلا بالله، فإنها كنز من كنوز الجنة او قال: ألا أدلك على كلمة هى كنز من كنوز الجنة؟ لا حول و لا قوة إلا بالله (صحيح البخارى: ۹۴۴/۲، كتاب لادعوات، باب لادعاء إذا غلا عقبة، و فيه أيضا: ۶۰۵/۲، كتاب المغازى، باب غزوة خيبر)

(۲) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا حول و لا قوة إلا بالله، دواء من تسعة و تسعين داء، أيسرها الهم (مشكوة المصابيح، ص: ۲۰۲، كتاب أسماء الله تعالى، باب ثواب التسبيح، الفصل الثالث)

ځواب: (الف-د) کله چي بنده په زړه دا عقيده وساتله او په خوله باندي هم وويل چي په ما کي کوم حول، قوت او طاقت نشته کر د الله تعالى په رحمت سره کيږئ څه چي کيږي نو ده خپل ټول کارونه الله ته وسپارل نو ښکاره خبره ده چي ده د جنت خزانه حاصله کړه او له ټولو همومو، غمونو او آلامو څخه خوندي شو او د جنت دروازه ورته خلاصه شوه، لنډه دا چي د دغه کلمې دا قبوليت او خاصيت دی اوپه حديث شريف کي د دې تفسير دا ډول راغلی دی: لا حول عن معصية الله و لا قوة بطاعة الله إلا بالله(۲) زيات په دې کي و پلټني ته ضرورت نشته کوم فضيلت چي په حديثو کي د دغه کلمې راغلی دی پر هغه يقين ساتئ او حکمت او علت و الهي علم ته وسپارئ فقط و الله تعالى اعلم

د ماځيګر او سهار تر دعا مخکي فاطمي تسبيحات ويل مستحب دي

سوال: (۱۱۹۷) د مسجد مولوي صاحب په دوو لمونځونو يعني په ماځيګر او سهار کي فاطمي تسبيحات وايي خلک ورباندي اعتراض کوي چي مولوي له لمانځه وروسته ولي خلک مقيد کړي دي؟ امام بايد تر دعا وروسته تسبيحات ووايي، اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چي آيا ويل په کار دي او کنه؟(۲۰۲۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) عن قيس بن سعد بن عبادة أن أبآه دفعه إلى النبى صلى الله عليه وسلم بخدمه، قال: فمربى النبى صلى الله عليه وسلم و قد صليت، فضربنى برجله، و قال: الا أدلک على باب من ابوآب الجنة؟ قلت: بلى! قال: لا حول و لا قوة إلا بالله (جامع الترمذى: ۱۹۸/۲-۱۹۹، أبواب الدعوات، باب فى فضل لا حول و لا قوة إلا بالله)

(۲) عن عبد الله بن مسعود رضى الله عنهما قال: كنت عند النبى صلى الله عليه وسلم يوما، فقلت: لا حول و لا قوة إلا بالله، قال: هل تدرى ما تفسيرها؟ قلت: الله ور سوله اعلم، قال لا حول عن معصية اله إلا بعصمة الله و لا قوة على طاعة الله إلا بعون الله، هكذا أخبرنى به جبريل عليه السلام (لأبي يعلى) (المطالب العالية بوائد المسانيد الثمانية للحافظ ابن حجر العقلاني: ۲۶۲/۳، كتاب الذكار و الدعوات باب فضل لا حول و لا قوة إلا بالله، حديث: ۳٤۳۸، المطبوعة: دار المعرفة، بيروت)

ځواب: داسي کول مستحب دي، د امام د ویلو په وجه به مقتدیان هم ووایي او ثواب به وګټي، د خلګو اعتراض کول غلط دی او دا د علماء او صلحاء طظیقه، مستحب او متوارث ده.

د جنات پر مهال کلمه ویل صحیح دي

سوال: (۱۹۹۸) د جنابت پر مهال کلمه شریفه ویل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۵۸هـ)

ځواب: د جنابت په حالت کي کلمه شریفه ویل صحیح دي. (۱) فقط و الله تعالی اعلم

تر بولو مخکي او وروسته دعا څه وخت ویل کیږي؟

سوال: (۱۱۹۹) کومه دعاء چي تر بولو مخکي یا وروسته ویله کیږي په دې کي لومړۍ دعا له بیت الخلاء څخه دباندي څخه وخت ویل کیږي؟ او وروستنۍ دعا په اوبو پاکي حاصولو وروسته ویل کیږي که چي ځنګه له بیت اخلاء څخه راووځي؟ په هغه صورت کي چي استنجاء په لوټه ووهي. (۱۹۴۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: و بیت الخلا ته د تلو پر مهال دباندي ووایه، او که په ځنګل او صحراء کي وي نو له پرتوګ خلاصولو مخکي ووایه(او وروستنۍ دعا) چي څرنګه ه بیت الخلاء څخه راووځې وې وایه او که په ځنګل او صحراء کي وې نو له پرتوګ تړلو وروسته ووایه فقط و الله تعالی اعلم

له اذان شروع کیدو وروسته بیت الخلا ته تلل

سوال: (۱۲۰۰) له اذان شروع کیدو وروسته و بیت اخلاء ته د ب.لو لپاره تلل صحیح دي که چي کله اذان ختم شي هغه وخت ولاړ شي؟ او که ډیر په تکلیف وي نو څه حکم دی؟(۲۲۵/۲۹-۱۳۳۰هـ)

---

(۱) و لا بأس لحائض و جنب بقرأة ادعية و مسها و حملها و ذكر الله تعالى و تسبيح إلخ(الدر المختار مع الشامي كتاب الطهارة، باب الحيض. ط رشيديه)

ځواب: که ضرورت زیات وي، سمد ستي دي پوره کړي، د اذان ختمېدو انتظار دي نه کوي او که سخ ضرورت نه وي نو غوره دا دي چي تر اذان وروسته پوره کړي (ترڅو د اذان جواب ورکړای شي په بیت اخلاء کي حواب ورکول صحیح نه دي) فقط و الله تعالی اعلم

د بولو کولو پر مهال ذکر کول مکروه دی

سوال: (۱۲۰۱) د غټو او کوچنیو بولو پر مهال د الله نوم اخیستل او په خوله ذکر کول که جهرًا وي که سرًا منع دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۰۲۹هـ)

ځواب: د غټو او کوچنیو بولو کولو پر مهال د الله نوم اخیستل او په ژبه ذکر کول که جهرًا وي که سرًا مکروه دی او داغسي صحیح دی (یعني چي بالفعل کوچنۍ او غټي بولي نه کوي) کما فی الدر المختار فی بیان سنن الوضوء: إلا حال انکشاف و فی محل نجاسة فیسمی بقلبه و فی الشامی: فلو نسی فیهما سمی بقلبه و لا یحرک لسانه تعظیما لاسم الله تعالی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

که د ذکر کولو پر مهال اودس مات شي نو...؟

سوال: (۱۲۰۲) که سړی ذکر کوي اودس یې مات شي نو څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۲۲۰۴هـ)

ځواب: ذکر بې اودسه هم جائز دی اما غوره دا دي چي په اوداسه وي. فقط و الله تعالی اعلم

که د سړي تسبیح په جیب کي وي بیت اخلاء ته ولاړ شي؟

سوال: (۱۲۰۳) چي د سړي تسبیح په جیب کي وي بیت اخلاء ته تلل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۸۹۹هـ)

ځواب: جائز دي فقط و الله تعالی اعلم

(۱) الدر المختار و الشامی کتاب الطهارة، سنن الوضوء. ط رشیدیه

په مسجد کې ایښي تسبیحو اړولو ثواب د چا دی؟

سوال: (۱۲۰۴) یو سړي ډیري تسبیح راوړې، په مسجد کې یې کښیښودې، د دې اړونکیو ته هم ثواب شته او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۶/۱۳۸۷هـ)

ځواب: و اړونکیو ته یعني ذکر کونکیو ته هم او راوړونکي ته هم ثواب دی. فقط و الله تعالی اعلم

په ښي لاس تسبیح اړول غوره دي

سوال: (۱۲۰۵) په کیڼ لاس تسبیح اړول روا دي او کنه؟ (۲۹/۲۲۵-۱۳۳۰هـ)

ځواب: غوره ښي لاس دی. فقط و الله تعالی اعلم

د حیض په ورځو کي د ښځي درود، تسبیح او نور ویل صحیح دي

سوال: (۱۲۰۶) څه فرمایي علماء د دین؟ یوه ښځه د درود او کلمې وظیفه کوي د حیض په ورځو کي وایي که پریږدیژ (۳۳/۲۰۹-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د حیض په ورځو کي د ښځي لپاره درود، تسبیح او کلمه ویل صحیح دي مګر د قرآن تلاوت صحیح نه دی، په در مختار کي راغلي دي: و لا بأس لحائض و جنب بقراءة أدعية و مسها و حملها و ذكر الله تعالى، و تسبيح إلخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۰۷) جنب یا حائضه او نور که د قرآن کوم آیت یا درود ووایي نو جائز دی او کنه؟ (۳۲/۱۹۴۴-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دعا او درود او نور صحیح دي، د قرآن آیت نه دی صحیح (یعني د تلاوت په توګه جائز نه دی، د دعا او ذکر په توګه یې ویلای شي) فقط و الله تعالی اعلم

له چلم څکولو وروسته بیله خوله پاکولو درود یا کلمه ویل

سوال: (۱۲۰۸) له چلم څکولو وروسته بیله خولې پاکولو الحمد لله یا درود یا کلمه ویل څنګه دي؟ جائز دي که منع؟ (۳۳/۲۴۷-۱۳۳۴هـ)

ځواب: غوره دا دي چي خوله پاکولو وروسته ووایي او بیله خولې پاکولو هم صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار مع الشامي کتاب الطاهارة، باب الحیض. ط رشیدیه

که په کوروالي (جماع) په عبادت کي کمي ارځي نو...

سوال: (۱۲۰۹) یو سړی د جماع شوقي دی او په جماع سره په عبادت کي کمي راځي او قوت یې کمیږئ خو د عبادت هم شوق لري نو اوس څه وکړي؟ (۱۳۳۷/۳۰۱هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: و لزوجک علیک حقا و لنفسک علیک حقا(۱) (الحدیث) له دي څخه معلم شو چي د ښځي هم حق شته او د خپل نفس هم حق شته، لهذا توسط په هر یو کار کي محمود دی، عبادت هم کوه او د ښځي او بچیانو حق هم ادا کوئ فقط و الله تعالی اعلم

تو له شپه نفلونه کول غوره دي که جهري ذکر؟

سوال: (۱۲۱۰) تو له شپه نفلونه کول غوره دي که جهري ذکر؟ (۲۲۲۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د بیلا بیلو حالاتو سره احکام بیل، بیل وي او تر اعتدال او سنت طریقي څخه تجاوز نه دی کول پکار، خوب هم پکار دی، داسي نه چي تو له شپه په لمانځه او ذکر کي تیره کړي، نور نو د کومو شپو وینبول چي مستحب دي په هغه کي اختیار دی که نفل کوي او که په ذکر کي تیروي. فقط و الله تعالی اعلم

د سهار تر لمانځه وروسته تر لمر ختو ذکر کول مستحب دی

سوال: (۱۲۱۱) د سهار تر لمانځهٔ ورسوته تر لمر ختو ذکر کول جائز دی او که نه؟ (۵۲۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د سهار تر لمانځه وروسته تر لمر ختو پوري ذکر، تسبیح، تهلیل او استغفار متسحب دی، داسي کول ډیر ثواب لري فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه قال. قال لي رسول الله صلی الله علیه وسلم یا عبد الله! ألم أخبر أنک تصوم النهار و تقوم اللیل، فقلت: بلی یا رسول الله! قال: فلا تفعل، صم و أفطر و قم و نم، فإن لجسدک علیک حقا و إن لعینیک علیک حقا و إن لزوجک علیک حقًا الحدیث(صحیح البخاری: ۲۶۵/۱، کتاب الصوم. باب حق الجسم في الصوم)

پروردګاره د خپل حبیب په طفیل زموږ دا کار وکړې، په دعا کې ویل څنګه دي؟

سوال: (۱۲۱۲) په دعا کې داسي ویل صحیح دي او کنه؟ چي پروردګار د خپل حبیب په وسیله زموږ دا کار وکړي. (۱۳۴۳/۸۳۴هـ)

ځواب: داسي ویل صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

په مزار د دعاء کولو طریقه

سوال: (۱۲۱۳) د بزرګانو پر مزارونو د دعاء کولو طریقه څه ده؟ (۱۳۴۳/۸۳۴هـ)

ځواب: پر مزار د بزرګ دا ډول دعا کوه: ای الله! د دغه بزرګ په برکت زما دعا قبوله کړې. فقط و الله تعالی اعلم

د سهار ماښام او ویدېدو دعاګانې په صحیح حدیثو ثابتي دي

سوال: (۱۲۱۴) په حدیثو کي چي کومي مستحب دعاګاني یعني د ویدېدو او سهار او ماښام او نورو پر مهال کومي دعاوي راغلي دي، هغه په متواترو حدیثو ثابتي دي، که موضوعي ده؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۲۲۲هـ)

ځواب: د خاصو وختونو زیاتره دعاګاني د صحاح په کتابونو کي راغلي دي او حصن حصین هم هغه دعاګاني راجمع کړي دي چي په صحیح طریقه ثابتي دي، هغه وایاست، د ویدېدو پر مهال دعا: اللهم باسمک اموت و احی(۱) بخاری او مسلم روایت کړې ده. فقط و الله تعالی اعلم

له لمانځه وروسته د دعا لپاره لاسونه پورته کول او پر مخ راتېرول

سوال: (۱۲۱۵) له لمانځه وروسته د دعا لپاره لاسونه پورته کول او په پای کي پر مخ راتېرول څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۲۵۳۸هـ)

ځواب: دا طظیقه سنت او مستحب ده په نور الإیضاح کي رغلي دي: یدعون لأنفسهم للمسلمین رافعي أیدیهم ثم یمسحون بها وجوههم فی آخره(۲) أی عند الفراغ یعني له لمانځه وروسته باید امام د مقتدیانو سره د دعا لپاره لاسونه پورته کړي بیا

---

(۱) صحیح البخاری: ۲/۹۳٤، کتاب لادعوات، باب وضع الید تحت الخدالیمنی.

(۲) نور الإیضاح، ص: ۸۲، کتاب لاصلاة فصل فی الأرذکار الواردة بعد الفرض.

دي تول خپل لاسونه پر مخانو راتېر کړي، په حصن حصین کي د دې په اړه روایتونه شته(۱)

په دعا کي لاسونه څومره پورته کول سنت دي؟

سوال: (۱۲۱۲) له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله نا کله دا ډول لاسونه په دعا کي پورته کړل چي بیاض ابطین (بغلونو سپین والی) به معلومېدی دا صحیح دي او کنه؟ او دا ډول دعا کول جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۳۰۷۰ھ)

ځواب: د حدیث شریف الفاظ د دي: عن انس رضی الله عنه قال: کان النبی صلی الله علیه وسلم لا یرفع یدیه فی شئ من دعائه الا فی الاستسقاء فإنه یرفع حتی یری بیاض ابطیه(۲) په دې کي څرګندونه ده چي دا صورت خاص د استسقاء په لمانځهٔ کي دی په نورو دعاګانو کي د رفع ایدی هم هغه معمول طریقه ده چي لاسونه د سیني برابر شي لکه چي په سنن ابي داؤد کي چي راغلي دي: عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: المسئلة ان ترفع یدیک حذو منکبیک او نحوهما الحدیث(۳) نو د حضرت انس رضی الله عنه حدیث خاص د استسقاء په هکله دی او په دې کي چي په نورو دعاګانو کي د رفع ایدی نفي کړی دی، هغه مؤول دی یعني کله چي په نورو دعاګانو کي په رفع کي مبالغه نشته او خاص په استسقاء کي مبالغه شته، څکه په دې کي نفي وکړي، کما فی المشکاة قوله: "لاي رفع یدیه" ای رفعا بلیغا فوق جزاء الصدر(۴) و قال النووي فی شرح لصحیح لمسلم: و یتأول هذا الحدیث علی أنه لم یرفع الرفع البلیغ بحیث یری

---

(۱)و بسط الیدین و رفعهما و ان یکون رفعهما حذوا لمنکبین و کشفهما ... و مسح وجهه بیدیه بعد فراغه (الحصن الحصین، المنزل الأول، باب بیان آداب الدعاء، ص: ۲۳-۲۵، المطبوعة: المطبع المجتبائی دهلی)

(۲) مشکوة المصابیح، ص: ۱۳۱، کتاب الصلاة، باب الستسقاء الفصل الأول.

(۳) سنن ابي داؤد، ص: ۲۰۹، کتاب الصلاة، باب الدعاء.

(۴) بین سطور مشکوة المصابیح، ص: ۱۳۱، کتاب الصلاة باب الاستسقاء، الفصل الأول.

بیاض إبطیه إلا فی الاستسقاء إلخ(۱) و قال الشوکانی فی نیل الأوطار: و ذهب آخرون الی تأویل حدیث انس المذکور لاجل الجمع بان یحمل النفی علی جهة مخصوصة إما علی الرفع البلیغ، و یدل علیه قوله: حتی یری بیاض إبطیه، و یؤیده أن غالب الأحادیث التی وردت فی رفع الیدین فی الدعاء إنما المراد بها مد الیدین بسطهما عند الدعاء و کأنه عند الاستسقاء زاد علی ذلک فرفعهما الی جهة وجهه حتی حاذتاه و حینئذ یری بیاض إبطیه الخ(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د خوش اوازۍ دعا کول صحیح ده

سوال: (۱۲۱۷) د خوش اوازۍ دعا کول خو منع نه ده؟ (۱۳۴۳/۲۲۳۹هـ)

ځواب: د خوش آوازۍ دعا له هغو شینو څخه نه ده چې منع راغلې ده ځکه چې تغنی بالقرآن مأمور به ده، کما ورد: لیس منا من لم یتغن بالقرآن(۳) او تغنی خوش اوازي ده نو په دې کې کوښښ کول مأمور به دی او د دې دعا منع نه ده. فقط

د ټولو مؤمنانو لپاره دعا کول غوره دي

سوال: (۱۲۱۸) در دعا تخصیص کردن ببعض اموات مؤمنین جائز است یا نه؟ (۸۱۵/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: دعا عام برائے کافۀ مؤمنین اموات را اولی است، و تخصیص محض برائے زیادتي ثواب هم جائز است.

سوال: (۱۲۱۸) ترجمه: په دعا کې ځینې وفات شوي مؤمنان راخاصول جائز دي او کنه؟

---

(۱) شرح لانووي علی هامش الصحیح لمسلم: ۲۹۳/۱، کتاب صلاة الاستسقاء.

(۲) عون المعبود شرح سنن ابي داؤد، ۲٤/٤، کتاب الصلاة، جماع ابواب صلاة الستسقاء و تفریعها، باب رفع الیدین فی الاستسقاء، المطبوعة: المکتبة الأشرفیة دیوبند.

(۳) عن ابي هریرۃر ضی الله عنه قال: قال رسول الله صی الله علیه وسلم: لي سمنا من لم یتغن بالقرآن الحدیث(صحیح البخاری: ۱۱۲۳/۲، کتاب الرد علی الجهمیة و غیرهم، التوحید، باب قول الله: "و أسروا قولکم إلخ")

ځواب: دعا د ټولو وفات شويو مؤمنانو لپاره کول غوره دي او صرف د ثواب د زياتوب لپاره خاصول هم جائز دي. فقط و الله تعالی اعلم

د بد چلندو ښځو لپاره د مغفرت دعا کول

سوال: (۱۲۱۹) چي د بد چلندو ښځو هديره ته سړي ورشي نو د مغفرت دعا ورته کول جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۹/۸۹۱ھ)

ځواب: جائز ده. فقط و الله تعالی اعلم

و مسلمان ته بددعا (ښرا) کول

سوال: (۱۲۲۰) د زيد او عمر جګړه سره وشوه زيد يوه ورځ روژه ونيوله و عمر ته ښرا (بددعا) وکړه، د زيد دعا به قبوله شي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۹۳۹ھ)

ځواب: بيله کومي شرعي وجهي و کوم مسلمان ته ضرر رسولو لپاره صرف د دنياوي جګړي په وجه بددعا کول جائز نه ده او داسي دعا نه قبليږي، په حديث شريف کي راغلي دي: يستجاب للعبد ما لم يدع بإثم او قطيعة رحم الحديث رواه مسلم(۱)

آسان درود

سوال: (۱۲۲۱) زه د بدني ناروغيو په وجه پريشانه يم، د درود په هکله ښه عقيده لرم، مګر درود راته ويل ګران دي، لهذا "صلی الله عليه وسلم" چي ډير اسان دی، په نساته ولاړه، تګ راتګ کي ويلای شم، شيطان د وسوسه راچوي چي په دې کي ثوآب نشته. آيا دا کلمه د درود سره برابره ده او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۰۰۵ھ)

ځواب: صلی الله عليه وسلم درود دی او په دې کي ثوآب د درود او ذکر شته، ليکن په بد کي کمه د عليه پر ځای علی محمو وي نو زيات مناسب دي يعني داسي ووايي: صلی الله علی سيدنا محمد و سلم او پورهه درود که وايي نو داسي ووايه: اللهم صلی علی سيدنا محمد و آله و صحبه و بارک و سلم که دا هم نشي کيدلای نو هم هغه بس دی کوم چي تا وايه فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: لا يزال يستجاب الحديث(الصحيح لمسلم: ۳۵۲/۲، كتاب الذكر و لادعاء و التوبة و الاستغفار، باب أنه يستجاب للداعي ما لم يعجل إلخ)

ونبي عليه الصلاة والسلام ته د درود رسولو طريقه

سوال: (۱۲۲۲) د درود د ثواب و نبي عليه الصلاة و السلام ته رسولو څه طريقه ده؟ که صرف په ويلو رسيږي؟ (۱۳۴۳/۱۸۲۳هـ)

ځواب: درود چي څنګه ووايا ست ملائکي يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته رسوي. فقط

په لمانځه کي د نبي عليه الصلاة والسلام په نوم ويلو يا اورېدلو درود مه وايه

سوال: (۱۲۲۳) په لمانځۀ کي که په قرأت کي د نبي عليه الصلاة و السلام نوم راشي يا يې له دباندي څخه واوري نو درود ويل پکار دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۵۴۳هـ)

ځواب: مه يې وايه. فقط و الله تعالى اعلم

له جماعت څخه مخکي دود ويل غوره دی که بل ذکر؟

سوال: (۱۲۲۴) په مسجد کي تر جماعت مخکي سبحان الله و الحمد لله ويل ښه دی که درود شريف؟ (۱۳۴۳/۲۰۹۲هـ)

ځواب: دا ټول عبادتونه دي، له لمانځه څخه مخکي چي څومره وغواړي په عبادت دي مشغول وي مګر دا ظاهره ده چي تر جماعت کولو مخکي د درود ويلو وخت نه دی بلکه په نفلو او نورو کي د مشغوليت وخت دی، اما مسجد ته ورتننوتلو پر مهال درود ويل علماء مستحب ليکلی دی(۱)

د درود ثواب له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پرته بل چاته رسي او کنه؟

سوال: (۱۲۲۵) د درود شريف ثواب له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پرته و بل چاته هم رسېدلای شي او کنه؟ (۱۹۴۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: کوم ثواب چي د ويونکي وي، هغه بل ته رسولای شي. فقط و الله تعالى اعلم

---

(۱) عن عبد الله بن الحسن عن امه فاطمة بنت الحسين عن جدتها فاطمة الكبرى رضى الله عنها قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا دخل المسجد صلى على محمد و سلم و قال: رب اغفرلي الحديث(جامع الترمذي: ۷۱/۱، ابواب الصلاة، باب ما يقول عند دخوله المسجد؟)

صلعم لیکل یا ویل

سوال: (۱۲۲۶) که څوک لفظ "صلعم" مخفف ووایي لکه چي لیکل کیږي نو ګناه خو به نه لري؟ (۷۷۰/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: څرنګه چي لیکل دي هغه ډول ویل جایز نه دي، پوره صلی الله علیه وسلم ویل پکار دي، په همدې وجه باندي دا ډول مخفف لیکل هم نه دي پکار، پوره درود شریف لیکل پکار دی، په تخفیف سره له لیکلو سره فرضیت یا استحباب د درود نه ساقطیږي فقط

د نبي علیه الصلاة والسلام د نامه سره "ﷺ" لیکل

سوال: (۱۲۲۷) په ځینو ځایونو کي چي لفظ د محمد راغی وي، پر هغه دا علامت "ﷺ" لیکل شرعًا جائز دی او کنه؟ (۹۴۸/۱۳۴۵ھ)

ځواب: د "ﷺ" علامت نه دي جوړول پکار، بلکه پوره درود یعین صلی الله علیه وسلم د نبي علیه الصلاة و السلام له نامه سره لیکل پکار دی، صرف په حرف "ص" لیکلو هیڅ نه حاصلیږي او دا ښه هم نه دي

یا محمد ویل

سوال: (۱۲۲۸) یا محمد ویل جائز دي او کنه؟ (۱۳۰۰/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: یا محمد ویل په حاضر ناظر ګڼلو صحیح نه دي او درود خو ملئکي و نبي علیه لصلاة و السلام ته وررسوي، ځکه په درود کي د نداء او خطاب صیغه ویل صحیح ده، لکه چي په ألتحیاه کي دي: السلام علیک ایها النبی إلخ د ایها او یا یوه معنی ده، داغه رنګه که دا ووایي: الصلاة و السلام علیک یا رسول الله! دا هم صحیح دي بیله دغه ځایونو (یعني التحیاتي او درود شریف) دا رنګه مه وایاست: یا محمد.

یا رسول الله اوي ا ولی الله ویل

سوال: (۱۲۲۹) په درود شریف حرف ندا جائز دی او کنه؟ او د حیات نبي په وجه جواز کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۱۳/۱۳۴۳ھ)

ځواب: په درود شریف کي حرف ندا جائز دي(۱) لکه چي پخپله په التحیاته کي موجود دي: السلام علیک ایها النبی و رحمة الله وبرکاته، په درود کي د حرف نداء د جواز دا وجه ده چي ملایکي درود شریف و نبي علیه الصلاة و السلام ته وررسوي نو هغه وخت به د نبي علیه الصلاة و السلام په خدمت کي د خطاب په صیغه سره رعض کونکی وي چي فلان یصلی و یسلم علیک یارسول الله ! نو ندا او خطاب خو حاضر ته کیږي، ځکه له درود شریف پرته وغیر الله ته په حاضر ناظر ګڼلو خطاب نه دی کول پکار او د اهل حال د شوق او ذوق په حال کي خطاب کول له دې څخه خارج دی او په حیات النبی کیدو حاضر او ناظر کیدل نه لازمیږي چي د یا لفظ ندا ورته وشي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۳۰) یا رسول لله او یا ولی الله ویل جائز دي او کنه؟ (۳۲/۱۵۴۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په درود شریف کي و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ندا او خطاب راغلی دی لکه چي په التحیاته کي هم(۲) له دې پرته نه دي راغلي او یا ولی الله خو یو ځای هم نه دی ثابت. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۳۱) یا رسول الله ! یا ولی الله ! ویل جائز دي او کنه؟ (۳۳۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

---

(۱) مګر صحیح طریقه همدا ده چي له لیري ځخه د درود اوس لام لیږلو چي کومه طریقه نبي علیه الصلاة و السلام ارشاد فرمایلې ده، هم هغه اختیار کړي، په غائبانه درود کي د خطاب صیغې مه استعمالوئ، د ې د سره که په عقیده کي کوم فساد نشته، یا د ده په فعل سره د کوم بل چا په عقیده کي د فساد پیدا کیدو اندیښنه نشته، نو یا رسول الله ویول ته ناجائز نه ویل کیږي، هو که د عقیدي د فساد اندیښنه وي نو بیله ناجائز ویلو بله لاره نشته (اختلاف او صراط مستقیم لیکونکی مولانا محمدي وسف لدهیانوي رحمه الله: ص: ٤٨-٤٩ ط مکتبه حجاز دیوبند)

(۲) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: علمنا رسول الله صلی الله علیه وسلم إذا قعد نافی الرکعتین ان نقول: لاتحیات لله و الصلوات و الطیبات السلام علیک ایها النبی و رحمة الله و برکاته الحدیث(جامع الترمذی: ١/٦٥، ابواب الصلاة، باب ما جء فی التشهد)

ځواب: و غير الله ته ندا ناجائز ده ليکن په درود شريف کي "الصلاة و السلام عليک يا رسول الله!" ويل صحيح دي او که عقيده صحيح وي او له الله پرته بل څوک د نفع او نقصان مالک نه بولي نو د نبي عليه الصلاة و السلام وسيله نيول بيله شکه صحيح او متبرکه کيدل پکار دي "يايها الذين آمنوا اتقوا الله و ابتغوا اليه لوسيلة" (سورة مائده، آيت: ۳۵) په دې کي همدا حقيقت څرګند کړل شوی دی. فقط و الله تعالی اعلم

د مسجد د دېوال پر يو کونج يا الله! او پر بل کونج يا محمد! ليکل

سوال: (۱۲۳۲) دلته په منشي محله کي يو مسج له نيو سره جوړ شوی دی چي پکي معمار يو ځای يا الله او د هغه په برابر کي بل ځای يا محمد ليکلی دی خو يوس ړی چي ځان ته عالم هم وايي په معمار يا محمد خراب کړی او وايي چي د يا الله په مقابل يا محمد کيدل شرک دی، په دغه حرکت زياتره خلک پريشاني دي، داسي کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۹۲ه)

ځواب: "يا" لفظ د نداء دی ځکه د نبي عليه الصلاة و السلام له نومس ره نه دی ليکل پکار، دا لفظ د الله له نوم سره راځي او د الله پر دېوالونو مطلقًا څه ليکل د قرآن آيتونه او د الله نومونه ليکل يې مکروه ليکلي دي، په شامي کي راغلي دي: و قد منا قبيل باب المياه عن لافتح أنه تکره کتابة القرآن و أسماء الله تعالی علی الدراهم و لامحاريب، الجدران و ما يفرش اهـ(۱) نو معلوم شو چي د الله تعالی او محمد صلی الله عليه وسلم نومونه د مسجد پر دېوال ليکل منع او مکروه دي دا ګرويل او ليري کول پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

د غير الله لپاره د "يا" لفظ استعمالول

سوال: (۱۲۳۳) يا رسول الله، يا، يامعين الدين اجميري ويل جائز دي او کنه؟ (۱۵۰۴/۳۳-۱۳۳۴ه)

---

(۱) رد المحتار علی الدر المختار شرح تنوير الإبصار کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب فيما يکتب علی کفن الميت. ط رشيديه

ځواب: د "یا " په لفظ کي خو ندا او خطاب دی ځکه د غیر الله لپاره د دغه لفظ استعمال صحیح نه ید او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره هم له درود شریف څخه پرته د دې استعمال صحیح نه دی او د اولیاء الله په کلام کي خو داسي لفظ راغلی دی، هغه په غلبه د حال کي دی، په هغه استدلال صحیح نه دی. په درود شریف کي خو ځکه صحیح دی چي ملائکي دغه درود و نبي علیه الصلاة و السلام ته رسوي او په التحیات کي هم راغلی دی.(۱) فقط و الله اعلم

د "یا شیخ عبد القادر شیئا لله" وظیفه ویل

سوال: (۱۲۳۴) یا شیخ عبد القادر شیئا لله کوم څوک چي په عتقادس ره دا وظیفه وایي او بل چاته یې ښیي، هغه مشرک دی او کنه؟ (۳۲/۱۷۸۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: مشرک نه دی، مشرک او کافر ورته مه وایه، ما له د ساي موهوم الفاظ، څخه پرهیز لازم دی، په در مختارا کي راغلي دي: کذا قول شئ لله قیل: یکفر(۲) په شامي کي راغلي دي: وي نبغی ان یرجح عدم التکفیرو فإنه یمکن أن یقول: أردت أطلب شیئا إکراما لله تعالی اهـ شرح الوهبانیة: قلت: فینبغی او یجب التباعد عن هذه العبارة(۳)

د الله الصمد یا سورة واقعې واظیفه

سوال: (۱۲۳۵) که د سورة واقعه او الله الصمد وظیفه په دې نیت سړی وکړي چي ظاهري اسباب د ژوند د زړه د غوښتني سره سم حاصل شي ترڅو ښه په اطمینان سره عبادت وکړي، دا جائز دی که څنګه دی؟ (۳۳/۳۸۲-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) عن عبد الله بن سمعود رضی الله عنه قال: علمنا رسول الله صلی الله علیه وسلم إذا قعدنا فی الرکعتین ان نقول: التحیات لله و الصلوات و الطیبات السلام علیک ایها لانبی و رحمة الله و برکاته الحدیث(جامع الترمذی: ۶۵/۱، ابوآب الصلاة باب ماجاء فی الشتهد)

(۲) رد المحتار کتاب الصلاة، مطلب فی رفع الصوت بالذکر.

(۳) الدر المختار و الشامی کتاب الجهاد، قبیل باب البغاة. ط رشیدیه

ځواب: دا ورد د تقوی خلاف او منافي نه دی بلکه د سورة واقعه وظیفه په حدیث شریف کي راغلي ده(۱) مقصود له دي څخه فراغ للعبادة دی. فقط و الله تعالی اعلم

د الهي عشق د زیاتوب وظیفه

سوال: (۱۲۳۶) آیا کومه دعا یا کومه خاص وظیفه داسي شته چي الهي عشق او محبت په زیات شي؟ او د هغه څه طریقه ده؟ (۱۳۳۸/۱۳۷۴هـ)

ځواب: د الله نعمتونه په یادول او د قرآن تلاوت او نور کول او په خشوع خضوع سره لمونځ کول او د شرعي احکامو اتباع دا ټول کارونه د الله مینه او عشق زیاتونکي دي

پر کومه مصلی چي د کعبې نقش وي، پر هغه لمونځ کول او کېښېنستل

سوال: (۱۲۳۷) پر مصلی که د کعبې نقش وي لمونځ وربانديي کول او وربانديي کېښېنستل صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: صحیح دي(۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قرأ سورة الواقعة فی کل لیلة لم تصبه فاقة ابدًا و کان ابن مسعود یأمر بناته یقرأن بها فی کل لیلة (مشکوة المصابیح ص: ۱۸۹، کتاب فضائل القرآن، الفصل الثالث)

(۲) اصح خبره دا ده چي پر کومو مصلو د کعبې او نورو فرضی عکسونه جوړ شوی وی هغه نه دی. استعمالول پکار ځکه چي انسان کله وربانديي کښېني همم او دساي مناسب نه دي، حضرت مولانا مفتي سعید احمد صاحب پالن پوري شیخ الحدیث او صدر المدرسین د دار العلوم دیوبند په تحفة الالمعی کي لیکي: د متبرک شیانو مثلاً د کعبې شریفي او د روضې شریفي اصلي یا قلمي تصویرونو سپکاوی کول له مؤمن سره نه ښايي، په دې سره په زړه کي د دغه ځایونو بې قدري پیدا کیږي، اما د دي تقظیم په دې سره توسل او تبرک هم جایز نه دی، ځ:هـ چي اصل کعبه او اصل روضه په زرګونو برکتونو ځایونه دي مګر په کیمره چي د دوی کوم عکس اخیستل کیږي یا په قلم چي د دي کوم تصویر جوړ کړل شي، په هغه کي دي هم هغه برکتونه پیداش ي دا خبره نامعقوله ده او نه د دې کوم دلیل شته، داغه راز پر کومو مصلو چي د

د صحابه، تابعینو او نورو لپاره علیه السلام کارول

سوال: (۱۲۳۸) د صحابه، تابعینو او تبع تابعینو لپاره علیه السلام استعمالول جائز دي او کنه؟ (۱۸۹۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و لا يصلى لى غير الأنبياء و لا غير الملائكة إلا بطريق التبع إلخ و يستحب الترضى للصحابة... و لا ترحم للتابعين و من بعدهم من العلماء و العباد و سائر الأخيار، و كذا يجوز عكسه الترحم للصحابة و الترضى للتابعين و من بعدهم على الراجح الخ(۱) له دغه روايت څخه معلوم شو چي د صحابه وو او تابعينو او نورو لپاره عليه الصلاة و السلام استعمالول تبعًا جائز دي مستقلاً

کعبې او نورو فرضي تصویرونه جوړ شوي وي، هغه هم نه دي استعمالو پکار، ځکه چي اسنان کله وړباندي کښېني هم او دا خبره مناسبه نه ده(تحفة الالمعی: ۹۹/۵، ابواب اللباس)

(۱) الدر المختار و الشامي كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه

و اما السلام فنقل اللقانى فى شرح جوهرة التوحيد عن الإمام الجويني أنه فى معنى الصلاة فلا يستعمل فى الغائب و لا يفرد به غير الانبياء، فلا يقال: على عليه السلام، و سواء فى هذا الأحياء و الاموات الا فى الحاضر فيقال: السلام او سلام عليک او عليكم و هذا مجمع عليه اهـ

أقول: و من الحاضر السلام علينا و على عباد الله الصالحين، و الظاهر أن العلة فى منع لاسلام ما قاله النووى فى علة منع الصلاة أن ذلک شعار اهل البدع و لأن ذلک مخصوص فى لسان اسلف بآلانبياء عليهم الصلاة و السلام، كما أن قولنا عز و جل مخصوص بالله تعالى فلا يقال: محمد عز و جل و إن كان عزيزاً جليلا، ثم قال اللقاني: و قال القاضي عياض: الذي ذهب إليه المخحقيقون و اميل اليه ما قاله مالک و سفيان و اختاره غير واحد من الفقهاء و المتكلمين أنه يجب تخصيص النبى صلى الله عليه وسلم و سائر الانبياء بالصلاة و التسليم، كما يختص الله سبحانه عند ذكره بالتقديس و التنزية، و يذكر من سواهم بالغفران و الرضى كما قال الله تعالى: "رضى الله عنهم و رضو عنه" (سورة مائده، آيت: ۱۱۹ و "يقولون ربنا اغفرلنا و لإخواننا الذين سبقونا بالأيمان"(سورة حشر، ايت: ۱۰) و ايضا فهو امر لم يكن معروفا فى الصدر الاول و انما احدثه الرافضة فى بعض الأئمة و التشبه باهل البدع منهى عنه فتجب مخالفتهم اهـ (الشامى كتاب الخنثى، مسائل شتى. ط رشيديه)

ويل جائز نه دي. په شامي کي راغلي دي: بأن يقول: اللهم صل على محمد و آله و صحبه وسلم، لأن فيه تعظيم النبي صلى الله عليه وسلم(۱)

د الله تعالى لپاره د واحد صيغه استعمالول

سوال: (۱۲۳۹) د الله تعالى رابللو لپاره "تاسو" لفظ ستعمالول جائز دي او کنه؟ ځکه چي دا د جمع صيغه ده که د "ته" لفظ استعمال کړي نو بې ادبي خو به نه وي؟ (۱۳۴۳/۱۵۰۳هـ)

ځواب: د واحد صيغه استعمالول بې ادبي نه ده هو بلکي د باري تعالى د توحيد د تأکيد لپاره د واحد لفظ زيات انسب دى او د جمع صيغه هم د تعظيم په غرض جائز ده. فقط و الله اعلم

په مسجد کي په لوړ آواز ذکر او نور کول

سوال: (۱۲۴۰) يو قاري او څو لمونځ کونکي په مسجد کي حلقه جوړ کړي په زوره، زوره شعرونه او درود شريف وايي يو مولوي صاحب منع کړو او دا يې ورته وويل چي په مسجد کي قرآن شريف او ذکر په زوره کول منع او ناجائز دي پر دې يو بل مولوي صاحب ر دغه وينا کونکي مولوي صاحب د کفر فتوى ولګوله او له امامت څخه يې ليري کړى، دا صحيح دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۴۵۳هـ)

ځواب: په دې اړه د مولوي صاحب وينا صحي ده، په مفرط جهر سره درود او نور په مسجد کي ويل او په مفرط جهر سره په مسجد کي ذکر کلو چي ور څخه د خلګو په لمونځونو او نورو کي تاوان پيښيږي، داغه راز په مفرط جهر سره په مسجد کي قرآن شريف ويل چي د خلګو په لمونځونو او نورو کي تشويش وي صحيح نه دى، پر دې باندي پر نوموړي مولوي صاحب د کفر فتوى لګول يو مخ غلطه فسق او معصيت ده او په دې وجه مولوي صاحب له امامته ليري کول جائز نه دي فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۱۲۴۱) د تهجد له لمانځه وروسته په مسجد کي د لا اله الا الله نعره لګول جائز ده او کنه؟ کله چي د مسجد په شاوخوا کارونو کي خلګ ويده وي. (۳۲/۱۹۳۸-۱۳۳۳هـ)

ځواب: جهري ذکر د ډول کول چې ورځخه لمونځ کونکیو یا ویده ته تکلیف وي، نبه نه دی بلل شی، و باید جهري ذکر کونکی په زیات جهر ذکر ونکړي، بلکه ذکر دي دا ډول وکړي چې چا ته تکلیف او تشویش نه وي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۴۲) د شپې دوې درې بجې څو کسان مسجد ته راشي، په زوره د الله هو نعري لګوي او د دې سره هندي تلسي داس کبیر داس او نورو او د فارسي شعرونه په زوره وایي چې له امله د کلیوالو خوب خراب شي نو د دوی جهري ذکر کول جائز دی؟ (۱۰۱۱/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: په شامي کي راغلي دي چي جهري ذکر جائز او مستحب دی لیکن په جهري ذکر و ویدو یا لمونځ کونکیو ته ایذاء وي نو منع او مکوره دی، اجمع العلماء سلفا و خلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد و غیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قارئ الخ(۱) نو د دغه خلګو دومره په زوره ذکر کول صحیح نه دی چي ویده خلګو ته تکلیف وي او په حدیث شریف کي راغلي دي: یا ایها الناس اربعوا علی انفسکم فإنکم لا تدعون اصم و لا غائبا الحدیث(۲) او کما قال صلی الله علیه وسلم ترجمه: ای خلګو پر خپلو ځانونو نرمي کوئ یعني منع کړئ او ډیر په زوره الله مه رابولئ، پس تحقیق تاسو کوم کوڼ یا غائب نه رابولئ یعني الله سمیع او حاضر دی. فقط و الله تعالی اعلم

له پیدائش وروسته د هلک او انجلۍ دواړو په غوږو کي اقامت کول مستحب دی

سوال: (۱۲۴۳) د مولود لفظ د هلک او انجلۍ دواړو لپاره دی که صرف د هلک لپاره؟ او تر ولادت وروسته اذان د دواړو لپاره مشروع دی که د هلک لپاره؟ (۱۹۱۰/۳۲-۱۳۳۳ھ)

---

(۱) الشامي کتاب الصلاة، مطلب فی رفع لاصوت بالذکر. ط رشیدیه

(۲) مشکوة المصابیح، ص: ۲۰۱، کتاب أسماء الله تعالی، باب ثواب التسبیح و التحمید و التهلیل و التکبیر. الفصل الاول.

ځواب: انجلی هم پکي داخله ده، او اذان د دواړو مستحب دی. فقط و الله تعالی اعلم

که په لمانځه کي فاسد فکرونه راځي نو څه کول پکار دي؟

سوال: (۱۲۴۴) یو نیک او صالح سړی له څه مودي راهیسي د سخت وهم او شیطاني وسوسو ناجوړه دی، په لمانځه او نورو کولو کي ډیر فاسد فکرونه وړپیښیږي او په ژبه باندي هم بې اختیاره جاري شي، په دغه صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۱۳۹۲ھ)

ځواب: دا سړی مسوس او وهمي دی، الله پاک دي د ده وسوسه او وهم لیر کړي، دی هم باید حتی الوسع وهم رفع کوي او په شرعي حکم عمل کوي، که دی په شرعي حکم په پوره توګه عمل وکړي نو د ده دغه وسواس او وهم به انشاء الله لیري شي. فقط و الله اعلم

په نوي کور او نوي دکان کي د برکت لپاره قرآن ختمول

سوال: (۱۲۹۵) که څوک نوی دکان خلاص کړي او د برکت لپاره حافظان راجمع کړي د قرآن ختم په وکړي او وروسته خوږې یا بل شی ورکړي نو څنګه دی؟ (۴۴/۱۳۷۱-۱۳۴۵ھ)

ځواب: دا نه څه ضروري دي او نه منع، ضروري يې مه بولئ. فقط و الله اعلم

سوال: (۱۲۴۲) که څوک نوی کور جوړ کړي نو قرآن پکي ختمول ډوډۍ او شیریني ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۴۲۲ھ)

ځواب: پروا نلري، لیکن التزام د دې مه کوئ او پر چا باندي قرآن په اجرت مه وایاست. فقط و الله تعالی اعلم

د ګناه او توبې بیان

توبه هر وخت سرې کولای شي

سوال: (۱۲۴۷) زید د عمر د ښځي سره زنا وکړه اوس که دواړه په اخلاص توبه وباسي نو څنګه دی؟ په توبه به د دوی مغفرت وشي او کنه؟ (۱۵۱۴/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: توبه هر وخت او په هر حال کي کولای شي، پرته له خاص حالت(۱) په حدیث شریف کي راغلي دي: ألتائب من الذنب کمن لا ذنب له(۲) قال الله تعالی: "قل یا عبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله إن الله یغفر الذنوب جمیعا" (سورة زمر، آیت: ۵۳)

---

(۱) خاص حالت: یعني د غرغرې حالت چي کله ځ کندن شروعش ي نو توبه نه قبلیږي. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۲) عن ابي عبیدة بن عبد الله عن ابیه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب من الذنب کمن لا ذنب له (سنن ابن ماجة، ص: ۳۱۳، ابوآب الزهد ذکر التوبة)

و عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب من الذنب الحدیث(مشکوة المصابیح، ص: ۲۰۶، کتاب الدعوات باب الاستغفار و التوبة، الفصل الأول)

این درگاه ما درگاه نو امیدی نیست صد بار گر توبه شکستی باز آ (۱)

سوال: (۱۲۴۸) زید به ناروا عمل کاوی، د توبې ورته وویل ش، ده توبه وایسته یو نیک سړي ورته وویل چي که اویا واوره هم ګناه وکړي او توبه اوباسي نو توبه قبلیږي، د ده په دغه وینا ناپوهان خطا شو او پر ګناه ټینګار کولو څخه نه منع کیږي؟ (۲۰۱/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: د توبې دروازه عند الله وسیع ده، څوک که یوه ګناه هر څومره واره وکړي لیکن تر نصوح توبه ورسوته هم د دې د بخښني امید شتهو ځکه چي په حدیث کي مذلقا راغلي دي: "التائب من الذنب کمن لا ذنب له" (۲) و قال تعالی: "عسی الله ان یتوب علیهم" الآیة (سورة توبه، آیت: ۱۰۲) مګر دا ښکاره ده چي په رښتیا توبه ایستونکی هم هغه ید چي له یو وار توبه کولو ورسوته بیا هیڅکله هم کبره ګناه ونکړي، د ګناهونو تکرار له توبې څخه د محرومېدو باعث ګرځي. فقط و الله تعالی

د توبې کولو لپاره مسجد شرط نه دی

سوال: (۱۲۴۹) که کوم هلک شراب وخوري مسجد ته راشي لمونځ کوي له خولي څخه د بوی راتلو په وجه خلک له مسجد څخه اوباسي، آیا د ده توبه له مسجد څخه پرته بل ځای هم قبلیږي او کنه؟ د ده لپاره بله کومه سزا ده؟ (۲۷۷۹/۱۳۴۱ھ)

ځواب: هر ځای توبه قبلیږي، هر ځای چي وي سمدستي ت،به کوي، همدا د دې کفاره ده. فقط

صرف لفظي توبې ته هیڅکله اعتبار نشته

سوال: (۱۲۵۰) د زید ښځه شیعه ده ځکه ده مغلظ طلاق ورکړل، له هغه څخه یو زوی اوي وه لور هم شته، هلک چي دی هغه سني دی او انجلۍ چي د دوولسو دیارلسو کلونو ده هغه د مور سره اوسیږي او شیعه ده، دغه ښځي له طلاق وروسته بل ځای نکاح

---

(۱) دا زموږ درګاه د نا امیدۍ درګاه نه ده، سل واره هم که توبه درځخه ماته شوی نو بیا هم راشته یعني توبه اوباسه.

(۲) مخکنۍ حواله.

نه ده کړې، اوس دغه طلاقه شوې ښځه له شیعه مذهب څخه توبه ایستلې اوباسي، مګر د خپلوانو د بیرې په ښکاره توبه نه کوي او داشرط هم لګوي چې زه به د محرم په میاشت کې شیعه یم او خپله لور به په شیعه ګانو کې ودوم، پوښتنه دا ده چې د دغه شرطونو سره د دې توبه صحیح ده او کنه؟ او نکاح هم بیله حلالې روا ده او کنه؟ (۲۸۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: که څه هم د توبې صحیح کیدو لپاره اعلان دومره ضرروي نه دی چې بیله هغه توبې ته اعتبار نه وي مګر په پوښتل شوي صورت کې چې کوم شرطونه بیان کړې دي، په هغو کې ځیني خو ښکاره د توبې منافي دي، غالي روافض په اتفاق د اهل سنت علماء کافران او مرتد دي، د دوی سره په عمل کې برخه اخیستل او د دوی د سب او شتم په محفلونو کې شرکت، د محرم په لسمه د دیو په رنګه ناوړه افعال کول که رفض نه دی نو نور څه دی؟ د الله په دربار کې د ساي ګډه وډه او نیمګړې یا په نورو لافاظو صرف لفظي توبه هیڅکله معتبره نه ده، إعتبار صرف هغه توبې ته دی چې د روافضو کفري اعمالو څخه د دائمي اجتناب محکمه او نا متزلزله اراده وي د دوی ټول عقائد د اسلامي اصولو په خلاف وبولي له دیو څخه د پرهېز کولو دائمي عقیده وساتي او په هیڅ ډول د دوی په اعمالو کې برخه مه اخلي، که څۀ هم سوکه، سوکه وي، نو په بیان شوي صورت کې که د دې سره سمه توبه نه وي نو هغه ته اعتبار نشته لیکن د زړه له کومي توبه اوباسي نو له اسلام نوي کولو ورسوته ورسره نکاح جائز ده، د حلالې ضرورت نشته فقط

د خپل قصور معافي غوښتل، د بخښنې لپاره بس دی

سوال: (۱۲۵۱) که له چا څخه وم قصور وشي او هغه له خپل بزرګ څخه معافي واخلي خو هغه یې معاف نکړي نو کشر له ګناه خلاص دی او کنه؟ (۱۱۸۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: چې کله ده له خپل طرفه معافي وغوښتله نو د ده غاړې خلاصي شوې، معافي نه ورکونکی ګنهکار دی، د معافی پر غوښتنه سمدستي عفو کول پکار ده، قال الله تعالی: "و الکاظمین الغیظ و العافین عن الناس" (سورة آل عمران، آیت ۱۳۴

د زړه له کومي څو څو واره توبه ایستل

سوال: (۱۲۵۲) که کوم ګنهکار له خپلي ګناه د زړه له تله توبه وکړه لیکن بیا هغه ګناه ځني وشوه او بیا یې د زړه له کومي توبه و ایستله، دغه راز څو واره ګناه ځني کیده او هر وار یې په اخلاص او د زړه په صدق د پښېماني سره د توبې له شرطونو سره توبه ایستله نو دی باید هر وار د توبې قبلېدو امید وساتي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۳۲۴هـ)

ځواب: هر وار توبه قبوله ده، په حدیث شریف کي راغلي دي: و لا یمل الله حتی تملوا الحدیث(۱) و نعم ما قال فی الفارسیة:

این درگاه ما درگاه نو امیدی نیست　　صد بار گر توبه شکستی باز آ (۲)

سوال: (۱۲۵۳) له ما څخه یو وار ګناه وشوه ما توبه و یاستله چي بیا به داسي نه کوم لیکن بیا هغه عمل له ما څخه شوو نو اوس به زما توبه قبوله شي او کنه؟ او زما ګناه به څه ډول معاف شي؟ (۱۳۴۰/۷۳۲هـ)

ځواب: الله تعالی فرمایي: "و هو الذی یقبل التوبة عن عباده" الآیة (سورة شوری، آیت: ۲۵) او په حدیث شریف کي راغلي دي: إن الله یقبل التوبة العبد ما لم یغرغر(۳) و فی حدیث آخر: ما أصر من استغفر و إن عاد فی الیوم سبعین مرة الحدیث(۴) د الله له رحمته نا امید نه ید کید لپکار او په هر حال کي توبه او استغفار کوه، که څه هم څو

---

(۱) عن عائشة رضی الله عنها ان النبی صلی الله علیه وسلم دخل علیها و عندها امرأة، قال: من هذه؟ قالت: فلانة تذکر من صلاتها، قال: مه، علیکم بما تطیقون، فو الله! لا یمل الله حتی تملوا الحدیث (صحیح البخاری: ۱۱/۱، کتاب الإیمان، باب احب الدین الی الله عز و جل ادومه)

(۲) ترجمه: دا زموږ درګاه د نا امیدۍ درګاه نه ده، سل واره هم که توبه درڅخه ماته شوی نو بیا هم راشته یعني توبه اوباسه.

(۳) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله یقبل توبة العبد الحدیث(مشکوة المصابیح، ص: ۲۰٤، کتاب الدعوات، باب الاستغفار و التوبة، الفصل الثانی)

(٤) عن ابي بکر الصدیق رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما اصر من استغفر الحدیث(مشکوة المصابیح، ص: ۲۰٤، کتاب الدعوات، باب الاستغفار و التوبة، الفصل الثانی)

واره ماته شي لیکن توبه بیا هم قبلیږي نو ته د زړه په صدق سره له دغه ګناه توبۀ اوباسه او د مغفرت امید وساته او هر کله چي کومه ګناه درڅخه وشي توبه اوباسه او استغفار وایه، او که دي په دې خبره قسم اخیستی ؤ چي آئنده به فلانی ګناه نه کوم او بیا هغه ګناه وشوه نو له توبې او استغفار څخه پرته د قسم کفاره هم ورکول پکار ده. هغه دا چي یو مریی آزاد کړه یا لس مسکینان دوه وخته په ډوډۍ ماړه کړه یا لسو مسکینانو ته جامې ورکړه او په اوسنۍ زمانه کي خو مریی آزادول متعذر دي لهذا په آخرني دوو کارونو کي یو کار وکړه او که د دې توان نه وي نو درې روژې پرلپسې ونیسه دا کفاره ده د آئنده قسم ماتولو (یعني د منعقده یمین ماتولو) (۱) فقط

سوال: (۱۲۵۴) کوم څوک چي د زړه له کومي توبه اوباسي مګر د اماره نفس د شرارت په وجه په دوې درې ورځي کي بیا ګناه وکړي نو عند الله توبه د ده قبوله ده او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۰۳۸هـ)

ځواب: توبه د ده قبوله ده، کذا ورد فی الأحادیث(۲) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۵۵) له ګناهونو څخه توبه ایستونکي سره الله دوستي کوي او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۰۳۸هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: التائب من لاذنب کمن لا ذنب له(۳) او په قرآن شریف کي راغلي دي: "ان الله یحب التوابین و یحب المتطهرین" (سورة بقره،

---

(۱) لا یؤخذکم الله باللغو فی أیمانکم و لکن یؤاخذکم بما عقدتم الأیمان فکفارته اطعام عشرة مساکین من اوسط ما تطعمون اهلیکم او کسوتهم او تحریر رقبة فمن لم یجد فصیام ثلاثة ایام ذلک کفارة ایمانکم اذا حلفتم (سورة مائده، آیت: ۸۹)

(۲) عن ابي بکر الصدیق رضی اله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما اصر من استغفر و ان عاد فی الیوم سبعین مرة، رواه الترمذی و ابو داؤد (مشکوة المصابیح، ص: ۲۰٤، کتاب الدعوات، باب الاستغفار و التوبة، الفصل الثانی)

(۳) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۲٤۷) په جواب کي وګورئ.

ایت: ۲۲۲) نو معلوم شو چي د توبه کونکي سره الله پاک محبت او مینه کوي. فقط و الله تعالی اعلم

په رښتیا توبه ایستونکي ګناهونه معافیږي

سوال: (۱۲۵۶) له علماء څخه مي اوریدلي دي چي که انسان په رښتیا د زړه له تله په عاجزي توبه اوباسي یا د کوم پیر سره بیعت وکړي نو ټول ګناهوه معافیږي، دا خبره صحیح ده او کنه؟ که پخپله په توبه کولو ګناهونه معافیږي نو بیا پیر ته څه ضرورت دی؟ (۳۷۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا صحیح خبره ده چي په توبه ایستلو او د الله په دربار کي په ژړلو او عاجزي کولو ګناهونه معافیږي، که د متبع سنت، عالم باعمل پیر پر لاس توبه اوباسي نو هم یې ګناهونه معافیږي او د داسي کامل پیر د شریعت او طریقت جامع سره بیعت کول غوره دی، فرض او واجب نه دی، فرض خو د شریعت اتباع ده او بس او د بدعتي جاهل او د شرعي خلاف پیر سره بیعت کول صحیح نه دی، بلکه حرام دی، د داسي پیر مرید کیدو څخه بیله پیره پاته کیدل په څو درجې غوره دی. فقط و الله تعالی اعلم

حق العبد څنګه معافیږي؟

سوال: (۱۲۵۷) بکر او عمر سکني وروڼه دي، د دیو دواړو د خالد سره جګړه وشوه، وهل ټکول وشو، د خدای امر ړ چي په دغه وهلو ټکولو کي خالد داسي شو چي وفات شو، بکر دړي کال او عمر دړي میاشتي بندیان شول او د سزا تر ختمېدو وروسته د عمر او بکر سره څه کول پکار دي؟ (۱۰۱۷/۱۳۴۵هـ)

ځواب: د بکر او عمر لپاره له ګناه څخه پاکیدو لپاره دا ضروري دي چي لومړی دوی توبه اوباسي او استغفار وایي او دوهم دا چي د خالد له ورثاء معافي وغواړي یا دوی ته څه ورکړي خوشحاله کړي، له دې وروسته دوی له ګناه څخه پاکیږي (تر دا وخته د دوی سره اړیکي ختمي کړئ) فقط و الله اعلم

له توبې ایستلو وروسته بیا ګناه کونکي کفاره څه ده؟چ

سوال: (۱۲۵۸) لنډه دا چي ما پر قرآن لاس کښېښود ی څو واره مي د ګناه نه کولو وعده وکړه خو بیا هغه ګناه زما څخه وشي ځکه زه ناقراره یم، غالبًا دا خبره کول به هم بې ځایه نه وي چي د دې له کفارې وروسته که ماته مرګ راشي نو ډېر به ښۀ وي او که شریعت خنډ نه وای نو ما به ځان وژلی وای ځکه هیله کوم چي د دغه ګناه کفاره راته ولیکئ. (۱۳۴۵/۱۲۰۰هـ)

ځواب: له وعدې کولو وروسته چي کومه ګناه له تا وشوه د هغې کفاره توبه او استغفار دی، و الله ته د زړه له کومي توبه اوباسه او په دې اراده توبه اوباسه چي بیا به داسي وعده ماتول او داسي کبیره ګناه نه کوم، امید دی چي الله به دغه ګناه درمعاف کړي، په حدیث شریف کي راغلي دي چي له ګناه څخه توبه ایستونکی داسي پاکیږي لکه چي ګناه یې نه وي کړې(۱) او دا هم په حدیث کي راغلي دي چي په بخښلو الله نه تنګیږي، ترڅو بنده په توبه کښلو تنګ نشي(۲) او پخپله په قرآن شریف کي ارشاد دی: "قل یا عبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله إن الله یغفر الذنوب جمیعًا انه هو الغفور الرحیم" (سورة زمر، آیت: ۵۳) یعني و فرمایه چي ای زما بندګانو چا چي پر خپل نفس ظلم کړی دی او په ګناه کي تر حد تیر شو هغه دي د الله له رحمته نه نا امیده کیږي بیشکه الله تعالی ټول ګناهونه بخښي ځکه چي هغه غفور رحیم دی.

لنډه دا چي ته توبه او استغفار وایه او پر ناوړه فعل پښیماني کوه او د ځان وژني خیال هم په زړه کي مه راوړه، د الله رحمت وسیع دی او مرګ ژر مه غواړه، کوم وخت چي مقرر دی مرګ هغه وخت راځي، هو دا دعا کوه چي مرګ پر ایمان راشي او خاتمه پر ایمان وشي او ژوند غنیمت وبوله او د خیر اعمالو ته ورمخته کیږه او کوم نیک کار چي کیدلای شي په دغه څو ورځي ژوند کي یې کوه له مرګ وروسته ټول اعمال منقطع شي له الله هر وخ ویرېږه او د هغه د رحمت امید ساته. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۲۴۷) په جواب کي وګورئ.

(۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۲۵۲) په جواب کي وګورئ.

په اخلاص توبه کونکي پسي لمونځ صحیح دی

سوال: (۱۲۵۹) یو زناکار څو واره توبه و ایستله او ماته یې کړه، اوس ده په اخلاص سره توبه و ایسته او پر خپلو کړو ډیر پښیمان شو. د داسي سړي توبه قبلیږي او کنه؟ او لمونځ په ده پسي صحیح دی او که؟ (۱۷۰/۱۳۴۵هـ)

ځواب: توبه د ده قبوله ده او لمونځ پسي صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

زناکاره ښځه که بوډۍ شي توبه اوباسي نو هم مقبوله ده

سوال: (۱۲۶۰) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کي چي یوه ښځه ډیره زمانه کیږي چي خپل زوی او خاوند یې پریښي دي او د زنا په وسیله کسب کوي تقریبًا شل کلونه د دې په دې کي تیر شول اوس چي کله سپین سرې (بوډۍ) شوه او د خلکو رغبت دې ته کم شو نو دا له خپله عمله توبهٔ اوباسي او خپلو انو ته وایي چي زه توبه اوباسم اوس ما قبوله کړئ، په داسي حال کي شرعًا د دې توبه قبلیږي او کنه؟ که کومه کفاره او نور پر دې راځي؟ او د دې قوم صرف په توبه ایستلو دا په خپلوي کي قبوله کړي او کنه؟ بینوا توجروا (۳۲/۲۲۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: التائب من الذنب کمن لا ذنب له(۱) یعني له ګناه څخه توبه ایستونکی داسي دی لکه چي ګناه یې کړې هم نه وي نو توبه د دې قبوله ده، په خپلوي کي یې قبوله کړئ نوره هیڅ کفاره پر دې نشته. فقط و الله تعالی اعلم

له زنا څخه د بچي پیدا کیدو وروسته له ګناه څخه د بچ کیدو صورت

سوال: (۱۲۶۱) د یو سړي ناروا اړیکي د یوې ښځي سره وې یوه لور یې هم پیدا شوه چي اوس د لسو، یوولسو میاشتو ده او دا اندیښنه ده چي داسي نه چي دا غټه شي، همدا عمل شروع کړي نو دا سړی له دغه ښځي څخه لیري کیدل غواړي، د ګناه معافیدو به څه صورت وي؟ (۳۲/۱۸۲۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: ضروري ده چي دا سړی له دغه ښځي سمدستي اړیکي قطع کړي او توبه اوباسي، له ګناه څخه د بچ کیدو همدا صورت دی، دوهم صورت دا دی او دا غوره دي

---

(۱) سنن ابن ماجة، ص: ۳۱۳، ابواب الزهد، ذکر التوبة.

چي نکاح ورسره وکړي، په دغه صورت کي به دغه ښځه هم او د دې لور هم له ګناه څخه بچ شي. فقط و الله تعالی اعلم

د دراوغو د ګناه د معافی لپاره توبه او استغفار ضروري دی

سوال: (۱۲۲۲) زید قصداً دروا غ وویل بیا یوه ورځ ده اقرار وکړی چي دا خبره اصل دا رنګه ده له ګناه څخه خلاص شو او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۴۲۰هـ)

ځواب: د داسي دروا غو لـه ګناه څخه د خلاصون لپاره توبه او استغفار دی، د دې خبر ورکول هم ښه دی. فقط و الله تعالی اعلم

د اور د لوبو سامان رانیونکي وروسته خبر شو چي د دې رانیول خرڅول حرام دي نو ګناه به څنګه معافیږي؟

سوال: (۱۲۲۳) زید د اور د بازیو (توشکي او نور) رانیولـو وروسته خبر شو چي د دې رانیول او خرڅول حرام دي، ده خرڅ کړو نو له دغه ګناه څخه بهٔ د خلاصون څه صورت وي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۲۹۷هـ)

ځواب: دا دي ضائع کړي، مثلاً ښخ دي یې کړي او د خرڅولو چي کومه ګناه ده، هغه په توبه معافیږي. فقط و الله تعالی اعلم

له توبې څخه انکار کونکي څه سزا ده؟

سوال: (۱۲۲۴) کوم څوک چي د یو عالم په ویلو له توبې څخه انکار وکړي د هغه څه سزا ده؟ (۱۳۴۰/۱۲۲۸هـ)

ځواب: هغه فاسق دی او غاړي یې بندي دي. فقط و الله تعالی اعلم

توبه په ایستونکي ته روپۍ ورکول

سوال: (۱۲۲۵) زموږ په وطن کي دا رواج دی چي توبه د یو عالم پر لـاس او باسي او څوک چي توبه په کاږي هغه ته روپۍ ورکوي، یو سړی وایي چي دا بدعت دی، دا خبره صحیح ده او کنه؟ (۱۳۴۰/۸۴۲هـ)

ځواب: دا صورت صحیح نه دی یعني د رواج جوړول چي توبه په ایستونکي ضرور روپۍ غواړي او ده ته څه روپۍ ورکول ضروري وبلله شي، دا قبیح بدعت دی. فقط و الله تعالی اعلم

په وفات کیدونکي توبه ایستلو لپاره ملا رابلل او څه شی ورکول

سوال: (۱۳۲۶) په ځینو وطنو کي رواج دی چي کله څوک سخت ناجوړه شي او مرګ ته نژدې شي نو مولوي صاحب راوغواړي په ده توبه اوباسي او چي کله مولوي صاحب ځي نو د توان سرهس م څه روپۍ هم ورکړي نو داسي توبه کول شرعًا څنګه دي؟ (۳۲/۱۱۳۳-۱۳۳۳ھ)

ځواب: توبه ایستل په هر حال کي ښه او ضروري ده، قال الله تعالیٰ: و توبوا إلی الله جمیعًا ایها المؤمنون لعلکم تفلحون (سورة نور، آیت: ۳۱) و فی الحدیث: التائب من الذنب کمن لا ذنب له(۱) نو د کوم بزرګ پر لاس توبه ایستل صحیح دي لیکن له دغه توبې څخه مراد مسنون بیعت دی نو بیا دا ضروري دي چي د چا سره بیعت وکړي هغه بزرګ وي د بیعت کولو وړ وي، بدعتي نه وي چي د دنیا د طرېع لپاره بدعاتو ته رواج ورکوي، داسي نه وي چي د چا په هکله مولانا رومي رحمه الله فرمايي:

اے بسا ابلیس آدم روئے ہست　　پس بہر دستے نشاید داد دست (۲)

د علامه زمخشري لپاره استغفار ويل

سوال: (۱۳۲۷) علامه زمخشري چي معتزلي ؤ، د ده لپاره استغفار جآیز دی او کنه؟ (۱۷۱۳/۱۳۴۰ھ)

ځواب: جائز دی فقط و الله تعالی اعلم

و انبیاء علیهم الصلاة و السلام ته د ښکنځل کونکي (شاتم) توبه قبلیږي او کنه؟

سوال: (۱۳۲۸) چيڅه مي فرمایند علمائے دین متین و مظهرین شرع مبین که اگر از کسے تخفیف انبیاء علیهم الصلاة و السلام صادر شود، نعوذ بالله منها قصدا یا خطاءً و یا نسیانا و بعد ازاں توبه بصدق دل بکند، پس توبۂ او قبول عند الله سبحانه و

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۲۰۶، کتاب اسماء الله تعالی، باب الاستغفار و التوبة، الفصل الثالث.

(۲) ترجمه: ای! ډیر شیطانان د انسان په بڼه وي نو په هر لاس کي لاس نه دی ورکول په کار یعني ډیرو انسانانو د بزرګانو جامې اغوستي راځي نو د بیعت کولو پر مهال لازم دي چي له ښه تحقیق وروسته بیعت وکړي. ۱۲

تعالى حسب مذهب قويم ابو حنيفه رحمه الله و قول مفتى به مي شود يا نه؟ و ايضًا قصدًا يا خطاء و يا نسيانا در امر قبول برابر است يا نه؟ بر تقدير جواب مشرح و مدلل معه حواله كتاب تحرير فرمايند. (۲۹/۱۵۲۰-۱۳۳۰هـ)

ځواب: حسب مذهب امام ابو حنيفه رحمة الله عليه توبهٔ او مقبول است، و بعد توبه و تجديد اسلام حكم باسلام او كرده خواهد شد ، هذا هو الصحيح من مذهب ابي حنيفة رحمة الله عليه قال فى الدر المختار: لكن صرح فى آخر الشفاء بأن حكمه كالمرتد و مفاده، قبول التوبة، و فى الشامي: فهذا كلام الشفاء صريح فى أن مذهب ابي حنيفة و أصحابه القول بقبول التوبة(۱) فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۱۲۲۸) ترجمه: څه فرمايي علماء د متين دين او مظهرين د مبين شرعي چي كه له چا څخه سپكاوى (توهين) د انبياء عليهم الصلاة و السلام قصدًا يا خطاءً يا نسيانًا و شى نعوذ بالله من ذلک او له هغه وروسته د زړه له تله توبه اوباسي نو د ده توبه د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د مذهب او مفتى به قول سره سم قبليږي او كنه؟ قصد ، خطاء او نسيان په توبه قبليدو كي درې سره برابر دي او كنه؟ په تفصيل سره مدلل جواب سره د كتابونو د حوالو راړئ

ځواب: د امام ابو حنيفه رحمه الله د مذهب سره سم د ده توبه مقبوله ده او له توبې او له اسلام نوي كولو وروسته د ده د مسلمان كيدو حكم وركول كيږي. فقط و الله تعالى اعلم

له ښو كارونو كركه او د بدو شوق ولي وي؟

سوال: (۱۲۲۹) كله نا كله څو ، څو ورځي د سړي لمانځه ته زړه نه غواړي او نه له خدايه ويريږي او له ښو كارونو كركه او د بدو شوق وي، د دې څه سبب دى؟ (۳۳/۴۵۷-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د دې سبب يو ګناه او د زړه سختي وي، توبه او استغفار كوه. فقط

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار كتاب الجهاد، باب لامرتد، مطلب مهم فى حكم ساب الانبياء. ط رشيديه

هغه څنګه مسلمان دی چي وايي معلوم نه دی چي خنزير ولي حرام دی؟

سوال: (۱۲۷۰) یو مسلمان د هندوانو په محکمه کي وويل چي خنزير يو معمولي ساکښ او حيوان او نورو حيواناتو په رنګه دی، نور خو حلال دی معلوم نه دی چي ولي مطلقًا حرام کړل شو؟ د داسي سړي په هکله څه حکم دی؟ (۱۹۲۹/۱۳۴۲هـ)

ځواب: دومره خو معلوم شو چي دی خنزير حرام بولي مګر ده ته د حرمت وجه معلومه نه ده ځکه وايي چي معلوم نه دي چي الله دا ولي حرام کړی او نور حيوانان يې حلال کړو؟ دا وينا د ده د جهالت په وجه ده، دی بايد توبه اوباسي او بيا داسي وينا ونکړي، په دې کي شک نشته چي د حلالو او حرامو حيواناتو تر منځ د فرق وجه خو ډيرو مسلمانانو ته معلومه نه ده بلکه ډيرو علماء ته هم معلومه نه ده چي فلانی حيوان ولي حلال کړل شو او ففلانی حيوان ولي حرام کړل شو ليکن د مسلمان لپاره ښايي چي څه الله حکم کړی دی او کوم حيوان چي حلال او کوم حرام کړی، هغه تسليم کړي، که څه هم په پوه نشي. فقط و الله تعالی اعلم

و مسلمان ته ښکنځل کول فسق دی او څني د توبې ايستلو طريقه

سوال: (۱۲۷۱) که کوم چا و کوم پرهيزګار عالم باعمل بيله شرعي وجهي پوچ او رد او ښکنځاوي ورته وکړې، بيا ورغلی له هغه عالم څخ معافي واخيستنو په داسي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۱۴۳۰هـ)

ځواب: په حديث شريف کي راغلي دي: سباب المسلم فسوق(۱) (الحديث) نو پرهيزګار عالم ته ښکنځل کول فسق دی که ده توبه وايستله او له هغه عالم څخه يې

---

(۱) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما ان النبی صل الله علیه وسلم قال: سباب المسلم فسوق الحديث(صحيح البخاری: ۱۲/۱ كتاب الإيمان، باب خوف المؤمن ان يحبط عمله و هو لا يشعر و فيه ايضا: ۸۹۳/۲، كتاب الأدب، باب ما ينهى عن السباب و اللعن و فيه ايضا: ۱۰۴۷/۱–۱۰۴۸، كتاب الفتن باب قول النبی صلی الله علیه وسلم لا ترجعوا بعدی كفارا)

معافي وغوښته نو د التائب من الذنب کمن لا ذنب له(۱) په حکم دی له ګناه پاک شو. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۷۲) و یو سید ته یو کافر بد او رد وویل پر دې یو مولوي صاحب فتوی ورکړه چې د ده مخ ورتور کړئ پر خره باني یې سپور کړئ، په ټول بازار کې یې وګرځوئ، آیا دا سزا شرعًا جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۰۳۲هـ)

ځواب: دا سزا و دغه سړي ته ورکول شرعي حکم نه دی، شرعي حکم خو دا دی چې که چا و کوم مسلمان ورور ته که سید وي که شیخ او که د بل قوم بیله څه وجهې بد رد وویل او ښکنځل یې ورته وکړه نو هغه ګنهکار دی، معافي دې ځني واخلي. فقط و اله تعالی اعلم

د علماء توهین کونکی فاسق دی که کافر؟

سوال: (۱۲۷۳) خالق صوفي څو واره د یو لوي شیخ الحدیث عالم سپکاوی وکړ او ښکنځل یې ورته وکړو چې دغه عالم حق فیصله ولي وکړه؟ (۱۳۴۳/۱۵۲۲هـ)

ځواب: و علماوو ته ښکنځل کول فقهاء مفضي الی الکفر بللی دی لیکن په دې کې شرط دا دی چې و عالم ته د علم د صفت په اعتبار ښکنځل وکړي او که په عالم کې کوم بل صفت وي چې د بد ویلو وړ کیدلای شي یا فی الواقع په عالم کې داسي صفت موجود هم نه وي مګر د ښکنځل کونکي دا خیال وي چې د په ده کې دا عمل شته ځکه د ده سپکاوی وکړ نو په لومي صورت کې ښکنځل دومره د رواغجن نه ګرځي، په دوهم صورت کې خطا کونکی یا کاذب او مفتي دی، لهذا په پورته بیان شوي صورت کې که د سپکاوي کونکي په ذهن کې د داسي عالم په اړه دا خیال راغلی وي چې ده د حکم نسبت و شریعت ته وکړی هغه په حقیقت کې شرعي حکم نه دی نو په داسي صورت کې د تعامل سره سم هم غوره بلکه ضروري دي، کما فی الدر المختار: إذا کان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر و وجه واحد یمنعه، فعل المفتي ان یمیل إلی الوجه الذی یمنع

---

(۱) مسنن ابن ماجة، ص: ۳۱۳، ابواب الزهد، باب ذکر التوبة.

التکفیر إلخ(۱) لنډه دا چي له خالق صوفي څخه دي پوښتنه وشي نو که د ده نیت و عالم ته په ښکنځل کولو کي د شرعي علم په اعتبار وي نو کافر ورته ویل کیږئ کنې ورته نه ویل کیږي او په دغه صورت کي باید دی توبه اوباسي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۳۷۴) څوک چي و علماوو ته سلفیان او وهابیان وایي حالانکه دوی داسي نه دي د دې څه حکم دی؟(۱۳۳۳-۳۲/۲۵۹۵ھ)

ځواب: څوک چي بې ځایه د علماوو توهین کوي هغه فاسق دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۳۷۵) یو سړي په یوه میلمستیا کي و یو عالم ته په غصه وویل(هغه د بې لمانځه سره له ډوډی خوړلو څخه انکار کړی ؤ یا بیله انکاره یو بل چا له خپل طرفه انکار ظاهر کړی ؤ) چي آیا دا د اسمان سپوږمۍ ده؟ چي د دوی سره ډوډۍ نه خوري داسي ملایان ولي زموږ مجلس ته راځي؟ د کوم ځای مولوي پولي دی؟ آیا په دساي وینا خو د عالم سپکاوی ونه شو؟ او عالم ته داسي وینا کونکی کافر شو او کنه؟ او د هغه نکاح ماته شوه او کنه؟(۱۳۳۴-۳۳/۱۰۲۹ھ)

ځواب: و نیک عالم ته داسي ویل ګناه ده ویونکی ګنهکار او فاسق دی توبه دي اوباسي لیکن کافر نه دی نو کافر ورته مه وایاست او کله چي کافر نه شو نو نکاح یې هم نه ده ماته، و مسلمان ته په کافر ویلو کي ډیر احتیاط کول پکار دی لکه چي د فقهي له کتابونو څخه چي ظاهر دي (۲) فقط

---

(۱) حاشیة ابن عابدین کتاب الجهاد باب المرتد، مطلب: ما یشک أنه ردة لا یحکم بها. ط رشیدیه

(۲) و فی الفتاوی الصغری: الکفر شئ عظیم، فلا أجعل المؤمن کافرا متی وجدت روایة أنه لا یکفر اھ و فی الخلاصة و غیرها: إذا کان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر و وجه واحد یمنعه، فعلی المفتی أن یمیل إلی الوجه الذی یمنع التکفیر تحسینا للظن بالمسلم (الشامي کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب: ما یشک أنه ردة لا یحکم بها. ط رشیدیه)

سوال: (۱۲۷۶) د بدعاتو څخه منع کونکي عالم ته وهابي او رافضي ویل څنګه دي؟ (۱۲۷۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: له بدعاتو منع کونکی سني حنفي عالم ته رافضي او وهابي ویل فسق او ګناه ده او ویونکی فاسق او عاصي او د تعزیر وړ دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۷۷) یو مولوي صاحب و ماشومانو ته قرآن مجید وایو نور ماشومان راغلو ډیري چغي او شور یې وکړی چي درس ته تاوان وکړي مولوي صاحب څو واره هم منع کړو مګر دوی منع نه شو، آخر مولوي صاحب یو ماشوم چي ډیري چغي وهلې وهیوی دوې درې لښتي یې وواهی هغه په ژړا خپل مشر ته ولای هغه چي څنګه راغلی مولوي صاحب ته بیله تحقیقه ښکنځاوي شروع کړې مولوي صاحب ډیر غمجن شو مګر صبر یې وکړی په دغه واقعه کي څوک پر حق دی؟ (۴۲۳/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دغه صورت کي قصور د هلک د مشر دی چي مولوي صاحب ته ښکنځل وکړو په حدیث شریف کي هر مسلمان ته ښکنځل کول فسق بللی دی: سباب المسلم فسوق(۱) نو دغه سړي چي مولوي صاحب ته ښکنځل وکړو فاسق شو باید توبه وباسي او له مولوي صاحب څخه معافي واخلي. فقط

د علماوو او صلحاوو سپکاوی کول

سوال: (۱۲۷۸) څو علماء او متقیان ویو کور ته د میلمستیا لپاره روان ؤ په لاره کي د کوربه یو سړي د څو کسانو سره ولاړ ؤ خبري تري یې کولې چي کله علماوو ولدو نو دې نورو کسانو د کوربه سړي ته وویل چي نن ستاسو کور ته دا څو بدمعاشان روان دي اوپه دغه وینا د دوی مقصد استهزاء او توهین د علماء او صلحاءؤ. اوس شرعًا د دوی په هکله څه حکم دی؟ (۳۳۸۰/۴۲-۱۳۴۷هـ)

و قد ذكروا أن المسئلة المتعلقة بالكفر إذا كان لها تسع و سعون احتمالا للكفر و احتمال واحد فى نفيه، فلأولى للمفتى و القاضى أن يعمل بالاحتمال النافى، لأن الخطاء فى إبقاء ألف كافر أهون من الخطا فى إفناء مسلم واحد(شرح الفقه الأكبر، ص: ۱۹۹، المذبوعة: مطبع مجتبائى دهلى)

(۱) د دغه حدیث تخریج د باب د ګناه او توبې بیان تر سوال (۱۲۷۱) لاندې راغلی دی.

ځواب: د علماوو او صلحاوو داسي بې ادبي او ګستاخي کونکي فاسقان او ګنهکار دي، باید دوی توبه اوباسي او له علماوو څخه معافي وغواړي فقط و الله تعالی اعلم

د عالم شان تواضع ده

سوال: (۱۲۷۹) یو جاهل سړي وي و عالم ته سپکي خبري کوي او په لاره کي د دغه عالم و مختنه تګ کوي، عالم د ده و شاته تلل پیغور بولي نو د داسي جاهل په هکله څه حکم دی؟ (۳۰۳/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د دغه جاهل په هکله خو دا بد دي چي عالم سپک بولي او دا ډیره غټه ګناه ده. په حدیث شریف کي راغلي دي: سباب المسلم فسوق(۱) یعني و مسلمان ته ښکنځل کول فسق دی، فما ظنک باعالم التقی؟! نو رنو دا عالم دی دا پیغور نه بولي چي هغه جاهل د ده و مختنه تګ کوي، د عالم لپاره همدا مناسب دي چي په تواضع سره ګرځي او ځان دي غټ نه بولي او خپل تعظیم دي صحیح نه بولي، ځکه چي کبر او لویي کول ډیره سخته ګناه ده او د الله تعالی ناخوښه ده. په حدیث شریف کي راغلي دي: الله تعالی فرمایي: الکبریاء ردائی(الحدیث)(۲) فقط

و استاذ ته ښکنځل کول سخته ګناه ده

سوال: (۱۲۸۰) عمر د مسجد امام دی، زید له ده څخه د لمانځه او نوري مسئلي زده کړلي که یو وخت زید د عمر امام بې عزي وکړي او ښکنځل ورته وکړي نو پر زید څه تعزیر راځي؟ (۳۲۲/۱۳۳۸هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: سباب المسلم فسوق(۱) او الله تعالی ارشاد فرمایي: و لا تنابزوا بالألقاب بئس الإسم الفسوق بعد الإیمان الآیة (سورة حجرات، آیت: ۱۱) لنډه دا چي کله هر یو مسلمان ته ښکنځل کول او بد و رد ورته ویل

---

(۱) د دغه حدیث تخریج په کتاب الحظر و الإباحة کي د سوال (۱۲۷۱) په جواب کي وګورئ.

(۲) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال هناد: قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: قال الله تعالی: الکبریاء ردائی الحدیث(سنن ابي داؤد، ص: ۵۶۶، کتاب اللباس، باب ما جاء فی الکبر)

حرام او معصیت دی نو نوموړی امام صاحب ته چي د ده استاذ هم دی بیله څه وجهي ښکنځل کول او تکلیف وررسول نوره زیاته سخته ګناه ده او زید په دغه صورت کي فاسق دی، پر ده لازمه ده چي توبه اوباسي او له نوموړي مولوي صاحب څخه معافي وغواړي. فقط و الله تعالی اعلم

استاذ ته کافر ویونکي سره اړیکي قطع کول

سوال: (۱۲۸۱) کوم څوک چي د استاذ د تعظیم او احترام پر ځای کوم چي شرعًا واجب دی بیله څه وجهي تکفیر، تجهیل، تحقیر او تذلیل هر وخت کوي او علی رؤوس الاشهاد په تکذیب او توهین کي کوښښ کول، شرعًا د داسي چا څۀ حکم دی؟ او آیا د مسلمانانو لپاره له ده څخه په ټولو معاملو کي مقاطعه کول ضروري ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۹۲۵هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: عن ابن عمر رضی اله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ایما رجل قال لأخیه: کافر، فقد باء بها احدهما، رواه البخاري و مسلم(۱) او بل روایت په صحیحینو کي راغلی دی: لا یرمی رجل رجلا بالفسوق و لا یرمیه بالکفر الا ارتدت علیه ان لم یکن صاحبه کذلک(۲) نو لکه چي د عامو مؤمنانو او مسلمانانو په اړه دا حکم دی او داسي سخت وعید راغلی دی چي پخپله د تفسیق ا تکفیر کونکي و ایمان او اسلام ته خطر دی نو د استاذ عالم کوم چي واجب التعظیم دی توهین، تذلیل، تفسیق او تکفیر کول ښکاره خبره ده چي په اولی درجه د بیان شوي وعید سړی ور ګرځوي، په رد المحتار پنځم ټوک مسائل شتی کي راغلي دي: و فی المنح عن البزازیة: و قال الزندولیسي: حق العالم علی الجاهل، و حق الاستاذ علی التلمیذ واحد علی السواء و هو أن لا یفتح الکلام قبله ولا یجلس مکانه و ان غاب و لا

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۴۱۱، کتاب الآداب، باب حفظ السان و الغیبة و الشتم، الفصل الاول، و جامع الترمذی: ۹۲/۲، ابواب الإیمان، باب ما جاء مفی من رضی اخاه بکفر.

(۲) عن ابي ذر رضی الله عنه أنه سمع النبی صلی الله علیه وسلم یقول: لا یرمی الحدیث (صحیح البخاری: ۸۹۳/۲، کتاب الآدب، باب ما ینهی عن السباب و اللعن)

یرد علیه کلامه و لا یتقدم علیه فی مشیه(۱) نو استاذ چې تعظیم یې دومره لازم دی چې په بیان شوي عبارت کې یادونه شوې ده نو ښکاره خبره ده چې د ده توهین او بې ادبي تر دومره حده چې په سوال کې بیان شوی دی سخت معصیت ګرځي او کونکی د دې فاسق دی او د فاسق سره حتی الوسع متارکت شرعًا مأمور به دی. فقط

و استاذ ته کافر او حراص ویونکی لمونځ روژه او نور عبادتونه قبلیږي او کنه؟

سوال: (۱۲۸۲) زید د بکر استاذ دی، بکر و زید ته قول یا و فعلي تکلیفونه رسوي او کافر او حرامي ورته وایي د داسي سړي څه حکم دی؟آیا د صوم، صلاة، حج او زکاة نه قبلیدل پر دې بنا دي او کنه؟(۱۳۴۰/۸۳۰هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق دی، لومړی خو هر مسلمان ته ښکنځل کول او بد و رد ورته ویل فسق او معصیت دی، کما ورد: سباب المسلم فسوق(۲) بیا و عالم او ساتاذ ته بیله کومي شرعي وجهي ښکنځل کول سخت کفران د نعمت ا کبیره ګناه ده، قال فی رد المحتار: و قال لازندویسي: حق العالم علی الجاهل و حق الاستاذ علی التلمیذ واحد علی السوآء و هو ان یلاي فتح الکلام قبله و لا یجلس مکانه و ان غاب و لا یرد علیه کلامه، و لا یتقدم علیه فی مشیة، و حق الزوج علی الزوجة اکثر من هذا هو ان تطیعه فی کل مباح إلخ(۳) (شامي) لنډه دا چې دغه سړی فاسق، عاصي او ظالم دی او په دې معنی عاق هم دی چې د استاذ نافرمان دی او عاق نافرمان ته وایي، مګر په شرعي ژبه زیاتره دا لفظ د مور او پلار د نافرمانۍ لپاره راغلی دی لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کبائرو کې عقوق والدین شمیرلی دی(۴) او د صوم، صلوة، حج

---

(۱) رد المحتار کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۲۷۱) په جواب کې وګورئ.

(۳) رد المحتار کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

(٤) عن عبد اله بن ابي بکرة عن ابیه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ألا أنبئکم یا کبر الکبائر؟ فقلنا: بلی یا رسول الله! قال: الإشراک بالله و عقوق الوالدین الحدیث(صحیح البخاري: ۸۸٤/۲. کتاب الادب، باب عقوق الوالدین من الکبائر)

او زکاة قبلیدل او نه قبلیدل پر نورو شرائطو بنا دی، د استاذ د عاق لپاره خاص دغه وعید نه دی راغلی چي تفصیل یې د حدیثو او فقه په کتابونو کي راغلی دی.

واستاذ ته ښکنځل کونکي سره اړیکي ختمول

سوال: (۱۲۸۳) یو استاذ و خپل شاګرد ته صرف د دې خبري تاکید وکړي چي ته لمونځ ولي نه کوې؟ ده په جواب کي ډیري ښکنځاوي وکړې، آیا ترڅو چي دی پښیمان نشي او له استاذ څخه معافي وانه اخلي د ده سره اړیکي قطع کول پکار دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۵۸۵هـ)

ځواب: په دغه صورت کي دغه و استاذ ته ښکنځل کونکی فاسق دی مګر د اړیکو قطع کولو پر ځای که دی په نرمي سره پوه کړل شي او سمي لاري ته راوستل شي نو دا زیات غوره دي لکه چي الله تعالی فرمایلي دي: ادع إلی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة (سورة نحل، آیت: ۱۲۵)

د عالم رسواکونکي څه سزا ده؟

سوال: (۱۲۸۴) د عالم په بې عزتي کولو څه سزا لازمیږي؟ (۳۹/۸۴۷-۱۳۳۴۰هـ)

ځواب: بیله څه وجهي داسي کول ګناه ده، توبه دي اوباسي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۸۵) د زید د زوی د عمر د واده ورځ معلومه شوه، خلک خبر شو چي زید به توشکي الوزوي، سرناوي او نور د شرعي خلاف رواجونه به کوي، په دې یو مولوي زید پوه کړی، زید ډیر ټینګار وکړی او د توشکو، سناوو او ډول ټول کارونه یې وکړو څوک چي عالم سپک کړي او پر ګناه ټینګار وکړي، د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۱۵۵۵هـ)

ځواب: دا سړی فاسق دی، له داسي سړي سره ترڅو چي توبهٔ ونه اوباسي متارکت او مقاطعه کول مناسب دي او که مصلحت په دې کي وي چي ده ته په نرمي سره دعوت الی الحق وشي او د آئنده لپاره په ده توبه و ایستله شي نو دا هم صحیح دي، کما قال الله تعالی: "ادع إلی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة" (سورة نحل، آیت: ۱۲۵) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۸٦) که څوک و علماء ته خنزيران ووايي نوش رعًا د هغه لپاره څه تعزير دی؟ (۱۳۴۱/۱۴هـ)

ځواب: دا سړی فاسق دی توبه دې اوباسي. فقط و الله تعالى اعلم

څوک چې څه زده کړي راشي هم هغه حيوان وي، ويل څنګه دي؟

سوال: (۱۲۸۷) څوک چې داسي ووايي چې څوک چې څهٔ زده کړی راشي هم هغه حيوان وي، د داسي سړي په هکله شرعًا څه حکم دی؟ مقتدا کيدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۳۸۵هـ)

ځواب: دا کلمه د جهالت او معصيت ده ليکن د کفر او ارتداد حکم وربآندي نه لګول کريږي، للاحتمال و إمکان التأويل، لنده دا چي توبه دې اوباسي او له توبې وروسته امامت د ده صحيح دی او لفظ که څه هم د عموم دی ليکن د خاص تأويل اراده ممکنه ده مثلاً کوم چا چي زده کړه کړې ده چي ليدلي دي هغو ته د هغو د افعالو په وجه داسي ويلي وي فقط و الله تعالى اعلم

دو بوډا (سپين ږيري) ته بنکنځل کول

سوال: (۱۲۸۸) کوم څوک چي بې قصوره بوډا ته دعامو خلګو و مخته بنکنځاوي وکړي، د هغه لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۴۸۲هـ)

ځواب: و کوم مسلمان ته بنکنځل کول فسق دی، قال الله تعالى: "و لا تنابزوا بالألقاب بئس الاسم الفسوق بعد الإيمان و من لم يتب فأولئک هم الظالمو" (سورة حجرات، آيت: ۱۱) و قال عليه الصلاة و السلام: سباب المسلم فسوق(۱) نو دا سړی بايد توبه وباسي اول ه هغه څخه معافي وغواړي، چاته چي يې بنکنځل کړي دي، که اسلامي حکومت وای نو ده ته به تعزير ورکول شوی وای.

په مسجد کي و ماشومانو ته بنکنځل کول

سوال: (۱۲۸۹) د يو مسجد امام زياتره په مسجد کي و هلکانو ته بنکنځل کوي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۴۵هـ)

---

(۱) د دغه حديث تخريج د کتاب الحظر و الإباحة د سوال: (۱۲۷۱) په جواب کي وګورئ.

ځواب: داسي ناوړه خبري او ښکنځل تناجائز دي، په حديث شريف کي راغلي دي: ليس المؤمن بالطعان و لا باللعان و لا الفاحش و لا البذی(۱) او کما قال صلی لله عليه وسلم: يعني مسلمان بيکاره او ناوړه خبري نه کوي. فقط و الله تعالی اعلم

وخسر ته ښکنځل کول

سوال: (۱۲۹۰) بکر و خپل خسر زيد ته په عام بازار کي ښکنځل وکړل او د وهلو لپاره ډبره (کانی) پسي واخيسته، د بکر په هکله څه حکم دی؟ (۱۲/۱۳۴۱هـ)

ځواب: زيد په دغه صورت کي سخت ګنهکار شو او فاسق شو. په حديث شريف کي راغلي دي: سباب المسلم فسوق(۲) نو لومړی خو د هر يو مسلمان سره د ساي معامله کول ګناه ده او بکر ته چي د ده خسر دی نوره ښته ګناه ده، هغه هر ډول واجب التعظيم دی د ده سره دا ډلو معامله کول نوره زياته ګناه او ناوړه خبره ده، دی بايد توبه اوباسي او معافي واخلي. فقط والله تعالی اعلم

وخواښي ته ښکنځل کول

سوال: (۱۲۹۱) زيد و خپل خواښې ته په عام مجلس کي بدي ښکنځاوي وکړې او حمله يې ورباندې وکړه، د زيد لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۴۷۳/۱۳۴۱هـ)

ځواب: زيد په دغه عمل ګنهکار شو، ځکه چي سباب المسلم فسوق و قتاله کفر(۱) په حديث کي راغلي دي. فقط و الله تعالی اعلم

د شرعي احکامو تبليغ کونکيو ته بد ويل

سوال: (۱۲۹۲) د شرعي احکامو تبليغ کونکيو ته بد ويل څنګه دي؟ (۱۲۴/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د شرعي احکامو رسونکيو ته بد ويل او طعنه ورکول فسق او معصيت دی. فقط

---

(۱) عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليس المؤمن بالطعان الحديث(مشكوة لامصابيح، ص: ۴۱۳، كتاب الآداب، باب حفظ اللسان و الغيبة و الشتم، الفصل الثانی)

(۲) د دغه حديث تخريج د ګناه او توبې بيان په باب کي په سوال (۱۲۷۱) کي تير شو.

سوال: (۱۲۹۳) که کوم مالدار ته دل مانځۀ وويل شيخو هغه مالدار و نصيحت کونکي ته بدي خبري او دلمونځ کونيک سپکاوی وکړي نو شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۱۲۱۷هـ)

ځواب: و امر بالمعروف کونکي پر دې بد ويل او بيا عمل هم نه په کول سخته ګناه ده. فقط

و سيد ته بنکنځل کول

سوال: (۱۲۹۴) عبد الله خان پر کار څو مزدوران ولګول چي پکي څو کسه سيدان هم دي، و دغه سيدانو ته ده بنکنځل وکړل نو له اسلامه خارج شو او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۷۴۹هـ)

ځواب: د مسلمان و دين او بني هاشم ته بنکنځل کونکی په اتفاق فاسق او فاجر دی بلکه د کفر وربانيد ويره ده، بايد دی سمدستي توبه اوباسي ليکن کافر کيږي نه، کما في الشامي: ثم ان مقتضى كلامهم ايضا انه لا يكفر بشتم دين مسلم اى لا يحكم بكفره لإمكان التأويل (۱) فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۱۲۹۵) زيد و يو سيد ته دا ډول بنکنځل وکړو چي ستا د غټ سيد، آيا دغه بنکنځل تر نبي عليه الصلاة و اسلام رسي که څنګه؟ او د زيد لپاره څه حکم دی؟ توبه د ده قبليږي او کنه؟ يو حاکم دا فيصله وکړه چي زيد کافر مرتد دی، په دغه صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۵۲۳هـ)

ځواب: ترڅو چي تأويل کيدلای شي د کفر حکم وربانډي لګول کيږي کما فصله في كتب الفقه (۲) و التأويل فى هذه الواقعة ممكن على أن التوبة المرتد مقبولة فى الصحيح.

---

(۱) رد المحتار كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب: في حكم من شتم دين مسلم. ط رشيديه

(۲) د تفصيل لپاره وګورئ د شامي او شرح فقه اكبر هغه كتابونه چي د كتاب الحظر و الإباحة د سوال (۱۲۷۵) په حاشيه کي تير شول.

سوال: (۱۲۹۶) یو سړي و یو باشرع سید مسلمان ته ښکنځل وکړو چا منع کړی خو ده سم د سیدانو نوم واخیستی او ښکنځل یې شروع کړو او نه منع کیدی، د داسي سړي په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۲۵۲هـ)

ځواب: دا سړی فاسق او شرعًا د تعزیر وړ دی، کما ورد: سباب المسلم فسوق و قتاله کفر(۱) و قال الله تعالی: "و لا تلمزوا انفسکم و لا تنابزوا بالألقاب، بئس الإسم الفسوق بعد الایمان و من لمي تب فأولیک هم الظالمون" (سورة حجرات، آیت: ۱۱) نو معلوم شو چي نوموړی ظالم او فاسق دی توبه دي ا ،باسي او له دغه مظلوم او مشتوم سید څخه دي معافي وغواړي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۹۷) بکر د یو سید په هکله فحش او ناوړه خبري وکړې، د ده په اړه څه حکم دی؟ خوراک او څښاک د ده بندول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۱۳۲هـ)

ځواب: و کوم مسلمان ته په تېره بیا و سید ته ښکنځل کول فسق او معصیت دی، کما ورد فی الحدیث: سباب المسلم فسوق(۲) و هذا عام فی السادات و غیرهم نو په ده توه اوباسئ، خوراک او څښاک د ده بندل جایز نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

و نوي مسلما ته د بم زوی او ولد الزنا ویل

سوال: (۱۲۹۸) ... (الف) یو نصیحت کونکي د تقریر پ رمهال د عبد الغفور عرف غازي محمود آریه په اه د بم زوی لفظ څو واره استعمال کړی، د نصیحت کونکي او د ده د معتقدانو دا هم خیال دی چي د داسي خلکو په هکله نه صرف دا چي همدغه لفظ بلکه لود الزنا او له دې څخه هم زیا ناوړه الفاظ استعمالول جائز نه بلکي مستحسن دي، آیا د دغه الفاظو استعمال مستحسن دی که څنګه؟ کوم الفاظ چي استعمال کړل شوي دي، په هغه کي له نوموړي څخه پرته د ده د پلار هم توهین راځي، غالب ګمان دا دی چي هغه د یامان په حالت کي مړ شوی دی.

(۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الاباحة د سوال (۱۲۷۱) په جواب کي وګورئ.

(۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الاباحة د سوال (۱۲۷۱) په جواب کي وګورئ.

(ب) د عبد الغفور په اړه دا معلوم شوي دي چي د ده د آريه مذهب عقيده پرينبي ده، او د خپل آريه ذهب نوم يې بدل کړی غازي محمود يې نوم کښيښنودی، اما په قول د نصيح کونکي د ده اسلام راوړل صحيح معلوم نه دي مګر غالب ګمان همدا دی چي ده اسلام راوړی دی.

(ج) که دا هم معلوم شي چي عبد الغفور خپله آريه عقيده لري نو د ده په اړه د بم زوی يا ولد الحرام استعمالول د هغه چا لپاره چي د اسلام دعوی لري څنګه دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۲۵۴هـ)

ځواب: (الف) د داسي الفاظو استعمال شرعًا ناروا دی او د محمدي اخلاقو او اسلام يو مخ خلاف دی، "ادع الی سبيل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة" (سورة نحل، آيت: ۱۲۵) د الله پاک ارشاد دی، او داغه راز بل ځای فرمايي: "و لا تسبوا الذين يدعون من دون الله فيسبوا الله عدوًا بغير علم" (سورة انعام، آيت: ۱۰۸) او که په حقيقت کي هغه د ياماس په حالت کي مړ دی نو ده ته بد ويل او توهين او طعن يې کول نور هم زيات بد او معصيت دی لکه چي آيتونه او حديثونه پر دې شاهد دي. سباب المسلم فسوق و قتاله کفر(۱)

(ب) عبد الغفور چي کله مذهب د اسلام قبول کړی نوم يې بدل کړی او ځان ته مسلمان وايي نو پر ده دا بد ګماني کول چي د ده اسلام راوړل صحيح معلوم نه دي سخته بد ګماني او ګناه ده په همداسي ځای کي افلا شققت عن قلبه په حديثو کي راغلي دي(۱)

(۱) عن اسامة بن زيد... قال بعثنا رسول الله صلی الله عليه وسلم فی سرية فصبحنا الحرقات من جهينة فأدرکت رجلا فقال: لا اله الا الله فطعنته فوقع فی نفسی من ذلکو فذکرته للنبی صلی الله عليه وسلم فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم: أقال لا اله الا الله و قتلته؟ قال: قلت: يا رسول الله! انما قالها خوفا من السلاح قال: افلا شققت عن قلبه الحديث(الصحيح لمسلم: ۱/۶۷-۶۸، کتاب الإيمان، باب تحريم قتل الکافر بعد قوله: لا إله الا الله)

(ج) بیا هم داسي الفاظ استعمالول چي شر ځني پیدا یکړي او د ښکنځلو په درجه کي دي صحیح نه دي او د اصلاح دعوی کونکی او واعظ لپاره خو یو مخ ناوړه او نازیبا دي. فقط و الله تعالی اعلم

وړانده استاذ ته د هلکانو شکایت لګول چغل خوري نه ده

سوال: (۱۲۹۹) که کوم ړانده استاذ و یو هلک ته وویل چي که چا بد کول ماته یې راښیه که هغه هلک وروښیي نو چغل خور خو به نه ګرځي او که یې نه ورښیي نو د استاذ نافرمان خو به نه ګرځي؟ (۲۱۵۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په خبر ورکولو چغل خور نه ګرځي باید خبر ورکړي او که د خبر نه ورکولو مصلحت وي نو په دې کي یې هم غاړي نه دي بندي. فقط و الله تعالی اعلم

د باشرع مسلمان غیبت کول

سوال: (۱۳۰۰) کوم څوک چي د یو متشرع مسلمان غیبت وکړي شرعاً د هغه په هکله څه حکم دی؟ (۱۵۷۸/۱۳۳۵هـ)

ځواب: دغه غیبت کونکی ګنهکار او فاسق شو توبه دي اوباسي له ده څخه دي معافي وغواړي. فقط و الله تعالی اعلم

د عالم لپاره د مسلمانانو غیبت کول څنګه دی؟

سوال: (۱۳۰۱) که کوم عالم د مسلمانانو غیبت وکړي نو د ده په اړه څه حکم دی؟ (۱۱۰۳/۱۳۳۹هـ)

ځواب: د غیبت چي کومه ګناه ده، هغه ښکاره او مشهوره ده او د غیبت کونکي په هکله چي کوم وعیدون دي، هغه هم معروف دي او چي یو سړی عالم وي بیا هم له غیبته پرهیز نه کوي نو دا نوره هم سخته ګناه ده. فقط و الله تعالی اعلم

د کافر او فاسق غیبت کول

سوال: (۱۳۰۲) د کافر غیبت کول جائز دی او کنه؟ او د ده غیبت کول پکار دی او کنه؟ (۳۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د کافر او فاسق غیبت نه کیږي، د دوی عیوب بیانول وي، د دوی عیوب بیانول او بدوالی ښکاره کول صحیح او ضروري دی چي له دوی څخه او له داسي اعمالو څخه اوریدونکي پرهیز وکړي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

غیبت کول دروغ ویل او د مسلمانانو عیوب پلټل

سوال: (۱۳۰۳) غیبت کول، دروغ ویل او د مسلمانانو د عیبونو تجسس کول او د دوی عیبونه مشهوره کول څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۴۷۱هـ)

ځواب: غیبت او صریح دروغ او د مسلمانانو د عیبونو تجسس او تشهیر که پر کوم شرعي غرض بنا نه دي نو فسق او معصیت دی فقط و الله تعالی اعلم

د نابالغ او هندو غیبت کول

سوال: (۱۴۰۴) د نابالغ او داغه رنګه د هندو او مسلمان غیبت برابر دی او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۴۷هـ)

ځواب: په شامي کي راغلي دي چي لکه څنګه چي د مسلمان غیبت حرام دی، د ذمي غیبت هم حرام دی او د نابالغ هم غیبت حرام دی(۲) فقط و الله تعالی اعلم

لعنت د چا لپاره خاص دی؟

سوال: (۱۳۰۵) لعنت د چا لپاره خاص دی؟ آیا پر کوم مسلمان باندي لعنت ویل جائز دی؟ د لعنت لفظ ویلو څخه لعنت الله مرادوي ا کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۹۸۲هـ)

---

(۱) قوله: (فذكره بما فيه ليس بغيبة) اى ليحذر الناس و لا يغتروا بصومه و صلاته، فقد أخرج الطبراني و البيهقي و الترمذى: اترعوون فى الغيبة عن ذكر الفاجر اذكروه بما فيه يحذره الناس(الدر و الرد كتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه)

(۲) قال في الشامى: قوله (الغيبة ان تصف اخاک) اى المسلم و لو ميتا، و كذا الذمى لأن له ما لنا و عليه ما علينا، و قدم المصنف فى فصل المستأمن: أنه بتدد مكثه عندنا سنة و وضع الجزية عليه كف الأذى عنه، و تحرم غيبته كالمسلم، قوله (بما يكره) ... و جزم ابن حجر بحرمة غيبة الصبى و المجنون (الدر و الشامى كتاب الحظر و الاباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه)

ځواب: د لعنت معنی ده د الله له رحمته لیري کیدل. لهذا اصلا مورد او محل د دې کفار دي پر مسلمان لعنت نه دی ویل پکار(۱) فقط و الله تعالی اعلم

و مسلمان ته کافر ویل کبیره ګناه ده

سوال: (۱۳۰۶) و کلمه ګو مسلمان ته کافر ویل جائز دي؟ او د ویونکي څه سزا ده؟ (۱۳۳۸/۲۱۸۵هـ)

ځواب: و کلمه ګو مسملان ته کافر ویل صحیح نه دي او کوم مسلمان ته ترڅو چي د هغه کفر په قطعي توګه معلوم شوی نه وي کافر ویل روا نه دي او په دې اړه تام احتیاط لازم دی ځکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي: أیما رجل قال لأخیه کافر، فقد باء بها احدهما(۲) یعني کوم څوک چي خپل مسلمان ورور ته کافر ووایي نو دا کلمه په دوی کي پر یوه راګرځي یعني چي چا ته یې ویلي دي که هغه کافر نه و نو وبال د دې پر ویونکي دی. فقط

سوال: (۱۳۰۷) که چا و چا ته کافر وویل یا یې دا لفظ ورته ووایو چي "څوک د الله د ذکر پر مهال په وجد کي رانغلی هغه کافر، مرتد او ملعون دی" که په وجد نه راتلو کافر نه شو نو ویونکی کافر دی او کنه؟ که دی نو ښځه وربانديطلاقیږي او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۰۱۵هـ)

ځواب: په وجد نه راتلو نه کافر کیږي، کافر ورته ویل سخه او کبیره ګناه ده، په حدیث شریف کي راغلي دي چي څوک چاته کافر ووایي نو په دوی کي پر یو نه یوه دا

---

(۱) "و الذین ینقضون عهدالله من بعد میثاقه و یقطعون ما امر الله به ان یوصل و یفسدون فی الارض" بالکفر و لامعاصی اولئک لهم اللعنة البعد من رحمة الله ول هم سوء الدار(تفسیر جلالین، ص: ۲۰۳، سورة رعد، آیت: ۲۵)

و قال الله تعالی: "الا لعنة الله علی الظالمین" (سورة هود، آیت: ۱۸)

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ایما رجل قال لأخیه: کافر فقد باء بها احدهما، رواه البخاری و مسلم (مشکوة، ص: ٤١١، کتاب الآداب، باب حفظ اللسان و الغیبة و الشتم، الفصل الاول و جامع الترمذی: ۹۲/۲، ابواب الایمان، باب ما جاء فی رمی اخاه بکفر)

کلمه راګرځي(۱) ظاهر د دغه حدیث دا دی چي کوم چاته کافر ویلي دي که هغه کافر نه و نو باید چي ویونکی کافر وي مګر محققینو د دې دا مطلب بیان کړی دی چي پر ویونکي د کافر ویلو ګناه راګرځي(۲) او دی فاسق او عاصي ګرځي، مګر کافر ده ته نه ویل کیږي او د ده د ښځي نکاح نه ماتیږي. فقط و الله تعالی اعلم

مسلمان په کوم عمل کافر کیږي؟

سوال: (۱۳۰۸) څوک چي مسلمان ته کافر ووايي د هغه څهٔ سزا ده؟ او په کوم عمل کافر ګرځي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۴۷هـ)

ځواب: و مسلمان ته په کافر ویلو کي ډیر احتیاط لازم دی، ژر کوم مسلمان ته کافر مه وایاست، د ګناهونو په کولو فاسق ګرځي، کافر نه ګرځي، په شرک او ارتداد کافر ګرځي(۳)

و مسلمان ته کافر، فرعون او مرتد ویل

سوال: (۱۳۰۹) زید چي مسلمان او د شریعت پابند دی عمر ورته په کافر، فرعون او مرتد وویل نو شرعًا د عمر په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۲۳۹هـ)

ځواب: کله چي زید مسلمان د شریعت پابند دی نو بیا د عمر ورته کافر، فرعون او مرتد ویلو سره عمر فاسق شو توبه وراندي لازمه ده، سباب المسلم فسوق الحدیث(۴) فقط

---

(۱) مخکنۍ حواله.

(۲) معناه رجع بإثم ذلک القول المفهوم من قال أحدهما (مرقاة المفاتیح، شرح المشکاة: ۹/۵۵، کتاب الآداب، باب حفظ اللسان و الغیبة و الشتم، الفصل الاول، حدیث: ٤٨١٥)

(۳) یعني لزوم د کفر ، کفر نه دی، په التزام د کفر کافر کیږي نو و کوم مسلمان ته په کافر ویلو د حدیث شریف له مخه کفر لازمیږي مګر دا کفر نه دی او څوک چي شرک وکړي یا اسلام پریږدي نو هغه التزام د کفر وکړ یعني کفر یې پېر سره واخیستی هغه ضرور کافر ګرځي. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۴) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الاباحة د سوال (۱۲۷۱) په جواب کي وګورئ.

و بدعتي ته کافر ویل صحیح نه دي

سوال: (۱۳۱۰) و بدعتي ته کافر ویل جائز دي او کنه؟ (۱۲۱۱/۱۳۴۰هـ)

ځواب: و بدعتي ته کافر ویل صحیح نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

که مور و بچیانو ته وو ایي: کافرانو

سوال: (۱۳۱۱) یوې ښځي و خپلو ماشومانو بچیانو ته وویل کافرانو، خاوند ورسره خبري او د زوجیت حقوق قطع کړو، په دې وجه چي داسي نه چي ښځه مي له نکاح څخه نه وي وتلي، دا خیال صحیح دی که څنګه؟ (۵۵۲/۱۳۴۲هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: ایما رجل قال لأخیه: کافر، فقد باء بها احدهما(۱) او کما قال صلی الله علیه وسلم او دا هم په حدیث شریف کي راغلي دي چي که څوک و بل چا ته ووایي کافره او هغه کافر نه وي نو کفر پر ویونکي راګرځي(۲) د دغه حدیث معنی دا بیان کړل شوې ده چي د کافر ویلو ګناه پر ده راګرځي و فیه وجوه أخر(۳) په دغه صورت کي دا ښځه فاسقه شوه نکاح یې نه ده ماته شوې، نو خاوند باید د پډ سره هستوګنه اختیار کړي او که احتیاطاً نکاح نوې کړي نو ښه دي لکه چي د حدیث د ظاهر چي مقتضی ده. فقط و الله تعالی اعلم.

پر یزید لعنت ویل څنګه دي؟

سوال: (۱۳۱۲) پر یزید لعنت ویل څنګه دي؟ (۱۳۸۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دې کي د علماوو اختلاف دی، صحیح خبره دا ده چي په شخصي توګه پر کوم فاسق نه فاسق باندي هم لعنت نشي کیدلای، اما بې د نوم له عینولو د حسین پر

---

(۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الاباحة د سوال(۱۳۰۲) په جواب کي وګورئ.

(۲) عن ابي ذر رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ... من دعا رجلا بالکفر. او قال: عدو الله و لیس کذلک الا حار علیه الحدیث(الصحیح لمسلم: ۵۷/۱، کتاب الإیمان، باب بیان حال إیمان من قال: لأخیه المسلم یا کافر)

(۳) و فیه بحث بل الاولی ان معناه رجع بإثم ذلک القول المفهوم من قال احدهما(مرقاة المفاتیح شرح المشکاة: ۵۵/۹، کتاب الآداب، باب حفظ اللسان و الغیبة و الشتم، الفصل الاول، حدیث: ۴۸۱۵)

قاتل لعنتي ويل صحيح دی لقوله تعالی: "الا لعنة الله على الظالمين" (سورة هود، آيت: ۱۸) و التفصيل فی شرح الفقه الاکبر(۱)

يزيد او شمر کافران بلل څنګه دي؟

سوال: (۱۳۱۳) و يزيد او شمر(۲) ته کافران ويل او بلل شرعًا څنګه دي؟ (۱۳۴۵/۳۵۲هـ)

ځواب: د خاتمې حال خو هيڅاته نشي معلومېدلای، ځکه د اهل سنت و الجماعة دا مذهب دی چي پر کوم معين شخص حکم مه لګوئ چي د ده خاتمه پر کفر وشوه يا دی بې ايمان مړ شو لهذا پر يزيد، شمر او کوم ظالم، فاسق او بدکار باندي دا حکم نه لګول کيږي چي دی کافر دی او پر کفر باندي مړ شو. فقط و الله تعالی اعلم

و بې لمانځه ته کافر مه وايه

سوال: (۱۳۱۴) کوم څوک چي لمونځ نه کوي څو واره ورته وواييبيا هم دی خبره نه مني بيا که کافر ورته وواييو نو څه بدکار خو به نه وي؟ (۱۳۴۵/۲۹۲هـ)

ځواب: کافر مه ورته وايه، اما که دا ورته وويل شي چي دا د کافرانو غوندي کار دی نو داسي څه پروا نلري ځکه چي کوم حديث په دې هکله راغلی دی: من ترک الصلاة متعمدا فقد کفر(۳) د دې تأويل کړل شوی دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) ثم قال: و بآلجملة لم ينقل عن السلف المجتهدين و العلماء الصالحين جواز اللعن على معاوية و أحزابه لأن غياة امرهم البغي و الخروج على الامام الحق و هو لا يوجب اللعن وانما اختلفوا في يزيد بن معاوية حتى ذكر في الخلاصة و غيره انه لا ينبغي اللعن عليه اى و لا على اليزيد ول ا على الحجاج لان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن لعن المصلين و من كان اهل القبلة ... قال: و بعضهم اطلق اللعن عليه اى على اليزيد لما أنه كفر حين أمر بقتل الحسين (شرح الفقه الاكبر، ص: ۸۷، اختلفوا فى اللعن على اليزيد، المطبوعة مطبع مجتبائى دهلى)

(۲) شمر: د حضرت حسين رضى الله عنه قاتل. ۱۲

(۳) عن انس بن مالک رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من ترک الصلاة متعمدا فقد کفر جهارا (المعجم الاوسط للطبراني: ۲/۲۹۹، باب الجيم، من اسمه جعفر رقم الحديث: ۳۳٤۸،

په مسجد کي ښکنځا کونکيو ته بې ایمان او کافر ویل

سوال: (۱۳۱۵) یو سړی د شپې پر یوولس بجې د مسجد په غولي (انګړ) کي یو م لوخ ویده ؤ یو بل سړی د لمانځه لپاره مسجد ته ورغلی نو دغه ویده سړی یې راویښ کړی پر دې د دوی خبره سره واوښته خبره تر دې ځایه ورسېده چي دغه راویښونکی یې په مسجد کي ډیر وواهی او ښکنځاوي یې ورته وکړې، مولوي صاحب منع کړی خو دی نه شو منع ځکه مولوي صاحب ورته ویول چي ته ډیر لوی بې ایمان کافر او پلیت یې، آیا د مولوي صاحب لپاره د داسي وینا حق ؤ او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۳هـ)

ځواب: کومو خلکو چي په مسجد کي وهل ټکول وکړو او ښکنځاوي یې وکړې او د مسجد د احترام خیال یې و نه ساتی هغه فاسقان او ظالمان دي لیکن په دغه فعل دوی کافران نه شول دوی ته بې ایمانه کافران ویل نه ؤ پکار، اما پلیت او فاسق ورته ویل صحیح ؤ، لیکن شاید د نوموړي مولوي صاحب مطلب دا وي چي تاسي پوره او پاخه مسلمانان نه یاست چي په مسجد کي داسي حرکتونه کوئ لنډه دا چي دا خلک کافران نه دي مګر ګنهکار دي توبه دي وباسي او څوک چي یې وهلی دی له هغه څخه دي معافي وغواړي او نوموړی مولوي صاحب له کافر ویلو څخه توبهٔ وباسي او معافي وغواړي له دي وروسته په ده پسي لمونځ صحیح دی. فقط

ولمونځ ګزارو ته منافقان ویل

سوال: (۱۳۱۶) و لمونځ ګزارو ته منافقان ویل څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۱۲۵۹هـ)

ځواب: دا ډیر بد دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: من دعا رجلا بالکفر او قال: عدو الله، و لیس کذلک الا حار علیه(۱) یعني څوک چي و مسلمان ته کافر ووایي یا د

المطبوعة: دار الکتب العلمیة بیروت، و مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح: ۱۳۲/۱، کتاب الإیمان، الفصل الأول، رقم الحدیث: ٤)

(۱) عن ابي ذر رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ... و من دعا رجلا بالکفر الحدیث(صحیح المسلم: ۵۷/۱، کتاب الایمان، باب بیان حال ایمان من قال: لأخیه المسلم یاکافر)

الله دښمن ورته ووايي او هغه داسي نه وي نو دا پر همده راګرځي. فقط و الله تعالی اعلم

و متقي مسلمان ته ابو جهل ویل

سوال: (۱۳۱۷) و متقي مسلمان ته د دښمني په وجه کافر او ابو جهل ویل څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۸۵۱هـ)

ځواب: حرام دی او په دې کي د کفر ویره ده، کما ورد في الحديث: ایما رجل قال لأخيه کافر فقد باء بها احدهما (۱) فقط و الله تعالی اعلم

و ګنهکار مسلمان ته شيطان ویل

سوال: (۱۳۱۸) و کوم شرابي، ډیره خریونکي یا بې لمانځهٔ یا غل ته شيطان ویل صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۵۵۲هـ)

ځواب: دا سړی ګنهکار او فاسق دی توبه دي وباسي مګر شيطان ورته نه دي ویل پکار په حدیث شریف کي له دې څخه منع راغلي ده. فقط و الله تعالی اعلم

و مسلمان ته دوږخي ویل صحيح نه دي

سوال: (۱۳۱۹) زید په نصیحت کي و مسلمانانو ته دوږخیان په داسي الفاظو وایي چي بیله مستند عالم جوړېدلو که څوک و چاته مسئله وروښیي هغه دوږخي دی د زید داسي وینا څنګه ده؟ (۱۳۳۸/۱۱۳۲هـ)

ځواب: بیشکه داسي ویل صحيح نه دي او کوم مسلمان ته دوږخي ویل ناروا دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: ایما رجل قال لأخيه کافر فقد باء بها احدهما(۲) فقط

ظلم څه ډول معافیږي؟

سوال: (۱۳۲۰) اگر شخصے بر کسے ظلم کرده باشد، آں شخص به چه طور نجات دارین یابد؟ (۱۳۴۰/۲۴۰۷هـ)

ځواب: توبه کنند، و هر آنکه ظلم کرده است از و معاف کناند یا معاوضه به بد. فقط

---

(۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الاباحة دس وال (۱۳۰۲) په جواب کي وګورئ.

(۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الاباحة سوال (۱۳۰۲) په جواب کي وګورئ.

سوال: (۱۳۲۰) ترجمه: که چا پر چا ظلم کړی وي نو په دواړو جهانو کي به د ده غاړي څرنګه خلاصیږي؟

ځواب: توبه دي وباسي او پر چا چي یې ظلم کړی دی له هغه څخه دي معافي وغواړي یا دي معاوضه ورکړي. فقط

ظالم له ظلم څخه منع کول ایماني فریضه ده

سوال: (۱۳۲۱) که یو مسلمان بل مسلمان ته مالي یا بدني نقصان ورسوي نو آیا د مسلمانانو ورباندي خاموش کیدل حلال دي؟ که د دوی دا فرض جوړیږي چي ټوله په ګډه د زیاتوب کونکي سره وجنګیږي، ترڅو چي ده د الله و حکم ته غاړه نه وي ایښې، د آیت "و إن طائفتان من المؤمنین اقتتلوا فاصلحوا بینهما" (سورة حجرات، آیت: ۹) په حکم. (۲۰۱۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: انصر اخاک ظالما او مظلوما الخ(۱) د خپل ورور مرسته کوه که ظالم وي او که مظلوم، صحابه وو ورته وویل چي د مظلوم مرسته کول خو ښکاره خبره ده د ظالم مرسته څه ډول وکړو؟ نبي علیه الصلاة و السلام وفرمایل چي ظالم له ظلم څخه راوګرځوئ، همدا د ده مرسته ده، لنډه دا چي که څوک پر چا ظلم کوي نو نور مسلمانان که د بندولو توان لري نو منع دي یې کړي د توان نه درلودلو په صورت مجبوري دهز فقط و الله تعالی اعلم

د ظالم او مبتدع له شر څخه بچ کیدو لپاره کوم عمل یا تدبیر کول

سوال: (۱۳۲۲) دلته یو د مسجد امام صاحب چي زده کړه په دیوبند کي کړي پر شرع برابر او حق ویونکی دی، د حق په ویلو کي د چا خیال نه ساتي او زید ډیري سختي خبري کونکی بدعتي او دش رعي خلاف سړی دی، د حق خبري له اوریدو سخت مخالفت کوي د زید په خلاف کوم عمل د ظالم د شر د مخ نیوي لپاره که وشي نو جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۷۵۷هـ)

---

(۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: انصر اخاک ظالما او مظلوما الحدیث(صحیح البخاری: ۳۳۱/۱، ابواب المظالم و القصاص، باب اعن اخاک ظالما او مظلوما)

ځواب: د ظالم او بدعتي له شر څخه بچ کیدو لپاره که کوم عمل او تدبیر وشي نو صحیح دی او د دفع د شر ضرور ده او د فتنې او فساد ختمول له لوازماتو څخه دي، لهذا څرنګه چي ممکنه وي، د دغه شریر او ظالم شر دفع کړئ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

په هر طریقه چي وي خپل حق اخیستل صحیح دی

سوال: (۱۳۲۳) بزګر د ځمکي د مالک حق خوري که د ځمکي مالک موقع ومومي په هره طریقه چي وي خپل حق وصول کړي نو چائز دي او کنه؟(۳۲/۲۰۵۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: خپل حق په هره طریقه چي وي وصولول صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د ظالم دفع کولو لپاره درواغ ویل

سوال: (۱۳۲۴) له ځان څخه د ظلم دفع کولو لپاره درواغ ویل جائز دي او کنه؟ (۳۲/۹۸۸-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: الكذب مباح لإحياء حقه و دفع الظلم عن نفسه، و المراد التعريض لأن عين الكذب حرام الخ و فيه تفصيل فصله الشامی(۲) لنډه دا چي د ظلم د دفع لپاره درواغ ویل صحیح دي مګر حتی الوسع دي له تعریض څخه کار اخلي، صریح درواغ دي نه وایي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۳۲۵) په شریعت کي درواغ ویل څه وخت جائز دي؟ (۴۲/۷۷۵-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په در مختار کي د درواغو په اړه دا لیکلي دي: الكذب مباح لأحياء حقه و دفع الظلم عن نفسه و المراد التعريض لأن عين الكذب حرام، قال و هو الحق قال تعالى: "قتل الخراصون الخ" (۳) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) مګر په ظالم باندي جادو نه دي کول پکار جادو قطعي حرام دی. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۲) الدر مع الرد کتاب الحظر و الاباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

(۳) ترجمه: درواغ ویل مباح دي، د خپل حق حاصلولو او له خپل ځانه ظلم دفع کولو لپاره او ل کذب څخه مراد تعریض (توریه) ده ځکه چي صریح درواغ ویل حرام دي الله تعالی فرمايي: هلاک دي شي بې سنده خبري کونکی الخ (الدر مع الرد کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

د حق د احیاء لپاره تعریضاً درواغ ویل

سوال: (۱۳۳۲) زید په عمر دعوی وکړه چي زما پنځه د آمو درختي عمر قبضه کړي دي، د هغو مالک زه یم، عمر یې مالک نه دی، محکمې د دوی دواړو په خوښه د دوی تر منځ فیصله کولو لپاره خالد درېیمګړی وټاکی، و خالد ته په تحقیق کولو دا خبره معلومه شوه چي د زید دغه دعوی کړي درختي د عمر په قبضه کي نشته مګر نوري د آمو پنځه درختي د عمر په قبضه کي دي چي په حقیقت کي د هغو مالک زید دی اوي و څه روپۍ هم د زید پر عمر شته د زید د درختو قیمت او روپۍ ټول د دغه دعوی کړیو درختو تر قیمت زیات دي په داسي حالات معلومیدو سره خالد و محکمې ته داسي ولیکل ی زما په نزد دواړوي ډلي پخپلو خپلو معاملو کي ایمان داري دي محکمې له خالد څخه د دغه خبري تشریح کول وغوښت، نو اسو خالد د محکمې و مختـه باید څه بیان وکړي؟ که خالد خپل تحقیق بیان کړي نو د زید حق وهل کیږي، ځکه چي دغه دعوی شوي درختي محکمه و زید تـه نه ورکوي د ده د نه قبضې په وجه او درختي او روپۍ د زید هم و زید ته نه ورکوي د ده د دعوې نه کولو په وجه او د تمادي راتلو(۱) په وجه دوهم وار بیا زید په محکمه کي دعوی نشي کولای او که خالد د خپل تحقیق په خلاف په داسي طظیقه بیان وکړي چي په هغه سره دغه دعوی کي درختي زید ته ورکولی شي چي د زید تر حق کمي دي نو دا کذب او درواغ دي نو په مسئوله صورت کي د خالد لپاره د محکمې و مخته له ظلم څخه د بچ کولو په غرض درواغ ویل واجب دي او کنه؟ که خالد درواغ ونه ویل نو خالد ګنهکار دی او کنه؟ (۳۴-۳۵/۱۳۳۲ھ)

ځواب: په درمختار کي له وهبانیه څخه رانقل کړي دي:

ع و للصلح جاز الکذب او دفع ظالم(۲)

و فی الشامی تحت قوله (الکذب مباح لاحیاء حقه) و ان تعلق بنفسه استحب ان لا یکذب و ان تعلق بغیره لم تجز المسامحة لحق غیره الخ(۱) له دا ډول روایت څخه څرګند

---

(۱) تمادي راتلل: دومره موده تیرېدل چي د دعیو کولو حق پاته نشي. (فیروز اللغات)

(۲) الدر مع الرد کتاب الحظر و الإباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

دي چي په رښتيا ويلو كه د كوم مسلمان حق ضائع كيږئ او په درواغو ويلو حق وررسي نو په داسي ځاى كي تعريضًا درواغ ويل صحي دي بلكه ضروري دي. قال في الدر المختار: و المراد التعريض و في الشامي: و اعلم ان الكذب قد يباح و قد يجب الخ ثم ذكر ضابطة فيه فلينظر فيه(۲) فقط

سوال: (۱۳۲۷) زيد او عمر دواړه سكه وروڼه د مسجد امامان دي زيد د زينب نكاح د خالد سره وروكړه ډيره موده وروسته بكر زينب وتښتوله خالد ته بكر دعيو وكړه چي له خالد څخه د نكاح د ثبوت غوښتنه وشوه نو زيد نكاح تړونكى د بكر په وړولو له ګواهي ادا كولو څخه انكار وكړى، نو عمر خو د زينب په نكاح د خالد سره خبرؤ په زړه كي يې فكر وكړى چي زيد خو د بكر له ويري انكاري شو اوس كه د زينب د نكاح ثبوت د خالد له طرفه ونه شو نو زينب به د بكر تښتونكى شي او هغه به د هميشه لپاره د زينب سره ناروا عمل كوي اوس عمر په محكمه كي ګواهي وركړه چي پخپله د زينب نكاح د خالد سره تړلې ده او زينب د خالد منكوحه ده د عمر په دغه ګواهي زينب و خالد ته وسپارله شوه، اوس خالك پر عمر دا الزام لګوي چي دا درواغجن دى او د درواغو ګواهي يې وركړې ده، دى له امامت څخه ليري كړي، آيا د عمر د دغه مصلحت پر فعل باندي څه تعزير شته؟ او له امامت څخه عزل كيدلاى شي او كنه؟ او زيد چي له ګواهي وركولو څخه انكار وكړ، د هغه په هكله څه حكم دى؟ (۱۳۴۰/۷۹۱هـ)

ځواب: د حق د احياء لپاره كذب فقهاء تعريضًا جائز ليكلى دى، لهذا په دغه صورت كي پر عمر باندي د درواغو د ګواهي وركولو الزام نه راځي، ځكه چي واقعه صحيح ده او عمر په دغه صورت كي له امامت څخه د عزل كولو وړ نه دى او زيد په دغه

---

(۱) الشامي كتاب الحظر و الاباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

(۲) و الضابط فيه كما في تبيين المحارم و غيره عن الإحياء: ان كل مقصود محمود يمكن التوسل اليه بالصدق و الكذب جميعًا، فالكذب فيه حرام، و ان امكن التوسل إليه بالكذب و حده فمباح ان ابيح تحصيل ذلک المقصود، و واجب ان وجب تحصيله الخ (رد المحتار كتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه)

صورت کي د واجب ګواهي په نه ادا کولو او د حق په پټولو عاصي او د ملامتیا وړ دی، کما قال الله تعالی: "و لا تکتموا الشهادة و من یکتمها فإنه آثم قلبه" الآیة (سورة بقره. آیت: ۲۸۳)

د خپل جائداد حاصلولو لپاره دروغ ویل

سوال: (۱۳۲۸) د یو سړي دوولس کلونه کیږي چي د عمر جائیداد یې قبضه کړی دی، مخالفي ډلي عمر چي مالک دی د شهادت لپاره غوښتی دی که واقعي شهادت ورکوي نو د انګریزي محکمې د قانونس ره سم له قبضې څخه د وتلو احتمال شته. که د دې په خلاف ګواهي ورکړي نو جائیداد د اصل مالک خوندي کیږي آیا ګنهکاریږي خو به نه؟ او په ګواهانو کي که کوم ګواه واقعئ ګواهي ورکړي چي ورځخه د اصل مالک حق ووهل شي حال دا چي دوی ته یقیني معلوم دي چي جائیداد د عمر دی، غاړي خوبه نه بندیږي؟ (۱۱۷۵/۱۳۳۹هـ)

ځواب: په داسي صورت کي د عمر لپاره د واقعې خلاف بیان کول د خپل جائیداد خوندي کولو لپاره جائز دي او د ګواهانو لپاره هم داسي بیان کول جائز نه دی چي ورځخه عمر حق ووهل شي او جائیداد د ده له قبضې څخه ووځي، په داسي حال کي په دروغو غاړي نه بندیږي او که ګواهانو د عمر په حق وهلو کي د ظالم او غاصب مرسته وکړه نو د دوی غاړي بندي او ګنهکاران دي. فقط و الله تعالی اعلم

مسجد له ویرانیدو او مسلمان له نقصان څخه بچ کولو لپاره دروغ ویل

سوال: (۱۳۲۹) سوال دا دی چي مسجد له ویرانېدو او مسلمان له نقصان څخه بچ کولو لپاره به محکمه کي د دروغو بیان کول او دروغ ویل جائز دي او کنه؟ (۸۱۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغل یدي: الکذب مباح لأحیاء حقه و دفع الظلم عن نفسه و المراد التعریض إلخ(۱) له دغه عبارت څخه معلوم شو چي د ظلم د دفع او نورو لپاره دروغ ویل صحیح دي او په شامي کي راغلي دي: و إن امکن التوصل الیه بالکذب

---

(۱) الدر و الرد کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

وحده فمباح ان ابیح تحصیل ذلک المقصود، و واجب ان وجب تحصیله و الی ان قال: و له یاضا ان ینکر سر أخیه إلخ(۱) نو په مذکوره صورت کې د مسجد د بې حرمتۍ او بربادۍ څخه بچاوولو لپاره او خپل مسلمان ورور له نقصان څخه بچاوولو لپاره د کافر په مقابل کې د سائل لپاره په محکمه کې داسې بیان کول جائز دي. فقط

د درواغو وعده کونکي سره وعده کول او نه پوره کول

سوال: (۱۳۳۰) زید و عمرو ته وویل چې تا چې په ما دعوی کړې ده له دغه ځمکې څخه څه ځمکه واخله یا د دې قیمت واخله او دعوی پریږده، عمرو ورته وویل: زما چې مصرف شوی دی، هغه به پر چا وي؟ زید ورته وویل: هغه به هم زه درکړم او په حقیقت کې عمرو دغه دعوی د درواغو کړې وه هیڅ ډول حق د عمرو په دغه ځمکه کې نشته، که زید دغه اقرار پوره نکړي نو ګنهکار به ږي او کنه؟ (۳۲/۱۸۵۷-۱۳۳۳ھ)

ځواب: زید که دغه وعده پوره نکړي او صلح ونکړي نو هیڅ ګناه پر ده نشته ځکه چې عمرو په دغه صورت کې ظالم دی او په حدیث شریف کې راغلي دي: و لیس لعرف ظالم حق(۱) (مشکوة شریف)

که حقدار یا د ده وارثان معلوم نه وي نو حق به څنګه ادا کوي؟

سوال: (۱۳۳۱) زید یو دکان ته راغلی، ناڅاپه په غه دکان کې ۸۲ تولې سپین زر ځني پاته شول، کله چې په یاد ورغلو له دکاندار څخه یې پوښتنه وکړه، دکاندار صفا انکار وکړی، دکاندار پخپله مصرف کړو چې اوس یې څلوېښت کلونه وشول، له دې وروسته هغه دکاندار مالدار شو کله چې ناجوړه شو نو خپلو بچیانو ته یې وصیت وکړی چې دومره سپین زر و مالک ته ورکړئ اوس ډیره موده شوې ده، د هغه مالک هیڅ معلومات نشته او دا هم معلوم نه دي چې هغه هندو و که مسلمان؟ اوس وارثان باید څه وکړي؟ او هغه دکاندار چې وصیت یې وکړی مړ شو، د هغه غاړې به څنګه خلاصیږي؟ (۳۳/۱۹۵۲-۱۳۳۴ھ)

---

(۱) عن سعید بن زید رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: من أحیی أرضا میتة فهی له، و لیس لعرف ظالم حق(مشکوة المصابیح، ص: ۲۵۵، کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة، الفصل الثانی)

ځواب: په داسي حال کي چي د مالک معلومات نه وي او نه د ده وارثان معلومي وي، هغو مره سپين زر خيرات کړي، اميد شته چي په دا رنګه کولو به له حقوقو العباد څخه غاړي خلاصي شي، دغه خيرات کول به دس پينو زرو د مالک له طرفه وي او تر خيراتولو وروسته که د مالک يا د ده د وارثانو معلومات شوو نو هغوی ته دي وويل شي که هغه په دغه خيرات راضي شول نو فبها کنې دوی ته به يې ورکوي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

بيله څه وجهي پر خلګو ظلم او زياتوب کول

سوال: (۱۳۳۲) يو سړي خپل اثر د حکومت په مخکي زياتولو لپاره پر بې ګناه او بې خطا خلګو ظلم او زياتوب کوي، و ده ته کافر ويل جائز دي او کنه؟ (۲۹/۲۵۲-۱۳۳۰هـ)

ځواب: بيله کومي وجهي مسلمان زهيرول، ظلم او زياتوب ورباندي کول حرام او کبيره ګناه ده، سخت وعيدونه په دې هکله راغلي دي، په حديث شريف کي دي: المسلم من سلم المسلمون من لسانه و يده(۲) و امن الناس بوائقه دخل الجنة الحديث(۳) يعني کامل مسلمان هغه دی چي له ژبي او لاس څخه و مسلمانانو ورونو ته تکليف ونه رسي، او د پوره ايمان خاوند هغه څوک دی چي همسايه ګانو ته هيڅ ډول تکليف ورنکړي نو ناحقه خلګ زهيرول او تکليف ورکول د انسانيت هم خلاف دي او د اسلام د کمال او ايمان سره هم مناسب نه دي مګر د دغه ګناهونو په وجه ده ته کافر نه دي ويل پکار چي

---

(۱) و ان لم يجد المديون و لا وارثه صاحب الدين و لا وارثه فتصدق المديون او وارثه عن صاحب الدين برئ فی الآخرة(الشامي كتاب اللقطة، قبيل مطلب فی من عليه ديون و مظالم جهل أربابها. ط رشيديه)

(۲) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: المسلم الحديث(صحيح البخاري: ۶/۱، كتاب الايمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه و يده)

(۳) عن ابي سعيد الخدري رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: من اكل طيبًا و عمل فی سنة و امن الناس الحديث(جامع الترمذی: ۷۸/۲، ابواب صفة القيامة)

آخر دی هم مسلمان دی، که څه هم بد او شریر دی. الله تعالی دي ده ته هدایت وکړي فقط و الله تعالی اعلم

لمونځ کونکی وهل کبیره ګناه ده

سوال: (۱۳۳۳) کوم څوک چي یو سړی په لمانځه کي ولاړ ووهي د هغه لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۸۴۵هـ)

ځواب: دا سړی سخت ظالم، عاصي او فاسق دی، په دغه فعل دی سخت ګنهکار شو، ترڅو چي توبه ونه باسي او څوک چي د لمانځه پر مهال وهلی دی له هغه څخه معافي ونه غواړي تر هغو ده سره اړیکي نه دي ساتل پکار، په حدیث شریف کي راغلي دي: سباب المسلم فسوق و قتاله کفر(۱) نو دغه فعل د دغه سړي کبیره ګناه ده، توبه ایستل او له دغه مظلوم څخه معافي اخیستل وربانديِ لازم دي. فقط و الله تعالی اعلم

بیله څه وجهي کوم عالم وهل او سپکول

سوال: (۱۳۳۴) یو سړي یو مولوي صاحب بنه کلک وواهی وهونکی کافر شو او کنه؟ و وهونکي ته کافر وایي؟ (۱۳۳۸/۱۲۰۰هـ)

ځواب: بیله کومي وجهي کوم مسلمان وهل که عالم وي او که ناعالم وي ګناه او فسق دی او د داسي ناوړه عمل کونکي ظالم او فاسق دی، لیکن کافر ورته نه دي ویل پکار، د مسلمان په تکفیر کي فقهاوو ډیر احتیاط فرمایلی دی، په شامي او نورو کي راغلي دي چي که ډیري وجهي په چا کي د کفر موجودي شي او یوه ضعیفه وجه د اسلام وي نو ده ته مسلمان ویل پکار دي و التفصیل فیه(۲) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۳۳۵) کوم مظلوم ملووي صاحب بې قصوره په بازار کي نیول اهانةً او ظلمًا یې وهل شرعًا څه حکم لري؟ (۱۳۴۰/۱۵۹۲هـ)

---

(۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الحظر و الاباحة د سوال (۱۲۷۱) په جواب کي وګورئ.

(۲) د تفصیل لپاره وګورئ د شامي او فقه اکبر هغه عبارتونه چي د کتاب الحظر و الاباحة د سوال (۱۲۷۵) په حاشیه کي تیر شول ۱۲

ځواب: د ظلم په معصیت کیدو کي هیڅ شبه او تردد نشي کیدلای او کوم وعیدونه چي د ظالمانو لپاره په قرآن شریف او حدیثو کي راغلي دي، هغه پټ نه دي. ظالمان د الله په نزد مبغوض او د لعن او طرد وړ دي، کما قال الله تعالی: "و الله لا یحب الظالمین" (سورة آل عمران، آیت: ۵۷) او په حدیث شریف کي راغلي دي: الظلم ظلمات یوم القیامة (مشکوة، ص: ۴۳۴، باب الظلم) او فرمایي: الا لا تظلموا مشکوة ص: ۲۵۵، باب الغصب و العاریة) الحدیث نو بیله کومي شرعي وجهي کوم عالم وهل زهیرول، تکلیف وررسول او سپکول صریح ظلم او کبیره ګناه ده چا چي دا عمل کړی دی، هغه عاصي، ظالم او فاسق دی. فقط و الله تعالی اعلم

بیله کومي وجهي امام له امامته لیري کول

سوال: (۱۳۳۶) یو حافظ صالح عالم کلیوالو د امامت لپاره مقرر کړی. دغه عالم له لسو کلونو راهیسي خپله وظیفه ترسره کوي، دی په رخصت تلی و نو یو سړي ورته ولیکل چي ته خپل بچیان له ځان سره مه راوله، نوموړي مولوي صاحب د مجبورۍ په وجه بچیان له ځان سره راوستل چي ورته دغه سړي څو سپکي خبري وکړې چي د کړو وړ نه دي او څو فسادیان یې راجمع کړو دستخطونه یې په وکړه او مشوره یې سره وکړه چي دا سړی د امامت لائق نه دی او دی یې پر وتل مجبور کړی، خلګو ته وویل چي مسجد ته مه ځئ او په ده پسي لمونځ مه کوئ، هغه سړی ظالم دی او کنه؟ او د نوموړو فسادیانو په هکله څه حکم دی؟ (۱۸۳۸/۱۳۳۸ھ)

ځواب: که بیله کومي شرعي وجهي دا سړي د ساي وکړو نو ظالم دی او د آیت: "و من اظلم ممن منع مساجد الله" الآیة (سورة بقره، آیت: ۱۱۴) مصداق دی او کوم خلګ چي پر ظلم باندي د ظالم همکاران وي، هغه هم ظالمان دي، قال تعالی: "و تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعاونوا علی الاثم و العدوان" (سورة مائده، آیت: ۲) فقط و الله تعالی اعلم

خلګ بیله کومي وجهي په جامع مسجد کي له لمونځ کولو څخه منع کول

سوال: (۱۳۳۷) یو کوچنی کلی دی چي پکي مسلمانان شته یو څو مسلمانان پکي لمونځ کونکي دي، هغه مسجد چي له پخوا څخه پکي د جمعې لمونځ کیږي او په جامع

مسجد ياديږي، هر رنګه انتظام پکي شته، رنګه په رنګه لا يعني تهمتونه لګول د کلي خلګ خطا کول مسجد ته نه پرېښودل او راتلونکي په لاره کي درول چي په موږ پسي لمونځ مه کوئ، هلته لمونځ نه صحيح کيږي، مسجد نا آبادول او ځان ته د جاهلانو په مخکي مجتهد د زماني ويل څنګه دي؟ (۱۲۷۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: بيله شرعي وجهي په جامع مسجد کي له لمونځ کولو څخه منع کول او په مسلمانانو کي اختلاف پيدا کول او د شرعي په خلاف کارونه کول، تکبر او تفاخر کول دا ټول کارونه حرام او مصيبت دي او څوک چي داسي کوي، هغه فاسق، عاصي او ظالم دی، قال الله تعالیٰ: "و من اظلم من منع مساجد الله ان يذکر فيها اسمه و سعی فی خرابها " الآية (سورة بقره، آيت: ۱۱۴) فقط و الله تعالی اعلم

د ذليلي ښځي تي و ماشوم ته ورکول

سوال: (۱۳۳۸) که کومه ښځه خپل تی رودونکی ماشوم زوی ته د کومي بدفالی يا عمر کي برکت لپاره د ذليلي ښځي تی ورکړي نو دا ښځه ګنهکاره ده او کنه؟ (۱۱۸۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: صرف تي ورکول و ماشوم ته د کومي ذليل او سپکي ښځي کومه ګناه نه ده اما که د کوم فال او نورو په وجه داسي کوي نو د ساي کول بد دي توبه دي وباسي، د ماشوم په هکله هيڅ فکر نه دی کول پکار. فقط

د جادوګر او جاودګر ته ورتلونکي څه حکم دی؟

سوال: (۱۳۳۹) زيد و خالد جادوګر ته څه روپی ورړې، د جادو په وسيله باندي عمر په وواژی، اوس په دغه صورت کي آمر او مأمور يعني زيد او خالد دواړه ګنهکار دي که يو؟ که لومړی صورت وي نو د دواړو په ګناه کي څه فرق دی؟ (۱۲۷۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دواړه ګنهکار دي او د دواړو غاړي بندي او د عذب مستحقين دي، ليکن جادوګر خو د دغه حرام عمل کونکی او د مسلمان قاتل شو، هغه زيات د عذاب او سزا مستحق دی، تر دې چي د ساحر د قتل حکم د فقهي په کتابونو کي ليکلي دي او ده ته کافر ويلي دي، په شامي کي دربيم ټوک کتاب المرتد کي راغلي دي: السحر حرام بلا

خلاف بين اهل العلم و اعتقاد اباحته كفر و عن اصحابنا و مالک و احمد: يكفر الساحر بتعلمه و فعله، سواء المتعقد الحرمة او لا و يقتل، و فيه حديث مرفوع حد الساحر ضربة بالسيف يعني القتل الخ(۱) فقط و الله تعالى اعلم

په رمضان المبارک کي چي شيطانان قيد شي نو بيا ګناهوي ولي کيږي؟

سوال: (۱۳۴۰) په حديث شريف کي راغلي دي چي د روژې په مياشت کي شيطانان قيد کړل شي نو ځيني خلک اعتراض کوي چي کله دوی قيد شي نو بيا ګناهوي ولي کيږي؟ (۳۳/۲۱۵۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د نفس د شرارت يا د بد طبيعت د تقاضا له امله فقط و الله تعالی اعلم

د نيک عمل کولو پر مهال د عمل کونکي فسق او فجور جلا کيږي او که نه؟

سوال: (۱۳۴۱) لکه څرنګه چي د زنا کونکي ايمان د زنا کولو پر مهال بيل شي او له زنا وروسته بيرته ورته راشي، دغه رنګه کوم صالح عمل همداسي دی چي د هغه د کولو پر مهال د عمل کونکي فسق او فجور بيل شي او له نيک عمل وروسته بيرته ورته راشي، که داسي نه وي نو د قدسي حديث: "سبقت رحمتي غضبي" به څه معنی وي؟ (۱۳۴۰/۲۵۷۲هـ)

ځواب: په آيتونو او حديثونو کي دا نه دي راغلي چي د کوم صالح عمل پر مهال دي د ده فسق او فجور له ده بيل شي او بيا دي بيرته ورته راشي، بلکه د صالح اعمالو په وجه چي کوم ګناهونه ساقط شي، هغه بيا نه راګرځي لکه چي الله تعالی فرمايلي دي: "إن الحسنات يذهبن السيات" (سورة هود، آيت: ۱۱۴) بيشکه نيکۍ ليري کوي بدۍ يعني د صالح اعمالو په وجه د دغه بديو ګناه زائليږي او ښکاره خبره ده چي کومه ګناه معاف شي، هغه بيرته نه راګرځي، مګر د جمهور اهل سنت و جماعت په اتفاق سره مراد دا دی چي په صالح اعمالو او حسناتو صغيره ګناهونه معافيږي، کبيره نه معافيږي، بلکه کبائر په توبه معافيږي، کما ورد: التائب من الذنب کمن لا ذنب له(۲) او په توبه

(۱) حاشية ابن عابدين كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب في الساحر و الزنديق. ط رشيديه

(۲) سنن آبن ماجة، ص: ۳۱۳، ابواب الزهد، باب ذکر التوبة.

چي کوم کبائر معافیږئ هغه بیرته نه راګرځي او د حدیث شریف: سبقت رحمتي غضبي(۱) مطلب دا دی چي د الله تعالی د غضب مقتضا دا وه چي د بنده توبه هم نه وای قبوله شوې مګر دا د ده د رحمت سبقت دی چي د بنده په لږ توجه الی الله او توبه او استغفار ټوله ګناهو پاک شي، داغه راز په هر امر کي د الله د رحمت دس بقت ظهور دی لکه چي فرمايي: "و لو يؤاخذ الله الناس بظلمهم ما ترک عليها من دابة " الآية(سورة نحل، آیت: ۶۱) داغه ډول په کثرت سره آیتونه او حدیثونه په دې هکله راغلي دي. فقط

تنزیهي مکروه ګناه ده او کنه؟

سوال: (۱۳۴۲) تنزیهي مکروه ګناه ده او کنه؟(۱۳۳۵/۲۸۳هـ)

ځواب: فی الدر المختار و حاشية رد المحتار: و اما المكروه كراهة تنزية فإلى الحل اقرب اتفاقا و فی الشامی: قوله: (فإلى الحل أقرب) بمعنى انه لا يعاقب فاعله اصلا لكن يثاب تاركه ادنى ثواب(۲) معلوم شو چي په تنزیهي مکروه معصیت د سزا باعث نه دی. فقط و الله تعالى اعلم

و مالدار سائل ته خیرات ورکول

سوال: (۱۳۴۳) نن صبا چي کوم خلګ خیراتونه ټولوي و داسي څوبستونکیو ته خیرات ورکول ثواب لري او کنه؟ داغه راز شرعًا څوک، څوک ځنګه، ځنګه سوال کونکی ومنل شي چي د هغهس وال بې فایدې ونه بلل شي؟(۱۳۳۸/۲۰۸هـ)

ځواب: کله چي په قرائنو معلوم شي چي غوښتونکی غني دی محتاج نه ید او سوال یې پیشه ده لکه چي لیدل کیږي چي ځیني فقیران چي پیشه یې سول کول وي له کوره غنیان وي او ډیر سامانونه لري او شرعًا د دوی لپاره سوال کول حرام وي نو دساي

(۱) عن ابي هريرةر ضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال الله عز و جل: سبقت الحديث(الصحيح لمسلم: ۳۵۶/۲، کتاب التوبة، باب سعة رحمة الله تعالى أنها تغلب غضبه)

(۲) په در مختار او شامي کي راغلي دي: تنزیهي مکروه اتفاقًا و حلت ته زیات نژدې دی یعني د تنزیهي مکروه کونکي ته یو مخ سزا نه ورکوله کيږي، بلکه د دې پریښودونکي ته څه ثوآب ورکول کيږي. (الدر المختار و الشامي اوائل کتاب لاحظر و الاباحة. ط رشيديه)

خلکو ته ورکول هم ګناه ده د اعانت علی المعصیت په وجه او که د دوی د حال د نامعلوموالي څه ورکړي نو پکي ګناه نشته. لنډه دا چي په دې اړه کومه کلي قاعده نشته، پر وخت چي څه ثابت او محقق وي، د هغه سره سم عمل کوئ فقط و الله تعالی اعلم

د درواغو قسم اخیستل

سوال: (۱۳۴۴) یو سړي د درواغو قسم واخیستی او د بل چا چي کومه غوښتنه له ده څخه وه، له هغه څخه انکار وکړي، د داسي سړي څخه باید مسلمان اړیکي قطع کړي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۰۴۲هـ)

ځواب: که واقعتًا دغه مسلمان د درواغو قسم واخیستی نو سخت ګنهکار او د کبیره ګناه کونکی شو، الله تعالی فرمايي: "واجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین به" (سورة حج، ایت: ۳۰-۳۱) او په حدیث شریف کي راغلي دي چي د درواغو ګواهي او د درواغو قسم د شرک سره برابر دی(۱) نو باید دی توبه اوباسي او د چا چي څومره حق وربانديي دی هغه باید ادا کړي مګر نورو مسلمانانو ته څو واقعي حال نشي معلومېدلای ځکه ورسره ړیکي قطع کول شرعي حکم نه دی، پر دې چي څه عذاب او نور شته، هغ عند الله دی. فقط

په اجرت او بیله اجرت زنا کولو ګناه برابره ده

سوال: (۱۳۴۵) یو سړی وايي چي یو سړي په اجرت ورکولو زنا وکړه او بل سړي بیله اجرت ورکولو وکړه یو سړي شراب په بیه ورکولو وڅښل او بل بیله بیي ورکولو وڅښل نو ګناه په دواړو صورتونو کي برابره ده، که کمه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۷۴۳هـ)

---

(۱) عن خريم بن فاتک رضی الله عنه قال: صلی الله علیه وسلم صلاة الصبح فلما انصرف قام قائما، فقال: عدلت شهادة الزور بالاشراک بالله ثلاث مرات ثم قراء "فاجتنبوا الرجس من الاوثان و اجتنبوا قول الزور حنفاء لله غير مشركين به" (مشکوة المصابيح، ص: ۳۲۸، کتاب الامارة و القضاءو باب الاقضية و الشهادات، الفصل الثانی)

ځواب: د هر ډول زنا اوش راب څښلو ګناه په دواړو صورتونو کې سره برابره ده. دواړه حرام دي

ربړېزي مرغۍ رانيول او خرڅول

سوال: (۱۳۴۶) د ربړ او نورو کوچنۍ، کوچنۍ مرغۍ رانيول او خرڅول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۱۲۰ھ)

ځواب: د ساکنې تصوير حرام دی او ذي روح تصويرونه (عکسونه) رانيول او خرڅول په هيڅ ډول او ضرورت جائز نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

نکاح نه کول او نکاح ته بد ويل

سوال: (۱۳۴۷) که څوک ټول عمر واده ونکړي او مخالفت کول او بد وايي نو دا څنګه دي؟ او که خاموش شي نو څنګه دي؟ نکاح کول فرض ده که سنت؟ (۱۳۴۵/۱۷۴۵ھ)

ځواب: نکاح کول سنت ده(۱) صرف په پرېښودلو ګناه نه ده، مګر نکاح ته بد ويل او مخالفت کول ګناه ده. فقط و الله تعالی اعلم

پر چا د دروغو تهمت لګول حرام او کبيره ګناه ده

سوال: (۱۳۴۸) څوک چې پر چا تور د بغض او حسد په وجه ولګوي، د هغه لپاره څه سزا ده؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۲۷۵ھ)

ځواب: د دروغو تهمت پر کول مسلمان لګول حرام او کبيره ګناه ده توبه ايستل پکار ده، او له هغه مسلمان څخه دي معافي وغواړي، دا د دې ګناه کفاره ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۳۴۹) که کوم سړی د کومې ناکړې ګناه بهتان پر چا ولګوي او ناوړه الفاظ ورته ووايي نو د هغه لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۸۰۱ھ)

---

(۱) عن عايشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: النكاح من سنتي، فمن لمي عمل بسنتي فليس مني الحديث(سنت ابن ماجة، ص: ۱۳۳، ابواب النكاح، باب ماجاء في فضل النكاح)

ځواب: درواغ ویل او بهتان تړل پر کوم مسلمان باندي کبیره ګناه ده، داسي کونکی فاسق ګرځي، ترڅو چي توبه ونه باسي او له هغه څخه معافي ونه غواړي، ګناه د ده نه معافیږي. فقط

دوهمه نکاح کونکې ښځه باندي بدګمان کول صحیح نه دی

سوال: (۱۳۵۰) په یوه محله کي څو داسي واقعې وشوې چي ښځو بهٔ دوهمه نکاح وکړه نو بیا به دا خبره ښکاره شوه چي ده له مخکي څخه د دغي ښځي سره ناروا اړیکي ساتلې، اوس چي کومه ښځه دوهمه نکاح وکړي پر هغه بدګماني کول د مسلمانانو لپاره څنګه ده؟ (۱۹۰۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: داسي ګمان عمومًا صحیح نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

د دوهمي نکاح کونکیو څخه ناراضه کیدل

سوال: (۱۳۵۱) کومي کونډي چي دوهمه نکاح کړې وي له هغې څخه او د دې له دوهم خاوند څخه که د کونډي کوم خپل ناراض وي نو شرعًا څه حکم دی؟ (۱۸۹۷/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د دوهمي نکاح په وجه ناراضه کیدل او دوهمه نکاح بده ګڼل شرعًا ډیره بده خبره ده کوم څوک چي په دې وجه ناراض يي هغه عاصي او ظالم دی قال الله تعالی: "و انکحوا الایامی منکم" (سورة نور، آیت: ۳۲) نو کوم کار چي مأمور من الله دی، هغه بد بلل ډیره خطري خبره ده و العیاذ بالله تعالی. فقط و الله تعالی اعلم

ناحقه پر چا د قتل الزام لګول حرام او کبیره ګناه ده

سوال: (۱۳۵۲) زید پر بکر د قتل الزام ولګاوی لیکن د قاضي په تحقیق سره پر بکر باندي هیڅ ډول الزام ثابت نه شو، اسو شرعًا د زید په هکله څه حکم دی؟ زید مړه هنده (چي د ده لور وه او د وژني په اړه ده ویل چي دا کار بکر کړی دی) کله چي حکومت د تحقیق لپاره له قبر څخه راوکښه ده بیان کړه ښځه ځکه بنګیانو چي عمومًا کافران ؤ د شرعي په خلاف يې په حکومتي طریقه ښخه کړه، اوس شرعًا د زید په هکله څهٔ حکم دی؟ (۲۰۰/۱۳۳۷هـ)

ځواب: که واقعتًا زید پر بکر بانید د درواغو الزام لګولی ؤ او بهتان یې وربانده ویلی ؤ نو زید کبیره ګناه وکړه فاسق شو توبه دي وباسي او له بکر څخه دي معافي وغواړي او د زید خپله لور سره د اختیاره بیا هم د دوهم وار نه ښخول او کفارو ته سپارل دا هم ګناه ده، توبه دي وباسي. فقط و الله تعالی اعلم

په درواغو د چا جائیداد حاصلونکی اوس توبه څنګه وباسي؟

سوال: (۱۳۵۳) یو سړي قصدًا د چا د جائیداد په هکله درواغ وویل محکمې د ده په قسم باور وکړی د ده په حق کي یې فیصله وکړه، اوس دی پښېمانه دی توبه ایستل غواړي، شرعًا دی باید څه وکړي؟ (۱۳۳۹/۱۳۴هـ)

ځواب: توبه د ده دا ده چي دغه جائیداد دی بیرته ورکړي کوم چي ده په درواغو حاصل کړی یا څومره برخه چي د کوم بل چا وي هغه دي بیرته ورکړي او توبه دي وباسي. فقط و الله تعالی اعلم

درواغ ویل او درواغجنه وعده کول کبیره ګناه ده

سوال: (۱۳۵۴) درواغ ویونکی او درواغجنه وعده کونکی څومره ګنهکار دی؟ (۱۳۴۵/۱۱۸۲هـ)

ځواب: دا کبیره ګناه ده او د چا چي دا عادت وي چي وعده کوي او بیا د هغه په خلاف کوي په حدیث کي دا د منافق په خصلتونو کي شمیرلي دي، کما قال علیه الصلاة و السلام: و إذا وعده أخلف الحدیث(۱)

په درواغو یا په وزن کي کمي زیاتوب کولو روپۍ ګټل

سوال: (۱۳۵۵) د یونان و کفارو ته درواغ ویل یا په وزن کي کمي او زیاتوب کولو باندي روپۍ ورڅخه ګټل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۵۱۹هـ)

ځواب: په درواغو روپۍ ګټل یا د وزن په کمښت او زیاتوب روپۍ ګټل حرامي دي، پرهیز څني لازم دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: آية المنافق ثلاث: اذا حدث كذب، و اذا وعد اخلف، و اذا اؤتمن خان(صحيح البخاري: ۱/ ۱۰، كتاب الإيمان، باب علامة المنافق)

په درواغو حاصلي کړي روپۍ و مسجد ته ورکول

سوال: (۱۳۵۶) د یو سړي په بل پسي شپږ روپۍ پاته وې، ده په حکومت کي د اتلسو روپیو عارضه ورباندي وکړه او په درواغو باندي له مدعی علیه څخه اتلس روپۍ واخیستې، بیا مدعی دغه روپۍ مسجد ته ورکړې، په مسجد کي داسي ړوپۍ لګول جائز دي او کنه؟ د سود روپۍ چي له چا واخلي هغه ته یې بیرته ورکول پکار دي او کنه؟ (۵۱۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دغه روپۍ په مسجد کي لګول صحیح نه دي، مدعی ته ویل پکار دي چي توبه وباسه او دغه روپۍ مدعی علیه ته بیرته ورکړه چي په ظلم او درواغو ده څني اخیستي دي، صرف خپلي شپږ روپۍ دي واخله نوري بیرته روکړه. فقط و الله تعالی اعلم

پر مسلمان د بدنامولو لپاره درواغجن الزام لګول

سوال: (۱۳۵۷) که څوک پر کوم مسلمان باندي د بدنامولو لپاره د درواغو الزام ولګوي، د هغه لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۰۹۹/۱۳۴۱هـ)

ځواب: داسي سړی فاسق او ظالم دی، باید توبه وباسي او معافي وغواړي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۳۵۸) یو مسلمان دا خبره مشهوره کړه چي فلاني مسلمان د خنزیر غوښه خوړلې ده خو په تحقیق سره دا خبره ثابته شوه، داسي غلطه واقعه بیانول څرنګه ګناه ده؟ (۲۴۲۸/۱۳۴۵هـ)

ځواب: بیله تحقیق کولو پر کوم مسلمان داسي تهمت لګول جائز نه دی باید دی توبه وباسي او له هغه څخه معافي وغواړي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) "ویل للمطففین الذین اذا اکتالوا علی الناس یستوفون و اذا کالوهم او وزنوهم یخسرون" (سورة مطففین، آیت: ۱-۳)

پر منشي واجب دي چي د درواغو ليکلو څخه به پرهېز کوي

سوال: (۱۳۵۹) که کوم سړی په کومه دعوی کي جوابي دعوی او بيان د درواغو ورو ليکي نو داسي ليک ليکل جائز دی او کنه؟ (۲۰۹۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: کله چي ليکونکي ته معلوم دي نو بيا د ده لپاره جائز نه دي چي داسي د درواغو ليک وليکي پر ليکونکي واجب دي چي د داډول ليک ليکلو څخه پرهيز وکړي او د حق د احياء لپاره فقهاء درواغ جائز ليکلي دي مګر مراد له دې څخه تعريض دی څرګند درواغ نه دي(۱) فقط

حلفي بيان درواغ بلل

سوال: (۱۳۶۰) زيد په قسم سره يوه واقعه بيان کړه د ډلي يوې غتې برخي دغه بيان صحيح وب،لی او بلي کوچنۍ برخي دغه بيان لغو او بيکاره وبولی نو د هغو خلکو په هکله څه حکم دی؟ کومو چي حلفي بيان درواغ وبولی؟ (۲۲۲/۱۳۴۵هـ)

ځواب: کله چي دا احتمال شته چي زيد دي د درواغو قسم اخيستی وي څکه پر يقين نه کونکيو هيڅ ګناه نشته، اما غوره دا دي چي د درواغو کومي قرينې د دې اعتبار وکړي فقط

غرور او فخر کول او بل سپک ګڼل

سوال: (۱۳۶۱) غرور او فخر کول او ځان تر نورو غوره بلل او نور سپک ګڼل شرعًا څنګه دي؟ (۱۱۷۹/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په قرآن شريف کي ډير ځايونه د تکبر او غرور غندنه شوې ده کما قال الله تعالی: "إن الله لا يحب كل مختال فخور" (سورة لقمان، آيت: ۱۸) يعني الله تعالی نه خوښوي هر متکبر فخر کونکی، نو له دې څخه د ده حال ظاهر دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الكذب مباح لإحياء حقه و دفع الظلم عن نفسه و المراد التعريض لأن عين الكذب حرام(الدر مع الرد كتاب الحظر و الإباحة. ط رشيديه)

د امام عیب لټول او ورسره دښمني کول

سوال: (۱۳۲۲) د امـام عیبونـه لټـول او ورسـره دښـمني کـول شـرعًا څنګـه دي؟ (۴۲/۳۴۰۴-۱۳۴۷ھ)

ځواب: جائز نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

د غوښي کیلو په دوو پیسو نه ورکونکي قصاب څخه اړیکي قطع کول

سوال: (۱۳۲۳) قصابانو په دوو پیسو د غوښو کیلو ورکاوی اوس په یوه آنه کیلو ورکوي او وايي چي اوس پسونه ګران شول او په دوو پیسو کیلو ورکولو زموږ نقصان دی اوس د یو قوم خلکو غوښه اخیستل بند کړو ان چي د دوی میلمستیا هم نه قبلوي او نه دوی ته میلمستیا کوي تر دي چي ګو له مسلمانۍ څخه خارج کړي دي. داسي خلک د کبیره ګناه کونکي شول او کنه؟ (۹۷۲/۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: په دوو پیسو کیلو ورکولو باندي مجبورول او د نه ورکولو په صورت دوی له کورنۍ ایستل ظلم دی او ظلم حرام دی. په حدیث شریف کي راغلي دي: الظلم ظلمات یوم القیامة(۱) او فرمايي: ألا لا تظلموا الحدیث(۲) فقط

د کار ورښودلو په وعده روپۍ اخیستونکی نه کار ورښيي او نه روپۍ بیرته ورکوي

سوال: (۱۳۲۴) کریم بخش او رحیم بخش و مولا بخش ته روپۍ ورکړي وې او مولا بخش ویلي ؤ چي ستاسو مصرف پر ما دی او تاسو ته به کار درزده کوم خو اوس دی له روپیو څخه انکار کوي نه کریم بخش ته روپۍ ورکوي او نه کار ورزده کوي، د څو خلکو په مخ کي کریم بخش وویل چي مولا بخش دي یا کار رازده کولو وعده وکړي یا دي د روپیو ادا کولو اقرار وکړي خلکو ورته وویل چي ته خاموش شه موږ د اسلام

---

(۱) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الظلم ظلمات یوم القیامة (صحیح البخاری: ۳۳۱/۱، ابواب المظالم و القصاص، باب الظلم ظلمات یوم القیامة و الصحیح لمسلم: ۳۲۰/۲، کتاب البر و الصلة و الادب، باب تحریم الظلم)

(۲) عن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه (مشکوة المصابیح، ص: ۲۵۵، کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة، الفصل الثانی)

همدردي کوي کريم بخش ورته وويل چي لومړی اصل معامله صفا کړئ بيا د اسلام همدردي وکړئ د دغه خلکو او مولا بخش او نورو په اړه څۀ حکم دی؟(۳۲/۸۰-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د سوال د صورت سره سم د کريم بخش او رحيم بخش هيڅ زياتوب نه معلوميږي، د مولا بخش زياتوب معلوميږي، د وعدې په خلاف کولو او د ورور روپۍ بيله کومي وجهي قبضه کول دا د ده له طرفه ښکاره ظلم دی، مولا بخش ته پکار دي چي د خپل ورور روپۍ ادا کړي، که کار ورزده کول خوښ نه دي نو دی په وه شه، مګر د وعدې په خلاف کولو ګناه پر ده ضرور شته او روپۍ په هر حال کي بيرته ورکول لازم دي او رحيم بخش چي کومي خبري د اسلام د همدردۍ په هکله وکړې هغه صحيح دي پر راتلونکيو خلکو لازم ؤ چي کومه خبره په دوی کي د جګړې باعث وه لومړی يې هغه صفا کړې وای او د دوی دروغه يې رو کړې وای، دا څه خبره شوه چي د اصل معاملې خو نوم نشته او د اسلام د همدردۍ دعوی کوي؟! فقط و الله تعالی اعلم

د توحيد د کلمې د ويلو امر کونکي ته غصه کونکي او سپکونکي لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۱۳۲۵) څو کسانو پخپل منځ کي د يوې دعوی فيصله کوله، غوث محمد ډير نيک د لمونځ او روژې پابند سړی دی، ده ورته وويل چي کلمه د توحيد ووايا ست کومو خلکو چي فيصله کوله هغو و غوث محمد ته ښه غصه وکړه او ذليل يې کړی، د دغه خلکو په هکله څۀ حکم دی؟(۳۲/۵۲۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: کومو خلکو چي غوث محمد ته غصه وکړه او دی يې سپک کړی او يو نيک مسلمان ته يې تکليف ورساوی او د حق کلمې پر ويلو او د هغه په امر کولو باندي ده ته غصه وکړه، هغه فاسقان او بې دينه دي، توبه دي وباسي. فقط

د ورور پر مال قبضه کول او د ده بچيان ايستل

سوال: (۱۳۲۶) يو سړی وفات شو، مال يې پاته شو، ورور د ده پر مال خو قبضه وکړه اما د ده ښځه او بچيان يې و ايستل، د داسي سړي سره اړيکي ساتل، سلام کلا ورسره کول څنګه دی؟(۳۳/۴۴۹-۱۳۳۴ھ)

ځواب: داسي سړی فاسق او ګنهکار دی اړیکي ورسره سائل بد دي. مسلمانانو ته پکار دي چي له دغه سړي څخه د دغه کونړه او ماشومانو ته خپله برخه وروا خلي. فقط و الله تعالی اعلم

د ورا (جنج) والو پر عالم ډبري (کاڼي) اورول

سوال: (۱۳۴۷) يو مولوي صاحب يو واده ته وراغلی هلته سره د منع کولو ورا والو ډول باجې وهل شروع کړو، مولوي صاحب ناراض شو له هغه ځايه بيرته راغلی. ورا والو پر مولوي صاحب ډبري و اورولې. شرعًا د دوی په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۱۵۸ھ)

ځواب: دا خلک فاسقان او ظالمان دي. پر دوی لازم دي چي له خپلو ناوړه او قبيح افعالو څخه توبه وباسي. فقط و الله تعالی اعلم

د وعدې په خلاف کول ښه کار نه دی

سوال: (۱۳۲۸) يو سړي وعده کړې وه چي زه به مدرسې ته ځمکه ورکوم او دا يې ويلي ؤ چي که مي ځمکه رانيوله نو د هغې قيمت زه ادا کوم خو ځمکه رانيول شوه مګر دی قيمت نه ورکوي او د خلافت مخالف دی، شرعًا د ده په هکله څهٔ حکم دی؟ (۱۳۴۰/۱۲۲۴ھ)

ځواب: د وس درلودلوس ره د وعدې په خلاف کول او له نيک کار څخه منع کيدل ښه نه دي او د خلافت په خلاف کول ګناه ده. فقط و الله تعالی اعلم

د رشوت او غلا بیان

د رشوت پیژندنه

سوال: (۱۳۶۹) د رشوت څه تعریف دی؟ (۱۳۳۹/۵۸۰ه)

ځواب: د رشوت تعریف علامه شامي رحمه الله داسي رانقل کړی دی چي رشوت د دې نوم دی چي سړی یې و قاضي یا ناقاضي ته ځکه ورکوي چي قاضي د ده د ګټې فیصله وکړي یا هغه ناقاضي، قاضي ودې ته آماده کړي چي څنګه د ورکونکي غوښتنه وي قال فی الشامي: و فی المصباح: الرشوة بالکسر: ما یعطیه الشخص الحاکم و غیره لیحکم له او یحمله علی ما یرید(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د رشوت د مال څه حکم دی؟

سوال: (۱۳۷۰) د رشوت د مال څه حکم دی؟ په دې څه کول پکار دي؟ (۵۱۸/۳۳-۱۳۳۴ه)

ځواب: د رشوت د پیسو اصل حکم دا دی چي له چا څخه یې اخیستي وي، هغه ته یې بیرته ورکړي، که هغه نه وي نو د هغه و وارثانو ته ورکړي یا یې په وبخښي، که مالک یا وارث نه وي معلوم نو بیا یې حکم دا دی چي فقیرانو ته د مالک له طرفه

---

(۱) رد المحتار کتاب القضاء، مطلب فی الکلام علی الرشوة و الهدية. ط رشیدیه

ورکړي، د ځان لپاره دي د ثواب طمع او امید نه ساتي بلکه همدا دي د ځآن لپاره غنیمت وبولي چي د ده غاړي خلاصي شي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

که د رشوت روپۍ بیرته ورکول مشکل وي نو څه کول پکار دي؟

سوال: (۱۳۷۱) له خلګو څخه چي مي په رشوت کي کومي روپۍ اخیستي وې هغه راڅخه مصرف شوې کوم جائیداد مي هم نه دی په رانیولی ځکه اوس بیرته ورکول مشکل دي نو په آخرت کي به مي غاړي څنګه خلاصیږي؟ (۵۰۹/۱۳۴۱هـ)

ځواب: د رشوت کومي روپۍ چي سړی ورکولای نشي پکي مشکل وي لکه چي د سوال له صورت څخه چي ظاهر دي نو له هغه څخه د خلاصون صورت دا هم کیدلای شي چي له کومو خلګو څخه چي یې رشوت اخیستی وي او بیرته یې نه دی ورکړی له هغو څخه بخښنه وغواړي او دوی ته وویل شي چي ستاسو چي کوم حقوق زما په ذمه دي هغه راوبخښئ نو په دغه صورت کي هم د سړي غاړي خلاصیږي. فقط و الله اعلم

له نقصان څخه د بچ کیدو لپاره رشوت ورکول

سوال: (۱۳۷۲) یو مسلمان سړی د ټیکې کار لکه د کور یا نالۍ جوړونه او نور په ټیکه باندي واخیستو ا د کار ختمولو د وعدې سره سم کار ختم کړی، اوس حکومتي کارکونکي او ټیکه ورکونکي بیله رشوت اخیستلو دغه ټیکه دار ډیر تنګوي که دي رشوت ورنکړی نو خامخا په یو رنګه تاوان ده ته رسوي، دغه راز بیله رشوت ورکولو نوموړی ټیکه دار نشي خلاصیدلای، په داسي صورت کي د ده لپاره له نقصان څخه د بچ کیدو لپاره او د خپل عزت بچاوولو لپاره او په آئنده کي ګټه کولو لپاره څه نغدي روپۍ یا د تحفې په توګه څه شیان پټ ورکول جائز دي او کنه؟ (۵۰۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: له نقصان څخه د بچ کیدو لپاره او د آبرو او عزت ساتلو لپاره رشوت ورکول جائز دی دلیله دفع المال للسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه و ماله و لاستخراج حق له لیس برشوة یعین فی حق الدافع الخ(۱) (۳۷۴/۵)

---

(۱) قال فی رد المحتار: و ان لم یجد المدیون و لا وارثه صاحب الدین و لا وارثه فتصدق المدیون او وارثه عن صاحب الدین برئ فی الآخرة الخ(الشامي کتاب اللقطة. ط رشیدیه)

سوال: (۱۳۷۳) که د کلي له پټواري څخه د نقصان رسيد و قوي انديښنه وي نو رشوت ورکول څنګه دي؟ او دغه رشوت د کاله څه مقرروول څنګه دي؟

ځواب: د مولانا اشرف علي صاحب (رحمه الله تعالى) له خوا: کله چي بيله ورکړي د ضرر خوف وي نو جائز دی. فقط و الله تعالى اعلم

يادونه: په دغه فتوی رشوت جائز شو دا صحيح ده او کنه؟ (۱۰۲۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د حضرت مفتي صاحب سلمه الله له خوا: د درمختار عبارت دا دی: لا بأس بالرشوة إذا خاف على دينه إلخ(۲) او په شامي کي راغلي دي: دفع المال لسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه و ماله و لاستخراج حق له ليس برشوة يعني في حق الدافع الخ() د شامي د عبارت حاصل دا دی چي د ظلم دفع کولو يا د خپل حق راخلاصولو لپاره که رشوت ورکول شي نو د ورکونکي په حق کي هغه رشوت نه دی يعني جائز دی ليکن د اخيستونکي لپاره حرام دی نو معلوم شو چي د احنافو مذهب همدا دی چي په داساي موقع باندي رشوت ورکول ګناه نه ده، ځکه چي دی مجبور دی چي بيله رشوت ورکولو په د ده د دين يا د ځان او مال نقصان وشي مګر اخيستونکي د حرام عمل کونکی او فاسق دی همدا مطلب د مولانا اشرف علي صاحب سلمه دی. فقط و الله تعالى اعلم

د حکومتي مأمور د حکومت له طرفه سپارل شوي کار باندي له خلګو څه اخيستل

سوال: (۱۳۷۴) کوم سړی چي حکومتي مأمور وي او د ده سره کوم ضروري کاغذ وي او دی دغه کاغذ د څه اخيستلو په وجه ورک کړي او چي کله څه ورکړي نو دی کاغذ راوباسي نو دا رشوت دی او کنه؟ (۳۰۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا څرګند رشوت دی. فقط و الله تعالى اعلم

د قاضي او ناقاضي ټولو لپاره رشوت اخيستل حرام دي

سوال: (۱۳۷۵) د قاضي او ناقاضي لپاره رشوت اخيستل څنګه دي؟ په القول الجميل کي حضرت شاه ولی الله رحمه الله چي کوم ځای د کبيره ګناهونو بيان کړی

---

(۱) حاشية ابن عابدين: كتاب الحظر و الإباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

(۲) الدر المختار و رد المحتار كتاب الحظر و الاباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

دی، هلته دا هم فرمايلي دي: و الرشوة فی الحکم(۱) زما په ذهن کي خو د دغه جملې مطلب دا راځي چي د حاکم او قاضي لپاره رشوت اخيستل کبيره ګناه او د ناحاکم او ناقاضي لپاره رشوت اخيستل جائز دی؟ (۱۱۵۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: رشوت اخيستل د حاکم او ناحاکم ټولو لپاره ناجايز دی او حضرت شاه ولی الله رحمه الله چي بيان کړی دی، هغه د رشوت غټ کس او فرد بيان کړی دی. مقصد يې حصر نه دی، په حديث شريف کي راغلي دي: من شفع لأخيه شفاعة فأهدی له هدية عليها، فقبلها فقد أتی بابا عظيما من ابواب الربا، رواه ابو داؤد(۲)

له دغه حديث څخه معلوم شو چي که چاته سفارش وکړي او په دغه وجه اړ سړی و سفارش کونکي ته څه ورکړي نو دا هم حرام دي او د سود په رنګه دي ښکاره خبره ده چي دا حرمت د رشوت کيدو په سبب دي، حال دا چي سفارش کونکيي قاضي نه دی. لنډه دا چي رشوت دا دی چي وسيله وګرځول شي، د مقصود حاصلولو لپاره بيله کومي مبادلې، مثلاً د کومو مأمورانو په ذمه چي کوم کار دی، د هغه پر کولو دوی له اړو خلګو څه واخلي نو دا رشوت دی ځکه چي دغه اخيستل بيله کوم حق او بيله کوم عوض دي، د دې عوض او اجرت دوی ته حکومت ورکوي، فی الحديث: لعن رسول الله صلی الله عليه وسلم الراشي و المرتشي رواه ابو داؤد و غيره(۳) قال فی المرقاة: قوله (الراشي و المرتشي) ای معطی الرشوة و آخذها و هی الوصلة الی الحاجة بالمصانعة و اصله عن الرشاء الذی يتوصل به الی الماء الخ(۴)

---

(۱) القول الجميل مع ترجمة شفاء العليل، ص: ۳٤، فی بيان الکبائر.

(۲) عن ابي امامة رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: من شفع الحديث(سنن ابي داؤد ٤۹۹/۲، کتاب البيوع، باب فی الهدية لقضاء الحاجة)

(۳) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله عليه وسلم الراشي: الحديث(سنن ابي داؤد: ۵۰٤/۲، کتاب القضاء، باب فی کراهية الرشوة)

(٤) مرقاة المفاتيح شرح مشکوة المصابيح: ۲۹۵/۷، کتاب الامارة و القضاء باب رزق الولاة و هداياهم، الفصل الثاني، حديث: ۳۷۵۳.

امام که له چا څخه روپۍ واخلي څپل امامت ورکړي؟

سوال: (۱۳۷۵) ... (الف) د یو مسجد امام کله چي خپل وطن ته تلی نو لـه یـو سړي څخه یې څه روپۍ واخیستې د ځان پر ځای باندي یې امام کړی، دغه روپۍ اخیستل او خوړل څنګه دي؟

(ب) نو موړي امام پر مؤذن باندي د درواغو الزام ولګاوی له مؤذنۍ څخه یې لیـري کړی او له بل چا څخه یې څه روپۍ واخیستې مؤذن یې مقرر کړی، دغه روپۍ اخیستل څنګه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۸۸۳هـ)

ځواب: (الف) دغه روپۍ اخیستل او خوړل ناروا دي او رشوت دی باید بیرته یې ورکړي

(ب) دغه روپۍ اخیستل او خوړل حرام دي. فقط و الله تعالی اعلم

د ریل ګاډۍ د مأمور له شره بچ کیدو لپاره څه ورکول

سوال: (۱۳۷۷) د ریل ګاډۍ مأمور د مال خیرولو، شوه کولو او ورلو راوړلو پر مهال تنګول کوي، او نقصان رارسوي که ده ته څه ورکړو نو کار کیږي او نقصان هم کم وشي، په داسي حالت کي د ده له شره بچ کیدو لپاره و ده ته څۀ ورکول جائز دي، که څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۷۷۲هـ)

ځواب: د دوی له ظلم او شر څخه بچ کیدو لپره ورکول صحیح دي.[1] فقط و الله تعالی اعلم

د رشوت په روپیو د بل سړي کاروبار کول

سوال: (۱۳۷۸) د یو سړي په رشوت اخیستي روپۍ د بل تاجر لپاره حرامي دي او که نه؟ (۱۳۳۷/۷۵۹هـ)

---

(۱) دفع المال للسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه و ماله و لاستخراج حق له لیس برشوة یعني في حق الدافع الخ(رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، فصل في البیع. ط رشیدیه)

ځواب: د رشوت روپۍ د ټولو په هکله حرامي دي چاته چي دا معلوم وي چي دا روپۍ د رشوت دي د هغه لپاره هغه په کار راوستل صحیح نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

و پولیسو ته څه ورکول رشوت دی

سوال: (۱۳۷۹) زما د اخاله زوی پولیس دی دی له کلیو څخه یو شی نه شی راوړي او وايي چي دا رشوت نه دی بلکه د ځینو خلګو لحاظ دی هغه لحاظ راکوي آیا د دغه شیانو استعمال کول جایز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۱۲هـ)

ځواب: دا رشوت دی په رشوت کیدو کي د دې څه شک دی؟ ځکه چي هر څوک څه ورکوي د پولیس والي په وجه یې ورکوي او دا د حدیث شریف: هلا جلست فی بیت ابیک و امک(۱) په حکم ظاهر دي چي که مأمور والی نه وای نو کور ناست سړي ته څوک څه ورکوي؟ فقط و الله تعالی اعلم

د اولسوال له خلګو څه اخیستل صحیح نه دي

سوال: (۱۳۸۰) ... (الف) زه د حکومت له طرفه اولسوال وټاکل شوم، دلته رواج دی چي کله اولسوال د کوم خان او ملک کره ورشي نو هغه په نذرانه کي څه ورکوي، دغه روپۍ اخیستل جائز دي او کنه؟

(ب) که څوک ماته د قاضي اولسوال کیدو په وجه زما سره محبت پیدا کولو لپاره څه شی مثلاً اوړه، وریجي، دال، سبزي او نور راکړي نو د هغه اخیستل څنګه دي؟

(ج) که خاص، خاص خلګ چي همیشه بیله اکراه په خوشحالي څه شیان راکوي، د هغه اخیستل څنګه دي؟

(د) آم او نور شیان اخیستل څنګه دي؟

---

(۱) عن ابي حميد الساعدي رضي الله عنه قال: استعمل رسول الله صلى الله عليه وسلم رجلا على صدقات نبي سليم يدعى ابن اللتبية، فلما جاء حسبه، قالهٔ هذا مالكم و هذا هدية، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فهلا جلست في بيت ابيک و امک حتى تأتيک هديتک ان كنت صادق الحديث (صحيح البخاري: ۱۰۳۳/۲، كتاب الحيل، باب احتيال العامل ليهدى له)

(۵) که کوم کښت کر د کښت کوم غوره شی راکوي نو اخیستل پکار دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۳۷۸ھ)

ځواب: په دغه ټولو بیان شویو صورتونو کي د اولسوال او نورو حکومتي مأمورینو له کلیوالو او خلکو څخه اخیستل صحیح نه دي دا ټول رشوت او حرام دي فقط و الله تعالی اعلم

د مسجد لپاره خښتي اخیستلو باندي له چندې څخه رشوت ورکول

سوال: (۱۳۸۱) یوه حکومتي بټۍ د خښتو زموږ د کلي سره نژدې ده موږ حکومت ته عرض وکړی چي زموږ د مسجد لپاره خښتي کپکار دي نو زموږ عرض ومنل شو اوس د بټۍ منشي پنځوس روپۍ رشوت غواړي او وایي چي زر خښتي په شل روپۍ درکوم، اوس د عامو خلکو له چندې څخه که رشوت ورکړو د مسجد لپاره خښتي رانیول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۵۹۳ھ)

ځواب: له نقصان څخه د بچ کیدو لپاره رشوت ورکول صحیح دي نو که په دغه رشوت ورکولو مسجد له نقصان څخه بچ کیدلای شي نو دا هم جائز دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د حکومتي مأمورانو مقرر کړی حق اخیستل او ورکول صحیح نه دی

سوال: (۱۳۸۲) زیاتره حکومتي مأمورانو له تنخواه پرته خپل یو حق مقرر کړی دی دغه روپۍ د مأمورانو اخیستل جایز دي او کنه؟ که حکومتي مأمور بل څوک د ځان نوکر کړي او دا ورته ووایي چي څه ماته راکول کیږي، د هغه حق دار ته یې، دا جایز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۵۸۰ھ)

ځواب: د حکومتي مأمورانو لپاره داسي حق اخیستل چي د دوی له تنخاه څخه پرته وي او په تنخواه کي داخل نه دي په هیڅ ډول جائز نه دي، دا رنګه اخیستل او ورکول رشوت دی چي شرعًا د اخیستونکي لپاره په هیڅ رنګه جائز نه دي، په شامي

---

(۱) لا بأس بالرشوة إذا خاف على دينه(الدر المختار مع الشامي كتاب لاحظر و الإباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه)

کي راغلي دي: قلت: و مثلهم مشايخ القرى و الحرف و غيرهم ممن لهم قهر و تسلط على من دونهم الخ(۱) اما د ورکونکي لپاره که د نه ورکولو په صورت د ضرر پيښيدو ويره وي نو د ده لپاره ګنجائش شته چي وريې کړي مګر د اخيستونکي لپاره بيا هم حرام دی، په شامي کي راغلي دي: الرابع ما يدفع لدفع الخوف من المدفوع اليه على نفسه او ماله حلال للدافع حراف على الآخذ لان دفع الضرر عن المسلم واجب و لا يجوز اخذ المال ليفعل الواجب الخ(۲) او داغه راز د حکومتي مأمور کوم بل ځوک نوکر کول او دا شرط لګول چي څه ماته ملاويږي. د هغه حقدر ته يې تر فاسده اجاره لانيد راځي. فقط و الله تعالى اعلم

د کار له وخت څخه زياتوب کار کول او پر هغه معاوضه اخيستل

سوال: (۱۳۸۳) زيد د ريل ګاډي مأمور دی، ده ته دوولس ساعته د کار کولو حکم دی خو دی د دوولسو پر ځای څورلس ساعته کار کوي په دې وجه که زيد د زياتوب وخت څه معاوضه واخلي نو جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۷۹۸هـ)

ځواب: د زيد لپاره دغه روپۍ اخيستل صحيح نه دي، رشوت دی. فقط و الله تعالى اعلم

په حکومتي مأمور زر کاله کولو لپاره روپۍ ورکول

سوال: (۱۳۸۴) ... (الف) په محکمو کي ځيني ليکونه په ترتيب سره نه پيدا کيږي يا مصرف زيات پر راځي ځکه اړ خلګ و مأمور ته څۀ ورکړي خپل کار په کوي دا رشوت دی او کنه؟

(ب) په ځينو کارونو کي اړ خلګ د دې غرض لپاره چي زما کار اوس راوکړه دوی و مأمورانو ته څه روپۍ ورکوي، که يې ورنکړي نو مأموران د دوی کار په ځنډ ورکوي نو دا اخيستل هم رشوت دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۱۱هـ)

ځواب: (الف) دا رشت دی، ورکول او اخيستل يې صحيح نه دي.

---

(۱) حاشية ابن عابدين كتاب القضاء، مطلب في حكم الهدية للمفتي. ط رشيديه

(۲) رد المحتار كتاب القضاء، مطلب في الكلام على الرشوة و الهدية. ط رشيديه

(ب) دا هم رشوت دی. فقط و الله تعالی اعلم

قباله پر نامه کولو د پټواري اجرت اخيستل

سوال: (۱۳۸۵) يو پټواري ته د ځمکي مالک راغلی او ورته يې وويل چي زما د ځمکي زما پر نامه قباله راجوړه کړه، ده ورجوړه کړه مګر د ځمکي له مالک سره اجرت نکړی معلوم، د ځمکي مالک سل روپۍ د پټواري ته ورکړې يا پټواري له مخکي څخه ورسره اجرت معلوم کړی نو په دغه دواړو صورتونو کي دا رشوت دی که څۀ فرق پکي شته؟ (۴۴/۲۲۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په دغه دواړو صورتونو کي هيڅ فرق نشته، رشوت دی. فقط و الله تعالی اعلم

د لاندي مأمورينو و پورته مأمورينو ته څه ورکول رشوت دی

سوال: (۱۳۸۲) د رشوت څه تعريف دی؟ و حکامو ته چي تر دوی لاندي مأمورين رشوت ورکوي د هغه اخيستل جائز دي او کنه؟ (۴۴/۱۵۵۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: د رشو تعريف يې په شامي کي داسي ليکلی دی: الرشوة: ما يعطيه الشخص الحاکم و غيره ليحکم له او ليحمله علی ما يريد(۱) و معلوم شو چي لاندي مأمورين چي پورته مأمورينو ته په نه زړه څه ورکوي هغه رشوت دی او حرام دی. فقط و الله تعالی اعلم

پر ووټ ورکولو روپۍ ايخستل او ورکول رشوت دی

سوال: (۱۳۸۷) ووټ ورکونکيو ته روپۍ ورکول او د دوی لپاره اخيستل جائز دي که رشوت دی؟ (۱۳۴۵/۱۰۰۵هـ)

ځواب: پر ووټ روپۍ ورکول او اخيستل جائز نه دي، رشوت دی. فقط و الله اعلم

(۱) حاشية ابن عابدين کتاب القضاء، مطلب فی الکلام علی الشوة و الهدية. ط رشيديه

د رشوت خور کره ډوډۍ خوړل او ورسره اړیکي ساتل

سوال: (۱۳۸۸) رشوت په ښکاره اخیستل په دې فکر چې زما حق دی جائز دی او کنه؟ او د رشوت اخیستونکي سره اړیکي ساتل ا د ده د کور ډوډۍ خوړل جائز دي او کنه؟ (۳۲۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: رشـوت اخیسـتل حـرام دی او دا خپـل حـق بلـل غلـط دی ا د رشـوت اخیستونکي که بله د حلالي آمدنۍ وسیله هم ي مثلاً تنخواه او نور نو د هغ کره ډوډۍ خوړل صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د خپلي لور پر نکاح له زوم یا د هغه له ولي څخه روپۍ اخیستل

سوال: (۱۳۸۹) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغـه مسئله کي چي یو سړی د خپلي لور په نکاح کي د زوم له ولي سره په دې شرط خبره وکړه چي کـه تـه ما ته شل دیرش روپۍ راکوې نو زه د خپلي لور نکاح ستا د زوی سره کوم کنې نه یې کوم نو په دغه صورت کي دغه روپۍ اخیستل څنګه دي؟ (۳۰۵/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: و الله ملهم للحق و الصواب. جواب دا دی چي د پلار د خپلي لور پـه نکاح کي د زوم له ولي څخه روپۍ اخیستل او بیله روپۍ اخیستلو نکاح نه ورکول لکه چي په سوال کي لیکلي دي او دغه روپۍ پخپل کار کي لګول صحیح نه دي، بلکه حرام دي ځکه چي دا اخیستل د ولي رشوت دی او د رشوت اخیستل او ورکول دواړه حرام دي او کومي روپۍ چي په رشوت کي اخیستل کیږي هغه د مرتشي پـه قـبض کولـو د ده پـه ملک کي نه راځي بلکیه راشي هغسي د دې مالک وي نو پر مرتشي باندي لازم دي چي دغه روپۍ بیرته ورکړي او راشي دي یې بیرته واخلي کما فی الدر المختـار: اخذ اهل المرأة شیئا عند التسلیم فللزوج ان یسترده لأنه رشوة و ذکر فی الشامي: قولـه: (عنـد التسلیم) ای بأن ابي أن یسلمها اخوها انو نحوه حتی یأخذ شیئا، و کذا لـو أبـی ان یزوجها فللزوج الاسترداد قائما او هالکا لأنه رشوة بزازیة(۱) (۵۰۱/۲)

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار کتاب النکاح، باب المهر قبل مطلب فی دعوی الآب ان الجهاز عاریة. ط رشیدیه

او داغه راز په شامي کي راغلي دي: الرشوة يجب ردها و لا تملک(۱) او په فتاوی خيريه کي راغلي دي: سئل فی إمرأة ابی اقاربها أن يزوجها إلا أن يدفع لهم الزوج كذ فوعدهم به هل يلزم ام لا؟ اجاب: لا يلزم ول و دفع فله ان يأخذه قائما او هالكا لأنه رشوة كما فی البزازية(۲) او په طحطاوي کي دي: هر هغه مال حرام دی چي د نکاح په منځ کي يې واخلي او په ترمذي کي له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی: قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي و المرتشي(۳)

سوال: (۱۳۹۰) تر نکاح مخکي له زوم څخه د انجلۍ د پلار روپۍ اخيستل صحيح دي او که؟ (۱۱۲۰/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: دغه روپۍ اخيستل صحيح نه دي، دا رشوت او حرام دی. فقط و الله تعالی اعلم

له زوم څخه د واده ميلمنو خوړولو لپاره روپۍ اخيستل

سوال: (۱۳۹۱) په ځينو وطنو کي رواج دی چي په واده کي د ناوي کوروالا له زوم څخه روپۍ اخلي او په دغه روپۍ خلکو ته ډوډۍ ورکوي، بيا دغه روپۍ کله په مهر کي وشميري او کله يې نه شميري، لنډه دا چي دغه ډوډۍ خوړل روا دي که ناروا؟ او له ناوي څخه اجازه اخيستل ضروري ده او کنه؟ (۱۲۰۷/۱۳۴۳ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: اخذ اهل المرأة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده لأنه رشوة(۴) او دا هم په در مختار کي راغلي دي: لأبی الصغير المطالبة

---

(۱) رد المحتار كتاب القضاء، مطلاب فی اكلام علی الرشوة و الهدية. ط رشيديه

(۲) الفتاوی الخيرية لنفع البرية: ۲۸/۱، كتاب النكاح، باب المهر.

(۳) جامع الترمذی: ۲٤۸/۱، ابو آب الاحكام، باب ما جاء فی الراشي و المرتشي فی الحكم.

(٤) الدر المختار مع الشامي كتاب لانكاح، پاب المهر، قبل مطلب فی دعوی الادب ان الجهاز عارية. ط رشيديه

بالمهر إلخ(۱) او په شامي کي راغلي دي: و الصغيرة غير قيد ففي الهندية للأب و الجد و القاضي قبض صداق البكر صغيرة كانت او كبيرة إلا إذا نهته و هي بالغة إلخ(۳)

د درمختار له لومړي روايت څخه ثابت دي چي د ناوي کورنۍ چي د نکاح يا سپارلو په وجه د خاوند يا د خاوند له کورنۍ کومي روپۍ اخلي هغه حرامي او رشوت دي. بيرته ورکول لازم دي او په دوهم روايت و پلار ته د مهر د غوښتني حق شته. ليکن ښکاره خبره ده چي دا د ده سره امانت دی او د دې مصرفول بې د بالغي انجلۍ له رضا صحيح نه دي فقط و الله تعالى اعلم

د چا چي مال غلا شي هغه ته ثواب او غلا کونکي ته عذاب ورکول کيږي

سوال: (۱۳۹۲) يو سړي پخپل آخري وخت کي د مرګ لپاره يو څۀ اشرفۍ او څه روپۍ له زکوة ايستلو وروسته کښيښودي له ده څخه چا غلا کړې آيا دغه د مال مالک ته به ثواب وي او کنه؟ او د قيامت په ورځ به هغه غل ته سزا ورکول کيږي او کنه؟ (۸۱/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: د کوم چا مال چي غلا شي د هغه لپاره دا صدقه وي او ده به د هغه ثواب ورکول کيږي، په حديث شريف کي راغلي دي و ما سرق منه له صدقة(۲) يعني څه چي غلا شي هغه د ده لپاهر صدقه ده او د غلا کونکي غاړي بندي دي، د هغه نيکی به دغه سړي ته ورکول کيږي، د چا چي مال غلا کړی دی او که و دغه غل ته چي مال يې غلا کړی دی مال وروبخښل شي نو د قيامت په ورځ به ډير ثواب ده ته ورکول شي او د غل به هم غاړي نه يو بندي . دا ښه دي فقط و الله تعالى اعلم

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار كتاب النكاح، باب المهر. مطلب: لابى الصغيرة المطالبة بالمهر ط رشيديه

(۲) عن جابر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما من مسلم يغرس غرسًا الا كان ما اكل منه له صدقه و م سرق منه له صدقة الحديث (الصحيح لمسلم: ۲/۱۵، كتاب لامساقاة و المزارعة. باب فضل العرس و الزرع)

غلا کونکی فاسق دی

سوال: (۱۳۹۳) د فسق شرعًا څه تعریف دی؟ تنبستونکی او غل هم فاسقان دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۵۴ھ)

ځواب: د کبیره ګناه کونکي یا د فرض پریښودونکي فاسق دی(۱) تنبستونکی (یعني بې لاري کونکی) او سارق د کبیره ګناه کونکی دی، لهذا دا دواړه هم فاسقان دي فقط و الله تعالی اعلم

توبه ایستونکی که د غلا مال بیرته ورکولو څخه عاجز وي نو...

سوال: (۱۳۹۴) زید له څو کلونو راهیسي روژې خوړلې او لمنځونه یې نه کول، په شرابو، زنا او غلا اخته ؤ، اوس ده په اخلاص سره توبه و ایستله او د لمانځه او روژې پابند شو او د لمونځونو قضاء راوړل یې هم شروع کړي دي مګر د روژو او غلا له قضا راوړلو څخه عاجز دی له دغه دواو څخه به څنګه ورته خلاصي شي؟ (۱۱۹۳/۴۴-۱۳۴۵ھ)

ځواب: د روژو دي هم قضا راوړي او په سرقه او غصب کي دي دا وکړي چي څه ادا کولای شي ادا دي یې کړي او کوم څه چي نشي ادا کولای نو له چا څخه چي یې غلا کړې ده له هغه څخه یا د هغه له وراثانو څخه دي معافي واخلي.

په ریل ګاډۍ کي بیله ټکټه سفر کول یا زیات سامان وړل

سوال: (۱۳۹۵) د ځینو خلګو خیال دی چي د حکومت په شیانو کي که څه هم بیله اجازته او بیله خبر ورکولو تصرف وکړل شي نو دا غلا هم نه ده، په ریل ګاډۍ کي بیله کرایه ورکولو او ټکټ اخیستلو سپریږي دا صحیح دي او کنه؟ (۱۸۴۲/۱۳۳۷ھ)

ځواب: دا غلطه خبره ده چي په حکومتي شیانو کي بیله صراحتًا یا د لالة اجازته تصرف صحیح دی او دا حرامه غلا نه ده نو بیله کرایه او نورو ادا کولو په ریل ګاډۍ کي

---

(۱) قوله: (و فاسق) من الفسق: و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر و الزاني، و آکل الربا و نحو ذلک(رد المحتار کتاب الصلاة، باب الامامة، مطلب في تکرار الجماعة في المسجد. ط رشیدیه)

سپړبدل ناجائز دي او زيات سامان پکي وړل هم بيله اجازته صحيح نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

حيلي او بانې کونکي څخه خپل حق پټ اخيستل

سوال: (۱۳۹۶) د يو سړي پر بل لس روپۍ باندي دي او س يې هغه‌نه ادا کوي، ډيره موده وشوه، دغه پور ورکونکی په غلا د هغه له پيټی څخه راوکښېنو اړي يې بندي دي او کنه؟ (۲۱۲۰/۱۳۳۸هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د خپل حق په اخيستلو غاړي نه دي بندي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د پلار لپاره په غلا د زوی مال اخيستل جائز دی او کنه؟

سوال: (۱۳۹۷) پلار که د زوی مال په غلا واخلي نو د پلار غاړي بندي دي او کنه؟ (۲۱۲۰/۱۳۳۸هـ)

ځواب: د پلار لپاره د زوی مال په غلا اخيستل جائز نه دی ليکن که نفقه واجب وي نو اخيستلای يې شي(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د ځمکي د مالک بې اجازته د هغه له ونو شات اخيستل

سوال: (۱۳۹۸) د ځمکي د مالک پر درختو شات لګيدلي وي د ځکي مالک خلک منع کوي روپۍ څني واخلي يا داغسي چاته په اجازه ورکړي که څ،ک يې په غلا شات (ګبين) يوسي نو جائز دي او کنه؟ (۹۱۳/۱۳۳۹هـ)

ځواب: بې د درختو د مالک له اجازې شات نه دي وړل پکار. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) د حق په جنس اخيستلو کي هيڅ اختلاف نشته ۱۲ سعيد احمد پالن پوري

(۲) عن عائشة رضى الله عنها عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال: ولد الرجل من كسبه و من أطيب كسبه فكلوا من اموالهم (سنن ابي داؤد، ص: ٤٩٨، كتاب البيوع، باب الرجل يأكل من مال ولده)

﴿ فى البذل: فطيب له الأكل من مال ولده، و قيده الفقهاء بالحاجة اى اذا احتاج اليه و اما إذا لم يحتج فلا يجوز له الأكل إلا إذنه (بذل المجهود: ٢٩٥/٤، كتاب البيوع، باب الرجل يأكل من ماله ولده، المطبوعة: مطبعة النظام للمكتبة اليحويه، مظاهر علوم، سهارنپور)

د غلا په شک کې له نوکر څخه تاوان اخیستونکی خپل مال په کور کې پید کړې اوس نوکر نشته نو د ده په مال څه وکړي؟

سوال: (١٣٩٩) زما په کور کې یوه جوړه بنګړي د سرو زرو ورک شو زمونږ شک پر یو مزدور ؤ له هغه څخه مې خلوېښت زره روپۍ تاوان واخیستی، څه موده وروسته هغه بنګړي بیرته په کور کې پیدا شو نو د هغه مزدور پوښتنه مې وکړه خو هغه اوس نشته نه پیدا کیږئ زما رایه دا ده چې دغه خلوېښت زره روپۍ د انګوره لپاره شوې چنده کې ورکړم، آیا ټولې پر یو ځای ورکړم که لږ، لږ ورکړم او جائز دي کنه؟ (١٣٤٠/٤٨٥هـ)

ځواب: د انګوره په چنده یا د سرنا د مظلومانو لپاره د دغه روپیو ورکول جائز دي که ټولې یو ځای ورکوې او که لږ، لږ ورکوي، لیکن که دې هغه مزدور پیدا کړي نو هغه ته به دومره روپۍ ورکوي، اما که هغه په دې راضي شو چې ښه دې کړې دې چې دغه روپۍ دې په فلانۍ چنده کې ورکړې دې نو بیا به د ده له طرفه په دغه چنده کې ورکړې بلل کیږي او بیا ده ته دغه روپۍ ورکول نه غواړې فقط

د غلا څه سامان غلا راوړی او د ځینې په هکله قسم اخلې چې ما نه دې اخیستی نو...

سوال: (١٤٠٠) د زید څو قسم مالونه عمر غلا کړو، کله چې عمر ونیول شو نو ځینې مال یعنې جامې، زیور او څه نغدې روپۍ یې راوړې، یو د اتو سوو نوټو د هغه په هکله دی په قسم سره وای یچې ما نه لیدلی دی او نه مې غلا کړی دی، زید وایي چې همده غلا کړې دې او د مدعی زید څلور ګواهان وایي چې د اتو سؤ نوټ یقیناً ورک شوی دی خو دا مونږ ته نه دی معلوم چې عمر اخیستی دی یا کوم بل چا ګواهان معتبره عادلان دې او عمر فاسق فاجر دی او د درواغو قسمونه اخیستل د ده کار دی، په دغه صورت کې د عمر قول معتبر دی که د زید دعوی ثابته ده؟ (١٣٤١/١٤٢٣هـ)

ځواب: کله چې ګواهان د دغه خبرې موجود نشته چې عمر دغه نوټ غلا کړی دی نو پر عمر د نوټونو غلا ثابته نه ده او انکار د ده په دې هکله معتبر دی لأن البينة للمدعی و اليمين على من أنكر(١) فقط و الله تعالى

(١) قواعد الفقه، ص: ٦٦، قاعده: ٦٦.

د چا مال چي غلا کړی ؤ په هغو کي څوک مړه او څوک ژوندی دی اوس غل توبه اوباسي نو د خلګو حقونه څرنګه ادا کړي؟

سوال: (۱۴۰۱) زید د غلا عادي ؤ، ده په سلګونو خلګو څخه غلاوي کړي دي چي په هغو کي زیاتره وفات شوي دي او زیاتره ژوندي هم دي مګر زید اوس پوره په خبر نه دی چي د کوم چا مال مي غلا کړی ؤ او څومره ؤ؟ ځکه چي زید اوس توبه اوباسي او غواړي چي د بندګانو حقونه پر ما پاته نشي او څه نا څه زید دا هم معلوم ولای شي چي د فالني سړي مال مي غلا کړی مګر شمیر معلوم نه دی، نو اوس که زید دومره توان لري چي مال یې د چا غلا کړی دی هغو ي د هغو وارثانو ته یې ورکړي خو زید اوس شرمیږي او مجبور دی او که زید دومره توان نلري چي خلګو ته مال بیرته روکړي نو په دغه ټولو صورتونو کي د زید لپاره شرعًا څه حکم دی؟ دی څه وکړي؟ (۱۱۲۱/۱۳۴۲هـ)

ځواب: په شرح فقه اکبر کي د دې په اړه دا تفصیل لیکلی دی: و فی القنية: رجل عليه ديون لأناس لا يعرفهم من غصوب و مظالم و جنايات، يتصدق بقدرها على الفقراء على عزيمة القضاء: إن وجدهم مع التوبة إلى الله فيعذر و لو صرف ذلک المال إلى الوالدين و المولودين ای الفقراء يصير معذورا و فيها ايضا: ديون لأناس شتى كزيادة فى الأخذ و نقص فى الدفع فلو تحرى فى ذلک و تصدق بثوب قوم پذلک يخرج عن العهدة، قال: فعرف بهذا ان فى هذا لا يشترط التصدق بجنس ما عليه و فى الفتاوى قاضى خان: رجل له حق على خصم فمات و لا وارث له، تصدق عن صاحب الحق بقدر ما ماله عليه، ليكون وديعة عند الله يوصلها إلى خصمائه يوم القيامة، و إذا المصب مسلم من ذي مالا او سرق منه فإنه يعاقب به يوم القيامة الخ، ثم هل يكفيه ان يقول لک على دين فاجعلنى فى حل ام لا بد ان يعين مقداره الخ، فأفتى البعض بالأول و البعض بالثانى(۱) و فى رد المحتار: و الحاصل: أنه إن علم أرباب الاموال وجبة

(۱) شرح الفقه الأكبر لملا على القاري، ص: ۱۹٤، بيان أقسام التوبة، المطبوعة: مذبع مجتبائى دهلى و لكن قوله: "فأفتى البعض بالأول و البعض بالثاني" لعله اضاف فضيلة الشيخ المفتى عزيز الرحمان قدس سره و أشار الشيخ بهذا إلى الاختلاف الواقع فى هذه المسئلة و هو هذا: ففى النوازل: رجل له على آخر دين و

رده علیهم و الا فان علم عین الحرام (کالسرقه مثلاً) لا ی حل له و ی تصدق به بنیه صاحبه(۱) نو له دغه عبارتو نو څخه څرګند شو چي له توبې او استغفار څخه سربېره ورکول د حرام مال لازم دي، که د مال مالک معلوم وي یا بیرته ورکول د دوی وارثانو ته که د مال مالکان موجود نه وي او که مالکان د مال معلوم نه وي نو د دومره مال صدقه کول پر مسکینانو د دوی له طرفه واجب دي او که د ورکولو توان نلري نو له مالکانو یا د دوی له وارثانو بخښنه غوښتل لازمي ده او معامله خو د حقوق العباد ده او عذاب د دې سخت دی څکه په دې کې شرم نه ید پکار داسي پیغور د خلاصون سبب دی د او رانه عذابه. فیختار العار علی النار په شرح فقه اکبر کي دا هم رانقل کړي دي ان الابراء عن الحقوق المجهولة جائز عندنا الخ(۲) نو په دې وجه په دغه طریقه هم بخښنه کفایت کوي چي د مال مالک یا د هغه و وارثانو ته ووايي چي کوم څه حق ستاسو پر ما شته هغه را وبخښئ. فقط و الله تعالی اعلم

که غل د ادا کولو وس نلري نو څه به کوي؟

سوال: (۱۴۰۲) زید په یو وخت کي د بکر یو شی غلا کړی ؤ بکر وفات شو او س یې زید څه ډول ادا کړي؟ او له دغه ګناه څنګه ځان پاک کړي؟ که زید د ادا کولو وس نلري نو څه وکړي؟ (۱۳۴۵/۱۴۳۲هـ)

هو لا یعلم بجمیع ذلک. فقال له المدیون: ابر أني ممالک علی، فقال لادائن: ابراتک. قال نصیر رحمة الله علیه لا یبرأ إلا عن مقدار ما یتوهم ای یظن أنه علیه و قال محمد بن سلمة رحمة الله علیه یبرأ عن الکل قال الفقیه ابو اللیث: حکم القضاء ما قاله محمد بن سلمة رحمة الله علیه و حکم الآخرة ما قاله نصیر رحمة الله علیه و اما دیانة فعند محمد رحمة الله علیه لا یبرأ و عند ابي یوسف رحمة الله علیه یبرأ و علیه الفتوی. انتهی. و فیه أنه خلاف ما اختاره ابو اللیث و لعل قوله مبنی علی التقوی إلخ (شرح الفقه الأکبر لملا علی القاري، ص ۱۹۴. بیان اقسام التوبة)

(۱) الشامي کتاب البیوع. مطلب فی من ورث مالاً حراما ط رشیدیه

(۲) شرح الفقه الاکبر، ص ۱۹۴. بیان اقسام التوبة

ځواب: که د بکر وارثان موجود وي نو معافي دي ځني واخلي کنې پر مسکینانو باندي دي صدقه کړي او که دا هم نشي کیدلای نو توبه دي اوباسي استغفار دي وایي او د بکر لپاره دي مغفرت دعا او د ده و روح ته دي د نیکو کارونو ثواب وبخښي. فقط و الله تعالی اعلم

د غلا ګناه څه ډول معافیږي؟

سوال: (۱۴۰۳) د شب قدر په ورځ خو کسانو په ګډه د یو چا چرګه غلا کړه، وې خوړه اوس دوی له دغه ګناه څه ډول پاکیدلای شي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۲۴هـ)

ځواب: د چا چرګه چي یې غلا کړې ده، هغه ته ید بیه ورکړي او معافي دي ځني واخلي او توبه دي وباسي نو ان شاء الله ګناه به یې معاف شي. فقط و الله تعالی اعلم

د خپل مال راخلاصولو لپاره و غل ته څهٔ روپۍ ورکول

سوال: (۱۴۰۴) د زید د زرو روپیو آس ؤ، غله بوتلی، اوس غل و زید ته وایي چي که سل روپۍ راکړې نو ستا آس به درکړم، آیا شرعًا د زید لپارهه سل روپۍ ورکول جائز دي؟ (۱۳۴۳/۴۳۷هـ)

ځواب: د خپل آس راخلاصولو لپاره زید سل روپۍ ورکولای شي، اما که هغه واقعي غل دی نو د ده لپاره سل روپۍ اخیستل منع دي بلکه دوی ته پکار دي چي داغسي آس بیرته ورکړي، لنډه دا چي زید نه دی ګنهکار. فقط و الله تعالی اعلم

د امانت روپۍ د خپلو روپیو سره ګډولو وروسته ورکي شوې نو څه حکم دی؟

سوال: (۱۴۰۵) زید چي حج ته تلی د بکر سره څه روپۍ امانت کښیښودې چي کله ضرورت وي زما له طرفه ته مصرفوه، بکر د زید و مختته هغه روپۍ په همیانۍ کي واچولې خو ناڅاپه هغه همیانۍ د روپیو سره غلا شوه اوس زید له بکر څخه تاوان اخیستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۹۹هـ)

ځواب: زید خپلې روپۍ له بکر څخه وغواړي غوښتلای یې شي، د زید په غوښتنه به بکر هغه روپۍ ورکوي، و کذا فی الدر المختار: و کذا لو خلطها المودع بجنسها او

بغیره بماله او مال آخر ... بغیر اذن المالک بحیث لا تتمیز الخ ضمنها الخ(۱) فقط و الله اعلم

بزګر چي کومه غله جبرًا یا په غلا وروګرځوله د هغه حکم

سوال: (۱۴۰۶) که بزګر څه غله د ځمکي د مالک بې اجازته په غلا یا جبرًا وروګرځوي نو دا غلا ده او کنه؟ او غاړي یې بندي دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۹۰۷هـ)

ځواب: بزګر چي هر څومره غله په غلا یا جبرًا ورګرځولې ده، په هغه یې ضرور غاړي بندي دي او غلا بلله کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

د کافر مال بې اجازته خوړل صحیح نه دی؟

سوال: (۱۴۰۷) نن صبا دا خبره مشهوره ده چي د کافر مال خوړل جائز دی، دا خبره صحیح ده او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۰۳۵هـ)

ځواب: دا خبره صحیح نه ده چي د کافر مال مطلقًا جائز دی بلکه بې د مالک له اجازې د هیچا مال خوړل صحیح نه دی، د ذمي کافر مال غلا کول یا غصب کول همداسي حرام دی لکه د مسلمان مال چي غلا کول او غصب کول حرام دی(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د غلا پسه چي په تکبیر سره حلال کړي نو خوراک څني څنګه دی؟

سوال: (۱۴۰۸) زید د مسلمان پسه او عمر د کافر پسه غلا کړی په تکبیر سره یې حلال کړی نو کوم یو حیوان حلال دی؟ او کوم یو حرام؟ (۱۳۴۵/۵۹۲هـ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي كتاب الايداع. ط رشيديه

(۲) عن ابي حرة الرقاشي عمن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا، الا ل يحل مال امرئ ال بطيب نفس منه(مشكوة المصابيح، ص: ۲۵۵، كتاب البيوع، باب الغصب و العارية)

و فى المرقاة: قوله: (لا يحل مال امرئ) اى مسلم او ذمى (مرقاة المفاتيح شرشرح مشكوة المصابيح ۱۳۵/۶، كتاب البيوع، باب الغصب و العارية، الفصل الثاني، رقم الحديث: ۲۹۴۶)

ځواب: پر دواړو د پسه ضمان لازم دی او تر ضمان ادا کولو وروسته د دواړو لپاره خوراک ځني حلال دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

آیا د غلا پر حیوان د حلالولو پر مهال بسم الله ویل کفر دی؟

سوال: (۱۴۰۹) یو سړي یو شی غلا کړی او س تکبیر پر ویل جائز دي او کنه؟ او د تکبیر ویونکي په اړه څه حکم دی؟ (۱۹۴۴/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په در مختارا کي لیکلي دي چي یو چا د غلا وزه په بسم الله ویلو حلاله کړه بیا مالک راغلی دی اصح خبره دا ده چي دا وزه مه خورئ ځکه چي چا پر حرام بسم الله وویله هغه کافر شو(۲) او د کافر ذبیحه خوړل ناروا دي، د در مختار عبارت دا دی:

---

(۱) فان ذبح شاة غیره و نحوها مما یؤکل طرحها المالک علیه و اخذ قیمتها او اخذها و ضمنه نقصانها(و فیه ایضا قیل السطر) ضمنه و ملکه بلاحل انتفاع قبل اداء ضمانه ای رضا مالکه بادا او ابراء او تضمین قاصی و القیاس حله و هـ روایة ... کذبح شاة ... ای شاة غیره (الدر المختار مع الشامی کتاب الغصب، مطلب شری دار او سکنها فظهرت لوقف او یتیم وجب الأجر و هو المعتمد. ط رشیدیه)

(۲) دا قول صحیح نه دی او مفتی به قول دا دی چي پر قذڅي حرام بسم الله ویل کفر نه دی، په غایة الاوطار کي راغلي دي او دا خبره چي پر قطعي حرامو بسم الله ویل کفر دی نو معتمد قول دا بد چي په دي نه کافر کېږي بلکه کله چي دا حلال وبولي نو کافر کېږي او د تسمية علی الحرام څخه اعتقاد د حلت لازم نه دی او د دي مؤید د فقهاء دا قول دی چي د غصب کړي وزې قرباني صحیح ده لکه چي په مجتبی کي راغلي دي چي چا وزه غصب کړه او قرباني يې کړه نو د هغې د قیمت تاوان پر ده لازم شو او قرباني ادا شوه ځکه چي په سابق غصب دی مالک وګرځېدی، کذ فی الطحطاوي(غایة الاوطار اردو ترجمه الدر المختار: ۳۱۰/٤، آخر کتاب الصید)

او په شامي کي راغلي دي: و فیه نظر لأن المعتمد خلافه بدلیل قولهم بصحة التضحیة بشاة لاغصب و اختلافهم فی صحتها بشاة الودیعة و لهذا قال السائحاني: اقول هذا ینافی ما تقدم فی الغصب و فی الأضحیة فلا یعول علیه(الدر مع الرد آخر کتاب الصید. ط رشیدیه)

سرق شاة فذبحها بتسمية فوجد صاحبها هل تؤكل؟ الأصح لا ، لكفره بتسميته على الحرام القطعي بلا تملك و لا إذن شرعي اهـ(۱)

د سلام مصافحې(د لاس روغبړ) او معانقې(د غیږې روغبړ) آداب

د السلام علیکم ویلو پر مهال په لاس اوس راشاره کول

سوال: (۱۴۱۰) زیاتره کشارن خلک و غتو خلکو ته د آداب او تسلیم الفاظ وایي، په دې وجه اوس که کوم سړی د کښتي درجې وي و دوی ته السلام علیکم ووایي نو دوی یې بد ګڼي او ناراضه کیږئ لیکن څو کسان دي چې سره د دغه خبرو السلام علیکم وایي نو که السلام علیکم پر مهال لاس ورته پورته کړي یا سر د شاارې په توګه ورته ونبوروي چې ورته ټیټول وایي نو جائز دي؟ د ساي وکړو او کنه؟ (۱۳۳۷/۹۲۱هـ)

ځواب: د چا په بد ګڼلو سنت طریقه مه پریږدئ، السلام علیکم ورته وایاست، په لاس او سر اشارې مه کوئ(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د السلام علیکم پر ځای د آداب او نورو الفاظ استعمالول

سوال: (۱۴۱۱) لفظ د السلام علیکم بې ادبي بلل د دې پر ځای د تعظیم لپاره د ادب لفظ یا بل داسي لفظ په ژبه یا کتابت کي استعمالول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۷۵۳هـ)

ځواب: داسي کول د سنت خلاف دي فقط و الله تعالی اعلم

سلام علیکم ویل غلط دي

سوال: (۱۴۱۲) د السلام علیکم پر ځای سلام علیکم ویلو باندي اعتراض کول څنګه دی؟ (۱۳۳۷/۱۱۷۱هـ)

ځواب: سلام علیکم غلط دی له دې څخه په کتابونو کي منع راغلې ده(۱) السلام علیکم ویل صحیح دي فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار مع الشامي كتاب الصيد، قبيل كتاب الرهن. ط رشيديه

(۲) عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ليس منا من تشبه بغيرنا، لا تشبهوا باليهود و لا بالنصارى فإن تسليم اليهود الإشارة بالأصبع، و تسليم النصارى الإشارة بالأكف (مشكوة المصابيح، ص: ۳۹۹، كتاب الآداب، باب السلام، الفصل الثاني)

د مسلمان و مسلمان ته و السلام علی من اتبع الهدی لیکل

سوال: (۱۴۱۳) و السلام علی من اتبع الهدی مسلمان و مسلمان ته لیکلای شي او کنه؟ (۱۴۵۵/۱۳۳۷هـ)

ځواب: مسلمان و مسلمان ته هم و السلام علی مر اتبع الهدی لیکلای شي ځکه چي د دې حاصل همدا دی چي پر هغه چا دي سلامتي وي چي د هدايت پيروي کوي نو مسلمان چي د هدايت پيروي کونکی دی هغه ته هم سلام وشو. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۱۴) زيد و عمر ته په خط کي د السلام عليکم پر ځای السلام علی من اتبع الهدی وليکئ، عمر وايي چي دا سلام د کافرانو لپاره دی، زيد پر ما د کافر خيال کوي حالانکه زه خو مسلمان يم، دا سلام د کافرانو لپاره خاص دی که مسلمانانو ته يې هم کولای شي؟ (۳۲۹۲/۴۶-۱۳۴۷هـ)

ځواب: و مسلمان ته هم السلام علی من اتبع الهدی ليکل جائز دي او دا ويل او بلل غلط دي چي دا سلام د کافرانو لپاره دی، اما داسي شخص د سنتو ترک کونکی ضرور دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۱۵) که څوک و چاته په خط کي السلام علی من اتبع الهدی وليکي نو په دې سره سړی ولي دا فکر ونکړي چي مخاطب کافر دی، ځکه چي دا الهي حکم د فرعون سره خطا کولو لپاره و حضرت موسی او حضرت هارون عليهما الصلاة و السلام ته شوی دی. (۳۴۲۹/۴۶-۱۳۴۷هـ)

ځواب: و مسلمان ته په خط کي السلام علی من التبع الهدی ليکل جايز دي او له دې څخه دا نه لازميږي او دا فکر نه وي چي مخاطب او مکتوب اليه کافر دی، و العياذ

---

(۱) سلام عليکم ويل غلط دی مګر د دې مي کومه حواله ونه موندله، هو سلام عليکم ويل صحيح دی. په شامي کي راغلي دي: که په سلام پيل کونکي سلام عليکم يا السلام عليکم ووايي نو جواب ورکونکی دي په دواړو صورتونو کي سلام عليکم يا السلام عليکم ووايي ليکن السلام عليکم ويل غوره دی و ان قال المبتدئ سلام عليکم او السلام عليکم فللمجيب ان يقول فی الصورتين سلام عليکم او السلام عليکم و لکن الألف و اللام اولی(الشامی کتاب الحظر و الإباحة. فصل فی البيع. ط رشيديه)

بالله تعالی ځکه چي د دغه آیت په تفسیر کي مفسرین لیکي: ای لیس المراد منه التحیة إنما معناه یسلم من عذاب الله من اسلم(۱) یعني سلام د تحیې نه دی او مراد له دغه سلام څخه سلام د تحیه نه دی بلکه معنی د آیت دا ده چي کوم چا اسلام راوړی او هغه د شریعت اتباع وکړه هغه به د الله له عذابه خوندي وي، لهذا که دغه آیت و کوم مسلمان ته په خط کي ولیکل شي نو شرعًا څه منع پکي نشته او د دې په لیکلو ځرنګه دا فکر څوک کولای شي چي مخاطب او مکتوب الیه کافر دی لیکن د سنت تحیې خلاف دی. فقط و الله تعالی اعلم

سلام کول سنت دی

سؤال: (۱۴۱۲) سلام کول ضروري دی که څنګه؟ (۳۲/۲۷۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: مسنون او مستحب دی(۲) فقط و الله تعالی اعلم

په هر ملاقات کي سلام اچول مسنون او مستحب دی

سؤال: (۱۴۱۷) که د چا سره ملاقات په ورځ کي لس واره وي نو هر وار سلام ضروري دی که یو وار بس دی؟ (۴۴/۳۲۲-۱۳۴۵هـ)

ځواب: که څو واره په ورځ کي ملاقات وي نو هر وار سلام اچول مستحب دی لکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي: عن آبي هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی اله علیه و سلم قال: إذا انتهی احدکم إلی مجلس فلیسلم فإن بدا له ان یجلس فلیجلس ثم اذا قام فلیسلم الحدیث(۳) و عنه عن النبی صلی الله علیه و سلم قال: اذا لقی احدکم اخاه فلیسلم علیه فإن حالت بینهما شجرة او جدار او حجر ثم لقیه فلیسلم علیه، رواه ابو داؤد(۴) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) معالم التنزیل للعلامة البغوي رحمة الله علیه، ص: ۵۷۸، سورة طه، الآیة: ۴۷.

(۲) و اعلم انهم قالوا: ان السلام سنة و إسماعه مستحب و جوابه ای رده فرض کفایة و إسماع رده واجب الخ(شرح شرعة الاسلام ص: ۳۱۰، فصل فی سنن المشی و آدابه)

(۳) جامع الترمذی: ۲/۱۰۰، ابواب الاستیذان و الآداب، باب التسلیم عند القیام و القعود.

(۴) سنن آبي داؤد، ص: ۷۰۷، کتاب الدب، باب فی الرجل یفارق الرجل ثم یلقاه یسلم علیه.

یوه سړي په سلام سره خاصول

سوال: (۱۴۱۸) کله چي مسجد د خلکو ډک وي نو راتلونکی صرف یو سړي په سلام اچولو سره خاص کړي او کنه؟ (۱۳۳۸/۳۹هـ)

ځواب: ټولو ته سلام وراچول ښکار دی د کوم یو سړي تخصیص کول نه دی ښکار(۱) فقط والله تعالی اعلم

په ناستو خلکو کي ثواب د جواب ویونکي دی

سوال: (۱۴۱۹) و عمرو څو ناستو کسانو ته سلام واچاوی په هغو کي یو دوو جواب ورکړی آیا ثواب د ټولو ناستو خلګو دی که د جواب ورکونکیو؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۰۷۳هـ)

ځواب: د ټولو ناستو خلګو ذمه واري پوره شوه لیکن ثواب د هغه چا دی چي جواب یې ورکړی فقط

د سلام جواب نه ورکونکي ته کافر یا منافق ویل

سوال: (۱۴۲۰) د سلام جواب نه ورکونکي ته کافر یا منافق ویل څنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۷۳هـ)

ځواب: کافر او منافق نه دی ورته ویل پکار، مګر د سلام جواب ورکول ضروري دي جواب نه ورکونکی ګنهکار دی. فقط و الله تعالی اعلم

په لاس پورته کولو یا ټوپی (خولی) شوه کولو سلام کول

سوال: (۱۴۲۱) و کوم مسلمان یا نامسلمان ته په لاس پورته کولو سلام کول څنګه دی؟ کله نا کله افسران او نور له لیري په نظر راشي نو لاندي خلګ په لاس پورته کولو ورته سلام کوي او په یورپ کي رواج دی چي د خولی په شوه کولوس لام کوي که کوم مسلمان داسي وطن ته ولاړ شي نو څه طریقه خپله کړي؟ آیا د مجبوری پر مهال په لاس پورته کولو یا خولی شوه کولو هم ګناه راځي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۰۷۱هـ)

---

(۱) په شامي کي راغلي دي: عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا أتيتم المجلس فسلموا على القوم و اذا رجعتم فسلموا عليهم الحديث(رد المحتار كتاب الحظر و الاباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه)

ځواب: اصل خبره دا ده چي بيله کوم خاص حاجت او ضرورت و نامسلمان ته سلام نه دي کول پکار، شريعت د دې اجازه صرف د ضرورت پر مهال کړې ده نو د ضرورت په وجه که چيري ځوک لاس هم ورته پورته کړي، سلام ورته وکړي نو جائز دي. مګر په دې کي خاص د نصاری طرز خپلول په هيڅ حال کي هم جائز نه دی، لومړی خو صرف د لاس پورته کولو په حديثو کي منع راغلې ده(۱) بيا پر دې سربيره دا مکروه او ناوړه طريقه چي د خولې په شوه کولوس لام کوي په هيڅ ډول هم د جواز په حد کي نه راځي. دا خو د نصاری خاص شعار دی چي مخالفت يې په هر حال کي ضروري دی. فقط

د سلام کولو پر مهال لاس پر تندي نيول

سوال: (۱۴۲۲) السلام عليکم ويل او په لاس اشاره هم ورسره کول يعني لاس پر تندي نيول جائز دی او کنه؟(۳۲/۲۵۴۸-۱۳۳۳ھ)

ځواب: صرف السلام عليکم ويل سنت دی، لاس پورته کول سنت نه دي. (۲) فقط و الله تعالی اعلم

په سلام کي لاس پورته کول جائز دی او کنه؟

سوال: (۱۴۲۳) په سلام کي لاس پورته کول جائز دی او کنه؟ که جائز دی نو تر کوم حده پورته کول پکار دي؟ د سلام د لفظ سره که بې د سلام له لفظه صحيح دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۳ھ)

ځواب: شرعًا پرته د خولې له سلامه بله کومه اشاره او حرکت نشته، نور نو د مجبورۍ او ضرورت او نورو پر مهال که مخامخ لاس ورته پورته کړي څه پروا نلري که

---

(۱) عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: ليس منا من تشبه بغيرنا لا تشبهوا باليهود و لا بالنصاری فإن تسليم اليهود الاشارة بالاصابع و تسليم النصاری الاشرة بالاکف(جامع الترمذی: ۹۹/۲، ابواب الاستيذان و الآداب، باب ما جاء فی کراهية اشارة اليد فی السلام)

(۲) و لا يشير المسلم ... بالاصبع فانه من آداب اليهود، و لا بالکف فانه من عادة النصاری (شرح شرعة الاسلام، ص: ۳۱۱، فصل فی سنن المشی و آدابه)

مقع د سلام نشتـه نو صرف د ضرورت په وجه لـاس ورتـه پورتـه کړي هر څو مره چي يې پورته کړي کوم تحدید نلري(۱) فقط

د سلام کولو پر مهال ټيټيدل صحيح نه دي

سوال: (۱۴۲۴) د سلام کولو پر مهال ټيټيدل او لاس پوتره کول زموږ په زمانه کي رواج دی کـه د عبـادت او تعظـيم پـه نيـت وي او کـه صـرف عـادت وي څنګـه دی؟ (۱۷۱۲/۱۳۳۵هـ)

ځواب: د دې ضرورت نشته او ټيټيدل هم صحيح نه دي(۲) او د سلام سره لـاس پورته کول په ځينو ځايونو کي جائز دي(۳) فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۱۴۲۵) ... (الف) د السلام عليکم ويلو سره که سر هم ټيټ کړل شي نو څه حکم دی؟

(ب) سر او اوږدې دواړه ټيټول څنګه دي؟

(ج) سر او ملا دومره ټيټول چي رکوع ته نژدې شي؟

(د) په دې فکر ټيټيدل چي دا رسمي تعظيم دی څنګه دي؟

(ه) په مسنون سلام کي ټيټيدل ادب بلل څنګه دي؟

(و) صرف په نامه سر او اوږې ټيټول لاس پر تندي نيول او په خوله څه نه ويـل څنګه دي؟ (۱۰۱۸/۱۳۱۴هـ)

ځواب: (الف) منع دی.

(ب) دا هم منع دی.

---

(۱) قال النووي: روينا عن اسماء بنت زيد ان رسول الله صلى الله عليه وسلم مر فى المسجد يوما و عصبة من النساء قعود فالوى بيده بالتسليم .. و هو محمول على انه صلى الله عليه وسلم جمعع بين اللفظ و الاشارة(مرقاة المفاتيح: ۴۷۰/۸، كتاب الآداب باب السلام، الفصل الثانى، حديث: ۴۶۴۹)

(۲) و لا ينحني له اى لا يميل اليه رأسه و ظهره تواضعا الخ(شرح شرعة الاسلام، ص: ۳۱۲، فصل فى سنن المشى و آدابه)

(۳) حواله د کتاب الحظر و الاباحة د سوال(۱۴۲۳) په حاشيه کي وګورئ.

(ج) دا نور هم زیات منع بلکه حرام دی.

(د) په دغه فکر ټیټیدل منع دي

(ه) انحناء(ټیټیدل) په هر فکر منع دي

(و) دا ناوړه عمل دی او مکروه دی(۱) فقط

و اودس کونکیو ته سلام کول مکروه نه دی

سوال: (۱۴۲۲) څو خلک په مسجد کي اوسد کوي او جماعت ولاړ دی له دباندي راتلونکي که اودس کونکیو ته سلام وکړی نو زغ جماعت ته ښه رسیږي نو له دباندي راتلونکي و اودس کونکیو ته سلام وکړي او کنه؟(۱۷۰۵/۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب: و اودس کونکیو ته سلام کول مکروه نه دی بلکه د سلام په عام سنت کي داخل دی د جماعت نژدې والی و اودس کونکیو ته سلام اچولو څخه مانع نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

پر اودس کونکیو د سلام جواب واجب دی

سوال: (۱۴۲۷) ... (الف) و اودس کونکیو ته که څوک سلام ورواچوي نو پر دوی باندي جواب ورکول واجب دی او کنه؟ او د جواب ورکونکیو اودس ماتیږي او کنه؟

(ب) اودس کونکیو ته سلام وراچول پکار دی او کنه؟(۱۳۱۴/۱۳۴۳ه)

ځواب: (الف-ب) و اودس کونکیو ته سلام وراچول جائز دي او پر دوی باندي جواب ورکول واجب دی او په دوی کي د ځینو جواب ورکول هم بس دی. او په دې سره په اودس کي څه تاوان نه راځي. فقط

د جنابت په حالت کي د سلام جواب ورکول

سوال: (۱۴۲۸) جنب د سلام جواب ورکولای شي او کنه؟(۱۷۰۵/۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب: ورکولای يې شي.(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الانحناء للسلطان او لغيره مكروه، لأنه يشبه فعل المجوس(الفتاوى الهندية: ۲۶۹/۵، كتاب الكراهية، الباب الثامن و لاعشرون في ملاقاة الملوک و التواضع لهم)

د جنابت په حالت کي سلام اچول

سوال: (۱۴۲۹) د جنابت په حالت کي سلام اچول څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۲۰۵۳ هـ)

ځواب: جائز دي مګر اولی دا دي چي د پاکۍ په حالت کي وي. فقط و الله تعالی اعلم

د اودس وچولو پر مهال سلام اچول یا جواب ورکول

سوال: (۱۴۳۰) چي لوته په لاس کي وي سلام اچول یا د سلام جواب ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۴۵۲ هـ)

ځواب: صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۳۱) ... (الف) په لوټه اودس وچولو پر مهال سلام اچول څنګه دی؟

(ب) د اوسد وچولو پر مهال که څوک سلام واچوي نو جواب ورکول واجب دي او کنه؟ زید وایي چي نه دي ورکول پکار ځکه چي دا هم په حکم کي د بولو دي او عمر وایي چي جواب ورکول پکار دی ځکه چي دا د بولو په حکم کي نه دي. (۳۲/۱۲۳۱-۱۳۳۳ هـ)

ځواب: (الف) جائز دي.

(ب) د عمر قول صحیح دی دا حالت د بولو په حکم کي نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۳۲) له بولو وروسته په لوټه اودس وچولو په حالت کي سلام اچول او جواب ورکول روا دی او کنه؟ (۳۵/۲۲۱-۱۳۳۲ هـ)

ځواب: په دغه حالت کي سلام اچول او جواب ورکول منع نه دی ځکه چي د حالت د بولو نه دی چي منع راغلې ده اما اولی دا دي چي اودس داسي ځای وچي کړي چي تنها وي او د جواب ورکولو ضرورت نشي پیښ. فقط و الله اعلم

سوال: (۱۴۳۳) څوک چي په لوټه استنجاء وهي هغه و چاته سلام وروا چوي او کنه؟ او د سلام جواب ورکړي او کنه؟ (۱۳۴۰/۷۸۵ هـ)

---

(۱) و لا باس لحائض و جنب بقراءة ادعیة و مسها و حملها و ذکر الله تعالی و تسبیح (الدر المختار مع الرد کتاب الطهارة، باب الحیض. ط رشیدیه)

ځواب: غوره دا دي چي يو ازي يو طرف ته دي په لوټه استنجا وو هي چي د جواب ورکولو ضرورت نشي پيښ او که اتفاقًا په داسي ځاى کي ولاړ دی چي هلته کوم مسلمان راغلی او سلام يې ورواچاوی نو جواب ورکول پکار دي او ابتداء بالسلام هم صحيح ده ليکن غوره دا دي چي ابتداء دي نه کوي فقط

سلام و هغه چاته وراچول مکروه دی چي عورت يې ښکاره وي

سوال: (۱۴۳۴) د کوم مسلمان چي زياتره برخه د عورت ښکاره وي هغه ته سلام وراچول څنګه دي او د هندوانو په رنګه لنګ وهل څنګه دي؟ (۱/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: و مکشوف العورة ته سلام وراچول يې د فقهي په کتابونو کي مکروه ليکلی دی نو چا چي لنګ داسي وهلی وي چي عورت يې پکي ښکاريږي نو هغه ته هم سلام وراچول مکروه دی(۱) او دا ډول لنګ وهل چي عورت پکي ښکاريږي ناروا دی فقط

سوال: (۱۴۳۵) د کوډ و د لوڅوالي پر مهال سلام اچول او جواب ورکول جائز دي او کنه؟ (۳۰۰/۱۳۳۸ھ)

ځواب: و عورت لوڅ کړي ته سلام وراچول مکروه دي او که څوک سلام ورواچوي نو پر ده باندي د جواب ورکول ضروري نه دي فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن شريف تلاوت کونکي ته سلام وراچول

سوال: (۱۴۳۶) و ډوډۍ خوړونکي او د قرآن تلاوت کونکي ته سلام وراچول شرعًا څنګه دي؟ (۳۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: و ډوډۍ خوړونکي او د قرآن تلاوت کونکي ته سلام وراچول فقهاء مکروه ليکلي دي کذا فی الدر المختار (۲)

---

(۱) ودع کافرٌ ايضا و مکشوف عورة　　و من هو فی حال التغوط اشنع

(الدر المختار و رد المحتار کتاب الصلاة، مطلب: المواضع التی يکره فيها السلام. ط رشيديه)

(۲) مصل و تال ذاکر و محدث　　خطيب و من يصغی اليهم و يسمع

و بد اسطر:

ودع آکلا الا اذا کنت جائعا　　و تعليم منه انه ليس يمنع

سوال: (۱۴۳۷) په مسجد کي که خلک ناست څه وايي نو سلام وراچول سنت دي او پر دوی باندي جواب واجب دی؟ (۱۳۳۷/۱۰۵۴هـ)

ځواب: د قرآن و تلاوت کونکي او ذکر کونکي ته سلام وراچول مکروه دی او جواب وراندي واجب نه دی (در مختار و الشامي) فقط و الله تعالی اعلم

په اذان کي سلام اچول

سوال: (۱۴۳۸) که اذان شروع وي او مسلمانان یو بل ته سلام وراچوي نو منع دي ا کنه؟ (۱۳۳۷/۲۸۲۹هـ)

ځواب: فقهاء و مؤذن او اقامت کونکي ته د اذا او اقامت پر مهال سلام مکرو لیکلی دی(۱) له دې څخه معلوم شو چي له مؤذن او اقامت کونکي څخه پرته د نورو مسلمانانو یو بل ته سلام وراچول مکروه نه دي او جواب ورکول هم صحیح دی. فقط

سوال: (۱۴۳۹) چي اذان شروع وي سلام اچول پکار دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۸۱۴هـ)

ځواب: په اذان کي سلام م اچوئ بلکه د اذان جواب ورکوئ. فقط و الله تعالی اعلم

و ډوډۍ خوړونکي ته سلام وراچول او جواب ورکول

سوال: (۱۴۴۰) و ډوډۍ خوړونکي ته سلام وراچول څنګه دی؟ او جواب ورکول پکار دی که څنګه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۹۹۹هـ)

ځواب: و ډوډۍ خوړونکي ته سلام وراچول مکروه دی(۲) او جواب ورکول پر ده واجب نه دي لیکن څه پروا هم نلري(۳) فقط و الله تعالی اعلم

(الدر مع الشامي کتاب الصلاة مطلب: المواضع التی یکره فیها السلام. ط رشیدیه)

(۱) مؤذن ایضا او مقیم مدرس کذا الأجنبیات الفتیات امنع

(الدر المختار مع الشامي کتاب الصلاة، مطلب المواضع التي یکره فیها السلام. ط رشیدیه)

(۲)ودع آکلا الا اذا کنت جائعا و تعلیم منه انه لیس یمنع

(الدر مع الشامي کتاب الصلاة مطلب: المواضع التی یکره فیها السلام. ط رشیدیه)

(۳) رد السلام واجب الا علی من فی الصلاة او بأکل شغلا

(رد المحتار کتاب الصلاة، مطلب المواضع التی لا یجب فیها رد السلام. ط رشیدیه)

و بې لمانځه او ږیر خریلي ته سلام وراچول

سوال: (۱۴۴۱) و بې لمانځه ږیرخریلي ته سلام وراچول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۲۰ھ)

جواب: و بنکاره فسق کونکي ته سلام وراچول فقهاء مکروه لیکلی دی و یکره السلام علی الفاسق لو فعلنا و الا لا الخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۴۲) ... (الف) و بې لمانځه او روژه خور ته سلام کول شرعًا څنګه دی؟

(ب) ږیره خریونکي او د انګریزانو په رنګه ځان جوړنکي ته که سړی سلام نه وروا چوي نو ګنهکار دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۸۹۱ھ)

جواب: (الف) جائز دي مګر مکروه دی.

(ب) نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

کوم نوی مسلمان چي بریتونه غټ کړي وي د هغه سره روغبړ نه کول

سوال: (۱۴۴۳) دوه کاله یا زیات کیږي چي یو سړی مسلمان شوی دی لیکن بریتونه د هندوانو په رنګه غټ کړي دي یو سړی ورسره روغبړ نه کوي نو دا سړی ګنهکار دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۱۲۱ھ)

جواب: څوک چي مسلمان شو هغه مسلمان بلل پکار دی اړیکي ورسره ساتل او روغبړ ورسره کول پکار دي روغبړ ورنسره نه کول ګناه ده او دغه نوي مسلمان ته دا پکار دي چي صورت د مسلمانانو په رنګه جوړ کړي او بریتونه کوچني کړي. فقط و الله اعلم

په پټه ایذا رسونکي سره سلام کلام کول

سوال: (۱۴۴۴) زید په ظاهره خو د عمر سره ډیر په اخلاص او محبت ملاویږي مګر په پټه و عمر ته د هر ډول تکلیف رسولو کوښښ کوي، د داسي چاس ره سلام کلام او ملاقات کول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۵۲۳ھ)

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة. فصل فی البیع و رد المحتار کتاب الصلاة مطلب المواضع التی یکره فیها السلام. ط رشیدیه

ځواب: په شریعت کي د ظاهر اعتبار دی، لهذا سلام کلام او ملاقات ورسره کول جائز دی.

د ظالم پولیس سره سلام او کلام کول

سؤال: (۱۴۴۵) نن صبا پولیس والا عمومًا پر مسلمانانو سخت ظلم کوي لهذا د دوی سره سلام او کلام مسلمانان باید ترک کړي او کنه؟ (۸۸۵/۱۳۴۰هـ)

ځواب: د داسي ظالمانو سره اړیکي قطع کول ضروري دي او سلام هم ورسره نه دی کول پکار. فقط

د مرزائیانو ته سلام کول

سؤال: (۱۴۴۶) د مرزائیانو سره ډوډۍ خوړل یا السلام علیکم ورته ویل څنګه دي؟ (۹۱۷/۱۳۳۸هـ)

ځواب: د مرزائیانو سره ډوډۍ خوړل، سلام وراچول او ملاقات ورسره کول نه دي پکار. فقط و الله تعالی اعلم

و نامسلمان ته سلام وراچول او د ده د سلام جواب ورکول

سؤال: (۱۴۴۷) قاضي که مسلمان وي یا مشرک سلام څه ډول ورته وکړو؟ او که مشرک و مسلمان ته السلام علیکم ووایي نو څه جواب ورکړو؟ (۱۹۵۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: و مسلمان قاضي ته په خوله سلام وراچوئ او د مشرک لپاره صرف لاس بورته کوئ یا هداک الله ورته وایه(۱) فقط و الله تعالی اعلم

سؤال: (۱۴۴۸) ... (الف) د وخت حاکم او قاضي چي عیسائي یا هندو وي نو سلام وراچول جائز دی او کنه؟

---

(۱) و لا یبتدئ المسلم اهل الکتاب بالسلام الا ان یحتاج الیه فحینئذ لا بأس به .. فمن سلم علی احد من اهل الذمة فلیقل فی رده: و علیکم و لا یزید علیه شیئا فإن سلم علیهم احده من اهل السالم حین رأی المصلحة فی التسلیم فلیقل: السلام علی من اتبع الهدی(شرح شرعة السلام، ص: ۳۱۱ -۳۱۲، فصل فی سنن المشی و آدابه)

(ب) و کفارو یعني بنګیانو او نورو ته سلام کول جائز دی او کنه؟ او څه ډول کول پکار دی؟ (۲۴۷/۳۳-۱۳۳۴ﻫ)

ځواب: (الف) په در مختار کې راغلي دي چې که کفرو ته د سلام کولو ضرورت وي نو سلام دوی ته وراچول جائز دي و یسلم المسلم علی اصل الذمة لوله حاجة الیه و الا کره الخ(۱)

(ب) د دې جواب هم هغه دی کوم چې په (الف) کې تیر شو، یعنې که کوم ضرورت وي نو سلام دې وراچوي کنې نه دې یې وراچوي او په شرح شرعة الاسلام کې راغلي دي چې هندوانو ته سلام وراچوئ نو داسې وایاست: السلام علی من اتبع الهدی(۲) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۴۹) ... (الف) که حاکم کافر وي او د ورتلو ضرورت وي نو ده ته سلام څه ډول وراچول پکار دی؟

(ب) که کوم کافر سلام واچوي نو د جواب ورکولو څه طریقه ده؟ (۷۴۲/۱۳۳۷ﻫ)

ځواب: (الف) د حاجت او ضرورت پر مهال سلام اچول بې د فقهي په کتابونو کې جائز لیکلي دي(۳) په داسې صورت کې که په خوله د سلام الفاظ ووایي نو جائز دي لیکن په لاس د سلام کولو رواج وي نو په دې کې نور هم زیات تخفیف دی.

---

(۱) الدر المختار مع الشامی کتاب الحظر و الاباحة فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) لکن فی الشرعة: اذا اسلم علی اهل لاذمة فلیقل: السلام علی من اتبع الهدی و کذلک یکتب فی الکتاب الیهم اهـ (رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

(۳) و اما التسلیم علی اهل الذمة فقد اختلفوا فیه قال بعضهم: لا بأس بأن یسلم علیهم و قال بقضهم: لا یسلم علیهم و هذا اذا لم یکن المسلم حاجة الی الذمی، و إذا کان له حاجة فلا بأس بالتسلیم علیه و لا بأس برد السلام علی اهل الذمة الخ (الفتاوی الهندیة: ۳۲۵/۵، کتاب الکراهیة، الباب السابة فی السلام و تشمیت العاطس)

(ب) د کافر د سلام په جواب کي فقط و علیک وایاست یا که د ضرورت پر مهال د سلام لفظ هم وو ایاست نو څه پروا نلري لکه چي د ضرروت پر مهال فقهاء وسلام کولو اجازه کړې ده، دلته هم که لفظ د سلام وو ایي نو څه پروا نلري. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۵۰) که کوم حاکم انګریز یا هندو یا کوم بل د اسلا مخالف حاکم ته د لاس په اشاره سلام وشي نو ګناه خو به نلري؟(۱۳۳۵/۲۷۰هـ)

ځواب: د ضرروت پر مهال صحیح خبره ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۵۱) د مسلمان سره که کافر ملاقات وکړي نو مسلمان باید څه ډول ورسره ملاقات وکړي که مخکي کافر السلام علیکم وو ایي نو څه جواب ورکول پکار دي؟(۱۳۳۸/۲۰۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: فلا یسلم ابتداءً علی کافر لحدیث لا تبدؤوا الیهود و لا النصاریٰ بالسلام الخ(۱) او دا هم په در مختار کي راغلي دي چي که کفارو ته کوم حاجت وي نو د ضرورت په وجه دوی ته سلام کول صحیح دی(۲) او که کافر السلام علیکم وو ایي نو په جواب کي وعلیکم یا یهدیکم الله ورته وو ایه(۳) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۵۲) و نامسلمان ته سلام اچول څنګه دي؟ او د سلام څه طریقه ده؟ (۱۳۴۳/۸۴۸هـ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامی کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) و یسلم المسلم علی اهل الذمة لو له حاجة الیه و الاکره هو الصحیح (الدر مع الرد کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

(۳) و لو سلم یهودی او نصرانی او مجوسی علی مسلم فلا بأس بالرد و لکن لا یزید علی قوله و علیک (الدر المختار مع الشامی کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

ځواب: و نامسلمان ته د سلام اچولو طریقه دا ده چي که دی سلام دروا چوي نو په جواب کي هداک الله ورته وو ایه او که د سلام لفظ هم د ضرورت پر مهال ورته ووایي نو صحیح دی او ابتداء بالسلام هم د ضرروت پر مهال جائز ده(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د خطبه ویونکي پر منبر سلام اچول مکروه دی

سوال: (۱۴۵۳) خطبه ویونکي چي پر منبر وخیږي و لمونځ کونکیو ته سلام وروا چوي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۱۲۲هـ)

ځواب: د خطبه ویونکي لپاره پر منبر سلام ویل سنت او مستحب نه دی بلکه مکروه دی ترک د دي سنت دی کما فی الدر المختار: و من السنة جلوسه فی مخدعه عن یمین المنبر و لبس السواد، و ترک السلام من خروجه الی دخوله فی الصلاة الخ(۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) مخکنی حواله.

(۲) الدر المختار مع الشامي کتاب الصلوة، باب الجمعة، مطلب فی قول الخطیب: قال الله تعالی: اعوذ بآلله من الشیطآن الرجیم.

قال الله تعالی: اعوذ بالله من الشیطان الرجیم

او په کومو روایتونو کي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم له منبط څخه سلام کول مروي دی: د احنافو په نزد هغه د داخل(مجلس ته راتلونکي) سلام دی د خطبي جز نه دی نو که خطیب له بهر څخه مسجد ته رشاي نو چي راداخل شي سلام دي واچوي بیا چي منبر ته ورسي نو ټول مسجد والو ته دي سلام وکړي لیکن کوم خطیب چي له مخکي څخه په مسجد کي وي: هغه چي خطبي ته ولاړ شي او پر منبر وخیږي سلام اچوي دا سنت او مستحب نه دی ځکه چي د دي ثبوت نشته، بلکه مکروه دی ځکه چي د دي د خطبي د جز کیدو وهم پیدا کیږي او همدغه حکم د هري مجمعي لپاره دی نو کوم تقریر کونکی چي پر استیج دی نو دی چي تقریر ته راشي و خلګو ته سالم اچوي دا اصل نلري هو که تقریر کونکی همدا وخت له بهر څخه راغلی نو سلام اچولای شي، دا د داخلیدونکي سلام کول دي ۱۲ سعید احمد پالن پوري

په مسجد کي د تګ راتګ پر مهال سلام ویل مستحب دی

سوال: (۱۴۵۴) په مسجد کي د تللو راتللو پر مهال سلام ویل جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۱۰۹هـ)

ځواب: سلام اچول په دغه وختونو کي مستحب دی. فقط و الله تعالی اعلم

له لمانځه وروسته و يو بل ته سلام اچول او جواب ورکول

سوال: (۱۴۵۵) د لمانځه له سلام وروسته په خپل منځ کي يو بل ته سلام اچول او جواب ورکول څنګه دی؟ (۱۳۳۵/۸۳۷هـ)

ځواب: د لمانځه له سلام وروسته بیا پخپل منځ کي و يو بل ته سلام کول او جواب ورکول شرعًا نشته. فقط و الله تعالی اعلم

د اختر له لمانځه وروسته روغبړ کول

سوال: (۱۴۵۶) په اخترانو کي له لمانځهٔ وروسته سلام او روغبړ کول د هغو خلکو سره چي له لمانځه ملاؤ شوي وي صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۲۱۷هـ)

ځواب: صحيح نه دي، کذا فی الشامي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

که په مسج کي څوک نه وي نو سلام کول پکار دی او کنه؟

سوال: (۱۴۵۷) که په مسجد کي څوک نه وي نو سلام اچول پکار دی او کنه؟ که يې واچوی نو په کوو الفاظ، او کوم نيت مسنون دی؟ (۱۳۳۷/۱۰۵۴هـ)

ځواب: په حديث شريف کي راغلي دي چي مسجد ته ورداخليږي نو دا دعا وایاست: بسم الله و علی سنة رسول الله و السلام علی رسول الله، اللهم افتح لنا ابواب

---

(۱) و نقل فی تبیین المحارم عن المتقط أنه تکره المصافحة بعد اداء الصلاة بکل حال، لأن الصحابة رضی الله عنهم ما صافحوا بعد اداء الصلاة و لأنها من سنن الروافض اهـ ثم نقل عن ابن حجر من الشافعية أنها بدعة مکروهة لا أصل لها فی الشرع و إنه ینبه فاعلها اولا و یعزز ثانیا (رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء و غیره. ط رشیدیه)

رحمتک و سهل لنا ابواب رزقک(۱) بيا که څوک په مسجد کي وي سلام ورواچوه کني کښينه يا سنتونه، نفلونه وکړه.

سوال: (۱۴۵۸) و مسجد ته د تلو او راتلو پر مهال سلام اچول جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۰۹ه)

ځواب: و مسجد ته د داخليدو پر مهال که خلک هلته وي نو سلام ور اچول سنت دی او که خلک نه وي نو بيا هم دغه دعا "السلام علينا و علی عباد الله الصالحين" (۲) او نور ويل مستحب دي او د خروج من المسجد پر مهال هم سلام کول پروا نلري فقط و الله تعالی أعلم

په مسجد کي ځيني خلک ناست او ځيني لمونځ کونکي وي نو سلام ورواچؤ او کنه؟

سوال: (۱۴۵۹) په مسجد کي ځيني خلک ناست او ځيني لمونځ کوي، داسي وخت سلام اچول څنګه دي؟ او ناست خلک بايد جواب ورکړي او کنه؟ (۱۳۸۷/۴۲-۱۳۴۷ه)

ځواب: کوم خلک چي ناست دي او لمنځونه نه کوي، هغو ته سلام ور چول جائز دی او دوی بايد جواب ورکړي(۳) فقط و الله تعالی اعلم

و مسجد ته ورتلو او راوتلو پر مهال څه وخت سلام اچول پکار دی؟

سوال: (۱۴۶۰) و مسجد ته راتلونکي له مسجد څخه دباندي سلام واچوي که چي مسجد ته ورداخل شي؟ داغه راز له مسجد څخه د وتلو پر مهال په مسجد کي د ننه سلام ووايي که چي له مسجد څخه راووځي؟ (۱۳۳۹/۱۲۵۷ه)

ځواب: په مسجد کي د ننه که خلک شته نو په دواړو صورتونو کي دي هم هلته سلام ووايي. فقط

---

(۱) الحصن الحصين، ص: ۷۸، المنزل الثاني، اذكار المسجد عند الدخول و الخروج.

(۲) و بعد دخوله: السلام علينا و على عباد الله الصالحين (الحصن الحصين، ص: ۷۸، المنزل الثانی، اذكار المسجد عند الدخول و الخروج)

(۳) و ان دخل مسجداً و بعض القوم فی الصلاة، و بعضهم لم يكونوا فيها ليسلم و ان لم يسلم لم يكن تاركا للسنة(حاشية ابن عابدين: كتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البيع. ط رشيديه)

د اولیاء الله و قبرونو ته د بل سلامونه رسول

سوال: (۱۴۶۱) د اولیاء الله و قبرونو ته د بل سلامونه رسول انو داسي ويل چي فلانی درباندي سلامي وايي جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۷۷هـ)

ځواب: سلام رسول جائز او صحیح دی، هلته نذرونه منل کوپره او نور د اولیاوو په نوم کول او مرادونه غوښتل له دوی څخه جائز نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

د خسر ښنې نيولو سره سلام کول

سوال: (۱۴۶۲) د خسر ښنې نيولو سره سلام کول او ښنې ورمچول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۹۲۹هـ)

ځواب: د خسر ښنې نيولو سره سلام کول او د ده ښنې مچول سنت خلاف او مکروه دي او د علماوو اوم شائخو لپاره ځينو اجازه کړې ده مگر خو تشبه بالسجدة راځي ځکه دا رنگه نه دي ښکار چي د سجدې صورت جوړ شي چي هغه حرام دی(۱) فقط و الله اعلم

سوال: (۱۴۶۳) د خسر ښنې نيول سلام ورته کول او ښنې يې مچول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۰۹۴هـ)

ځواب: صحیح نه دي فقط و الله تعالی اعلم

د ښځو پخپل منځ کي او د اجنبي نر او ښځي يو بل ته سلام کول

سوال: (۱۴۶۴) د ښځو لپاره پخپل منځ کي سلام کول او د ښځو و نارينو ته او اجنبي نارينه و ښځو ته سلام کولای شي او کنه؟ د ښنو نيولو سره سلام کول څنگه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۸۴۵هـ)

ځواب: ښځي پخپل منځ کي بايد يو بل ته سلام واچوي ليکن اجنبي ښځه دي اجنبي نارينه او د دې بر عکس دي سلام نه اچوي يعني اجنبي ښځه و اجنبي نارينه ته او اجنبي

---

(۱) الانحناء للسلطان او لغيره مكروه، لأنه يشبه فعل المجوس (الفتاوى الهندية: ۳۶۹/۵، كتاب الكراهية، الباب الثامن و العشرون فی ملاقاة الملوك و التواضع لهم الخ)

نارینه و اجنبي ښځي ته سلام نه اچوي، په دې کي د فتنې اندېښنه ده(۱) د ښځو نه ښو لو سره سلام مسنون کول پکار، په خوله سلام ویل پکار دی. عن سعید بن المسیب قال قال انس رضی الله عنه. قال لی رسول الله صلی الله علیه وسلم یا بنتی! إذا دخلت علی اهلک فلم نکون برکة علیک، و علی اهل بیتک(۲) ښځه و خپلو محارمو ته سلام کولای شي.

محرم نر او ښځه یو بل ته سلام کولای شي

سوال: (۱۴۲۵) د مؤمني ښځي و خپل پلار، ورور او نیکه ته السلام علیکم ویل او په جواب کي و علیکم السلام ویل جائز دي او کنه؟ (۳۳/۳۳۸-۱۳۳۴هـ)

جواب: جائز او مستحب دي فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۲۶) د ښځي و خاوند، خپل زوی او ورور او داغه راز د دوی درېیو زوئي ته سلام او جواب ویل جائز دي او کنه؟ (۳۳/۳۳۸-۱۳۳۴هـ)

جواب: جائز او مستحب دي فقط و الله تعالی اعلم

له خپلي ښځي سره روغبړ کول

سوال: (۱۴۲۷) کله چي نارینه له سفره راشي نو له خپلي ښځي سره روغبړ کوي او کنه؟ له خپلي ښځي سره روغبړ کول په حدیث ثابت دي او کنه؟ (۱۲۲۳/۱۳۳۵هـ)

---

(۱) لا تسلم علی جمع ای جماعة النساء بناء علی ما روی جریر رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم مر علی نسوة فسلم علیهن، فإنه مختص به لامنه عن الوقوع فی الفتنة و اما غیره فیکره ان یسلم الرجل الاجنبی علی المرأة الاجنبیة. و کذا العکس کیلا یحصل بینهما معرفة و انبساط فیحدث من تلک المعرفة فتنة و کثیر من العلماء لم یکرهوا تسلیم کل من الرجل و المرأة و الاجنبیین علی الآخر کذا فی المظهر؛ و منهم من قال: لا بأس بالسلام علی العجائز دون الشواب فإنه سلمن علیه رد علیهن و یقول. علیکن السلام (شرح شرعة الاسلام، ص: ۳۱۰، فصل فی سنن المشی و آدابه)

(۲) جامع الترمذی: ۹۹/۲، ابواب الاستیذان و الآداب، باب ما جاء فی التسلیم اذا دخل بیته.

جواب: په سلام کې راغلي دي [illegible] د ننوتلو [illegible] السلام [illegible] بسم [illegible] اوله [illegible]
یعني چې خپل کور ته [illegible] ننوزي نو سوهرې [illegible] سلام وکړي بې خبري [illegible]
[illegible] ښځي سره ښکاره [illegible] صحیح او [illegible] دي په ظاهره
په حدیث ثابت نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

خاوند چې کور ته راشي نو لومړی دې سلام اچوي

سوال: (۱۴۲۸) که خاوند له دباندې څخه کور ته راشي نو څپلې ښځي ته السلام علیکم ووایي، که ښځه تر ده مخکې ورته ووایي؟ او روغبړ [illegible] سره وکړي او کنه؟ (۱۳/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: مستحب دا دي چې خاوند په سلام کولو کې مخکې شي. فقط و الله تعالی اعلم

د ښځو پخپل منځ کې روغبړ کول

سوال: (۱۴۲۹) که یوه ښځه له بلې سره ملاؤ شي نو د نارینؤ په رنګه روغبړ ورسره وکړي او کنه؟ (۴۲۳/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: د ملاقات پر مهال روغبړ د نارینؤ سنت دی(۲) ښځې که د یو بل سره روغبړ وکړي نو صحیح دي او که ونکړي نو هیڅ پروا نلري. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

(۲) لکه څنګه چې د ملاقات پر مهال د نرو لپاره روغبړ کول سنت دي داغه راز د ښځو لپاره هم مصافحه کول سنت دي ځکه چې د مصافحې په فضیلت کې چې کوم حدیثونه راغلي دي هغه عام دي پکې د نرو تخصیص نشته. په بهشتي زیور کې راغلي دي: په ښځو کې هم السلام علیکم او مصافحه کول سنت دي و دې ته رواج ورکول پکار دي پخپل منځ کې کول (اختري بهشتي زیور دریمه برخه. ص۲۷، مسئله ۱۹، باب/۳۸: متفرقات)
داغه راز یو بل خای لیکي: د ملاقات پر مهال و ده ته (یعني مسلمان ته) سلام کول او د نر سره که نر او د ښځي سره که ښځه روغبړ هم وکړي نو نور ښه دي (اختري بهشتي زیور، څلورمه برخه. ص: ۴۲. د عامو مسلمانانو حقوق، نمبر: ۳۱. باب/۲۹، د حقوقو بیان، بهشتي زیور کامل، پنځمه برخه. ص ۲۸۷. د عامو مسلمانانو حقوق، نمبر: ۳۱)

د سلام، مصافحې او معانقې کولو ترتیب

سوال: (۱۴۷۰) تسلیم، مصافحه ا معانقه درې سره په یو وار په حدیثو ثابت دي که جلا جلا؟ که لومړی صورت وي نو ترتیب یې څه دی؟ (۱۳۳۸/۴۴۳هـ)

ځواب: د طبراني او بیهقی په روایت کې راغلي دي: قال النبی صلی الله علیه وسلم: ان المؤمن اذا لقی المؤمن فسلم علیه و اخذ بیده فصافحه تناثرت خطایاهما کما یتناثر ورق الشجر(۱) له دغه حدیث څخه ترتیب ما بین السلام و المصافحه معلوم شو او معانقه هم شرعًا صحیح ده(۲) د ددې هیڅ ترتیب ه دی بیان شوی او ظاهر دا دی چې معانقه هم له سلام وروسته وي او د مصافحې قائم مقام گرځي یا که د دې وروسته مصافحه هم وي نو څه پروا نلري فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۷۱) د مصافحې(د لاس روغبړ) او معانقې(د غیږې روغبړ) کې لومړی کوم یو کول شرعًا ضروري دی؟ (۱۳۳۸/۱۳۴۰هـ)

---

(۱) رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء و غیره. ط رشیده

عن سلمان الفارسي رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: ان المسلم اذا لقی اخاه فاخذ بیده تحاتت عنهما ذنوبهما کما یتحات الورق الیابس من الشجرة فی یوم عاصف و الا غفرلهما و ان کانت ذنوبهما مثل زبدا البحر(شعب الایمان للبیهقی: ۴۷۳/۶، باب فی مقاربة و موادة اهل الدین، فصل فی المصافحة و المعانقة عند الالتقاء رقم الحدیث: ۸۹۵۰، المذبوعة: دار الکتب و العلمیة، بیروت)

و عن حذیفة بن الیمان رضی الله عه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: ان المؤمن اذا لقی المؤمن فسلم علیه و اخذ بیده، فصافحه تناثرت خطایاهما کما یتانثر ورق الشجرة (المعجم الاوسط للطبراني: ۱۸۵، باب االف من اسمه احمد، رقم الحدیث: ۲۴۵، المطبوعة: دار الکتب العملیة، بیروت)

(۲) عن عائشة رضی الله عنهما قالت: قدم زید بن حارثة المدنیة و رسول الله صلی الله علیه وسلم فی بیتی فاتاه فقرع الباب، فقام الیه رسول الله صلی الله علیه وسلم عریانا یجر ثوبه و الله! ما رأیت عریانا قبل هـ و لا بعده فاعتنقه و قبله رواه الترمذی(مشکوة المصابیح، ص: ۴۰۲. کتاب الآداب، باب المصافحة و المعانقة الفصل الثانی)

ځواب: کله چې د يو مسلمان د بل مسلمان سره ملاقات وي نو سلام او د لاس روغبړ سنت دی او د غیږې روغبړ هم صحیح دی لومړی چې هر يو کوي په دې کې کوم قید نشته فقط و الله تعالی اعلم

د ملاقات او رخصتي پر مهال لاس ملاوول سنت دی

سوال: (۱۴۷۲) مصافحه صرف د راتلو پر مهال جائز ده که د تلو راتلو داړو پر مهال روا ده؟ (۱۳۳۲-۳۵/۱۲۱هـ)

ځواب: مصافحه د تګ راتګ دواړو پر مهال په حدیثو ثابته ده او سنت ده، په حصن حصین او نورو کې حدیث راغلی دی چې کله به څوک له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه رخصتیدی نو نبي علیه الصلاة و السلام به ورسره مصافحه کوله او دا دعا به یې ورته کوله: استودع الله دینک و امانتک و خواتیم عملک الحدیث(۱) او کما قال صلی الله علیه وسلم. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۷۳) د تلو او راتلو پر مهال چې کومه مصافحه کول سنت ده دا دواړه وخت ده که صرف د راتلو پر وخت؟ او د تلو پر مهال کولو څه حکم دی؟ سنت ده که بدعت؟ (۱۳۳۲-۳۵/۳۵۵هـ)

ځواب: د ملاقات پر مهال او رخصت پر مهال دواړه وخته مصافحه کول سنت ده، او په حدیث ثابته ده. کذا فی الحصن الحصین. فقط و الله تعالی اعلم

مصافحه (روغبړ) په دواړو لاسونو سنت ده

سوال: (۱۴۷۴) سلفیان وایي چې په دواړو لاسونو روغبړ کول اجائز دی او د دې ثبوت په کوم مرفوع حدیث کې نشته، په صحیح بخاري کې چې کوم روایت په باب اخذ الیدین کې له عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه مروي دی، هغه حدیث موقوف دی، د دې څه جواب دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۷۹هـ)

---

(۱) الحصن الحصین، ص: ۱۲۲، المنزل الرابع، دعاء رخصة المسافر و جامع الترمذی: ۱۸۲/۲، ابواب الدعوات، باب ما جاء ما یقول: اذا ودع انسانا.

ځواب: مصافحه په دواړو لاسونو کول سنت ده، لکه چي په شامي کي راغلي دي: و السنة ان تکون بکلتا یدیه(۱) او په بخاري شریف کي چي کوم روایت په دواړو لاسونو د روغبړ کولو رغلی دی هغه پر عبد الله بن مسعود رضی الله عنه باندي موقوف نه دی بلکه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم فعل بیانوي، د حدیث الفاظ داسي دي: و کفی بین کفیه یعني زما لاسونه د نبي علیه الصلاة و السلام په دواړو لاسونو کي ؤ الخ نو په دې سره د نبي علیه الصلاة و السلام په دواړو لاسونو مصافحه کول ثابت شو نو دې ته موقوف ویل د دغه سلفي د جهالت دلیل دی او امام بخاري رحمه الله هم په دغه حدیث د مصافحې په دواړو لاسونو سنت کیدل ثابت کړي دي (۲) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۷۵) موږ مقلدین چي په دواړو لاسونو مصافحه کؤ، د دې مأخذ کوم حدیث دی؟ (۴۰۰، ۴۲/ ۱۳۴۷هـ)

ځواب: مصافحه په دواړو لاسونو کول سنت ده، په دې اړه دوه ډوله حدیثونه راغلي دي: په ځینو کي د یدینو خرګندونه راغلې ده او په ځینو کي مطلقًا د مصافحې یادونه ده، په داسي حال کي د سلفو ږ حال ته کتل کیږي، عن ابي معمر قال: سمعت ابن مسعود رضی الله عنه یقول: علمنی النبی صلی الله علیه وسلم و کفی بین کفیه التشهد (الحدیث) امام بخاري رحمه الله پخپل صحیح کي دغه حدیث تر باب المصافحه لاندي تعلیقًا او سندًا راایستلی دی(۳) و قال البخاری فی ترجمة عبد الله بن سلمة المرادی حدثنی اصحابنا یحیی و غیره عن ابي اسماعیل بن ابراهیم قال: رأیت حماد بن زید و جاءه ابن المبارک بمکة فصافحه بکلتا یدیه الخ(۴) په بیان شوي حدیث

---

(۱) رد المحتار و الدر المحتار کتاب الحظر و الاباحة، باب الاشبراء و غیره. ط رشیدیه

(۲) باب الأخذ بالیدین و صافح حماد بن زید بن المبارک بیدیه(صحیح البخاری: ۲/۹۲۶)

(۳) صحیح البخاری: ۲/۹۲۶، کتاب الاستیذان، باب الاخذ بالیدین.

(٤) عمدة القاري شرح صحیح البخاری: ۲۲/۲۵۳، کتاب الأستیذان، باب الاخذ بالیدین المطبوعة: مکتبة رشیدیه، پاکستان.

او عمل کي خرګندونه ده چي د مصافحې سنت طريقه همدا ده چي په دواړو لاسونو يې وکړي و فی القنية: السنة فی المصافحة بکلتا يديه(در مختار) و هکذا فی الشامی(۱)

له روغبړ وروسته لاس پر تندي يا سينه ايښودل ثابت نه دي

سوال: (۱۴۷۶) له مصافحې کولو وروسته لاس تندي يا سينې ته وړل څنګه دي؟ يو سړی ورته سنت بل بدعت او دريم مباح وايي پر حق څوک دی؟ (۲۱۱۴/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دواړو لاسونو مصافحه کول سنت دي، له مصافحې وروسته لاس تندي يا سينې ته وړل ثابت نه دي او سنت نه دي و يصافح بعد السلام من لقی من الاخوان الخ(۲)

د شيخ پر پښو تندی منبوول

سوال: (۱۴۷۷) آيا د شيخ په قدمونو کي تندی منبوول يا د ده په مخامخ سر پر ځمکه ايښودل جائز دي او کنه؟ (۱۵۴۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: صحيح نه دي بلکه حرام او معصيت دی. فقط و الله تعالی اعلم

د مور پلار يا پير او مرشد پښې مچول

سوال: (۱۴۷۸) زيد وايي چي د مور پلار يا پير او مرشد قدمونه مچول صحيح دي، عمر وايي چي د اسلام طريقه په صحابه رضی الله عنهم کي د مصافحې وه، پر پښو پرېوتل نه ؤ په دغه صورت کي څه حکم دی؟ (۱۳/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و کذا ما يفعلونه من تقبيل الارض بين يدي العلماء و العظماء فحرام و الفاعل و الراضی به آثمان، لأنه يشبه عبادة الوثن(۳) نو د چا له پښو مچولو څخه دي په دې وجه پرهيز کوي چي په دې کي د مذکور تقبيل کوم چي حرام دی مشابهت راځي او د دين په هکله احتياط لازم دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر و الرد کتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء وغيره. ط رشيديه

(۲) شرح شرعة الاسلام، ص: ۳۱۲، فصل فی سنن المشی و آدابه.

(۳) الدر المختار مع الرد کتاب الحظر و الاباحة. ط رشيديه

د مور پلار او پیر قبر مچول

سوال: (۱۴۷۹) د مور، پلار او پیر قبر مچول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۴۹۰هـ)

ځواب: د چا قبر مچول صحیح نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

د پښو مچولو او قبر مچولو څه حکم دی؟

سوال: (۱۴۸۰) د پښو مچولو او قبر مچولو په هکله تفصیلي فتوی راکړئ (۱۳۳۳-۳۲/۸۴۱هـ)

ځواب: اقول و بآلله التوفیق: و فی الجامع الصغیر: تقبیل الارض بین یدی العظماء حرام و ان الفاعل و الراضی آثمان کذا فی التتارخانیة و تقبیل الارض بین یدی العلماء و الزهاد فعل الجهال، و الفاعل و الراضی آثمان کذا فی الغرائب و الانحناء للسلطان او لغیره مکروه لأنه یشبه فعل المجوس کذ فی جواهر الاخلاطی و یکره الانحناء عند التحیة و بهٔ ورد النهی کذ فی الثمرتاشی(۱) (عالمغیریة: ۳۶۹/۵) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رجل یا رسول الله! الرجل یلقی أخاه او صدیقه اینحنی له، قال: لا، قال افیلتزمه وي قبله قال: لا، قال فیأخذ بیده و یصافحه، قال: نعم، رواه الترمذی (۲) نو معلوم شو چي په تیتیدلو سره د چا پښي او قبر نه دی مچول پکار، کله چي په تیتیدلو سلام کول هم صحیح نه دی نو په تیتیدلو پښي مچول کوم چي مشابه بالسجود دي څرنګه صحیح کیدلای شي؟! او قبر مچول په دي وجه هم رحرام دي چي تقبیل د ارض دی او په دي وجه هم حرام دی چي په دي کي تشبه بالسجود ده او په دي وجه هم حرام دی چي په دي کي د غیر الله تعظیم دی. و کل منها حرام.

سوال: (۱۴۸۱) د کوم مشرا او بزرګ پښي مچول څه حکم لري؟ تفصیلي د دلائلو سره جواب راکړئ (۱۳۳۳-۳۲/۹۴۹هـ)

---

(۱) الفتاوی الهندیة: ۳۶۹/۵، کتاب الکراهیة، الباب الثامن و العشرون فی ملاقاة الملوک و التواضع لهم؛ تقبیل ایدیهم او ید غیرهم الخ.

(۲) جامع لترمذی: ۱۰۲/۲، ابواب الآداب، باب ما جاء فی المصافحة.

ځواب: احوط او راجح عدم تقبیل رجلین دی چي دغه تقبیل په ځیني صورتونو کي د سجدې سره مشابهت پیدا کوي او س جده او تقبیل ارض بین یدی العلماء و المشائخ په اتفاق سره حرام او کبیره ګناه ده، بلکه ځینو فقهاء په دې کي د کفر حکم لګولی دی. کما فی الدر المختار: و کذا ما یفعلونه من تقبیل الارض بین یدی العلماء و العظماء فحرام، و الفاعل و الارضی بهٔ آثمان لأنه یشبه عبادة لاوقن و هل یکفر؟ إن علی وجه العبادة و التعظیم کفر، و ان علی وجه التحیة لا، و صار آثما مرتکبا للکبیرة و فی الملتقط التواضع لغیر الله حرام(۱) (در مختار) ترجمه: او داغه راز کوم چي خلګ کوي د ځمکي مچول و مخته د علماء او بزرګانو نو دا حرام دی او د داسي فعل کونکی او څوک چي په راضي وي دواړه ګنهکاران دي ځکه چي دا فعل مشابهت دی د بت پرستی سره او آیا د دغه فعل کونکی کافر ګرځي، نو که د عبادت او تعظیم له مخه د علماء او بزرګانو مخته سر ټیټ کړی دی او ځمکه مچ کړې ده نو کافر ګرځي او که د سلام او تحیه له لاري داسي کړي دي نو کافر نه ګرځي او ګنهکار د کبیره ګناه کونکی ګرځي. او په ملتقط کي راغلي دي: چي تواضع د غیر الله لپاره حرامه ده. فقط و الله تعالی اعلم

د خانقاه او آستانې تقبیل جائز نه دی

سوال: (۱۴۸۲) د اولیاء د استانې او خانقا مچول صحیح دي او کنه؟ (۳۲/۲۴۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د خانقاه او استانې تقبیل جائز نه دی، کما فی الدر المختار: و کذا ما یفعلونه من تقبیل الارض بین یدی العلماء و العظماء فحرام(۲) فقط و الله تعالی اعلم

بالغه لور مچول څنګه دي؟

سوال: (۱۴۸۳) خپله بالغه لور پر مخ مچول څنګه دي؟ (۲۱۷۲/۱۳۴۳ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي کتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء و غیره. ط رشیدیه

(۲) الدر المختار مع الشامي کتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء الخ. ط رشیدیه

ځواب: خپله لور مچول د محبت او رحمت په وجه صحيح دي(۱) او د شهوت په وجه حرامه ده(۲) او د حرمت مصاهرت باعث ده(۳) او له دې ښځه په لو مړي صورت کې پرهيز کول هم احوط دی. فقط و الله تعالی اعلم

له چا سره چې پاکه مينه وي د هغه مچول

سوال: (۱۴۸۴) زيد د عمر سره د پاکي ميني کولو په وجه که دی په پاک نيت مچ کړي چې مفضی الی فعل قبيح نه دی نو جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۱/۴۱۹هـ)

ځواب: دا فعل جائز نه دی ځکه چې قبيح فعل په ښه نيت هم نه روا کيمي او په دې کي کوم ښه نيت هم نشته. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن البراء رضی الله عنه قال: دلخت مع ابي بكر اول ما قدم المدينة فلذا عائشة ابنته مضطجعة قد اصابها حمى، فأتاها ابوبكر، فقال: كيف انت يا بنية؟ و قبل خدها، رواه ابو داؤد(مشكوة المصابيح، ص: ۴۰۲، كتاب الآداب، باب المصافحة و المعانقة الفصل الثانی)

فائدة: قيل: التقبيل على خمسة اوجه: (۱) قبلة لامودة للولد على الخد (۲) و قبلة لارحمة لوالديه على الرأس (۳) و قبلة الشفقة لأخيه على الجبهة (٤) و قبلة الشهوة لمرأته او امته على الفم (٥) و قبلة لتحية للمؤمنين على اليد، و زاد بعضهم: قبلة الديانة للحجر الاسود (الدر المختار مع الرد كتاب الحظر و الاباحة، آخر باب الاستبراء و غيره. ط رشيديه)

(۲) اما التقبيل بالشهوة فحرام بالاتفاق، و سواء فی ذلک الولد وغيره اهـ (مرقاة المفاتيح: ٤٩٦/٨، كتاب الآداب، باب المصافحة و المعانقة ، الفصل الاول رقم الحديث ٤٦٧٨)

(۳) قوله: (و الزنا و اللمس و النظر بشهوة يوجب حرمة المصاهرة) ... و اللمس و النظر سبب داع الی الوطی فيقام مقامه فی موضع الاحتياط (البحر الرائق: ۱۷۳/۳-۱۷٤، كتاب النكاح، فصل فی المحرمات)

د علم بیان

د دیني علم اهمیت او فضیلت

سوال: (۱۴۸۵) د زید او عمر اختلاف دی، زید وایي چي د مذهبي علومو په تحصیل زیاتره علماء او ظآلبان بدکار، طمع کونکي، مفلسان او س ائلان ګرځي او سوال حرام دی او د قوم لپاره د ننګ او شرم باعث دی او د دنیاوي علومو تحصیل لکه انګریزي او نور د قوم لپاره د فخر عزت او مالداری باعث وي او په دغه مال سره مورږ آئنده د دین مرسته کولای شو او په موجوده تعلیم سره عقائد نه خرابیږي، ځکه په همدې خیال زید خپل زوی چي فراغت ته نژدې ؤ له اسلامي مدرسې راوایستی او په دنیاوي علومو کي واچاوی او د لمونځ او روژې تأکید یې ورته کول ترک کړی، عمر وایي چي د معاش د ګزارې لپاره کوم کسب او هنر دي هم وکړي او د رفع حاجت لپاره دي انګریزي هم ووایي او د دیني علومو تحصیل چي په اوسنۍ زمانه کي سخته اړتیا ده او له فرضو څخه دی د دې شغل دي هم وساتي، ترڅو آئنده د ده پر عقیده بد اثر ونه

لویږي او د مخالفینو په لاس ورتلو څخه مفلسي غوره ده، په دواړو کي پر حق څوک دی؟(۱۳۴۰/۹،۰۸ھ)

ځواب: په دې اړه د زید خیال او عقیده غلطه ده او د قرآن شریف او د حدیثو د تعلیم په خلاف ده او د عمرو وینا او عقیده یو مخ صحیح او سم دی، د رزق ذمه واري الله پاک اخیستې ده: "و ما من دابة فی الارض الا علی الله رزقها "(سورۀ هود، آیت: ۲) او فرمايي: "و ما خلقت الجن و الانس الا لیعبدون، ما ارید منهم من رزق و ما ارید ان یطعمون ان الله هو لارزاق ذو القوة المتین "(سورة ذاریات، آیت: ۵۲-۵۸) نو معلوم شو چي مطلق رزاق او روزي رسونکی حقیقي الله تعالی دی او د "اجملوا فی الطلب" (۱) په حکم د حلال کسب په وسیله روزي حاصله کړي او د دیني علم په حصول کي خپل عزیز وخت ولګوي او په دې اړه د الله تعالی فیصله بس ده "هل یستوی الدین یعلمون و الذین لا یعلمون "(سورة زمر، آیت: ۹) ترجمه: آیا برابر دي هغه خلګ چي علم لري او هغه چي بې علمه دي؟ ! فقط

د خپل اولاد د اصلاح طریقه

سوال: (۱۴۸۲) ... (الف) په اسو زمانه کي که کوم کامل الایمان شخص خپل په صراط مستقیم یعني د سالام په دین بنائسته کول وغواړي نو د هغه لپاره څه طریقه ده؟ (ب) په عین الهدایة (۳۲۰/۴) کي لیکل یدي چي علم و نا اهل ته مه ورزده کوئ ترخو علم ضائع نشي الخ نااهل څوک دی؟ او زیاتره شریفو خلګو مذهبي علوم سپک او بې کاره بللی دی ځکه توجه نه ورکوي، په داسي حال کي و ناشریفو ته مذهبي علوم ورزده کړو او کنه؟

---

(۱) عن جابر بن عبد الله رضی الله عنه قال: قال رسول لله صلی الله علیه وسلم ایها الناس! اتقوا الله و اجملوا في الطلب فإن نفسا لن تموت حتی تستوفی رزقها و ان ابطاء عنها فاتقوا الله و اجملوا فی الطلب، خذ و اما حل و دعوا ما حرم (سنن ابن ماجة، ص:: ۱۵۵، ابواب التجارات، باب الاقتصاد فی طلب المعیشة)

(ج) زید خپل اولاد له نیک صحبت او دیني علم څخه منع کوي او دا کارونه ضروري نه بولي، لیکن صرف د سهار او ماښام د لمانځه دوی ته تاکید کوي. ایا صرف لمونځ بې د لمانځه له فرائضو او ارکانو او بیله اسلامي عقائدو په آخرت کې بس کیدلای شي؟ (۱۳۴۱/۳۱۸هـ)

ځواب: (الف) دیني علم دي ورزده کړي او د صالحینو په صحبت کې دې پې ساتي. همدا لوی اصل دی د اصلاح کما قیل: ع صحبت صالح تر صالح کند(۱)

(ب) دا صحیح خبره ده چې نا اهل ته علم مه ورزده کوي او څوک چې د علم قدر او مرتبه نه پیژني او عمل نه په کوي او علم د دین د تخریب او د دنیا حاصلولو وسیله جوړه کړي، هغه نا اهل دی او ناشریفان چې اهل وي هغو ته علم ورزده کول پکار دي.

(ج) د زید قول او عمل د شریعت خلاف دی، ښکاره خبره ده چې بیله علم عمل نیمګړی او ناکافي دی او فضائل د علم بې شماره دي، آیت: "یرفع الله الذی آمنو منکم و الذین اوتوا العلم درجات" (سورة مجادلة، آیت: ۱۱) او العلماء ورثة الانبیاء(۲) او نور احادیث د علم په فضیلت کې بس دي.

که پلار په زوی دنیوي تعلیم کوي نو زوی څه وکړي؟

سوال: (۱۴۸۷) یو سړی دیني تعلیم حاصلول غواړي او پلار دنیاوي تعلیم ورکول غواړي، دی باید څه وکړي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۹۰۲هـ)

ځواب: دیني تعلیم مقدم دی او په دغه کار کې د پلار اطاعت ضروري نه دی. بلکه جائز نه دی. فقط

---

(۱) ترجمه: ښه صحبت به تا نیک کړي

(۲) عن ابي الدرداء رضی الله عنه ... قال: فإني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ... و إن العلماء ورثة الحديث(سنن ابي داؤد، ص: ۵۱۳، كتاب العلم، باب في فضل العلم)

د دیني زده کړي سره د انګریزي زده کړه

سوال: (۱۴۸۸) ... (الف) د یو سړي خیال دی چي دی یوه عربي مدرسه د ساي ځای جوړه کړي چیري چي ضرورت وي، په دغه مدرسه کي د ندوه نصاب شروع کړو که درس نظامي؟

(ب) د درس نظامي په صورت کي د انګریزي علیم ورسره کنبیږدو نو مناسب دی او کنه؟ (۴۲/۹۵۰-۱۳۴۷ھ)

ځواب: (الف-ب) نصاب د درس نظامي کنبیږدئ او که د ضرورت سره سم د انګریزي ځانګه هم ورسره وي نو د زماني د حالت په نظر کي استلو سره دا هم څخ پروا نلري فقط

سوال: (۱۴۸۹) ... (الف) په قوم کي دیني او دنیوي ابتدائي تعلیم لازمي کړو؟

(ب) قوم و خپلو ماشومانو ته انګریزي تعلیم ورکړي؟ (۴۲/۱۰۳۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: (الف) د تعلیم التزام ډیر ضروري دی.

(ب) شرعًا دا هیڅ پروا نلري او د انګریزي تعلیم منع نشته، د وخت د مصلحت او زماني د ضرورت په وجه د ضرورت په اندازه دا جائز دي فقط و الله تعالی اعلم

مدرسي له کوم وخت څخه دي او چا یي پیل کړي دی؟

سوال: (۱۴۹۰) کوم هیئت کذائي چي زموږ په زمانه کي د مدرسو دی په پخوا زمانه کي هم همدا طرز د تعلیم او تعلمؤ که کومه بله طریقه وه؟ مدرسي له کوم وخت څخه دي؟ او چا جاري کیږ دي؟ (۱۳۳۹/۱۱۷ھ)

ځواب: اصل د مدرسو د اصحاب صفه اجتماع، درس، تدریس او علمي مذاکره ده، کما ثبت فی الاحادیث او په حدیث شریف کي راغلي دي: بعثت معلما الحدیث(۱)

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو قال: خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم: ذات یوم من بعض حجره فدخل المسجد، فإذا بحلقتین احداهما یقرأون القرآن و یدعون الله و الأخری یتعلمون و یعلمون فقال النبی صلی الله علیه وسلم: کل علی خیر هؤلاء یقرأون القرآن و یدعون الله فإن شاء اعطاهم و إن شاء منعهم و هؤلاء

نو نبي علیه الصلاة و السلام علم یعني استاذ ؤ او صحابه یې طالبان ؤ. نو تعلیم او تعلم چې په هر طرز او هیئت دی هغه ټولي طریقې د دې له افرادو څخه دي او ټولي د تعلیم او تعلم وسیلې دي او ټولي جائز او مستحسن دي، له دې وروسته د کوم خاص طرز پوښتنه فضوله ده. فقط

د حاجت په قدر دیني علم زده کول فرض عین او ضروري دی

سوال: (۱۴۹۱) د علم څومره ضرورت دی؟ په تیره بیا په تفسیر، حدیث، فقه او نورو کي څومره مهارت پکار دی؟ د دې لپاره متقي کیدل شرط دی او کنه؟ سره د علم که تقوی نه وي نو قاضي کیدلای شي او کنه؟ (۳۲/۱۲۴۸-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و اعلم ان تعلم العلم یکون فرض عین: و هو بقدر ما یحتاج لدینه، و فرض کفایة: و هو ما زاد علیه لنفع غیره و مندوبا: و هو التبحر فی الفقه و العلم القلب الخ(۱) او په همدې کي راغلي دي: و تعلم الفقه افضل من تعلم باقی القرآن و جمیع الفقه لا بد منه و فی الملتقط و غیره عن محمد رحمه الله: لا ینبغی لرجل ان یعرف بالشعر و النحو، لأن آخر أمره إلی المسئلة و تعلیم الصبیان، و لا بالحساب لأن آخر أمره الی مساحة الأرضین و لا بالتفسیر، لأن آخر امره الی التذکیر و القصص بل یکون علمه فی الحلال و الحرام و ما لا بد منه من الاحکام الخ(۲) لنډه دا چې دیني علم د ضروت په اندازه زده کول فرض عین او ضروري دی او له دې څخه زیات د بل د نفع لپاره فض کفایه دی او په علم فقه او نورو کي تبحر او ژورو الی حاصلول مستحب دی فرض نه دی او له دوهم عبارت څخه دا هم څرګند دي چې د انسان لپاره د حلال او حرام او شرعي ضروریاتو علم حاصلول ضروري دی، په تفسیر او نورو کي زیات مهارت ضروري نه دی د حاجت په اندازه دا حاصل کړي نو وخت د حلال او حرام په

یتعلمون و إنما بعثت معلما فجلس معهم (سنن ابن ماجة، ص: ۲۰-۲۱، المقدمة باب فضل العلماء و لاحدث علی طلب العلم)

(۱) الدر المختار مع الشامی مقدمة، مطلب: فی فرض الکفایة و فرض العین. ط رشیدیه

(۲)الدر مع الرد مقدمة مطلب: الفرق بین المصدر و الحاصل بالمصدر. ط رشیدیه

علم کي کي ولګوي يعني د فقه په حاصلولو کي او تقوی په هر حال کي ضروري ده او قاضي هم هغه څوک جوړول غوره دی چي د علم سره تقوی هم لري. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۴۹۲) ديني علم زده کول چي پر مسلمان نارينه او ښځينه فرض عين دی د دي مقدار څومره دی؟ که د حديثو، فقهي او نورو کتابونو فرض عين مقدار شته که څنګه؟ (۱۳۳۹/۱۱۱۲هـ)

ځواب: پر هرچا باندي د هغه ديني خبرو زده کړه فرض عين ده و کومو ته چي د ده په دين کي ضرورت وي مثلاً کوم څوک چي مکلف دی د هغه لپاره د اودس او لمانځه مسئلي زده کول فرض عين دي، داغه راز کوم څوک چي د نصاب مالک وي د هغه لپاره د زکوة مسئلي زده کول فرض عين دي و قس عليه په در مختار کي راغلي دي: و اعلم أن تعلم العلم يکون فرض عين: و هو بقدر ما يحتاج لدينه الخ(۱) او په شامي يک راغلي دي: و فرض علی کل مکلف و مکلفة بعد تعلمه علم الدين و الهداية تعلم علی الوضوء و الغسل و الصلاة و الصوم و علم الزکاة لمن له نصاب و الحج لمن وجب عليه الخ(۳) و التحقيق فی المطولات. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۹۹۳) څومره علم زده کول پر انر او ښځه فرض دی؟ زيد د دي جواب ورکوي د لمانځه روژي، حج او زکوة مسئلي په حرام او حلال کي معلومات وشي او د اردو کوم کوم کتابونه ووايو؟ ترڅو د دغه ټولو خبرو معلومات حاصل کړو؟ (۴۴/۴۷۱-۱۳۴۵هـ)

ځواب: د زيد جواب صحيح دی پر هر نر او ښځه د لمانځه روژي او نورو مسئلي زده کول فرض دي او د غني کيدو په صورت کي د زکوة او حج مسئلي زده کول هم فرض دي، دغه راز چي کوم معاملات پيښ شي په هغو کي شرعي حکم اوش رعي مسئلي زده کول فرض ګرځي او د درمختار ترجمه او نورو کتابونه د فقهي لکه شرح وقايه، هدايه او نورو ترجمه په دي اړه کافي ده. فقط و الله تعالی اعلم

(۱) الدر و الرد مقدمة، قبيل مطلب فی فرض الکفاية و فرض العين. ط رشيديه

د شرعي په خلاف د خوشحالیو ورځو کي اسلامي مدرسې رخصتول

سوال: (۱۴۹۴) د اسلامي سیمو په محکمو او مدرسو کي د عامو خلګو. مأمورینو او نورو مصلحتونو په وجه څلور ډوله چټیاني کیږي: اسلامي، شاهي، عیسائي، هنودي، لیکن ځیني چټیاني د محکمو، انګریزي مکتبو او نورو پیروي په وجه په اسلامي مدرسو کي هم کیږي پوښتنه مي دا ده چي د عیسایانو او هندوانو په رنګه چټي لکه د هولي، دیوالي په ورځ یا بله غټه ورځ چي په کي صرف مذهبي رواجونه ادا کیږي او کومه اړه او مصلحت پکي نشته. په اسلامي مدرسو کي شرعًا صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۱۰هـ)

ځواب: که کوم ضرروت او مصلحت وي نو پروا نلري کنې بیله ضرورته غوره نه دي. فقط

په هفته کي چټي د یکشنبې په ورځ کول څنګه ده؟

سوال: (۱۴۹۵) د فیروز پور په اولسوالي کي یو اسلامي سکول دی د هغه په اړه اوس د زیاتره استاذانو او زیاتره کارکونکیو دا خیال دی چي په هفته کي د جمعې د ورځي د چټي پر ځای د یکشنبې په ورځ به چټي کؤ او د جمعې په ورځ به نیمه ورځ چټي کؤ، داسي خو به شرعًا څه پروا نلري؟ (۱۳۴۰/۲۵۳۲هـ)

ځواب: مناسب او د سلفو د طریقې سره سم همدا دئ چي د جمعې په ورځ چټي وشي. نور نو که د کوم مصلحت په وجه چټي د یکشنبې په ورځ وي او د جمعې په ورځ د جمعې د لمانځه پر مهال چټي وي نو شرعًا په دې کي هم څه ګناه نشته فقط والله تعالی اعلم

د استاذ الاستاذ تعظیم

سوال: (۱۴۹۶) په څومره اندازه چاته ویلو استاذ جوړیږي؟ د استاذ حق د مور او پلار سره برابر دی که کم او یا زیات؟ د استاذ الاستاذ تعظیم د استاذ په رنګه واجب دی او کنه؟ که څوک د استاذ الاستاذ بې ادبي وکړي او سخته مقابله ورسره وکړي نو هغه عاق دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۵۲۹هـ)

ځواب: په دې کې څه تحدید نشته، لږ او ډیر هر څومره علم چې له چا څخه حاصل کړي هغه استاذ شو او د مور او پلار مرتبه تر استاذ زیاته ده، په شامي کې دار انقل کړي دي چې څومره حق د عالم پر جاهل دی هغومره حق د ساتاذ پر شاګرد دی(۱) او د استاذ الاستاذ تعظیم هم د ساتاذ په رنګه کوئ چې هغه هم په واسطه استاذ دی او بې ادبي د استاذ یا استاذ الاستاذ منع او حرامه ده او د عاق معنی د نافرمانۍ ده کوم چې څوک د چا نافرماني کوي هغه د هغه عاق وي لیکن دا لفظ صرف د عقوق والدین لپاره په شرعي ژبه استعمال شوی دی. فقط و الله تعالی اعلم

استاذ چاته ویل کیږي؟

سوال: (۱۴۹۷) آیا استاذ هغه چاته ویل کیږي چا چې د دیني او مذهبي زده کړه سرې ته ورکړې وي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۴۲ھ)

ځواب: استاذ واجب التعظیم هم هغه دی چا چې دیني او مذهبي کتابونه سرې ته ویلي وي. فقط

استاذ او پیر بدلول څنګه دي؟

سوال: (۱۴۹۸) یو سړي یو څوک استاذ کړی خو اطمینان یې په ونه شو آیا دی بل څوک استاذ کولای شي؟ یا یې داغه رانګه بیعت وکړی خو اطمینان یې ونه شو اوس د بل پیر سره بیعت کولای شي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۳۴۸ھ)

ځواب: استاذ بدلول خو داسې معروف او مروج دي چې د دې خو انکار نشي کیدلای، اکابر و سلفو ډیر، ډیر استاذان کړي دي او څومره چې د چا زیات ساتاذان وي هغه زیات معتبر او معتمد بلل کیږي، له سلفو څخه واخله تر اسوه دا مسئله ظاهره او ښکاره ده، د اوس زمانې ټولو علماؤ ته وګوره چې د یو، یو عالم څو، څو ساتاذان دي، داغه رنګه په بیعت کې هم حکم دی چې له څو څو مشائخو بزرګانو استفاده کړې ده او

---

(۱) حق العالم علی الجاهل و حق الاستاذ علی التلمیذ واحد علی السواء (الشامي کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه)

که د لومړي شیخ څخه فایده نه وي نو د بل شیخ سره بیعت کړی دی او س هم دا رنګه سلسله جاري ده. فقط

د استاذ زوی هم د ادب او تعظیم وړ دی

سوال: (۱۴۹۹) یو سړي همیشه د خپل استاذ د زامنو سره حسد کوی او روخت و دوی ته د تکلیف رسولو کوشش کوي، سره د دې چې هغه ټول په علم، کمال او نورو کي پر ده فائق علی وجه الاکمل دي او د دوی پلار محترم د دغه سړي روحاني او جسماني پالنه کړې ده، آیا دوی ته استحقاق د عقوق د بعضیت او جزلیت په علت ثابت دی او کنه؟ او بې حرمتي د جز مستلزمه ده بې حرمتي و کل ته او کنه؟ د داسي چا لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۴۵۸هـ)

ځواب: عام حکم دی چي د کوم مسلمان سپکاوی مه کوئ او تکلیف مه ورکوئ او هر ډول خیر خواهي یې کوئ او په صحیح حدیث کي راغلي دي: المسلم من سلم المسلمون من لسانه و یده(۱) او د الله تعالی ارشاد دی: "و لا تلمزوا انفسکم و لا تنابزوا بالالقاب بئس الاسم الفسوق بعد الایمان و من لم یتب فاولئک هم الظالمون" (سورة حجرات، آیت: ۱۱) نو استاذ او عالم ته بیا په تیره تکلیف رسول سپک یې ګڼل او عیبونه لټول حرام او کبره ګناه ده، او د استاذ زامن چي علماء او صلحاء دي هغه هم د ادب او تعظیم مستحقین دي، د هغو سپکوالی هم حرام او معصیت دی او بیله کومي شرعي وجهي توهین او سپکاوی کونکی فاسق او عاصي دی، پهش امي کي راغلي دي: و فی المنح عن البزازیة و قال الزوندویسي: حق العالم علی الجاهل و حق الاستاذ علی التلمیذ واحد علی السواء و هو ان لا یفتح الکلام قبله ول اي جلس مکانه و ان غاب و لا یرد علیه کلامه و لا یتقدم علیه فی مشیه الخ(۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن جابر رضی الله عنه یقول: سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول: المسلم من سلم المسلمون الحدیث(الصحیح لمسلم: ۴۸/۱، کتاب الایمان، باب بیان تفاضل الاسلام و ای اموره افضل)

(۲) الشامي کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

دیوبندي عالم و رضائي ډله ته تعلیم ورکولای شي او کنه؟

سوال: (۱۵۰۰) و رضائي ډله ته د دیوبند اعتقاد ساتونکی سړی د قرآن شریف تعلیم ورکولای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۲۲۹هـ)

ځواب: که د اصلاح امید وي او د اصلاح په نیت تعلیم ورکول شي نو هیڅ پروا نلري فقط

په موجوده تبلیغي جماعت کي له کارکولو څخه درس او وعظ و نصیحت غوره دی

سوال: (۱۵۰۱) یو بزرګ چي په موجوده تبلیغي جماعت کي کار کاوی، اسو یو ځای د تعلیم پر خدمت مامور دی او ځای وال خلک د ده له وعظ څخه ښه استفاده کوي، طالبان هم د نوموړي په درس ډېر خوشحال دي، په داسي حال کي د نوموړي همدغه خدمت کول زیات مفید دی که په تبلیغي جماعت کي کار کول زیات غوره دی؟ (۱۳۴۳/۱۸۲۵هـ)

ځواب: د ده لپاره د درس تدریس او دیني علومو تعلیم او د وعظ او نصیحت مشغله غوره ده ځکه چي دا هم ضروري ده او کله چي د تبلیغ لپاهر کافي جماعت موجود دی او هغه جماعت دا کار کوي نو ښکاره خبره ده چي د نوموړي لپاره په دغه شعبه کي د تللو او کار کولو زیات ضرورت نشته، نوموړی دي همدغه د تعلیم او وعظ کار کوي ، په نورو موجود مجالسو کي له کار کولو څخه هم همدغه افضل دی نور نو څنګه چي مصلحت او د وخت تقاضا وي د هغه سره سم کار وکړي ځکه چي دا ټول کارونه ښه دي او ضروري دي فقط و الله تعالی اعلم

په مدرسو کي ریاضي او حساب ورته ویل څنګه دي؟

سوال: (۱۵۰۲) په اسلامي مدرسو کي و طالبانو ته د ریاضي سوالونه ورزده کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۸۲هـ)

ځواب: جائز دی فقط و الله تعالی اعلم

د فقهي د مشغولیت په وجه جماعت پرېښودل

سوال: (۱۵۰۳) زید که د دیني علم زده کړه کوي نو د ماخوستن جماعت څني پاتیږي. په دغه صورت کي څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۷۴۵هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي چې د فقهې په تحصیل او مطالعه کې مشغولیت ځینې علماء د جماعت د ترک لپاره عذر بللی دی یعنی له هغو عذرونو څخه چې له امله کله کله جماعت پاتـه شي نو څه پروا نلري؛ فقهي مشغولیت هم دی لیکن که د جماعت پر ترک مواظبت وکړي نو معذور نه دی بلکه واجب التعزیر دی. کذا فی الدر المختار و الشامي (۱) فقط و الله تعالی اعلم

د نابالغو طالبانو روژې نیول غوره دي که د علم په تحصیل کې کوشش کول؟

سوال: (۱۵۰۴) د نابالغو طالبانو لپاره د رمضان روژې نیول غوره دي که په سبق کې کوشش کول؟ کله چې په روژې نیولو ضعف راځي چې د وی په تعلیم مصروف وي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۵۳۵هـ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي: و إن وجب ضرب ابن عشر علیها بید لابخشبة لحدیث مروا اولادکم بالصلاة و هم ابناء سبع و اضربوهم علیها و هم ابناء عشر قلت: و الصوم کالصلاة علی الصحیح کما فی صوم القهستانی معزیا للزاهدی، و فی حظر الاختیار: أنه یؤمر بالصوم و الصلاة. و ینهی عن شرب الخمر لیألف الخیر و یترک الشر الخ(۲) له دې څخه معلوم شو چې د نابالغو هلکانو حکم د روژې په اړه د لمانځه په رنګه دی چې د اوو کلونو په عمر کې د روژې او لمانځه امر ورته وکړئ او د لسو کلونو په عمر پر روژه نه نیولو او لمونځ نه کولو باندې یې ووهئ، نو باید د روژې په میاشت کې د ماشومانو د علم تحصیل ورکم کړي، په همدې وجه زیاتره په رمضان کې اسلامي مدرسې رخصت شي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) فلا تجب علی مریض ... و کذا اشتغاله بالفقه لا بغیره ... الا اذا واظب تکاسلا فلا یعذر، و یعزر الخ (الدر المختار)

ثم اشتغال لا بغیر الفقه فی بعض من الاوقات عذر معتبر

(الدر و الرد کتاب الصلاة، باب الامامة، مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد. ط رشیدیه)

(۲) الدر المختار مع الشامی اوائل کتاب الصلوة. ط رشیدیه

په فقه عمل کول عين په قرآن او حديث عمل کول دي

سوال: (۱۵۰۵) د فقهي مستند او معتبر کتاب د قرآن او حديث سره سم دی او که نه؟ او د قرآن او حديث په مقابله کي په فقه باندي عمل کول څنګه دی؟ (۲۳/۸۹۴-۱۳۳۴هـ)

ځواب: فقه د قرآن او حديث خلاصه ده، په فقه باندي عمل کول عين په قرآن او حديث عمل کول دي نو بايد خاص په فقه عمل وشي. فقط و الله اعلم

فقه د حديثو خلاصه ده

سوال: (۱۵۰۶) فقه د حديثو سره سمه ده که خلاف ده؟ (۱۳۴۰/۲۰۰۲هـ)

ځواب: فقه ثمره او خلاصه ده د حديثو او د عمل لپاره خاص فقه متعينه ده. فقط

د عالم درجه تر حافظ زياته ده

سوال: (۱۵۰۷) د رحيم زوی قرآن شريف په ناظره ويلی دی او س رحيم غواړي چي دی د قرآن حفظ وکړي او بيا د کور په کارونو کي ولګول شي د رحيم ورور کريم وايي چي ديني عمل ورزده کول زيات ضروري دي ځکه چي فراغت نلرونکي شخص لپاره غوره همدا دي چي د ديني علومو په زده کړه کي کوشش وکړي، په دوی کي د چا خيال صحيح دی؟ او مرتبه د حافظ زياته ده که د عالم؟ (۲۳/۲۳۸-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د کريم خيال صحيح دی تر حافظ د عالم مرتبه ډيره زياته ده. فقط

سوال: (۱۵۰۸) دوه کسان دي يو حافظ د قرآن او بل عالم دی نو په دوی دواړو کي د چا مرتبه افضله او زياته فضيلت والا ده؟ (۱۳۴۱/۲۸۲۵هـ)

ځواب: د عالم مرتبه تر حافظ زياته ده، په حديث شريف کي راغلي دي: فضل العالم على العابد كفضلي على ادناكم (۱) داغه رنګه په نورو ډيرو صحيح حديثونو کي د علم او علماؤ فضيلت راغلی دی (۱) فقط و الله تعالى اعلم

(۱) عن ابي امامة الباهلي رضى الله عنه قال: ذكر لرسول الله صلى الله عليه وسلم رجلان: احدهما عابد و الآخر عالم، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فضل العالم الحديث(جامع الترمذى: ۹۸/۲ ابواب العلم، باب ما جاء فى فضل الفقه على العبادة)

اوولس سیپارې یادونکي ته حافظ ویل صحیح دي

سوال: (۱۵۰۹) ما صرف دریمه برخه د قرآن شریف یاده کړې ده او ماته عام خلګ حافظ وایي آیا ماته حافظ ویل شرعًا صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۱۳۸ھ)

ځواب: کله چي د سړي له طرفه کوم طلب او منا د حافظ ورته ویلو نه وي او نور خلګ د لسو سیپارو د حفظ په وجه ورته حافظ وایي نو په داسي صورت کي دغه سړی او حافظ ورته ویونکی ګنهکار نه دی آخر حافظ خو دی که څه هم د کلام الله د څۀ برخي حافظ دی لیکن ده ته پکار دي چي دا خبره ښکاره کړي چي زما ټول کلام الله په یاد نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

و ترې انجلۍ ته هم باید قرآن شریف وویل شي

سوال: (۱۵۱۰) یوه انجلۍ ترې ده چي الفاظ د قران صفا نشي ویلای و دې ته بآید قرآن شریف وویل شي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۴۷۹ھ)

ځواب: قرآن شریف ورته وواياست د دې د غلطۍ فکر مه کوئ د صحیح کولو کوشش ورسره کوئ، شاید یو وخت به حروف سمم شي، کنې دا معذوره ده، لنډه دا چي دې ته قرآن شریف وواياست. فقط و الله تعالی اعلم

د پای له منزل څخه د قرآن شریف حفظ شروع کول

سوال: (۱۵۱۱) د قرآن شریف په حفظ کولو کي د پای له منزل څخه شروع کوئ په دې کي څه مصلحت دی؟ (۱۳۴۳/۱۳۱۳ھ)

ځواب: د پای له منزل څخه د آسانۍ لپاره لومړی حفظ شروع کوئ، که له آلم څخه شروع کړئ بیا هم څه پروا نلري. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: فقیه واحد اشد علی الشیطان من الف عابد رواه الترمذی و ابن ماجة (مشکوة المصابیح، ص: ۳۴، کتاب العلم، الفصل الثانی)

و عن علی رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: نعم الرجل الفقیه فی الدین ان احتیج الیه نفع و ان استغنی عنه اغنی نفسه، رواه رزین (مشکوة المصابیح، ص: ۳٦، کتاب العلم، الفصل الثالث)

مسلمان ماشومان د قرآن پر تعليم مجبورول

سوال: (۱۵۱۲) ... (الف) دلته یوه اسلامیه مدرسه ده مار ایه ورکړه چي د مسلمانانو و بچیانو ته د قرآن تعلیم جبرًا ورکول پکار دی که کوم مسلمان خپل بچی مدرسې ته رانلیږي نو د هغه سره اړیکي قطع کول پکار دي، مولوي صاحب ویول چي په دین کي جبر نشته "لا اکراه فی الدین "آیا دا خبره صحیح ده؟

(ب) زید وايي چي زه خپل زوی ته قرآن نه وایم نو آیا پر زید بانید شرعًا کوم حد راتلای شي؟ (۱۳۴۳/۱۵۸۷ھ)

ځواب: (الف) واقعتًا و مسلمانو ماشومانو ته لومړی د قرآن تعلیم ورکول ډیر ضروري دی بیا اسلامي عقائد او ضروري مسئلې ورزده کول فرض او واجب دي او دا ډیر ښه دی چي مسلمانان پر دې اتفاق وکړي چي څوک داسي نه کوي هغه ته یادونه وکړي او د اړیکي قطع کولو ورته ووایي او دا هغه اکراه نه ده کومه چي مولوي صاحب په "لا اکراه فی الدین" (سورة بقرهو آیت: ۲۵۲) سره منع کوي.

(ب) زید په دغه صورت کي ګنهکار دی، ده ته یادونه وکړي او د یادوني صورت هم هغه مؤثر دی کوم چي پورته ولیکل شو چي کورنۍ دي فشار پر واچوي چي که انکار کوي نو اړیکي درخخه قطع کړ. فقط

که حافظ ته قرآن نه وربه یادیږي نو څه وکړي؟

سوال: (۱۵۱۳) ما قران شریف حفظ کړی ؤ، مګر اوس مي دا حال دی چي یادوم يې خو بیا مي هیر شي که د حفظ کول پر ځای یې هره روغ په کتلو منل وایم نو زه خو به ګنهکار نه یم؟ (۱۳۴۳/۲۲۱۲ھ)

ځواب: ته په کتلو هره ورځ قران شریف وایه همدا کافي دي او په دې کي د قرآن شریف هیرولو ګناه نشته(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) اذا حفظ الانسان القرآن ثم نسیه فانه یاثم، و تفسیر النسیان ان لا یمکنه القراءة من المصحف(الفتاوی العالمغیریه: ۳۱۷/۵، کتاب الکراهیع، الباب الرابع فی الصلاة و التسبیح الخ)

فتاوی عالم گیري معتبر کتاب دی

سوال: (۱۵۱۴) "فتاوی عالمګیري "معتبر کتاب دی او کنه؟ (۹۲۱/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: فتاوی عالمګیري معتبر کتاب دی نور په دې کي هر ډول روایتونه رانقل شوي دي کوم روایتونه چي د نورو معتبرو فتاوا و سره سم دي، هغه عملي کړئ فقط

د بهشتي زیور (جنتي کالي) په مسئلو عمل کول یا فتوی ورکول

سوال: (۱۵۱۵) زید وایي چي ترڅو له کوم عالم او فاضل مسند یا مدرسې له طرفه و چاته اجازه د افتاء نه وي د هغه لپاره د بهشتي زیور له مطالعې څخه فتوی ورکول جائز نه دي په تیره بیا د هغه چا لپاره چا چي بهشتي زیور له کوم عالم څخه هم نه وي ویلی، بلکه و بل ته فتوی ورکول خو لیري خبره ده، د ده لپاره هم په ځینو مسئلو ترڅو چي له کوم بل عالم څخه پوښتنه نه وي کړې عمل کول صحیح نه دی بکر وایي چي په بهشتي زیور کي زیاتره حنفي مسئلې راغلي دي، په دې وجه چي له چا سره بهشتي زیور وي او هغه یې پخپل هم د عمل لپاره ګوري او بل چاته هم مسئلې ځني بیانوي یا فتوی ورکوي نو هیڅ پروا نلري او په مولوي او بهشتي زیور کتونکي کي صرف دومره فرق دی چي هغه په عربي پوهیږي او دا نه پوهیږي؟ (۲۹/۱۳۳۵ھ)

ځواب: په بهشتي زیور کي زیاتره مسئلې مفتی بها لیکل شوي دي او هغه یې د همدې لپاره لیکلي دي چي کتونکی او مطالعه کونکی پخپل هم عمل په وکړي او چي ځای راشي بل چاته یې هم وروښودي، اما دا ضروري ده چي په کومه مسئله کي شک وي یا اختلاف وي د هغه تحقیق له کوم عالم څخه وکړي او دا هم ضروري ده چي مطالعه کونکی پوه وي په مطلب پوهیدو کي نه غلطیږي، ډیري مسئلې په دې کي داسي صفا او ښکاره دي چي د هغو له چا څخه د ویلو ضرورت نشته او ځیني داسي هم دي چي په هغو ځان پوهول غواړي، لنډه دا چي مطلقًا د زید وینا صحیح نه ده او د بکر په وینا کي هم مبآلغه ده، د دې پخپله د بهشتي زیور لیکوال هم تأکید کوي چي دغه مسئلې له کوم عالم څخه وواياست نو په ځینو مسئلو کي خو دا حکم استحبابي دی او په ځینو مسئلو کي چي کتونکی په نه پوهیږي او پکي شک او اختلاف وي په هغو کي تعمیل د دغه حکم ضروري دی. فقط و الله اعلم

طحطاوي: د حنفي فقهي معتبر کتاب دی

سوال: (۱۵۱۶) که کوم حنفي سړی د طحطاوي شریف انکار وکړي او دا وواېي چې دا کتاب یو مخ غلط دی او کله نا کله د خپل مذهب څخه انکار کوي دا سي سړی شرعًا فاسق دی او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۲۹۵هـ)

ځواب: طحطاوي شریف د حنفي فقه معتبر کتاب دی د درمختار شرح ده لکه چي شامي هم د درمختار شرح ده نو بیله تحقیقه د دې مسئلو انکار کول جهل دی اما که له تحقیق وروسته کومه مسئله د دې مرجوح معلومه شي او صحیح نه وي نو دا ممکن دي او دا تحقیق د عالم کار دی، لنډه دا چي مطلقًا او بیله تحقیقه انکار کول ډېره د جهالت خبره ده او فسق او معصیت دی. فقط و الله تعالی اعلم

مسئله د فقهي له معتبرو کتابونو څخه بیانول پکار ده

سوال: (۱۵۱۷) کله چي له احادیثو څخه مسئله وراوباسي ورته بیان یې کړي نو مخالفین وايي چي دا د اجتهادي مسئلو کتابونه دي د دوی څخه دي، په دې اړه څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۱۷۳هـ)

ځواب: مسئله همیشه د فقهي له معتبرو کتابونو څخه بیانول پکار ده یعني د فقه په معتبرو کتابونو کي چي کومه مسئله مفتی بها لیکلي ده هغه بیانول پکار ده او انکار د دې جهل او معصیت دی. فقط و الله تعالی اعلم

چهل حدیث ویل او اورول

سوال: (۱۵۱۸) چهل حدیث که کوم څوک پخپله ژبه لفظ په لفظ څرنګه چي په کتاب کي لیکلي وي واوروي او د خلکو په مخ کي ووايي جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۲هـ)

ځواب: د چهل حدیث ویل او اورول هیڅ پروا نلري او پخپله ژبه هم که څوک ووايي او خلکو ته واوروي او عمل په وکړي ثواب لري. فقط و الله تعالی اعلم

تول قومونه د نبي آخر الزمان محمد صلی الله علیه وسلم امتیان دي

سوال: (۱۵۱۹) له یو سړي څخه مي واورېدو چي د ځمکي پر مخ موجود ټول قومونه د پیغمبر آخر الزمان امتیان دي او دی د ټولو لپاره نبي دی، که دا خبره صحیح ده نو دغه هندوانو او نورو ته کافران ولي ویل کیږي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۵۴۲هـ)

ځواب: په قرآن شریف کي راغلي دي: "و ما ارسلنک الا کافة للناس" (سورة سبا، آیت: ۲۸) له دې څخه معلوم شو چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو خلګو طرف ته رالیږل شوی دی بلکه د پېرانانو و طرف ته هم رالیږل شوی دی او دی د ټولو لپاره نبي دی لیکن په دوی کي چي چا پر ده ایمان راوړی او اسلام یې قبول کړی هغه مؤمن مسلمان شو او جنتي شو او چا چي د ده دین قبول نکړی هغه کافر او جهنمي شو.

په کتابونو کي لیکلي دي چي امتا پر دوه قسمه دی یو "امت دعوت" په دې کي د ځمکي د مخ ټول انسانان او نور داخل دي یعني مبارک علیه الصلاة و السلام ټول د اسلام و طرف ته رابللي دي د دعوت معنی ده رابلل(۱) بل "امت اجابت" هغه هغه دی چي چا د ده دین قبول کړی او امیان یې راوړی. فقط و الله تعالی اعلم

د کائنات د تخلیق راز

سوال: (۱۵۲۰) الله تعالی چي کائنات پیدا کړي دي، په دې کي څه حکمت دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۳۲۱هـ)

ځواب: حکمت په دې کي د خپل کامل رحمت اظهار دی په کوم سره چي الله تعالی ازلاً او ابداً متصف دی، داغه راز د نامتناهي جود، کرم او رحم اظهار دی کوم چي د بندګانو سره دی، عن ابي هريرة رضی الله عنه يقول: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول: ان الله كتب كتاا قبل ان يخلق الخلق: ان رحمتي سبقت غضبي فهو مكتوب عنده فوق العرش. متفق عليه(۲)

---

(۱) مګر په اصطلاح کي امت دعوت و هغه خلګو ته ویل کیږئ و کومو ته چي د اسلام دعوت ورکول کیږي مګر تر اوسه لا دوی دعوت نه وي قبول کړی، صرف دا امت دعوت دی او چا چي دعوت قبول کړی دی او مسلمان شوي دي، هغه امت اجابه(لبیک ویونکی امت) دی ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۲) صحيح البخاری: ۱۱۲۷/۲، كتاب الرد على الجهمية وغيرهم التوحيد باب قول الله "بل هو قرآن مجيد فی لوح محفوظ" الخ، و الصحيح لمسلم: ۳۵٦/۲، كتاب التوبة، باب سعه رحمة الله تعالی و إنها تغلب غضبه.

د مجازي عشق څه معنی ده؟

سوال: (۱۵۲۱) مجازي عشق څه ته وايي؟ (۱۴۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: د مجازي عشق د دنيا او د دنيا د شيانوسره مينه کول دي دا شرعًا منع دی، مينه د الله او د الله در سول سره کول پکار ده او د کومو شيانو سره چې الله او د هغه رسول د مينې کولو حکم کړی دی، له هغو سره مينه کوئ، نور تحقيق د دې دا ځای نشي کيدلای. فقط و الله تعالی اعلم

د مکروه معنی

سوال: (۱۵۲۲) کومو خبرو ته چې علماء مکروه وايي نو د مکروه څه معنی ده؟ (۲۰۹۲/۱۳۴۳ھ)

ځواب: د مکروه دا معنی ده چې د دې کول ښه نه دي، که هميشه دا سې کوي نو ګنهګاريږي او له ځينې کراهت څخه تحريمي کراهت مراد وي د هغه کونکی ګنهګار دی(۱) فقط و الله اعلم

د نبي عليه الصلاة و السلام علم لدني ؤ او د لدني علم معنی

سوال: (۱۵۲۳) و نبي عليه الصلاة و السلام ته لدني علم حاصل ؤ او کنه؟ او د لدني علم لفظي معنی څه ده؟ او اصطلاحي معنی يې څه ده؟ (۱۱۹۰/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: لدني علم دا دی ي الله پاک له ځانه وچاته علم ورکړی د ظاهري اسبابو او د کسب او زده کړي پکې اثر نه وي يعني فضلي وي، نو نبي عليه الصلاة و السلام ته لدني علم په اتمه او اکمله درجه حاصل ؤ او بيله څه ويلو ليکلو ده ته د اولينو او آخرينو علم ورکول شو، کما قال العارف رحمه الله:

يتيمے کہ نا کردہ قرآں درست   کتب خانۂ چند ملت بشست (۱)

---

(۱) المکروه: ما هو راجح الترک فإن کان إلی الحرام اقرب تکون "کراهة تحريمية" و إن کان إلی الحل أقرب تکون تنزيهية و معنی القرب إلی الحرمة أنه يستحق فاعله العتاب و معنی القرب الی الحل أنه لا يستحق فاعله العتاب بل يستحق تارکه ادنی الثواب (قوعد الفقه، ص: ۵۰۳، الرسالة الرابعة: التعريفات الفقهية)

او دا خبره مسلم عند الکل ده، د زیاتي لیکني ضرورت نشته او لغوي او صاطلاحي معنی د لدني علم همدا ده کومه چي پورته ولیکل شوه او اصلاً دا اصطلاح اخیستل شوي ده له هغه آیت څخه کوم چي د حضرت خضر علیه الصلاة و السلام په ړه راغلی دی: "فوجدنا عبدًا من عبادنا آتینه رحمة من عندنا و علمنا من لدنا علما" (سورة کهف، آیت: ۶۵) یعني بیا وموندی مسوی علیه الصلاة و السلام او د ده ملګري یوشع بن نون زموږ په بندګانو کي یو بنده چي ورکړی موږ هغه ته رحمت له ځانه او ورزده کړی موږ هغه ته علم له ځانه، هغه بنده حضرت خضر علیه الصلاة و السلام ؤ نو ظاهر دا دي چي نبي علیه الصلاة و السلام ته هم الله تعالی دغه علم اوله دي څخه ډیر زیات ورکړی چي د هغه هیچا ته معلوم نه دی لکه چي په قرآن شریف کي راغلي دي: "و قل رب زدني علما" (سورة طه، آیت: ۱۱۴) او ووایه !ای محمده !ای زما ربه !زیات کړه زما علم. فقط

فاسق چاته ویل کیږي

سوال: (۱۵۲۴) په شریعت کي فاسق و چاته ویل کیږي؟ (۱۳۳۸/۷۳۵هـ)

ځواب: د کبیره ګناه کونکی شرعًا فاسق دی(۲) فقط و الله تعالی اعلم

متقدمین او متأخرین څوک دي؟

سوال: (۱۵۲۵) لـه متقدمینو او متأخرینو څخه کوم خلک مراد دي؟ (۱۳۳۸/۱۲۵۷هـ)

ځواب: په رد المحتار کي طبقات فقهاء بیان کړي دي، دا ټولي اوه ذبقې دي چي یکي مجتهدین او محض مقلدین هم شامل دي نو چي دغه دواړي طبقې ځني وباسي

(۱) ترجمه: داسي یتیم چي بیله څه ویلو د څومره مذهبونو کتاب خانې پریمنځلي (یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم له کوم استاذ څخه زده کړه نه ده کړې بیا هم الله پاک هغه علم ورکړی کوم چي مخکني ټول مذهبي علوم منسوخ کړ) (بوستان سعیدو ص: ۵، در نعت سرور کاینات علیه افضل الصلوات)

(۲) قوله: (وفاسق) من الفسق: و هو الخروج عن الاستقامة و لعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر و الزاني، آکل الربا و نحو ذلک (رد المحتار کتاب الصلاة، باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد. ط رشیدیه)

پنځه طبقې پاتـه شـوې پـه هغـو کـې د آخري ذبقـې پـه اړه ليکلي دي: و السادسة طبقة المقلدين القادرين على التمييز بين الاقوى و القوى و الضعيف و ظاهر المذهب و الرواية النادرة كاصحاب المتون المعتبرة من المتأخرين، مثل صاحب الكنز و صاحب المختار و صاحب الوقاية و صاحب المجمع و شأنهم ان لا ينقلوا الاقوال المردودة و الروايات الضعيفة(۱) لنډه دا چې د غه طبقه او له دېو ځخه مخکې طبقه د متأخرينو ده او د مجتهدين فى المسائل طبقة چې پکې امام خصاف، امام طحاوي، ابو لاحسن کرفي، شمس الائمة حلواني شمس الائمة سرخسي فخر الاسلام بزدوي او فخر الدين قاضي خان شميرلى دى(۲) طبقه د مشائخو متقدمينو ده نور د منځ په طبقو کې اصافي تقدم او تأخر دى مثلاً کوم فقهاء چې زموږ په اعتبار متقدمين دي هغه د ممتقدمينو په اعتبار متأخرين دي فقط

د سید تعریف

سوال: (۱۵۲۲) د سيد تعريف راته بيان کړئ (۲۰۰۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: سيد هغه څوک دي چې د بي بي فاطمې رضى الله عنها په اولاد کې وي، که څه هم د غريب او مسکين والي په وجه د ه د سوتې او نور په سيدانو کې نه وي هو کوم

---

(۱) رد المحتار مقدمة مطلب فى ذبقات الفقهاء. ط رشيديه

(۲) الثالثة: طبقة المجتهدين فى المسائل التى لا نص فيها عن صاحب لامذهب، كالخصاف و ابي جعفر الطحاوي و ابي الحسن الكرخي و شمس الائمة الحلواني و شمس الائمة السرخسي و فخر الاسلام البزدوي و فخر الدين قاضي خان و امثالهم فإنهم لاي قدرون على شئ من لاخالفة لا فى الاصول و لا فى الفروع لكنهم يستنبطون الاحكام فى المسائل التى لا نص فيها على حسب الاصول و القواعد (الشامي مقدمة مطلب فى طبقات الفقهاء. ط رشيديه)

ځوک چي سید نه وي او دی و ځان ته سید وایي هغه ګنهکار دی او په حدیث شریف کي د داسي سړي په هکله سخت وعید راغلی دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

ابلیس ملائکه بلکه پیری دی

سوال: (۱۵۲۷) ابلیس له ملائکو څخه دی که له پیریانانو څخه؟ په رد المحتار کي خو له ملائکو څخه معلو میږي. (۱۷/۱) (۱۳۳۵/۱۱۸۲هـ)

ځواب: راجح همدا دی چي ابلیس له پیریانانو څخه دی "کان من الجن ففسق عن امر ربه" (سورۂ کهف، آیت: ۵۰) دا آیت په دې هکله نص دی. د رد المحتار دا مطلب نه دی چي هغه ترجیح ورکوي له ملائکو څخه کیدو ته بلکه مطلب د ده دا دی چي بناءًا علی أنه من الملائکة علی ما قال البعض: یصدق ان الملائکة یصدر منهم الخطاء و الزلل(۲) فقط

په اشیاء کي اصل اباحت دی

سوال: (۱۵۲۸) دغه مسئله چي مختلف فیما بین العلماء ده چي اصل په اشیاء کي اباحت دی که حرمت او که توقف؟ دا اختلاف قبل البعثت دی که بعد العثت؟ که قبل لابعثت او بعد العث دواړو دی؟ په دې کي حق قول کوم یو دی؟ داغه راز اصل په اشیاء کي اباحت دی که حرمت او که توقف؟ (۱۳۳۵/۱۱۳۹هـ)

ځواب: قبل البعثت خو د احکامو تکلیف هم نشتهو لهذا دا اختلاف بعد العثت کیدلای شي او عند الحنفیة راجح همدا دی چي اصل په اشیاء کي اباحت دی لیکن په کوم کي چي نص راغلی وي په هغه کي د شارع د حکم سره سم عمل کیږي او په کوم کي چي شارع علیه السلام سکوت کړی دی په هغه کي اباحت اصل دی په شامي کي راغلي

---

(۱) عن سعد رضی الله عنه قال: سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول: من ادعی الی غیر ابیه و هو یعلم انه غیر ابیه فالجنة علیه حرام الحدیث(صحیح البخاری: ۱۰۰۱/۲، کتاب الفرائض، باب من ادعی الی غیر ابیه)

(۲) و فی الشامی و انما عبر بها(شعائر) هنا و فیما تقدم بخصائص لان النسیان من خصائص الانسان و الخطأ و الزلل یکون منه و من غیره حتی من الملائکة کما وقع لإبلیس بناء علی أنه منهم الخ(الدر و الرد تقدیم المؤلف مطلب: افضل صیغ الصلوة. ط رشیدیه)

دي: و صرح فی التحریر بأن المختار أن الاصل الباحة عند الجمهور من الحنفیة و الشافعیة اهـ(۱) (شامي: ۷۱/۱) فقط و الله تعالی اعلم

کوم ارواح چي تر اوسه په وجود کي نه دي راغلي هغه چيري دي؟

سوال: (۱۵۲۹) کوم ارواح چي تر اوسه په وجود کي نه دي راغلي هغه چيري دي په برزخ کي که کوم بل ځای؟ (۱۳۳۵/۳۳۹هـ)

ځواب: د هغو ارواحو د مقام علم و الله تعالی ته دی. فقط و الله تعالی اعلم

و کعبې شريفي او مسجدونو ته د الله کور ويلو وجه

سوال: (۱۵۳۰) و کعبې شريفي ته بيت الله شريفه يعني د الله کور په څۀ وجه ويل کيږي؟ (۱۳۴۲/۱۱۹۳هـ)

ځواب: و مسجدونو ته هم د الله کورونه ويل کيږي او کعبه شريفه هم د الله کور دی، د دې مطلب دا دی چي د الله تعالی خاص رحمتونه هلته رانازليږي. فقط و الله تعالی اعلم

د شرعي احکام قبلولو او نه منلو په عتبار د ښځي او نر فرق نشته

سوال: (۱۵۳۱) زيد په نارينه او ښځه کي فطرةً فرق ظاهروي چي په نارينه کي د شرعي احکامو قبلولو ماده شته مثلاً نارينه چي کمزوری شي نو د مخ طرف ته سر کيږي چي ورځخه د الهي احکامو اقرار ظاهريږي او د ښځي سرور ساته او چپه طرفته کيږي چي د انکار علامه ده، عمرو اي يچي په نر او ښځه کي مطلقًا هيڅ فرق نشته لکه چي ايت: "إنا خلقنا الإنسان من نطفة امشاج" (سورة دهر، آيت: ۲) کي راغلي دي؟ (۱۳۴۱/۹۷۵هـ)

ځواب: د زيد وينا او مثالي دليل غلط دی د عمرو وينا صحي ده: انما النساء شقائق الرجال راغلي دي(۲) کوم احکام چي د نرو لپاره دي هم هغه د ښځو لپاره دي، اما د ښځو

---

(۱) حاشية ابن عابدين: كتاب الطهارة، مطلب: المختار ان الاصل فی الاشياء الاباحة. ط رشيديه

(۲) عن عائشة رضی الله عنها قالت: سئل النبی صلی الله عليه وسلم عن الرجل يجد البلل و لاي ذكر احتلاما قال: يغتسل ... فقالت ام سليم: المراة ترى ذلک، اعليها غسل؟ قال: نعم! إنما النساء الحديث(سنن ابي داؤد، ص: ۳۱، كتاب الطهارة، باب فی الرجل يجد البلة فی منامه)

لپاره چي کوم احکام خاص دي هغه په شریعت کي بیان شوي دي او نقصان د دین او نقصان د عقل د ښځو هم په نصوصو کي راغلی دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د دیب او شاه پیرۍ وجود په نصوصو ثابت دی

سوال: (۱۵۳۲) دیبان او شاه پیریاني شته او کنه؟ زه یې نه منم (۱۳۴۳/۲۷۸هـ)

ځواب: دیبان او شاه پیریاني پیرانان دي او پیرانانو وجود په نصوصو ثابت دی(۲) د دې انکار نه دی کول پکار. فقط و اله تعالی اعلم

د لومړۍ، دوهمي او دریمي کلمې حقیقت

سوال: (۱۵۳۳) مثلاً لومړۍ کلمه طیبه، دوهمه کلمهٔ شهادت دریمه کلمهٔ تمجید الخ د دې رواج له کوم وخت څخه راغلی دی؟ او د دې استنباط له کوم ځایه شوی دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۲۰۳هـ)

ځواب: په حدیثو کي دغه کلمې او د دوی ثواب راغلی دی خو کل چي د توحید، ایمان او اسلام بیان په دوی کي شته ځکه علماء د دوی نوم کلمې کښیښودی لومړۍ، دوهمه او نور په حدیثو کي نه دي راغلي، دا صرف د یادولو لپاره دي او شمیر د ښو.نو

---

(۱) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم أنه قال: یا معشر النساء! تصدقن و أکثرن الاستغفار، فإنی رأیتکن الکثر اهل النار، فقالت امرأة منهن جزلة: و ما لنا یا رسول الله! اکثر اهل النار؟ قال"تکثرن اللعن و تکفرن العشیر ما رأیت من ناقصات عقل و دین اغلب لذی لب منکن قالت: یار سول الله! و ما نقصان العقل و الدین؟ قال: اما نقصان العقل فشهادة امرأتین تعدل شهادة رجل، فهذا نقصان العقل، و تمکث اللیالی ما تصلی و تفطرفی رمضان فهذا نقصان الدین(الصحیح لمسلم ۱/۶۰، کتاب الایمان، باب بیان نقصان الایمان)

(۲) "و کذالک جعلنا لکل نبی عدوًا شیاطین الانس و الجن یوحی بعضهم الی بعض زخرف القول غرورا" الآیة (سورة انعام، ایت: ۱۱۲) و حشر لسلیمان جنوده من الجن و الانس و الطیر فهم یوزعون (سورة نمل، آیت: ۱۷) "قل اوحی الی انه استمع نفر من الجن فقالوا انا سمعنا قرآنا عجبا" (سورة جن، آیت: ۱) و قال الله تعالی: "الذی یوسوس فی صدور الناس من الجنة و الناس" (سورة ناس، آیت: ۵-۶)

لپاره مقرر کړل شوی دی، و دې ته هیڅ ضرورت نشته، اصل کلمې باید په یاد وي. فقط و الله اعلم

د بسم الله پر ځای د جهان ناظم لیکل

سوال: (۱۵۳۴) یو سړی د بسم الله الرحمن الرحیم پر ځای د خپل هر لیک پهسر کې د جهان ناظم لیکي او د خپلې ډلې هر کس ته دا طظیقه وربښيي او عمل په کوي، څه حکم دی؟(۱۳۳۴-۳۳/۱۵۳۷هـ)

ځواب: داسې عادت جوړول د سنت طریقې خلاف دي که څه هم په هر لیک کې د بسم الله الرحمن الرحیم لیکل ضروري نه دي په خوله باندې ویل د کار په سر کې هم کافي دي لیکن که لیکي نو بسم الله الرحمن الرحیم دې پوره ولیکي ځکه چې د دغه متبرک الفاظ پرېښودل نور الفاظ د ځانه جوړول ښه نه دي نور نو انما الاعمال بالنیات و لکل امرئ ما نوی (بخاری: ۲/۱) فقط و الله تعالی اعلم

د عالم په علم عمل نه کول

سوال: (۱۵۳۵) که څوک علم حاصل کړي عمل نه په کوي نو د هغه په اړه څه وعید راغلی دی؟(۱۳۳۴-۳۳/۳۲۳هـ)

ځواب: عالم چې په علم عمل نه کوي د هغه په اړه سخت وعید راغلی دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

له سوء علماء څخه عام مسلمانان غوره دي

سوال: (۱۵۳۶) په یوه جلسه کې یو سړي دا وویل چې ځیني عام خلک تر ځینو عالمانو غوره دي، داسې ویل څنګه دي؟(۱۳۳۴-۳۳/۱۵۷۷هـ)

ځواب: په حدیث شریف کې راغلي دي: شر الشر شرار العلماء (الحدیث) (۱) چې کوم عالمان چې ورته سوء علماء ویل کیږي تر ټولو بد شو نو عام خلک له دوی څخه غوره شو(۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابي الدرداء رضی الله عنه قال: ان من اشر الناس عند الله نزلة یوم القیامة عالم لا ینتفع بعلمه، رواه الدارمي (شکوة المصابیح، ص: ۳۷، کتاب العلم، الفصل الثالث)

د حق پر بیانولو سترګي پټول

سوال: (۱۵۳۷) د حق پر بیانولو سترګي پټول او سره د علم او قدرته د حق پر بیانولو بیا هم پوښتني په جواب کي مسئله نه بیانول څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۱۲۰هـ)

ځواب: سخته ګناه ده، په حدیث شریف کي راغلي دي: عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من سئل عن علم علمه ثم کتمه، الجم یوم القیامة بلجام من النار(۳) نو څوک چي سره د علم او قدرت علی الجواب او بیله قوي عذر نه ورښيي نو د هغه لپاره داسي سخته وعید دی. فقط و الله تعالی اعلم

د مهتمم له منع کولو باوجود په طالبانو خدمت کول

سوال: (۱۵۳۸) استاذ که مأمور د مدرسې دی نو په شاګردانو خدمت کولو لپاره له مهتمم څخه اجازه اخیستل ضروري ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۹۳۲هـ)

ځواب: له مهتمم څخه و اجازه اخیستلو ته ضرورت نشته. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۵۳۹) که د مدرسې مهتمم منع کړي بیا هم د استاذ په طالبانو خدمت کول صحیح دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۹۷هـ)

---

(۱) عن الاحوص بن الحکیم عن ابیه رضی الله عنه قال: سأل رجل النبی صلی الله علیه وسلم عن الشر فقال: لا تسئلنی عن الشر و سلونی عن الخیر، یقولها ثلاثا ثم قال: ان شر الشر الحدیث(مشکوة المصابیح، ص: ۳۷، کتاب العلم، الفصل الثالث)

(۲) مګر خلک یوه غلطي کوي له ځینو عامو خلګو څخه د صالح، فرد مراد اخلي او له ځینو علماو څخه صالح(بد) بیا موازنه کوي داسي صحیح نه ید چي کله مي په عامو خلګو کي صالح فرد مراد اخیستی دی نو په علماء کي هم صالح فرد مراد اخیستل پکار دی او که مي له علماء څخه بد مراد اخیستی دی نو له عامو خلګو څخه هم بد مراد اخیستل پکار دی بیا موازنه کول پکار دي نو به د دغه جملي خطا والی ظاهر شي. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۳) مشکوة المصابیح، ص: ۳٤، کتاب العلم، الفصل الثانی.

ځواب: د طالبانو لپاره د ساتاذ خدمت کول صحیح دی د مهتمم د منع کولو په دې کې څۀ کار نشته(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د درس په وخت کې بل کار کول

سوال: (۱۵۴۰) ... (الف) په قرآني مکتب کې مدرس په لاس څه کار کولای شي او کنه؟

(ب) کله چې له قرآن شریف څخه پرته نور کتابونه درسیږي هغه وخت هم جائز دي او کنه؟

(ج) هلکان پخپله کتاب وايي مدرس صرف د خارني لپاره ناست وي، دا وخت د قرآن شریف تلاوت کولای شي او کنه؟(۲۰۵۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: (الف) په کومه ره چې د قرآن په اوریدو کې فرق راځي او په توجه سره قرآن شریف نشي اوریدل کیدلای هغه صحیح نه دی.

(ب) د مدرس لپاره دا کار کول د تعلیم د عدم تکمیل باعث دی، دا سي مناسب نه دي.

(ج) ویلای یې شي. فقط و الله تعالی اعلم

د صاحبینو رحمهما الله په قول عمل کول یا فتوی ورکول

سوال: (۱۵۴۱) که په کومه مسئله کې د احنافو یعني امام حنیفه، ابوي وسف او امام محمد رحمهم الله اختلاف وي نو په دا سي صورت کې د صاحبینو (امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله) په قول عمل کول له حنفي مذهب څخه خروج دی او کنه؟

او له حنفي مفتي څخه که حنفي مسلمانان پوښتنه وکړي نو د ده لپاره دا جائز دي او کنه چې سره د دې چې د امام صاحب روایت موجود وي پیا هم د صاحبینو په روایت فتوی ورکړي، که کوم څوک پخپله یا بل چاته د امام صاحب د روایت په خلاف د امام ابو یوسف یا امام محمد په روایت فتوی ورکړي یا عمل وکړي نو شروع دی ملامتوي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۹هـ)

---

(۱) لیکن ځیني خدمتونه چې پکې د تهمت اندیښنه وي له هغو څخه مهتمم منع کولای شي ځکه چې د ماشومانو تربیه کول د مهتمم ذمه واري ده. ۱۲ (حضرت مولانا مفتي) سعید احمد پالن پوري

ځواب: قال فی الدر المختار: و اما نحن فعلینا اتباع ما رجحوه و ما صححوه کما لو افتوا فی حیاتهم(۱) نو پر موږ بانید په هغه قول عمل کول لازم دي کوم چي فقهاء مرجحینو او محققینو راجح او مفتی به بللي وي هغه که د امام صاحب قول وي او که د صاحبینوا او ترجیح ورکول د امام صاحب یا صاحبینو و قول ته زموږ کار نه دی نور تفصیل په شامي او نورو کي راغلی دی(۲)

سوال: (۱۵۴۲) زید وایي چي که کوم څوک د امام ابو یوسف رحمه الله له قول سره سم شطرنج د تشحیذ اذهان(ذهن تیزولو) لپاره د امام ابو یوسف رحمه الله روایت څپل دلیل وګرځوي نو په شرع کي د ده لپاره څه حکم دی، په دې شرط چي دی د هغه شرطونو خیال وساتي کوم چي نوموړي امام صاحب لګولي دي (۲۹/۱۳۳۵هـ)

ځواب: په لومړي جواب کي بیان شوې قاعدې سره سم په دغه مسئله کي هم مفتی به او مصحح قول اخیستل پکار دی نو هغه د لعب بالشطرنج د حرمت دی و کره تحریمًا اللعب بالنرد و کذا الشطرنج(۳) (در مختار) و فی الشامی: فهو حرام و کبیرة عندنا، و فی اباحته اعانة الشیطان علی الاسلام و المسلمین کما فی الکافی: قهستاني(۱) او داغه راز په شامي کي د امام اب، یوسف رحمه الله د قول په اړه راغلي دي: قوله: (فی روایة الخ) قال الشرنبلالی فی شرح: و انت خبیر بأن المذهب منع اللعب به کغیره الخ(۱) نو په دې سره دا خبره څرګنده شوه چي د امام ابو یوسف رحمه الله روایت مأخوذ به او مفتی به نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۵۴۳) زید وایي که کوم څوک د غوا، غوایه او نورو ګوبر(خوشایه) استعمال کړي که وسوځوي او که پر دېوالونو ګوبري وکړي او د امام محمد رحمه الله روایت څپل دلیل وګرځوي نو شرعًا د ده غاړي نه دي بندي: و طهرهما محمد آخرا للبلوی

---

(۱) الدر المختار مع الشامی مقدمة مطلب فی طبقات الفقهاء. ط رشیدیه

(۲) د تفصیل لپاره وګورئ رد المحتار مقدمة مطلب: اذا تعارض التصحیح. ط رشیدیه

(۳) الدر المختار و رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

و به قال مالک(۱) (در مختار) بکر وايي چي که کوم څوک د شطرنج بازۍ وکړي که څه هم د امام ابو یوسف رحمه الله قول خپل دليل وګرځوي بيا هم هغه شرعًا فاسق ګرځي، شهادت د ده شرعًا نه قبليږي، و علی هذا القياس که کوم څوک د ګوبر استعمال وکړي هغه هم فاسق دی که د امام محمد رحمه الله روايت خپل دليل ګرځوي او زيد دا هم وايي چي د صاحبينو رحمهما الله په روايت عمل کولو باندي شرعًا هيڅ ملامتيا نشته؟ (۱۳۳۵/۲۹هـ)

ځواب: په دې کي د زيد د قول د صحيح والي همدا وجه کيدلای شي ځکه چي د امام محمد رحمه الله د روايت همدا تصحيح کړل شوي ده او په دې کي ضرورت دی او دا ښکاره خبره ده چي احتياط د دې په ترک کي دی. فقط

د مدرس له طالبانو څخه هديه اخيستل

سوال: (۱۵۴۴) کوم مدرس چي په اسلاميه مدرسه کي ملازم دی که طالبان ده ته کوم شی په هديه کي ورکړي نو اخيستل يې صحيح دي او کنه؟ ماته خو د دې هم هغه صورت معلوميږي لکه څنګه چي د قاضي او نورو لپاره ميلمستيا او نور خوړل منع دي. (۱۳۳۵/۴۴هـ)

ځواب: د سالاميه مدرسي مدرس حاکم او قاضي نه دی چي د قاضيانو په رنګه دی هم وبلل شي. فقط

د حنفي مذهب نسبت و امام ابو حنيفه رحمه الله ته ولي کيږي؟

سوال: (۱۵۴۵) يو سړی وايي چي امام ابو حنيفه رحمه الله خو د حضرت امام جعفر صادق صاحب رحمه الله په صحبت کي اوسيدی يا د ده شاګرد ، نو په څه وجه د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب ياديږي او د امام جعفر صادق رحمه الله مذهب نه ياديږي حال دا چي په نسب او عمر کي امام جعفر صادق رحمه الله زيات ؤ؟ (۱۳۳۵/۹۵هـ)

(۱) الدر المختار مع الرد كتاب الطهارة، مبحث في بول الفارة و بعرها و بول الهرة. ط رشيديه

ځواب: دا خبره د چا په اختیار کي نه ده چي داسي ولي وشو؟ او داسي ولي ونه شو؟ ذلک فضل الله یؤتیه من یشاء(۱) د امام صاحب نور هم ډیر استاذان ؤ مګر د مذهب نسبت هغو ته نه دی شوی ځکه چي د قواعدو په تاسیس په اصولو، فروعو او اجتهاد کي د دوی دا درجه نه وه. فقط و الله تعالی اعلم

عام سړی چاته مسئله بیانولای شي او کنه؟

سوال: (۱۵۴۶) عام امي سړی کومه مسئله د عالم یا ناعالم څخه واورېده لیکن ده ته دا معلوم نه دي چي صحیح ده که غلطه نو د ده لپاره د غه مسئله و بل چاته بیانول جائز ده او کنه؟(۱۳۳۸/۷۰۲هـ)

ځواب: د جاهل لپاره همدا حکم دی چي مسئله دي له کوم حقاني عالم څخه پوښتني، قال الله تعالی: "فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون"(۲) و قال علیه الصلاة و السلام: انما شفاء العی السؤال(۳) نو که دی د غه مسئلې پوره تحقیق وکړي او ځان په پوه کړي بیا يې بل چاته بیان کړي نو په دې کي هیڅ ګناه نشته فقط و الله تعالی اعلم

له مفتي څخه په دوکه فتوی اخیستل

سوال: (۱۵۴۷) د دروا غو سوال جوړول او له علماؤ څخه په دوکه فتوی اخیستل او د هغه نسبت و کوم بې ګناه ته کول هغه روسا کول څنګه دي؟(۱۳۳۳-۳۲/۲۲۹۸هـ)

ځواب: داسي کول سخته ګناه او داسي کار کونکی فاسق، مفتري او کذاب دی فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) سورة مایده، آیت: ٥٤، سورة جمعه، ایت: ٤، سورة حدید، آیت: ۲۱.

(۲) سورة نحل، آیت: ٤۳، سورة انبیاء آیت: ۷.

(۳) عن جابر رضی الله عنه قال: ... فإنما شفاء العی الحدیث(سنن آبي داؤد، ص: ٤۹، کتاب الطهارة، باب المجدور یتیمم)

و ناخبرو ته ضروري مسئلې ورښودل

سوال: (۱۵۴۸) څوک چې په مسئله خبر وي د هغه لپاره دل مانځه او نورو ارکان او مسئلې و ناخبرو ته ورښودل لازمي دي او کنه؟ که هغه ورنه ښيي او چپ وي نو ګنهکار دی او کنه؟ (۲۰۹۲/۱۳۴۳ھ)

ځواب: پر ده لازم دي چې ضروري مسئلې وروښيي که چپ شي نو ګنهکار دی مګر کله چې دا ګمان وي چې پر د غه سړي به هيڅ اثر نه وي او عملي به نکړي يا به راځخه ناراضه او جګړه به راسره وکړي نو په د ساي حال کې چپ کيدل ګناه نه ده. فقط و الله تعالی اعلم

حنفي مقلد بايد له حنفي عالم څخه مسئله وپوښتي

سوال: (۱۵۸۹) که زيد د کومي مسئلې و پوښتلو ته اړ وي نو له هر قلد څخه پوښتنه کولای شي او عمل په کولای شي که صرف د خپل مذهب له حنفي مقلد څخه پوښتنه وکړي مثلاً له حنفيو شافعي، غير ممقلد او نورو څخه پوښتنه کولای شي او کنه؟ (۸۵۰/۱۳۳۵ھ)

ځواب: له حنفي موليو څخه د حنفي مذهب سره سمه سمئله پوښتل پکار ده، داسي صحيح نه يد چې وي حنفي ليکن کومه مسئله د خپل ضرورت او غرض په وجه له شافعي المذهب څخه وپوښتي او هغه عملي کړي فقط و الله تعالی اعلم

له مسئلو څخه ناخبره مفتي نشي کيدلای

سوال: (۱۵۵۰) کوم څوک چې بيکاره وي او د بې کاره خلکو سره ناسته ولاړه کوي او په منية او قدوري هم نه پوهيږي، داسي څوک که ځان ته مفتي وايي نو د کوم حکم مصداق دی؟ (۱۵۹۱/۱۳۳۳ھ)

ځواب: کوم څوک چي د افتاء اهل نه وي او په مسئلو خبر نه وي او ځان ته مفتي وايي نو د جهل په وجه به پخپله هم ګمراه شي او نور خلک به هم ګمراه کړي او د فضلوا او اضلوا مصداق به وګرځي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

غلطه مسئله بیانونکی څنګه دی؟

سوال: (۱۵۵۱) غلطه مسئله بیانونکي باندي څومره ګناه ده؟(۱۱۲/۱۳۴۳هـ)

ځواب: و غلطه مسئله بیانونکي ته نبي علیه الصلاة و السلام ضال او مضل فرمايلي دي فضلوا و اضلوا الحدیث(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د عیسایانو په اسکول کي د ماشومانو داخلول

سوال: (۱۵۵۲) په دساي عیسائي اسکولونو کي مشاومانو ته درس نورکول چي پکي د نور تعلیم سره د عیسائي مذهب تعلیم او تلقین هم ورکول کیږي او ضروري وي او په هغه ځای کي اسول چي پکي د لمانځه او نورو اسلامي مذهبي ارکانو اداکولو اهتمام نه وي، پر اذان او جماعت پابندي وي په داسي اسکولونو کي د مسلمانانو د بچیانو سبقونه ویل او داخله پکي اخیستل جائز دي او کنه؟(۲۷۹/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د مسلمانانو بچیان په داسي عیسائئ اسکولونو کي داخلول او س بقونه په ویل صحیح نه دي. فقط

سوال: (۱۵۵۳) و مسلمانو ماشومانو ته په کالجونو، اسکولونو او کوورنو کي د عیسایانو یا د دوی د ښځو په وسیله تعلیم او تربیه ورکول کیږي مذهبًا دا جائز دي او کنه؟آیا د دې مخفي اثر پر مسلمانو ماشومانو داسي پرېوځي چي اسلامي معاشره په کمزورې شي که داسي نه ده؟(۱۰۵۲/۱۳۳۷هـ)

---

(۱) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه قال: سمعت رضی الله صلی الله علیه وسلم یقول: أن الله لا یقبض العلم إنتزاعًا ینتزعه من العباد و لکن یقبض العلم بقبض العلماء حتی اذا لم یبق عالم التخذ الناس رؤسا جهالا، فسئلوا فافتوا بغیر علم، فضلوا و اضلوا (صحیح البخاری: ۱/ ۲۰، کتاب العلم، باب کیف یقبض العلم و کتب عمر بن عبد العزیز الخ)

ځواب: کله چي راغلي دي: الرجل علی دین خلیله(۱) د صحبت آثار مروي دي(۲) او هغه هم د استاذ او معلم د صحبت او تربیت آثار نو بیا څرنګه جائز کیدلای شي له نامذهبو څخه و باخبره ماشومانو ته سبق ورکول؟! له دې څخه لازمي نتیجه دا کیدونکې محسوس او مشاهده د چې هغه ماشومانو به د هم هغه تربیت او آثارو سره مینه کونکی شي او په اسلامي عقائدو کي به نقص او تاوان شي. فقط و الله تعالی اعلم

د انګریزي تعلیم پربښودلو فتوی

سوال: (۱۵۵۴) کله چي حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه د خپلي فتوی له مخه د کالجونو تعلیم د نصاری په موالات کي شامل کړی و طالبانو ته د انګریزي تعلیم ترک کولو ترغیب ورکړی، پر دې څو طالبانو د غه تعلیم پریښی دی، پنځه شپږ میاشتي وروسته شوق کم شو، په تعلیم پیښودونکیو کي یو کم همته زه هم یم، نو که په دوی کي داسي طالبان چي تعلیم یې پر نیمه لار پاته شوی وي د دوی دا خیال وي چي پر مخ نور انګریزي تعلیم د دوی پر خیالاتو باندي هیڅ ډول بدلون او تاوان نه راولي، که د تعلیم د تکمیل لپاره بیا په انګریزي کالجونو کي داخله واخلي نو د اوسني حالاتو په رڼا کي شرعًا د دې څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۴۱۳هـ)

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: لارجل على دين خليله فلينظر احدكم من يخالل(سنن ابي داؤد، ص: ٦٦٤، كتاب الادب، باب من يؤمر ان يجالس)

(۲) عن انس رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ... و مثل جليس الصالح كمثل صاحب المسک ان لم يصبک منه شئ اصابک من ريحه، و مثل جليس السوء كمثل صاحب الكير ان لم يصبک من سواده اصابک من دخانه.

و عن ابي سعيد رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لا تصاحب الا مؤمنا ول ا يأكل طعامک الا تقى (سنن ابي داؤد، ص: ٦٦٤، كتاب الادب، باب من يؤمر ان يجالس)

ځواب: زه دا نه خوښوم او کومي شرعي فتوی چي د منع وه اوس هم پر هغه حال ده که څه هم په څه وجه عمل باندي کم شوی وي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

شرعي استاذ څوک وي؟

سوال: (۱۵۵۵) شرعي استاذ په کوم علم درسولو او په څومره درسولو جوړیږي؟آیا په لمونځ ورکولو هم استاذ ګرځي؟او په څومره ورځو لمونځ ورکولو ؟(۱۳۳۷/۷۰۷هـ)

ځواب: په دیني علومو درسولو جوړیمي که څه لږ علم ځني حاصل شي او د زماني او ورځو هیڅ شمیر نشته او په لمونځ ورکولو استاذ نه جوړیږي فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۵۵۶) په څومره قرآن شریف ویلو د معلم او متعلم تر منځ د استاذۍ او تلمیذۍ نسبت ثابتیږي؟(۱۳۴۳/۲۲۰۲هـ)

ځواب: لږ ډیر هر څومره علم چي څوک له چا څخه ووایي په هغهس ره د تلمیذیت او استاذیت نسبت قائمیږي. فقط و الله تعالی اعلم

بالغ نارینه و ښځو او نابالغو انجونو ته سبقونه ویلای شي او که نه؟

سوال: (۱۵۵۷) بالغ نارینه و پیغلو ښځو یا نابالغو انجونو ته قرآن شریف ویلای شي او کنه؟(۱۳۳۷/۱۲۲۹هـ)

ځواب: د فتنې د خوف پر مهال ناروا دی او که د فتنې خوف نه وي نو صحیح دی. فقط

د حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوري د تنخواه مسئله

سوال: (۱۵۵۸) له تیرو څو میاشتو راهیسي د مولانا خلیل احمد صاحب د اعصابو ناجوړي وه ګر سږ کال یې ناجوړي ډیره زیاته ده چیه امله درس نشي کولای، ځکه د نوموړي اراده ده چي تعلیم پریږدم او تنخواه خو د درس راکول کیږي ځکه هغه هم نه اخلم او په داسي حال کي خو په سهارنپور کي او سیدنه ګرانه ده ځکه خپل وطن ته ځم په داسي صورت کي د مولانا له مدرسي څخه تلل د مدرسي لپاره د ډیر نقصان باعث دي، دا مشوره وشوه چي حضرت مولانا به د ناظم په توګه په هم هغه تنخواه چي پر درس ورکوله

---

(۱) دا فتوی د هغه زمانې ده کله چي په هندوستان کي د انګریزانو حکومت ؤ او د ازادۍ جنګ جاري ؤ، هغه وخت و وطن والو ته د موالات د ترک ترغیب ورکول شوی ؤ. ۱۲

کیده مقرر شي او درس دي یو مخ نه کوي او د قوعدو پابندي دي هم پر ده نه وي، اما د مدرسي ښارنه او د مدرسې د مسائلو د ترقۍ فکر به کوي، دا صورت شرعاً جائز دی او کنه؟(۱۳۳۷/۱۹۰۱هـ)

ځواب: ښکاره خبره ده چي د مولانا د خیر وجود د مدرسې لپاره په هر ډول ضروري او باعث د بقاء او ارتقاء دی نو واکمن کسان نو موړی مولانا په هم هغه مخکنۍ تنخواه د ناظم په توګه مقرر ولای شي او دا کار بیله شکه جائز او صحیح دی فقط و الله تعالی اعلم

طالب له مدرسې ایستل

سوال: (۱۵۵۹) طالب په کوم صورت له مدرسې ایستل او سبق ورته ویل جائز دی او کنه؟(۱۳۳۲-۳۵/۲۷هـ)

ځواب: د ضرورت او مصلحت سره سم داسي کول صحیح دي فقط و الله تعالی اعلم

استاذ طالبان وهلای شي او کنه؟

سوال: (۱۵۲۰) استاذ طالبان وهلای شي او کنه؟ که هلکان وي که انجوني؟ (۱۳۳۸/۵۴۷هـ)

ځواب: په شامي کي راغلي دي: و ذکر الحاکم لا یضرب امرأته علی ترک الصلاة وي ضرب ابنه و کذا المعلم اذا ادب الصبی فمات منه یضمن الخ(۱) مطلب دا چي استاذ شاګرد د تأدیب په غرض څه قدر وهلای شي مګر زیات دي نه وي چي هډ او بل څه یې مات شي. فقط

د استاذ لپاره په ماشومانو خدمت کول صحیح دی

سوال: (۱۵۲۱) د استاذ لپاره په هلکانو او به راوړل ځای پاکول او نور خدمتونه کول صحیح دی او کنه؟(۱۳۳۳-۳۲/۱۱۱۱هـ)

ځواب: او به په راوړل ځای په جارو کول او نور کارونه په هکلانو کول صحیح دي او دا ډول خدمت نه په کول د استاذ لپاره مباح دي، په دې کي وهم مه کوئ فقط

---

(۱) رد المحتار کتاب الحدود، مطلب فی تعزیر المتهم. ط رشیدیه

سوال: (۱۵۲۲) د استاذ لپاره په ماشومانو خدمت کول جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۱۲هـ)

ځواب: جائز دي: رد المحتار: ص: ۴۲۳، کتاب الوصایا: و في فوائد صاحب المحیط: له إعارة الولد، اذا کان لخدمة الاستاذ الخ(۱) ص: ۴۵۵، اذ لهم استعماله بلا عوض للتهذیب و الریاضة فبالعوض اولی(۲) للاب اعارة طفله اتفاقًا (۱) (در مختار) له دغه ډول روایتونو څخه دا څرګند دي چي هلک د استاذ د خدمت لپاره ده ته سپارلای شي او هغه هر ډول معروف خدمت په کولای شي. فقط و الله تعالی اعلم

د استعفی په وجه د مأمور د تنخواه څه برخه راګرځول

سوال: (۱۵۲۳) کمیټې بکر خپل مزدور کړي، ځو ورځي چي د بکر کار ولیدی ترقي یې ورکړه مګر د کوم مصلحت په وجه دا خبره وشوه چي د بکر چي کومه ترقي وشوه هغه روپۍ دي جمع کیږي چي کال پوره شي نو ټولي روپۍ به یو ځای ورکړو لیکن دا ډول کومه یادونه ونه شوه چي که بکر د کال په منځ کي کار پریښودی نو د ترقۍ روپۍ به ځني راګرځو، الی غیر ذلک څکه نو بکر چي څلور میاشتي مزدوري وکړه کار یې پریښودی، څکه کمیټۍ څلور روپۍ د رتقۍ ځني راګرځولې، دا جائز دي او کنه؟ (۵۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: بکر چي تر کوم وخت پوري مزدوري وکړه تر هغه وخته د ده د ترقۍ روپۍ باید ده ته ورکړي، د کمیټۍ لپاره دا جائز نه دي چي له ده څخه څه روپۍ راوګرځوي دا خیانت او د وعدې خلاف عمل دی او په دغه عمل د کمیټۍ غاړي بندي او د حق العباد راګرځولو په وجه ظالمه او خائنه ده څلور روپۍ راګرځول ناانصافي او صفا ظلم دی د بکر د استعفی په وجه یا د کال په منځ کي د خپلي د ترقۍ روپۍ غوښتلو سره له ده څخه د ترقۍ روپۍ راګرځول سخت ظلم او معصیت دی په حدیثو کي د داسي خلګو په اړه

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار اواخر کتاب الوصایا. ط رشیدیه

(۲) الشامي کتاب الوصایا، باب الوصی. ط رشیدیه

سخت وعيدونه راغلي دي(۱) پر کميتۍ لازمه ده چي سم دستي د بکر د ترقۍ روپۍ د مزدورۍ د زماني ورکړي او خپلي غاړي په دې اړه خلاصي کړي دوی ولي د آخرت وبال پر غاړه اخلي؟ فقط

بيله کومي وجهي د کال په منځ کي د مدرسې نه پرېښودلو شرط لګول

سوال: (۱۵۲۴) که د کومي اسلامي مدرسې مهتمم چي د تعليم په کار نه پوهيمي، د داخلې پر مهال له طالبانو څخه پر لاندي ليکل شويو خبرو دستخط اخلي چي که موږ بيله کومي وجي د کال په منځ کي ستاسو مدرسه پرېښوده نو الله تعالى دي زموږ علم بې برکته کړي او څه چي ويلي ليکلي دي هغه دي را څخه وخلي د مهتمم لپاره پر طالبانو دا شرط لګول جائز دی که ناجائز؟ او ايا پر طالبانو دا شرط عملي کول لازم دی؟ که څه هم هلته سبقونه سم نه وي که طالبان د علم د حصول په نيت دا مدرسه پرېږدي ولاړ شي نو څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۷۳۱هـ)

ځواب: د دغه اسلامي مدرسې مهمم چي پر کوم عبارت دستخط ورپاندي کوي په هغه کي پخپله دا شرط ليکلی دی چي که موږ بيله کومي وجي الخ نو په دې کي دواړو اړخونو ته لارشته ځکه چي کله د سبقونو د نه سمون په وجه طالبان د دغه مدرسه پرېږدي نو دا خو بيله کومي وجهي پرېښودل نه شو او په دساي حال کي پر طالبانو د شرط پوره کول لازم نه شو او بيله کومي وجي د مدرسې پرېښودل طالبانو ته هم نه دي پکار چي په دې سره استاذانو ته تکليف رسي او علم بې برکته شي لهذا مهتمم که داسي په وليکي نو څه پروا لري چي بيله ليکلو هم طالبان بايد داغسي وکړي فقط و الله تعالى اعلم

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كانت له مظلمة لأخيه من عرضه او شئ فليتحلله منه اليوم قبل ان لا يكون دينار و لا درهم، ان كان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمته و ان لم يكن له حسنات اخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه رواه البخارى (مشكوة، ص: ۴۳۵، كتاب الآداب، باب الظلم، الفصل الاول)

د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه د وخت امیر د اختر تر لمانځه مخکي خطبه ویلو څخه منع کول

سوال: (۱۵۲۵) د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه د وخت د امیر لاس نیول کله چي هغه د اختر تر لمانځه مخکي د خطبې ویلو اراده وکړه دا واقعه په کوم کتاب او کوم ځای کي ده؟ (۱۳۳۸/۱۰۹۵هـ)

ځواب: دا قصه په بخاري شریف: ۱۳۱/۱، باب الخروج الی المصلی کي راغلې ده. (۱) فقط

د مفتي د ځان لپاره مجدد ثاني، مصبح الاولیاء او نور لیکل

سوال: (۱۵۲۶) یو مولوي صاحب چي فتوی ورکوي، داسي عبارت پکي لیکي: لیکونکی حکیم محمد ابارهیم خان، مفتي حنفي مجددي، مجدد ثاني، نقشبندي مصباح الاولیاء، د ده په اړه شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۱۵۷۵هـ)

ځواب: په دغه عبارت کي همدومره سقم دی چي د خپل ځان لپاهر د مجدد ثاني، مصباح الاولیاء او نور د تزکیې الفاظ لیکل ښه نه دي قال الله تعالی: "و لا تزکوا انفسکم هو اعلم بمن اتقی" (سورة نجم، آیت: ۳۲) او مه پاکي بیانوئ تاسو د ځانونو خپلو، الله ته ښه معلوم دی، هغه څوک چي متقي دی. فقط و الله تعالی اعلم

د وعظ په انجمن کي چنده ورکول او شرکت پکي کول

سوال: (۱۵۲۷) نن صبا د وعظ او نصیحت دا طریقه رایاستل شوې ده چي څو ترایخونه وټاکي علماء راغوښتل کیږي غالی هواري شي ټاټونه ولګیږي، تر ضرورت

---

(۱) عن ابي سعيد الخدري رضى الله عنه قال: كان النبى صلى الله عليه وسلم يخرج يوم الفطر ... فقال ابو سعيد: فلم يزل الناس على ذلک حتى خرجت مع مروان و هو امير المدينة فى اضحى او فطر فلما أتينا المصلى اذا منبر بناه كثير بن الصلت فإذا مروان يريد ان يرتقيه قبل ان يصل فجبذت بثوبه فجبذنى فارتفع فحطب قبل اصلوة فقلت له: غيرتم و الله، فقال: ابا سعيد قد ذهب ما تعلم، فقلت: ما اعلم و الله خير مما لا اعلم، فقال: ان الناس لم يكونوا يجلسون لنا بعد الصلوة فجعلتها قبل الصلاة (صحيح البخارى: ۱۳۱/۱، كتاب العيدين، باب الخروج الى المصلى بغير منبر)

زیاته ړنا جوړه کړي، ګیسونه، بتۍ او نور ولګوي، د دغه مجلس نوم یې انجمن ابیني دی، په دې کې یو سکرتیر وي هغه و هر عالم ته د وعظ لپاره وخت ورکوي. د دغه انجمن د وعظ اوریدو لپاره په خلګو باندې اشتهارونه ویشل کیږي. داسې مجلس جوړول او چنده پکې ورکول او برخه پکې اخیستل څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۰۲۷هـ)

ځواب: د دغه انجمن د جوړولو اغراض او مقاصدو ته کتل پکار دي که مقصد له دغه مجلس جوړولو څخه د دین خپرونه د اسلام تقویت او د باطل تردید دی نو د دې په ښه والي او غوره والي کې هیڅ شک نشته، په حدیث شریف کې راغلي دي: انما الاعمال بالنیات و انما لامرئ ما نوی(۱) (الحدیث) یعني د اعمالو مدار پر نیت دی، او د هر چا لپاره هم هغه دی چې ده یې نیت کړی وي، نو که نیت او مقصد د دغه انجمن له جوړولو څخه کوم دیني کار وي نو د دې په ښه والي کې څه شک کیدلای شي؟ او که مقصد او غرض د دغه مجلس په جوړولو کوم د شرعي خلاف وي نو هغه بد دی او برخه پکې اخیستل منع ده ځکه چې په دې کې اعانت علی المعصیة دی او اعانت علی المعصیت ناجائز دی، قال الله تعالی: "و لا تعاونوا علی البر و القوی و لا تعاونوا علی الاثم و العدوان" الآیة (سورة مائده، آیت:۲)

پر منبر په ولاړه یا په ناست نصیحت کول

سوال: (۱۵۲۸) پر منبر په ولاړه یا په ناسته نصیحت کول جائز دی کنه؟ (۱۳۴۱/۱۵۲۰هـ)

ځواب: په ولاړه نصیحت کول سنت دی(۲) او که په ناسته وکړي نو هغه هم جائز دی(۱) او له ځینو سلفو څخه هم را نقل شوي دي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) صحیح البخاری: ۲/۱، باب یف کان بدء الوحی الی رسول اله صلی الله علیه وسلم الخ.

(۲) عن عائشة رضی الله عنها قال: أتتها بریرة رضی الله عنها تسئلها فی کتابتها فقالت: ان شئت اعذیت اهلک و یکون الولاء لی ... فإنما الولاء لمن اعتق، ثم قام رسول الله صلی الله علیه وسلم علی المنبر ... فقال: ما بآل اقوام یشترطون شروطا لیس فی کتاب الله، من اشترط شرطا لیس فی کتاب الله فلیس له و ان اشترط مأة مرة (صحیح البخاری: ۶۵/۱، کتاب الصلاة باب ذکر لبیع و الشراء علی المنبر فی المسجد)

د وعظ او نصیحت کولو حق د چا دی؟

سوال: (۱۵۶۹) زید د قرآن حافظ دی او څه کتابونه شاید د خپلې ژبې کتلي وي. دی نصحت کوي خلګ د ده و نصیحت ته غوږ نیولی شي او کنه؟ عمر د عربي څو کتابونه ویلي دي، د هغه نصیحت ته غوږ نیول جائز دي او کنه؟ بکر عربي علم حصل کړی دی سند لري دی نصیحت کولای شي او کنه؟ نو څو یو شی هم نه دی ویلی او عمر د قصو او بدعتونو او نورو نصیحت کوي او بکر له قرآن او حدیث او فقهې څخه بیان کوي نو د وعظ قابل کوم یو دی؟ (۱۳۳۸/۲۲۰۲هـ)

ځواب: کوم څوک چي صحیح مسئلې بیانوي که څه هم عربي نه وي ویلې. د هغه نصیحت کول او مسئلې خلګو ته ښودل صحیح دي او غوږ پر هغه نیول جائز دی لیکن الیق بالوعظ رباني عالم دی چي د اهل سنت و الجماعت د عقاید و سره سمي صحیح مسئلې بیانوي او بدعتي سړی چي د بدعاتو طرف ته بلنه ورکوي، هغه له وعظ څخه بندول پکار دي او د هغه وعظ نه دی اورېدل پکار. فقط و الله تعالی اعلم

د سلفیانو ملایانو نصیحت مه اورئ

سوال: (۱۵۷۰) د عامو حنفیې خلګو لپاره د سلفي ملایانو په وعظ کي برخه اخیستل روا ده او کنه؟ کله چي زیاتره عوام د دوی په خبورو که شي خپل مذهب پرېږدي؟ (۱۳۳۵/۴۵۴هـ)

ځواب: کله چي د دوی په نصیحت کي برخه اخیستل سبب د ګمراهۍ دی نو د دوی په وعظ کي برخه مه اخلئ او غوږ مه ورته نیسئ. فقط و الله تعالی اعلم

د پلار د جرم په وجه زوی له مدرسې ایستل

سوال: (۱۵۷۱) له زید څخه د شرعي په خلاف کوم کار شوی ږ، کلیوالو له ده څخه اړیکي ختمي کړې، د ده زیو له ډیري مودې راهیسې په یوه دیني مدرسه کي زده کړي

(۱) عن ابي سعيد الخدري رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم جلس على المنبر فقال: ان عبدًا خيره الله الخ ... متفق عليه(مشكوة المصابيح، ص: ٥٤٦، كتاب لافتن، باب وفاة النبى صلى الله عليه وسلم الفصل الاول)

کوي اوس له زید څخه د اړیکو قطع کولو په وجه د ده زوی له مدرسې وباسو او له دیني علم څخه یې محروم کړو او کنه؟(۱۳۳۹/۲۰۵۵ھ)

ځواب: مه یې باسئ او له دیني علم څخه یې مه محروموئ. فقط و الله تعالی اعلم

د بدو کارونو کونکي پلار څخه طالب زوی خرڅ اخیستلای شي او کنه؟

سوال: (۱۵۷۲) زید طالب دی خو د ده پلار اتڼ، سرنا وهل او نور بد کارونه کوي نو د زید له خپل پلار څخه ډوډۍ او جامې اخیستل صحیح دي او کنه؟ که د زید پلار زید ته واده ورو کړي او د ده و ښځې ته نفقه ورکړي نو شرعاً خو به زید ګنهکار وي او کنه؟ (۱۳۴۰/۹۲۴ھ)

ځواب: زید که د خپل پلار سره ډوډۍ وخوري او د ده جوړې کړي جامې واغوندي نو صحیح دي د زید غاړې نه دي بندي، زید دې پخپلو سبقونو کې کمې نه کوي او طالبي دې کوي، او کله چې چټۍ شي پلار یې وروا غواړي نو ورځي دې او لیک دې هم ورلیږي له پلاره دې نه جلا یږي او نه دې خوابدی کوي، که پلار زید ته واده وکړي او د ده و ښځې ته نفقه ورکوي نو په دې هم زید نه دی ګنهکار، له علم حاصلولو وروسته دې بیا د معاش کوم صورت اختیار کړي، په دغه وجه دی خپل سبقونه نه پریږدي. فقط و الله اعلم

پر کوم ماشوم چې خلګو تهمت لګولی وي هغه ته علم ورزده کول

سوال: (۱۵۷۳) پر یو طالب باندې د ماشوم والي په زمانه کې خلګو د بدکارۍ تهمت لګولی ؤ اوس هغه طالب سبتونه وایي څیني خلګ وایي چې د ده دیني زده کړه ناروا ده، حالانکه اوس دی یو مخ سم سړی دی، شرعاً څه حکم دی؟(۱۳۳۳-۳۲/۸۸۷ھ)

ځواب: کوم خلګ چې د دغه نوموړي طالب و دیني زده کړو ته بد وایي هغه غلط دي ده ته دیني علم ورزده کول ډېر ښه او د ثواب کار دی، که بالفرض له ده څخه مخکې کوم ناوړه عمل شوی وي نو اسو چې کله دی سم سړی دی او طالبي کوي نو دیني علم ورښودل پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

د علم د حصول لپاره له چا مرسته اخیستل

سوال: (۱۵۷۴) د دیني علم د تحصیل په نیت له چا څخه مالي مرسته اخیستل جائز ده؟(۱۳۴۱/۲۷۲۵ھ)

ځواب: که ضرورت وي نو صحیح دی. فقط و الله تعالی اعلم

د علم حاصلولو لپاره نوکري پریښودل او کور خرڅول

سوال: (۱۵۷۵) یو عیالداره سړی چې د هستوګنې کور لري دی وایي چې زما شوق دی چې علم حاصل کړم زه خپل نوکري چې شپېته روپۍ د میاشتې تنخواه راکوي پرېږدم، د علم په حصول پسې ځم او د سفر د مصرف لپاره خپل کور خرڅوم آیا په د ساي صورت کې د ده لپاره سرای خرڅول او نوکري پیښ،دل جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۹۲۲ھ)

ځواب: د دیني علم حاصلول هم ضروري دي لیکن د عیالداره سړي لپاهر د خپل بچیانو خیال ساتل او د دوی حقوق ادا کول هم لازمي کار دی، نو د ساي دي نه کوي چې ورځخه د ده بچیان تلف او ضائع شي، په شامي کې راغلي دي: و لو خرج المتعلم وضیع عیالهو یراعی حق العیال(۱) نو غوره د ده لپاره دا دي چې څه څه ضروي دیني علم دي هم حاصلوي او مسئلې دي زده کوي او سرای دي نه خرڅوي او نوکري دي نه پرېږدي، که یا که نوکري پرېږدي او د دغه نوکرۍ شرعًا پرېښودل ضروري وي نو بیا دي کوم بله وسیله د معاش وګوري او څه وخت دي د مسئلو و زده کړي ته ورکوي، لنډه دا چې د اهل او عیال خیال ساتل مخکې دی او د مسئلو زده کړه پر دې موقوف نه دي چې د عربي کتابونه دي د قانون سره سم ووایي بلکه پخپله ژبه کې هم مسئلې زده کول ای شي او ضروري همدومره دي. فقط

و ښځو ته خوشخطي او تقریر ورزده کول

سوال: (۱۵۷۶) و ښځو ته خوشخطي او پخپل منځ کې تقریر کولو تعلیم ورکول شرعًا په تیره بیا دغه د بدامنۍ په زمانه کې جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۵۸ھ)

ځواب: شرعًا دا څه پروا نلري که په دوی کې په کوم ارکي کوم تاوان او خرابي وي د هغه مخ نیوی وکړي او له فتنې څخه بچ کړي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

په خوش آواز هلکانو نعتونه، غزلي او نور ویل

سوال: (۱۵۷۷) په عامو مجلسونو کې د قرآن شریف قرأت، نعتونه، د نصیحت قصیدې او د عشق غزلي په هلکانو ویل چې په عمر کم او ښه آواز لرونکي وي جائز دي او کنه؟ (۵۴۹/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: د فتنې په ځای کې له داسې کارونو څخه پرهیز کول پکار دی او تقوی کول پکار ده. فقط

و هندو یا عیسائی ته عربي، صرف، نحو او ادب ورزده کول

سوال: (۱۵۷۸) و کوم هندو یا عیسائی ته عربي، صرف، نحو او ادب ورښودل جائز دي او کنه؟ (۱۲۹۲/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: په در مختار کې راغلي دي ولا بأس بتعلیمه القرآن و الفقه عسی یهتدی الخ(۱) نو معلوم شو چې کله د فتنې خوف نه وي نو نصراني او نورو ته د قرآن شریف، فقهي او نورو هم تعلیم ورکول جائز دی لهذا د صرفو، نحوي او ادب، تعلیم په اولی درجه هیڅ پروا نلري. فقط

په سود قرض اخیستونکي تجارت کول او د هغه په ګټه د بچیانو پالنه او دیني زده کړه ورکول

سوال: (۱۵۷۹) زید په سود روپۍ واخلي تجارت په کوي او د هغه په ګټه د خپلو بچیانو پالنه کوي نو بچیان به ګنهکار وي او کنه؟ که زید خپل بالغ زوی عمر ته په همدغه روپیو دیني زده کړه ورکړي نو جائز دي او کنه؟ او د دغه هلک غاړي به بندي وي او کنه؟ (۳۲۱/۱۳۴۲ھ)

ځواب: کومې روپۍ چې د سود په ورکولو په قرض واخیستل شي هغه روپۍ حرامې نه دي بلکه د سود ورکولو شرط باطل او حرام دی او سود ورکونکی د سود اخیستونکي په رنګه ګنهکار دی، لکه چې الفاظ د حدیث "آکل و موکل ربا همس واء"

---

(۱) الدر المختار مع الشامی کتاب الطهارة، قبیل: باب المیاه. ط رشیدیه

په دې اړه راغلي دي(۱) نو کله چې دا خبره معلومه شوه چې کومې روپۍ په قرض واخیستل شوې هغه حرامې نه دي بلکه د سود شرط لګول حرام دی. لهذا په دغه روپیو چې کوم تجارت وشو او کوم ګټه چې وشوه. هغه هم حلال دي او د سود ورکولو ګناه پر هغه چا ده چا چې دا معامله وکړه. د ده بچیان نه دي ګنهکار او د دغه علم حاصلونکی هلک په هکله هم هغه روپۍ چې د دغه مال له ګټې څخه حاصلې شوې او ده ته ورکول شوې حرامې نه دي او د ده غاړې نه دي بندې. فقط و الله تعالی اعلم

د موضوع او بې بنیاده روایتونو کتابونه چاپول

سوال: (۱۵۸۰) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دې اړه چې مروجه نورنامه چاپول خرڅول رانیول کتل او اوریدل ګناه ده که ثواب؟ شرعًا د داسې اعمالو کونکیو په اړه څه وعده یا وعید راغلی دی؟ بینوا توجروا (۲۹/۴۸۲-۱۳۳۰هـ)

ځواب: په مروجه نورنامه کې بېشکه داسې غلط او موضوع روایاتونه دي چې د هغو چاپول او ویل سخته ګناه او معصیت دی په صحیح حدیث کې د داسې خلګو په هکله سخت وعید راغلی دی: عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: بلغوا عنی و لو ایة وحدثوا عن بنی اسرائیل ولا حرج، و من کذب علی متعمدا فلیتبؤ مقعده من النار رواه البخاري و عمن سمرة بن جندب و المغیرة بن شعبة رضی الله عنهما قالا: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من حدث عنی بحدیث یری انه کذب فهو احد الکاذبین رواه مسلم(مشکوة)(۲) نو د داسې کتاب، نه چاپول او خپرول چې پکې موضوع او بې بنیاده روایتونه وي هڅکله صحیح نه ید بلکه سخته ګناه او د عذاب الیم باعث دی او وعید د دې لپاره د خول د نار په حدیث شریف کې راغلی دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن جابر رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربا و موکله و کاتبه و شاهدیه و قال: هم سواء رواه مسلم (مشکوة المصابیح، ص ۲٤٤، کتاب البیوع، باب الربا، الفصل الاول)

(۲) مشکوة المصابیح، ص: ۳۲، کتاب العلم، الفصل الاول.

موضوع حکایتونه او روایتونه په نصیحت کي بیانول او په تصنیفونو یک لیکل

سوال: (۱۵۸۱) از حکایات و روایت موضوع وعظ کردن و تصانیف نمودن جائز است یا نه؟ (۲۴۰/۲۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: از قصص و روایات موضوعه و ضعیفه وعظ کردن درست نیست، در تصانیف داخل کردن حکایات و روایات موضوعه جائز نیست و روایات ضعیفه در فضائل اعمال اوردن روا است. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۱۵۸۱) ترجمه: په وعظ کي موضوع حکایتونه او روایتونه بیانول او په تصنیفونو کي لیکل جائز دي او کنه؟

ځواب: په مضووع او ضعیف حکایتونو او روایتونو وعظ کول صحیح نه دي او موضوع حکایتونه او روایتونه په تصانیفو کي لیکل صحیح نه دي او ضعیف روایتونه په فضائل اعمال کي روارل جائز دي. فقط و الله تعالی اعلم

فارسي، هندي، انګریزي او نور زاړه کتابونه سوځول

سوال: (۱۵۸۲) پر کوم کاغذ بانید چي هندي یا فارسي یا انګریزي او یا په کومه بله ژبه خط لیکلی وي یا سپین کاغذ وي د دې ادب شته او کنه؟ دا وسوځؤ او کنه؟ (۳۵۴۰/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: په شامي کي لیکلي دي چي زوړ او خیري قرآن شریف مسلمان مړي په رنګه په پاک ټوکر کي وپیچئ په خوندي ځای کي یې ښخ کړئ(۱) مه یې سوځوئ او نور کتابونه سوځول هم جائز دي مګر ښخول یې غوره دي یعني په نورو کتابونو کي چي د الله نوم، د نبي علیه الصلاة و السلام نوم او ملائکو نومونه محو کړئ نور سوځول جائز دي لیکن ښخول یې احسن دي، و اما غیره من الکتب فسیأتی فی الحظر و الاباحة: أنه

(۱) المصحف اذا صار بحال لا یقرا فیه یدفن کالمسلم(الدر) و فی الشامی: قوله: (یدفن) ای یجعل فی خرقة طاهرة وي دفن فی محل غیر ممتهن لاي وطاء و فی الذخیرة: وي نبغی ان یلحد له و لا یشق له لأنه یحتاج الی اهالة التراب علیه و فی ذلک نوع تحقیر الخ(الدر و الشامی کتاب الطهارةو سنن الغسل، مطلب: یطلق الدعا علی ما یشتمل الثناء قبیل باب المیاه. ط رشیدیه)

يمحى عنها اسم الله تعالى وملائكته ورسله ويحرق الباقي ولا بأس بأن تلقى ففي ماء جار كما هي او تدفن وهو احسن اهـ(۱) او د سپين كاغذ چي وربانديِ څه نه وي ليکل هيڅ ادب نشته. فقط والله تعالى اعلم

په دې شرط اهتمام قبلول چې د مدرسانو او نورو په مخکنی تنخواو به زما کار نه وي

سوال: (۱۵۸۳) د يوې مدرسې مهتمم و اهتمام ته جواب ورکړی يو بل سړي د مدرسې انتظام په دې شرط پر خپله غاړه واخيستی چي پر مدرس باندي چي د مدرسانو او نورو مخکنۍ تنخواوي باندي دي د هغه به زما سره تعلق نه وي آيا د نوي مهتمم دا شرط معتبر دی او کنه؟(۱۳۳۶-۳۵/۳۵۱هـ)

ځواب: د مدرسانو او ملازمانو مخکنۍ تنخواوي چي له مخکي څخه پر مدرسه باندي دي هغه نه دي ساقطي شوي کوم وخت چي وس وي ورکول يې ضروري دي نو د نوي مهتمم دې شرط ته اعتبار نشته، اما که مدرسان او نور هم پر مخکنيو تنخواوو پريښودلو راضي شي او غوښتنه ونکړي نو دا صحيح دي و ملخصه: انه لا يسقط معلومه الماضي ولا اي عزل في الآتي اذا كان في المصر مشتغلا بعلم شرعي الخ(۲) فقط

د انګريزي تاريخ په حساب تنخواه ورکول او اخيستل صحيح ده

سوال: (۱۵۸۴) په مدرسه کي مخکي و استاذانو ته تنخواوي د اسلامي مياشتو په حساب ورکول کيدلي اوس يې د انګريزي تاريخ په حساب ورکول غواړي دا سي جائز دي او کنه؟(۱۳۳۸/۱۵۲۲هـ)

ځواب: که استاذان هم په دې اراضي وي نو د انګريزي تاريخ په حساب تنخواه ورکول او اخيستل صحيح دي.

---

(۱) الشامي كتاب الطهارة، سنن الغسل، مطلب: يذلق الدعا على ما يشمل الثناء قبيل باب المياه، و في الدر المختار مع الشامي كتاب الحظر و الاباحة، فصل في البيع. ط رشيديه

(۲) الشامي كتاب الوقف، مطلب فيما اذا قبض المعلوم و غاب قبل تمام السنة. ط رشيديه

که مهتمم د اصول خلاف کوي نو مأموران به څه کوي؟

سوال: (۱۵۸۵) د کومي اداري، يتيم خاني او اسلامي مدرسي مهتمم که قصدًا د اصولو خلاف کوي اوس ره د يادوني بيا هم تينګار کوي نو د مأمورانو لپاره شرعًا د داسي مهتمم په اړه څه کول لازم دي؟ کله چي د مهتمم ليري کوي اختيار نلري (۱۳۳۹/۳۹۴هـ)

ځواب: د دغه مأمورانو که وس کيدلای شي نو مهتمم دي پوه کړي او امر بالمعروف او نهي عن المنکر دي وکړي بيا که مهتمم مني او که يې نه مني د مأمورانو غاړي خلاصي دي. فقط و الله تعالی اعلم

مهتمم که د تنخواه ورکولو لپاره په سود قرض اخلي

سوال: (۱۵۸۲) زه په يوه مدرسه کي کار کوم، کله نا کله مهتمم په سود قرض واخلي تنخواه راکوي دا تنخواه حلاله ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۷۲۲هـ)

ځواب: حلاله ده.(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) د مدرس لپاره تنخواه اخيستل حلال دي مګر د مهتمم په سود قرض اخيستل حرام دي، د دې ګناه پر مهتمم ده، مدرس نه دی ګنهکار، ځکه چي ده نه سود اخيستی دی او نه يې ورکړی دی ۱۲

د قرأت او تجويد بيان

چي اووه قرأته متواتر دي نو د حفص قرأت ته ولي ترجيح ورکوله شوې ده

سوال: (۱۵۸۷) په ټوله دنيا کي قلمي او چاپ شوي قرآنونه د حفص په قرأت باندي ليکل شوي دي سره د دې چي اووه سره قرآتونه متواتر دي څه وجه ده؟ (۱۳۳۵/۲۳۲ھ)

ځواب: د دې دا وجه نه ده چي له نورو قرأتونو دوی انکار کاوی و العياذ بالله بلکه د کوم قرأت رواج چي زيات شو هم هغه آسان شو او هر قرأت چي اختيار کړل شوی وای دا سوال پر هغه باندي هم کيدلای شو چي د دې د اختيارولو څه وجه ده؟ لنډه دا چي دا کار د پريشانۍ باعث نشي کيدلای او نه کيدل پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

د ورش قرأت که د مصحف په حوض او نور قرأتونه پر حاشيه وي

سوال: (۱۵۸۸) د قرآن شريف په حوض کي که د ورش عليه الرحمة قرأت شي او همدا رسم الخط شي او د حفص قرأت سره د نورو قرأتونو پر حاشيه شي نو دغه کار ته به د امام د رسم الخط يعني د امير المؤمنين عثمان ذي النورين رضی اله عنه د مصحف په خلاف وويل شي؟ او آيا داسي کول جائز دي؟ بينوا توجروا (۱۳۰۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: داسي کول د امام د رسم الخط په خلاف نه دي ځکه چي رسم الخط د عثماني مصاحفو و ټولو متواتره قرأتونو ته جامع ؤ او داسي هم ؤ چي د امام په ځينو مصاحفو کي دي يو متواتر قرأت وي او په ځينو کي بل نو د مصحف په حوض کي که د ورش قرأت وي د مسئلي له مخه جائز دی، و مصلحت ته وګوري قال الشيخ جلال الدين السيوطي رحمة الله عليه فى الاتقان: و قال البيهقى فى شعب الايمان: من يكتب مصحفًا فينبغى ان يحافظ على الهجاء الذى كتبو به تلك المصاحف و لا يخالفهم فيه و لا يغير مما كتبوه شيئا، فإنهم كانوا أكثر علمًا و اصدق قلبًا و لسانًا و اعظم امانة منا. فلا ينبغى ان تظن بأنفسنا استدراكًا عليهم.

قلت: و ينحصر امر الرسم فى ستة قواعد: الحذف و الزيادة و الهمز و البدل و الوصل و الفصل و ما فيه قرأتان: فكتب على احداهما انتهى(۱) ثم قال: القاعدة السادسة فى ما فيه قرأتان: فكتبت على احداهما الخ ثم قال: فرع: و اما القراءات المختلفة المشهور بزيادة لا يحتملها الرسم و نحوها، نحو اوصى و وصى و تجرى تحتها و من تحتها و س يقولون: الله و لله و ما عملت ايديهم و ما عملته فكتابته على نحو قرائته و كل ذلك وجد فى مصاحف الامام اهـ من النوع السادس و السبعين(۲)

و قال فى النوع الحادى و العشرين: قال ابن الجزري: و نعنى بموافقة احد المصاحف ما كان ثابتا فى بعضها دون بعض كقراءة ابن عامر قالوا: اتخذ الله ولدًا فى البقرة بغير واو و بالزبر و بالكتاب بإثبات البأ فيهما، فإن ذلك ثابت فى المصحف الشامى و كقراءة ابن كثير تجرى من تحتها الانهار فى آخر براءة بزيادة من، فإنه ثابت فى المصحف المكى و نحو ذلك، فإن لم يكن فى شئ من المصاحف العثمانية فشاذة الخ(۳)

---

(۱) الاتقان فى علوم القرآن للسيوطي رحمة الله عليه: ۱۶۷/۲، النوع السادس و السبعون، فصل: القاعدة العربية ان اللفظ يكتب الخ، المطبوعة: المطبعة الازهرية المصرية.

(۲) الاتقان فى علوم القرآن: ۱۷۰/۲ القاعدة السادسة فيما فيه قراءتان.

(۳) الاتقان فى علوم القرآن: ۷۵/۱، النوع الثاني و الثالث، و الرابع و لاخامس و السادس و لاسابع و العشرون معرفة المتواتر و المشهور و الآحادوا الشاذ و الموضوع و المدرج.

مګر دغه توسع تر همدې ځایه ده چې د کوم مصحف د امام د مصحف سره موافقه وي او دا جائز نه دي چې ملک مالک ولیکي ځکه چې دا لفظ د امام په ټولو مصاحفو کې بیله الف لیکل شوی دی اما د همزة شکل د عین د سر په صورت خلیل بن احمد مقرر کړی دی نو یؤمنون یؤمنن لیکل جائز دی.

لیکونکی: محمد انور عفا الله عنه، د ربیع الثانی لومړی ۱۳۳۳ھ

الجواب حق صحیح: عزیز الرحمن د دار اعلوم دیوبند مفتي

د مولانا اشرف علي صاحب تصدیق لاندې لیکل شوی دی:

جواب صحیح دی: او حضرت مجیب سلمه په دې کې ډېره ضروري مشوره ورکړې ده د هغه خیال ساتل ضروري دی هغه دا چې مثلاً زموږ په وطن کې د حفص رحمة الله علیه قرأت معمول بها دی، نو په متن کې د کوم بل قرأت لیکل لامحاله دعوامو په فتنه او تشویش کې اچول دي، د دغه عارض په وجه د دې اجازه نه ورکوله کیږي، و لا یخفی ذلک علی من مارس الناس.

لیکونکی: اشرف علي ۲ ربیع الثاني ۱۳۳۳ھ

او د قاري عبد الوحید تصدیق دا دی:

حضرت مجیب صحیح فرمایلي دي چې له متواترو قرأتونو څخه چې پر کوم قرأت وغواړې د قرآن کتابت دې وکړي ځکه چې د عثماني مصاحف رسم د ټولو متحمل دی تر څو چې د ځینو شاذ قرأتونو هم مګر د کوم نوي رسم الخط ایقاع جائز نه ده، دا حضرت امام شاطبي رحمة الله علیه هم پخپله رائیه قصیده کې چې د علم رسم الخط ډېره معتبره او درسي قصیده ده، ارشاد فرمايي:

و قال مالک:

القرآن یکتب بالکتاب الاول لا مستحدثًا سطرًا(۱)

خاکسار عبد الوحید عفی عنه خادم درجۀ تجوید دار العلوم دیوبند

---

(۱) متن عقیلة اتراب القصائد فی اسنی المقاصد الشهیرة بالرائیة فی فن الرسم للشیخ الشاطبي ص: ۲۰۱، المطبوعة: دار الکتب العربیة الکبری، بمصر.

د قراءات سبعه انکار کول

سوال: (۱۵۸۹) څوک چي د قراءات سبعه انکار په دې دلیل وکړي چي له حفص رحمه الله څخه پرته خو ټول قرأتونه له قرآن څخه ایستل شوي ځیني د قرآن پر حاشیه لیکل شوي دي او ځیني پر حاشیه هم نه دي لیکل شوي ځکه د دغه قرأتونو ویل د اجماع خلاف شو؟ (۱۳۳۵/۲۳۲ھ)

ځواب: دا وجه معقوله نه ده او سبعه قراءات متواتره ته د اجماع په خلاف ویل صحیح نه دي فقط

د حفص د قراءت په مجلس کي قراءات سبعه ویل

سوال: (۱۵۹۰) څه فرمايي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کي چي په یو ځای کي څو قاریان یو په بل پسي د قرآن شریف تلاوت په ترتیب سره د امام حفص رحمه الله له قرأت سره سم (د کوم چي رواج دی) کوي، په دې کي زید پر خپل نوبت خپله رکوع په سبعه قراءات وايي او غرض د ده ترویج د قرآن خپرونه او د اهل زمان تشویقول دي مګر نور قاریان زید له قراءات سبعه څخه په بد منع کوي چي دا نسا ته خو د حفص رحمه الله د قرأت لپاره شوې ده، ځکه په دغه ناسته کي د امام حفص رحمه الله له قرأت څخه پرته د کوم بل چا قرأت نه دی ویل پکار، اوس زید چي و قرأت سبعه ته رواج ورکونکی دی که پر حق دی نو له سبعه قراءات څخه منع کونکي څو مره پر خطا دي؟ او که زید پر حق نه دی نو څه دلیل دی؟ (۱۳۳۵/۲۳۲ھ)

ځواب: په سبعه قراءات کي تلاوت د اورېدونکیو د فايدې او عامو خلکو خبرولو په غرض د قراءتونو په اختلاف سره هیڅ پروا نلري، بلکه د خلکو د استعجاب او انکار دفع کولو په غرض که په ځینو ځایونو کي ضروري شي نو هم د تعجب خبره نه ده، لنډه دا چي منع کول مناسب نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

آیا د قرآن شریف ټول حروف د مخارجو او صفاتو سره ادا کول ضروري دي؟

سوال: (۱۵۹۱) د قرآن شریف هر حرف د مخارجو او صفاتو سره ادا کول فرض دي که واجب که سنت؟ (۱۳۴۳/۲۲۹ھ)

ځواب: د تجوید فن د ډیرو خبرو نوم دی چې پکې ځینې فرض واجب او ځینې سنت او مستحب دي، د دې تحقیق د تجوید او قرأت په کتابونو او مجود قاریانو څخه وکړې فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن شریف په تلاوت کې ډیر احتیاط کول پکار دی

سوال: (۱۵۹۲) کوم څو چې د الفاظو مخرج ادا کولای شي خو بې هم "ح" ته "خ" وایي حالانکه علماء فرمایي چې د قرآن شریف تلاوت بنه په فکر سره کول پکار دی، د دغه مسئلې څه حکم دی؟(۱۸۲۰/۱۳۳۸هـ)

ځواب: فی الحقیقت د قرآن شریف په تلاوت کې ډیر احتیاط کول پکار دی، حروف پخپلو مخارجو کې ادا کول پکار دی، یو حرف په بل حرف نه دی بدلول پکار، دا سخته غلطي ده، او زیاتره په داسې غلطیانو د لمانځهٔ د فساد اندیښنه وي، لهذا په دې هکله ډیر احتیاط کول پکار دی او د کلام الله په صحیح ویلو کې ډیر څه کوشش کول پکار دی. قال الله تعالی: "ورتل القرآن ترتیلا" (سورة مزمل، آیت: ۴) فقط و الله و تعالی اعلم

زاء د سین مشابه ویل غوره دي که د ذال؟

سوال: (۱۵۹۳) د زاء او د سین مخرج یو دی او په ټولو متضاده صفاتو کې هم سره شریک دي پرته له همس او جهر چې په زاء کې صفت د جهر دی او پهٔ سین کې صفت د همس دی لهذا صرف د جهر او همس فرق دی نو په داسې صورت کې زاء د سین مشابه ویل غوره دي که د ذال مشابه؟ د تجوید سره سم راته ولیکئ، ځکه چې په زاء او س ین کې د غیر متضاده صفاتو څخه یو شفت صفیریه هم شته چې د ادا کولو کې په اواز کې شپیلک غوندي وي لهذا د ذال مشابه ویل د تجوید خلاف دی؟ که د سین مشابه ویل د تجوید خلاف دی؟(۴۲۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: د زاء، سین، صاد مخرجي و دی په دیو زاء د سین او صاد سره ذاتي تمایز لري، که څه هم په ځینو صفتونو کې اتحاد دی، هو ! د ذال سره ذاتي تشابه لري که څه هم په مخرج کې اختلاف دی نو زاء که د سین مشابه وویله شي نو آواز به صحیح وي ککه د ذال مشابه وویله شي نو صحیح دی مګر خاص ذال ویل نه دي پکار، د تشابه مطلب عینیت نه وي فقهاء کرامو هم د دعوامو دلمنځونو د نه فساد څخه د کثیر مشقت او عجز

په وجه په دغه حروف کي مسامحت کړی عموم بلوی په وجه لکه په زاء، ظاء، ضاد. تاء، طاء او سين، صاد، ثاء کي لهذا زاء مشابه د ذال سره ده، د سين او نوروس ره نه ده. فقط و الله تعالی اعلم

د همس او رخاوة صفت او جهر او شدت تر منځ څه فرق دی؟

سوال: (۱۵۹۴) په صفت د همس او رخاوة کي څه فرق دی؟ او داغه راز په جهر او شدت کي څه فرق دی؟ (۴۲۱/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: د همس معنی ده په مخرج کي د آواز په نرمي سره پيدا کيدل مع جريان نفس، حروف د دې لس دي چي په "فحثه شخص سکت" کي جمع دي، ضد د دغه صفت جهر دی چي له دغه لسو څخه پرته کي دي د جهر عنی ده په مخرج د آواز په قوت سره د رېدل مع انحباس نفس، دا دواړه صفتونه پخپله منځ کي د يو بل ضد او مقابل دی، شديده اته حروف دي چي په "اجد قط بکت" کي جمع دي، د ش دت معنی ده په مخرج کي د آواز په قوت سره د رېدل د صورت د انحباس سره رخوه د هغه شديده ضد دی چچي له دې څخه پرته دی د رخوه معنی ده د آ، از په مخرج کي په نرمي سره د رېدل د صوت د جريان سره او دا دواړه صفتونه پخپل منځ کي د يو بل ضد او مقابل دی. فقط و الله تعالی اعلم

سند لرونکی قاري څوک دی؟

سوال: (۱۵۹۵) آيا هغه عالم چي د نظامي مدرسې حيدآباد سند لري او د قرأت درسي کتابونه ويلي دي، سند لرونکی قاري ورته ويلای شو؟ سند لورنکی قاري چاته ويلای شو؟ (۴۹۷/۱۳۴۵ھ)

ځواب: سند لرونکی قاري هغه دی چي د قرأت په فن کي ماهر وي او د تجويد په قواعدو پوره خبر، عالم او مشاق وي، هغه که په هر ښار يا کلي کي سبقونه ويلي وي، په دې کي د کوم ښار خصوصيت نشته، بلکه د قرأت په فن کي د ده ماهر کيدل پکار دي، همداسي څوک د دې حقدار دی، چي ورته سند لرونکی قاري وويل شي. فقط و الله تعالی اعلم

آیا ماشومانو ته قرآن ورزده کونکی به هر وار اعوذ بالله وایي؟

سوال: (۱۵۹۲) هلکانو ته د قرآن شریف ویلو پر مهال چي څو. څو واره دوی ته ورښودل نو آیا هر وار اعوذ بالله یل ضروري ده که یو ځل بس ده؟ (۱۳۳۸/۲۵۱ھ)

ځواب: لومړی یو وار کافي ده او په ورښودلو کي دې ته هم ضرورت نشته. ځکه چي استحباب د تعوذ په پیل کولو د تلاوت پر مهال دی. فقط و الله تعالی اعلم

الرحمن الرحیم څه ډول ویل پکار دي؟

سوال: (۱۵۹۷) موږ په الحمد کي الرحمن الرحیم وایو او څۀ خلک یې ن الرحمن الرحیم وایي صحیح څنګه دی؟ (۱۳۴۰/۱۵۷۸ھ)

ځواب: دواړه رنګه ویل صحي دي یعني که پر رب العالمین وقف ونکړي او نون د الرحمن الرحیم سره یو ځای ووایي نو ن الرحمن الرحیم ویل کیږي او که پر رب العالمین وقف وکړي نو الرحمن الرحیم ویل کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

"ض" څرنګه ویل پکار دی؟

سوال: (۱۵۹۸) "ض" چي زیاتره خلک یې د دال مشابه وایي بلکه دال یا یې ډک دال وایي لمونځ په صحیح کیږي او کنه؟ د فقهي او تجوید له کتابونو څخه خو د دې عکس معلومیږي چي دا حرف د محقیقینو په نیزد نه "دواد" دی لکه خلک چي وایي نه "ظواد" لکه ځیني چي ویونکي دي نو کوم خلک چې له پاني پتي قاریانو سره مشق وکړي په یولو کي د ظاء څه بوی راځي شرعًا د دې څه تحقیق دی؟ (۱۳۳۷/۴۲۲ھ)

ځواب: پاني پتي قاریان چي څنګه ض په مخرج کي ادا کوي هغه رنګه ویل پکار دی ځکه چي هر حرف پخپل مخرج کي ویل لازم دی لیکن دا خبره ضروري ده چي ظ بۀ نه وایي او د مفخم ال په صورت ویل هم په مخرج کي ویل دي، کما یفهم من اجماع قراء العرب علیه لیکن دا ادا نیمګړې ده کما قال: مولانا رشید احمد قدس سره(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) د دال، ظ، ض په بیلو حروفو او بیلو مخرجونو کیدو کي خو شک نشته او په دې کي هم شک نشته چي قصداً د یو حرف د بل په مخرج کي ادا کول سخته بې ادبي او زیاتره د لمانځۀ دفساد باعث

سوال: (۱۵۹۹) "ض" د "ظ" مشابه ويل پکار دي که د "د" مشابه څه ډول بايد وويل شي؟ (۱۱۹۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: حرف د "ض" ځانته يو حرف دی چي خاص د عربي ژبي دی دا نه د "د" مشابه ويل پکار دی او نه د "ظ" مشابه او دا بيله کوم مستند قاري څخه مشافهةً زده کړئ واقعتًا نه شي زده کيدلای، پاته شوه دا خبره چي په دې کي چي يو ډول تشابه معلوميږي نو د قراءت او فقهي کتابونو له عباراتو څخه تشابه د "ظ" سره معلوميږي المنح الفکرية على متن الجزرية مطبوعة مصر لملا علي القاري، ص:۳۴(۱) و ص: ۳۹(۲) او د حرمينو

ده مګر کوم خلک چي معذور دي او دوی دا لفظ پخپل خرج کي نشي ادا کولای او تر خپله وسه کوشش هم کوي د هغول مونځ هم صحيح دی او ډک دال نسکاره خبره ده چي پخپله کوم حرف نه دی بلکه ضاد دی پخپل مخرج کي سم نه شو ادا نو څوک چي خالص دال يا خالصه ظاء عمداً ووايي په هغه پسي لمونځ خو مه کوئ مګر څوک چي د ډک دال په اواز ووايي په هغه پسي لمونځ کوئ. فقط و الله تعالى اعلم (فتاوی رشيديه، ص: ۳۲۰-۳۲۱، ط، جسيم بک ډپو متيا محل، دهلي)

(۱) و ليس في الحروف ما يعسر على اللسان مثله و السنة الناس فيه مختلفة، فمنهم من يخرجه ظاء و منهم مني خرجه والا مهملة او معجمة، و منهم من يخرجه طاء مهملة كالمصريين و منهم من يشمه ذالا ومنهم من يشيربها بالظاء المعجمة لكن لما كان تمييزه عن الظاء مشكلا بالنسبة الى غيره، امر الناظم بتمييزه عن الظاء مشكلا بالنسبة الى غيره امر الناظم بتمييزه عنه نطقا الخ(المنح الفكرية على متن الجزرية: ص: ٣٤، المطبوعة: المطبعة الميمنية بمصر)

(۲) و ذكر صاحب المنية انه اذا قرأ الظاء مكان الضاد المعجمتين او على القلب فتفسد صلاته و عليه اكثر الائمة و روى عنه محمد بن سلمة لا تفسد، لأن العجم لا يميزون بين هذه الاحرف و كان لاقاضى الامام الشهيد يقول: الاحسن فيه اني قال: إن جرى على لسانه ول م يكن مميزا و كان زعمه أنه ادى الكلمة على وجهها لا تفسد صلاته و كذا روى عن محمد بن مقاتل و عن الشيخ الامام اسماعيل الزاهد قال الشارح: و هذا معنى ما ذكر في فتاوى الحجة أنه يفتي في حق الفقهاء بإعادة الصلاة و في حق العوام بالجواز، أقول: و هذا تفصيل حسن في هذا الباب و الله اعلم بالصواب و في فتاوى قاضي خان: ان قرأ غير المغضوب بالظاء او بالدال تفسد و لو بالذال المعجمة تفسد(المنح الفكرية على متن الجزرية لملاعلى القاري: ص: ٣٨-٣٩، باب التحذيرات، المطبوعة: المطبعة الميمنية بمصر)

شريفينو زاد الله شرفهما د قرأت معمول بها تشابه بالدال ده، چي دلائل يې د تنګۍ په وجه نه بيانول کيږي او بله دا چي دا حالي کيفي شی دی صرف په کتابت او ليک کي راوستل مشکل دي فقط و الله تعالی اعلم

د "ض" آواز د "ظ" مشابه دی که د "د"

سوال: (۱۲۰۰) د "ض" حرف په عربي، فارسي او ردو کتابونو کي د "معجمة ظ" د آواز سره مشابه استعماليږي او په قرآن شريف کي د "د" د آواز سره مشابه. پهر ساله زينت القرآن کي راغلي دي چي د "ض" د "ظ" سره په صوت کي مشابه کيدل د فقهي او قرأت په ټولو معتبرو کتابونو ثابت دي د "د" سره داسي نه دي او مولوي عبد الحی صاحب لکهنوي رحمه الله پخپله فتاوی دوهم ټوک استفتاء شميره ۱۴ مخ ۳۳-۳۲ کي ليکلي چي د "ض" د "ظ" سره په صورت کي مشابه کيدل د تفسير. فقهي، صرف او تجويد په ټولو کتابونو ثابت دي(۱) او څوک چي "ض" پخپل مخرج کي نشي ادا کولای هغه دي "ظ" وايي په دې سره زياتره وايي چي لمونځ نه فاسديږي... او د "د" مشابه ويلو باندي زاتره وايي چي لمونځ فاسديږي(۲) د رد لمحتار په باب زلة القاري کي "ض" په صوت کي د "ظ" مشابه ليکلی دی(۳) نو چي دغه وجهو ته وګورې نو د وطن له علماء څخه دا پوښتنه لرم چي زموږ په وطن کي چي د "ض" په صورت کي د "د" سره مشابه په قرآن شريف کي ويل صرف وطني رواج دی که د قرأت او فقهي په معتبرو کتابونو کيې د دې کوم دليل هم شته؟ (۱۳۳۷/۲۳۴۸هـ)

ځواب: اصل خبره دا ده چي څومره مي وس وي هر حرف پخپل مخرج کي ادا کوئ او قصداً يې په بل حرف مه بدلوئ ليکن د مجبورۍ په وجه داسي وشي نو په دې کي هغه تفصيل دی کوم چي فقهاء د زلة القاري په مسئلو کي ليکي او د ځينو حضاتو دا ويل چي

---

(۱) مجموعة الفتاوی: ۳۷/۲، استفتاء: ١٤.

(۲)مجموعة الفتاوی: ۳۷/۲، استفتاء: ١٤.

(۳) و ان لم يكن الا بمشقة كالظاء مع الضاد و الصاد مع السين فأكثرهم على عدم الفساد لعموم البلوی(الشامي كتاب الصلاة باب ماي فسد الصلوة و ما يكره فيها، مطلب مسائل زلة القاری. ط رشيدبه)

"ض" پخپل اصلي مخرج کي مه ادا کوئ بلکه "ظ" يې و ايا ست د ټولو عربو او عجمو قاريانو او د ټولو کتابونو په خلاف دی هيڅوک دا نه وايي چي "ض" قصدًا "ظ" وو ايا ست بلکه دا وايي چي که صوت د ده د "ظ" د صوت مشابه شو نو زياتره واي يچي لمونځ نه فاسد يږي دا مطلب يې نه دی چي قصدًا "ض" "ظ" و ايا ست او قصدًا د "ض" پر ځای "ظ" ويلو حکم کول او هيڅ پورا د دې نه ساتل د علماء د څرګندونو په خلاف دي بلکه ځيني فقهاء د "ض" پر ځای په ځينو ځايونو کي "ظ" ويلو کفر ليکلی دی لکه چي په شرح فقه اکبر کي ملا علي قاري رحمه الله له محيط څخه را نقل کړی دی چي څوک د "معجمه ض" پر ځای "ظ" عمدًا وو ايي هغه کافر شو اول مونځ د ده په هر حال کي فاسد شو که عمدًا وو ايي او که بيله عمده، عبارت يې دا دی: و فی المحيط: سئل الامام الفضلی عمن يقرأ الظاء المعجمة مکان الضاد المعجمة الخ فقال: لا يجوز امامته و لو تعمد يكفر الخ مخ ۲۰۵(۱) نو د همدې ويري له وجهي د عربو علماء او قارياڼو د "ض" پر ځای له "ظ" ويلو څخه پرهيز کړی دی او له تشابه د ظاء په صوت سره ويلو څخه هم احتياط کړی دی څکه نو ټول قاريان او علماء د عرب "ض" مشابه د دال مفخم د صوت سره ادا کوي او د "ظ" له مشابهت څخه پرهيز کوي، ما له خپل استاذ حضرت مولانا محمد يعقوب صاحب نانوتوي قدس سره د مدرسه عاليه ديوبند مخکني صدر مدرس څخه واورېدو هغه فرمايل چي عربو پر دې اتفاق کړی دی چي "ض" د مفخم دال په صوت کي ويل پکار دی لکه څرنګه چي عمل د دوی پر دې شاهد دی چي حاجيانو ته معلوم دی او په حديث شريف کي راغلي دي: اقرؤا القرآن بلحون العرب و اصواتها الحديث(۲) و فيه کفاية لمن اعتبر. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) شرح لافقه الاكبر، ص: ۲۰۵، فصل فی القرأة و الصلاة، المطبوعة: مطبع مجتبائی، دهلي.

(۲) عن حذيفة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: اقرؤوا القرآن بلحون العرب و اصواتها و اياكم ول حون اهل العشق و لحون اهل الكتابين و سيجئ بعدی قوم يرجعون بآلقرآن ترجيع الغناء و النوح لا يجاوز حناجر هم الحديث(مشكوه المصابيح، ص: ۱۹۱، كتاب فضائل القرآن، باب الفصل الثانی)

سوال: (۱۲۰۱) او رېدلي مي دي چي د ديوبند علماء ا فتوی ورکړي ده چي په لمانځه کي "ضاد" "ظ" يا "ظ" ته ورته ويل پکار دی دا خبره صحيح ده او کنه؟ (۱۳۴۲/۲۴۲۱هـ)

ځواب: ما داسي فتوی نه ده ورکړې بلکه د "ضاد" پر ځای "ظ" ويلو څخه نع کړې او ثو واره مي دا هم ليکلي دي چي څرنګه د عرب. علماء او قاريان وايي هغه رنګه وايا ست او پخپله هم "ظ" يا د "ظ" مشابه نه وايم اما دا خبره ضروري ده چي کوم خلک يې په اصل مخرج کي ويلو بآندي قدرت لري هغه دي "ضاد" پخپل اصل مخرج کي وايي. فقط و الله تعالی اعلم

له سورة برأت څخه تلاوت شروع کونکی به بسم الله وايي او کنه؟

سوال: (۱۲۰۲) چي صرف سورة برأت سرې شروع کړي نو بسم الله به وايي که صرف پر اعوذ بالله قناعت وکړي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۳۴۲هـ)

ځواب: صرف اعوذ بالله و وايه(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) راجح او مفتی به قول دا دی چي کوم څوک له سورة برأت څخه تلاوت شروع کوي هغه دي بسم الله الرحمن الرحيم وايي، حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب عليه الرحمة په معارف القرآن کي ليکي: د سورة توبة په سر کي د بسم الله نه ليکلو وجه دا ده چي دا احتمال شته چي سورة توبه دي ځان ته بيل سروة نه وي بلکه د انفال جز دي وي په دغه احتمال بسم الله ليکل داسي صحيح کيږي لکه څوک چي د کوم سورة په منځ کي بسم الله وليکي. په همدې وجه فقهاء فرمايلي دي چي چا د سروة انفال تلاوت کاوی راروان ؤ سورة توبه ته راورسېدی اوس ورة توبه شروع کوي هغه دي بسم الله نه وايي ليکن کوم څوک چي د همدغه سورة له سره يا منځ څخه تلاوت شروع کوي هغه بايد بسم الله الرحمن الرحيم ووايي تلاو شروع کړي د ځينو ناپوهانو دا خيال دی چي دس ورة توبه په تلاوت کي په هيڅ حال کي بسم الله ويل جائز نه دي، دا خبره غلطه ده (معارف القرآن: ۴/۳۰۷. تفسير سورت برأت. مطبوعة: مکتبة بدر. ديوبند)

حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب قدس سره چي دس روة ت. به په شروع کي بسم الله نه ليکلو کومه وجه بيان کړي ده هغه د ترمذي او آبو داؤد له روايت څخه مأخوذه ده. حضرت عثمان رضی الله عنه فرمايي: کانت الانفال من اوائل ما نزلت بالمدينة و کانت براءة من آخر القرآن نزولا و کانت قصتها شبيهة بقصتها فقبض رسول الله صلی الله عليه و سلم و لم يبين لنا انها منها. فمن اجل ذلک قرنت بينهما ول م اکتب سطر بسم الله الرحمن الرحيم (مشکوة المصابيح، ص: ۱۹۴. قبيل کتاب الدعوات)

د سورة توبه د تلاوت په منځ کي خبري کونکي ته څه حکم دی؟

سوال: (۱۲۰۳) کوم څوک چي د س ورة توبه تلاوت کوي که په منځ کي څوک د ده سره خبري کوي نو جواب ورکړي او کنه؟ او که جواب ورکي نو بيا يې په اعوذ بالله او بسم الله شروع کړي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۲۲۱هـ)

ځواب: که کومه ضروري خبره وي نو جواب دي ورکړي او بيا دي اعوذ بالله او بسم الله وو ايي شروع دي يې کړي. فقط و الله تعالی اعلم

پر اياک نستعين او قل هو الله احد وقف کول اولی دی

سوال: (۱۲۰۴) پر اياک نستعين باندي زيد وقف نه کوي بلکه نهدنا الصراط المستقيم يې وايي او الله الصمد ن الله الصمد وايي او دا رنګه ويل افضل او اولی بولي، خالد واي يچي الحمد لله ته سبع مثاني ويل شوي دي نو په دې کي که اووه آيتونه دي وقف کول پکار دی. تفصيلي جواب راکړئ. (۱۳۴۵-۴۴/۲۷۸هـ)

ځواب: دواړه رنګه ويل جائز دي لکه چي په جزري او نورو کي چي راغلي دي چي په قران شريف کي هيڅ (وقف) واجب نشته او نه حرام بيله کومه سببه، لهذا پر نستعين وقف کول يا نه کول او نه د اهدنا سره يې ځای کول جائز دي، داغه راز په قل هو الله احد او قل هو الله باندي وقف کول اولی دی که څوک وقف ونکړي او يو ځای يې وو ايي نو پر دې باندي هم اعتراض مه کوي او دا خبره منل شوې ده چي د سورة فاتحه نوم سبع مثاني دی او په دې کي اووه آيتونه دي ليکن د تجويد د قواعدو سره سم پر هر آيت باندي درېدل ضروري او واجب نه دی لکه چي پر اهدنا الصراط لامستقيم باندي آيت دی ليکن زياتره قاريان پر ميم باندي فتحه وايي او وقف نه کوي. فقط و الله اعلم

د اوقاف د رموزو خيال ساتل مستحب دی

سوال: (۱۲۰۵) څوک چي دا وايي چي په قرآن شريف کي کوم ځای وقف کول او نه کول ضروري نه دی، د هغه لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۴۹۹هـ)

ځواب: د اوقاف خيال ساتل مستحب او ښه کار دی او د قرآن شريف زينت دی ليکن که د وقف په ځای کي وصل وکړي يا د وصل په ځای کي د کوم ضرورت په وجه وقف

وکړي نو په دې کې هیڅ ګناه نشته، اما په کومو ځایونو کې چې د وقف او وصل په بدلولو کې په معنی کې تغیر راځي هلته د وقف او وصل خیال ساتئ. فقط و الله اعلم

آیا په سورة فاتحه کې اووه یا نهه ځایه سکته کول روري ده

سوال: (۱۲۰۲) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کې چې په خلګو کې دا خبره مشهوره ده چې په سورة فاتحه کې اووه یا نهه ځایه د شیطان د نوم راتلو په وجه پر هغه ځایونو پر هر مسلمان لازم او ضروري دي چې سکته وکړي او دغه مشهوره کیدل هم معمولي نه بلکه د هندوستان په هر ښار، هر کلي او هر ځای کې دا خبره اورېدل کیږي، هر عام مسلمان پر دې عقیده لري له دې څخه معلوم شو چې دا ضرور کوم اصل لري، نو د پوښتنې وړ خبره دا ده چې په سورة فاتحه د شیطان اووه یا نهه نومونه راتلل په اصول اربعه کې په کوم اصل ثابت دي؟ او د شیطان د دغه نومونو عقیده ساتونکی پر خطا دی که پر صحیح؟ او په لمانځۀ کې پر دغه ځایونو کوم چې درته لیکم سکته کول ضروري ده او کنه؟ هغه د شیطان نومونه چې په خلګو کې مشهور دي دا دي: دلل، هرب، کیو، کثنع، کنس، تعلی، بعلی آیا دا لزوم شرعي دی که استحساني؟ او بیله سکتې کولو لمونځ صحیح کیږي او کنه؟ او د سکته کونکیو لمونځ د سکته نه کونکیو له لمانځه څخه افضل دی او کنه؟ هیله مند یم چې هره خبره را ته ښرګنده د کتاب په حواله راته ولیکئ. بینوا توجروا (۴۹۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم، دا خبره چې په زیاتره عوامو بلکه په ځینو خواصو کې هم مشهوره ده چې په سورۀ فاتحه کې اووه یا نهه ځایونه په ویلو کې په یو ځای کولو سره د شیطان نوم راځي لهذا په دغه ځایونو کې سکته کول ضروري ده لکه چې په پورته سوال کې یادونه وشوه داي و مخ غلطه او بې بنیاده خبره ده که دا غه رنګه دې وې کلمې سر او د بلې پای سره مښلؤ کلمې جوړؤ نو نو نور هم ډیر داسې مهمل او د شیطان او نورو نومونه جوړېدلای شي نعوذ بالله من ذلک حضرت ملا علي قاري رحمه الله د دې په اړه هم په المنح الفکریه شرح مقدمة الجوزیه کې لیکلي دي: و ما اشتهر علی لسان بعض الجهلة من القرآن فی سورة الفاتحة للشیطان کذا و کذا من الاسماء فی مثل هذه التراکیب من البناء فخطاء فاحش و اطلاق قبیح ثم سکتهم عن نحو دال الحمد و کاف

اياک و امثالها غلط صريح(۱) (مخ: ۵۷، مطبوعة مصر، باب الوقوف) او د شرح منيه په پای کي چي په کبيري مشهوره ده د القول الفاصل بين الحق و الباطل په نوم يوه رساله لګيدلې ده په هغه کي ډير په تفصيل سره د دې په اړه بيان کړی دی غالبًا هغه کبيري چاپ مجتبائي يا نول کشوري ده(۲) او زما يوه رساله د هدية الوحيد په نامه ده چي د ديوبند له قسامي مکتبې څخه مکرره چاپ شوې ده دا ډول له ځانه جوړې شوي خبري سره له رده پکي ليکلي دي، که مي زړه غواړي را وغواړئ وي ګورئ(۳) او ځيني خلک د همدغه

---

(۱) المنح الفكرية على متن الجزرية، ص: ٥٦، باب الوقوف المطبوعة: المطبعة الميمنية بمصر.

(۲) فقد زعم بعض القارنين ان فی سورة الفاتحة تسعة اسماء للشيطان و تلک (۱) دلل (۲) هرب (۳) مما (٤) کيو (٥) کنع (٦) کنس (۷) مصر (۸) تعلی (۹) بعلی و نقلوا حديثا فيه و اعتقدوا ان من تلفظ بها فی الصلاة تفسد صلوته او يکره فينبغی للقارئ ان يقرأ الفاتحة مفصولة لا موصولة و ذلک اني قول: الحمد و يسکت ثم يبتدئ لله فيسکت ثم يبتدی رب العالمين هکذا الی اخرها کيلا يتلفظ اسماء الشياطين او فی الوصل لا بد من انها يتلفظ وي لزم منه الفساد.

قال الفقير الی مولاه الغنی عمن سواه محمد بن عمرو بن خالد القرشي: حامد الله و مصليا علی نبيه محمد القرشي و اصلح الله احواله و انجح اماله، اعلم ان هؤلاء القائلين عموا فيما زعموا و غفلوا فيما نقلوا بل ان ما زعموه و سواس صرف و ما نقلوه افتراء محض الخ (القول الفاصل بين لاحق و الباطل المتصل بکبيري ص: ٥٧٨، المذبوعة: فخر المطآبع لکناؤ)

(۳) د قرآن مجيد په کلماتو کي تقطيع اوس کتات هيڅکله کوم ځای نه دي پکار. په تير بيا پر سکون باندي امام چيري چي په رواياتو کي راغلي دي هلته سکته کول ضروري ده او په عوامو کي چي کومه خبطه مشهوره ده چي په سورة فاتحه کي اووه ځايه سکته کول پکار ده که ونکړي نو د شيطان نوم ځني جوړيږي دا غلطه خبره ده، هغه اووه ځايونه دا دي(۱) دلل(۲) هرب(۳) کيو (۴) کنع(۵) کنس(۲) تعلی(۷) بعلی ځکه چي داغه راز دي وې کلمې پای او د بلي سر سره ومنبلوي نو نور هم مهمل لفظونه جوړيږي او د سکتې ځايونه پکي راوځي، لکه چي يو حافظ صاحب د امتحان په توګه وويل چي لکوبل په کوم ځای کي دی؟ دا د "من قبلک و بالآخرة" خدمت وشو چي د دغه ضرورت په وجه د واو فتحه هم حذف کړله شوه لنډه دا چي په دغه ځايونو باندي وقف يا سکته کول اما د قاعدې خلاف او غلطي ده (هدية الوحيد فی علم التجويد للحافظ المولي القاري عبد الوحيد صاحب آله آبادي مدرس

للشیطان مشهوره سکتې په وجه یوه غلطي بله کوي هغه د چي یو خو د دال په پیښ کي اشباع کوي چي پکي یو واو زیاتوب ویل کیږي یا له دال وروسته ساکن همزه زیاتوي دا له سکتې څخه زیاته شدیده غلطي ګرځي په دغه ټولو بیان شویو ځایونو کي ترڅو چي کیلدیا شي کلمات بیله سکتې او نور ویل ضرروري دي ترڅو چي وس د قرآن شریف له تحریف څخه ځان بچ کول لازم دي. چیري بیا دا خبره چي د دغه مخترعات کمال و بلل شي، الله پاک دي له جهل او تینګار څخه موږ ټول مسلمانان وساتي، آمین ثم آمین و الله تعالی اعلم بالصواب و عنده ام الکتاب کتبه احقر عبد الوحید آله آبادي غفر له خادم درجه تجوید و قرأت دار العلوم دیوبند

حسب الحکم حضرت مفتي (عزیز الرحمان) صاحب مدظله العالی نیټه ۲۴، صفر المظفر ۱۳۴۲هـ

لقد جاءکم، لقد صدق الله، حضرت صدورهم بیله ادغام ویل پکار دي

سوال: (۱۲۰۷) ځینې حافظان لقَدْ جَاءکم لقدْجّاءکم، لقَدْ صَدق الله لقدْصَّدق الله او حضرَتْ صُدورهم حضرتْ صُّدورهم وایي په دغه حرفونو بدلولو کي کوم نقصان خو نه دی؟ داسي بدلول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۲۵۱هـ)

ځواب: په سوال کي لیکل شویو ځایونو کي د حفص رحمه الله په روایت کي ادغام نشته، لهذا لقد جاءکم (سورة توبه، آیت: ۱۲۸) لقد صدق الله (سورة فتح، آیت: ۲۷) او حضرت صدورهم (سورة نساء، آیت: ۹۰) بیله ادغام ویل پکار دی لیکن ځینو قاریانو په دغه ځایونو کي ادغام هم کړی دی لهذا که د ادغام سره وویل شو نو لمونځ فاسد او نور تاواني نه شو کذا فی تفسیر الاتقان (۱) فقط و الله تعالی اعلم

اول قرأت و تجوید مدرسه عالیه عربیه اسلامیه دیوبند. ص: ۳۴، باب درفوائد متفرقه. مطبع قاسمي دیوبند)

(۱) اختلف في ادغامها و اظهارها عند ستة احرف ... و قد اختلف فيها عند ثمانية احرف: الجيم و لقد جاءكم ... و الصاد و القد صرفنا ... اختلف فيها عند ستة احرف التاء بعدت ... و الصاد لهدمت صوامع

علیهمْ علیهُم ویل

سوال: (۱۲۰۸) په ټول قرآن شریف کې د علیهم لفظ امام حمزه کوفي رحمه الله په ضمه سره ویلی دی، حالانکه دا د نحوي قاعدې په خلاف دی ځیني خلک پر دې اعتراض کوي او وایي چې امام حمزه غلط ویلي دي، کسره (زیر) ویل پکار دی؟ (۲۲۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په ټول قرآن شریف کې د علیهم لفظ بیشکه حضرت امام حمزه کوفي رحمه الله د هاء په ضمه سره روایت کړی دی او دا له متواترو قرأتونو څخه دی لکه چې امام شاطبي علیه الرحمة په قصیدهٔ شاذبیة کې کوم چې د قرأت منل شوی او نامتو کتاب، په هغه کې فرمایي:

علیهم، الیهم، حمزة ولدیهم جمیعا بضم الهاء وقفًا و موصلا(۱)

مطلب د دغه شعر دا دی چې دغه درې الفاظ وقفًا او وصلا حضرت حمزه رحمه الله مضموم الهاء روایت کوي لنډه دا چې د دغه قرأتونو انکار یا ستخفاف کبیره ګناه ده او کفر دی دا د زید جهالت دی، د حضرت حفص رحمه الله روایت چې موږ ټوله یې وایو او د چاپیدو په وجه په ټوله دنیا کې رواج دی، په هغه کې هم ډېر لفظونه په ظاهره د نحوي څه خلاف شته لکه چې د سورة فتح په شروع کې علیهُ الله بضم الهاء راغلی دی او د سورة کهف په آخر کې "و ما انسیهُ الا الشیاطن" (سورة کهف، آیت: ۲۳) کې د هاء د نحوي له قاعدې سره سمه باید کسره وي مګر حفص رحمه الله د دواړو د هاء په ضمې سره روایت کوي، اصل په ضمائرو کې ضمه ده، د کوم عارض په وجه کسره ورکوله کیږي، په دغه ځایونو کې د عارض خیال ونه ساتل شو د اثر د اتباع په وجه، څکه چې لومړی مرتبه د اثر

(الاتقان فی علوم القرآن، ص: ۹۵، النوع الحادی و الثالثون فی الادغام و الاظهار والاخفاء و الاقلاب المطبوعة: المطبعة الازهریة المصریة)

(۱) مجموعة فی القرآت مشتملة علی متن الشاطبیة فی القرآت السبع للامام الشاطبي الخ ص: ۸، سورة ام القرآن. المطبوعة: دار الکتب العربیة الکبری بمصر.

ده وروسته د صرف، نحو او د عثماني رسم خط او نورو توافق ته کتل کيږي. فقط و الله اعلم

حينئذ د وقف پر مهال څنګه ويل پکار دي؟

سوال: (۱۲۰۹) پر حينئذ څه ډول وقف کول پکار دی؟ که تنوين ځني ليري کړو نو بدل په هم ليري کيږي، ايا دا جائز دي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۰۰۷هـ)

ځواب: په حينئذ او يو ئذ کي تنوين د وقف پر مهال حذف کيږي او پر ذال باندي د سکون سره وقف کيږيي، په جوارٍ او کل کي ځيني د بدل قول کونکي دي، خير وقف خو بس د تنوين په حذف سره دی، پر بدليدو نه بدليدو مدار نشته فقط و الله اعلم

قد افلح قد افلح ويل

سوال: (۱۲۱۰) زيد واي يچي په "قَدْ اَفلَحَ" کي همزه په ويلو کي ظاهرول پکار دي، عمر وايي چي د هغه قاعدې له مخه چي کوم همزه منفرد متحرک وي او ما قبل د هغه ساکن وي نو د همزه حرکت مخکني حرف ته نقلول همزه حذفول او "قَدَ افلَحَ" ويل جائز دي د چا خبره صحيح ده؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۰۴۲هـ)

ځواب: په "قَدْ اَفْلَحَ" او "من آمن" او نورو په رنګه ځايونو کي د حفص رحمه الله در وايت سره سم ټولو خلګ د چاپيدو په وجه عمومًا وايي، په داسي ځايونو کي د مفتوح همزه ويل د روايتس ره سم ډير ضروري دي، که څه هم نور سبعه قرء حضرت ورش رحمه الله او نور د همزه حرکت ماقبل ساکن حرف ته ورکول او مزه حذف کول روايت کوي که په دوی کي څوک د چا روايت وايي نو بيله شکه لکه څنګه چي عمر وايي هغسي ويل پکار دی، د عربي قاعدې له مخه دواړه صحيح دي، د روايت پيروي کول په قرآن شريف کي ډيره ضروري ده، ځکه چي کومي قاعدې د عربي دي هغه ټولي په قرآن شريف کي نشي جاري کيدلای ليکن د لمانځه له فساد او نورو څخه بچ کيد و لپاره داسي کول کيدلای

شي، لکه چي په قصيدة الشاطبية او نورو(۱) کي د مسئلي په تفصيل سره موجود دي فقط و الله اعلم

سوال: (۱۲۱۱) د مسجد امام زيد "قدْ أفلح" د فاء په سکون او دال په فتحه وايي همزه حذفوي، دا سي وايل جائز دي او کنه؟(۱۱۲۸/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: زمونږ په متداول قرأت يعني د حفص په قرأت کي "قدَأفْلحَ" د همزه د فتحي سره دي، لهذا همدا سي ويل پکار دي، که څه هم "قد افلح" د صرفي قاعدې له مخه صحيح دي او په همدې وجه په دغه صورت کي دلمانځه په صحيح کېدو کي خبره نشته، ليکن د قرائتونو د پابندي کولو چي تر کوم ځايه تړون او ضرورت دی، د هغه اقتضاء دا نه ده چي د هغه په خلاف دي وکړل شي بلکه اتباع د قرأت په قرآن شريف کي ضروري ده، لهذا "قد افلح" د دال په سکون قد او د همزه په فتحه افلح ويل پکار دي فقط و الله تعالى اعلم

"و يخلد فيه مهانا" کي فيه څه ډول ويل پکار ده؟

سوال: (۱۲۱۲) د سورة الفرقان په آخري رکوع کي چي کوم آيت دی: "و يخلد فيه مهانا "(سورة فرقان، ايت: ۶۹) په دې کي په فيه کي زير څه ډول ويل پکار دي ولاړ که پروت؟(۱۰۷/۱۳۴۳ھ)

ځواب: په دې کي د فيه کسره په اشباع سره ويل کيږي چي ورڅخه "ي" ظاهره شي. فقط

بئس الاسم الفسوق څه ډول ويل پکار ده؟

سوال: (۱۲۱۳) د سورة حجرت په دوهمه رکوع کي "بئس الاسم الفسوق بعد الايمان "(سورة حجرات، آيت: ۱۱) راغلي دي نو آيا دا ډول ويل صحيح دي؟ او الف او لام

---

(۱) و حرک لورش کل ساکن آخر صحيح بشکل الهمز و احذفه مسلها (متن الشاطبية المسمى حرز الاماني و وجهه التهاني فی القراءات السبع للامام الشاطبي رحمة الله عليه، ص: ۱۹، باب نقل حرکة الهمزة الى الساکن قبلها، المکتبة: قراءات الکيدمي، ترکيسر، بسورت، غجرات)

پر اسم باندي څنګه دي؟ جاره دی که زائده، عامله دی که غیر عامله؟ دا به څه ډول صحیح وي؟ (۱۲۹۴/ ۱۳۴۳هـ)

ځواب: اصلاً دا الف او لام پر اسم باندي د تعریف دی او الاسم موصوف او الفسوق صفت دی لیکن قرأت دلته دا ډول دی چي پر لام باندي کسره ویل کیږي یعني لسم الفسوق ویل کیږي دا دغه رازل ویل پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

فبأی آلآء ربکما تکذبن وروسته لا بشئ الخ ویل

سوال: (۱۷۱۴) په سورة رحمن کي تر "فبأی الاء ربکما تکذبن "آیت وروسته د اورېدونکیو لپاره: "لا بشئ من نعمک ربنا نکذب فلک الحمد "ویل سنت دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۲۳۲هـ)

ځواب: له لمانځه څخه خارج دا جواب مستحب دی، کما ورد فی الاحادیث(۱)

(۱) عن جابر رضی الله عنه قال: خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم على اصحابه فقراء عليهم سورة الرحمان من الوها الى آخرها، فسكتوا فقال: لقد قرأتها على الجن ليلة الجن، فكانوا احسن مردودًا منكم كن كلما اتيت على قوله "فبأى الاء ربكما تكذبن" قالوا: لا بشئ من نعمک ربنا نكذبو فلک الحمد(جامع الترمذی: ۱٦٤/٢، ابواب التفسیر، سورة الرحمن)

د چندې احکام

د مصرف په تعین کې د چنده ورکونکیو و نیت ته اعتبار دی

سوال: (۱۲۱۵) د یو سړي له تقریر او تحریر وروسته په یوه غونډه کې چنده جمع کیږي وروسته د چندې په مصرف کې د محرک او ورکونکیو اختلاف دی، محرک صاحب فرمایي چې د چندې کولو غرض دا ؤ چې د چندې روپیو به صرف د "الف" سیمه استفاد کوي او رکونکی وایي چې د چندې ورکولو پر مهال د دوی نیت دا ؤ چې د "الف" او "ب" دواړو سیمي دي استفاده ځني وکړي، په دغه صورت کې د چندې مصرف د محرک د نیت سره سم پکار دی؟ که د ورکونکیو د نیت سره سم که څه ډول کیدل پکار دي؟ (۳۲/۷۷۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د ورکونکیو د نیت سره سم مصرفول پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

له چندې څخه پاته شویو روپیو مصرف

سوال: (۱۲۱۶) تیر کال چې کله وبا راغلې وه نو زیاتره مسکینان مسلمانان پکې ناجوړه او مړه شول چې د تجهیز او تکفین بندوبست یې نه ؤ ځینو مسلمانانو چنده سره وکړه په دې نیت چې کوم غریب مسلمانان د وبا په ناجوړي مړه شي که یو مخ مفلس وي نو هغه ته کفن ورکړو، او کوم څوک چې څه نه څه وس لري، هغه ته به په ارزانه بیه کفن

ورکړو، اوس څه روپۍ له دغه کار څخه پاته شوې، آیا دغه پاته روپۍ د بل خیر په اړکي مصرفیدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۵۵هـ)

ځواب: دغه روپۍ پر مسکینانو، کونډو او اړو خلکو وویشي، ځکه چي د ورکونکیو له طرفه ښکاره خبره ده چي د پاته روپۍ یې اجازه ده، یا لومړی خو چي کوم مسکینان مړه شي د هغو په تجهیز او تکفین کي ولګوي او بیا د ضرورت سره سم د مسکینانو د خوراک څښاک مرسته په وکړي، لنډه دا چي دغه روپۍ د خیرات لپاره دي دا په دغسي کارونو کي ولګوي او اصل خبره خو دا ده چي کومو خلکو د چنده درکړې وه، له هغو څخه پوښتنه وکړي د کوم مصرف چي دیو درته وواییي په هغه کي ولګوي خو که دا ګران وي نو پر مسکینانو خو د دیو له طرفه خیراتولو دلالةً اجازه شته ځکه و عامو ناوسو او مسکینانو ته دغه روپۍ ورکولای شي او د مسکینانو په تجهیز او تکفین کي مصرفول خو نور هم ښه دي چي د دې لپاره خو هغهٔ روپۍ جمع شوي وي او په شریعت کي د دې تخصیص نشته چي په دغه وبا کي چي څوک مړه وي خاص د هغو لپاره دي وبللي شي، بلکه کله چي هغه عامه وبا د الله په فضل لیري شوه نو د عامو مسکینانو مړو په تجهیز او تکفین کي مصرفول صحیح دي. فقط

د چندې روپۍ چي تر څو د ورکونکي په تحویل او د ده پخپلو روپیو ګډې وي تر هغو د ده له ملکه نه دي وتلي

سوال: (۱۲۱۷) د یوې مدرسې روپۍ و بکر ته په تحویل کي ورکول شوي دي، پخپله هم مدرسه ته چنده ورکونکی دی، بکر د تکلیف په وجه د خپل ځآن په روپیو د مدرسې روپۍ ګډې کړې، او کومه چنده چي ده تهمیشه ورکوله هغه د مدرسې په روپیو چي د ده سره وې ګډوله، اما چي چنده به پکي واچوله نو د مدرسې روپۍ به زیاتي شوې، هغه به ولیکي دستخط به ورباندي وکړي، څه موده وروسته دی وفات شو، روپۍ د ده و زوی ته تحیول شوې، تر څه مودې پوري د بکر زوی خپلي د تحویل داری ذمه واری تر سره کولې، اسو چي کله ده استعفاء ورکړه نو یې دا دعوی وکړه چي کومي روپۍ زما پلار د چندې په توګه د مدرسې په روپیو ګډولې، هغه روپۍ د مدرسې نشي کیدلای بلکه زما د پلار دي، ځکه دی د پلار خپلي روپۍ چي په میراث کي د ده حق کیږي، و مدرسې ته په

ورکولو پر قوم احسان کوي، د ده داسي وينا شرعًا تر کومه جائز او صحيح ده؟ (۱۳۴۳/۲۰۲۸هـ)

ځواب: بکر چي کله د مدرسې روپۍ پخپلو روپيو ګډي کړې، نو د دغه ګډولو په وجه دی د مدرسې د روپيو ضامن شو او کومه چنده چي ده خپله و مدرسه ته ورکوله هغه هم داغه ډول پخپلو ځاني روپيو ګډه شوه. صرف د آمدنی په کتابچه کي جمع شوي، ليکن د مدرسې په تحويل کي نه شوې شاملي، ځکه چي د مدرسې تحويل بيل نه ؤ. لهذا د شرعي قاعدې سره سم هغه چنده د بکر له ملک څخه خارجه نه شوه، ځکه چي نه خو هغه روپۍ د مدرسې په روپيو کي شاملي شوې او نه د مدرسې په اړتياو کي مصرف شوې نو د ورکونکي له ملک څخه ونه وتلې بلکه د ده سره د ده پخپلو روپيو ګډي پرتې وې او د ده په ملک کي وې او د ده له مرګ وروسته د ده د وارث په ملک کي داخلي شوې نو اوس که د ده وارث د خپل پلار وعده او منشاء پوره کول غواړي او هغه روپۍ و مدرسې ته ورکړي نو بيله شکه دغه روپۍ به له نوي سره د وارث له طرفه چنده وي او د وارث له طرفه به بلل کيږي او ثواب به يې د ده وي او د ده و پلار ته به هم د ده د نيت په وجه ثواب وي کما ورد: انما الاعمال بالنيات و لکل امرئ ما نوی([1]) نو د نوموړي وارث وينا د شرعي قاعدې سره سمه صحيح ده او دا د ده احسان دی او کار د ثواب دی چي دی د خپل پلار نيت او اراده پوره کړي. فقط و الله تعالی اعلم

د چندې روپۍ که په متعين مصرف کي لګول ممکن نه وي نو...

سوال: (۱۲۱۸) د سمرنا او نورو د مظلومانو د مرستي لپاره چنده جمع شوې وه، په هغه زياتي روپۍ خو ورليږل شوې وې يو څه روپۍ جمع دي، د هغه د ليږلو په ظاهره د اطمينان وړ کوم صورت نه معلوميږي، په داسي حال کي دغه روپۍ کوم ځای ولګؤ؟ په اوس وخت چي کوم چي سيلاب وړي دي، د هغو ځيني او سيدونکي يو مخ بې سامانه دي

(۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما يقول: انما الاعمال بالنيات الحديث(صحيح البخاری ۱/۲، کتاب بدء الوحی، باب کيف کان بدء الوحی الی رسول الله صلی الله عليه وسلم الخ)

که د دیو په مرسته کې هغه روپۍ ولګوٍنو جائز دي که د ورکونکیو اجازه ته څه ضرورت شته؟ او د مسجد په جوړولو کې دغه روپۍ لګول څنګه دي؟ (۷۲۰/۱۳۴۳هـ)

ځواب: په دې کې د چنده ورکونکیو اجازې ته ضرورت شته. په کوم ځای کې د مصرفولو چې چنده ورکونکي اجازه وکړي په هغه ځای کې پاته روپۍ ولګوي. لیکن که دا مشکل وي د چنده ورکونکیو د نامعلوم والي په وجه یا د دوی د وارثانو د نامعلوموالي په وجه نو بیا چې د دا ډول مجهول المالک مالونو حکم دی په هغه عمل وکړي یعنې مسکینانو او غریبانو ته ورکړي او ښکاره خبره ده چې د کومو خلګو کورونه سیلاب وړي دي او پریشانه دي په داسې حال کې دوی هم د صدقې مستحقین دي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۱۹) کومه چنده چې د بلقان د مجروحینو لپاهر شوې وه او په څه وجه تر هغه ځایه ونه رسیده نو اسو دا و سالامي مدرسو ته ورکولای شو او کنه؟ (۳۲/۱۰۲۷-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په موجوده حالت کې دغه روپۍ و اسلامي مدرسو ته ورکول جائز دي او پر طالبانو باندې مصرفیدلای شي ځکه چې اوس هیڅ مصرف د دې تر دې غوره نشته. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۲۰) مونږ د ترکي لپاره چنده کړې وه زیاتره مې وروليږله څه لږ پاته شوه اوس هغه نه لیږل کیږي لهذا د ډیرو چنده ورکونکیو دا رایه ده چې د کوم خیر په کار مثلاً[1] د مدرس په تنخواه او نورو کې مصرف کړې نو جائز دي او کنه؟ ( )۱۲۴۷/۱۳۳۵هـ

ځواب: دغه روپۍ د کوم بل خیر په کار مدرسه یا مسجد کې مصرفیدلای شي. فقط

که د کوم ضرورت لپاره چې چنده شوې له هغه څخه څه روپۍ پاته شوې نو ...

سوال: (۱۲۲۱) د عامو مسلمانانو چنده چې د کوم وقتي، مقامي یا اضطراري ضرورت لپاره جمع شوې وي، او هغه روپۍ تر ضرروت زیاتي شي یا په کومه وجه په هغه کار کې ونه لګیږي نو د سای روپۍ د کوم بل د خیر په ار کې شرعاً مصرفیدلای شي او کنه؟ (۳۵/۵۴۳-۱۳۳۲هـ)

ځواب: په دا ډلو چندو کي دا حکم دی چي د چنده ورکونکی که پاته روپۍ په بل ځای کي مصرفولو اجازه وکړي نو په بل ځای کي مصرفول صحیح دي. فقط

سوال: (۱۲۲۲) یو بې وارثه سړی مړ شو د ده تجهیز او تکفین په چنده وشو څه روپۍ پاته شوي، هغه چیري ولګو؟ (۱۳۳۸/۲۱۳۱هـ)

ځواب: د چنده ورکونکیو په مشوره یې مصرف کړئ یا یې دوی ته بیرته ورکړي. فقط

سوال: (۱۲۲۳) خلکو د مسجد د تعمیر یا ترمیم لپاره څه روپۍ جمع کړئ کله چي د تعمیر یا ترمیم کار پای ته ورسېدی نو څه روپۍ پاته شوې، اوس دغه روپۍ د کوم وقف کار مثلاً د څاه په تعمیر کي مصرفولای شو او کنه؟ (۱۳۴۰/۱۰۳۲هـ)

ځواب: د چنده ورکونکیو په اجازه د څآه او نورو تعمیر په کولای شي. فقط و الله اعلم

د کوم حاجت لپاره چي چنده وشوه هغه حاجت پوره شو نو د پاته روپیو څه حکم دی؟

سوال: (۱۲۲۴) د کانپور د عارضي لپاره څه چنده جمع شوه چنده لا لیږل شوې نه وه چي عارضه پای ته ورسېده او د چندې هلته ضرورت نه شو پاته، دغه روپۍ څه په وکړو؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۴هـ)

ځواب: کومي روپۍ چي له مسلمانانو څخه په چنده کي اخیستل کیږي، تر څو هغه روپۍ چي په مصرف کي و نه لګیږئ تر هغو د ورکونکیو په ملک کي وي، له چنده ورکونکیو څخه دي پوښتنه وشي چي په کوم مصرف د لګولو د دوی مشوره ده، په هم هغه ځای کي یې ولګوئ یا یې دوی ته بیرته ورکړئ که د بیرته ورکولو صورت نه جوړیږي نو و مسکینانو ته ورکول پکار دي او مسکینانو ته د ورکولو آسانه صورت دا دی چي کومه اسلامي مدرسې ته د طالبانو لپاره ورکړئ. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۲۵) له صدر صاحب سره چي کومي روپۍ د طیاره فنډ د چندې جمع دي اوس د جهاز لیږلو ضرورت نه شو پاته نو صدر صاحب دغه روپۍ د کوم بل د خیر په کار کي لګولای شي او کنه؟ که جهاز په کومه وجه نه شي لیږل کیدلای نو آیا دغه روپۍ د ترکي و حکمت ته ورلیږل پکار دي؟ (۱۳۴۳/۴۱۰هـ)

ځواب: دغه روپۍ تر اسوه لا د ورکوونکيو ملک دی د دوی ټولو په اجازه د بل خير په کار کي مصرفيدلای شي و صدر صاحب ته پخپله څه اختيار په دې کي د تصرف کولو نشته او کله چي دا روپۍ په هغه کار کي و نه لګيدې د کوم لپاره چي خلکو چنده ورکړې وه نو اوس ترکي حکومت ته په نورو مصارفو کي لګولو لپاره ليږلو کي د چنده ورکوونکيو و اجازې ته ضرروت دی. فقط و الله تعالی اعلم

له چنده کولو وروسته مصرف بدلول

سوال: (۱۲۲۶) د کوم کار لپاره چنده وشه، په هغه کار کي له لګولو مخکي د مسجد کار په کولای شو او کنه؟(۳۲/۵۴۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا ښکاره خبره ده چي ترڅو هغه چنده په هغه ځای کي مصرف نه شوه د کوم ځای لپاره چي راجمع شوې وه تر هغو چنده د ورکوونکيو په ملک کي ده نو د دوی په اجازه باندي بل ځای مصرفولای شي لهذا له مالکانو څخه اجازه واخلئ که دوی په مسجد کي په لګولو بانيد راضي وي نو ضمان نشته کنې ضمان لازم دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۲۷) د مسجد فانوس لپاره چنده وشه خو د يو مسجد د ترميم کار شروع دی په هغه دغه روپۍ مصرفول څنګه دي؟(۱۳۴۱/۱۵۰۲هـ)

ځواب: کوم خلک چي چنده ورکوونکي دي که هغه ټول په دې راضي شي چي دغه روپۍ د بل مسجد په ترميم کي ولګوي نو هلته لګول صحيح دي له ټولو پوښتنه وکړئ. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۲۸) هندوانو او مسلمانانو د کوم مسلمان رئيس يادګار جوړولو لپاره يو پراميسري(۱) ديارلس سوه رانيوی ليکن په څه وجه هغه يادګار نه شو جوړ. تر يوې مودې پوري هغه نوټ د امين سوره ؤ او د هغه نوټ ګټه په سل کي د اتو په حساب د کاله

---

(۱) پراميسري نوټ(Promissary note) هغه ليک چي د روپۍ ادا کولو په اړه د کوم خاص وخ پوري وليکل شي. (فيروز اللغات)

جمع کېدله، اوس دغه روپۍ د یوې یتیم خانې او د هغه پر د ېوال مصرفول صحیح دي او کنه؟او د دغه روپیو ګټه سود دی او کنه؟(۱۳۴۲/۵۵۹ھ)

ځواب: د چنده ورکوونکیو په اجازه داسې کول صحیح دي چې دغه روپۍ د یتیم خانې په کوم کار تعمیر او نورو کې مصرف شي او که چنده ورکونکي نه وي او نه د دوی وراثان چې ورڅخه اجازه واخیستله شي بیا هم د دې پر یتیمانو خیراتول صحیح دي په دغه دوهم صورت کې د یتیمانو په اړتیاو، خوراک، څښاک او نورو کې دغه روپۍ مصرفولای شي او په لومړي صورت کې کله چې له چنده ورکونکیو څخه اجازه واخلي د یتیم خانې په تعمیر او د ېوال جوړولو کې هم مصرفولای شي او کومې روپۍ چې د ګټې په نوم حاصلې شوي دي، هغه سود دی هغه را واخلئ و یتیمانو او مسکینانو ته یې ورکړئ، دا صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د مسجد د خیراتي پیټي چنده د مسجد په هر کار کې مصرفول جائز ده

سوال: (۱۲۲۹) په مسجد کې د چندې لپاره یوه پیټۍ پرته ده د هغې پیسې د مسجد په هر کار کې لګول جائز دي او کنه؟(۱۰۲/۴۲-۱۳۴۷ھ)

ځواب: جائز دي. فقط و الله تعالی اعلم

آیا هر ډول روپۍ جلا ایښودل ضروري دي؟

سوال: (۱۲۳۰) د یو سړي سره څو ډوله روپۍ پرتې وي یعنې د مدرسې چنده د یو بلې خیراتي ادارې چنده د امانت روپۍ او نورې اوس دغه سړی دغه ټولې روپۍ یو ځای ایږدي هر ځای او دی باید څه ډول انتظام وکړي؟(۱۱۸۱/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: احتیاط په دې کې دی چې هر ډول روپۍ دې جلا کښېږدي او که ګډې شوې او بیا ده د هر ځای روپۍ پخپل مصرف کې ولګولې نو غاړې خلاصې دي. فقط و الله تعالی اعلم

د چندې په روپیو کې د امین د خپل خوښې تصرف کول

سوال: (۱۲۳۱) د یو قوم د ضرورت په وجه دي و ځاه کښلو لپاره د چندې کولو شوق شو، د قوم ټولو خلکو د ورځې په حساب چنده کنول شورع کړو، په دغه چنده کې مسکینانو او مالدارانو ټولو برخه واخیسته، نږدې دوه سوه روپۍ چې را جمع شوې نو

خلګو و یو معتبر سړي ته په امانت ورکړې او د ورځې چنده هغه ډلو راټولېده او ده ته وویل شو چې کله دا روپۍ دومره شي چې څاه په جوړېدلای شي نو ستا څخه مور اخلو څاه په جوړ ، څه موده وروسته دغه امانت اینبودونکي بې د قوم له مشورې پر خپل سر دغه روپۍ و اړو خلګو ته په قرض ورکړې او هغه یې خپل طرفداران جوړ کړو کله چې قوم په خبر شو نو زیاتره خلګو چنده ورکول بند کړو او د قوم د اعتراض په جواب کې دغه امین سړي وویل چې ما د دغه روپیو نوم د بیت المال خزانه ایښې ده، پوښتنه دا ده چې کومې روپۍ چې قوم دي و خاص کار یعني څاه کښلو لپاره راجمع کړې وې اوس دغه امین بې د وقوم له خوښې د بیت المال خزانه څنې جوړه کړه دا کار د ده شرعًا صحیح دی او کنه؟او د دې نوم د بیت المال خزانه ایښودل په حدیث ثابت دي او کنه؟(۱۷۲۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د دغه چندې له روپیو څخه قرض ورکول او دغه روپیو ته د بیت المال خزانه ویل ناجائز او غلط دي، د امین لپاره په دې کې داسې تصرف کول حرام او ناجائز دی. فقط و الله اعلم

د چنده راجمع کونکي د چندې له روپیو حق الخدمت اخیستل

سوال: (۱۲۳۲) یو سړي په انګریزي سکول کې چنده راجمع کړه د ټاکې لګولو لپاره له ټاکې لګولو وروسته څه روپۍ پاته شوې اوس دی وایي چې دا زما د خدمت حق دی آیا د ده لپاره دغه پاته روپۍ اخیستل صحیح دي او کنه؟(۲۲۳۸/۱۳۴۳هـ)

ځواب: که چنده ورکونکي اجازه وکړي نو د ده لپاره دغه روپۍ اخیستل صحیح دي. فقط

د ادارې روپۍ جمع کونکي باندې بدګماني کول

سوال: (۱۲۳۳) زید د یوې ادارې "د بې لمانځه هدایت" غړی دی. د دغه ادارې چنده د ده سره پرته وي، ده په یو څو روپیو څمکه په ګرو(رهن) اخیستې ده د هغه په آمدني تجارت او نور کوي د داسې سړي سره چنده جمع کول او دی د دغه ادارې غړی جوړول جائز دی او کنه؟(۱۲۴۵/۱۳۴۳هـ)

ځواب: بدګماني پر مسلمان کول ناروا ده په حدیث شریف کي راغلي دي: ایاکم و الظن فلان الظن اکذب الحدیث(۱) نو ترڅو چي د نوموړي کوم خیانت د امانت په مال کي نه وي ثابت شوی تر هغو پر ده بدګماني کول او دی خاین بلل صحیح نه دی او د دهس ره دغه روپۍ اېښودل صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د مخکني مهتمم په وجاهت جمع شوې چنده چیري مصرف کړو؟

سوال: (۱۲۳۴) زید و خپل قوم ته دي وې ښونځۍ د جوړولو او انتظام کولو لپاهر دي و با اثره او منظم جماعت تجویز پیش کړی، قوم خبره ورسره و منله د ښونځۍ لپاهر منظم جماعت منظور کړی، منظم جماعت زید خپل کار کونکی و ټاکی ځکه نو پخپله قوم او زید چنده راجمع کړه څو ورځي وروسته زید په څو وجهو استعفاء ورکړه، قوم څو نوي کارکونکي و ټاکل او په تعلیمي انتظام کي څه بدلون هم وکړی د زید د استعفاء دوه کاله کیږي. هغه وخت د مدرسې بنه ډیري روپۍ وې چي د زید خپل عمر سره وې، د زید له استعفاء وروسته هغه ډول مخکنۍ روپۍ د ښونځۍ د اړتیاؤ لپاره له عمر څخه رااخیستل کېدلې. اوس جماعت دا غواړي چي تحویلونکی یعني عمر بدل کړي ځکه دوی مشوره وکړه عمر ته خبر ورکړی خو زید د جماعت صدر ته یو لیک راولیږی چي لنډیز یې دا ساې دی چي د مدرسې چي څومره روپۍ پرتې دي هغه خلګو زما د شخصیت او اثر و رسوخ په وجه راکړي دي، ځکه زما د خوښي سره سمي باید مصرف شي او د ورکونکیو د غوښتني سره سمي باید مصرف شي هغه دا چي دغه پرتې روپۍ د ناظر د درجي لپاره باید خاص کړل شي.

آیا له عمر څخه د اختیار اخیستلو په صورت دا سي عذر کول او له روپیو ورکولو څخه انکار کول جائز دی او کنه؟(۱۳۴۳/۲۰۲۲ھ)

ځواب: د سوال له تفصیل څخه ظاهر دي چي کومي روپۍ د عمر سره پرتې دي هغه د دغه مدرسې د مصارفو لپاره دي ځکه هم دلته مصرف کړي او چنده ورکونکي د مدرسي

(۱) قال ابو هریرة رضی الله عنه یأثر عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: ایاکم و الظن فإن الظن اکذب الحدیث(صحیح البخاری: ۷۷۲/۲، کتاب النکاح، باب لا یخطب علی خطبة اخیه حتی ینکح او یدع)

په ټولو اصولو او قواعدو خبر دي، لهذا سره د دغه خبرتیا د ورکونکیو چنده ورکول او دغه مدرسې ته روپۍ رالیږل دا خبره منل دي چې منظم جماعت دي د مدرسې د اصولو سره سمې دغه روپۍ ولګوي لهذا د زید مخکنی مهتمم دا عذر چې موجودي روپۍ زما د شخصیت او وجاهت په وجه راغلي دي په دې کې زما د شخصیت په لحاظ زما د رایې او مشورې سره سم تصرف پکار دی نه او رېدل کیږي او د مدرسې په چنده کې د کوم مهتمم او نورو د شخصیت اعتبار نشته بلکه کومې روپۍ چې د مدرسې ته راځي هغه که څه هم د چا د شخصیت او وجاهت په وجه وي مګر د هغو روپیو مصارف به هم هغه وي کوم چې د عامو اصولو او قواعدو په وسیله مشهور شوي دي او چنده ورکونکي په هغه خبر وي او څه ډول چې مخکې له همیشه څخه عمل جاري ږ چې له عمر څخه د مدرسې د اړتیا ږ سره سمې وخت ناوخته روپۍ را اخیستل کیدلې دا غه رنګه دي آئنده هم د روپیو را اخیستل جاري وي، د مهتمم لپاهر او مخکني خازن عمر لپاره په دې کې د کوم عذر کولو ګنجائش نشته او د مخکني مهتمم زید خپل شخصیت په دسا موقع ظاهرول معنی نلري او د دې هیڅ ګټه نشته ځکه چې دا روپۍ د مدرسې دي، لهذا د اوسني مهتمم او منظم جماعت په رایه به دغه روپۍ په مدرسه کې مصرفیږي او کوم حکمونه چې دوی نافذ کړي، هغه به واجب العمل وي. فقط

د مسجد په چنده پسې سفر کونکي د خپل سفر مصرف او د مسجد په تعمیر کې خپلې روپۍ لګونکي د خپلو روپیو غوښتنه کولای شي

سوال: (۱۲۳۵) یو زوړ پخوانی مسجد ؤ، د ده لپاهر زید پخپل خرڅ ممبۍ ته ولاړ، له هغه ځایه نږدې پنځه سوه روپۍ چنده راوړه او څه چنده دلته هم جمع شوې وه، اوس زید او عمر د مسجد د تعمیر لپاهر خارنه کونکی وټاکل شو، کله چې مسجد جوړ شو صرف پلستر یې پاته ؤ نو زید د آمدنی او مصرف ټول حساب وکړی نو معلوم شو چې د چندې له روپیو پرته سل روپۍ د زید خخپلي هم پکې مصرف شوي دیو دا وخت زید و ټولو ته وویل چې دومره روپۍ زما خپلي پکې مصرف شوي دي، بیا شپږ اووه کاله وروسته زید ممبۍ ته ولاړی نوري د چندې روپۍ یې راوړې او څه روپۍ دلته هم جمع شوې دي، اوس زید وایي چې ممبۍ ته د تګ راتګ مصرف او دلته په مسجد کې چې

زما زياتي روپۍ لګيدلي دي تولي زه غواړم آيا و زيد ته له مسجد له روپيو څخه ورکول او اخيستل جائز دي او کنه؟ (۱۲۷۲/۱۳۳۷هـ)

ځواب: کومي روپۍ چي د زيد زياتي مصرف شوي او کوم مصرف چي په سفر کي وشو، هغه دی د مسجد له روپيو څخه اخيستلای شي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د خير د کار لپاره جبرًا چنده اخيستل

سوال: (۱۲۳۲) د عيدګاه، مسجد او نورو خيرو کارونو لپاره د چندي مشوره وشوه او د هر قوم يو مشر وټاکل شو. د چندي راټولو پر مهال څو کسانو په خوښه چنده ورکړه او ځينو يو مخ انکار وکړی، مشرانو حکم وکړی چي څوک چنده ه ورکوي د هغه څخ اړيکي قطع کړئ. په غم او ښادي کي برخه مه اخلئ او څوک چي څه شی خرڅوي له هغه څخه يې مه اخلئ. په همدې وجه چنده نه ورکونکيو چنده ورکړه په داسي چنده عيدګاه جوړول جائز ده او کنه؟ او لمونځ پکي کول څنګه دی؟ او څاه کنبل او به څني څښل، او سد او غسل په کول او د خير په کار کي د دغه روپيو لګول جائز دي او کنه؟ (۳۲/۸۷۱-۱۳۳۳هـ)

ځواب: دا رنګه جبر کول په چنده اخيستلو کي جائز نه دی ليکن عيدګاه چي په دغه چنده جوړه شوه، په هغه کي لمونځ بې له کراهيته صحيح دی او په دغه چنده چي کوم څاه وکنبل شو له هغه څخه اودس. غسل او او به څښل صحيح دي او د هر خير په کار کي مثلاً مدرسه او نور چي داسي چنده ورته راغلي ده نو له دي څخه و مأمورينو ته تنخواوي ورکول او پر طالبانو مصرفول صحيح دي، اصل خبره دا ده چي د اخيستلو پر مهال خلګ داسي تنګول ښه کار نه دی ليکن کله چي مالک په خوښه او ناخوښه درکړي او د خير په کار کي لګول شوي نو د آئنده لپاره په دغه مال کي حرمت نه شو پاته ځکه چي دا د غلا او غصب مال نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) ان الناظر اذا انفق من ماله نفسه على عمارة الوقف ليرجع فى غلته له الرجوع ديانة ... اما لو كان فى يده شئ فاشترى للوقف من مال نفسه، ينبغى ان يرجع و لو بلا امر قاض الخ(رد المحتار على الدر المحتار، كتاب الوقف، مطلب فى انفاق الناظر من ماله على العمارة. ط رشيديه)

په جبرًا اخیستې چنده لوښې رانیول او پکې ډوډۍ پخول

سوال: (۱۲۳۷) په یو کلي کې سل دوه سوه کسان دي له نیمو څخه زیاتو مشوره او اتفاق وکړی چې چنده به وکړو د ګلتو لوښي به رانیسو او کله چې ضرورت وي په دغه لوښو کې به د ډوډۍ بند وبست کؤ، ځینو له چندې ورکولو څخه انکار وکړی و هغو ته دا وویل شو چې که تاسو چنده نه راکوئ نو موږ به ستاسو په مړو کې برخه نه اخلو جنازې ته به نه درځو او تاسو به زموږ له څاه څخه اوبه نه وړئ، په دې وېره هغو هم چنده ورکړه، په دغه لوښو کې ډوډۍ پخول جائز ده او کنه؟ او چنده راټولونکی ګنهکار دی او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۰۵۷هـ)

ځواب: داسې جبر په چنده کې کول جائز نه دی، جبر کونکی او د چنده نه ورکولو په وجه له دغه خلګو څخه د اړیکې قطع کولو ورته ویونکی ګنهکار دی او ډوډۍ پخول په دغه لوښو کې او د هغه خوړل صحیح دي او له کومو خلګو څخه چې جبرًا چنده واخیستله شوه له هغو څخه معافي وغواړئ او هغه خوشحاله کړئ فقط و الله تعالی اعلم

جبرًا چنده اخیستل جائز نه ده

سوال: (۱۲۳۸) یو مسلمان پنځه روپۍ چنده ورکوي له ده څخه جبرًا زیاته اخیستل جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۰۸هـ)

ځواب: په زور چنده اخیستل جائز نه ده څوک چې څه په خوشحالي درکړي، هغه ځني واخلئ، جبر پر چا کول صحیح نه دی په حدیث شریف کې راغلي دي: لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه(۱) فقط و الله تعالی اعلم

په چنده کې جبر کول صحیح نه دی

سوال: (۱۲۳۹) یوه مدرسه جوړه شوه د هغې لپاره جبرًا له خلګو څخه چنده اخیستله کیږي او له حکومت څخه هم مرسته اخلي، داسې اسلامي مدرسه شرعًا روا ده که نا روا؟ او جبرًا چنده اخیستل شرعًا څنګه ده؟ (۱۳۳۷/۲۷۷۷هـ)

---

(۱) عن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسل الله صلى الله عليه وسلم الا لا تظلموا الحديث(مشكوة المصابيح، ص: ۲۵۵، كتاب البيوع، باب الغصب و العارية، الفصل الثانی)

ځواب: په چنده کي جبر کول صحیح نه دی ځوک چي په خوښه درکړي له هغه څخه یې اخلئ او د حکومت له خوا که مرسته وي نو دا هم څه پروا نلري او دیني مدرسه خلاصول ډېره ضروري او د ثواب کار دی، مسلمانان باید پخپله د دې مرسته وکي چي دیني علم عام شي او جهالت لیري شي. فقط

سوال: (۱۲۴۰) د مسجد او نورو چنده جبرًا زیاته اخیستل شرعًا څنګه ده؟ (۱۳۴۱/۱۹۱۷هـ)

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه(۱) یعني پر چا ظلم مه کوئ او خبردار اوسئ چي د چا مال بې د هغه د زړه له خوښي اخیستل جائز نه دی نو معلوم شو چي په جبر سره کومه چنده زیاته اخیستل صحیح نه دي او په دې غاړي بندیږي. فقط و الله تعالی اعلم

د مدرسي لپاره د خپلي کارخاني د مزدورانو له تنخواه څخه په روپي کي یوه پیسه راګرځول

سوال: (۱۲۴۱) زموږ یوه دیني مدرسه ده، د دې د اړتیاؤ لپاره موږ دا اصول مقرر کړي ید چي زموږ په خپله اکارخانه کي چي څومره مزدوران دي د هغو له تنخواه څخه په روپي کي یوه پیسه راګرځو دوی په ښکاره راضي معلومیږي لیکن په واقع کي دوی جبر او اکراه بولي خو ظاهروي یې نه، لیکن په آخر کي راضي شي نو دا ډول زموږ لپاره اخیستل جائز دي او کنه؟

او دوهم صورت دا چي موږ دا شرط پر لګولی دی چي څوک زموږ په کارخانه کي مزدوري کوي هغه به په روپي کي یوه پیسه د مدرسي لپاره راکوي که څوک په راضي وي او که نه وي په راضي نو د دغه شرط په وجه چي له چا څخه روپی‌ء واخیستل شي هغه ته به ثواب ملاویږي او کنه؟ کله چي هغه خوشحاله دی او دیني کار یې بولي او دا شرط جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۷۷۱هـ)

---

(۱) مخکنی حواله

ځواب: په لومړي صورت کي کله چي چنده ورکونکی آخر پای راضي شي او په مدرسه کي مصرفولو باندي خوشحال وي نو دا اخيستل او په مدرسه کي مصرفول جائز دي او په دوهم صورت کي کله چي هغه سړی له چا څخه چي اخيستل کيږي ديني کاريې بولي او د ثواب په نيي يې ورکوي نو هغه ته ثواب ملاويږي او د آخري نتيجې په اعتبار خو د ورکونکي د زړه په رضا شي لهذا په حلالوالي کي يې هيڅ خبره نشته، قال عليه الصلاة و السلام: الا لا يحل مال امرئ الا بطيب نفس منه (الحديث) (۱) فقط و الله تعالى اعلم

په دې شرط و مسجد ته چنده ورکول چي زما د دکان چاوي به کوې

سوال: (۱۷۴۲) د زيد او عمر د چايو هوټلؤ يوه پياله چاوي په يوه پيسه ورکولې چي بوره گرانه شوه نو دوی دغه هوټل پريښودی بکر و هغو خلکو ته چي د چاؤ عاديانؤ دا وويل چي که تاسو زما له دوکان څخه پرته بل ځای چاوي نه خورئ نو زه پياله په يوه پيسه درکوم او د کاله پنځه اويا روپۍ له خپل دکان څخه و مسجد ته ورکوم په دې شرط چي چاوي به زما له دکانه کوئ او څوک چي د زيد او عمر له دکان څخه چاوي اخلي له هغه څخه به پاړ باندي آنه اخيستله کيږي آيا پنځه اويا روپۍ له بکر څخه اخيستل او په مسجد کي مصرفول صحيح دي او کنه؟ او کوم څوک چي د زيد او عمر له دکان څخه چاوي واخلي له هغه څخه پاؤ باندي پنځه آنې اخيستل او په مسجد او مدرسه کي مصرفول صحيح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۴۰۲هـ)

ځواب: بکر که پخپله خوښي پنځه اويا روپۍ له خپل دکانه و مسجد ته ورکوي نو صحيح دي او پاؤ باندي پنځه آنې له هغه چا څخه اخيستل چي د زيد او عمر په دکان کي چاوي وخوري ناجائز او حرام دي په مسجد او مدرسه کي داسي روپۍ مصرفول ناجائز دي فقط

(۱) مخکني حواله

د دوولسمي (۱۲ ربیع الاول) د خیرات لپاره چنده کول

سوال: (۱۲۴۳) دلته هر کال د ربیع الاول (لومړۍ خور) په میاشت کي په نبي علیه الصلاة و السلام پسي خیرات کولو لپاهړ د مسجد او کلي مشران له هر سړي څخه د ډوډۍ پخولو لپاره چنده غواړي که کوم مسکین چنده ورنکړي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په محبت کي کمي بولي او د داسي چا سره نفرت او کرکه کوي د زیاتره خلکو دا خیال دی چي که کوم کال خیرات ونه شو ونو په هغه کال په کلي د وباء، طاعون او د نورو بلاؤ راتلو اندیښنه ده او ډوډۍ چي پخه کړي تول خلګ یې سره وویشي خپله خپله برخه کورته یوسي داسي جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۵۴ه)

ځواب: په بیان شوي طریقه چنده جمع کول او نه ورکونکي ته پیغور ورکول بد او رد ورته ویل او دا خیال کول چي د ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت نشته یا یې په محبت کي کمي ده دا غلط او باطل خیال دی، په شریعت کي د دې هیڅ دلیل او سند نشته، دا پخپله جاهلانو یوه طریقه له ځانه جوړه کړې ده نو په بیان شوي طریقه چنده کول او د رواج پابندي کول او دا عقیده ساتل چي که د ساي ونکړل شو نو کومه وباء یا طعون به راشي، دا فاسده عقیده او باطل خیال دی د همدا ډول باطل رسمونو او باطلو عقیدو شریعت ختمولو او پرینودلو حکم کوي نو د غه رواج قطعي پریږدئ او کوم خلګ چي وس لري هغه دي پخپله بې د کوم رواج له پابندي کولو او بیله نوم حاصلولو او بې د کومي ورځي یا تاریخ له قیده دي د خپل وس سره سمه ډوډۍ پخه کړي مسکینان دي په وخوروي او ثواب دي د رسول الله صلی الله علیه وسلم و روح ته وبخښي نو د ساي پروا نلري او که په اخلاص سره داسي وکړل شي او بدعت او رواج پکي نه وي نو د ثواب امید شته. فقط و الله تعالی اعلم

په دوکه سره چنده جمع کول او پخپل حاجت کي مصرفول

سوال: (۱۲۴۴) زید د مسجد او مدرسي په نوم خلګ دوکه کوي چنده ځني اخلي او په دي سره مقصد خپل حاجت تر سره کول وي، د ورکونکیو لپاره ثواب شته او کنه؟ او د حقوق العباد په وجه د زید غاړي بندي دي او کنه؟ او د غاړي خلاصولو کوم صورت یې

شته او کنه؟ د شرم په وجه د چندې روپۍ بیرته نشي ورکولای او نه د ده سره شته. په داسې صورت کې څه حکم دی؟ (۱۷۷۱/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د ورکونکیو لپاره خو ثواب شته که د دوی نیت د خیر وي لیکن اخیستونکی فاسق، عاصي او ظالم دی او د حقوق العباد په وجه د ده غاړې بندې دي، د خلاصون طریقه یې همدا ده چې له چا څخه په دوکه روپۍ اخیستې دي، هغو ته دې بیرته ورکړي یا دې په هغو وبخښي او د الهي دائمي عذاب په مقابل دې د دنیاوي پېغور پروا نه کوي، و هغو خلکو ته صفا خپل حال بیان کړي او په ودې یې بخښي، قال علیه السلام: الا لا تظلموا، الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه(۱) و فی الحدیث: علی الید ما اخذت حتی تؤدی(۲) و قال تعالی: "ان الذین یکتمون ما انزل الله من الکتاب و یشترون به ثمنا قلیلا" الآیة (سورة بقره، آیت: ۱۷۴) او آیت: "لا خلاق لهم فی الآخرة" (سورة آل عمران، آیت: ۷۷) لنډه دا چې ډیر آیتونه او حدیثونه د دوکې ورکولو د حرمت او د دین په صورت کې د دنیا ګټلو ممانعت او په ظلم له خلکو څخه مالونو اخیستلو په اړه راغلي دي، هغه پر کوم مسلمان پټ نه دي، درواغ ویل او په درواغو باندې د دین د کار په نوم روپۍ د ځان لپاره راټولول داسې کار نه ید چې په حراموالي کې دې شک وي نو علاج د دې پرته له دې څخه کوم چې بیان شو بل هیڅ نه دی یعني ادا دې یې کړي یا دې یې په وبخښي کنې په آخرت کې یې غاړې بندې دي. فقط و الله تعالی اعلم

په چنده ورکولو کې مقابله کول

سوال: (۱۲۴۵) که د کوم خیر د کار لپاره چنده وي د همدغه چندې په ورکولو کې زید و بکر ته وویل چې څومره چنده ته ورکوې، هغومره زه هم ورکوم، لهذا دغه روپۍ د خیر په کار کې مصرفیدلای شي او کنه؟ او ثواب پکې شته او کنه؟ (۳۰۵/۳۵-۱۳۳۶ھ)

---

(۱) مخکنی حواله

(۲) عن سمرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: علی الید الحدیث(مشکوة المصابیح، ص: ۲۵۵، کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة، الفصل الثانی)

ځواب: دغه روپۍ د خیر په کار کې لګول صحیح دي او که نیت د ثواب وي نو ثواب هم پکې شته، انما الاعمال بالنیات الخ(صحیح البخاری: ۲/۱) فقط و الله تعالی اعلم

په مشوره د چندې روپۍ مقررول او هغه لازمي کول

سوال: (۱۲۴۶) په یوه مدرسه کې د ټولو طالبانو په مشوره یو قانون جوړ شو چې د خیر د مصرف لپاره به پر نفر د میاشتې دوې پیسې چنده کیږي، ځیني طالبان دا پیغور بولي داسې چنده ورکول او اخیستل څنګه ده؟(۱۳۳۷/۱۹۲۲ھ)

ځواب: داسې چنده ورکول او اخیستل صحیح ده او که د چا په فکر جبر وي له هغه شخه یې مه اخلئ. فقط

د نامه لپاره چنده ورکول

سوال: (۱۲۴۷) که څوک له چا څخه د کوم خیر د کار لپاره چنده وغواړي او د ورکونکي خوښه نه وي بلکه د غوښتونکي له خوا ورباندې جبر وي یا یې د نامه لپاره او خلکو له شرم په وجه ورکړي نو د ورکونکي لپاره ثواب شته او کنه؟(۱۳۴۱/۲۲۳ھ)

ځواب: دا خو ښکاره خبره ده چې د نامه او ریاکارۍ لپاره چې کوم نیک عمل وشي په هغه کې ثواب نشته، لیکن په دغه وجه نیک کار نه دی پریښودل پکار بلکه کوښښ کول پکار دي چې دغه خیال د نامه او ریاکارۍ دفع کړې او له الله څخه دې معافي غواړي چې په دغه عمل کې له ما څخه کوم ریا او نور وشو هغه راته معاف کړه او دغه خیر قبول کړه ځکه چې د پوره اخلاص حاصلیدل بیله الهي توفیقه مشکل دي. فقط

په مسجد کې سوال او چنده کول

سوال: (۱۲۴۸) په مسجد کې سوال کول او داسې سوال کونکي ته څه ورکول څنګه دي؟او د مدرسې لپاره په مسجد کې چنده کول څنګه دي؟(۵۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: سوال فی المسجد فقهاء منع کړی دی او په ځینو روایتونو کې دا قید راغلی دی چې که سائل تخطي درقابو وکړي(تر اوږو واوړي) یا د لمونځ کونکیو و مخته تیر شي هغه وخت منع دی او په مسجد کې سوال کونکي ته همدا اسې وخت ورکول منع دی چې لمونځ کونکي په تکلیف کړي او د مسلم په حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: من سمع رجلا ینشد ضالة فی المسجد فلیقل لا ردها الله

علیک فإن المساجد لم تبن لهذا الحدیث(رواه مسلم، مشکوة) (۱) او تر دغه حدیث لاندې په مرقاة شرح د مشکوة کې ملا علي قاري رحمه الله لیکي: و ان بعض السلف لا یری ان یتصدق علی السائل المعترض فی المسجد، و فیه ایضا: و قد قال بعض السلف: لا یحل اعطاؤه فیه لما فی بعض الآثار ینادی یوم القیامة لیقم بغیض الله، فیقوم سؤال المسجد، و فصل بعضهم بین من یؤذی الناس بالمرور و نحوه فیکره اعطاؤه الخ(۲) او په در مختار کې راغلي دي: وي حرم فیه السؤال و یکره الاعطاء مطلقًا و قیل: ان تخطی الخ(۳) (لومړی ټوک شامي) و فیه فی الحظر و الاباحة: یکره اعطاء سائل المسجد الا اذا لم یتخط رقاب الناس فی المختار الخ(۴) لنډه دا چې دا خبرهٔ خو ثابته ده چې په مسجد کې سوال کول منع دی او د ایذا په صورت کې ده ته ورکول هم حرام دي نور نو د دیني کارونو لکه مدرسه او نورو لپاره چنده کول په مسجد ونو ی منع نه ده کله چې د لمانځه او خذبې وخت نه وي او کوم لمونځ کونکي لپاره تشویش او ایذا نه وي لکه چې په مسجد کې د وعظ په مجلس کې د خیر د کار لپاره چنده کیږي چې دا صحیح ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۷۴۹) د مسجد او مدرسې لپاره په مسجد کې چنده کول اوس وال کول کوم نصیحت کونکی تر نصیحت وروسته پټو هوار کړي دا څنګه دي؟(۱۸۹۰/۱۳۳۸ھ)

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من سمع رجلا ينشد ضالة الحديث(الصحيح لمسلم: ۲۱۰/۱، كتاب المساجد و مواضع الصلوة باب النهى عن نشد الضالة فى المسجد و ما يقوله من سمع الناشد، و مشكوة المصابيح، ص: ٦٨، كتاب الصلاة باب المساجد و مواضع الصلاة، الفصل الاول)

(۲) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: ۳۸٤/۲-۳۸٥، كتاب الصلاة، باب المساجد و مواضع الصلاة، حديث: ٧٠٦.

(۳) الدر المختار مع رد المحتار كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها مطلب فى افضل المساجد. ط رشيديه

(٤) الدر المختار مع رد المحتار كتاب الحظر و الاباحة، فصل فى البيع. ط رشيديه

ځواب: د مسجد او مدرسې لپاره چنده کول او خلکو ته د چندې ورکولو ترغیب ورکول جائز دی، داغسې بیله ضرورته سوال کول بد دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۲۵۰) یو سړی په چنده مسجد جوړوي، د جمعې په ورځ نورو مسجدونو ته ځي له لمونځ کونکیو څخه چنده راټولوي د مسجد او د لمونځ کونکیو اداب هم خیال ساتي، په دساي صورت کې په مسجدونو کې چنده کول جائز دي او کنه؟ او د متولي لپاره چنده کونکی منع کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۷۵هـ)

ځواب: په در مختار کې یو ځای په مسجد کې سوال کوم حرام او و سائل ته ورکول مکروه لیکلی دی او بل ځای یې دا تفصیل کړی دی چې که سائل د خلکو پر سر واوړي سوال کوي نو دا ته ورکول مکروه دي او که پر سرو نه اوړي او د لمونځ کونکیو خیال ساتي نو مکروه نه دی او دا ټول تفصیل د ځان لپاهر سوال کولو په صورت کې دی، د مسجد جوړولو لپاره له لمونځ کونکیو څخه چنده کول جائز ده اما په دې کې به هم د دې خبرې خیال ساتي چې لمونځ کونکیو ته به تکلیف نه وي او د دوی پر سرو به نه اوړي. فقط و الله اعلم

سوال: (۱۲۵۱) یوه اسلامي کامیټه د دیني تعلیم لپاره جوړه شوې ده، د کامیټې غړیو له نورو تدبیرونو څخه پرته یو تدبیر دا هم کړی دی چې جامع مسجد کې د جمعې تر لمانځه مخکې یو صندوخ راواخلي د خلکو و مخته تیریږي هر سړی یا چې د چا خوښه شي د خپل وس سره سمه چنده ورکوي مګر ځیني مسلمانان ورباندې اعرتاض لري چې په مسجد کې دا ډول چنده جائز نه ده شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۱۷۸۸هـ)

ځواب: په مسجد کې سوال کول بیشکه فقهاء رحمهم الله منع فرمایلی دی او دا یې هم لیکلي دي چې سائل ته په مسجد کې څه نه دي ورکول پکار لیکن د مسلمانانو دداسې عامو ضرورتونو لپاره که د ضرورت په وجه چنده وکړله شي نو د جواز ګنجائش پکې شته مګر غوره خبره دا ده چې له مسجد څخه دباندې وشي. فقط و الله تعالی اعلم

په جامع مسجد کي د جمعې په ورځ د چندې لپاره صندوخ ګرځول

سوال: (۱۲۵۲) د جمعې په ورځ په جامع مسجد کي صندوخ ګرځول د مسکینانو او مسافر لپاره پیسې جمع کول جایز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۷۱۳هـ)

ځواب: که لمونځ کونکیو ته له دې څخه کوم تکلیف نه وي او د لمونځ کونکیو و مخته نشي تیرنو باید چي جائز وي، ځکه چي د حضرت علي رضی الله عنه واقعه په قرآن شریف کي مدح په صورت کي بیان شوې ده او د سائل هم کومه غندنه نه ده شوې(۱) دا غه راز کله چي له تخطئ رقاب او و لمونځ کونکیو ته تکلیف رسولو څخه خلاص وي نو د ناجائز والي هیڅ وجه نشته، په دساي صورت کي صدقه ورکول هیڅ پورا نلري کما فی الدر المختار: یکره اعطاء سائل المسجد الا اذا لم یتخط رقاب الناس فی المنار(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د جمعې او اخترونو د خطبې پر مهال چنده کول

سوال: (۱۲۵۳) د اخترونو د خطبې پر مهال چنده او نور جمع کول او خطبه نه اوریدل څنګه دي؟ (۱۲۰۰/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: په در مخترا یک راغلي دي: و کذا یجب الاستماع لسائر الخطب کخطبة نکاح و خطبة عید الخ و الخلاف فی الکلام یتعلق بالآخرة و اما غیره فیکره اجماعا(۳) له دې څخه معلوم شو چي بیشکه د اخترونو د خذبو اوریدل واجب دي او دا وخت کول بل

---

(۱) فرع: یکره اعطاء سائل المسجد الا اذا لمي تخط رقاب لاناس فی المختار کما فی الاختیار و متن مواهب الرحمن، لأن علیا تصدق بخاتمه فی الصلاة فمدحه الله بقوله: "وي ؤتون الزکوة و هم راکعون" (المائدة: ۵۵) و فی الشامي: فی الصلاة: ای و هی کانت فی المسجد فتم الدلیل او انه اذا کان ذلک جائز فی الصلاة و هی افضل الاعمال، فلأن تجوز فی المسجد و هو دونها اولی ط (الدر المختار و رد المحتار کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

(۲) الدر المختار مع رد المحتار کتاب الصلاة، باب ما یفسد الصلاة و ماي کره فیها مطلب فی افضل المساجد. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الرد تتمة اکتاب الصلاة باب الجمعة مطلب فی شروط وجوب الجمعة. ط رشیدیه

کار چنده او نور کول تحريمي مکروه دي او د چندې کولو غوره طريقه دا ده چې د اخترونو تر لمونځ مخکې کله چې خلک راجمع شي چنده وکړي فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۷۵۴) د اخترونو د خطبې پر مهال د امام لپاره روپۍ ټولول او د امام لپاره د هغه اخيستل څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۱۳۴۲ھ)

ځواب: په خوشحالي چې امام ته څه ورکړي د هغه اخيستل د امام لپاره جائز دي مګر د خطبې پر مهال داسې نه دي کول پکار، که څه هم د امام لپاره هغه راجمع کړي، روپۍ حلالې دي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۱۷۵۵) د جامع مسجد ضروري اړتياوې د جامع مسجد د جمعې د ورځې په چنده پوره کيږي د غه چنده د خطبو پر مهال جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۹/۹۸۹ھ)

ځواب: د خطبو پر مهال هيڅ چنده نه ده کول پکار. فقط و الله تعالی اعلم

په اخترونو کې شوې چندې حقدار څوک دی؟

سوال: (۱۷۵۶) د اخترونو په لمونځونو کې سرې چنده ورکوي د غه روپۍ د چا حق دي؟ آيا د اخترونو لمونځ ورکونکې امام که د ټول ښار د مسجدونو د امامانو حق دی؟ (۱۳۴۳/۵۰۸ھ)

ځواب: د چا لپاره چې د غه چنده واخيستله شي د هغه حق دی، يا د کوم خير د کار لپاره چې چنده راجمع شي په هم هغه کې مصرف کړي. فقط و الله تعالی اعلم

د مسجد له چندې څخه و امام ته تنخواه ورکول

سوال: (۱۷۵۷) د دې ځای خلک په روپۍ کې نيمه پيسه و مسجد ته ورکوي، په همدې سره د مسجد ټولې اړتياوې پوره کيږي او د امام تنخواه هم له همد غه چندې څخه ده. لهذا پوښتنه لرو چې د امام تنخواه له د غه چندې څخه ورکول جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۱۱۲ھ)

ځواب: د امام تنخواه له د غه چندې څخه ورکول صحيح ده. فقط و الله تعالی اعلم

په چنده کې د امام برخه هم په مسجد کې لګول

سوال: (١٢۵٨) مسلمانانو چنده راجمع کړه نیمه د مسجد لپاره او نیمه د امام لپاره ده اوس خلک د امام نیمه برخه هم په مسجد کې مصرفول غواړي. صحیح دي او کنه؟ او ثواب به د امام وي که د چنده ورکونکیو؟ (١٣۴٠/٢٢٢١هـ)

ځواب: صحیح دي او ثواب د چنده ورکونکیو دی، تر اوسه لا هغه روپۍ د امام په ملک کې نه دي راغلي، ځکه چې که امام ته ورکول شوي وای هغه وخت به د ده ملک وای. فقط

د مدرسې لپاره کړې چنده د همدغه مدرسې پر استاذ مصرفول

سوال: (١٢۵٩) ما د دار العلوم دیوبند لپاره ٢٣ روپۍ چنده کړې وه. لیکن تر لیږلو مخکې مې دا خیال شو چې که د دیوبند له مدرسې څخه کوم عالم زموږ وطن ته راوغواړم نو ښه به وي ځکه نو مې له هغه څخه لس روپۍ د سفر د خرڅ لپاره ورولیږلې، مولوي مظفر حسین جهلمي راغلی او پاته ١٣ روپۍ مې د ده په تنخواه کې ورکړې، دا کار څنګه شو؟ (١٣۴٣/٢٨٠٧هـ)

ځواب: د دې د جائز کیدو لپاره د دې ضرورت ؤ چې د چنده ورکونکیو څخه دې د دې اجازه اخیستې وای او اوس هم د مخکني فعل جائز ګرځیدلو لپاره همدا صورت دی چې چنده ورکونکي په دې خبر کړي او له دیو څخه اجازه واخلي، که دوی اجازه ونکړه نو ته به دومره روپۍ و دغه مدرسې ته ورکوې. فقط والله تعالی اعلم

د تاریاقو د تجارت او مزدورۍ روپۍ په مسجد کې مصرفول

سوال: (١٢۶٠) د تاریاقو د تجارت او مزدورۍ روپۍ په مسجد کې مصرفول جائز دي او کنه؟ (١٣۴١/١٢٣٣هـ)

ځواب: د تاریاقو په اړه فقهاء دا تفصیل بیان کړی دی چې د تداوي لپاره استعمال صحیح دی او بې د دوا له اړتیا یې استعمال حرام دی لیکن د شرابو تر حرمت کم دی په در مختار کې راغلي دي: و یحرم اکل البنج و الحشیشة... و الافیون؛ لأنه مفسد للعقل و یصد عن ذکر الله تعالی و عن الصلاة لکن دون حرمة الخمر او په شامي کې راغلي دي:

فهذا کله و نظائره یحرم استعمال لاقدر المسکر منه دون القلیل الخ(۱) و فیه ایضا: و الحق التفصیل ان کان للتداوی فکذلک و ان للهو و ادخال الآفة قصدا فینبغی ان لا یتردد فی الوقوع الخ(۲) و به علم ان المراد الاشربة المائعة و أن البنج و نحوه من الجامدات انما یحرم اذا اراد به السکر و هو الکثیر منه دون القلیل المراد به التداوی و نحوه کالتطیب بالعنبر و جوزة الطیب الخ(۳) نو کله چي معلوم شو چي د افیون د استعمال په ځینو صورتونو کي د ځینو خلکو لپاره د تداوي په غرض اجازه شته نو د دي بیع او ش راء مطلقًا حرام نه دي مګر مشتبه ضرور دي ځکه د بد مزدوري کول هم حرام نه ده اما مشتبه ده او پرهیز ځني کول پکار دی، ځکه چي احتیاط همدا دی چي له مشتبهاتو څخه هم پرهیز وشي او همدا حکم د دې د آمدنۍ په مسجد کي د مصرفولو دی چي احتیاط په دې کي دی چي په مسجد کي مشتبه مال مصرف نه شي، کما علله فی الشامی: بأن الله تعالی و لا یقبل الا الطیب الخ(۴) فقط

د شرابو تجارت کونکي څخه د مدرسي لپاره چنده اخیستل

سوال: (۱۲۲۱) د شرابو تجارت کونکي څخه د مدرسي لپاره چنده اخیستل صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۳۵۷هـ)

ځواب: که د شرابو تاجر خاص د شراب، ګټه مدرسي ته ورکړي نو جائز نه دی، اما که له کوم بل حلال کسب څخه ورکړي نو هیڅ پورا نلري قال فی الدر المختار: و سقط تقومها فی حق المسلم الخ و حرم الانتفاع الخ و لا یجوز بیعها الخ(۵) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار کتاب الاشربة. ط رشیدیه

(۲) الشامي کتاب الحدود، باب حد الشرب، مطلب فی البنج و الافیون والحشیشة. ط رشیدیه

(۳) الشامي کتاب الحدود، مطلب فی البنج و الافیون و الحشیشة. ط رشیدیه

(٤) قال تاج الشریعة: اما لو انفق فی ذلک مالا خبیثا او مالا سببه الخبیث و الطیب فیکره لأن الله تعالی لا یقبل الا الطیب فیکره تلویث بیته بما لا یقبله اهـ (الشامي کتاب الصلاة، باب مای فسد الصلاة و ما یکره فیها مطلب: کلمة "لا بأس" دلیل علی ان المستحب غیره لأن البأس الشدة. ط رشیدیه)

(۵) الدر المختار مع رد المحتار، کتاب الاشربة. ط رشیدیه

له خوجه(آغاخاني) څخه د مسجد لپاره چنده اخيستل

سوال: (۱۲۲۲) دلته يو د مسلمانانو مسجد جوړيږي په دې کې خوجان چې د آغاخان عقيدتمندان دي چنده ورکول غواړي، د دوی چنده په مسجد کې مصرفول جائز دي او کنه؟(۱۳۴۷-۴۲/۲۳۳ھ)

ځواب: د دوی چنده په مسجد کې مصرفول صحيح او جائز ده ځکه چې دوی کومه چنده درکوي نو ثواب او قربت يې بولي ځکه يې ورکوي. فقط و الله تعالی اعلم

له هجړا قوم څخه چنده اخيستل

سوال: (۱۲۲۳) هجړا قوم که لمونځ کوي او روژې نيسي او له ناوړه عمل څخه ځان ساتي نو د دې له ګټې څخه خيرات اخيستل څنګه دي؟(۱۳۳۷/۲۴۴۸ھ)

ځواب: کله چې هجړا قوم له ناوړه عمل څخه توبهٔ ايستلې وي او لمونځ کوي روژې نيسي نو د دوی سره د نورو مسلمانانو په رنګه اړيکې ساتل پکار دي او که ګټه د دوی له توبې ايستلو وروسته په حلاله طريقه حاصله شوې وي نو د دوی ډوډۍ خوړل، خيرات او هديه يې قبلول صحيح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د رنډۍ سره ساز او باجه وهونکي قوال له ګټې چنده اخيستل

سوال: (۱۲۲۴) يو سړی قولاي ويونکی دی او د رنډۍ سره د ساز او باجې وهلو تنخواه اخلي له ده څخه د مسجد او مدرسې لپاره چنده اخيستل جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۳۳۲ھ)

ځواب: له داسې چا څخه چنده او نور اخيستل جائز نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

که سائل د زياتو غوښتلو ټينګار کوي نو څه حکم دی؟

سوال: (۱۲۲۵) که سوالګر راشي سوال کوي او دوس سره سم ده ته څه ورکول شي خو دی بيا هم ټينګار کوي نو که په دساي حال کې که له ورکړې څخه ورته انکار وکړل شي نو څه حکم دی؟(۱۳۳۴-۳۳/۱۴۹۹ھ)

ځواب: داسې ټينګار کونکی سائل جوابول هيڅ ګناه نلري بلکه مناسب دي چې داسې سائل ته يادونه وشي او ده ته څه ورنکړل شي ځکه چې ټينګار کول بده خبره ده لکه

چي په قرآن شریف کي راغلي دي: "لا یسئلون الناس الحافا "(سورة بقره، آیت: ۲۷۳)
فقط

د قرض ادا کولو لپاره چنده کول

سوال: (۱۲۲۶) که کوم سړی مقروض وي یا یې یو مهم ضرورت شي او روپی ورسره نه وي او د ادا کولو توان هم نلري نو په داسي صورت کي مقروض پخپله سوال کولای شي یا یې په بل چا کولای شي او کنه؟ بینوا توجروا (۱۷۰۸/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: داسي مدیون او مقروض چي د ادا کولو توان نلري د قرض ادا کولو په اندازه سوال کولای شي او په بل یې هم کولای که مسلمانان د ده همکاري وکړي بنه خبره ده، په یو حدیث شریف کي راغلي دي: یا قبیصة ان المسئلة لا تحل الا لاحد ثلاثة: رجل تحمل حمالة، فحلت له المسئلة حتی یصیبها الحدیث رواه مسلم(۱) او په بل حدیث کي راغلي دي: ان المسئلة لا تحل لغنی و لا لذي مرة سوی الا لذي فقر مدقع او غرم مفظع و من سأل الناس لیثری به ماله کان خموشا فی وجهه یوم القیامة، و رضف یأکله من جهنم فمن شاء فلیقل و من شاء فلیکثر رواه الترمذي(۲) فقط

د مسافر خاني جوړولو لپاره له هندو څخه چنده اخيستل

سوال: (۱۲۲۷) دلته دوه درې دکانه د مسجد په اړه جوړ شوي دي، د هغو پر سرد مسافرخاني جوړولو اراده لرو، په بد کي یو هندو هم چنده راکړې ده د هندو پیسې او د زکوة پیسې په دې کي مصرفیدلای شي او کنه؟(۲۲۰/۱۳۴۲ھ)

---

(۱) عن قبیصة بن مخرق الهلالی رضی الله عنه قال: تحملت حمالة، فأتیت رسول الله صلی الله علیه وسلم أسأله فیها، فقال: اقم حتی تأتینا الصدقة، فنأمر لک بها، قال: ثم قال: یا قبیصة! إن المسئلة لا تحل الا لاحد ثلاثة الحدیث(الصحیح لمسلم: ۳۳٤/۱ کتاب الزکاة، باب من تحل له المسئلة)

(۲) عن حبشي بن جنادة السلولي رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم فی حجة الوداع و هو واقف بعرفة اتاه اعرابی، فأخذ بطرف ردائه، فسأله إیاه فأعطاه و ذهب فعند ذلک حرمت المسألةو فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إن المسئلة لا تحل الحدیث(سنن الترمذی: ۱٤۱/۱، ابواب الزکاة. باب ما جاء من لا تحل له الصدقة)

ځواب: د کافر روپۍ په دې کې مصرفیدلای شي او د زکوة روپۍ پکې نشي مصرفیدلای، ځکه چې په زکوة کې تملیک ضروري دی او د مسافرخانې په تعمیر کې مصرفولو سره د هیچا ملک نه ګرځي. فقط

په سړک جوړولو کې چنده ورکول

سوال: (۱۲۶۸) که چیرې سړک جوړیږي په هغه یک چنده ورکول صحیح ده؟ (۱۳۴۲/۲۰۲۴هـ)

ځواب: د سړک لپاره چنده ورکول صحیح ده. فقط و الله تعالی اعلم

له نوي مسلمان سره په ځاه جوړولو کې مرسته کول

سوال: (۱۲۶۹) زید نوی مسلمان یو څه کنبل غواړي مګر مفلس دی که مسلمانان چنده ورکړي د ده همکاري وکړي نو ثواب لري او کنه؟ (۸۵۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: ثواب لري. فقط و الله تعالی اعلم

د وچ کالۍ لیري کولو لپاره د هندوانو په رسم کې چنده ورکول

سوال: (۱۲۷۰) په هندو بزګرانو کې دا رواج دی چې کله وچ کال یراشي باران نه کیږي نو له ټولو کلیوالو هندوانو او مسلمانانو څخه چنده اخیستل کیږي په چنده هندوان غواړي، وریجې او ګوره رانیسي او د ګامیښې یو یو کلن بچی هم رانیسي لومړی هندوان خپل ملا راوغواړي، غوړي او نورشیان پر اور واچوي ملا یې څه پروایي او د ګامیښې د بچي غوږ پرې کړي او به پر وشیندي پر کلي شا وخوا راوګرځوي، د مسلمانانو لپاره په دې کې چنده ورکول او په ډوډۍ کې برخه اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۹۰۷هـ)

ځواب: په دې کې چنده او نور ورکول یا په کوم ډول د دې همکاري کول او بیا چې کومه ډوډۍ په دې پخه شي د هغې خوړل دا قطعًا حرام دي او د بت پرستو د بت پرستنې مرسته کول دي، پر ټولو مسلمانانو لازم دي چې له دې څخه ځانونه وساتي او پر مخکې کړي، توبه وباسي او استغفار ووايي او کوم خلک چې دا خیرات بولي او دا عمل نه پریږدي، هغه ګنهکار او فاسقان دي باید سمدستي توبه وباسي. فقط و الله تعالی اعلم

د شیعه ګانو په تعزیه کې چنده ورکول

سوال: (۱۲۷۱) دلته تعزیه داري کیږي او په زور چنده اخیستل کیږئ که څوک چنده نه ورکوي له هغه څخه اړیکې قطع کوي، دوه درې کسان چنده نه ورکوي، دغه چنده نه ورکونکي باید څه وکړي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۸۰۴هـ)

ځواب: د تعزیه لپاره چنده ورکول سخته ګناه ده او قطعي حرام دی، ترڅو چې مې وس وي او په کوم تدبیر چې کیدلای شي چنده مه ورکوئ. فقط و الله تعالی اعلم .

له قادیانیانو څخه چنده اخیستل

سوال: (۱۲۷۲) که زموږ د هندوانو سره مناظره وي په داسې وخت که قادیاني په چنده زموږ مرسته وکړي نو آیا قبلول یې جائز دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۱۵۳هـ)

ځواب: له قادیاني ډلې څخه هیڅ ډول مرسته مه اخلئ. فقط و الله تعالی اعلم

د هندوانو د کوم رواج بندولو لپاره عارضه کول او چنده ټولول

سوال: (۱۲۷۳) د هندوانو کوم رواج بندول د مسلمانانو ذمه واري ده او کنه؟ د دې لپاره عارضه کول یا په کې چنده ورکول صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۱۰۷هـ)

ځواب: د هندوانو د رواجونو په بندولو مسلمانان مکلف نه دي لهذا د دې لپاره عارضه کول یا پکې چنده ورکول صحیح نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

د خوب او تعبیر بیان

د "من رآنی فقد رأی الحق" مطلب

سوال: (۱۲۷۴) د دغه حدیث شریف څه مطلب دی: من رآني فقد رأیٰ الحق(۱) ډیر خلګ د دغه حدیث شریف دا مذلب بیانوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي چا زه ولیدم نو تحقیق خبره ده چي هغه الله ولیدی که همدا مطلب وي نو بیا په الله او رسول کي څه فرق پاته شو؟ په تفصیل سره جواب ارکړه. (۱۳۳۵/۵۰هـ)

ځواب: د دغه حدیث مطلب دا دی چي چا زه په خوب کي ولیدم هغه بس زه ولیدم، یعني شیطان زما په بڼه نشي کیدلای، په بل حدیث کي د دې شرح راغلي ده: من رآني في المنام فقد رآني، فإن الشیطان لا یتمثل في صورتي(۲) یعني چا چي زه په خوب کي ولیدم هغه خاص زه ولیدلم، ځکه چي شیطان زما په بڼه نشي کیدلای، د حق معنی

(۱) عن ابي سعید الخدري رضی الله عنه سمع النبی صلی الله علیه وسلم یقول: من رأنی فقد رأی الحق فإن الشیطان لا یتکونني (صحیح البخاری: ۱۰۳۶/۲، کتاب لاتعبیر، باب من رأی النبی صلی الله علیه وسلم في المنام)

(۲) عن ابي هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: تسموا باسمی ... و من رآني في المنام الحدیث(صحیح البخاری: ۲۱/۱، کتاب العلم، باب اثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم)

صحیح او ثابت ده لکه چي صحیح امر ته حق امر ویل کیږي او اهل سنت و الجماعت چي مذهب یې صحیح او ثابت دی اهل حق ورته ویل کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

په خوب کي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم زیارت د صادق محب کیدو دلیل نه دی

سوال: (۱۲۷۵) آیا د یو سړي زیاتره په خوب کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زیارت مشرف کیدل د ده د صادق محب کیدو دلیل دی او کنه؟ که دی نو آیا داسي سړی عمدًا غیر متبع سنت هم کیدلای شي که کیدلی شي نو آیا دا محب به محبوب وي که مبغوض؟ (۱۹۲/۳۵-۱۳۳۲ھ)

ځواب: چو غلام آفتابم همه ز آفتاب گویم، نه شبم نه شب پرستم که حدیث خواب گویم(۱) خوب شرعًا حجت نه دی او د کامل محبت دلیل په خارج کي په کامله توګه د سنتو اتباع ده صرف په خوب کي زیارت کول نه دي، قال الله تعالی: "قل ان کنتم تحبون الله فاتبعوني یحببکم الله" (سورة آل عمران، آیت: ۳۱) نو اصل مدار پر دې دی په خوب کي زیارت که څه هم بشارت دی لیکن صرف په دې ډاډه نه دي کیدل پکار. فقط و الله تعالی اعلم

په خوب کي د کلمې ویلو پر مهال د نبي علیه الصلاة و السلام د نوم پر ځای د خپل مرشد نوم اخیستل

سوال: (۱۲۷۶) ... (الف) یو سړي په خوب کي کلمه وویله مګر د نبي علیه الصلاة و السلام د نوم پر ځای یې د یو مولوي صاحب نوم واخیستی چي د هغه سره دی ډیره ښه عقیده لري، دی پخپله غلذي پوهیدل وغوښتل یې چي صحیح کلمه ووایي مګر بیا به هم ځني غلطه شوه دی ګبراؤ شو راویښ شو او د دغه غلطي جبیره یې په درود شریف ویلو وغوښته مګر په هغه کي به هم د مولانا تر لفظ وروسته د خپل مولوي صاحب نوم اخیستی، دی ډیر وویریدی، ده دا ټول حال و خپل مولوي صاحب ته ولیکی چي په

(۱) کله چي زه لمر غلام یم نو هر څه د لمر په هکله وایم زه شپه نه یم او نه دش پې ی لمانځونکی یم چي د خوب خبر یوکړم (له لمر څخه مراد حقیقي خبري مراد دي او له شپې څخه مراد نامعتبره خبري دي)

جواب کي مولوي صاحب دا ورته ليکلي ؤ چي په دغه واقعه کي تسلي ده چي کوم چاته ته مراجعه کوې هغه د الله تعالی په مرسته متبع د سنتو دی آیا د مولوي صاحب جواب صحيح دی؟ که د شرع خلاف دی؟

(ب) آیا له دغه جواب څخه د تکبر بوی راځي او کنه؟

(ج) آیا پر مولوي صاحب دا لازم نه ؤ چي ده دغه مرید ته پر دغه غلطي د توبې او استغفار هدايت کړی وای؟

(د) آیا له دغه جواب څخه دا نتيجه نه راوځي چي ته چي د دغه غلطی په وجه ګمراؤ شوی يې نو د ګمراه بدو څه خبره نه ده که تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نوم پر ځای زما نوم اخيستی دی نو هيڅ پروا نلري ځکه چي زه متبع د سنتو یم که دا سي ده نو له داسي مولوي څخه دا هم نه ده لیري چي کومه بله دعوی وکړي لهذا له دې څخه رجوع کول صحيح ده او کنه؟ (۹۱۰/۱۳۳۷هـ)

ځواب: (الف) د مولوي صاحب جواب شرعي مسئله بيانول نه ؤ ځکه چي په شريعت کي پر خوب او بې اختياری پر حالت کوم حکم نه لګيږي بلکه دا يې د ده د خوب او واقعې تعبير ليکلی دی چي کوم تعبير د ده په خيال کي راغلی هغه يې ورته باين کړی، د بل چا په فکر که د دې کوم بل تعبير وي هغه دي بله توجيه وکړي په دې کي د غاړي بندېدو کومه خبره نشته.

(ب) د تکبرو سد، بغض، کينه او نورو کارونو په اړه په حديث کي افلا شققت عن قلبه(۱) راغلی دی نو دا يول چي له دې څخه د تکبر بوی راځي ګو د غيب د علم دعوی کول دي او د چا د زړه د خبري معلوميدو دعوی ده او بدګماني پر مسلمان حرامه ده لقوله تعالی: "یایها الذین آمنوا اجتنبوا کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم " الآیة(سورة حجرات، آيت: ۱۲) او په حديث شريف کي راغلي دي: ظنوا بالمؤمنين خيرًا (۲) نو د دغه

---

(۱) د دغه حديث شريف تخريج د کتاب الحظر و الاباحة دس وال (۱۲۹۸) په جواب کي وګورئ.

(۲) د دغه الفاظو سره مي دا حديث و نه موندی اما علامه انور شاه کشميري رحمه الله په العرف الشذی باب ما جاء في الاشرة في التشهد کي د ملا علي قاري رحمه الله دا قول رانقل کړی دی: و قال في بعض

نصوصو په حکم پر مؤمن ښه گمان کول پکار دی نه دا چي بد گماني وربانديوکړي پخپله ځان فاسق کړي. اعاذنا الله تعالى من سؤ الفهم و زيغ القلب.

(ج) پر ملووي صاحب داسي ورته ويل لازم نه ؤ ځکه چي کله هغه سړی د بې اختيارو الي په وجه معذور او مجبور ؤ نو هغه نه شو گنهکار لکه چي په حديث شريف کي راغلي دي: رفع القلم من ثلاثة الحديث(۱) په دې کي نبي عليه الصلاة و السلام نائم او مجنون داخل کړی دی او دوی ته مرفوع القلم ويلي دي نو کله چي دا سړی د بې اختياری د حالت په وجه عاصي او گنهکار نه شو د بيان شوي حديث په حکم نو ده ته يادونه کول او گنهکار ورته ويل د توبې او استغفار حکم ورته کول به د نبي عليه الصلاة و السلام د حکم په خلاف وای.

(د) له دې ځخه دا نتيجه راوځي چي پر تا باندي د بې اختياری د حال په وجه هيڅ ملامتيا شرعًا او د الله له طرفه کومه سزا نشته او له تا ځخه چي اختيار سلب کړل شو دا اشاره ورته وکړله شوه چي کوم شيخ ته مراجعه کول غواړي هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيروي کونکی دی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو اتباع کونکی دی نو دا داسي دي لکه چي په حديث شريف کي راغلي دي: من صلى خلف عالم تقى كانما صلى خلف نبى(۲) يعني چا چي په متقي عالم پسي لمونځ وکړی گو هغه په نبي

رسائله: لو لا حديث: "ظنوا بالمؤمنين خيرا" لأكفرت صاحب الكيدانية (العرف الشذى على جامع الترمذی: ۷۰/۱، كتاب الصلاة، باب ما جاء فى الاشارة.

(۱) عن عائشة رضى الله عنها عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: رفع القلم عن ثلث: عن النائم حتى يستيقظ و عن الصغير حتى يكبر و عن المجنون حتى يعقل او يفيق (سنن النسائي: ۸۲/۲، باب من لا يقع طلاقه من الازواج)

(۲) قال الزيعلي فى نصب الراية فى تخريج احاديث الهداية: الحديث الحادى و الستون: قال عليه السلام: من صلى خلف عالم تقى فكانما صلى خلف نبي، قلت: غريب (نصب الراية: ۲۸/۲، كتاب لاصلاة، باب الامامة، المطبوعة: دار الكتب العلمية)

علیه الصلاة و السلام پسي لمونځ وکړی پر دې دا لیکل چي له دا سي مولوي څخه دا هم نه ده لیري الخ نه منلې او دغه وهم کول فاسد ظن او سؤ ظن دی چي منع مخکي ولیکل شوه. فقط و السلام علی من اتبع الهدی.

په خوب کي د نبي علیه الصلاة و السلام ډوډۍ غوښتل

سوال: (۱۲۷۷) یو نیک سړي ورمه شپه نبي علیه الصلاة و السلام په خوب کي ولیدی له ده څخه ئې ډوډۍ وغوښته، ده د ډوډۍ راوړلو لپاره منډه کړو خو په دې مهال دی راویښ شو سهار ده په یوه مسافر انډیوال ډوډۍ وخوروله نو د نبي علیه الصلاة و السلام و روح ته ثواب رسولو لپاره دا ډوډۍ څنګه ده؟ (۱۳۴۵/۳۰۷۷هـ)

ځواب: په دغه صورت کي خوب لیدونکی چي په کوم نیت په دغه صالح انډیوال ډوډۍ وخوروله د ده لپاره د ده پر نیت ثواب شته او د رسول الله صلی الله علیه و سلم و روح ته ثواب بخښل صحیح دي، په صحیح حدیث کي راغلي دي: انما الاعمال بالنیات و انما لامرئ ما نوی الحدیث (بخاري شریف: ۲/۱) فقط و الله تعالی اعلم

په خوب کي د ارواحو زیارت کول

سوال: (۱۲۷۸) زیاتره مړي په خوب وینم، د دې څه وجه ده؟ د هغو ارواح ځمکي ته راځي که زموږ روحونه هلته ورځي؟ (۱۳۳۷/۱۴۳۱هـ)

و قال الشیخ عبد الحی فی هامش الهدایة: و اما لفظ الحدیث المذکور فی الکتاب فلم یوجد، بل قال بعض المحدثین انه موضوع و عندی انه مأخوذ من حدیث "علماء امتی کانبیاء بني اسرائیل" و هو حدیث مشهور بین الألسنة و ذکره السیوطي فی انموذج اللبیب الحافظ العیني فی شرح خلطبة الکتاب بلا سند لکن ذکر السخاوی فی المقاصد الحسنة أنه حدیث لم یوجد ۱۲، مولوي عبد الحی (هامش الهدایة: ۱۲۲/۱، کتاب الصلاة باب الامامة، رقم الهامش:٦) و فی الدرایة: حدیث من صلی الخ لم اجده (البدایة عل بالهدیاة: ۱۲۳/۱، کتاب الصلاة باب الامامة) و قال لاشیخ ابن الهمام فی فتح القدیر: "و الله سبحانه و تعالی اعلم بالحدیث" (فتح لاقدیر ۳۵۸/۱، کتاب الصلاة، باب الامامة)

ځواب: دا د روح تعلق دی چي په خوب کي راهرېږي د دې د کیفیت په تحقیق پسي نه دي لګېدل پکار او نه انسان د داسي شیانو معلومولو مکلف دی بلکه له داسي پوښتنو څخه په حدیث شریف کي منع راغلې ده. من حسن اسلام المرئ ترکه مالا یعنیه(۱)

د رسم او رواج بیان

مسلمانان باید د مشرکانو له رواجونو پرهیز وکړي

سوال: (۱۲۷۹) یو مسلمان د خپلو دوو لونو ودونه وکړو کله چي له واده څخه کورته راغلی نو د دروازې مخته ځمکه په ګوبرو پلستر کړه او په اوړو باندي وربانديي لیکي وکښې لکه چي د هندوانو رواج دی د داسي سړي په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۲۵۵۰هـ)

ځواب: دا رواج باطل او ناجائز دی او دا د کفارو او مشرکانو رواج دی پر مسلمانانو لازم دي چي یو مخ له دې څخه پرهیز وکړي او کوم چا چي د جهالت په وجه داسي وکړو هغه پوه کړي چي پر خپل عمل توبه وباسه او ائنده داسي رواج مه کوه اصل خبره دا ده چي ډیر ناپوهه مسلمانان د جهالت په وجه داسي رواجونه کوي دوی په نرمي او سوکه، سوکه پوهول پکار دي چي مسلمانان باید د داسي مشرکانه رواجونو څخه پرهیز وکړي کما قال الله تعالی: "ادع الی سبیل ربک بالحکمة و الموعظة الحسنة" (سورة نحل، آیت: ۱۲۵) فقط و الله تعالی اعلم

په رواجونو کي مباح کارونه ضروري بلل

سوال: (۱۲۸۰) زید دا وایي چي دنیوي کارونه چي مباح او جائز دي که د دوی عملي کول لازم وبلل شي لکه چي زیاتره دنیاوي رواجونه چي دي چي د هغو پرېښودل د خلګو او قومونو تر منځ د ننګ او پیغور باعث وي دا څه پروا نلري، دا وینا د زید صحیح ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۱۰۰هـ)

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من حسن اسلام المرء تركه ما لا يعنيه(جامع الترمذي: ۵۸/۲ ابواب الزهد باب بلا ترجمة بعد باب ما جاء من تكلم بالكلمة ليضحك الناس)

ځواب: عملاً ناواجب واجب او په منزله د واجب ګرځول هم ناوړه او قبیح دي، کله چې په مستحب کارونو کې د ساي کول ناروا دي نو په مباح کارونو کې په اولی درجه منع دي. فقط و الله تعالی اعلم

د وبا دفع کولو لپاره د پیران پیر صاحب د نوم جلوس راایستل او د وزې په غوړ کې سورة یس ویل

سوال: (۱۲۸۱) د پیران پیر صاحب د نوم نښآن راایستل او په لوګ سر د سلو دوو سؤ کسانو په لاره کې یو دم اذانونه کول او سرة یس ویلو وروسته د وزې په غوړ کې ورچف کول او د هغې د غوښتې کباب پر ټولو خلکو ویشل او د هغې هډونه، سر او پښې او نور په دوراهې ښخول دا سنت دي که بدعت؟ او دا په حدیث او فقه ثابت دي او کنه؟ (۱۷۴۳/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: دا عمل په حدیث او فقه ثابت نه دیو بدعت او ناجائز دی، د دې پرېښودل لازم دي. فقط و الله تعالی اعلم

په کلي کې پټو ګرځول او دا ویل چې نن د فلاني بزرګ نسبت دی

سوال: (۱۲۸۲) په کلي کې پټو ګرځول او دا مشهوره کول چې نن د فلاني بزرګ نسبت دی کوم چې د هندوانو رواج دی؟ (۵۰۷/۲۹-۱۳۳۰هـ)

ځواب: دا ټول کارونه شرعاً ناروا او حرام دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې او په خیر القرون کې د دغه قبیح اعمالو وجود نه ؤ، دا ټول اختراعات او احداثات د اهل هواء دي، د اهل سنت لپاره له داسي رواجونو پرهیز کول لازم دي، قال علیه الصلاة و السلام: من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد(۱) فقط و الله تعالی اعلم

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال النبی صلی الله علیه وسلم: من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهود رد(صحیح البخاری: ۳۷۱/۱، کتاب الصلح، باب اذا اصطلحوا علی صلح جور فهو مردود)

په دې چې خواجه صاحب به زوی عمر رازیات کړي جوش کړي دانې په څاه کې اچول او پر خلګو یې ویشل

سوال:(۱۲۸۳) لکه څنګه چې د ښځو عادت وي چې څلویښتې یې پوره شي ځینې خپل زامن څاه ته بوسي او په زړه کې دا نیت وي چې خواجه صاحب به د هلک عمر ورزیات کړي او له کوره چې کومې جوش کړي دانې راوړي وي څۀ دانې خو په څاه کې واچوي او څه چې پاتې شي هغه هم هلته د څاه پر غاړه وویشي او که څوک ورته ووايي چې دا رواجونه مه کوئ نو هغه ته په جواب کې دا وايي چې دا رواج زموږ د پخواني پلرونو او نیکګانو څخه راروان دی نو اسو د دوی په هکله څه حکم دی؟ په دې کې کوم نقصان شته او کنه؟ او د داسې چا په اړه د شریعت څه حکم دی؟ فقط (۱۷۳۴/۳۲-۱۳۳۴هـ)

ځواب: دا د جاهلیت د زامني په رنګه رواجونه دي دا پریښودل پکار دي او د شرعي مسائلو په مقابل توکي او استهزاء کول سخته ګناه ده، پر مسلمانانو لازم دي چې له دې څخه پرهیز وکړي فقط و الله تعالی اعلم

له عطرو بویولو مخکې یا وروسته درود ویل

سوال:(۱۲۸۴) د خوشبو مثلاً عطرو یا ګل او نورو بویولو مخکې یا وروسته درود ویل څنګه دی؟(۲۲۲۴/۱۳۳۷هـ)

ځواب: د دې هیڅ ثبوت نشته او کومه خبره چې مشهوره ده هغه غلطه ده. فقط

د پردود تقلید په وجه چاړه او کاچوغه خوراک کول

سوال:(۱۲۸۵) خلګ مشرکان په چاړه او کاچوغه خوراک کونکي ويني نو وايي چې زموږ لپاره هم په داسې طریقه خوراک کول جائز دی څکه خوري بینوا توجروا (۱۲۰۹/۱۳۳۸هـ)

ځواب: د هغه ځای د رواج تقلید زموږ لپاره نه دی پکار(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابن عمر رضی اله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم(سنن ابي داؤد، ص: ۵۵۹، کتاب اللباس، باب في لبس الشهرة)

د هلک پر پیدا کیدو یو شرکیه رسم او د هغه حکم

سوال: (۱۲۸۶) د یو سړي زوی پیدا شو د ده وارثانو د ګوبرو یوه چونتره (د کانچه) جوړه کړه او د دغه چونترې په منځ کي یوه شنه لکړه ښخه کړه بیا یې پر دغه لکړه د مولي تارو پیچي، بیا یې د کانچې شاوخوا بتان جوړ کړو او د هغو طواف یې وکړې سجده یې ورته وکړه بیا د چونترې سره نژدې نغری جوړ کړی، ډوډۍ یې پخه کړه، خپلوان یې په وخورول، داسي رواج شرک دی او کنه؟ او حرام دی او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۰۷هـ)

ځواب: بیله شکه داشرکیه رواج دی، هر هغه مسلمان چي په زړه کي یوه ذره هم الهي توحید موجود وي هیڅ کله هم داسي شرکیه اعمال نشي کولای، و غیر الله ته د تعظیم او عبادت په اعتقاد سجده کول په اتفاق د علماؤ کفر دی، داغه راز نور شرکیه رواجونه هم په حقیقت کي د کوم موحد شخه د داسي ناوړه او پلیتو حرکاتو ظاهرېدل ډیره د تعجب خبره ده او د نامسلمانو په نظر د دین د تذلیل باعث دی، علماء خو د مشرکانو د رواجونو مشابهت په هیڅ حال کي روا نه دی بللی، په تېره بیا هغه مشابهت چي د هغه اساس تعظیم او عبادت د غیر الله وي، نو ټولو مسلمانانو ته پکار دي چي له داسي چا شخه ټولي اړیکي قطع کړي همدا د دوی لپاره شرعي او عرفي تعزیر دی انو پر داسي چا واجب دي چي سمدستي دی له دغه شرکیه اعمالو شخه توبه وباسي او د الله په دربار کي دی ښه په پښیمانتیا عفوه وغواړي، قال فی الدر المختار: و کذا مای فعلونه من تقبیل الارض الخ لأنه یشبه عبادة الوثن، و هل یکفر؟ ان علی وجه العبادة و التعظیم کفر(۱) و فی البحر: و بخروجه الی نیروز المجوس، و الموافقة معهم فیما یفعلون فی ذلک الیوم و بشرائه یوم النیروز شیئا لم یکن یشتریه قبل ذلک تعظیما للنیروز الخ و بتحسین امر الکفار اتفاقًا الخ(۲) البحر الرائق(۵/۱۳۳)

سوال: (۱۲۸۷) زموږ په وطن کي دا رواج دی چي د کومي انجلۍ زوی پیدا شي نو تر یوه درخته لاندي ډوډۍ پخه کړي او شیریني او نور وویشي بیا انجلۍ لوڅه شي د

---

(۱) الدر مع الرد کتاب الحظر و الاباحة، باب الاستبراء و غیره. ط رشیدیه

(۲) البحر الرائق: ۵/۲۰۸، کتاب السیر، باب احکام المرتدین.

هندوانو د رواج سره سم پر او رغوړي اچوي نو په دې سره به په نکاح کې څه فرق نه راځي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۴۱۷ھ)

ځواب: دا شرکیه رواجونه دي د داسې اعمالو سره که عقیده هم فاسده نو ښکاره شرک دی، لنډه دا چې په فسق کیدو کې خو شک نشته، د کفارو تر رواجونو زیات د مسلمانانو لپاره بلکه کومه ګناه کیدلای شي؟ نو باید سمد ستي توبهٔ وباسي، پر مسلمانانو نارینو لازم دي چې د دغه ناوړه رواج مخنیوي لپاره هر ممکن کوشش وکړي، کومې ښځې چې دا عمل کوي د هغو لپاره احتیاط په همدې کې دی چې نکاحوي نوي کړي خو بیا هم ضروري نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

په کومه ورا (جنج) کې چې رقص کونکي وي په هغه کې شرکت کول

سوال: (۱۲۸۸) په واده کې په ورا کې چې رقص کونیک ښځې او نور وي په هغه کې تلل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۴۴۱ھ)

ځواب: ناجائز دی. فقط و الله تعالی اعلم

د برات په څورلسمه تول اسباب پریمنځل او غسل کول

سوال: (۱۲۸۹) د شعبان په څورلسمه تول اسباب پریمنځل او غسل کول ضروي بلل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۴۴۱ھ)

ځواب: خاص د شعبان په څورلسمه تول اسباب پریمنځل او دا کار ضروري او لازم بلل یا د واجب په رنګه التزام کول ناجائز او حرام دی. فقط و الله تعالی اعلم

په ځینو تراېخونو او ورځوکې واده او نور تاواني بلل

سوال: (۱۲۹۰) زیاتره خلک پر ۳، ۱۳، ۲۳، ۸، ۲۸ او نورو تاریخونو او د پنج شنبې، یکشنبې، جهارشنبې او نورو ورځ، کې واده نه کوي عقیده یې دا وي چې سخت رسي په دې هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۹۲۲ھ)

ځواب: دا عقیده باطله او غلطهٔ ده، دغه رسم او رواج مات کړئ. فقط و الله تعالی اعلم

له نکاح وروسته له زوم والو څخه په زور روپۍ اخیستل

سوال: (۱۲۹۱) په کښتنه قومونو کي دا رواج دی چي کله د انجلۍ نکاح وشي نو د انجلۍ وال د هلک له والو څخه نغدي روپۍ اخلي او وايي چي دا زموږ د نیګ(۱) روپۍ دي، دغه روپۍ اخیستل جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۱۲۹هـ)

ځواب: دا سي رواج کول او دا خپل حق او ننګ بلل غلط او باطل دی. شرعًا د داسي رواجونو پابندي په بیان شویو خیالاتو سره کول جائز نه دي. فقط و الله تعالی اعلم

ورا بیول او د ناوي کره ډوډۍ خوړل

سوال: (۱۲۹۲) د ناوي کره جبرًا ورا بیول او ډوډۍ خوړل څنګه دي؟ کله چي لر خوندي وي په حدیثو کي څه حکم راغلی دی؟ (۱۳۳۹/۹۰۹هـ)

ځواب: مشهوره دا دي چي د لیري ځای په ورا کي چي د زوم سره څوک ځي هغه د انجلۍ کره میلمانه وي او میلمه ته ډوډۍ ورکول او عزت ورکول په حدیثو ثابت دي او مسنون او مستحب دي(۲) نور رواجونه چي د شریعت تر چوکاټ وتلي دي د هغو اجازه شرعًا په هیڅ حال کي نشته. فقط

د نکاح پر مهال کنګنا او تاج تړل

سوال: (۱۲۹۳) مولوي امیر الدین صاحب په نصیحت کي وویل چي په کومه نکاح کي کنګنا(۳) او تاج وتړل شي هغه بالکل ناروا ده یعني هغه نکاح نه صحیح کیږي او کومي نکاحوي چي پر دا ډول مخکي شوي دي هغه بیرته وتړي، دا خبره د ده صحیح ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۹۲هـ)

---

(۱) نیګ: په واده کي و خپولانو ته د نیک فالۍ په توګه یا و خدمت کونکیو ته د انعام په توګه ورکول شوي روپۍ. (فیروز اللغات)

(۲) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كان يؤمن بآلله و اليوم الآخر فليكرم ضيفعه الحديث(مشكوة المصابيح، ص: ۳۶۸، كتاب الأطعمة، باب الضيافة، الفصل الاول)

(۳) کنګنا: هغه تار چي د زوم پر مړوند تړل کیږي. (فیروز اللغات)

ځواب: صحیح خبره دا ده چې داسې نکاح صحیح کیږي اما دا کار د ګناه دی له دې څخه توبه وباسئ او آئنده داسې مه کوئ او د اشتباه په صورت کې زیات احتیاط په نکاح نوې کولو کې دی، داسې څه پروا نلري لأن الخروج عن الاختلاف اولی او احوط. فقط و الله تعالی اعلم

په واده کې چې کوم رواجونه کیږي د هغو څه حکم دی؟

سوال: (۱۲۹۴) په واده کې چې کوم رواجونه کیږي هغه شرعًا جائز دي که ناجائز؟ (۱۳۱۰/۱۳۴۵ھ)

ځواب: دا رواجونه شرعًا ناجائز دي بدعت او حرام دی، پرهیز ځنې کول پکار دی. قال علیه الصلاة و السلام: من احدث فی أمرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۱) فقط

په کوم واده کې چې د غیر شرعي رواجونو اندیښنه وي په هغه کې برخه اخیستل او هدیه ورکول

سوال: (۱۲۹۵) ... (الف) زید د خپل باجه د لور په واده کې برخه اخلي، د انجلۍ او د دې د مور او پلار لپاره جامې ورل غواړي، په ورا کې به ډول او سرناوې نه وي مګر د زید خیال دی چې نور رواجونه به وي، نو د زید لپاره پکې برخه اخیستل او انجلۍ او د دې مور او پلار ته جامې یا نغدې روپۍ ورکول څنګه دي؟ که زید پکې برخه وانخلي خو روپۍ او جامې ورلیږي نو څنګه؟

(ب) که تر واده وروسته جامې یا روپۍ و انجلۍ او د دې مور او پلار یا صرف و انجلۍ ته ورولیږي نو څنګه دي؟ (۱۳۳۹/۷۹۷ھ)

ځواب: (الف-ب) جامې او روپۍ ورکول صحیح دي او د شرعي په خلاف رواجونو کې برخه مه اخلئ له دغه رواجونو لیرې ګرځئ او دوهم صورت هم صحیح دی بلکه دا ښه دی فقط

---

(۱) عائشه رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من احدث الحدیث (صحیح البخاری: ۳۷/۱، کتاب الصلح، باب اذا اصطلحوا علی صلح جور فهو مردود)

د زوم پر سر تاج کول

سوال: (۱۲۹۶) د زوم تاج په سر کول څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۱۳۱۴هـ)

ځواب: دا بدعت دی، په سنتو ثابت نه دی، له داسي رواجونو ځان ساتل ضروري دي فقط

د چالي رواج څه حکم دی؟

سوال: (۱۲۹۷) په عامو خلګو کي د چالي(۱) رواج دی د دغه رواج د پابندي په وجه شرعي کارونه پرېږدي او په سود قرض اخلي، جائيداد خرڅوي، څوک چي د دغه رواج پابندي نه کوي له هغه ښځه مور او پلار ناراضه کيږي نو شرعًا په دې هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۲۰۴۰هـ)

ځواب: داسي رواجونه پرېښودل پکار دي د داسي رواجونو د پابندۍ په وجه شرعي کارونه پرېښودل او ځنډول سخته د جهالت خبره ده او د دغه رواجونو په وجه جائيداد خرڅول او په سود قرض اخيستل د خسر الدنيا و الآخرة مصداق دی، په داسي منع کارونو کي د مور او پلار اطاعت کول هم ګناه ده، لکه چي راغلي دي: لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د بهانجي رواج د شرعي خلاف دی

سوال: (۱۲۹۸) په واده کي چي راکړه ورکړه کيږي مثلاً پخې يا اومي وريجي، تر قند، پتاسته، لډوګان او نور چي په خاندان کي مقرر شوي دي او دې ته بهانجي وايي دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۹۲هـ)

ځواب: دا رواجونه د شرعي خلاف دي، د دې پابندي نه ده کول پکار. فقط و الله اعلم

زوم په ګلونو ښائسته کول

سوال: (۱۲۹۹) د ګلونو اميل په غاړه کول او په واده کي زوم په ګلونو ښائسته کول څنګه دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۸هـ)

ځواب: دا رواج شرعًا ناجائز او بدعت دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) چالي: د ناوي له خسرګنۍ ښځه تر واده وروسته لومړی څلور ځله د پلار کره تلل. (فيروز اللغات)

(۲) مشکوة المصابيح، ص: ۳۲۱، کتاب الامارة و القضاء، الفصل الثانی.

بیلابیلي مسئلې

په هره طریقه چي وي خپل حق و لاس ته کول صحیح دي

سوال: (١٧٠٠) د زید و مشرانو ته د مغل پاچاهانو له لوري د یري ځمکي د جاګیر په توګه ورکول شوي وې، د زید مشرانو به دغه ځمکي د بکر په مشرانو کرلې، کله چي د انګریزانو حکومت راغلی نو د قانون په وجه دغه ځمکي د بکر و مشرانو ته حکومت ورکړې، که زید په دې خیال چي د دغه ځمکي اصلاً زموږ د مشرانو وې له بکر څخه د زرو روپیو په عوض په ګرو واخلي او د رهن له روپیو پرته په هر فصل باندي نیمه برخه د حاصل د ګټي په توګه اخلي نو شرعًا جائز دي او کنه؟ (١٣٤٣/٤٣٧هـ)

ځواب: د زید لپاره د خپل حق په عوض چي څومره ګټه و لاس ته کول ای شي صحیح دي، ځکه چي د فقهي دا مسئله ده چي خپل په هره طریقه چي وي و لاس ته کړي، دا جائز دي.(١) فقط

له غل څخه په پټه خپل حق اخیستل

سوال: (١٧٠١) زید له بکر څخه پنځوس روپۍ غلا کړې، بکر چي هر څومره و زید ته وویل چي زما روپۍ را کړه خو زید یوه انه هم ورنکړه، بکر موقع وموندله، له زید څخه پنځه څلویښت روپۍ غلا کړې، د بکر لپاره داسي کول جائز دي او کنه؟ او ګنهکار دی کنه؟ (١٣٣٣-٣٢/٥٠٢هـ)

ځواب: خپل حق اخیستل په هره ډول چي وي صحیح دی ګناه پکي نشته(٢) فقط و الله تعالی اعلم

---

(١) معلومه نه ده چي حضرت مفتي رحمه الله په دغه مسئله کي ولي د حکومت و استیلاء ته اعتبار نه دی ورکړی، پ رمخ سوال: (١٩١٢) په جواب کي حضرت مفتي صاحب رحمه الله د دې اعتبار کړی دی، د حکومت په استیلاء احکام بدلیږي. ١٢ (حضرت مولانا مفتي) سعید احمد پالن پوري.

(٢) په شامي کي راغلي دي: ان عدم جواز االخذ من خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی لحقوق و الفتوی الیوم علی جواز الاخذ عند القدرة من ای مال کان لاسیما فی دیارنا لمداومتهم للقعوق (رد المحتار کتاب السرقة: مطلب بعذر بالعمل بمذهب الغیر عند الضرورة. ط رشیدیه

د غصب کړي شي د قیمت په اندازه کوم شی له غاصب څخه په کومه حیله اخیستل

سوال: (۱۷۰۲) زید له عمر څخه کوم شی قبضه کړی او س زید څني استفاده کوي د مروج قانون په وجه عمر له زید څخه خپل شی نه شي اخیستلای نو اوس دی په کومه طریقه او حیله د زید بل شی چي د هغو مره قیمت وي د څومره قیمت چي د ده شی دی شرعًا اخیستلای شي او کنه؟ (۱۷۹۳/۱۳۳۵هـ)

ځواب: کله چي زید د عمر شی اخیستی دی او نه یې ورکوي نو د عمر لپاره بالاتفاق جائز دي چي د زید دا سي شی ورواخلي کوم چي د ده د شي د جنس څخه وي او که د جنس په خلاف واخلي نو هغه هم جائز دی(۱) د امام شافعي رحمه الله په نزد مګر په اوس زمانه کي د احنافو په مذهب هم اخیستل صحیح دي و اطلق الشافعی اخذ خلاف الجنس للمجانسة فی المالیة قال فی المجتبی: و هو اوسع فیعمل به عند الضرورة (و فی الشامی) و الفتوی الیوم علی جواز الاخذ عند القدرة من ای مال کان(۲) فقط و الله تعالی اعلم

د حیوان په غاړه د کټ پښه او بل شی ځړول

سوال: (۱۷۰۳) د حیوان په غاړه د کټ پښه یا لرګی سوری کړي و روې ځړوي چي بیا حیوان د خلګو کښت ته نه ورځي او منډې نشي وهلای بلکه سو که، سو که ځریږي نو دا کار جائز دی او کنه؟ (۳/۱۳۳۸هـ)

ځواب: صحیح دی لیکن پر حیوان ظلم مه کوئ. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) له مروج قانون څخه معلومیږي چي دا د حکومت د استیلاء مسئله ده او معلومه نه ده چي حضرت مفتي رحمه الله په دغه مسئله کي د حکومت د استیلاء اعتبار ولي نه ید کړی پر خ دس وال (۱۹۱۲) په جوآب حضرت مفتي صاحب د دې اعتبار کړی دی، د حکومتپه استیلاء احکام بدلیږي. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

(۲) الدر المختار و رد المحتار کتاب السرقة، مطلب یعذر بالعمل بمذهب الغیر عند الضرورة. ط رشیدیه

د ناجوړه یا ټپي حیوان نه حلالول ګناه لري او کنه؟

سوال: (۱۷۰۴) که حلال حیوان ناجوړه یا ټپي شي او د محبت په وجه یې نه حلالوي، که وفات شي نو زید ګنهکار دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۱۲۰۴هـ)

ځواب: زید نه دی ګنهکار اما غوره یې حلالول ؤ، لیکن په نه حلالولو نه دی ګنهکار. فقط

د ګامیښې شیدې ودې ته ورکول

سوال: (۱۷۰۵) د ګامیښې او نوروشیدې په دې خورول څنګه دي؟ (۲۸۰/۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: جائز دي فقط و الله تعالی اعلم

حیوانان خصي کول جائز دي

سوال: (۱۲۰۷) حیوانان خصي کول جائز دي او کنه؟ یو مولوي صاحب وایي چې حرام دي (۱۳۴۰/۱۹۵۰هـ)

ځواب: رسول الله صلی الله علیه وسلم اقرن خصي کبش په قربانۍ کې حلال کړی دی: کما رواه احمد و ابو داؤد و ابن ماجة و الدارمي و الترمذي وغیرهم عن جابر رضی الله عنه قال: ذبح النبی صلی الله علیه وسلم یوم الذبح کبشین اقرنین املحین موجوئین الحدیث(۱) فلو کان الخصاء حراما لما اختار رسول الله صلی الله علیه وسلم بالذبح موجؤًا(که خصي کول حرام وای نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به خصي حیوان نه ویا ذبح کړی مرتب) و فی الهدایة: و لا بأس بإخصاء البهائم و انزاء الحمیر علی الخیل لان فی الاول منفعة البهیمة و الناس الخ(۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن جابر رضی الله عنه قال: ذبح النبی صلی الله علیه وسلم یوم الذبح کبشین اقرنین املحین موجوئین ... رواه احمد و ابو داؤد و ابن ماجة و الدارمي (مشکوة المصابیح، ص:: ۱۲۸، کتاب الصلاة، باب فی الاضحیة، الفصل الثانی.

(۲) الهدایة: ۴/۴۷۴، کتاب الکراهیة، مسائل متفرقة.

سوال: (۱۷۰۷) حیوانان خصي کول جائز دي او کنه؟ عمر وايي چي خصي کول جائز نه دي، د دليل په توګه دا آيت: و لآمرنهم فليغرن خلق الله (سورة نساء، آيت: ۱۱۹) بیانوي او وايي چي په تفسير خازن کي تر دغه آيت لاندي د حضرت عبد الله بن عمر او حضرت انس رضی الله عنهم قول را نقل کړی دی چي پکي دغه دواړو ښاغليو د وزګړي خصي کول مکروه بللي دي شرعي حکم څه دی؟ زيد وايي چي جائز دي. (۱۳۴۲/۸۴۰هـ)

ځواب: په دغه صورت کي زيد پر حق دی، د احنافو مذهب د خصي کولو د جواز دی لکه چي په در مختار کي راغلي دي: و جاز خصاء البهائم (الی ان قال) و قيدوه بالمنفعة الخ قال فی الشامي: قوله: (و قيدوه) ای جواز خصاء البهائم بالمنفعة و هی ارادة سمنها او منعها عن العض[1] او د خصي قرباني کول له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ثابت دي او د آيت کريمه په تفسير کي د سلفو اختلاف دی په معالم التنزيل کي له حضرت ابن عباس رضی الله عنهما او نورو څخه را نقل کړي دي چي له تغيير خلق الله څخه مراد تغيير دين الله دی، کما قال الله تعالی: "لا تبديل لخلق الله" (سورة روم، آيت: ۳۰) (۲) و التفصيل فی المطولات، فقط و الله تعالی اعلم

اسان او غويان خصي کول

سوال: (۱۷۰۸) .. (الف) اسان خصي کول جائز دي او کنه؟

(ب) غويان خصي کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۵۸هـ)

ځواب: (الف) په در مختار کي راغلي دي: و جاز خصاء البهائم[3] يعين د حيوانانو خصي کول جائز دي، بيا وايي چي ځينو د آس له خصي کولو څخه منع کړې ده[1] لهذا بيله ضرورته دا سي مه کوئ.

---

(۱) الدر المختار و الشامي كتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البيع. ط رشيديه

(۲) قال ابن عباس و الحسن و مجاهد و قتادة و سعيد بن المسيب و الضحاک يعني دين الله، نظيره قوله تعالی: لا تبديل لخلق الله ای لدين الله الخ(معالم التنزيل، ص: ۲۵٤)

(۳) الدر المختار و الشامي كتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البيع. ط رشيديه

(ب) صحیح دي. کما مر. فقط و الله تعالی اعلم

پر اسپه خر خیږول جائز دي

سوال: (۱۷۰۹) پر اسپه خر خیږول جائز دي او کنه؟ (۲۸۳۲/۱۳۴۳ھ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: و جاز... انزاء الحمیر علی الخیل کعکسه (۲) نو معلوم شو چي پر اسپه باندي خر خیږول یا د دې عکس کول صحیح دي. فقط و الله تعالی اعلم

د حلالو حیوانانو نه حلالولو د نامسلمانو سره فیصله کول

سوال: (۱۷۱۰) د کومو حیوانانو د حلالوالي فتوی چي په محمدي شرع کي ورکوله شو بیا په هغو کي د کوم خاص حیوان د ذبح په اړه د عمر د قید سره د نامسلمانو سره کومه فیصله کول صحیح ده او کنه؟ (۱۱۵۰/۱۳۴۲ھ)

ځواب: د الله تعالی یمقرر کړي احکام او حدود کي تغیر او بدلون کول او مطلق شرعي احکام په کوم قید سره مقیدول صحیح نه دي قال الله تعالی: "تلک حدود الله فلا تعتدوها" (سورة بقره، آیت: ۱۲۹) نو په کوم حیوان غوا او نورو کي د عمر قید لګول د هندوانو سره فیصله کول چي د دې په خلاف به نه کو جائز نه دي او که څیني مسلمانان د ساي کومه معاهده وکړي نو هغه شرعًا لغوه ده د دوی په معاهده کوم حلال شی حرام نه کرځي او د دوی د عمر قید او نور تسلیمول شرعًا لغوه او عبث کار دی، د دې هیڅ اعتبار نشته، الله تعالی رب العزت چي کوم حیوانان حلال کړي دي او د "احلت لکم بهیمة الانعام" (سورة مائده، آیت: ۱) حکم یې نازل کړی د اوبن وزې او نورو ټول قسمونه حلال کړي دي، په دې کي د کوم خصوصیت او قید زیاتوب کول او د کوم عمر سره خاصول د الله تعالی له مقررو کړیو حدودو څخه تجاوز کول دي چي په هیڅ ډول صحیح کار نه دی

---

(۱) و اما خصاء الآدمی فحرام، قیل: و الفرس الخ (الدر) و فی الشام: قوله: (قیل: و الفرس) ذکر شمس الأئمة الحلواني أنه لا بأس به عند أصحابنا و ذکر شیخ الاسلام أنه حرام (الدر و الشامي کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه)

(۲) الدر مع الشامي کتاب الحظر و الاباحة، فصل فی البیع. ط رشیدیه

نو پر مسلمانانو لازم دي چي له داسي معاهدو څخه کلک پرهیز وکړي، کنې پرته له دې چي ګنهکار به شي نوره د دې معاهدې هیڅ نتیجه نه راوځي ځکه چي د دوی په معاهده کولو شرعي حکم نه بدلیږي او نه داسي معاهده د عمل وړ ګرځي. فقط و الله تعالی اعلم

په ښاره ځمکه کي له حیوانانو څرولو څخه منع کول

سؤال: (۱۷۱۱) یو رئیس صاحب و خپل کوم مزدور ته د کښت نا آباده ځمکه د معاش په توګه یا د انعام ورکړه، د بزګر د نیست والي په وجه ځمکه ونه کرل شوه، مزدور پکي وابښه راوګرځول او خلګ پکي له حیوانانو څرولو څخه منع کړو دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۷۱هـ)

ځواب: په دغه ځمکه کي حیوانان له وښو څرولو څخه منع کول شرعًا صحیح نه دي، لکه چي په حدیث شریف کي راغلي دي: الناس شرکاء فی ثلاث الماء و الکلاء و النار(۱) الحدیث او کما قال صلی الله علیه وسلم. فقط و الله تعالی اعلم

که څوک د بل په ځمکه کي درختي ولګوي د هغو مالک څوک دی؟

سؤال: (۱۷۱۲) د ځمکي له مالک څخه چا په دې شرط د ځمکي اخیستلو ویول چي زه په دغه ځمکه کي د دې په حاصل درختي اړدم آیا د سای درختي لګونکی د داسي درختو مالک هبه کونکی یا بیع کونکی کیدلای شي او کنه؟ (۳۲۰۷/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: درختي د ځمکي تابع وي د کوم چا په ځمکه کي چي درختي ولګول شي، د هغو درختو مالک هم هغه سړی وي کوم چي د ځمکي مالک دی، درختي ایښودونکی مالیار او مزدور د دغه درختو مالک نشي جوړېدلای او نه د دغه درختو د خرڅولو او

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما، قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: المسلمون شرکاء فی ثلاث: فی الماء و الکا و النار رواه ابو داؤد و ابن ماجة (مشکوة المصابیح، ص: ۲۵۹، کتاب البیوع، باب احیاء الموات و الشرب، الفصل الثانی)

هبه کولو هیڅ اختیار نشته(۱) او د ځمکي د غصب مسئله له دې څخه بیله ده، چې د فقهي په کتابونو کې څرګند ونه شوې ده. فقط و الله تعالی اعلم

د یو سړي وزې د بل چا نهالان وخوړل

سوال: (۱۷۱۳) د یو مولوي صاحب وزې د بل چا دل یمبو، انځر او نورو نهالان وخوړل، زیاتره به مخکې هم خوړل، د مولوي صاحب دا خیال دی چې نباتات (شنه کیدونکي شیان) خو د وزې خوراک دی ځکه هیڅ پروا نلري شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۱۷۵۷هـ)

ځواب: بې د درختو د ملک له اجازې په وزو د غه نهالان او درختې خوړل صحیح نه دي او وزې راګرځول پکار دي فقط و الله تعالی اعلم

که یو کلیوال د بل کلیوالو د شاملاتو لرګي او واښه پرې کړي

سوال: (۱۷۱۴) زموږ سیمه غرنۍ ده او زیاتره په دې کې په ځنګل کې هر کلي خپله برخه مقرره کړې ده او د غه برخې ته د کلي شاملات ویل کیږي آیا له د غه مقرري کړې برخې څخه بل کلي وال لرګی یا واښه بې د کلي شلاملاتو د مالکانو له اجازې وړلای شي او کنه؟ (۱۳۳۸/۴۵۵هـ)

ځواب: کومه ځمکه چې د کلي د شاملاتو وي هغه د همد غه کلي د اوسیدونکیو ملک ده او د هغې درختې او نورو هم د هغه کلیوالو په ملک کې داخل دي د چا چې ځمکه ده نو د بل کلیوالو لپاره د د غه درختو لرګي وچ او لانده وړل بې د ځمکې د مالکانو له اجازې صحیح نه دي او واښه له خوله عام مباحاتو څخه دي ځکه واښه هر څوک وړلای

---

(۱) و من نبی او غرس فی ارض غیره بغیر اذنه امر بآلقلع و لارد ... و للمالک ان یضمن له قیمة بناء او شجر امر بقلعه ای مستحق القلع فتقوم بدونها الخ و فی الشامي: قوله: (بغیر اذنه) فلو بإذنه فالبناء لرب الدار و یرجع علیه بما انفق(الدر و الرد کتاب الغصب، قبل مطلب: زرع فی ارض الغیر یعتبر عرف القریة. ط رشیدیه)

شي(۱) او د بل د ملک حرمت په آیتونو او حدیثونو ي راغلی دی: قال الله تعالی: "و لا تأکلوا اموالکم بینکم بالباطل" (سورة بقره، آیت: ۱۸۸) فقط و الله تعالی اعلم

په طوفان رالویدلي درخته د چا ده، د بزگر که د ځمکي د مالک؟

سوال: (۱۷۱۵) د یو عام سړي لګولې درخته په طوفان راتلو پر ځمکه رالوېدلې ده، د ځمکي مالک اوس هغه اخیستل غواړي مګر عامو خلګو هیڅ کله هم راولیدلي درختي د ځمکي مالک ته نه دي ورکړي، شرعًا د چا حق دی؟(۱۳۳۸/۴۷۲ھ)

ځواب: پخپله شنه کیدونکې درخته که د چا په ځمکه کي راپورته شي هغه د ځمکي د مالک ملک وي او که هغه درخته چا لګولې او غرس کړې ده نو که د ځمکي مالک لګولې ده یا عامو خلګو د ځمکي د مالک په اجازه لګولې ده بیا هم د ځمکي د مالک ملک دی کما فی الشامي: فلو بإذنه فالبناء لرب الدار و یرجع علیه بما أنفق الخ(۲) فقط

د میوداري درختي مالک څوک دی د ځمکي مالک که بزګر؟

سوال: (۱۷۱۶) بزګر چي د کومي ځمکي مالیه د ځمکي مالک ته ورکوي که په ځمکه کي کومه میوداره درخته وي نو هغه درخته به د چا وي؟ د ځمکي د مالک که د بزګر؟ (۱۳۳۸/۴۴۲ھ)

ځواب: داسي درختي د ځمکي د مالک دي. فقط و الله تعالی اعلم

د کومي درختي تر سایه لاندي چي خلک آرام کوي د هغې پرې کول جائز دي او کنه؟

سوال: (۱۷۱۷) د زید یوه د آمو درخته په کلي کي له پخوا څخه ولاړه ده اوس میوه کمه کوي او ځیني بناخونه وچ شوي هم دي خلک یې تر سایه لاندي آرام کوي زید د دې و پرې کولو ته اړ دي نو د داسي درختي پرې کول جائز دي او کنه؟(۱۳۳۳-۳۲/۲۵۴۷ھ)

(۱) عن رجل من المهاجرین من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم قال: غزوت مع النبی صلی الله علیه وسلم ثلاثا اسمعه یقول: المسلمون شرکاء فی ثلثا: فی الماء و الکلاء و النار (سنن آبي داؤد، ص: ۴۹۲، کتاب البیوع، باب فی منع الماء)

(۲) الشامي کتاب الغصب، قبیل مطلب: زرع فی ارض الغیر یعتبر عرف القریة تحت قوله: (بغیر إذنه) ط رشیدیه

ځواب: د دغه مملوکه درختي پرې کول صحيح دي. فقط و الله اعلم

درختي پیوندول جائز دي

سوال: (۱۷۱۸) درختي قلمول(پیوندول) جائز دي او کنه؟ ځیني خلک ورته ناروا وايي. (۱۳۴۵/۲۹۲ھ)

ځواب: درختي پیوندول جايز دي، شرعًا هيڅ پروا نلري، رسول الله صلی الله علیه وسلم آخر دې اجازه کړې وه.(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د سلفيانو په جلسه کې برخه اخيستل او د دوی د جلسې اشتهار چاپول

سوال: (۱۷۱۹) د اهل سنت والجماعت والو لپاره د سلفيانو په جلسه کې برخه اخيستل او د حنفي المذهب لپاره د دوی د جلسې اشتهار چاپول څنګه دي؟ او د سني حنفي د نوم په وجه نور خلک هم برخه اخلي، په دې اړه د محمدي(ص) شريعت څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۹۴ھ)

ځواب: که د سلفيانو جلسه د کوم خير او اصلاح په غرض ده نو د حنفي المذهب لپاره د هغه اشتهار چاپول، يکې برخه اخيستل او بل يکې شريکول صحيح او ښه دي او که جلسه د دين خلاف ده او د فساد او اختلاف پيدا کولو لپاره ده نو د دې اشتهار چاپول او په دې کې برخه اخيستل ګناه ده. د سلفيانو پر جلسه څه حصر دی؟! هر څوک چې د شرعي خلاف جلسه کوي، د هغه همدا حکم دی؛ إنما الأعمال بالنيات [بخاري:۲/۱] په حديث شريف کې راغلي دي، د اصلاح اراده په هر حال کې خوښ کړل شوې ده او د فتنې خپرونه هر وخت بده او ناوړه ده. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن رافع بن خديج رضی اله عنه قال: قدم النبی صلي الله عليه وسلم المدينة و هم يأبرون النخل، يقول: يلقحون لانخل، فقال: ما تصنعون؟ قالوا: كنا نصنعه، قال: لعلكم لو لم تفعلوا كان خيرا، قال: فتركوه فنقضت او قال: فنقضت قال: فذكروا ذلک له، فقال: انما انا بشر اذا امرتكم بشيء من دينكم فخذوا به، و اذا امرتكم بشيء من رأى فإنما أنا بشر الحديث(الصحيح لمسلم: ۲/ ۲٦٤، كتاب الفضائل باب وجوب امتثال ما قاله شرعًا دون ما ذكره صلى الله عليه وسلم من معايش الدنيا على سبيل الرّأى)

د سلفیانو په تفسیر کې برخه اخیستل

سوال: (۱۷۲۰) په عبد السلام شمله مسجد کې له څه مودې راهیسې "جماعت انصار المسلمین" (چې تاداو ایښودونکې سلفیان دي) قائم شوی دی، په دې کې یو سلفي مولوي صاحب د خپل مذهب سره د قرآن تفسیر کوي او ورته ناست خلګ زیاتره سلفیان وي او پرته له څو کسانو ټول امیان او نالوستي وي چې د خپل امام اعظم رحمه الله په مذهب خبر نه وي، د دوی د ګمراه کیدو اندیښنه ده، مثلاً مولوي صاحب په بیان کې وویل چې درې طلاقونه که په یو وار ورکول شي نو یو طلاق واقع کیږي، لهذا په داسې مجلس کې برخه اخیستل جائز ده او که نه؟ (۱۳۴۱/۲۸۴۰هـ)

ځواب: د سلفیانو مسئلې چې د احنافو په خلاف دي چې په هغو کې مثلاً یوه د طلاق مسئله ده چې دوی درې طلاقه ته هم یو وایي او رجوع کول په دې کې صحیح بولي، حالانکه دا د قطعي نص په خلاف دي، داسې مسئلې اوریدل او عمل په کول جائز نه دي، نو د عامو خلګو لپاره د دا چې د ګمراه کیدو اندیښنه ده، د دوی مجلسو ته تلل او داسې مسئلې اوریدل جائز نه دي، لنډه دا چې د سلفیانو په مجلسونو کې برخه نه ده اخیستل په کار چې پکې د ګمراه کیدو قوي اندیښنه ده. فقط والله تعالی اعلم

په ډولۍ کې سپریدل صحیح دي

سوال: (۱۷۲۱) په ډولۍ کې سپریدل د علماء او فضلاء لپاره او د عامو خلګو او ښځو لپاره جائز دي او که نه؟ ځینې خلګ دې ته حرام وایي ځکه چې پر سړي سپریدل د دې ثبوت نشته. (۱۳۴۱/۱۱۴۲هـ)

ځواب: له شرعي قواعدو څخه د دې جواز معلومیږي او هیڅ منع د دې نه ده راغلې، لهذا د دې په جواز کې هیڅ شک نشته، د کفارو په اړه خو پخپله نص راغلی دی: "أولئک کالأنعام" [سورة الأعراف: ۱۷۹] او د اجارې مشروعیت په نصوصو ثابت دی.

(۱) نو که یو سړی د بل سړي پورته کولو لپاره اجیر ونیول شي نو شرعًا دا هیڅ پروا نه لري نو دا عمومًا د انسان اجیر نیولو دلیل دی که کافر وي که مسلمان فقط. والله تعالی اعلم

سوال: (۱۷۲۲) د بنګال په وطن زوم په ډولۍ د خلکو پر اوږو را اخلي او په وراباڼو کې علماء او صلحاء هم وي، هغه تر شا په پسې وي، دا صحیح دي او که نه؟ (۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په ډولۍ کې سپریدل صحیح دي او کله چې عرف د هغه ځای دا سي دی نو کوم هغه علماء او صلحاء په خوشحالۍ زوم ته په ډولۍ کې د تللو اجازه کوي نو دا هم هیڅ پروا نه لري فقط. والله تعالی اعلم

د نرانو لپاره څرخې وریشل جائز دي

سوال: (۱۷۲۳) د نرانو لپاره وړی په څرخي کي وریشل آیا تشبه بالنساء او منع دي؟ (۱۷۳۹/۱۳۴۰هـ)

ځواب: څرخي وریشل د کسب، ریاضت او محنت یوه وسیله ده او په حدیثو کې د دې فضیلت راغلی دی(۲) او د ښځو په دې کې هیڅ تخصیص نشته، لهذا د نرانو څرخي وریشل د تشبه بالنساء په وجه مکروه او منع نه ګرځي، لکه کنې وودل یا نور د تجارت کسب کول چې په دې کې ښځې او نارینه ټول برابر دي، دا بله خبره ده چې ښځې زیاتره څرخي وریشي او نارینه خو د کور دباندې نور کارونه کوي، ځکه د دوی سره د څرخي وریشلو لپاره وخت نه وي، مګر په دې سره منع نه ثابتیږي فقط. والله تعالی اعلم

---

(۱) عن عبدالله بن مغفل قال: زعم ثابت بن ضحاک أن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن المزارعة وأمر بالمواجرة وقال: لا بأس بها. رواه مسلم. (مشکوة المصابیح، ص:۲۵۸، باب الإجارة، الفصل الأول)

(۲) پر دغه موضوع د علامه سیوطي رحمه الله رساله شته: الأجر الجزل في الغزل او په اردو کې د دې ترجمه حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله د "چرخه کی فضیلت" په نوم کړې ده. هغه وګورئ.

په لقبونو کې زیاتوب کول

سوال: (۱۷۲۴) لفظ د فیض مآب، فیض گنجور، مسکین پالونکی، ته د تور او سپین مالک یې، داسي لیکلای شو او که نه؟ د کومي مجبورۍ په وجه غوړه مالي وي یا د رواج سره سم. (۱۹۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: حتی الوسع له داسي الفاظو ځان ساتئ چي پکي صرف غوړه مالي او باته ورکول وي، که مجبوري وي نو صحیح دي. فقط.

په مشرکه دایي کار کول صحیح دي

سوال: (۱۷۲۵) دایي کې مسلمانه نه وي نو په مشرکه کار کول څنګه دي؟ (۱۹۵۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په کولای شي. فقط. والله تعالی اعلم.

د بزرګانو پر وصیت اوښکي بهول

سوال: (۱۷۲۶) که سړی د بزرګانو پر مصیبت متأثره شي، وښکي وبهیوي نو څنګه دی؟ (۲۴۲۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: جائز دی. فقط. والله تعالی اعلم.

په غسل خانه کي بولي کول

سوال: (۱۷۲۷) په غسل خانه کي بولي کول څنګه دي؟ (۲۵۲۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په غسل خانه کي متیازي کول منع دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: عن عبد الله بن مغفل رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یبولن أحدکم فی مستحمة، ثم یغتسل فیه، أو یتوضأ فیه، فإن عامة الوسواس منه رواه أبوداؤد والترمذي والنسائی(۱). نو غسل خانه له بولو او نورو پاکه ساتل په کار دي. فقط

سوال: (۱۷۲۸) کومه غسل خانه چي غټه وي او زیاتوب ځای پکي وي، په هغه کي بولي کول جائز دي او که نه؟ (۴۲۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په دې کي ګنجائش شته فقط. والله تعالی اعلم

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص:۴۳، کتاب الطهارة، باب آداب الخلاء، الفصل الثانی.

له استنجاء وروسته بدنی په هیرو پاکول

سوال: (۱۷۲۹) که کوم څوک د هندوانو په رنګه تر استنجاء وروسته پر بدنی هیري وموږي، بیا يي په اوبو پريمنځي نو څنګه دي؟ (۱۹۲۲/۱۳۴۰هـ)

ځواب: جائز دي، لیکن ضروري نه دي، نو دا ضروري مه بولئ. فقط والله تعالی اعلم

د سرکاري سړک د غاړي ځمکه په کور یا مسجد ګډول

سوال: (۱۷۳۰) که کوم څوک د حکومت د حدودو د پیمائش په خلاف د سړک د غاړي زیاتوب ځمکه په خپل کور یا مسجد یا مدرسه او یا وقف سرایونو ګډه کړي او ودانۍ پر جوړه کړي، دا ډول چي سړک هم تنګ نشي نو جائز دي او که نه؟ او دغه ودانۍ څوک نړولای شي او که نه؟ (۴۵۸/۳۵-۱۳۳۶هـ)

ځواب: په عام سړک یا عامه لاره کي د ټولو تیریدونکو حق وي، د حکومت له طرفه که له دې څخه په ځیني برخه کي د تیریدلو د حاجت په قدر فرش او نور ولګول شي نو له پاتي برخي څخه د عامو خلکو نحق منقطع نه شو نو که په دې کي په کوم ډول تصرف کولو د چا نقصان نه دی او کوم مانع نشته نو صحیح دی، کني نه دی او د مسجدونو او مدرسو لپاره کوم چي د عامي ګټي لپاره دي، داسي تصرف کول په دې شرط چي چا ته ضرر نه وي، صحیح دی او دا څوک نشي نړولای. والتفصیل في الدر المختار(۱). فقط والله تعالی اعلم

(۱) جعل شيء أي جعل الباني شيئا من الطريق مسجدا لضيقه ولم يضر بالمارين جاز، لأنهما للمسلمين.... تؤخذ أرض و دار وحانوت بجنب مسجد ضاق على الناس بالقيمة كرها. وفي الشامي: قوله (لضيقه ولم يضر بالمارين) أفاد أن الجواز مقيد بهذين الشرطين (الدر والرد كتاب الوقف، مطلب في جعل شيء من المسجد طريقا ط رشيديه)

قوله: (وإن جعل شيء من الطريق مسجد صح كعكسه) يعنى إذا بني قوم مسجدا واحتاجو إلى مكان ليتسع، فأدخلوا شيئا من الطريق ليتسع المسجد وكان ذالک لايضر بأصحاب الطريق جاز ذالک، كذا إذا ضاق المسجد على الناس وبجنبه أرض لرجل تؤخذ أرضه بالقيمة كرها لما روى عن الصحابة رضى الله عنهم لما

د افسر په اجازه د عام سړک ځمکه په کور ګډول

سوال: (۱۷۳۱) زید دوه سرایونه جوړ کړو. مخته عام سړک و. څه برخه د عام سړک یې پخپلو کورو ګډه کړه چې ورځخه تیرید ونکو ته هیڅ تکلیف نه دی پېښ شوی. کلیوالو ورباندې چې حکومت کې عارضه وکړه، حکومت له کتلو وروسته د یو سرای اجازه وکړه مګر په دوهم سرای کې چې کومه برخه د عام سړک ګډه شوې وه. د هغه د نړولو حکم یې وکړی، زید ونړاوه، کاغذونه اولسوالۍ ته راغلو نو زید د افسر سره دا مشوره وکړه چې یو وار سرای ونړوه، بیا که څه هم په دوهمه ورځ بیرته جوړ کړې. موږ به حکومت ته ولیکو چې عمل وشو. ځکه زید همداسې وکړو، اوس پنځلس کلونه وشوه چې هغه سرای جوړ شوی دی او کلیوال هم زید خوشحاله کړو. په داسې صورت ککې څه حکم دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۳۹هـ)

ځواب: عام سړک د ټولو حق دی. صرف د کلیوالو اجازه کفایت نه کوي او د افسر اجازه د پورتني حکامو د حکم په خلاف اعتبار نلري، اما کله چې چا ته ضرر نشته او کوم چې خنډ و، هغو اجازه وکړه او په آئنده کې که څوک خنډ وي، له هغه ځخه دې هم اجازه واخیستله شي نو د جواز ګنجائش یې شته فقط.

د ورکې شوي کرتۍ په بدله کې که دوبي د بل چا کرتۍ ورکړي نو....

سوال: (۱۷۳۲) د زید کرتۍ دوبي په غلطۍ سره بل چا ته ورکړه، اوس د بل چا کرتۍ زید ته ورکول غواړي نو د دغه کرتۍ اخیستل او استعمالول د زید لپاره جائز دي او که نه؟ که څه هم دغه کرتۍ په قیمت کې کمه یا زیاته وي، که زید وانخلي نو د ده نقصان دی. (۱۳۳۴-۳۳/۳۹۴هـ)

ځواب: په شامي کې داسې صورت لیکلی دی چې ورځخه جواز معلومیږي(۱).

ضاق المسجد الحرام أخذوا أرضين بكره من أصحابها بالقيمة وزادوا فى المسجد الحرام. (البحر الرائق شرح كنز الدقائق: ٤٢٨/٥، كتاب الوقف، آخر فصل فى أحكام المسجد)

(۱) قوله: (ولايضمن الخ) اعلم أن الهلاك إما بفعل الأجير أو لا، والأول إما بالتعدى أولا، والثانى إما أن يمكن الإحتراز عنه أو لا، ففى الأول بقسميه يضمن اتفاقا، وفى ثانى الثانى لا يضمن اتفاقا. وفى أوله لايضمن

د خلکو خوشحالولو لپاره ناروا عمل کول

سوال: (۱۷۳۳) د چا د ټینګار یا خلکو خوشحالولو لپاره ناروا عمل کول څنګه دي؟ (۱۳۴۳/۲۵۷۲هـ)

ځواب: جائز نه دی. قال علیه السلام: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق. (۱) فقط والله تعالی اعلم

د نامسلمانو سره احسان کول هم ثواب لري

سوال: (۱۷۳۴) د بل مذهب پر سړي احسان کول جائز دي او که نه؟ (۱۳۴۰/۲۵۱۰هـ)

ځواب: احسان کول د هر چا سره ښه دی، که څه هم د بل مذهب وي (۲). فقط والله تعالی اعلم

میلمستیا کول، د ناجوړه پوښتنه او فاتحه ته ورتلل سنت او د ثواب کارونه دي

سوال: (۱۷۳۵) یو مسلمان لمونځ کونکي ته خپل پیر دا ویلي دي چې میلمستیا کول ناروا ده، دا خبره صحیح ده او که نه؟ او داغه راز د ناجوړه پوښتنه او د مړي فاتحه (تعزیت) ته ورتلل جائز دي او که نه؟ (۱۳۴۱/۲۳۲هـ)

ځواب: میلمستیا د ثواب کار دي او تر څو چې میلمه وي، هغه ته میلمستیا ورکول په کار دي او د دروو رځو حکم د میلمستیا کولو خو پخپله په حدیث کې موجود دي (۱).

عند الإمام مطلقا ويضمن عندهما، وأفتى المتأخرون بالصلح على نصف القيمة مطلقا، وقيل: إن مصلحا لايضمن، وإن غير مصلح ضمن، وإن مستورا فاصلح ا هـ ح. والمراد بالإطلاق في الموضعين المصلح وغيره (الشامي كتاب الإجارة، مبحث الأجير المشترك ط رشيديه)

(۱) عن الحسن قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق. [مصنف ابن أبي شيبة: ۵۴۹/۶، كتاب السير، في إمام السرية يأمرهم بالمعصية من قال: لاطاعة له)

(۲) لاينهكم الله عن الذى لم يقاتلونكم في الدين ولم يخرجوكم من دياركم أن تبروهم وتقسطوا إليهم إن الله يحب المقسطين. (سورة الممتحنة:۸)

داغه ډول د مریض پوښتنه کول ډیر د ثواب کار دی(۲) او د مړي تعزیت سنت او د ثواب کار دی(۳). د دغه کارونو په پرېښودلو کي د پیر حکم نه دي منل په کار، بلکه کوم پیر چي داسي حکم کوي، هغه د پیر جوړولو وړ نه دی.

د ټاکۍ سړې اوبه په ژمي کي او تودې اوبه په ګرمي کي تویول اسراف نه دی

سوال: (۱۷۳۶) ټاکۍ چي د اوبو لپاره لګول شوې وي نو د سر سړې اوبه يې په ژمي کي او د سر تودې اوبه يې په ګرمي کي تویول اسراف دي او که نه؟(۵۹۴/۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د ټاکۍ سړې اوبه په ژمي کي او ګرمي اوبه په ګرمیو کي تویول اسراف نه دی چي دا وسیله ده د مایحتاج د حصول فقط. والله تعالی اعلم.

د خوشحالۍ د اظهار لپاره بتۍ او بلپان لګول اسراف دی

سوال: (۱۷۳۷) د خوشحالۍ د اظهار لپاره پر مسجدونو، کورونو او نورو بتیاني لګول څنګه دي؟ د دې په اړه کومه جزئیه شته او که نه؟ څوک وايي چي اصل په اشیاء کي اباحت دی، څوک وايي دا اسراف دی، څوک وايي: إنما الأعمال بالنيات. [بخاري:۲/۱]

---

(۱) عن أبی شریح الکعبی رضی الله عنه أن رسول الله صلی اله علیه وسلم قال: من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلیکرم ضیفه، جائزته یوم ولیلة، والضیافة ثلاثة أیام، فما بعد ذالک فهو صدقة ولایحل له أن یثوی عنده حتی یحرّجه. (صحیح البخاري: ۹۰۶/۲، کتاب الأدب، باب إکرام الضیف وخدمته إیّاه بنفسه)

(۲) عن البراء بن عازب رضی الله عنه قال أمرنا النبی صلی الله علیه وسلم بسبع ونهانا عن سبع، أمرنا بعیادة المریض.... (صحیح البخاری: ۹۱۹/۲، کتاب الأدب، باب تشمیت العاطس إذا حمد الله)

وعن أبی موسی رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: أطعموا الجائع، وعودوا المریض، وفکوا العانی. رواه البخاری. (مشکوة المصابیح،ص:۱۳۳، کتاب الجنائز، باب عیادة المریض وثواب المریض)

(۳) عن عبدالله رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: من عزّی مصابا فله مثل أجره. [جامع الترمذی: ۲۰۵/۱، أبواب الجنائز، باب ما جاء فی أجر من عزی مصابا)

ترجمه: رسول اللهﷺ فرمايلي دي: څوک چي کوم غم زده ته تسلي ورکړي، د هغه لپاره د غمزده په رنګه ثواب دی.

کله چې نیت خیر وي نو عمل هم خیر دی، محقق او څرګند حکم څه دی؟ څوک وايي: لا إسراف في الخير(۱). (۱۳۴۱/۲۸۲هـ)

ځواب: دا خبره صحیح ده چې إنما الأعمال بالنيات [بخاري:۲/۱] او دا هم صحیح دي چې لا إسراف في الخير (۲) لیکن مال ضائع کولو څخه څرګنده منع په حدیث شریف کي راغلې ده(۳) او ښکاره خبره ده په بتیانو لګولو کي د مال ضائع کول دي، له دې څخه غوره دا دی چې کوم مال په دې کي ضائع کیږي، هغه په انګوره فنډ یا سوپلا فنډ کي ورکړي چې د هغو مسکینانو مرسته هم وشي او د ثواب هم حاصل شي او د خوشحالۍ د اظهار لپاره د صدقې کولو ثبوت هم شته (۴) فقط والله تعالی أعلم

سوال: (۱۷۳۸) ځیني کسان وايي چې د سمرنا په خوشحالۍ کي چې کومې بتیاني او څراغونه ولګول شول، دا اسراف دی؟ (۱۳۴۱/۲۲۴هـ)

---

(۱) روح المعاني: ۱/۱۰۱، سورة البقرة: ۳.

(۲) روح المعاني: ۱/۱۰۱، سورة البقرة: ۳.

(۳) عن المغيرة بن شعبة رضى الله عنه قال قال النبى صلى الله عليه وسلم: إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات و واد البنات، وضعاوهات، كره لكم قيل وقال، وكثرة السؤال، وإضاعة المال. (صحيح البخاري: ۱/۳۲٤، كتاب في الإستقراض وأداء الدّيون.... باب ما ينهى عن إضاعة المال)

(٤) عن على بن أبى طالب رضى الله عنه قال: عق رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الحسن بشاة، وقال: يا فاطمة! احلقى رأسه وتصدقى بزنة شعره فضةو فوزنته فكان وزنه درهما أو بعض درهم. (جامع الترمذى: ۱/۲۷۸، أبواب الأضاحى، باب)

د دغه حدیث په شرح کي حضرت مولانا مفتي سعید احمد صاحب پالن پوري دامت برکاتهم لیکي: "د پیدا شوي ماشوم د ویښتانو په اندازه سپین زر صدقه کول سنت دي او د دې حکمت حضرت شاه ولي صاحب رحمه الله په حجة الله البالغة کي دا لیکلی دی چې د بچي د مور له خیټي دباندي راتلل داسي نعمت دی چې شکر ادا کول یې ضروري دي. ځکه چې کله ماشوم د مور په خیټه کي و، د ده له دیدن څخه محرومه وه او کله چې رابښکاره شو نو سترګي په سرې شوې او د شکر ادا کولو غوره صورت دا دی چې د نعمت سره موازنه وکړي، شکر ادا کړي الخ" (تحفة الألمعي: ۴/۴۴۹، حدیث شمیره: ۱۵۰۷)

ځواب: دا صحيح خبره ده، داسي نه و کول په کار. ځکه چي په کومه خوشحالي کي تجاوز عن الشرع صحيح نه دی او دا ډول ځراغونه لګولو ته اکابروا اسراف فرمايلی دی او اسراف منع دی(۱)، لهذا په خوشحالی کي هغه کارونه کول په کار دي چي جائز وي، منع نه وي. فقط. والله تعالی أعلم

لايسنس (اسناد) لرونکی ټوپک ساتل

سوال: (۱۷۳۹) له انګريزی محکمو څخه د ټوپک لايسنس (LICENSE) حاصلول په موجوده حالت کي جائز دي او که نه؟(۱۳۴۱/۷۰۰هـ)

ځواب: د ځان او د مال د حفاظت يا نورو ضروریاتو په غرض که څوک د ځان سره ټوپک ساتي او د هغه لايسنس حاصل کړي نو شرعًا د دې منع نشته. فقط. والله تعالی أعلم

هغه کاغذونه سوځول چي ورباندي اسماء حسنی يا د نبيانو عليهم السلام نومونه ليکل شوي وي

سوال: (۱۷۴۰) پر کومو کاغذونو چي د الله تعالی يا انبياء عليهم الصلاة والسلام نومونه ليکل شوي وي، هغه په اور کي سوځول څنګه دي؟(۱۳۳۹/۸۹۱هـ)

ځواب: داسي کاغذونه په محفوظ ځای کي ښخول غوره دي. فقط. والله اعلم

داسي کاغذونه چي ورباندي اردو، انګريزي او نور ليکلي وي، پر بنډلو پيچل څنګه دي؟

سوال: (۱۷۴۱) هغه کاغذونه چي ورباندي اردو، انګريزي او نور ليکلي وي، پر بنډلانو او نورو شيانو باندي پيچل څنګه دي؟(۱۳۴۱/۱۱۱۱هـ)

ځواب: هغه کاغذونه چي ورباندي الله نوم نه وي، د هغو پر بنډلو پيچل او په نورو کارونو کي کارول صحيح دي. فقط. والله تعالی اعلم

---

(۱) ولا تبذر تبذيرا. إن المبذرين كانوا إخوان الشياطين. (سورة بنی اسرائيل:۲۶-۲۷)

پر صابون باندي د حروفو ټاپه لګول جائز ده او که نه؟

سوال: (۱۷۴۲)... (الف) نن سبا عام رواج دی چې صابن بې له د خپل نامه یا د کارخانې د نامه ټاپه وهلو نه خرخیږي، که نوم په هره ژبه وي، خو صابن چې استعمال شي نو په ناپاکه نالیانو کې بهیږي او پر ناپاک بدن او جامو استعمالیږي، په داسي حال کې پر صابن ټاپه لګول جائز ده او که نه؟

(ب) د خوشبو نوم هم لیکي.

(ج) د صابن قسم هم لیکي، شرعًا په دې اړه څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۹۱۲هـ)

ځواب: (الف-ج) کله چې د نښانې لپاره د دغه حروفو او الفاظو لیکل ضروري دي او له دې څخه پرهیز کول د صابن د تجارانو لپاره مشکل دي او په دې کې عموم بلوی ده، ځکه جائز دي. فقط والله تعالی اعلم

د وي پي ډاکخانې په وسیله لیږل شوی شی د ورکیدو یو صورت او د هغه حکم

سوال: (۱۷۴۳) د رنګون ښار یو تازه پیښه دا ده چې د زید بې اجازه بکر د زید په نوم په وي پي ډاکخانه راغلی شی په خپله روپۍ ورکړې، را وایې خیستی او د عمر په لاس یې د زید د هستوګنې ځای ته چې د سړک پر غاړه بالاخانه ده، د ده په نه موجودیت کې ور ورساوه چې د زید خاص عزیز خالد کښیښودی، څه وخت وروسته یو سړی راغلی و خالد ته وویل چې د زید د بکر په دکان کې ناست دی او دغه رالیږل شوی شی غواړي، ځکه بکر زه راولیږلم، د خالد دا خیال شو چې دا د بکر مزدور دی، بکر به و زید ته ویلي وي چې ما ستا شی راخلاص کړی ستا ځای ته مې راورساوه، ځکه زید به دغه شی و بکر ته ښکاره کولو لپاره غوښتی وي، خو خالد د بکر مزدور نه پیژندی ځکه ده پخپله دغه شی ور واخیستی د هغه را تلونکي سړي سره ملګری شو چې کله له زینو لاندې راشوه شو، نو دا شی یې هغه سړي ته په لاس ورکړی ورسره روان شو، لنډه دا چې هغه سړی چې شی ور واخیستی د خلګو په رش او ګڼه کې ورک شو، ایا په بیان شوي صورت کې پر بکر یا خلد لازم دي چې د دغه شي قیمت به زید ته ورکوي؟ په دواړو کې کم یو د قیمت ذمه وار دی؟ (۱۳۴۱/۲۸۸۷هـ)

ځواب: په دا ډول کارونو کي خو عادةً او عرفًا د تجارو تر مینځ په تیره بیا د چا چي اړیکي په دا ډول معاملاتو کي وي اجازه وي چي د یو بل را لیږل شوی شی را واخلي. ځکه بکر چي دغه را لیږل شوی شی را واخیستی امین دی، بیا د زید د خاص عزیز د خالد وراخیستل او ایښودل هم عادةً په اجازه کي داخل دي. بیا د خالد ورتلونکي سړي ته په دې خیال ورکول چي دا د بکر مزدور دی جائز دی. لهذا پر بکر یا خلد باندي په دغه صورت کي ضمان نه شته. پر خالد خو ځکه ضمان نشته چي د ده خو دا خیال و چي دغه راتلونکی سړی د بکر مزدور دی ځکه شی ورکړي او د رسول په ورکړه کي ضمان نشته او پر بکر باندي ځکه ضمان نشته چي ده خو دغه شی د زید کر ته ور ولیږی او د زید خاص عزیز خالد ورو اخیستی، نو عرفًا او عادةً گو دا کار د زید په اجازه وشو او بکر خلاص شو او دا جواب هغه وخت دی چي عادةً دا کار د بکر او خالد د زید په اجازه وبلل شي او که داسي نه وي، نو بیا ضامن دی. له لاندي عبارتونو څخه پورته لیکل شوي خبري څرگندي دي:

واشتراط الضمان على الامين... باطل به يضتي، وللودع حفظها بنفسه وعياله الخ. (١) (در مختار) ولكن لقائل ان يفرق بين الوكيل والرسول، لان الرسول ينطق على لسان المرسل ولا كذلك الوكيل. (٢) (شامي) ولا يضمن المودع المودع فيضمن الاول فقط ان هلكت بعد مفارقته وان قبلها لاضمن. (٣) فرع: دفع الى رجل الف درهم وقال: ادفعها الى فلان بالرى فمات الدافع، فدفع المودع المال الى رجل ليدفعه الى فلان بالرى فاخذ في الطريقه لا يضمن المودع لانه وصى الميت، فلو كان الدافع حيا ضمن المودع لان وكيل، الا ان يكون الاخر في عياله فلا يضمن حينئذ خانية. (۴) قال رب الوديعة للمودع: ادفع الوديعة الى فلان فقال دفعت وكذبه في الدفع فلان وضاعت الوديعة صدق المودع

---

(١) الدر مع الشامي، كتاب الايداع ط رشيديه.

(٢) الشامي، كتاب الايداع ط رشيديه.

(٣) الدر مع رد، كتاب الايداع ط رشيديه.

(٤) حاشية ابن عابدين، كتاب الايداع ط رشيدية.

یمینه لانه امین الخ(۱) (درمختار) ومسلم ان المعروف کالمشروط(۲) فقط والله تعالی اعلم.

سلیپر (بې بنده) څپلی استعالول جائز دي

سوال: (۱۷۴۴) په اوس زمانه کي د نارینه لپاره خلاصي (سلیپر) څپلی استعمالول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۵۲۳ھ)

ځواب: د سلیپر په جائز کیدو کي هیڅ شک او شبه نشته فقط والله تعالی اعلم.

ځانګو ځنګول څنګه دي؟

سوال: (۱۷۴۵)... (الف) ځیني خلک په پسرلي کي په ځانګو کي ځنګیږي او شعرونه وایي چي پکي ځیني مضامین د حمد او نعت وي او ځیني عشقي وي داسي کول څنګه دي؟

(ب): په ځانګو کي ځنګیدل څنګه دي؟

(ج): له پسرلي څخه پرته په نورو میاشتو کي ځنګیدل څنګه دي؟

(د): ماشومان په ځانګو کي ځنګول څنګه دي؟ (۱۳۴۲/۱۰۵۲)

ځواب: (الف) که سم شعرونه وي، نو پروا نلري او د ناروا مضامینو اشعار ویل جائز نه دي

(ب): جائز دي (ج): جائز دي (د): صحیح دي فقط والله تعالی اعلم

پر عام سړک ځانګو ځنګول څنګه دي؟

سوال: (۱۷۴۶) پر عام سړک ځانګو ځنګول څنګه دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۴۸ھ)

ځواب: که پر عام تیریدلو کي کوم مزاحمت او فساد نه وي، نو مباح دي فقط

ایا مسلمان مستري د مندر ځاه جوړولای شي؟

سوال: (۱۷۴۷) ایا د هندوانو د مندر ځاه که مسلمان مستري ورجوړ کړي، نو جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۷۰۷ھ)

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار، کتاب الایداع ط رشیدیه.

(۲) الدر المختار مع الرد، کتاب الاجارة، باب ضمان الاجیر، مطلب في الحارس والحاناتي ط رشیدیه.

ځواب: د هندوانو د مندر ځاه که مسلمان مستري جوړ کړي، نو جائز دی. فقط

په مندر کې همکاري کول حرام دي

سوال: (۱۷۴۸) که څوک د هندوانو په مندر کې کوم شی ورکړي نو څنګه دي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۴۲۴هـ)

ځواب: داسې سړی ګناهګار دی او هلته ورکول ناجائز او حرام دي، که څه ورکوي، نو مسجدونو اسلامي مدرسو یا مسکینانو مسلمانانو ته ورکړي. فقط

د بوتانو په نوم وزه کونکي کافر باندې وزه خرڅول

سوال: (۱۷۴۹) یو مشرک یا کافر له مسلمان څخه وزه یا ورګړی د خپلو بوتانو په نوم کولو لپاره رانیسي او له رانیولو وروسته په تبر یا بل تیره شي وژني په داسې چا باندې وزه، وزګړی خرڅول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۴/۵۷۷هـ)

ځواب: پر دوی وزه یا وزګړی خرڅول صحیح دي. فقط والله تعالی اعلم.

ومسجد ته نژدې خپله ځمکه د مندر جوړولو لپاره ورکول

سوال: (۱۷۵۰) یو مسلمان سړی قصداً ومسجد ته نژدې د خپلې ځمکې یو ټوټه هندوانو ته د مندر جوړولو لپاره ورکړه داسې سړی د بوت پرستۍ همکار او د اسلامي شعائرو سپکاوی کونکی دی او کنه؟ او د داسې ړسې څه حکم دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۳۴۲هـ)

ځواب: دا خو ښکاره خبره ده چې د ځمکې کومه ټوټه پر نامسلمان خرڅول څه ګناه نه ده، یعنې صرف بیع کول څه ګناه نلري، له دې وروسته د مشتري خوښه ده چې پخپله ملک کې څرنګه غواړي تصرف وکړي، د دې ګناه پر بائع نشته، نو په یوښتل شوي صورت کې که دغه مسلمان بې اعانت علی الکفر له نیت کولو پر کوم هندو څه ځمکه خرڅه کړه، نو دا هیڅ پروا نلري، او که دوی هلته مندر جوړوي، نو د هغه ګناه پر ده نشته، ځکه چې په صرف معامله کولو کې څه ګناه نشته او که په همدغه نیت او اراده دا بیع کړې ده، نو یقیناً له ګناه نه دی خلاص او یو ډول دا سړی همکار بلل کیږي، نو که همداسې دی، نو تر څو چې دا سړی توبه ونه باسي مسلمانان باید د ده له هر ډول همکاري کولو څخه پرهیز وکړي.

قال في الهداية: ومن اجر بيتا ليتخذ فيه بيت نار او كنيسة او بيعة الخ فلا باس به وهذا عند ابي حنيفة رحمه الله تعالى وقالا: لا ينبغي ان يكريه لشي من ذلك... وله ان الاجارة ترد على منفعة البيت الخ ولا معصية فيه الخ (۱) وفي الشامي: والدليل عليه انه لو اجر للسكنى جاز وهو لا بد من عبادته فيه اه (۲) فقط والله تعالى اعلم

د ګل کولو لپاره په خاوره ګوبر ګډول صحيح دي

سوال: (۱۷۵۱) د ګل کولو لپاره خاوره او خوشايه (ګوبر) سره ګډول جائز دي او کنه؟ او په وچيدو پاکيږي او کنه؟ (۲۸۰۴/ ۱۳۴۳هـ)

ځواب: د ګل کولو لپاره خاوره او ګوبر سره ګډول صحيح دي (۳) ليکن نه پاکيږي. فقط

وماما ته بابا او مامي ته مورکۍ ويل

سوال: (۱۷۵۲) د يو يتيم ماشوم پالنه د ده ماما کړې ده، دی وماما ته بابا او مامي ته مورکۍ وايي، دا خو به شرعًا څه پروا نلري؟ (۱۴۷۹/ ۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: شرعًا هيڅ پروا او ګناه نلري. فقط والله تعالى اعلم

متبنی جوړل جائز دي او کنه؟

سوال: (۱۷۵۳) په مسلمانانو کي متبنی جوړول جائز دي او کنه؟ (۲۹۹۰/ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: دا د جاهليت د زماني رواج و چي څوک به متبنی جوړ کړي، هغه د زامنو په رنګه وارث جوړېدی، شريعت دا شی ختم کړی. الله تعالى فرمايي: وما جعل ادعياء كم ابناء كم ذلكم قولكم بافواهكم (الى قوله تعالى) ادعوهم لابائهم هو اقسط عند الله

---

(۱) الهداية: ۴۷۲/۴، كتاب الكراهية، فصل في البيع ط رشيديه.

(۲) حاشية ابن عابدين: كتاب الخطروالاباحة، فصل في البيع ط رشيديه.

(۳) في الفتاوى الهندية: يكره ان يطين المسجد بطين قد بل بماء نجس، بخلاف السرقين اذا جعل فيه الطين، لان في ذلك ضرورة وهو تحصيل غرض لايحصل الا به (الشامي كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، مطلب في الحكام المسجد. ط رشيده.

(سورة احزاب، آیت: ۴-۵) نو د الله تعالی له دغه فرمان څخه معلوم شو چي په متبنی جوړولو هغه هلک زوی نه ګرځي او وارث نه جوړیږي. فقط.

د مرداري شوي وزې څرمن په کار راوړل

سوال: (۱۷۵۴) که وزه مرداره شي، نو مالک که پوست څني وباسي په خپل کاري راوستلای شي او کنه؟ (۳۷۲/ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: د باغت دي وکړي استعمال دي کړي. فقط والله تعالی اعلم.

د غابنو په برس کي که د خنزیر د ویښتانو کیدو شبه وي نو...

سوال: (۱۷۵۵) د غابنو پاکولو په برس کي دا شبه ده چي په دې کي د خنزیر ویښتان دي، د دې استعمالول جائز دي او کنه؟ (۷۴۳/ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: د بیا نشوي شبهې په وجه د دغه استعمالول حرام نه دي. لان الیقین لا یزول بالشک (۱) اما په ځای د شبه کي احتیاط کول غوره دي. فقط والله تعالی اعلم.

د غابنو په برس کي که د خنزیر له ویښتانو پرته د بل حیوان ویښتان وي

سوال: (۱۷۵۶) د غابنو پاکولو برس کي که د کوم حیوان ویښتان وي د هغه استعمال صحیح دی او کنه؟ (۱۷۳۸/ ۱۳۳۸هـ)

ځواب: که په دې کي دا شبه نه وي چي دا د خنزیر ویښتان دي، نو استعمال یې صحیح دي او که یې دا خیال دی چي پکي د خنزیر ویښتان دي، نو نه دي استعمالول په کار. فقط والله تعالی اعلم.

له مسلمانانو دکاندارانو څخه په رانیولو خرڅولو کي ثواب شته او کنه؟

سوال: (۱۷۵۷) له مسلمانانو دکاندارانو څخه په رانیولو خرڅولو کي ثواب شته او کنه؟ (۲۲۱/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) رد المحتار، کتاب الطهارة، باب الانجاس، مطلب في الفرق بین الاستبراء والاستنقاء والاستنجاء ط رشیدیه.

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي: انما الاعمال بالنیات الحدیث (بخاري: ۲/۱) که نیت سم وي او معامله هم د هغه مسلمان سمه وي، نو بیشکه ثواب پکي شته. فقط والله تعالی اعلم.

له مسلمانانو دکاندارانو څخه سامان رانیول غوره دي

سوال: (۱۷۵۸) مسلمانانو د هر شي تجارت شروع کړی دی مثلاً مالګه، تیل، ماهی، میټائي، کپړا نورا او نور تر څو د هندوانو د کانو ته د تلو ضرورت نه وي، نو د مسلمانانو لپاره به د خپلو ورونو څخه رانیول اولی وي او کنه؟ او تجارت د دغه شیانو جائز دی او کنه؟ ځیني خلک دا شبه بیانوي چي دا ډول حقیرو شیانو تجارت کول د رذالت او ذلت خبره ده چي له خاندانه او کفائت څخه ایستونکی شی دی، دا خبره صحیح ده او کنه؟ (۵۰۱/۱۳۴۵هـ)

ځواب: بیشکه دا سي شیان له خپلو ورونو څخه رانیول غوره دي او د دغه شیانو تجارت صحیح دی، د بیان شویو شیان تجارت سپک او حقیر بلل غلط دي او نه دا تجارت څوک له کفارئت (سیالي) څخه باسي. فقط

په حرامه ګټه جوړ کړي سرایونه او زیور د قرض اخیستلو لپاره په ګرو ورکول

سوال: (۱۷۵۸) د زید آپائي پیشه شراب خرڅول دي، زید هم تر اوسه دا پیشه کول، مګر اوس د زید په زړه دا خیال پیدا شوی دی چي دغه حرامه پیشه به پریږدم چي د شرابو په ګټه اخیستي دي، زید دا غواړي چي دغه سرایونه په ګرو چا ته ورکړي او کنه؟ او ګټه به حلاله وي او کنه؟ او د زید سره څه زیور هم شته چي د شرابو په ګټه اخیستی دی که دا خرڅ کړي یا یي په ګرو ورکړي تجارت کولای شي او کنه؟ (۱۵۰۰/۱۳۴۰هـ)

ځواب: دغه سرایونه که په ګرو ورکړي قرض واخلي په هغه روپیو زید تجارت کولای شي او دا سي تجارت شرعًا صحیح دی او کومه ګټه چي په دي وکړي هغه حاله ده

او همدغه حکم د زیور په ګرو ورکولو او په قرض تجارت کولو دی چي تجارت او ګټه هم حلاله ده.(۱) فقط

له حکومت څخه په سل روپۍ کي یوه روپي کمیشن اخیستل سود دی

سوال: (۱۷۷۰) حکومت وزیر ته په سل روپۍ کي یوه روپي کمیشن باندي چک (۲) ورکوي او کله چي چک ورکوي هغه وخت په سل کي یوه روپي کمیشن را وګرځوي، نوري روپۍ واخلي دغه کمیشن اخیستل جائز دی او کنه؟(۷۴۱/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: د زید لپاره کمیشن اخیستل د شرعي قاعدې سره سم صحیح نه دی. ځکه چي زید چي خو د دغه چک پوره روپۍ اخلي، نو دغه کمیشن سود دی. فقط والله تعالی اعلم

په داسي تجارتي کپنۍ کي برخه اخیستل چي د کاله په سل کي شل روپۍ ګټه ورکوي

سوال: (۱۷۷۱) یوه تجارتي کمپنۍ د کاله په سل کي شل روپۍ ګټه ورکوي مګر طریقه یې دا ده که څوک په سل روپۍ شریکیدل غواړي، نو د سلو پر ځای دي پنځکه نوي ورکړي کمپنۍ ورده ته د پنځه پنوي پر ځای د سلو روپیو سند ورکوي، شرعًا دا معامله جائز ده او کنه؟(۱۰۱۸/ ۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: شرعًا داسي معامله جائز نه ده.(۳) فقط والله تعالی اعلم

---

(۱) قال في رد المحتار: قوله (اکتسب حراما الخ) توضیح المسئلة ما في التتارخانية حيث قال: رجل اکسب ما لا من حرام، ثم اشترى فهذا على خمسة اوجه: اما ان ان دفع تلک الرداهم الى البائع اولا ثم اشترى منه بها، او اشتراى قبل الدفع بها و دفعها، او اشترى مطلقا ودفع تلک الدارهم، او اشترى بدراهم آخر ودفع تلک الدراهم... وقال الکرخي: في الوجه الاول والثاني لا يطيب، وفي الثلاث الاخيرة يطيب وقال ابوبکر: لا يطيب في الکل، لکن الفتوى الان على قول الکرخي دفعا للحرج عن الناس. (الشامي کتاب البيوع، مطلب: اذا اکتسب حراما ثم اشترى على خمسةاوجه ص رشيديه.)

(۲) چک: (Cheque) د نغدو روپیو پرچه چي د کوم بینک او نورو په نوم ولیکل شي. (فیروز اللغات)

(۳) د ناجائز والي وجه دا ده چي په شراکت کي ګټه تعینول صحیح نه ده، نو که ګټه کمه وي یا زیاته، په سل کي شل روپۍ مقررول صحیح نه دي (حضرت مولانا مفتي) سعید احمد پالن پوري

بې پرده تجارت کونکیو ښځو ګټه څنګه ده؟

سوال: (۱۷۲۲) په برهما کې ښځې بې پرده وي او د دنیا ټول کاروبار د ښځو په لاس کې دی، نو کومې ښځې چې بې پرده تجارت کوي یا مزدوري کوي د هغو ګټه حلاله ده که حرامه؟ (۱۳۳۵/۹۴۵هـ)

ځواب: کوم تجارت، مزدوري او نور چې د شرعې په خلاف نه دي د هغو ګټه حلاله ده.

آزادې ښځې رانیول او خرڅول باطل دي

سوال: (۱۷۲۳): اوریدلي مې دي چې مینځې هغه حلالې دي چې د مسلمانانو پاچا یې له کفارو څخه په غنیمت کې حاصلې کړي او پر مجاهدینو باندې وویشي، نو د چا په برخه چې هغه مینځه ورشي یا یې څوک له ده څخه رانیسي، نو د داسې مینځې سره کوروالی کول بیله نکاح کولو جائز دی او اوریدلي مې دي چې په عربو کې د مینځو بازار دی، دوی ښځې غلا کړې یا خپلې لوڼې او خوندې د ضرورت په خاطر په دغه بازار کې خرڅوي، نو څوک چې دغه ښځې رانیسي هغه بیله نکاح کولو ورسره کوروالی کولای شي او که نه؟ (۸۰۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: شرعي مینځې چې د مالک لپاره بیله نکاح کولو وروره کوروالی صحیح دی هم هغه دي چې په سوال کې لومړی یادونه وشوه، نور نو هغه ښځې چې څوک یې غلا کړې یا خپلې خوندې او لوڼې خرڅې کړې د دوی رانیول خرڅول ناجائز او باطل دي دوی مینځې نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د رانیونکي معلومات ورکونکي په روپیۍ کې دوې آنې کمیشن اخیستل

سوال: (۱۷۲۴) د زید کره د یو مال رانیونکی له ښاره راغلی، زید وعمر ته وویل چې زموږ کره د مال رانیونکی راغلی دی ته خپل راوړه پر ده یې خرڅ کړه مګر په روپۍ کې په دوې آنې ما ته راکوې، دغه اخیستل د زید لپاره جائز دي او که نه؟ (۲۲۲۷/۱۳۳۷هـ)

ځواب: فقهاء دلالي (د بل شی ورخرڅول یا ورانیول) خو جائز لیکلې ده(۱) مګر هغه صورت بل دی دغه صورت په ظاهره د ددلالۍ نه دی. لهذا دا ناجائز دی. فقط والله تعالی اعلم.

له تجارت څخه منع کولو سره د نوکر تجارت کول

سوال: (۱۷۲۵) زید د یو بې دینه سړي سره مزدور دی، د هغه دا حکم دی چې څوک زموږ سره مزدوري کوي هغه کوم تجارت او نور نشي کولای، تر څو زموږ په کار په ښه طریقه کوي، زید له خپل مالک څخه په پټه یو کوچنی تجارت داسي کوي چې د مالک وکار ته کوم تاوان نه رسي، ایا زید چې پخپل تجارت کي کومه کټه کوي هغه روا ده که ناروا؟

ځواب: د زید لپاره داسي تجارت کول حلال دی او ګټه حلاله ده. فقط والله تعالی اعلم.

د سود خور، شراب خرڅونکي، غل، خمار کوونکی او نور څخه انعام اخیستل او تجارتي اړیکي ورسره ساتل

سوال: (۱۷۲۶)... (الف) له سود خور، شراب خرڅونکي، غل، خمار کونکي، غصب کوونکي او نورو څخه چې کومي روپۍ د انعام په توګه ملاو شي هغه اخیستل جائز دي او کنه؟

(ب): د دغه بیان شویو کسانو سره تجارتي اړیکي ساتل جائز دي او کنه؟ (۱۱۲۷/ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: (الف) کله چې دا معلوم وي چې دغه روپۍ هم په ناروا طریقه ګټل شوي دي نو جائز نه دي.

(ب): جائز نه دی، د داسي خلګو سره دا ډول معاملات کول اعانت علی الاثم دی چې منع په نص کي راغلې ده. فقط والله تعالی اعلم.

---

(۱) وګورئ فتاوی دار العلوم دیوبند: ۱۴/ ۴۲۰-۴۲۱، د رانیولو خرڅولو بیان. سوال(۳۰۷)

خلک پر ووټ (ټول ټاکنه) ورکولو مجبورول او قسم ځني اخيستل

سوال: (۱۷۲۷) کليوال پر ووټ اچولو مجبورول او له دوی څخه قسم اخيستل څه حکم لري؟ (۳۴۵۷/ ۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: کليوال پر ووټ ورکولو مجبورول او قسم ځني اخيستل صحيح نه دي. بلکي هر کس رايه ورکونکي پخپله رايه کي آزاد دی چي هر چا ته ووټ ورکوي او څوک چي ورو ښولي هغه ته دي ووټ ورکړي، ليکن کومو خلکو چي چا ته ووټ ورکولو يا نه ورکولو قسم خوړلی دی، نو د هغه په خلاف کولو د قسم کفاره لازميږي. فقط

د ووټ ورکولو وعده د نااهل سره کونکی که و لائق او وړ سړي ته ووټ ورکړي

سوال: (۱۷۲۸) خلک په خبرو يا نه ؤ خبر و يو نااهل کس ته د ووټ ورکولو وعده وکړه، له دې وروسته دوی خبر شول چي تر د ده نه پوخ اعتماد لرونکی او وړ کس په وټونو کي ولاړ دی نو سره د وعدې کولو و دغه وړ کس ته ووټ ورکول جائز دي او کنه؟ او که ورکړي نو د وعدې په خلاف کولو وعيد متسحق دی؟ که د اهل سړي په ټاکلو د خير د بدلې مستحق دی؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۴۷۷هـ)

ځواب: کوم سړی چي د ووټ لپاره زيات مناسب دی هغه ته ووټ ورکول پکار دي د کوم نااهل سره که وعده شوې ده نو د هغه په خلاف کولو کي کوم معصيت نشته، کله چي په دې کي د سړي اسلامي مصالح په نظر کي وي. فقط و الله تعالی اعلم

ووټ و چاته ورکړو؟

سوال: (۱۷۲۹) د حکومت له طرفه چي کوم ظلم پر عوامو کيږي، هغه ښکاره دی، حکومت يوه کاميټه جوړه کړې ده په دې کي هندوان او مسلمانان برخه واخلي د خپلو حقوقو غوښتنه کوي، کوم خلک چي په دې کي برخه اخلي هغه زياتره د حکومت خيرخواه وي، لنډيز د سوال دا دی چي آيا مسلمانان خپل ووټ و داسي خلکو ته ورکړي کوم چي د حکومت خيرخواه دی؟ که و هغو خلکو ته ورکړي چي د قوم خير خواه دی؟ (۱۳۴۵/۳۴۳هـ)

ځواب: د مسلمانانو لپاره بالعموم دا شرعي حکم دی چي په معصيت او ظلم کي دي د چا مرسته نه کوي او په نيک کار او پرهيزګاري کي دي د يو بل مرسته کوي، لکه چي د

"و تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعاونوا علی الإثم و العدوان" (سورة مائده، آیت: ۲)
آیت څخه معلومیږي او په حدیث شریف کي راغلي دي: خیر الناس من ینفع الناس(۱) نو د
کوم سړي په غړي کیدړو کي چي قومي او اسلامي ګټه وي هغه ته ووټ ورکول پکار دي
که او څوک چي د دې په خلاف وي هغه ته نه دي ورکول پکار، په هر ځای کي د دې خیال
ساتئ. فقط و الله تعالی اعلم

آیا ووټ استعمالول او پکي کوشش کول فرض دی؟

سوال: (۱۷۷۰) د حکومت په ښاروالي او نورو منصبونو کي د غړي او ممبر جوړېدو
لپاره ووټ استعمالول یا خلګو ته د ووټ ویل او پپکي کوشش کول شرعًا فرض دی او
کنه؟ او کوم سړی چي ځان ته عالم وایي او بیا دا اعلان کوي چي د ښاروالۍ او نورو لپاره
ووټ ورکول فرض دی، دا صحیح دي او کنه؟ او د ده په هکله څه حکم دی؟ که د ده مور او
پلار د ووټ له استعمال او پکي کوشش کولو څخه منع وکړي نو د مور او پلار اطاعت پر
فرض دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۹۴۴هـ)

ځواب: د ښاروالۍ او نورو منصبونو لپاره ووټ ورکول او پکي کوشش کول شرعًا
نه فرض او نه واجب بلکه زیاتره حرام یا مکروه وي، نو د دغه ځان ته عالم ویونکي اعلان
چي د ښاروالۍ او نورو لپاره ووټ ورکول فرض دي صحیح نه دي بلکه صریح غلط دی،
او کله چي مور او پلار له دې څخه منع کوي نو د مور او پلار اطاعت ضروري دی او ووټ
ورکول او پکي کوښښ کول منع او قبیح دی لکه چي له آیت(۲) او ډیرو حدیثونو څخه د

---

(۱) قال الشيخ العجلوني رحمة الله عليه في كشف الخفاء: خير الناس من ينفع الناس: لم ارمن ذكر أنه حديث او لا فليراجع لكن معناه صحيح و في احاديث ما يشهد لذلک كحديث الخلق عيال الله و احبهم الى الله انفعهم لعياله فافهم و يشهد له ما رواه القضاعي عن جابر رضى اله عنه كما فى الجامع مع الصغير بلفظ: خير الناس انفعهم للناس انتهى(كشف الخفاء و مزيل الالباس: ۴۷۲/۱، رقم الحديث: ۱۲۵۴، المطبوعة: مؤسسة الرسالة، بيروت)

(۲) "و قضى ربک الا تعبدوا الا اياه و بالوالدين احسانا ... فلا تقل لهما اف و لا تنهرهما و قل لهما قولا كريما و اخفض لهما جناح الذل من الرحمة" (سورة بني اسرائيل، آيت: ۲۲-۲۴)

مور او پلار اطاعت کول او د دوی سره نیکي کول ثابت دي په حدیث شریف کې راغلي دي: لا يدخل الجنة عاق الحديث(۱) يعني د مور او پلار نافرمان جنت ته نه ځي او په بل حدیث کې راغلي دي: من اصبح مطيعاً لله في والديه و اصبح له بابان مفتوحان من الجنة و ان كان وحدا فواحد و من اصبح عاصيا لله في والديه اصبح له بابآن مفتوحان من النار ان كان واحدا فواحدا قال رجل: و ان ظلماه قال: و ان ظلماه و ان ظلماه(۲) (مشکوة) حاصل د چې څوک د مور او پلار په هکله د الله اطاعت وکړي د هغه لپاره د جنت دوې دروازې خلاصيږي او که په مور او پلار کې د يو اطاعت وکړي نو يوه دروازه د جنت خلاصيږي او څوک چې د الله نافرماني وکړي د مور او پلار په هکله د هغه لپاره د دوږخ دوې دروازې خلاصيږي او که په دوی کې د يو نافرماني وکړي، نو يوه دروازه د دوږخ خلاصيږي، لنډه دا چې په دې کې هيڅ شک نشته چې د ښاروالۍ او نورو تر ووټ ورکولو او پکي کوشش کولو څخه د مور او پلار اطاعت مقدم دی دا په هيڅ ډول جائز نه دي چې په دې اړه د مور او پلار اطاعت ونکړي او د مور او پلار د حکم په خلاف ووټ ورکولو کوشش وکړي. فقط و الله تعالى اعلم

له محصول څخه بچ کيدو لپاره خپل سامان و بل مسافر ته ورکول

سوال: (۱۷۷۱) ځيني خلک داسي کوي چې د ريل ګاډي د محصول په وجه خپل سامان و نورو مسافرو ته ورکوي ترڅو وزن کم شي او محصول يو مخ نشي پر را يا څه کم شي دا څنګه دي؟ (۱۳۳۵/۴۳هـ)

ځواب: که نورو مسافرو ته وواي يچې زما سره د ډير وزن سامان دی او ستاسو سره لږ دی تاسو دغه زيات توب سامان پخپله برخه کې و شميرئ او پر ما باندي دا احسان وکړئ چې زه له محصول څخه خلاص شم نو په دې کې هيڅ پروا نه معلوميږي لکه چې سړی خپل

(۱) عن عبد الله بن عمرو رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يدخل الجنة منان و لا عاق الحديث(مشكوة المصابيح، ص: ۴۲۰، كتاب الآداب، باب البر و الصلة، الفصل الثانى)

(۲) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من اصبح مطيعًا لله فى والديه الحديث(مشكوة المصابيح، ص: ۴۲۱، كتاب الآداب، باب البر و الصلة، الفصل الثالث)

بوج و خپل ملګري مسافر ته ورکړي چي د غه سامان ته پخپل سامان کي وزن کړه. فقط و الله تعالی اعلم

لغړزني هلکان په خلوت کي د خدمت لپاره ساتل

سوال: (۱۷۷۲) یو سړی بې ږیري هلکان په خلوت کي د خدمت لپاره ساتي، ټوله شپه د ده سره وي، دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۲۹۵هـ)

ځواب: په دې کي احتیاط مناسب دی ځکه چي له تهمت څخه د بچ کید و حکم دی(۱) فقط

د حفاظت لپاره په بینک کي د مدرسې روپۍ اېښودل

سوال: (۱۷۷۳) یو سړي مدرسه جوړه کړه، دی دا غواړي چي مدرسه تر ډېره قائمه وي او چي د دې لپاره څه روپۍ کنبیږدم مګر داسي باوري ځوک نشته چي د هغه سره په اېښودلو دي مطمئن شي، که جائیداد او نوړ رانیسي وقف یې کړي په هغه کي د ضائع کیدو خطر دی، لهذا دی غواړي چي څه روپۍ د حکومت په بینک بیله سوده کنبیږدي او د ضرورت سره سمي د مدرسې لپاره رااخلي، آیا شرعًا داسي کول جائز دي او کنه؟ مولانا اشرف علي صاحب په "صفائي معاملات" کي لیکي چي نه دي جائز که څه سود وانخلي، ځکه چي پر سود همکاري شوه، که دا خبره صحیح ده نو د دومره غټ د خیر د کار لپاره که څه خرابي راشي نو جائز کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۴۰۹هـ)

ځواب: دا خبره صحیح ده چي په بینک کي روپۍ اېښودل که څه هم بیله سود اخیستلو وي جائز نه دي(۲) ځکه چي په دې کي اعانت علی المعصیت دی د قد قال الله تعالی "و تعاونوا علی البر و التقوی و لا تعاونوا علی الاثم و العدوان" (سورة مائده، آیت:۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) روی الخرائطي فی مکارم الاخلاق عن عمر رضی الله عنه من قوله بلفظ: من اقام نفسه مقام التهمة فلا یلو من من اسأ الظن به (کشف الخفاء و فمزیل الالباس: ۲/۳۳۳)

(۲) مګر د ضرورت په خاطر یې په بینک د روپۍ اېښودل په کفایت المفتی (۲۹/۸ کتاب الربا) کي اجازه کړې ده. ۱۲ سعید احمد پالن پوري

نکاح تړل او وزه ذبح کول د چا حق دی؟

سوال:(۱۷۷۴) قاضي صاحب وايي چي نکاح تړل او وزه ذبح کول زموږ حق دی، بل څوک دا کار نشي کولای، څه حکم دی؟(۲۱۰۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: د وزې په حلالولو او نکاح تړلو کي د قاضي صاحب هیڅ حق نشته، د قوم خوښه ده په هر چا چي ذبح کوي او په هر چا چي نکاح تړي فقط

د دوهمي نکاح کولو لپاره د مسجدونو لپاره مقرري روپۍ اخیستل

سوال:(۱۷۷۵) زموږ په قوم بساطیان کي له همیشه څخه په واده او دوهمه نکاح کي د خیرات په توګه د ریو مسجدونو لپاره روپۍ مقرري دي چي ټول ورونه په خوشحالي ورکوي دغه اخیستل جائز دي او کنه؟ سږ کال کلیوالو د یوې لاوارثه کونډې په دوهمه نکاح کي دا فیصله وکړه چي د کونډې سره نکاح کونکی به پنځه ویشت روپۍ و دریو مسجدونو ته او شل روپۍ و قوم ته ورکوي، ایا دغه پنځه ویشت روپۍ مقررول او اخیستل جائز دي او کنه؟(۱۹۲۷/۱۳۳۷ھ)

ځواب: څه چي په خوشحالي او خوښه ورکړي، هغه صحیح دي او کومي چي په زور او ناخوښي واخیستله شي هغه صحیح نه دي، قال علیه الصلاة و السلام: الا لا یحل مال امرئ مسلم الا بطیب نفس منه الحدیث(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د یو شریک د برخي کرایه که نور شریکان اخلي نو...

سوال:(۱۷۷۶) د مشترکه جائیداد کرایه د یو ورور په ناموجودیت کي شریکانو اخیسته، دی خپله برخه څنګه ځني راواخلي؟(۲۲۴۷/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: پر دوی واجب دي چي د ده د برخي روپۍ ورکړي که یې نه ورکوي نو ګنهکاران فاسقان او ظالمان دي مګر که دی یې وبخښي بیا نه دي ګنهکاران. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۲۵۵، کتاب البیوع، باب الغصب و العاریة، الفصل الثانی.

د نادرکه قرض څنګه ادا کړو؟

سوال: (۱۷۷۷) د یو سړي څلوریشت روپۍ پر ما باندي دي او دی مفقود الخبر(نادرکه) دی د راتلو امید یې هم نشته، په داسي صورت کي زما لپاره څه کول پکار دي؟ که دغه روپۍ د ده له طرفه و کومي مدرسې یا مسکین ته ورکړم نو زما غاړي خلاصي دي او کنه؟(۱۳۴۳/۱۰۲۷ھ)

ځواب: که د دغه مفقود وراثان معلوم یا معلومیدلای شي نو هغو ته ورکول پکار دي او که کوم وارث نه وي نو بیا دغه روپۍ و مسکینانو ته ورکول پکار دي، په دې نیت چي د دغه خیر ثواب دي مالک ته ورسي او و مدرسې ته د مسکینانو طالبانو لپاره هم دغه روپۍ ورکول جائز دي. فقط و الله تعالی اعلم

که و تاجر ته روپۍ ورکونکی وفات شو او وارث ته د معاملې نوعیت معلوم نه وي نو...

سوال: (۱۷۷۸) زید او عمر دواړه سکه ورونه دي، زید و یو سوداګر ته څه روپۍ ورکړي وې، اوس زید وفات شو، دا معلومه نه ده چي زید و دغه سوداګر ته روپۍ په قرض ورکړي وې، که په مضاربت، د زید بچیان نشته، ورور یې وارث دی، نو آیا عمر دا کولای شي چي له و سدا ګر څخه له اصلو روپیو پرته د هغنو ګټه هم وغواړي؟(۱۳۴۳/۱۱۲۸ھ)

ځواب: کله چي د زید په دې هکله هیڅ بیان نشته او هیڅ شهادت د کومي خبري نشته، نو څه چي هغه سړی چي د زید روپۍ ورسره دي، و وایي د هغه اعتبار به کیږي، د زید ورور عمر چي د دغه روپیو حقدار دی، دی اصل روپۍ له دغه سړي څخه اخیستلای شي، د کومو چي هغه اقرار کوي او د ګټي او نورو د تعین په هکله چي هغه څه وایي، هغه ته اعتبار دی او د زید تر مرګ وروسته چي ترڅو عمر د دغه سړي سره کومه نوې معامله د مضاربت او نورو نه وي کړې، تر هغو دی د کومي ګټي غوښتنه نشي کولای. فقط و الله تعالی اعلم

د یتیم سره په کور کي اوسیدونکي ولي څخه د هغه کور کرایه غوښتل

سوال: (۱۷۷۹) یو سړی وفات شو، د ده پلار د خپل وفات شوي زوی برخه چي یو سرای او څه نغدي روپۍ دي، و خپل مشر زوی او د وفات شوي د نابالغ زوی و اکا ته

وسپارل، دغه مشر اکا د دغه یتیم هلک تر دوولسو کلونو پورې هر ډول خیال وساتی او ټول مصرفونه د ده کول او همیشه به د دغه سرای ترمیم کاوی او زیاتوب به هم پکې کاوی، اوس له بالغ کیدو وروسته چې کله د دغه هلک او نورو وارثانو ته د ده ورور د دغه سرای او نغدي روپۍ ورکولې نو دوی د سرای کرایه ځني وغوښتله او د نغدو ګټه هم حالانکه د دې شرط یې نه ؤ ورباندې اینښی او هلک هم په دا غه سرای کې اوسیدی نو ایا پر ولي لازم دي چې د دغه سرای کرایه به ورکوي او کنه؟ او د هلک مصرفونه له دغه نغدو څخه را ګرځؤ او کنه؟ (۱۳۴۵/۷۹۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کې د هلک لپاره د دغه سرای کرایه اخیستلو حق نشته چې دی پخپله هم د ولي سره پکې اوسیدی، دا غه راز ولي چې کوم مصرف پر ده کړی دی، هغه تبرع او احسان دی، ولې د هغه د غوښتلو حق نلري، اما ولي چې د دغه پر تعلیم او نفقه کوم مصرف وکړی، هغه له دغه روپۍ څخه را ایستل کیدلای شو مګر کله چې ولي دغه ټول مصارف په ځان پسې شمیرل او په دې وجه نه دي کړي چې د هلک له مال څخه به وروا خلي نو اسو دا هم تبرع بلل کیږي و لو انفق علیه الوص من ماله و مال الیتیم غائب فهو متطوع، الا ان یشهد أنه قرض علیه او أنه یرجع(۱) (جامع الفصولین، دوهم ټوک) و فی العتابیة: و یکفیه النیة فی ما بینه و بین الله تعالی الخ(۲) (شامي پنځم ټوک) او د نغدو د ګټې په اړه دا تفصیل دی چې ولي د دغه تصرف که د هلک لپاره کړی ؤ نو د هغه ګټه هم د هلک ده. کما فی الدر المختار: و جاز لو اتجر من مال الیتیم للیتیم و تمامه فی الدرر الخ(۳) او که د ځان لپاره کړي ؤ نو که څه هم د یتیم په مال کې د خپل ځان لپاره تصرف یعین تجارت او نور کول جائز نه دي خو بیا کومه ګټه چې وشوه هلک د هغې د

---

(۱) جامع الفصولین: ۱۶/۲، الفصل السابع و لاعشرون فی تصرفات الاب و الوصی و لاقاضی و المتولی و المأمورین و من یتحل منه الغبن و من لا یتحمل المطبوعة: مطبع کبری میره بلاق، قاهره، مصر.

(۲) الشامي کتاب الوصایا، باب الوصی و هو الموصی الیه، فصل فی شهادة الاوصیاء. ط رشیدیه

(۳) الدر مع الشامي کتاب الوصایا، باب الوصی. ط رشیدیه

غوښتلو حق نلري، په تېره بیا چي ولي هم د تعلیم او نفقې د مصارفو غوښتنه نه کوي نو د
هلک لپاره هم باید د نغدو د ګټي حق نه وي. فقط

د انجلۍ د بلوغ حد او د هغه علامات

سوال: (۱۷۸۰)... (الف) د انجلۍ د بلوغ لږ نه لږ او زیات نه زیات حد څو مره دی؟
(ب) د بالغیدو شرعًا کوم، کوم علامتونه دي؟
(ج) مراهقه انجلۍ چي ځیني علامتونه مثلاً د ثديين (تیو) ظاهریدل او نور پکي
موجود شي دا په حکم کي د بالغي ده که د نابالغي؟ (۳۲/۲۴۲۴-۱۳۳۳هـ)

ځواب: (الف) مفتی به قول دا دی چي که کوم بل علامت د انجلۍ د بلوغ ظاهر نه وي
نو د پنځلسو کلونو په پوره کیدو ورباندي د بلوغ حکم لګول کیږي.
(ب) د انجلۍ د بلوغ علامتونه حیض، حامله کیدل او احتلام دی، قال فی الدر
المختار: بلوغ الغلام بالاحتلام و الاحبال و الانزال الخ و الجاریة بالاحتلام و الحیض و
الحبل الخ فان لم یوجد فیهما شئ فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة، به یفتی(۱)
(ج) نه ده (یعني دا د بالغي په حکم کي نه ده، بلکه نابالغه ده. مرتب) کما مر. فقط و
الله تعالی اعلم

سوال: (۱۷۸۱) د انجلۍ د بلوغت عمر څو دی؟ او علامه یې څه ده؟ (۴۲/۱۹۰۴-
۱۳۴۷هـ)

ځواب: په در مختار کي راغلي دي: بلوغ الغلام بالاحتلام و الاحبال و الانزال الخ و
الجاریة بالاحتلام و الحیض و الحبل الخ، فإن لم یوجد فیهما شئ ای فی الغلام و
الجاریة شئ مذکر فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة، به یفتی(۲) له دغه روایت
څخه معلوم شو چي د انجلۍ د بلوغ علامت د حیض او نورو راتلل دي او که د بولغ
علامت نه وي موجود نو کله چي عمر پوره پنځلس کاله شي هغه شرعًا د بلوغ حکم
ورباندي لګول کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر مع الرد کتاب الحجر، فصل: بلوغ الغلام بالاحتلام. ط رشیدیه

سړی په کوم عمر کي د شریعت مکلف ګرځي

سوال: (۱۷۸۲) پر سړي الهي احکام څه وخت فرض کیږي؟ (۱۹۴۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

ځواب: که د بلوغ کومه علامه تر پنځلسو کلونو مخکي نه وي ښکاره شوې نو په شریعت کي د پنځلسو کلونو عمر پر پوره کیدو د بلوغ حکم لګول کیږي، همدا وخت لمونځ زکاة او روژه فرض ګرځي.

دوولس کلن هلک او څورلس کلنه انجلۍ که د بلوغ دعوی وکړي نو څه حکم دی؟

سوال: (۱۷۸۳) آیا تر دوولسو کلونو زیات عمر نابالغ هلک او تر څورلسو کلونو زیات عمر نابالغه انجلۍ که ځان ته بالغ ووایي نو اعتبار ورته شته او کنه؟ کله چي دوی ووایي چي موږ بالغان یو او د ظاهر حال څخه دوی داسي معلومیږي (۱۳۳۵/۲۸۳ھ)

ځواب: قول د دوی معتبر دی او دوی بالغ دي[۱] فقط و الله تعالی اعلم

د مراهقت عمر څومره دی؟

سوال: (۱۷۸۴) د نر او ښځي د مراهقت عمر څومره دی؟ (۱۳۴۱/۱۹۴۱ھ)

ځواب: د مراهقت عمر د نر لپاره دوولس کاله او د ښځي لپاره نهه کاله دی، په دغه عمر کي که مراهق او مراهقه د بلوغ اقرار وکړي نو اقرار د دوی معتبر دی، په دې شرط چي ظاهر حال به د دیو تکذیب نه کوي په در مختار کي راغلي دي: و ادنی مدته له اثنتا عشرة سنة و لهما ستع سنین... فان لاهقا بان بلغا هنا السن، فقالا: بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر الخ[۲] او عمر د نر او ښځي د بلوغ لپاره پوره پنځلس کاله دی. کله چي له دې څخه مخکي کوم لکه احتلام، حیض او نور نه وي ظاهر شوي.

---

(۱) فان لم یوجد فیهما شئ فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة، به یفتی ... و ادنی مدته له اثنتا عشرة سنة و لهما تسع سنین ... فان راهقا بأن بلغا هذا السن، فقالا: بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر ای هو معنی قوله الآتي: و هو ان یکون بحال یحتلم مثله (الدر و رد المحتار کتاب الحجر، فصل: بلوغ الغلام بالاحتلام الخ. ط رشیدیه)

(۲) الدر المختار و رد المحتار کتاب الحجر، فصل: بلوغ الغلام بالاحتلام. ط رشیدیه

د تیو راپورته کیدل د بلوغ علامت نه دی

سوال: (۱۷۸۵) انجلۍ کله بالغه بلل کیږي؟ د تیو راپورته کیدل د بلوغ علامت دی او کنه؟ (۱۲۰۰/۴۴-۱۳۴۵هـ)

ځواب: شرعًا د بالغیدو مدار پر حیض او نورو دی. که حیض او نور نه ورته راخي نو چي پنځلس کلونه پوره شي، د بلوغ حکم ورباندي شرعًا کیږي او د تیو راپورته کیدل د بلوغ علامت نه دی په در مختارکي راغلي دي: بلوغ الجاریة بالاحتلام و الحیض و الحبل الخ فإن لم یوجد الخ فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة(۱) فقط

د عمر د تعیین لپاره و حکومتي کاغذونو ته اعتبار شته او کنه

سوال: (۱۷۸۶) د یو سړي په عمر کي اختلاف دی، لیکن له حکومتي کاغذونو څخه تر پنځلسو کلونو زیات ثابتیږي، دا معتبر دی او کنه؟ (۲۲۳۵/۱۳۳۸هـ)

ځواب: حکومتي کاغذونه په داسي ځای کي معتبر وي. فقط و الله تعالی اعلم

د عمر د زیاتوب لپاره ماشوم د اوړو او غوړیو سره تلل او هغه اوړه او غوړي خیراتول

سوال: (۱۷۸۷) آیا ماشوم د دې لپاره تلل چي د ده د وزن په اندازه اوړه، غوړي او نور خیرات کړي ترڅو د ده عمر ډیر وي داسي جائز دي او کنه؟ (۲۲۷۵/۱۳۳۸هـ)

ځواب: شرعًا دا نه مأمور به دی او نه ممنوع او د عمر زیاتوب په دې کي بلل د جهالت خیال دی نو که خیرات کوي دا ډول قیدونه پکار مه بولئ. فقط و الله تعالی اعلم

د مسکراتو او محرماتو د ګټي حکم

سوال: (۱۷۸۸) د مسکراتو شرابو، تاریاقو او نورو ګټه څنګه ده؟ او د دې د خرڅونکي رانیونکي څه حکم دی؟ او د دې ګټه د مسجد په تعمیر او نورو کي لګول څنګه ده؟ او داسي روپۍ د مسجد و ملا امام ته ورکول څنګه دي؟ (۲۹/۳۴۲-۱۳۳۰هـ)

ځواب: د شرابو، افیونو او ټولو مسکراتو او محرماتو بیع او ش راء کونکی فاسق فاجر دی او ګټه د ده چي په دغه وسیله وي حرامه ده، د مسجد په تعمیر او نور د خیر په کارونو کي مصرفول جائز نه دي او امام که فقیر او محتاج دی نو د هغه لپاره اخیستل

(۱) الدر المختار و رد المحتار کتاب الحجر، فصل: بلوغ الغلام بالاحتلام. ط رشیدیه

جائز دي کنې دی بې هم باید وانخلي، احتیاط په همدې کې دی او په مسجد کې خو په هیڅ ډول دغه حرامه ګټه نه ده لګول پکار. لیکن وهم نه دی کول پکار چې شاید په دې کې به حرامې پیسې لګیدلي وي او د زیاتې پلټنې او تحقیق کولو ضرورت نشته او له بدګمانۍ څخه ځان ساتل پکار دي، آئنده احتیاط کوئ او څه چې وشو هغه هیر کړئ قال الله تعالیٰ: "یایها الذین امنوا اجتنبوا کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم" (سورة حجرات، آیت: ۱۲) و قال تعالیٰ: "یایها الذین آمنوا علیکم انفسکم لا یضرکم من ضل اذا اهتدیتم" الآیة (سورة مائده، آیت: ۱۰۵) فقط

که د یو شریک مال حرام وي نو ګټه څنګه ده؟

سوال: (۱۷۸۹) په دوو شریکانو کې که په کاروبار کې د یو شریک مال حلال او د بل حرام وي نو څه فتوی ده؟ (۲۹/۸۴۲-۱۳۳۰هـ)

ځواب: په دوو شریکانو که د یو شریک روپۍ حلالې دي، د ده د برخې په اندازه ګټه د ده لپاره حلاله ده. فقط و الله تعالیٰ اعلم

د نوي مسلمان د کفر په حال کې ګټلې حرام مال حکم

سوال: (۱۷۹۰) یوه کافره ښځه چې په زنا، شرابو خرڅولو او په سود باندې روپۍ جمع کولې، مسلمانه شوه، اوس تر اسلام قبلولو وروسته دغه مال د دې او د نورو مسلمانانو په هکله حلال دی که حرام؟ (۳۲/۱۰۳-۱۳۳۳هـ)

ځواب: له اسلام قبلولو وروسته هغه چې په سود، شرابو خرڅولو او نورو باندې حاصل کړی دی، حلال دی و چاته چې ورکړي، د هغه لپاره هم حلال دی (ځکه چې نامسلمان د فروع مکلف نه دی) فقط

سوال: (۱۷۹۱) یوه کونډه هندونۍ فاحشه شوه تر ډیرې مودې پورې د زنا دنده کوله چې روپۍ او نور شیان یې هم پکې وګټل، اوس دې توبه و ایسته، مسلمانه شوه، نو دغه مال د دې لپاره یا بل چا لپاره حلال دی او که نه؟ (۱۳۴۲/۸۵۲هـ)

ځواب: کوم مال چي دي د کفر په حالت کي په حرامه وسيله وګټي، تر اسلام قبلولو وروسته د دې او د هغه چا لپاره چي دا يې ورکړي، حلال دی، کما ورد: الاسلام يهدم ما كان قبله(۱) فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۱۷۹۲) د کفر په حالت کي دوو فاحشو ښځو د زنا په وسيله روپۍ وګټلې او په دغه روپيو يې جائيداد واخيستی بيا يې توبه و ايستله مسلماني شوې، په دساي صورت کي شرعًا دوی دغه روپۍ او جائيداد استعمالولای شي او کنه؟ او په قومي کارونو کي يې لګولای شي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۰۳هـ)

ځواب: په دغه صورت کي د دغه جائيداد آمدني او هغه روپۍ چي د دوی سره دي، د دوی لپاره حلالي دي او تر اسلامي قبلولو وروسته د دوی لپاره پکي تصرف کول صحيح دی او د خير په کارونو او قومي کارونو کي مصرفولای شي او په اسلامي قبلولو ټول ګناهونه معافيږي او څوک چي اسلام قبول کړي، هغه له ګناهونو داسي پاک شي لکه ماشوم چي له موره پيدا شي او په حديث شريف کي راغلي دي: الاسلام يهدم ما كان قبله(۱) يعني اسلام ټول ګناهونه محو کوي. فقط و الله اعلم

د ملک په بدلون حرام مال حلاليږي د دې مثال

سوال: (۱۷۹۳) د ملک په بدلون کوم حرام شی حلاليږي؟ مثال يې راته وليکئ. (۱۳۳۳-۳۲/۵۱۰هـ)

ځواب: د مړي ترکه (چي په حرامه ګټلې وي) ځيني فقهاء فرمايي چي دا د وارثانو په هکله حلاله ده، ليکن صحيح خبره دا ده چي حلاله نه ده(۲) ظاهري مثال د دې دا دی چي د

(۱) عن ابن شمامة المهري قال: حضرنا عمرو بن العاص و هو فى سياقة الموت يبكى طويلا و حول وجهه الى الجدار، فجعل ابنه يقول: يا ابتاه! اما بشرك رسول الله صلى الله عليه وسلم بكذا؟ ... قال: اما علمت يا عمرو! إن السلام الحديث(الصحيح لمسلم: ۷٦/۱، كتاب الايمان، باب كون الاسلام يهدم ما كان قبله و كذا الحج و الهجرة)

(۲) مات و كسبه حرام، فالميراث حلالو ثم رمز و قال: لا نأخذ بهذه الرواية، و هو حرام مطلقًا على الورثة فتنبه (الشامي كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، مطلب فى من ورث مالا حراما. ط رشيديه)

نبي علیه الصلاة و السلام لپاره واجب صدقې حرامې وې، د ملک له بدلون وروسته د ده مبارک لپاره حلاله شوه، لکه چې د بي بي بریره رضی الله عنها په قصه کې چې راغلې دي(۱) فقط و الله تعالی اعلم

په ځنګل کې غوبې ونیوی ځمکه په ماته کړه نو د پیداوارېې څه حکم دی؟

سوال: (۱۷۹۴) یو سړي له ځنګل څخه داسې غوبې راوستی چې د بوټانو په نوم خوشې کړې ؤ ده ځمکه په ماته کړه، کښت يې په وکاری، د دغه کښت پيداوار خوړل جائز دی او نه؟(۱۴۴۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: په دغه پیداوار کې د خباثت اثر ضرور راغلی، که څه هم خوړل د دغه غلې حرام نه دي نو د دې د حلالیدو او د خباثت رفع کید و صورت دا دی چې د غوایه د اجرت په اندازه غله خیرات کړي یا له ځانه دومره روپۍ خیرات کړي. فقط و الله اعلم

حرام او خبیث مال د خیر په کار کې مصرفول

سوال: (۱۷۹۵) ... (الف) په خبیث مال لکه د غلا، غصب، رشوت، سود او نورو مال حج کول یا بل حج ته لیږل یا مسجد یا مسافر خانه یا پل یا میلمنو ته ډوډۍ ورکول جائز دي او کنه؟ او په دغه کارونو کې به ثواب وګټي او کنه؟

(ب) که له توبې وروسته دغه بیان شوي کارونه په حرامو مالونو وکړي نو څه حکم دی؟ که په مسجد کې لمونځ وکړي نو جائز دی او کنه؟ او خیرات کول هم صحیح دي او کنه؟ او په داسې مالونو سره په نیکو کارونو کې برخه اخیستل څنګه دي؟ او د خیر په کارونو کې لګولای شي او کنه؟(۱۵۰۳/۳۲-۱۳۳۳ھ)

ځواب: (الف) په حدیث شریف کې راغلي دي: و لا یقبل الله الا الطیب(۱) نو په خبیثو او حرامو مالونو د الله قربت نشي حاصلیدلای او د داسې مالونو بیرته ورکول واجب

---

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قال: اتی النبی صلی الله علیه وسلم بلحم بقر، فقیل: هذا ما تصدق به علی بریرة فقال: هو لها صدقة لنا هدیة (الصحیح لمسلم: ۳٤٥/۱، کتاب لازکاة، باب اباحة الهدیة للنبی صلی الله علیه وسلم و لبنی هاشم و بني المطلب الخ)

دي يعني و خپلو مالکانو يا يې د هغو و وارثانو ته ورکړي که د ساي ممکن نه وي نو حکم د دغه مالونو تصدق على القراء دی، پورته بيان شوي اعمال لکه پخپله حج کول يا بل ليږل او نور په داسي مالونو صحيح نه دي او د ثواب اميد په دې کي ساتل باطل دی او ثوک چي په خبر وي د هغه لپاهر اخيستل حرام دي او سره د خبرتيا د داسي چا ډوډۍ خوړل حرام دي اما د مسکينانو لپاره په داسي صورت کي اخيستل حلال دي چي د دې مالک يا د هغه وارثان موجود نه وي يا هغو ته وررسول مشکل وي(۲)

(ب) پورته معلوم شو چي حکم د داسي مالونو دا دی چي مالکانو ته بيرته ورکړي کنې د هغو وارثانو ته کنې خيرات دي يې کړي نو توبه د دې دا ده چي دغه مالونه دي د ځانس ره نه ړدي، مسجد جوړول يا بل کوم تصرف کول په خبيثو اموالو صحيح نه دی کما مر فی الحديث(۱) او کوم مسجد چي په داسي مالونو جوړ کړل شي د هغه حکم د غصب کړلي په رنګه دی، لمونځ پکي کول مکروه دي او د الله لپاره مصرفولو حکم پورته معلوم شو چي ترڅو مالک يا د ده وارثان موجود وي، خيارتول يې صحيح نه دي او داسي مالونه د کوم خير په کال کي لګول صحيح نه دي او د ساي ماالونو په شراکت په دغه کارونو کي ناوړتيا راځي. فقط

---

(۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يا ايها الناس ان الله طيب و لا يقبل الا طيبا الحديث(جامع الترمذی: ۱۲۸/۲، ابواب التفسير عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء من سورة البقرة)

و قال تاج الشريعة: اما لو انفق فی ذلک مالا خبيثا او مالا سببه الخبيث و الطيب فيكره لأن الله تعالى لا يقبل الا الطيب فيكره تلويث بيته بما لا يقبله اهـ (رد المحتار كتاب الصلاة باب ما يفسد الصلاة و ما يكره فيها مطلب: كلمة "لا بأس" دليل على ان المستحب غيره الخ. ط رشيديه)

(۲) و ان لم يجد المديون و لا وارثه صاحب الدين و لا وارثه فتصدق المديون او وارثه عن صاحب الدين برئ فی الآخرة (الشامي كتاب اللقطة، قبيل مطلب فی من عليه ديون و مظالم جهل اربابها. ط رشيديه)

د چا سره چې له تنخواه پرته د رشوت آمدني هم وي، پر هغه حج او زکاة فرض دی او کنه؟

سوال: (۱۷۹۶) د يو سړي سره څه روپۍ د تنخواه او څه د رشوت جمع دي، دی په دغه روپيو حج او زکاة ادا کول غواړي او خيرات کول غواړي نو دا قبليږي او کنه؟ او ش رع و ده ته په دغه کارونو کې د مصرفولو اجازه کوي او کنه؟(۱۵۷۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: په حديث شريف کې راغلي دي: ان الله لا يقبل الا الطيب الحديث او کما قال صلی الله عليه وسلم(۱) مطلب دا چې بيله شکه الله تعالی پاک قبلوي يعني حرام او خبيث نه قبلوي نو کله چې مال حلال نه دی نو د قبوليت طمع کول بې ګټې دي، پاته شوه دا خبره چې په داسې ګډوډ مال کې شرعًا زکوة واجب دی او کنه؟ او حج پر ده واجب دی او کنه؟ نو د امام صاحب مذهب په دې هکله دا دی چې د ګډولو او خلط کولو په سبب دا سړی د دې مال مالک ګرځي(۲) مګر د حرام په قدر مال ده لپاره ادا کول ضروري دي يعني پخپله د مال و مالک يا د هغه و وارثانو ته، کنې مسکينانو ته ورکول نو کله چې دغه ګډونکی مالک شو نو زکوة پر لازم دی، په دې شرط چې کال پر تير شي او حج ورباندې فرض دی. فقط و الله تعالی اعلم

په حرام مال قرباني، زکاة او خيرات کول

سوال: (۱۷۹۷) د يو سړي د خمار روپۍ دي، ده د څو کسانو مخته توبه وايستله، اوس دی په دغه روپيو قرباني، زکوة او خيرات کول غواړي، شرعًا څه حکم دی؟ (۲۲۳۱/۱۳۳۷هـ)

---

(۱) جامع الترمذي: ۱۲۸/۲، ابواب التفسير عن رسول الله صلی الله عليه وسلم: باب ما جاء من سورة البقرة.

(۲) و لو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه، فتجب الزكاة فيه و يورث عنه، لأن الخلط استهلاك، اذا لم يمكن تمييزه عند ابي حنيفة رحمه الله(الدر مع الشامي كتاب الزكاة، باب زكاة الغنم، مطلب فيما لو صادر السلطان رجلا فنوى بذلك اداء الزكاة اليه. ط رشيديه)

ځواب: د داسي حرام مال حکم شرعًا دا دی چي له چا څخه اخيستی دی، هغه ته دي بيرته ورکړي، که هغه نه وي نو د هغه وارثانو ته دي ورکړي او که هيڅوک ونه موندي نو مسکينانو ته دي ورکړي، قرباني او زکاة په دې کي واجب نه دی. فقط.

له حرام او شکمن مال څخه پرهيز کول

سوال: (۱۷۹۸) په اوس زمانه کي له حرام او شکمن مال څخه د بچ کيدو څه طريقه ده؟ آيا بچ کيدلای شي او که نه؟ که بچ نه شي نو ګنهکار دی او که نه؟ (۳۲/۲۴۳۷-۱۳۳۳هـ)

ځواب: له صريح حرام څخه بچ کيدل ضروري دي او له شکمن څخه که ځان وساتي نو تقوی ده او نه وساتي نو د فتوی له مخه صحيح دی. فقط. والله تعالى أعلم.

حرام مال د وارث لپاره حلال نه دی

سوال: (۱۷۹۹) يو سړي سود کاوه، د ده له مرګ وروسته د ده د وارثانو لپاره دا مال حلال دی او که نه؟ (۳۳/۱۰۴۹-۱۳۳۴هـ)

ځواب: حرام مال د وارث لپاره حلال نه دی. وقال فى الشامى: لكن فى المجتبى: مات وكسبه حرام فالميراث حلال ثم رمز وقال: لا نأخذ بهذه الرواية وهو حرام مطلقا على الورثة فتنبه الخ. (۱) فقط.

په حرام مال رانيولي ځمکي د ګټي حکم

سوال: (۱۸۰۰) يو سړي ته په ميراث کي حرام مال ورپاته شو، ده په دغه مال ځمکه رانيوله، اوس د دغه ځمکي غله او آمدني د ده لپاره جائز ده او که نه؟ (۳۳/۱۸۱۲-۱۳۳۴هـ)

ځواب: په څومره مال چي ځمکه رانيوله، هغومره مال دي بيرته د مال مالک يا د هغه يا د هغه وارثانو ته ورکړي، که معلوم وي، يا دي خيرات کړي، مسکينانو ته دي ورکړي.

---

(۱) الشامى كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، مطلب فى من ورث مالا حراما ط رشيديه.

که مالک او نور نه پيدا کيږي، له ضمان ادا کولو وروسته آمدني او غله د دغه ځمکي حلال دی.(۱) فقط والله تعالی أعلم.

په حرام مال جوړ کړي تالاب يا څاه څخه غسل او اودس کول، لمونځ کول او اوبه څښل

سوال: (۱۸۰۱) يوې بد چلني فاحشي ښځي پخپله حرامه ګټه څاه وکنبې. د دغه څاه اوبه څښل جائز دي او که نه؟ او په دغه اوبو که سړی اودس وکړي، لمونځ په وکړي نو صحيح دی او که نه؟(۱۳۳۵/۱۴۱۲هـ)

ځواب: اوبه څښل د دغه څاه صحيح دي او کوم اودس چي په دغه اوبو وشي، په هغه لمونځ صحيح دی، د حرامي ګټي مصرفولو ګناه د دغه ښځي په غاړه ده، په اوبو کي هيڅ نجاست او حراموالی نشته فقط والله تعالی أعلم.

سوال: (۱۸۰۲) فاحشه ښځه که پخپلو حرامو روپيو تالاب جوړ کړي، د دغه تالاب په اوبو اودس او غسل کول او څښل د مسلمانانو لپاره جائز دي او که نه؟ که د سود په روپيو تالاب جوړ شي نو د هغه څه حکم دی؟(۱۳۳۵/۱۷۲۸هـ)

ځواب: که د دغه تالاب په اوبو اودس او غسل وکړي نو طهارت حاصليږي او لمونځ صحيح کيږي، اوبه يې څښل صحيح دي، داغه راز د سود په روپيو که څاه يا تالاب جوړ شي، د هغه په اوبو هم غسل، اودس او لمونځ صحيح دی او څښل يې هم صحيح دي فقط والله تعالی أعلم

له توبې وروسته د حرام او د هغه د ګټي څه حکم دی؟

سوال: (۱۸۰۳) يو سړي ټول عمر په غلا او حرام خوړلو کي تير کړی، وروسته توبه وايستله، اوس چي کوم مال او نور ده سره موجود دی، د هغه مصرفول څنګه دي؟ (۱۳۳۸/۲۱هـ)

---

(۱) إذا علم أن كسب مورثه حرام يحل له، لكن إذا علم المالك بعينه فلاشك فی حرمته ووجوب رده عليه... وفی منية المفتی: مات رجل ويعلم الوارث أن أباه كان يكسب من حيث لايحل، ولكن لا يعلم الطالب بعينه ليرد عليه حل له الإرث، والأفضل أن يتورع ويتصدق بنيته خصما أبيه. (الشامی كتاب البيوع، باب البيع الفاسد مطلب فی من ورث مالا حراما ط رشيديه)

ځواب: د دغه حرام مال په اندازه مالکانو یا د دوی وارثانو ته ور وا پسول لازم دي، که داسي نه شي کیدلای نو دومره مال مسکینانو ته ورکړئ. فقط. والله تعالی أعلم.

سوال: (۱۸۰۴) احمد په حرامه پیشه ښه ډیر جائیداد او شل لکه روپۍ وګټلې. له دغه پیشي څخه له توبه ایستلو وروسته دغه روپۍ او جائیداد د احمد لپاره او د مسجد د تعمیر لپاره حلال دي او که نه؟ (۱۳۴۱/۲۵۴۲هـ)

ځواب: دا مال هغه وخته حلالیدای شي چي احمد د حرام مال په اندازه مسکینانو ته ورکړي او که د چا حق وي، هغه ته دي بیرته ورکړي یا دي په وبخښي یا دي د هغه وارثانو ته ورکړي یا دي په وبخښي، او په مسجد کي حرام او شکمن مال لګول صحیح نه دي. لقوله علیه السلام: إن الله طیب ولا یقبل إلا الطیب (۱) الحدیث. فقط. والله تعالی أعلم.

په حکومتي مال کي بې له اجازې تصرف کول

سوال: (۱۸۰۵) حکومتي مال لکه درختي یا نور د دریاب لرګي او نور د حکومت بې اجازې کارول جائز دي او که نه؟ (۱۳۳۸/۹۷هـ)

جواب: بې له اجازې صحیح نه دي. فقط. والله تعالی أعلم.

سوال: (۱۸۰۶) حکومتي مال پخپله کار راوستل جائز دي او که نه؟ (۳۲/۵۰۲-۱۳۳۳هـ)

ځواب: د کوم شي چي عامه اجازه وي، د هغه استعمال جائز دی، کنې نه دی. فقط.

د حکومتي درختو وچ لرګي استعمالول یا خرڅول

سوال: (۱۸۰۷) د مزدور یا لرګي راوړونکي لپاره د درختو وچ لرګي استعمالول یا خرڅول څنګه دي؟ او له درختو څخه د څومره غټ لرګي راپرې کولو اجازه شته؟ (۱۳۳۸/۱۲۹هـ)

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یا ایها الناس! إن الله طیّب ولایقبل إلا طیبا. (جامع الترمذی: ۱۲۸/۲، أبواب التفسیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، باب ما جاء من سورة البقرة)

ځواب: د کومو لرګیو راپرې کولو چې عرفًا اجازه شته، د هغو پرې کول او استعمالول صحیح دي. فقط. والله تعالی أعلم

د خلکو روزګار ته حرام ویل او د هغو تحفې قبلول

سوال: (۱۸۰۸) کوم عالم یا وعظ کونکی چې د خلکو کاروبار ته حرام وایي، مګر له دوی څخه تحفې قبلوي او د نورلپاره خاصې جامې حرامې بولي او پخپله هغه ډول جامې استعمالوي، دا څنګه دي؟(۱۳۴۰/۴۳۲هـ)

ځواب: کوم شی چې حرام وي، هغه د هیچا لپاره حلال نشي کیدای او کوم چې حلال وي، هغه د هیچا لپاره حرام نه دی. فقط. والله تعالی أعلم

د بې لمانځه او روژه خور روزي حلاله ده که حرامه؟

سوال: (۱۸۰۹) کوم څوک چې یو مخ د روژې او لمانځه پابندي نه کوي، د هغه روزي حلاله ده که حرامه؟(۱۳۴۵/۲۲۱هـ)

ځواب: که داسې سړی په حلاله وسیله روزي ګټي نو د ده روزي نه ده حرامه، د روژې او لمانځه نه کولو ګناه د ده په غاړه ده او په دې وجه دی فاسق دی، مګر روزي د ده مطلقًا حرامه نه دی. فقط.

له حرام مال څخه استفاده کول جائز نه ده

سوال: (۱۸۱۰) د زید ناروا اړیکې تر ډیرې مودې پورې د دیوې فاحشې ښځې سره وې، د زید تر وفات وروسته دغه فاحشه ښځه خپل پاته عمرَ سره د زرو او روپیو او نورو د زید د خپلوانو کره تیرول غواړي، که د زید خپلوان د دې له روپیو او نورو شیانو څخه استفاده کوي نو جائز دي که حرام؟(۱۳۳۴/۱۱۵۲هـ)

ځواب: له حرام مال څخه استفاده کول ناجائز دي فقط. والله تعالی أعلم

د کومې محکمې روپۍ په ځان مصرفول حرام دي

سوال: (۱۸۱۱) زید ته د محکمې د مصارفو څه روپۍ راځي، په هغه کې چې څه پاته شي. هغه په ځان مصرفولای شي او که نه؟(۱۳۳۸/۲۴۲هـ)

ځواب: دغه پاته روپۍ زید په ځان نشي مصرفولای، بلکه باید بیرته ورکړي او پخپلو اړتیاو کې مصرفول حرام دي فقط. والله تعالی أعلم

د مخلوط مال حکم

سوال: (۱۸۱۲) که یوه آمدني حرامه وي او دوې آمدني حلالي وي نو چې د دې سره آمدني سره ګډې شي، حلالي به وي که حرامي؟ (۱۳۴۲/۲۱۵۵هـ)

ځواب: غلبې ته اعتبار دی، که حلال غالب دي نو د حلت حکم ورباندي لګیږي، کنې نه لګیږي (۱) فقط. والله تعالی أعلم

سوال: (۱۸۱۳) په مشترک شي کي که حلاله ګټه زیاته وي او حرامه کمه، پر دې هم د حرمت حکم لګول کیږي او که نه؟ (۱۳۳۸/۳۲۱هـ)

ځواب: پر دې د حلت حکم لګیږي، لیکن له شکه نه دی خلاص. فقط. والله تعالی أعلم

سوال: (۱۸۱۴) حلال مال که تر حرام کم وي نو داسي مال د حلال په حکم کي دی او که نه؟ (۱۳۳۸/۵۳۱هـ)

ځواب: نه دی. فقط. والله تعالی أعلم

د مخلوطو روپیو پاکولو طریقه

سوال: (۱۸۱۵) زما سره چي د حج لپاره کومي روپۍ پرتې وې، هغه ما له تنخواه څخه را جمع کړي وې، هغه په ناروا آمدني ګډې شوې، د دې د پاکولو څه طریقه وکړم؟ (۱۳۳۹/۱۸۴۸هـ)

ځواب: څومره روپۍ چي دي له تنخواه څخه را جمع کړي وې، هغومره ځیني را بیېرلې کړه، په بیلولو دا روپۍ پاکي او حلالي ګرځي. فقط. والله تعالی أعلم

---

(۱) ولایجوز قبول هدیة أمراء الجور لأن الغالب فی مالهم الحرمة إلا إذا علم أن أکثر ماله حلال بأن کان صاحب تجارة أو زرع فلا بأس به لأن أموال الناس لاتخلو عن قلیل حرام فالمعتبر الغالب، وکذا أکل طعامهم. کذا فی الإختیار شرح المختار. (الفتاوی الهندیة:۳٤۲/۵ کتاب الکراهیة الباب الثانی عشر فی الهدایا والضیافات)

د حکیم، عطار او تعویذونه کونکي ګټه حلاله ده

سوال: (۱۸۱۶) د حکیم، عطار او تعذویرونه کونکي روپۍ حلالي دي؟ (۱۸۵۵/۱۳۳۸ھ)

ځواب: دا ټولي ګټي حلالي دي. فقط والله تعالی أعلم

د شراب خرڅونکي د ګټي حکم

سوال: (۱۸۱۷) د شراب خرڅونکي پیسي په کوم صورت حلالي کیدای شي؟ د خیر په کارکي مصرفول جائز دي او که نه؟ د داسي سړي لمونځ او روژې قبلیږي او که نه؟ له توبې وروسته روپۍ حلالیدای شي او که نه؟ له ده څخه کوم شی رانیول جائز دي او که نه؟ (۴۸۲/۱۳۳۹ھ)

ځواب: د شراب خرڅونکي چي له دې څخه پرته بله روزي نه لري، د ده ګټه حلاله نه ده او د خیر په کارکي لګول صحیح نه دي (۱) او لمونځ او روژه د ده ادا کیږي او څه عجیبه خبره نه ده چي الله تعالی د لمانځه او روژې په برکت ده ته د توبې توفیق ورکړي او په دې کار هم پریږدي، کما قال الله تعالی: "إن الصلاة تنهى عن الفحشاء والمنكر" (سورة العنكبوت:۴۵) او کومه ګټه چي حرامه وي، له هغې څخه د توبې صورت په بیان شوي حال کي دا دی چي حرامه ګټه خیرات کړي والتفصیل فی کتب الفقه (۲) فقط والله تعالی أعلم

حلال کسب افضل دی که نفلي عبادت؟

سوال: (۱۸۱۸)... (الف) د ځینو معتبرو سلفو له لیکونو څخه د عبادت پر حلال کسب ترجیح او افضلیت معلومیږي او د عبادت افضلیت د کوم خاص کس سره مخصوص نه

---

(۱) قال تاج الشريعة: أما لو أنفق فى ذالک مالا خبيثا أو مالا سببه الخبيث والطيب فيكره، لأن الله تعالى لايقبل إلا الطيب فيكره تلويث بيته بما لا يقبله. (الشامى كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، مطلب: كلمة لا بأس دليل على ان المستب غيره إلخ ط رشيديه)

(۲) والحاصل أنه إن علم أرباب الأموال وجب رده عليهم، وإلا فإن علم عين الحرام لايحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (الشامى كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، مطلب فى من ورث مالا حراما ط رشيديه]

دی، که عام خلک په دغه افضلیت عمل کونکي شي نو آیا الله پاک به بې له ظاهري اسبابو دوی ته روزي ورسوي؟

(ب) د طلب کسب الحلال فریضة بعد فریضة(۱) څخه د حلال کسب کولو فرض عین کیدل ثابتیږي او که نه؟ که نه ثابتیږي نو د عادت الله په اعتبار د واقعه خلاف کیدل ضرور په کار دي، یعنې بې له ظاهري اسبابو روزي ضرور ملاویدل په کار ده؟ (۱۳۳۹/۴۹۲هـ)

ځواب: (الف) په دې کې په اعتبار د اشخاصو او حیثیاتو تفاضل راځي، مثلاً د ځینو په هکله نفلي عبادت افضل وي تر کسب او د ځینو لپاره کسب افضل دی. والتفضیل فی الکتب.(۲)

(ب) طلب کسب الحلال فریضة بعد الفریضة(۲) دا هم د ځینو په هکله دی. فقط.

د مجبورۍ په وجه زوی د پلار حرامه ترکه استعمالولای شي او که نه؟

سوال: (۱۸۱۹) د زید ځوان زوی عیالداره دی او د زید روپۍ د حرامي ګټې دي، د زید زوی له دې څخه خوراک کولای شي او که نه؟ د زید زوی وایي چې زه اته روپۍ مزدوري کولای شم، په دې زما ګذاره نه کیږي، مجبور یم، د پلار له ترکې څخه خورم. (۱۳۳۹/۲۰۷۷هـ)

ځواب: د زید د زوی شرعًا داسې مجبوري نه ده چې حرام هم ورته حلال شي نو باید دې پخپله ګټه بسنه وکړي. فقط. والله تعالی أعلم.

---

(۱) عن عبدالله رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: طلب کسب الحلال فریضة بعد الفریضة. رواه البیهقی فی شعب الإیمان. (مشکوة المصابیح، ص:۲٤۸، کتاب البیوع، باب الکسب الحلال، الفصل الثالث)

(۲) قال الملا علی القاری فی مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح: طلب کسب الحلال فریضة أی علی من احتاج إلیه لنفسه أو لمن یلزم مؤنته..... ثم هذه الفریضة لا یخاطب بها کل أحد بعینه، لأن کثیرا من الناس تجب نفقته علی غیره. (مرقاة المفاتیح:٦/٢٥-٢٦ کتاب البیوع، باب الکسب وطلب الحلال، الفصل الثالث، رقم الحدیث: ٢٧٨١)

د حرامي ګټي کونکي میلمستیا قبلول صحیح نه ده

سوال: (۱۸۲۰) چا چي په سود ډیري روپۍ جمع کړي وي او اوس یې توبه ایستلې وي نو د ده میلمستیا قبلول جائز ده او که نه؟ او د سود روپۍ او سامان څه کول په کار دي؟ (۱۳۴۱/۲۴۲هـ)

ځواب: په حرامه طریقه جمع کړیو روپیو حکم دا دی چي لومړی خو مالکانو یا د هغوی وارثانو ته بیرته ورکړي یا یې په دوی وبخښي او که دا نشي کیدلای نو پر مسکینانو باندي خیرات کړي او د حرامي ګټي والا میلمستیا قبلول او ډوډۍ خوړل صحیح نه دي او توبه له داسي ګناهونو څخه چي د حقوق العباد اړوندي وي، د حقوقو بیرته ورکول یا په بخښل دي، لکه چي پورته ولیکل شو. فقط والله تعالی أعلم

د خنزیر په غوښه انګریزان خورول

سوال: (۱۸۲۱) یو سړی هوټل کوي چي پکي انګریزان هم ډوډۍ خوریو ځکه دی پکي د خنزیر غوښه هم پخوي، آیا دا روزي حلاله ده؟ (۱۳۴۱/۲۸۴۰هـ)

ځواب: داسي هوټل باید پریږدي، دغه روزي حلاله نه ده. فقط والله تعالی أعلم

د حرامي ګټي کونکي هدیه قبلول

سوال: (۱۸۲۲) ... (الف) په زنا، غلا او سود ګټلی مال په هدیه کي قبلول څنګه دي؟

(ب) که څوک په دا ډول روپیو میلمستیا وکړي نو قبلول په کار ده او که نه؟

(ج) که کوم مولوي صاحب دا وواییي چي د سود روپۍ یا د زنا روپۍ یا په دې رانیول شوی کوم شی چا ته دي په هدیه کي ورکول شي نو چا چي هدیه شي، د هغه لپاره دا مال حلال دی او که نه؟ (۱۳۴۲/۴۳۵هـ)

ځواب: (الف-ج) له حرامو څخه که څوک چا ته هدیه ورکړي او هغه ته معلومه وي چي دا د حرامو څخه ده نو ده هغه لپاره اخیستل صحیح نه دي او که ورته معلومه نه ده نو حلاله ده او په حرامو روپیو میلمستیا کولو هم دا حکم دی، که ورته معلوم وي نو نه دي خوري او که ورته معلوم نه وي نو صحیح دي فقط والله تعالی أعلم

په حرامه ګټه ځمکه رانیونکی د ځمکي مالک ګرځي او که نه؟

سوال: (۱۸۲۳) په حرامو روپیو مثلاً د سود، رشوت او نورو رانیول شوې ځمکه شرعًا مملوکه ګرځي او که نه؟(۱۳۴۲/۱۴۷۰هـ)

ځواب: ملک یې ګرځي، مګر له خباثته خلاصه نه ده او په دې چې کوم څه وګټل شي. هغه مشکوک دي او په دغه کېږه لمونځ ادا کیږي مګر کراهت پکې شته او روژه هم صحیح ده. فقط والله تعالی أعلم

سوال: (۱۸۲۴) په حرامه ګټه یو سړی خیرات کوي او کپړه او نور په رانیسي، لمونځ او نور پکې کوي او ځمکه هم رانیسي نو داسې ځمکه د ده ملک ګرځي او که نه؟ او لمونځ روژه هم صحیح کیږي او که نه؟(۱۳۴۵-۴۴/۲۰۵هـ)

ځواب: داسې ځمکه د ده ملک ګرځي او کوم تصرفات چې د دې په آمدني کې کوي، صحیح دي.

پوځیان خپل پاته خوراکي شیان خرڅولای شي

سوال: (۱۸۲۵) زید په موجوده یورپ جنګ کې د حکومت له لوري په پوځ کې ولیږل شو، خوراکي شیان دومره ورکوي چې له خوراک کولو وروسته هم پاته شي، دا که د ځان لپاره خرڅ کړي نو جائز دي او که نه؟(۱۳۳۴-۳۳/۱۸۵۴هـ)

ځواب: پاته خوراکي شیان د ځان لپاره خرڅول صحیح دي. فقط والله تعالی أعلم

د خپلې محکمې په مامور په حکومتي وخت کې خپل کار کول

سوال: (۱۸۲۶) د خپلې محکمې په مامور په حکومتي وخت کې د ځان کار کول څنګه دي؟

ځواب: نشي کولای، مګر په معروفه اندازه. فقط والله تعالی أعلم

د ټیکس (مالیې) راټولولو کار کول

سوال: (۱۸۲۷) ګورنمنټ برایي احداث طرق وتعمیر آنها از رعایا ټیکس می ګردد، ودرستئ طرق می نماید، اګر کسی مسلمان را درین کار نوکر داشته ازان مد تنخواه دهد حلال شود یا نه؟(۱۳۴۳/۳۹۸هـ)

ځواب: ملازمت کار مذکور کردن وتنخواه ګرفتن جائز است. فقط والله تعالی أعلم

سوال: (۱۸۲۷) ترجمه: حکومت د سړکونو د تعمیر او ترمیم لپاره له خلکو ټیکس راټولوي، که کوم مسلمان د دغه کار لپاره نوکر کړي او له همدغه روپیو څخه ده ته تنخواه ورکوي نو جائز دي او که نه؟

ځواب: د دغه کار نوکري کول او تنخواه اخیستل جائز ده. فقط. والله تعالی أعلم.

د نوکرۍ بچاوولو لپاره د شرعي خلاف کار کول

سوال: (۱۸۲۸) یو سړی په یوه حکومتي محکمه کې نوکر دی، پر ده پورته افسر جبراً په ده د شرعي خلاف کار کوي که دی ونکړي نو ښکاره دښمني ده. په داسې صورت کې د دغه نوکر لپاره څه حکم دی؟ او په دې د چا غاړې بندي دي؟ (۹۰۸/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: د شرعي خلاف او حرام کار د کوم افسر په وینا کول صحیح نه دی. په حدیث شریف کې راغلي دي: لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق(۱) یعنې د الله تعالی په نافرماني کې د کوم مخلوق اطاعت صحیح نه دی، نو که نوکري وي او که نه وي مګر د معصیت کار د چا په وینا جائز نشي کېدلای. فقط والله تعالی اعلم

په زیاتوب وخت کې خپل کار کول

سوال: (۱۸۲۹) یو مامور د خپل اقا کار وکړي په پاته وخت کې خپل د ځان کار کولای شي او کنه؟ (۴۲۸/ ۱۳۴۵)

ځواب: کولای شي. فقط والله تعالی اعلم.

له دولتي خزانې څخه تنخواه اخیستل

سوال: (۱۸۳۰) مثلاً د بهاول پور د ریاست خزانه چې عشر او خراج نه جمع کوي، بلکې په انګریزي طریقه یې راټولوي چې شرعًا هیڅ اصل نلري، نو داسې خزانه حلاله ده که حرامه؟ او کوم معلمان او ماموران او نور چې له دې څخه تنخواه اخلي د هغو تنخواه حلاله ده که حرامه؟ (۵۸۲/ ۱۳۴۵هـ)

ځواب: له دغه خزانې څخه چې کوم ماموران او معلمان تنخواوې اخلي د هغه لپاره حلالې دي. قال في الدر المختار: ولو خلط السطان المال المغصوب بماله ملكه فتجب

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة: ٦/ ٥٤٩ كتاب السير، في امام السرية يامرهم بالمعصية من قال: لا طاعة له.

الزكاة فيه ويورث عنه، لان الخلط استهلاک الخ. قوله (لان الخلط استهلاک) ای بمنزلته من حيث ان حق الغير يتعلق بالزمة لا بالاعيان(۱) فقط والله تعالى اعلم.

د يو ځای خدمت کولو سره بل ځای مزدوري کول

سوال: (۱۸۳۱) زيد په رشيدي ګنګوهي حجره کي اوسيدی او څه سبقونه د صرف او نحو هلکانو ته ويل او په مسجد کي لمونځ هم ورکاوي کله ناکله به په کلي کي بيان او نصيحت هم کاوي د دغه خدمت په عوض د ده کومه وظيفه يا تنخواه مقرره نه وه څه موده وروسته د بهوپال رئيس د زيد په دغه حجره کي هستوګنه باندي خبر شو. ځکه نو د تعليم سيکوټري د خير د وظائفو او مصارفو مهتمم ته وليکل چي حکومت په دې خاطر چي د زيد د هدايت او ارشاد لړۍ روان وي د زيد لپاره شل روپۍ د مياشتي تنخوا منظوره کړې ده، د زيد لپاره په داسي صورت کي بل ځای ته تلل صحيح دی او کنه؟ او که زيد بيله تعينولو تر بيرته راتلو کوم داسي اوسيدونکی يا کوم مدرس پر خپل ځای په حجره کي مقرر کړي چي د پنځو لمونځونو سره نصيحت هم کوي او او په دا غه حجره کي ناسته او ولاړه هم کوي، نو په داسي صورت کي د زيد لپاره د مياشتي ل روپۍ وظيفه اخيستل جائز دي او کنه؟ او که زيد په همدغه حجره کي اوسيږي د اراد او هدايت کار کوي او د خپل اړتيا او حاجت په وجه په ګنګوه کومه مزدوري هم کوي، نو جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۵/۳۱۳۲هـ)

ځواب: د زيد لپاره په دغه صورت کي د ضرورت په خاطر بهر ته تلل صحيح دي او بل څوک د غيبوبت په ورځو کي خپل نائب ټاکل هم صحيح دي او مقرره وظيفه اخيستل صحيح ده او که د هستوګني په حالت کي په ګنګوه کي کوم ملازمت هم کول صحيح دي. مقرره وظيفه د دغه کارونو لپاره مانع نه ده، اما دا خبره ضروري ده چي هغه خدمت به کوي کومه چي رياست ورفرمايلي دي او د کوم په عوض چي وظيفه اجراء شوې ده. فقط

---

(۱) الدر والرد، كتاب الزكاة، باب الزكاة الغنم، مطلب فيما لو صادر السلطان رجلا فنوى بذلک اداء الزكاة اليه ط رشيديه

که په نیک عمل کي نیت فاسد شي نو....

سوال: (۱۸۳۲) اگر درعمل صالح نیت فاسد مثل ریاء کاري پیش آید چه کند؟ عمل راترک کند یا نه کند؟ (۸۱۴/ ۲۹-۱۳۳۰ھ)

ځواب: اگر در اعمال صالحه نیت فاسد مثل ریاء وغیره پیش آید، عمل راترک نه کند وتصحیح نیت حتی الوسع کرده باشد. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۱۸۳۲) ترجمه: که په نیک عمل کي نیت فاسد شي مثلا ریاء او نور پکي راشي نو څه کار پکار دی؟ عمل پریږدو او کنه؟

ځواب: که په نیت عمل کي نیت فاسد شي مثلا ریاء او نور وشي نو عمل مه پریږدی او حتی الامکان نیت سم کړئ. فقط والله تعالی اعلم

له ګټي څخه څه بچاوول څنګه دي؟

سوال: (۱۸۳۳) له ګټي څخه څه روپۍ بچت کول او جمع کول څنګه دي؟ (۲۳۵/ ۱۳۳۵ھ)

ځواب: د اقتصاد یعني د مینځ لاره اختیارولو تعریف په حدیثو کي راغلی دی او د اسراف په شریعت کي سخته منع راغلې ده او د اسراف کونکي په هکله په قرآن شریف کي سخت وعید راغلی دی او لاس زیات تنګونکی هم ملامتی راغلې ده(۱) لهذا هر انسان ته په کار دي چي حتی الوسع د مینځ لاره نه پریږدي، که د احتیاط کولو سره د آئنده ضرورتونو او حاجتونو لپاره څه ږدي، نو داسي جمع کول صحیح دي او کله چي نصاب ته ورسي زکوة دي ادا کوي. لان ما ادی زکاته فلیس بکنز کما ورد فی الحدي(۲)

---

(۱) قال الله سبحانه و تعالی: ولا تبذر تبذیراً، ان المبذرین کانوا اخوان الشیطن وکان الشیطان لربه کفوراً (سورة بني اسرائیل، آیت: ۲۶-۲۷)

وقال ایضًا: ولا تجعل یدک فعلولة العنقک ولا تبسطها کل البسط فتقعد ملوما محسورًا (سورة بني اسرائیل، آیت: ۲۹)

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: لمانزلت هذه الآیة "والذین یکنزون الذهب والفضة الآیة" کبر ذلک علی المسلمین، فقال عمر رضی الله عنه: ان اخرج عنکم فانطلق فقال: یا بني الله! انه کبر علی اصحابک

وعن عبد الله بن عباس رضی الله عنهما ان نبي صلی الله علیه وسلم قال: ان الهدی الصالح والسمت الصالح والاقتصاد جزء من حمسة وعشرین جزء من النبوة رواه ابو داؤد (۱) وفي حدیث آخر: لا باس بالغنی لمن اتقی الله عزوجل الحدیث (۲) وقد ورد: نعم المال الصالح للرجل الصالح (۳) شرعًا د دې څه حد نه دی بیان شوی چې د تنخواه څومره برخه دې مصرف شي او څومره دې بچاو شي بلکې په توسط او احتیاط سره مصرف کوي او څه چې پاتې شي د هغه ایښودل مباح او صحیح دي فقط

بې د حقوقو له یادوني عامه د معافي پاڼه لیکل کافي ده

سوال: (۱۸۳۴) څه فرمایي علماء د دین په دغه مسئله کې چې کوم څوک د حقوق العباد معافي په طریقه د لیک یعني پر یو کاغذ باندې خپلې خبرې ولیکي او لاندې پخپلو ټولو اندیوالانو مشرانو او استاذانو دا ولیکل چې مورډ ده هغه قصور او حقوق چې زموږ سره اړه لري یا پرده باندې وي ټول معاف کړل، په دې وجه چې معلومه نه ده چې

هذه الآیة، فقال: ان الله لم یفرض الزکاة الا لیطیب ما بقی من اموالکم الحدیث (مشکوة المصابیح، ص: ۱۵٦ کتاب الزکاة، الفصل الثاني)

(۱) سنن ابي داؤد، ص: ٦۵۹، اول کتاب الادب، باب في الوقار

(۲) عن رجل من اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم قال: کنا في مجلس، فطلع علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم وعلی راسه اثر ماء، فقلنا: یا رسول الله! نراک طیب النفس، قال: اجل، قال: ثم خاض القوم في ذکر الغني، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا باس بالغنی. الحدیث. (مشکوة المصابیح، ص: ٤۵۱ کتاب الرقاق، باب استجاب المال والعمر للطاعة الفصل الثالث)

(۳) عن موسی بن علي بن ابي رباح یقول: سمعت ابي یقول: سمعت عمرو بن العاص رضی الله عنه یقول: بعث الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاتیته، فامرني ان آخذ علی ثیابي و سلاحي، ثم آتیه، قال: ففعلت ثم اتیته وهو یتوضا فصعد في النظر وارغب لک رغبة صالحة من المال، فقلت: یا رسول الله! اني لم اسلم رغبة في المال، لکن اسلمت رغبة في الاسلام وان اکون مع رسول الله صلی الله علیه وسلم: فقال لي یا عمرو! نعم المال الصالح الرجل الصالح (شعب الایمان للبیهقي: ۲/ ۹۱. رقم الحدیث: ۱۲٤۸، باب التوکل بالله عزوجل والتسلیم لامره تعالی في کل شی، المطبوعة، دار الکتب العلمیة بیروت لبنان)

کله به انسان ته مرګ راځي او څه له هر یو شخه په خوله معاف نکړم او د حقوق العباد بار زما په غاړه وي، داسي جائز دي او کنه؟ بینوا بالکتاب و توجروا بالحساب. (۱۱۳۷/ ۱۳۳۵هـ)

ځواب: په دا ډول معافولو هم حقوق معافیږي، په شرح فقه اکبر کي راغلي دي: وفي الخلاصة: رجل قال لآخر: حللني من کل حق هو لک، ففعل فابراه، ان کان صاحب الحق عالماً به بری حکما و دیانة وان لم یکن عالماً به بری في الحکم بالاجماع واما دیانة فعند محمد لا یبرأ وعند ابي یوسف رحمه الله بری وعلیه الفتوی. (۱) فقط

اسلام قبلونکي ته د حکومت له ویري کلمه نه ویل

سوال: (۱۸۳۵) یو اوولس کلن هلک غواړي چي مسلمان شي د غه د جمعې تر لمانځه وروسته جامع مسجد ته ورغلی د جامع مسجد وامام ته چي مولوي هم دی وویل چي زه اسلام قبلول غواړم، مولوي صاحب د حکومت له ویري ورته کلمه ویلو څخه انکار وکړ چي لومړی ته له حکومته اجازه واخله بیا کلمه درته وایم، په داسي صورت کي د مولوي صاحب په اړه څه حکم دی؟ (۱۲۲۷/ ۱۳۳۵هـ)

ځواب: د توحید کلمه ورته ویل پکار وه دا شرعي حکم دی، د حکومت له طرفه د دي هیڅ منع نشته، دا له دغه مولوي صاحب څخه غلطي شوې ده. فقط والله تعالی اعلم

نابالغ مسلمانول

سوال: (۱۸۳۶) کوم کم عمر نابالغ او یتیم هندو چي عمر به نهه لس کاله وي مسلمانول څنګه دي؟ (۲۲۷/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: د نهو او لسو کلونو ماشوم اسلام قبلول صحیح دي او مسلمانول د ده صحیح دي فقط.

د محرم په لسمه د مسجد تعمیر ناجائز بلل غلط دي

سوال: (۱۸۳۷) زید وایي چي د محرم د میاشتي په لسمه د مسجد تعمیر، ترمیم او نور نه دي کول په کار ځکه چي دا میاشته د غم ده او عمر وایي چي د مسجد په تعمیر او

---

(۱) شرح الفقه الاکبر ص: ۱۹۵، بیان اقسام التوبة، المطبوعة: مطبع مجتبائي دهلي.

ترمیم کي د کوم وخت ځانګړتیا نشته. په محرم کي هم کیدلای شي. شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۳۵۴هـ)

ځواب: د زید خبره غلطه ده صحیح خبره د عمر ده د مسجد د تعمیر او ترمیم فضیلت عام دی په کومه میاشته یا ورځو کي منع نشته. قال الله تعالی في کتابه المبین: انما یعمر مساجد الله من امن بالله والیوم الآخر (سورة توبه، آیت: ۱۸) وعن عثمان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من بنی لله مسجدًا بنی الله له بیتًا في الجنة، متفق علیه الحدیث(۱) دا نصوص عام دی د کومي میاشتي او ورځي په دې کي تخصیص نشته. فقط والله تعالی اعلم.

که پر مسلمان د وفات شوي کافر حق وي نو د خلاصون څه صورت وي؟

سوال: (۱۸۳۸) که د کوم کافر حق لکه نغدي روپۍ یا بل شی پر مسلمان وي او هغه کافر وفات شي یا مسلمان او کافر ډیر سره لیري ي چي پلټنه مشکله وي او د ده وارثان هم نه وي معلوم، نو دا مسلمان به د کافر له حقه خپلي اوږي څرنګه سپکوي؟ که مسکین ته ورکړي ثواب یې کافر ته وبخښي، نو غاړي خلاصیږي او کنه؟ او کافر ته ثواب رسي او کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۳هـ)

ځواب: کله چي د ادا کولو او معافۍ کوم صورت نه وي، نو بیا حکم د دې مسکینانو ته ورکول دي، په دې سره د ده اوږې سپکیږي نور نو هغه ته که ثواب رسي او که نه رسي مګر د ورکونکي غاړي خلاصي دي. فقط والله تعالی اعلم.

ایا مصیبتونه د تیر ژوندون د ګناهونو په وجه راځي

سوال: (۱۸۳۹) یو هندو وایي چي په موجوده ژوندون کي مصیبتونه د تیر ژوندون د ګناهونو په وجه راځي او د موجوده ژوندون د ګناهونو د سزا او نتیجې په توګه نه دي، مثلا پر یو پنځه کلن ماشوم د مور او پلار د مرګ مصیبت راغلی نو په موجوده ژوندون کي خو ده کومه ګناه نه ده کړې او د امتحان ورځ هم نه دی، داسي کیدلای شي چي د دغه مصیبت سبب د تیر ژوندون کومه ګناه وي؟ (۱۳۳۷/۷۳۷هـ)

---

(۱) مشکوة المصابیح ص: ۶۸ کتاب الصلوة، باب المساجد ومواضع الصلوة الفصل الاول.

ځواب: لومړی خو د دې مصیبت کیدل نه منل کیږي څه عجیبه خبره خو نه ده چې د ده لپاره دې د مور او پلار مرګ غوره وي او چې همدې کې حکمت وي او که دا مصیبت کیدل ومنل شي نو د هر تکلیف د عمل سزا کیدل نه منل کیږي، ځینې تکلیفونه د درجو بلندولو لپاره راځي، له دې څخه پرته دې له ده څخه پوښتنه وشي چې تر ټولو مخکې ژوندون کې چې د الله تعالی د عادت سره سم کوم تکلیفونه ده ته رسیدلي دي هغه د کوم ژوندون سزا وه؟

د سائنس په خلاف مذهب باطل بلل

سوال: (۱۸۴۰) یو سړی وایي چې کوم مذهب د سائنس سره سم نه وي هغه مردود او باطل دی او د خدای مذهب نه دی. (۱۹۰۲/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: دا صحیح خبره ده چې الهي احکام د بالغ حکمت او تام عقل سره سم دی. لیکن هر سړی د دې د حقیقت ادراک نشي کولای، نو دا د دغه سړي غلطي ده چې الهي احکام د دخپلي پوهني تابع کوي پرده لازم دي چې الهي احکام پر سر او سترګو کښیږدي او که پخپله نیمګړې پوهنه کې نشي را نو د خپلي پوهني قصور دي وبولي. فقط والله تعالی اعلم.

د فلکیاتو علماء چې د سیارو کوم حالات معلوم کړی دی پر هغو یقین کول جائز دي او کنه؟

سوال: (۱۸۴۱) د شمسي او سیارو نظام وجود خو د الله تعالی په کلام ثابت دی، د فلکیاتو جدید علماء چې د سیارو د ماهیت کوم اصول بیان کړي دي او د آلاتو په وسیله باندې د دوی دننې حالات معلوم کړي دي پر دې باندې یقین کول جائز دي او کنه؟ (۸۹۴/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: هغه شیان چې نصوص څنې ساکت دي او په ظني طریقه د دوی کیفیتونه د فلکیاتو علماء معلوم کړي دي پر هغو یقین نه دي کول پکار، معلوم نه دي چې په نفس الامر کې څه دي؟ او شارع د دې مکلف نه یو ګرځولي او الله تعالی فرمایي: "ولا تقف مالیس لک به علم" (سورة اسراء آیت: ۳۶) لهذا اقرار او انکار یو شوی مه کوي او مه د

دي په تحقیق پسي کیږئ چي حاصل يې نشته، امام خو مره خبره چي په تجربه او مشاهد ه ثابته ده هغه مه ردوی. فقط والله تعالی اعلم

په بیت الخلاء (ټټی) کي څه لیکل او توکل

سوال: (۱۸۴۲)... (الف) په بیت الخلاء کي پر مخامخ دیوال بین القوسین دا عبارت "په بیت الخلاء کي توکل شرعًا منع دي "لیکل جائز دي او کنه؟
(ب): ایا شرعًا په بیت الخلاء کي توکل منع دي، که منع دي نو په حدیث که د بزرگانو په اقوالو؟ (۹۲۱/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: (الف) په بیت الخلاء څه لیکل مکروه دي وقیل... یکره مجرد الحروف الخ ولعل وجه ذلک ان حروف الهجاء قرآن انزلت علیٰ هود علیه السلام الخ (۱)
(ب): شامي د بیت الخلاء په آدابو کي رانقل کړي دي: ولا یبزق في البول (۲) له دي څخه معلوم شو چي بیله ضرورته مه توکئ او کوم حدیث په دې هکله راته معلوم نه دی. فقط

پر مسلمان بدګماني کول ناروا ده

سوال: (۱۸۴۳) پر چا بد ګماني کول جائز ده او کنه؟ (۱۱۸۵/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: بد ګماني پر کوم مسلمان کول جائز نه ده. قال الله تعالی: "یایها الذین آمنوا اجتنبوا کثیرًا من الظن ان بعض الظن اثم " الآیة (سورة حجرات، آیت: ۱۲) فقط والله تعالی اعلم

په زړه کي وچا ته د څه ورکولو ارادې څه حکم دی؟

سوال: (۱۸۴۴) هندې په زړه کي اراده وکړه چي که زما په لاس سل روپۍ راغلې نو فلاني شی به خپل خاوند زید ته ورکړم، د زید سره کومه وعده نه ده کړې اوس چي د

---

(۱) رد المحتار علی الدر، کتاب الطهارة، آخر مطلب الدعاء علی ما یشتمل الثناء، قبیل باب المیاه ط رشیدیه.

(۲) حاشیة ابن عابد بن علی الدر، کتاب الطهارة، باب الانجاس مطلب في الفرق بین الاستبراء ولاستنقاء ولاستنجاء ط رشیدیة.

هندي لاس ته سل روپۍ راغلي نو په دې باندې د دغه شي ورکول واجب دي او کنه؟ (۱۲۸۰/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: پر هنده باندې وخپل خاوند ته د دغه شي ورکول الزم نه دي که خپله اراده پوره کړي نو ښه دي کني غاړې نه دې بندې. فقط والله تعالی اعلم.

د اوبو ډکولو کار نه کول او تنخواه اخيستل

سوال: (۱۸۴۵) که د يو سړي نوم په اوبه ډکونکيو کې وليکل شي او دی صرف د مسجد خدمت کوي او به نه ډکوي د ده لپاره تنخواه اخيستل جائز ده او کنه؟ (۲۱۱۹/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: داسې کول د احتياط خلاف دي په داسې دو که له حکومت څخه تنخواه اخيستل صحيح نه ده.

د انګريزي رنګونو استعمال صحيح دي

سوال: (۱۸۴۶) د انګريزي رنګونو استعمال جائز دی او کنه؟ (۲۱۸۸/ ۱۳۳۷هـ)

ځواب: د انګريزي رنګونو استعمال صحيح دی. فقط والله تعالی اعلم.

بيله اجازته د چا ليک ويل

سوال: (۱۸۴۷) يوه کونډه ښځه هنده ويو نامحرم ته خطونه ليکي، بکر په پټه د هندې خطونه خلاص کړي صرف په دې غرض باندې وايي چې کومه بې ځايه د شهوت خبره خو به نه وي ليکلې، په دې نيت د هندې خطونه بيله اجازې کتل جائز دي او کنه؟ (۴۳۱/ ۱۳۳۸هـ)

ځواب: د بل چا لپاره د چا خط نه دي کتل پکار، الله تعالی فرمايي: "ولاتجسسوا" (سورة حجرات، آيت: ۱۲) يعني تجسس او عيب پلټنه د چا مه کوئ، نور نو که دا معلوم شي چې د بکر او هندې سره څه رشته ده او دی د دې ولي او نور دي نو شايد بيا حکم بل وي. فقط والله تعالی اعلم.

په ډېره موده تېرېدو د چا حق نه باطلېږي

سوال: (۱۸۴۸) په څو مره موده کې د حقدار حق باطلېږي. په قرآن او حدیث کې څو څیزې دا ثبوت نشته چې د ډېرې مودې په تېرېدو د میراث حق باطلېږي. بیا څه وجه ده چې موده ټاکل شوې ده؟ (۸۹۱/ ۱۳۳۸هـ)

ځواب: په تقادم د زمانې د کوم حقدار حق نه ساقطېږي، نو هر څومره موده که تېره شي د کوم حقدار حق عند الله نه ساقطېږي، حتی یرد ان هذا قول مهجور لانه لیس ذلک حکماً ببطلان الحق وانما هو امتناع من القضاة عن سماعها خوف من التزویر و لدلالة الحال کما دل علیه التعلیل، والا فقد قالوا: ان الحق لا یسقط بالتقادم الخ(۱) فقط والله تعالی اعلم.

د ځمکو له تبادله کولو وروسته ورثاء فسخ د تبادلې نشي کولای

سوال: (۱۸۴۹) زید او عمر پخپل منځ کې په خوښه او رضا ځمکې سره بدلې کړې او هر یو د یو بل پر ځمکه قبضه وکړه او تصرف یې پکې کاوې پنځوس کاله تېر شو، اوس زید او عمر دواړه وفات شوي دي د زید او عمر وارثان هم پر همدغه تبادله قائم وو مګر په دولتي اسنادو او کاغذونو کې هغه ډول مخکني نومونه لیکل کېدل، په همدې وجه د زید ځینو وارثانو او عمر د وارثانو پر ځمکه تصرف وکړې او د خپلې برخې په اندازه یې بیعانه د خپلې ځې په ولیکله او د دې د ګټې د عمر پر وارثانو یې دعوی لرې شرعًا دوی ته د دغه تبادلې د فسخ اختیار شته او کنه؟ او د دې له منافع څخه استفاده کول څنګه دي؟ (۱۱۰۲/ ۱۳۳۸هـ)

ځواب: شرعًا د تبادلې معامله پخ شوې وه لهذا اوس د زید او عمر په وارثانو کې وهیچا ته د دغه معاملې د ماتولو اختیار نشته او د زید د وارثانو لپاره د عمر په ځمکه کې د بیع او نورو تصرفاتو کولو اختیار نشته او له دغه ځمکې څخه د استفادې اختیار او اجازه لرې. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الشامي، کتاب الخنثی، مسائل شتی ط رشیدیه.

په مسلمانانو کې خليفه ضروري او کنه؟

سوال: (۱۸۵۰) پـه مسـلمانانو کـې د خليفـه وجـود ضـروري دی او کنـه؟ (۱۳۳۸/۱۹۷۹ھ)

ځواب: د ضروري او مهمو واجباتو څخه دی. فقط والله تعالی اعلم

د بل د کور و طرفته د هوا او رڼا لپاره کلکين خلاصول

سوال: (۱۸۵۱) د زيد او عمر دوه سرايه مردانه دي، د زيد د سرای شا د عمر په مردانه سرای کې ده او د ده د اوبو بهيولو حق و شاته پاؤ باندي ګزشته چې د عمر و خوا ته دی زيد د خپل سرای په شا کې دريچه د هوا او رڼا لپاره خلاصول غواړي، د عمر سرای خو مردانه دی او هميشه به مردانه وي او که وغواړي نو چې د زيد حق پريږدي خپل بيل ديوال جوړولای شي، په داسي صورت کې د زيد لپاره شرعًا د کړکۍ خلاصولو حق شته او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۲۲۵ھ)

ځواب: په دغه صورت کې د زيد د هوا او رڼا لپاره کلکين خلاصول صحيح دي کما فی الشامي: و اذا اراد به الاستضاءة و الريح دون المرور لم يمنع من ذلک الخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د لمونځ کونکيو د ښپليو مخ د ختيز پر لور کول

سوال: (۱۸۵۲) يو سړي د لمونځ کونکيو د چوټو مخ د مشرق و طرف ته کوي چې ثواب وګټي، د دي په اړه څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۱۲۷۴ھ)

ځواب: دا هيڅ پروا نلري، د ثواب کار دی. فقط و الله تعالی اعلم

په اولاد کې انجوني هم داخلي دي

سوال: (۱۸۵۳) د ولد اطلاق پر انثی باندي هم کيدلای شي او کنه؟ او د بنات اولاد هم په لفظ د اولاد کې داخليدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۸۸۸ھ)

---

(۱) الشامي کتاب القضاء باب: کتاب القاضي الی القاضي و غيره، مطلب في فتح باب آخر للدار. ط رشيديه

ځواب: د ولد اطلاق پر انثی باندي هم کیږي. فی الر المختار فی بیان الوقف علی الاولاد، و یعم(ای لفظ اولد یعم) الانثی ما لم یقید بالذکر(۱) فقط

د مظلومانو او بې وزلو مرسته تر نفلي حج غوره ده

سوال: (۱۸۵۴) د موپل د مظلومانو لپاره چي ورسرد نه ډوډۍ شته نه جامې او نه کورونه، ما د څو بزرګانو له طرفه د حج بدل کولو اراده کړې وه آیا د غه روپۍ د موپل د مظلومانو و مرستي ته که ولیږم نو جائز دي او کنه؟(۱۳۴۰/۲۴۹۱هـ)

ځواب: بیله شکه په د غه صورت کي تر نفلي حج د موپل د ظلومانو په مرسته کولو کي ډیر ثواب دی، فقط و الله تعالی اعلم

که سپی په بسم الله حلال کړي نو د څرمني څه حکم دی؟

سوال: (۱۸۵۵) که سپی په تکبیر ویلو حلال کړي نو یو سلفی وایي چي پر څرمن باندي لمونځ کول جائز دي؟(۱۳۴۱/۳هـ)

ځواب: په دې کي اختلاف دی کوم ائمه چي سپي ته نجس العین وایي هغه دې ته ناروا وایي او خوک چي نجس العین ورته نه وایي هغه یې جائز بولي و هو الاظهر کذا فی الدر المختار ان الکلب لیس بنجس العین(۲) فقط

د اوسنی زماني عیسایان اهل کتاب دي او کنه؟

سوال: (۱۸۵۶) د نن صبا عیسایانو سره معامله د اهل کتاب کول پکار ده او کنه؟(۱۳۴۱/۲۰۰هـ)

ځواب: د غه عیسایان د اوسنی زمانې عند البعض اهل کتاب نه دی. په همدې کي احتیاط دی چي د دوی سره معمله د اهل کتاب و نه شي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر مع الرد کتاب الوقف، فصل فیما یتعلق بوقف الاولاد. ط رشیدیه

(۲) اما فی الکلب فبناء علی انه لیس بنجس العین و هو اصح فی احکام الدباغة. ط رشیدیه

پر دېوال ليکل. ماښام جارو وهل او د جمعې په شپه دسترخوان څنډل څنګه دي؟

سوال: (۱۸۵۷) په خلکو کې مشهوره ده چې پر دېوال ليکلو په وجه سړی مقروض کرځي او ماښام جارو وهل منع دی او د جمعې په شپه سرخوان څنډل منع دي؟ (۲۲/۲۲۲۔ ۱۳۳۳ھ)

ځواب: د غه خبري هيڅ اصل نلري. فقط و الله تعالی اعلم

د شپې جارو وهل يا په هينداره کې کتل جائز دي

سوال: (۱۸۵۸) د شپې جارو وهل يا په هينداره کې کتل څنګه دي؟ (۱۳۴۱/۲۰۸ھ)

ځواب: جائز دی. فقط و الله تعالی اعلم

د ډير عمر بوډاګان ښځه او خاوند له مغلظ طلاق وروسته په يو کور کې اوسيدلای شي او کنه؟

سوال: (۱۸۵۹) زيد د شپيتو کلونو او د ده ښځه هنده د پنځوسو کلونو ده زيد و دې ته مغلظ طلاق ورکړی، اوس دوی دواړه په يو کور کې اوسيدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۱/۲۷۳ھ)

ځواب: په درمختار کې راغلي دي: و لهما ان يسكنا بعد الثلاث فی بيت واحد اذا لم يلتقيا التقاء و الازواج و لم يكن فيه خوف فتنة(۱) ترجمه: او له دريو طلاقونو وروسته دوی دواړه په يو کور کې اوسيدلای شي په دې شرط چې د ښځي او خاوند په رنګه ژوند سره نه کوي او کومه فتنه هم په دې کې نه وي او د زنا انديښنه نه وي او له شيخ الاسلام څخه رانقل کړی دی چې که دواړه بوډاګان ؤنو په يو کور کې اوسيدلای شي ليکن د ښځي او خاوند په رنګه دي نه سره اوسيږي(۲) فقط و الله اعلم

---

(۱) الدر مع الرد كتاب الطلاق، باب العدة، مطلب: الحق ان على المفتى ان ينظر فى خصوص الوقائع. ط رشيديه

(۲) و سئل شيخ الاسلام عن زوجين افترقا و لكل منهما ستون سنة و بينهما اولاد تتعذر عليهما مفارقتهم فيسكنان فى بيتهم و لا يجتمعان فى فراش و لا يلتقيان التقاء الازواج، هل لهما ذلک؟ قال: نعم (الدر مع الشامي كتاب الطلاق، باب العدة. ط رشيديه)

د ورېرېګانو په مال کي د تصرف کولو ولایت اکا ته نشته

سوال: (۱۸۲۰) یو سړي د خپلو ورېرېګانو په مال کي پخپله ولي جوړ شو او د دیو په مال کي دا تصرف وکړی چي د دکان خومره سامانۊ. د هغه یې ډیر کم قیمت کښېښودی خپل زامن یې بیله روپیو پکي شریکان کړو او څه موده وروسته دا وویل چي په دکان کي تاوان وشو او د ټول دکان د ټول سامان یې ډیر کم قیمت ولګاوی د خپلو زمنو په نوم یې رانیوی او د قیمت چي کومي نغدي روپۍ راغلې په هغه یې یو داسي جائیداد رانیوی چي ځمکه د حکومت ده او د دیوالونه او چت یې مشترک دی، که خرڅ کړی نو نیم قیمت به په ډیر مشکل ولاس ته راشي، آیا د دغه ولي تصرفات به د ورېرېګانو په هکله معتبر وي او کنه؟ او ورېرېګاني خپلي نغدي روپۍ غواړي نو نغدي روپۍ دوی ته ملاوېدلای شي که د دوی لپاره هغه جائیداد اخیستل لازم دي؟ (۱۳۴۳/۱۹۵۵هـ)

ځواب: د ورېرېګانو په ملا کي و اکا ته د تصرف ولایت نشته نو شرعًا ده ته دا اختیار نهٔ چي د ورېرېګانو په مال کي دا ډول تصرف وکړی لکه چي په درمختار کي راغلي دي: و ولیه ابوه ثم وصیه الخ ثم... جده الخ قال فی الشامي: دون الاخ و العم الخ قوله دون الام او وصیها الخ قال الزیلعي: و اما ما عد الاصول من العصبة کالعم و الاخ او غیرهم کالام الخ لیس لهم ان یتصرفوا فی ماله تجارة الخ(۱) لنډه دا چي د اکا دغه تصرفات شرعًا ټول ناجائز دي او ورېرېګاني د خپلي برخي روپۍ اخیستلای شي. فقط و الله تعالی اعلم

مباح کار که د فرض معاون وي نو څه حکم دی؟

سوال: (۱۸۲۱) کوم مباح کار چي د کوم فرض معاون شي یا د عبادت د هغه به څه حال وایي؟ آیا دا کار به مباح وي که څنګه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۷۲)

ځواب: کوم مباح کار چي د کوم فرض معاون او همکار شي، هغه مستحب ګرځي او د هغه کول غوره ګرځي، ځکه چي په دې سره په فرضو کي مرسته کیږي او که د فرضو موقوف علیه وي چي بیله د دې فرض نه ادا کیږي نو فرض ګرځي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱)الدر المختار کتاب المأذون، مبحث فی تصرف الصبی و من له الولایة علیه و ترتیبها. ط رشیدیه

حضرت خضر ژوند دی؟

سوال: (۱۸۲۲) حضرت خضر ژوندی دی؟(۱۰۰۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: په دې کې د علماء اختلاف دی، زیاتره محدثین یې د حیات قول کوي، بیا په دې کې هم بحث شته چې که ژوندی دی نو څه ډول دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله په معارف القرآن تفسیر کې لیکي: په قرآن کریم کې چې کومه واقعه د حضرت خضر بیان شوې ده، د هغې د دغه خبرې سره هیڅ تړون نشته چې له دغه واقعې وروسته حضرت خضر وفات شو که ژوند ؤ، ځکه په قرآن او حدیث کې د دې په اړه کومه څرګنده خبره نشته، له ځینو روایتونو او آثارو څخه د ده تر اوسه ژوندی کېدل معلومیږي له ځینو روایتونو څخه د دې په خلاف معلومیږي، ځکه په دې هکله همیشه د علماؤ رایې بیلابیلې شوې دي، څوک چې د ده د ژوند خبره کوي، د هغو استدلال یو خو له هغه روایت څخه دی کوم چې حاکم په مستدرک کې له حضرت انس رضی الله عنه څخه رانقل کړی دی چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو نو یو سړی د توري سپیني ږیرې ولا راغلی او د خلګو په منځ کې راکښیواتی، دننه راغلی او په ژړا شو بیا و صحابه ته متوجه شو، داسې وویل: ان فی الله عزاء من کل = مصیبة و عوضا من کل فائت و خلفا من کل هالک فإلی الله فأنیبوا و الیه فارغبوا فإنما المحروم من حرم الثواب، دغه کلمات یې وویل رخصت شو نو حضرت ابوبکر او حضرت علي مرتضی رضی الله عنهما وفرمایل چې دا خضر ؤ، دغه روایت جزري رحمه الله په حصن حصین کې رانقل کړی دی چې شرط یې دا دی چې صرف صحیح السند روایتونه په دې کې لیکي.

او د صحیح مسلم په روایت کې راغلی دی چې د جال په مدینه منوره ته نژدې تر یو ځای پورې راشي نو له مدینې څخه به یو شخص د ده مقابله ته رووځي چې د هغه زمانې تر ټولو اسنانانو به غوره وي یا به له غوره خلګو څخه وي ابو اسحاق فرمایي چې دا به حضرت خضر وي (قرطبي) او څوک چې د حضرت خضر ژوند نه مني د هغو ټمټ استدلال په هغه حدیث دی کوم چې په صحیح مسلم کې له حضرت عبد الله بن عمر رضی لله عنهما څخه رانقل شوې دي، هغه فرمایي چې یوه شپه رسول الله صلی الله علیه وسلم و موږ ته د ماخوستن د خپل ژوند په آخري برخه کې راکړې له سلام ګرځولو وروسته دې مبارک ولاړ شو او داسې وفرمایل: "ارأیتکم لیلتکم هذه فإن علی رأس مائة سنة منها لا یبقی ممن هو لی ظهر الارض احد" حضرت ابن عمر رضی الله عنهما له دغه روایت نقلولو وروسته فرمایي چې د دغه روایت په هکله خلک بیلابیلې خبرې کوي مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد دا ؤ چې پر سل کاله به دا صدی ختمه شي.

و بازاري کورکمن ته ناپاک ويل

سوال: (۱۸۲۳) په ځينو ځايونو کي کورکمن په ګوبرو (خوشايو) ايشول کيږي نو په دې وجه چي کوم کورکمن په بازارونو کي خرڅيږي، پر هغو د نجاست حکم کيدلای شي او کنه؟ (۲۹/۷۸۰-۱۳۳۰هـ)

ځواب: که په ځينو ځايونو کي کورکمن په ګوبرو ايشول کيږي نو کوم کورکمن چي په بازارونو کي خرڅيږي د نجاست حکم ورباندي نشي لګول کيدلای، ځکه چي په شک سره د نجاست حکم نشي لګول کيدلای لکه چي د "اليقين لا يزول بالشک "(۱) په قاعده ثابت دي. فقط و الله تعالی اعلم

نوي مسلماني چي د کفر پر مهال کوم مال غلا يا غصب کړی وُ د هغه حکم څه دی؟

سوال: (۱۸۲۴) يوه فاحشه کافره ښځه مسلمانه شوه نو تر اسلام قبلولو مخکي چي دی کوم حرام مال په حرامه وسيله ګټلی دی، هغه اوس دې لپاره په حالت د اسلام کي حلال دی که حرام؟ که دغه د کفر پر مهال کوم مال غلا کړي يا غصب کړی وي نو په حالت د اسلام کي دا مال ورته حلال دی که حرام؟ (۲۳۰/۱۳۳۸هـ)

دغه روايت په مسلم کي له حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنهما څخه هم نژدې په همدغه الفاظو رانقل شوي دي، ليکن علامه قرذبي رحمه الله له دغه روايت رانقلولو وروسته فرمايي چي په دې کي د هغو خلګو لپاره کوم صحت نشته کوم چي د خضر و حيات ته باطل وايي ځکه چي په دغه روايت کي که څه هم د ټول بني آدم لپاره د عموم الفاظ راغلي دي او عموم هم مؤکد دی، مګر بيا هم په دې کي نص نشته چي دا عموم دی د آدم عليه الصلاة و السلام و ټول اولاد ته شامل وي ځکه چي په اولاد د آدم کي خو حضرت عيسی عليه الصلاة و السلام هم شته چي نه وفات شوی دی او نه قتل کړل شوی دی، ځکه ظاهر دا دي چي د حديث په الفاظو علی الارض کي الف لام د عهد دی او مراد له ارض څخه ارض د عربو ده، ټوله ځمکه چي پکي د يأجوج مأجوج ځمکه او دش رق او جزائر بلاد چي نو مونه عربو هم نه دي اورېدلي پکي شامله نه ده، دا د علامه قرذبي تحقيق دی. (معارف القرآن: ۲۲۳/۵-۲۲۵. تفسير سورة کهف، آيت: ۸۲)

(۱) قواعد الفقه، ص: ۱۴۳، قاعدة: ۴۲۱.

ځواب: د کفر پر مهال چې د غه ښځي کوم مال په حرامه وسیله ګټلی دی تر اسلام قبلولو وروسته ورته دا مال حلال دی، لأن الاسلام یهدم ما کان قبله کما ورد فی الحدیث اما علمت یا عمرو ! ان الاسلام یهدم ما کان قبله و ان الهجرة تهدم ما کان قبلها و ان الحج یهدم ما کان قبله الحدیث(۱) او کوم مال چې په غلا او غصب و لاس ته کړی دی، هغه تر اسلام قبلولو وروسته هم د دې لپاره حلال نه دی، هغه دې بیرته ورکړي یا دې په وبخښي اوي ا دې خیرات کړي فقط.

د درزي (خیاط) لپاره پاته شوې کپړا راګرځول صحیح نه ده

سوال: (۱۸۲۵) درزي او جولاګي د کپړې ټوټې (سکښتي) چې د مالک په ښه نه وي راګرځولای شي او کنه؟(۱۳۴۵/۱۲۲۲هـ)

ځواب: د درزي او جولاګي لپاره بې د مالک له اجازته ټوټې او نور راګرځول جائز نه دي له مالک څخه اجازه اخیستل پکار ده(۲) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن ابن شمامة المهري قال: حضرنا عمرو بن العاص و هو فی سیاقة الموت یبکي طویلا و حول وجهه الی الجدار، فجعل ابنه یقول: یا ابتاه! اما بشرک رسول الله صلی اله علیه وسلم بکذا؟ ... قال: اما علمت یا عمرو! أن الاسلام الحدیث(الصحیح لمسلم: ۷۶/۱، کتاب الایمان، باب کون الاسلام یهدم ما قبله و کذا الحج و الهجرة)

(۲) راجح او صحیح قول دا دی چې دا سې معمولي ښکستي چې مالک پخپله هم پریږدي که درزي استعمال کړي نو څه پروا نلري ولې ی دلالةً اجازه شته

په فتاوی رحیمیه کې راغلي دي:

و درزي ته چې کوم ټوکر پاته شي که هغه دا سې معمولي ټوټه وي چې د کپړې مالک یې پخپله هم پریږدي او نه یې وړي نو د سای معمولي ټوټه که درزي استعمال کړي نو هیڅ پروا نلري، استعمالولای یې شي حکمًا اجازه شته

په فتاوی دار العلوم دیوبند کې راغلي دي: معمولي ښکستي چې د پکړې مالک یې پخپله هم پریږدي نه وړي که درزي د غه ټوټې په کومه کپړه کې وکندي نو اغوستل یې جائز دي

(فتاوی دار العلوم دیوبند قدیم ۷-۸-۲۸۴. امداد المفتیین)

لیکن که پاته شوې کپړا غټه او په کار راتلونکې وي او مالک عمومًا داسې ټوټه نه پریږدي نو که د مالک په اجازه درزي دا سې کپړا راوګرځوي بیا خو استعمالولای شي او که د مالک اجازه نه وي بیا

سوال: (۱۸۲۶) د درزي لپاره پاته شوي کپړه راګرځول جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۵/۲۲۴۸هـ)

ځواب: بې د مالک له خرګند اجارت پاته شوي کپړه راګرځول صحیح نه ده. فقط

یو دروا غجن اشتهار چي نسبت یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کوي

سوال: (۱۸۲۷) له بغداد څخه یو چاپ شوی اشتهار راغلی دی، دلته په میرټهـ کي ډیر مشهور شوی دی چي پکي دا سي لیکلي دي چي یو سړی واي یما د جمعې په شپه د قرآن د تلاوت پر وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدی ماته وفرمایل چي مسلمانانو ته هدایت وکړه چي زه د دوی د ګناهونو د ډیرښت څخه سخت بیزاریم، ځکه چي ماته معلوم شوي دي چي له یوې جمعې څخه تر بلي جمعې پوري نهه لکه کسان مړه شوي دي چي پکي اوولس زرو ایمان د ځان سره یوړی هغه نور ټول پر کفر مړه شول نور او نور دا ډول اشتهار په اړه څه حکم دی؟ او په دې کي لیکلي خبري څنګه دي؟ (۱۳۳۷/۷۴۷هـ)

ځواب: دا صرف د اسلام د دښمنانو دروغ دي، په دې باندي یو مخ یقین مه کوی، په نه لکه مسلمانانو کي اته لکه درواتیا زره بې ایمانه مړه شول او ټول اوولس زره پر ایمان وفات شول، دا د دغه بې ایمانه دروغ دي چي پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي تړي او د "من کذب علی متعمداً فلیتبوا مقعده من النار"(۱) مصداق ګرځي. دا سې چي

یې د مالک په غلا راوګرځوي نو دا غلا ده د دې استعمال د ده لپاره جائز نه دی. فقط والله اعلم بالصواب (۱۰/۲۸۲-۲۸۴) (فتاوی رحیمیه کامل ۵/۴۴۲-۴۴۳)

(۱) عن عبد الله بن عمر وقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: بلغوا عني ولو آية، وحدثوا عن بني اسرائيل ولا حرج، ومن كذب علي متعمداً فليتبوا. الحديث (مشكوة المصابيح ص: ۳۲، كتاب العلم، الفصل الاول)

داسي خوبونه له ځانه جوړوي کوم بې دینه ملحد دی او زیاتره داسي د غه اشتهار یو مخ مه خپروی او ویې غورځوئ خیري کړئ. فقط

مزدور پر غلطي کولو وهل

سوال: (۱۸۲۸) یو رئیس صاحب چي ورسره زیاتره ډیر خدمت کونکي او منشیان او نور وي ده وخپلو منشیانو ته اجازه کړې ده چي تاسو په دغه مزدورانو زما کارونه هم او خپل کارونه هم کوي، ځکه نو یو منشي یو مزدور ته د کار وویل هغه کار سم ونکړی، منشي ور وښووی مزدور بړهاري وکړی منشي ورته وویل چپ شه، مزدور په جواب کي ومنشي ته وویل د بمزو منشي هم ورته وویل د بمزو او یوه لښته هم ووا هی تر څو نظم سم وي او صبا بیا نور مزدوران داسي جرات ونکړي، نو ایا شرعًا دغه منشي ملامت دی او کنه؟ بینوا توجروا (۳۰۴/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

ځواب: د منشي لپاره مزدور په لښته وهل جائز نه و دا د منشي غلطي ده له مزدور څخه دي معافي وغواړي. فقط والله تعالی اعلم

اوبه راوړونکی او بنگي پر کار نه کولو وهل

سوال: (۱۸۲۹) اوبه راوړونکی او بنگي پر کار نه کولو وهل څنگه دي؟ (۴۲۴/ ۳۵-۱۳۳۲هـ)

ځواب: د کوم اجیر او مزدور پر کار نه کولو د ضرب او تعزیر حکم نه دی راغلی بلکه د ده د کار نه کولو اثر ده پر اجرت لویږي، یعني اجرت ټول یا څه ساقطیږي، د وهلو اجازه نشته. فقط والله تعالی اعلم

وډاگي ته انعام ورکول

سوال: (۱۸۷۰) لنډیز د سوال دا دی چي د ډاک خاني په وسیله روپۍ راوونکي ډاگي ته څه ورکول جائز دي او کنه؟ که د انعام په نیت څه ورکي، نو څه حکم دی؟ (۲۴/ ۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: که د انعام په نیت او د ده د مسکینۍ په وجه څه مرسته ورسره وکړي نو د ورکونکي لپاره ناجائز نه دي. فقط والله تعالی اعلم.

د غل په بندي کیدو خپلوانو ته د افسوس لپاره ورتلل او په راخلاصیدو باندي مبارکي ورکول

سوال: (۱۸۷۱)... (الف) که د یو عالم او نیک سړي خپل قریب غلاوي کوي او د غلا په الزام هغه ونیول شي، نو د ده وارثانو ته د افسوس لپاره ورتلل شرعًا څنګه دي؟ او د ده د خلاصون لپاره کوښښ یا افسوس یا دعاوي او نور کول څنګه دي؟

(ب) ده ته د خلاصون په صورت مبارکي ورکول شرعًا څنګه ده؟ (۹۲۳/ ۴۲-۱۳۴۷هـ)

ځواب: (الف) د ده وارثانو ته د افسوس لپاره ورتلل صحیح دي او که د غه غل توبه وباسي او استغفار ووايي نو شرعي حدود خو په اوس زمانه کي نشي جاري کیدلای، څه سزا چي وي هغه د شرعي حد سره سمه نشي جاري کیدلای، ځکه د ده د خلاصون لپاره کوښښ او نور کول صحیح دي په دې شرط چي دی دا اقرار وکي چي بیا به داسي کوم او پر تیرو توپه وباسي او د هدایت دعا کوي.

(ب) کله چي دا غل توبه وباسي او د چا مال چي غلا کړی دی هغه بیرته ورکړي یا معافي ځني واخلي نو بیا د مبارکۍ لپاره ورتلل هم صحیح دي. په حدیث شریف کي راغلي دي: التائب من الذنب کمن لا ذنب له (۱) فقط والله تعالی اعلم.

"حضور انور" او "حضور پر نور" او نور الفاظ د عامو خلکو لپاره استعمالول

سوال: (۱۸۷۲) په عامه توګه د حضور پر نور لفظ استعمالیږي چي د مشرانو، مسلمانانو، هندوانو او نصاری لپاره هم استعمالیږي، لیکن د پیغمبر لپاره لفظ د

(۱) عن ابي عبیدة بن عبد الله عن ابیه رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب عن الذنب کمن لا ذنب له (سنن ابن ماجة ص: ۳۱۳، ابواب الزهد، ذکر التوبة)

"حضور پر نور" استعمالیږي چي ورځخه داسي معلومیږي چي غالباً دا غلطي ده، کوم لفظ چي د پیغمبر لپاره استعمالیږي هغه د عامو خلګو لپاره استعمالیدلای شي او کنه؟ (۱۷۲۲/ ۱۳۴۳هـ)

ځواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرتبه ډیره پورته ده، ده ته که سرور کائنات یا سرور عالم او یا حضور صلی الله علیه وسلم وویل شي، نو پرځای دی، لیکن کوم نوم چي د تعظیم واخیستل شي د هغه سره صلی الله علیه وسلم وایاست نو خود ده خصوصیت شي او که د کوم بل بزرګ لپاره د کوم د ضرورت په وجه د "حضور" یا "حضور پر نور" لفظ وویل شي، نو دا هم صحیح دی ځکه چي د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم د نامه سره خو صلی الله علیه وسلم وي ځکه د غه د امتیاز کافي دی فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۱۸۷۳) د "حضور انور" او "حضور پر نور" لفظ په عامه توګه د هندوانو، انګریزانو او مسلمانانو افسرانو لپاره استعمالیږي او زیاتره د کښتي درجي مسلمانان استعمالوي دا جائز دي او کنه؟ زما رایه دا ده چي د غه لفظ صرف د پیغمبرانو سره ښایي او د نورو قومونو هندوانو، مشرکانو، بت پرستو او نورو لپاره نه دی استعمالول پکار؟ (۲۱۱۲/ ۱۳۴۳هـ)

ځواب: په دې کي شک نشته چي د کفارو، مشرکانو لو بت پرستو لپاره بې ضرورته داسي الفاظ کارول ناوړه او بد دي او مزدوران د کښتي درجي خلګ که له ځاني او مالي نقصان ځخه بچ کیدو لپاره د ضرورت په خاطر افسرانو ته داسي الفاظ استعمال کړي، نو شاید چي عند الله به دوی معذورین وي او غاړي به نه وي بندي الضرورات تبیح المحظورات(۱) شرعي قاعده ده. فقط والله تعالی اعلم

(۱) قواعد الفقه ص: ۹۸، قاعده: ۱۷۰

د کوروالي کولو پر مهال قبلې ته مخ کول

سوال: (۱۸۷۴) زید مي گوید که مبارشرت بازوجۂ خود مستقبل القبله مستدبر القبلة حرام است، اگر ازین چنین وطی فرزندے پیدا شود حرامي گردد، این قول زید صحیح است یا نه؟ (۱۹۰۲/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: قول زید غلط محض است درشامي آورده: ولما مر في الغسل ان من آدابه ان لا يستقبل القبلة لانه يكون غالباً مع كشف العورة، حتى لوكانت مستورة لاباس به ولقولهم: يكره مد الرجلين الى القبلة في النوم وغيره عمدًا وكذا في حال مواقعة اهله الخ. (۱) پس معلوم شد که شکف عورت به سوۓ قبله مکروه است، واگر مستور باشر مضائقه ندارد، وهم چنین مد الرجلین الی القبلة به وقت نوم ومباشرت مکروه است واگر مد رجلین نباشد مکروه نیست، پس بهر حال ولد مولود ازآن مباشرت راحرمزاده گفتن جهل قائل۲ ست. فقط والله تعالی اعلم

ترجمه: سوال: (۱۸۷۴) زید وایي چي د خپلي ښځي سره په داسي حال کي کوروالي کول چي قبله ته مخ یا شاوي حرام دي، له داسي وطي څخه چي کوم ماشوم پیدا شي هغه به حرامي وي، د زید دغه وینا صحیح ده او کنه؟

جواب: د زید وینا یو مخ غلطه ده، په شامي کي راغلي دي: ولما مر الغسل ان من آدابه الخ نو معلوم شو چي د کشف عورة پر مهال قبلې ته مخامخ کیدل مکروه دي، او که مستور العورة وي نو هیڅ پروا نلري او داغه راز د خوب او کوروالي پر مهال قبلې ته پښې زغول مکروه دي او که پښې ونه زغوي نو مکروه نه دي، لنډه دا چي له دا ډول کوروالي څخه پیدا شوی ماشوم ته حرامزاده ویل د ویونکي جهالت دی.

له تهجد وروسته ودیدل څنګه دي؟

سوال: (۱۸۷۵) له تهجد وروسته ودېدل څنګه دي؟ (۸۸۲/ ۴۴-۱۳۴۵هـ)

---

۱) رد المحتار ۲۵۱/۱، کتاب الطهارة، باب الانجاس، قبیل مطلب: القول مرجح علی الفعل ط رشیدیه.

جواب: د تهجد تر لمانځه وروسته د سهار تر لمانځه ود بدل جائز دي، دا ډول چي د سهار لمونځ او جماعت تیر نشي. فقط والله تعالی اعلم

د قطب ستوري وطرفته پښې ځغول

سوال: (۱۸۴۲) که سړی د قط ستوري وطرفته پښې وځغوي پرې وزي نو جائز دي او کنه؟ (۱۱۷۵/ ۱۳۴۵هـ)

جواب: قطب ستوری د قبلې وکیڼ طرفته دی، دې خوا ته پښې ځغول هیڅ پروا نلري په دې شرط چي پښې به د قبلې طرفته نه وي. فقط والله تعالی اعلم

د نبي علیه السلام د مچني مبارکي نقش باعث د برکت او کنه

سوال: (۱۸۷۷) حکیم الامت تهانوي رحمه الله د نبي علیه السلام د مچني مبارکي نقشه په یو کتاب کي چاپ کړې ده او د برکت لپاره پر سر اینبودل او مچول یې جائز او وسیله یې جائز لیکلي دي، د دې څه حکم دی؟ (۱۰۳۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: بزرګانو داسي ليکلي دي او دا يې د برکت باعث بللې ده (۱) لهذا داسي څه پروا نلري. فقط

---

۱) حضرت تهانوي رحمه الله تعالی په نيل الشفاء بنعل المصطفی کي چي د زاد السعيد په پای کي دي د مچني مبارکي نقشه خپره کړې وه او په دې سره توسل يې د برکت باعث ليکلی و. بيا چي کله پردې باندي اعتراضونه وشول نو حضرت تهانوي رحمه الله تعالی له دې څخه رجوع کړې وه، په خپله حضرت تهانوي رحمه الله په امام المقال في بعض حکام التمثال کي ليکي:
"اوس د خواصو د اختلاف په وجه زه په دغه مسئله کي شکمن شوم بيا د دې سره د عامو خلکو د خواهشاتو د اختلاف څخه زما ذهن خالي وو د ديني مصلحتونو همدا تقاضا ده چي د "دع ما يريبک الی مالا يريبک الحديث" په حکم له خپلي رسالې نيل الشفاء څخه رجوع کوم الخ "(زاد السعيد، ص۷۴، ادارۂ اشرفيه، کراچي. پاکستان او اتمام المقال في بعض احکام التمثال، ص: ۱۹-۲۰. مطبوعه. مطبع جمال پرنتنګ ورکس، دهلي)
داغه راز د حضرت مولانا مفتي محمد کفايت الله صاحب دهلوي رحمه الله دوې فتواوي لاندي رانقل کوو تر څو د مسئلې شرعي حيثيت څرګند شي:
سوال: محترم علماء کرام جواب راته وليکي.
د دغه استفتاء پر شا باندي د نبي نبي عليه الصلاة والسلام د مچني مبارکي نقش دی او د همدې سره د دغه مچني مبارکي آثار او خواص او د دې په تعريف کي د څنيو بزرګانو اشعار او د دغه مچني مبارکي په وسيله له الله تعالی څخه د حاجتونو غوښتلو طريقه هم ليکل شوې ده.
زيد د مچني مبارکي دغه نقشه سره د پورتنيو خبرو د حضرت مولنا محمد اشرف علي صاحب دامت برکاتهم له کتاب "زاد السعيد" سره لګيدلي رسالې نيل الشفاء بنعل المصطفی څخه رانقل کړه چاپ يې کړه او پر مسلمانانو باندي ځکه وويشله تر څو دوی د دې له برکتونو استفاده وکړي. محترمو تاسو راته وليکئ چي (۱) ايا د زيد دا عمل ناروا دی؟ (۲) د دې په آثار او خواص کي چي د کومو برکتونو ظاهرېدو يادونه ده د هغو عقيده ساتل ناروا ده؟ (۳) دغه مبارکه نقشه د برکت باعثه بلل ناروا ده؟ (۴) د دغه مبارکي نقشې په وسيله له الله تعالی څخه دعا غوښتل ناروا ده؟ (۵) زيد چي د مسجد ملا امام دی ده دغه نقشه چاپ کړې ده او د خپل نوم سره "خادم دربار محمدي" ليکلی دی. ايا داسي ليکل ناروا دي؟ (۶) زيد يوه ورځ سهار د غه مبارکي نقشې وويشلې په دا بله ورځ سهار يخه هوا ته د پرېوتلو په وجه د زيد پر ملا درد شو، نو يو سړي وزيد ته وويل چي تا دغه نقشه ويشلې وه

ځکه دي پر سر او ملا درد راغلي او دوي ورځي تا ترجمه ونکړای شوه، ایا د دغه سړي وینا صحیح ده؟ که غلطه ده د دغه سړي شرعًا څه حکم دی؟ بینو توجروا.

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پاکو او متبرک آثارو باندې برکت حاصلول خو له صحابه متقدمین علماء او تابعین څخه ثابت دی، لیکن له آثارو او متبرک اشیاء څخه مراد دا دي چي د دغه شیانو په اړه دا خبره ثابته وي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم استعمال کړي شیان (لکه چپنه، قمیص یا مچني مبارکي) یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاک جسم اجزاء (مثلا ویښتان مبارک) یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدن مبارک سره مسه شوي شیان دي (لکه یو داسي خاص کاڼی او ډبره چي د پښو مبارکو پل پې پکي لګیدلی وي) لیکن که په دې کي د کوم شي تصویر جوړ کړي له هغه څخه برکت حاصلول له معتمدو اهل علم او د تحقیق خاوندانو څخه ثبوت نشته.

که له تصویر او عکس څخه تبرک حاصلول هم صحیح وي نو بیا د مچني مبارکي کوم تخصیص نشي کیدلای بلکه د چپني مبارکي، د قمیص مبارک، د ویښته مبارک او د پل مبارک تصویرونه چي پر کاغذ جوړ شوي وي په هغو تبرک او توسل نیولو حکم او په مچنه مبارکه تبرک او توسل نیولو حکم په یو وي او د شریعت ماهر او د خپلي زمانې د نفسیاتو ماهر د دې له نتیجو بې خبره نشي کیدلای. کومو بزرګانو چي د مچني مبارکي نقش پر سراینبسی دی، مچ کړی دی په دې سره توسل نیولی دی

هغه د دوی وجداني او د نبي علیه السلام سره د زیاتي میني اوضطراري افعال دي، دا د حکم د تعمیم لپاره او د تشریع للناس په موقع باندې استعمالول صحیح نه دي.

داغه راز د دغه خبري هم کوم ثبوت نشته چي د مچني مبارکي دغه نقشه حقیقتًا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مچني مبارکي صحیح تصویر دی یعني د نبي علیه السلام د مچنو مبارکو د مینځ د پټی (شراک) په وسط کي او د پر مخته تنریو (قالین) باندې همداسي ګلونه او نقش ونګار جوړ شوی و، لکه چي په دغه نقشه کي جوړ شوی دی او بې د هیئت او صورت له ثبوته ونبي علیه الصلاة والسلام ته نسبت کول ډیره درنه خبره ده، داسي نه چي د من کذب علي متعمدًا الخ په عام مفهوم کي شامل شي. ځکه چي په دغه هیئت سره دا د مصطفی د مچني مثال بللو ظاهري مطلب همدا دی چي دې ته مثال ویونکی دا دعوی کوي چي نبي علیه السلام داسي مچنه مبارکه استعمال کړې نه چي پر پټی او د مخ تنیو باندې دا ډول ګلان ؤ او دا ډول نقش او نګار وربانې ؤ، بیا دا سوال هم کیدلای شي چي دغه

نقشونه په وریښمو جوړ شوي ؤ او که په ګلابتونو او زري باندي که دغسي تاپه وه او په دغه ټولو شیانو کي په د یو ثبوت هم د چا سره نه وي. او د خواهشاتو د بیلوالي په صورت به بیل بیل حکمونه لګول کیږي، نور او نور.

لنډه دا چي وتصویر ته د اصل منصب ورکول او د هغه سره د اصل په رنګه عمل کول په شرعي احکامو ثابت نه دی، که د نبي علیه الصلاة والسلام مچنه مبارکه چي د نبي علیه السلام بدن مبارک یې مسح کړې وي چا ته په لاس ورشي نو بختور دی هغه مچول، پر سر باندي ایښودل ټول صحیح دي. مګر د مچني عکس او تصویر او هغه هم داسي تصویر چي د اصل سره د مطابقت هم کوم دلیل نه وي. د اصلي مچني مبارکي پر ځای نشي کیدلای.

سوال(۱) څخه تر (۴) پوري خو دا جواب شو، د (۵) جواب دا دی چي کوم څوک د سر او د ملا د درد وجه د دغه پرچې څپرول بولي هغه غلطي کوي او د "ولا تقف مالیس لک به علم" په رڼا کي د ده لپاره داسي حکم څخه پرهیز کول پکار دی. (مفتي) محمد کفایت الله کان الله له دهلي له دې وروسته حضرت مفتي محمد کفایت الله صاحب مدظلهم العالي ته د دې په اړه بل سوال راغلی. د هغه جواب هم مفتي صاحب ولیکی، هغه سوال او جواب لاندي دی.

سوال: څه فرمایي علماء د دین د دغه مسئلې په اړه چي یوه نقشه سره د لاربښودونو خپره شوې ده چي پکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پڼې مبارکي نقشه ورکړې ده. د دغه نقشه چي خپره شوې ده ایــــا د نبـــــي علیــــــه الســـــلام د مچنــــو شـــــریفو صــــــحیح نقشــــــه ده؟ ایا د دې اصل په حدیثو یا د راشده خلفاء په اقوالو ثابت دي؟ بل خپرونکی دا هم لیکلي دي چي د مچنو مبارکو په وسیله دعا غوښتل پکار ده، د دغه نقشه سره د لیک درلیږو، لهذا شرعًا د دغه نقشه مچول، پر سر باندي ایښودل د دې په توسل خپل حاجت غوښتل جائز دي او کنه؟

جواب: که د رسول الله صلی الله علیه وسلم استعمال کړي مچني مبارکي چا ته ملاؤ شي، نو بختور دی او د مینه په جذبه هغه مچول پر سر باندي ایښودل د نیکمرغی باعث دی، مګر دا خو اصلي مچني نه دي د هغو عکس او تصویر دی او دا خبره هم یقیني نه ده چي دا تصویر د اصل سره سم دی او کنه؟ او د تصویر سره د اصل شي عمل کول شرعًا ثابت نه دی، کنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لاس مبارک، پڼې مبارکي، ویښته مبارک، قمیص مبارک او چپني مبارکي تصویر هم جوړېدلای شي او که په دې کي هم د اصل د مطابقت له ثبوت څخه نظر واړوو نو بیا خو په نن بې شمیره تصویرونه جوړ شي او د یوې غټي فتنې دروازه به خلاصه شي کومو بزرګانو چي د دغه تصویر سره د محبت او میني

د اولياء د زيارتونو لپاره سفر کول

سوال: (۱۸۷۸) د اولياء الله تر خانقاه پورې سفر کول صحيح دى او کنه؟ (۲۲۱/ ۱۳۳۷هـ)

جواب: د اولياء الله د مزارونو د زيارت لپاره سفر کول صحيح دي لکه چې د "الا فزوروها الحديث" (۱) څخه معلوميږي (۲). فقط و الله تعالى اعلم.

عمل وکړي هغه د دوی د محبت د جوش نتيجه وه، مګر د پوره قانون جوړولو لپاره حجت نشي کيدلای (مفتي) محمد کفايت الله کان الله له دهلي (اتمام المقال في بعض احکام التمثال، ص: ۱۰-۱۳ ط جمال پرنټنګ ورکس دهلي)

۱) عن ابن بريدة عن ابيه رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: کنت نهيتکم عن زيارة القبور، فزوروها الحديث (الصحيح المسلم: ۱/ ۳۱٤، کتاب الجنائز، فصل في الذهاب الى زيارة القبور)

۲) حضرت مولانا مفتي سعيد احمد صاحب پالن پوري د دار العلوم ديوبند صدر المدرسين او شيخ الحديث په تحفة الالمعي کې ليکي:

په کوم مسجد کې د لمونځ کولو لپاره اوږد سفر کولو يا د اولياء الله د قبرونو زيارتونو ته تلل يا د کوم بزرګ د عبادت ځای د زيارت لپاره ورتلل يا د کوم بل متبرک ځای د زيارت لپاره سفر کولو کې اختلاف دی، ځيني ورته مباح وايي او ځيني ورته حرام، دا باحت قول کوونکی وايي چې د دغه حديث مقصد د دغه ځايونه مهتم بالشان کيدل بيانول دي، ځکه ودغه دريو مسجدونو ته د سفر کولو او پکې لمونځ کولو ترغيب ورکړی، ځکه چې دا متبرک ځايونه دي، نو که څوک د دسفر تکليف ګالي نو ودغه دريو ځايونو ته حاضريدو لپاره دي وګالي. له دې پرته تکليف کول بې ګټې دی، د دغه حديث دا مقصد نه دی چې له دغه ځايونو پرته چيرې سفر کول جائز نه دي.

او دوهمه رايه دا ده چې که مسجدونه وي او که د اولياء قبرونه يا د کوم ولي د عبادت ځای يا کوم بل متبرک ځای وتهولو ته اوږد سفر کول منع دي، ځکه چې د جاهليت په زمانه کې خلک د داسي مقدس ځايونو د زيارت لپاره او برکت حاصلولو لپاره تلل چې د دوی په ګمان به معظم او محترم ؤ او دغه خبره د دين د تحريف سبب وه ځکه نبي عليه السلام د خپل ارشاد په وسيله د فساد دروازه بنده کړه چې له دريو مسجدونو څخه پرته وحقيقي يا فرضي متبرک ځايونو ته سفر کول منع دي او مقصد دا دی چې په شعائر الله غير شعائر نشي ګډ او دغه لړۍ د غير الله د عبادت وسيله ونه ګرځي، د حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله همدا رايه ده او زما په ذهن هم همدغه حق دی، ځکه چې حضرت ابو

بصره رضی الله عنه و "طور" ته ورتلو څخه منع کړې ده. د تفصیل لپاره وګورئ رحمة الله الواسعه (۳/ ۳۴۴)

بیا یوه نوې مسئله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر مبارک سفر په اړه د جواز او عدم جواز راپورته شوه، علامه ابن تیمیه رحمه الله د دې لپاره هم سفر کول ناجائز بولي، هغه فرمایي: په مسجد نبوي کې د لمونځ کولو په نیت سفر کوی بیا روضې مبارکې ته هم ورحاضریږي، مګر د روضې مبارکې په نیت مستقل سفر مه کوی او دی په همدغه حدیث استدلال نیسي. فرمایي: په حدیث کې استثناء مفرغ ده یعني د دې مستثنی منه نه ده ذکر شوی او دا قاعده ده چې په مفرغ استثناء کې په عامه توګه مستثنی منه مقرره بلل کیږي، نو عبارت به داسې جوړیږي: لا تشد الرحال الی مکان ما. یعني د یو ځای سفر هم مه کوی د دې په عموم کې روضه شریفه هم داخله ده، نو د هغې د زیارت لپاره سفر کول جائز نه دي.

او د جمهور امت په نزد د روضې مبارکې د زیارت لپاره سفر کول نه صرف دا چې جائز دي بلکه له مهمو عبادتونو څخه دي او لوی کار د ثواب دی او د ابن تیمیه د استدلال جواب دا دی چې بیله شکه په مفرغ استثنی کې مستثنی منه عامه مقدره بلل کیږي، مګر هغه د مستثنی منه د جنس څخه وي نو عبارت به داسې جوړیږي: لا تشد الرحال الی مسجد ما او د داسې عبارت دلیل یو حدیث هم دی چې په مسند احمد (۳/۶۴) کې راغلي دي، په مسند احمد کې د شهر بن حوشب همدغه حدیث له حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه په داسې الفاظو مروي دی.
لا ینبغي للمطي ان تشد رحاله الی مسجد یبتغي فیه الصلاة غیر السمجد الحرام والمسجد الاقصی ومسجدي هذا او په شهر بن حوشب کې که څه هم کلام شته، مګر په مجمع الزوائد (۳/۴) کې څرګندوي چې د ده حدیث د حسن په درجه کې وي، لنډه دا چې په دغه حدیث کې د مستثنی منه څرګندونه شته او الی مکان ما خو مقدر نه شي منل کیدلای کنې د تجارت لپاره او د مریض د علاج لپاره به هم د لیرې ځای سفر منع شي.
او جمهور امت اصل استدلال د امت له تعامل څخه کړی دی چې د صحابه له زمانې څخه تر ننه پورې هر حاجي د مکې مکرمې د یو لک لمونځونو ثواب پرېږدي د څلور سوه میلو اوږد سفر کوي مدینې منورې ته ځي، ښکاره خبره ده چې حاجیان صرف د مسجد نبوي د زیارت لپاره نه ځي، بلکه پر روضه مبارکه ورحاضریدل مقصود وي، لنډه دا چې روضې مبارکې معامله یو استثنایي صورت دی، لکه چې په کور کې مړی ښخول د حدیث له مخه منع دی مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم تدفین له دې څخه مستثنی دی او د قبرونو او بزرګانو د عبادت ځای ته اوږد سفر کولو عدم جواز د تنقیح

مباهله کول جائز ده او کنه؟

سوال: (۱۸۷۹) د محمدي امت یعني د مسلمانانو پخپله منځ کي مباهله کول جائز ده او کنه؟ او د قرآن آیت "قل تعالوا الخ" (سورة آل عمران، آیت: ۱۶) د مسلمانانو په منځ کي د مباهلې د جواز لپاره د دلیل په توګه بیانولای شو او کنه؟

(۱۳۳۳-۳۲/۱۷۸۷هـ)

جواب: دا خبره خو مشهوره ده او په تفسیرونو او حدیثونو کي بیان شوې ده چي په دغه آیت کي مباهله د نجران والو سره شوې وه او هغه عیسایان وو لیکن علماء فرمایي چي که کومه مهمه خبره همداسي واقع شي او د حق خبري مخالفت څوک د ضد او عناد په وجه کوي او کوم شرطونه چي علماء په مباهله کي لیکلي دي هغه موجود وي نو اوس هم مباهله صحیح ده، په هدایه کي راغلي دي: وقال عبد الله بن مسعود رضي الله عنه: من شاء باهلته ان سورة النساء القصرى نزلت بعد الآية التي في سورة القبرة(۱) په فتح القدیر کي راغلي دي: واخرج البخاري عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: اتجعلون عليها التغليظ ولا تجعلون لها الرخصة، لنزلت سورة النساء القصرى بعد الطولى يريد بالقصرى "يايها النبي اذا طلقتم النساء" (سورة الطلاق، الآية: ۱) والطولى: البقرة، والمباهلة: الملاعنة كانوا اذا اختلفوا في شئ اجتمعوا، وقالوا: بهلة الله على الظالم منا، وقيل: هي مشروعة في زماننا الخ (۲) وفي العيني: قالوا هي مشروعة في زماننا ايضًا (۳) له دغه عبارتونو څخه د مباهلې اوس هم مشروع کیدل في الجمله معلوم شو او دا چي که هغه د مسلمانانو سره وي یا د کفارو سره د تفسیر جلالین په حاشیه "جمل" کي راغلي دي.

مناط وسیله ده حضرت ابو بصره رضی الله عنه د طور "سفر تر حدیث لاندي راوړي دي، کما في الموطا، والتفصیل في رحمة الله الواسعة والله اعلم (تحفة الالمعي ۲/ ۱۴۷-۱۴۸، کتاب الصلاة، باب ماجاء في اى المساجد افضل؟)

۱) الهداية: ۲/ ۴۲۳، كتاب الطلاق، باب العدة.

۲) فتح القدير شرح الهداية: ٤/ ۲۸۲، كتاب الطلاق، باب العدة.

۳) عيني شرح الهداية: ۲/ ٤۱۸ كتاب الطلاق، باب العدة، المطبوعة: منشي نول كشور لكناؤ.

تنبیه: وقع البحث عند شيخنا العلامه الدواني قدس الله سره في جواز المباهلة بعد النبي صلى الله عليه وسلم، فكتب رسالة في شروطها المستنبطة من الكتاب والسنة والآثار وكلام الائمة، وحاصل كلامه فيها: انها لا تجوز الا في امرمهم شرعًا وقع فيه اشتباه وعناد لا يتيسر دفعه الا بالمباهلة فيشترط كونها بعد اقامة الحجة، والسعي في ازالة الشبهة، وتقديم النصح والانذار وعدم نفع ذلك وحساس الضرورة اليها اه من تفسير الكازروني . (١) (جمل)

د شپې په کوڅو کې په زوره شعرونه او الله اکبرونه ویل او شپېلۍ وهل

سوال: (۱۸۸۰) د څو کسانو په ګډه په ګلیو، کوڅو او سړکونو باندې په زوره په ښه آواز شعرونه، نعتونه او الله اکبرونه ویل او د سیټۍ وهلو سره ګښت کول په تیاره کې بیا د شپې چې خلک ویده وي، شرعًا جائز دي او کنه؟ کوم پیر یا عالم او معتقد علیه د استقبال او ښه راغلې پر مهال په دا ډول شرعونه ویلو او تکبیرونه ویلو له لاري بیول جائز دي او کنه؟

(۱۳۴۲/۱۳۲۸هـ)

جواب: په شامي کې د اشعارو په هلکه دا حدیث رانقل کړی دی: سئل عنه صلى الله عليه وسلم فقال: كلام حسنه حسن وقبيحه قبيح ومعناه ان الشعر كالنثر يحمد حين يحمد ويذم حين يذم و لا باس باستماع نشيد الأعراب وهو انشاد الشعر من غير

---

١) تفسير جلالين، ص: ٥٣، رقم الحاشية: ٣، مطبوعة، كتب خانه رشيديه، دهلي.

لحن الخ فما كان منه في الوعظ والحكم وذكر نعم الله وصفة المتقين فهو حسن الخ وماكان من هجو وسحف فحرام الخ (۱) وفي حاشية الحموي عن الامام الشعراني اجمع العلماء سلفًاوخلفا على استحباب ذكر الجماعة في المساجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل او قاري الخ. (۲)

نو معلوم شو چي په کومو شعرونو کي مضامين ښه وي معنی يې برابره وي هغه ويل څه پروا نلري او د تکبير نعرې وهل هم څه پروا نلري، مګر د دې د جواز شرط دا دی چي نائمينو او لمونځ کونکيو ته به تشويش نه وي او د دوی په لمانځه او نوم کي په کوم خلل نه راځي کني داسي کار مکروه ګرځي او داغه راز د آيت: "ومن الناس من يشتري لهو الحديث" (سورة لقمان، آيت: ٦) په حکم شپيلکان وهل او د لهو او لعب په طريقه شعرونه ويل او د تکبير نعرې وهل جائز نه دي په در مختار کي راغلي دي: قال ابن مسعود رضى الله عنه: صوت اللهو والغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء النبات الخ وفي الشامي: رواه في السنن مرفوعًا الى النبي صلى الله عليه وسلم بلفظ ان الغناء ينبت النفاق في القلب كما في غاية البيان الخ وقيل: ان تغني وحده لنفسه لدفع الوحشة لا باس به وبه اخذ السرخسي وذكر شيخ الاسلام ان كل ذلك مكروه عند علماءنا، واحتج بقوله تعالى: "ومن الناس من يشرتي لهو الحديث الاية" جاء في التفسير ان المراد الغناء وحمل ما وقع من بعض الصحابة على انشاء الشعر المباح الذي فيه الحكم والمواعظ. (۳) لنډه دا چي کوم صورت په سوال کي ليکل شوی دی د دې په کراهت کي هيڅ شک نشته، له دې څخه پرهيز کول پکار دی. فقط والله تعالى اعلم

د بيلا بيلو قومونو ثبوت

سوال: (۱۸۸۱)..... (الف) له شيخ، سيد او پټهان پرته نور قومونه هم شته او کنه؟

---

(۱) الشامي، كتاب الصلاة ۱/۴۸۸، باب ماسفيد الصلاة وما يكره فيها، مطلب في انشاد الشعر ط رشيديه.

(۲) الشامي، كتاب الصلاة ۱/۴۸۸، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، مطلب في رفع الصوت بالذكر ط رشيديه.

(۳) الدر والرد: ۵/۲۴۵، وائل كتاب الحظروا لاباحة ط رشيديه.

(ب) په هندوستان کي چي کوم په اعلی، اوسط، ادنی پیشو په شرعي طریقه پیژند کیدلای شي، نو د هغو نومونه څه څه دي؟ (۲۴۰۲/ ۱۳۴۵هـ)

جواب: (الف-ب) قال الله تعالی: "وجعلنا کم شعوبا وقبائل لتعارفوا ان اکرمکم عند الله اتقاکم الایة" (سورة حجرات، آیت: ۱۳) د دې حاصل دا دی چي ای بني آدمه! موږ تاسو له یو نر او یوې ښځي یعني له حضرت آدم او حواء علیهما السلام څخه پیدا کولو وروسته قومونه او ښاخونه جوړ کړاست، تر څو تاسو پخپل مینځ کي سره وپیژني، بیشکه زیات نیک په تاسو کي هغه څوک دی د الله تعالی په نزد چي زیات متقي وي، نو د قومونو تر مینځ د فرق او بیلتون په وجه هر سړی او د ده قوم له نورو قومونو او خلکو ممتاز او بیل ګرځي او پیشه کوونکی چي کومه پیشه کوي هغه په هغه نوم یادیږي څوک خیاط وي څوک عطار وي او څوک بزاز، وقس علیه فقط والله تعالی اعلم

دا شعر ویل چي: "ہنس کے ملنا رام کرلیتا ہے ہر انسان کو" صحیح دی

سوال: (۱۸۸۲) ہنس کے ملنا رام کرلیتا ہے ہر انسان کو * سب سے میٹھا بولنے کی تم کو عادت چاہیے

ترجمه: په وریښ تندي ملاقات کول انسان تابع کوي، باید تر هر چا ستا د خوږو خبرو عادت وی. داسي شعر ویل ښنګه دي؟ ځکه چي په دې لفظ د "رام" راغلی دی.
(۲۳۸/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د "رام" معنی ده تابع، د دې ویل شرعاً څه پروا نلري. فقط والله تعالی اعلم.

د مشاعرې حکم

سوال: (۱۸۸۳)..... (الف) د مشاعرې په نوم یو مجلس وي چي پکي ډیر شاعران راجمع شي داسي شعرونه وایي چي د شرع خلاف نه وي که في نفسه مشاعره ناروا وي نو ولي؟

(ب) کومه داسي غزله یا نعت چي پکي د زلفو، پیکي، وصال او بیلتون، سوز او ګراز، اخبار او کلام، انداز او اغماز یادونه وي او د لیکوال فکر په دې سره وکوم ذات ته نه وي صرف د یو خیال او فکر څرګندونه مقصود وي، جائز دي او کنه؟ (۱۵۹۲/ ۱۳۴۱هـ)

جواب: کوم کار چي د فخر لپاره وي هغه ناروا دی، ځکه مشاعره ښه نه بلل

کیږي نور نو کوم نعت او نظم چې د شرعي په خلاف نه وي د هغه اوریدل او ویل صحیح دي ځکه چې نظم هم یو کلام دی: حسنه حسن وقبیحه قبیح. (۱)

(ب): دا صحیح دی. فقط والله تعالی اعلم.

د چا لپاره سوال کول جائز دی؟

سوال: (۱۸۸۴) سوال کول د چا لپاره جائز دی؟ مثلاً د یو سړي سره هیڅ شی نشته د یو وخت خوراک هم ورسره نشته او پوروړی هم دی، که د سوال کولو پر مهال داسي ووايي چې زه پوروړی یم یا زما سره د خوراک لپاره هیڅ شی نشته نو ورکونکی سائل دروغجن بولي. په داسي حال کي که سړی له څه چل او دوکې څخه کار واخلي نو شرعًا جائز دی او کنه؟ (۲۵۵/ ۲۹-۱۳۳۰)

جواب: سوال کول د هغه چا لپاره صحیح دی چې محتاج وي یا پوروړی او کسب نشي کولای او د قرض ادا کول مشکل وي، بیله داسي شدید ضرورته سوال کول حرام دی (۲) د وعظ کونکیو لپاره هم سوال کول حرام دی، مګر کله چې کومه سخته مجبوري وي او شریعت اجازه وکړي، په دوکه له چا څخه مال اخیستل حرام دی، له دې څخه بچ کیدل لازم دی. فقط والله تعالی اعلم.

د ګټې وټې توان لرونکي لپاره سوال کول بد کار دی

سوال: (۱۸۸۵) ځینو شریفو خلکو سوال کول خپله پیشه ګرځولې ده، د دې په وسیله د ژوند ګزاره کوي، په محنت مزدوري او نورو یې په عزت کې فرق راځي، وداسي خلکو ته ورکول څنګه دي؟ ځوک چې د ګټې وټې کولو طاقت لري د هغه لپاره کور په کور سوال کول حرام دي او کنه؟ (۲/ ۳۲-۱۳۳۳)

---

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: ذكر عند رسول الله صلى الله عليه وسلم الشعر، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: هو كلام فحسنه حسن وقبيحه قبيح. رواه الدار قطني. (مشكوة المصابيح، ص: ۴۱۰-۴۱۱، كتاب الآداب، باب البيان والشعر، الفصل الثالث)

(۲) ولا يحل ان يسال شيا من القوت من له قوت يومه بالفعل او بالقوة كالصحيح المكتسب، ويأثم معطيه ان علم بحاله لاعانته على المحرم. (الدر مع الشامي: ۷۵/۲، كتاب الزكاة، باب المصرف مطلب في الحوائج الاصلية. ط رشيديه.)

جواب: سوال کول بد کار دی او د دې ناوړتیا په حدیثو کي راغلې ده(١) او د کومو خلګو لپاره چي سول کول حلال دي د هغو بیان هم په حدیثونو کي شته(٢) نو په چا کي چي هغه شرطونه موجود نه وي د هغه لپاره سوال کول منع دي. فقط والله تعالی اعلم.

د حاجت مند لپاره کوښښ کول

سوال: (١٨٨٢) که کوم څوک زید ته ووایي چي په ناوه یم څه راکړه او د زید سره څه نه وي، نو د زید چي کله یقین وي چي واقعتًا په نهاري دی نو که زید کوښښ وکړي د بل چا څخه څه ورواخلي نو څنګه دي؟ او که کوښښ ونکړي نو ګناهګار خو به نه وي؟

(۴۵۷/ ۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: وداسي سائلانو ته څه ورکول حرام دي چي سوال یې پیشه وي چي سره د دې چي د ګټې کولو توان لري بیا هم ګټه وټه نه کوي، یا اغنیاء او شتمن وي لکه چي مشاهده ده او د حدیث(٣) مطلب دا دی چي که هغه سوال کونکی په سوال پیشه نه وي جوړي کړې او غني به نه معلومیږي یا دا غالب ګمان وي چي کومه وجه د سوال کولو

---

١) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما قال: قال النبي صلی الله علیه وسلم: ما یزال الرجل یسال الناس حتی یاتي یوم القیامة، لیس في وجهه مزعة لحم، الحدیث. (صحیح البخاري: ١/ ٩٩، کتاب الزکاة، باب من سال الناس تکثرا)

٢) عن قبیصة بن مخارق الهلالي رضی الله عنه قال: تحملت حمالة، فاتیت رسول الله صلی الله علیه وسلم اساله فیها، فقال: اقم حتی تاتینا الصدقة، فنامر لک بها، قال: ثم قال: یا قبیصة ان المسئلة لا تحل الا لاحد ثلاثة:

(١): رجل تحمل حمالة، فحلت له المسئلة حتی یصیبها، ثم یمسک.

(٢): ورجل اصابته جآئحة اجتاحت ماله، فحلت له المسئلة حتی یصیب قواما من عیش او قال: سداد من عیش.

(٣): ورجل اصابته فاقة حتی یقوم ثلاثة من ذوی الحجی من قومه لقد اصابت فلانا فاقة، فحلت له المسئلة حتی یصیب قواما من عیش او قال: سداد من عیش فما سواهن من المسئلة یا قبیصة سحتایا کلها صاحبها سحتا. (الصحیح المسلم: ١/ ٣٣٤، کتاب الزکاة، باب من تحل له المسئلة.)

٣) د حدیث شریف تخریج د مخکني جواب په حاشیه (٢) کي تیر شو.

داسـي پیښـه شـوي ده چـي په احادیثو کي اجازه شته او غیر مکتسب لکه ړوند او نور که دا درته معلوم شي چي حاجت مند دی نو هغه ته ورکول صحیح دي او کثیر العیال چي آمدني یې د عیال بس نه وي هغه ته ورکول صحیح دي او په ناوه او ورې لپاره قرض اخیستل هم صحیح دي کله چي سړی د قرض ادا کولو وس لري مگر ضروري نه دي او پر بل کوښښ کول څه ځني وراخیستل داسي خلګو ته د ثواب کار دی. فقط والله تعالی اعلم.

د چا چي سوال کول پیښه وي هغه ته ورکول او د نه ورکولو په وجه د هغو بد دعا کول

سوال: (۱۸۸۷) کوم خلګ چي سره د دې چي د ګټي کولو توان لري بیا هم دوی سوال کول پیښه ګرځولي وي هغو ته څه ورکول څنګه دي؟ او که د نه ورکولو په وجه بد دعا (ښیرا) کوي نو څه حکم دی؟ (۵۱۸/ ۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: کومو خلګو چي سوال کول پیښه ګرځولي وي او سره د دې چي دوی مالدار غنیان او د ډیرو مالونو مالکان وي، بیا هم کلي په کلي او ښار په ښار ګرځي سوالونه کوي او دوی د ګټي کولو طاقت هم لري مگر محنت او ګټه نه کوي د داسي خلګو لپاره سوال کول حرام دي او دوی ته څه ورکول هم نه دي(۱) داسي خلګو ته په نه ورکولو هیڅ ګناه نشته او مه د دوی له بد دعا څخه ویرېږئ د دوی د ښیرا هیڅ اثر نشته. فقط

د کومو خلګو سره چي سړی آزاد وي له هغو څخه کوم شی غوښتل

سوال: (۱۸۸۸) د کوم معلم چي مقرره تنخواه وي د هغه لپاره له طالبانو څخه کوم شی اخیستل صحیح دی او که نه؟ له دوی څخه یا د دوی له مور او پلار څخه کوم شی غوښتل په سوال کي راځي او که نه؟ یا مثلا له خپل کوم قریب څخه یا واده شوي انجلی له خپل مور او پلار څخه یا څوک له خپل اتډیوال یا کوم بل چا څخه شی وغواړي،

(۱) أنه لا يحل ان يسئل شيئا من له قوت يومه بالفعل او بالقوة كالصحيح المكتسب ويأثم معطيه ان علم بحاله لإعانته على المحرم. (الشامي: ۶۰۹/۱، كتاب الصلاة، باب الجمعة، مطلب في الصدقة على سوال المسجد ط رشيديه.)

نو جائز دي او کنه؟ (۱۱۵۷/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: د معلم لپاره د طالب څخه کوم شی اخیستل منع دي او د مایحتاج الیه سوال له هغو خلګو څخه چي ورسره سړی بې تکلفه وي جائز دی لکه استاذ له خپل شاګرد څخه یا د دې عکس وي یا لکه اولاد له خپل مور وپلار څخه یا د دې عکس وي یا له نورو خپلوانو څخه کوم شی وغواړي نو دا هیڅ پروا نلري. فقط والله تعالی اعلم.

په کوم ضرورت کي چي د مصرفولو لپاره چا روپۍ راکړي هغه په بل حاجت کي مصرفول

سوال: (۱۸۸۹) زید یو سړي ته سوال وکړی زه له کانپور څخه رامپور ته ځم هغه ځلور آني ورکړې. بل سړي پوره ټکټ وروا اخیستی نو هغه ځلور آني په بل ضرورت کي مصرفول جائز دي او کنه؟ (۷۴۲/ ۱۳۳۵هـ)

جواب: په دغه صورت کي د زید لپاره دغه ځلور آني په خپلو نورو اړتیاؤ کي مصرفول صحیح دي. فقط

پر غواو خیژولو لپاره داسي غویی رانیول چي کنبت ته تاوان رسوي

سوال: (۱۸۹۰) زیاتره خلګ پر غواو خیژولو لپاره غویي رانیسي خوشي کول یې غواړي چي ورځخه کنبت ته تاوان رسیږي داسي کول جائز دي او کنه؟ (۸۳۷/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: له رانیولو وروسته غویی داسي آزاد پرېښودل چي د خلګو کښتونه وخوري تاوان ورسوي صحیح نه دی، مخلوق ته ضرر رسول حرام دي، نو په کوم کار کي چي ضرر رسول وي یا هغه فعل سبب ګرځي مخلوق ته د ضرر رسولو دا فعل په خپل اختیار کول جائز نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د ریاست والي د حیوانانو څرولو اجرت غوښتل

سوال: (۱۸۹۱) په یو ریاست کي له پخوا څخه دا قانون دی چي د هر چا حیوان د ریاست په ځنګل کي وڅریږي نو د حیوان مالک به ریاست ته د څرولو اجرت ورکوي له

دیـــره وختــــه پــــه دې عمــــل کیــــدی اوس د ریاســــت والــــي دغه د څروني اجرت دوه چنده کول غواړي نو د زیاتوب په وجه خلک خپل حیوانان پټوي مثلا چي د چا دا به شل وو هغه لس یا پنځلس ورلیکي او د همدې سره سم اجرت ورکوي، دا کار جائز دی او کنه؟ او په اتفاق سره په حکومت کي پر ریاست دعوی کول او د کمولو غوښتنه کول شرعًا جائز ده او کنه؟ (۹۲۴/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: د ځنګل وابنه خو له عامو مباحاتو څخه دي ځکه اجرت او محصول پر دي باندي اخیستل صحیح نه دی(۱) او محصول د حیوانانو پر مالکانو مقررول ظلم شو، نو مالکان که حیوانان پټوي نو دا فعل د دوی جائز دی او د کمولو غوښتنه کول صحیح ده ځکه ظلم چي څومره کمیږي ښه دی. فقط والله تعالی اعلم.

د خپلي ځمکي د وښوله وړلو او حیوانان پکي څرولو څخه خلک منع کول

سوال: (۱۸۹۲) زید یوه د کښت وړ ځمکه لري چي زید یې نه کري بلکي دیوال یې پر راګرځولی دی او خپل حیوانان پکي څروي لیکن د وښو نه زید تخم پاشلی دی او نه یې اوبه ورکړي دي پخپله راشنه شوي دي اما که ځمکه کرلې وای نو خامخا به زیاته فایده شوې وای، ایا په داسي حال کي خلک د حیوانانو له څرولو څخه د زید لپاره منع کول جائز دي او کنه؟ بینوا توجروا (۱۷۰۴/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په شامي کي راغلي دي: ومعنى الشركة في النار: الا صطلاء بها وتجفيف الثياب الخ، وفي الكلاء: الا حتشاش، ولو في ارض مملوكة، غير ان لصاحب الارض المنع من دخوله ولغيره ان يقول: ان لي في ارضک حقا، فاما ان توصلني اليه او تحشه او تستقي وتدفعه لي و

---

(۱) والمراعي اى الكلاء واجارتها اما بطلان بيعها فلعدم الملک لحديث: الناس شركاء في ثلاث: في الماء والكلاء والنار واما بطلان اجارتها فلانها على استهلاک عين، ابن كمال، وهذا اذا نبت بنفسه وان انبته بسقى وتربية ملكه، وجاز بيعه. (الدر مع الرد: ۱۲۳/٤ كتاب البيوع، باب البيع الفاسد، قبيل مطلب صاحب البئر لا يملک الماء ط رشيديه)

صار کثوب رجل وقع في دار رجل، اما ان یاذن للمالک في دخوله لیاخذه واما ان یخرجه الیه الخ(۱) حاصل د دغه عبارت دا دی چي زید د دغي ځمکي پخپله راشنه شوي واښه نشي منع کولای، ځکه چي د حدیث له مخه: المسلمون شرکاء في ثلاث (۲) په دغه وښو کي د ټولو حق دی. فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۱۸۹۳) که څوک د خپلي ځمکي واښه وچا ته نه ورکوي بلکه خپلو آسانو او نورو ته ورکوي نو جائز دي او کنه؟ (۱۷۱۹/ ۱۳۳۵هـ)

جواب: منع کول صحیح نه دي ځکه چي په دغه وښو کي د هر یو حق دی. لحدیث: الناس شرکاء في ثلاث الحدیث (۲). فقط والله تعالی اعلم.

له هندو څخه د ژوندي حیوان په نه رانیولو مجبورول

سوال: (۱۸۹۴) قصاب یا کوم بل مسلمان پردي مجبورول او پخپل مینځ کي دا عهد او پیمان کول چي له هندو حیوانان ساتونکي څخه به حیوان نه رانیسو، جائز دي او کنه؟ (۱۸۴۱/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: له هندو حیوانان ساتونکي څخه خو د حیوان رانیول جائز دي ځکه کوم مسلمان قصاب او نور پردي مجبورول چي له هندوانو به ژوندی حیوان نه رانیسی ظلم دی، لهذا داسي معاهده شرعًا صحیح نه ده. فقط والله تعالی اعلم.

د همسایه چرګ په زهر وژل

سوال: (۱۸۹۵) زموږ یو همسایه ډیر چرګان ساتي، خوراک نه ورکوي، چرګان مرداري خوري لاري او نور یې پلیت کړي وي که په یو شي کي زهر ورکړو وژل یې جائز دي او کنه؟ (۳۷۲/ ۱۳۳۹هـ)

---

۱) الشامي، کتاب البیوع: ۱۲۳/۴، باب البیع الفاسد، قبیل مطلب: صاحب البئر لا یملک الماء ط رشیدیه.

۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: المسلمون شرکاء في ثلاث، في الماء والکلاء والنار رواه ابو داؤد وابن ماجة. (مشکوة المصابیح، ص: ۲۵۹ کتاب البیوع، باب احیاء الموات والشرب. الفصل الثاني)

جواب: داسي نه دي کول پکار، دا حرام او معصیت دی او سخت ظلم دی. فقط والله تعالی اعلم

کربوړي وژل ثنگه دي

سوال: (۱۸۹۶) کربوړي وژل څنګه دي؟ (۲۲۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: وژل يې ښه او ثواب دی (۱) فقط والله تعالی اعلم.

سپږي په اور کي اچول

سوال: (۱۸۹۷) سپږي په اور کي اچول جائز دي او کنه؟ (۹۲۰/ ۱۳۳۵هـ)

جواب: په اور کي اچول پکار نه دي (۲) فقط والله تعالی اعلم.

منګوړ په اور سوځول

سوال: (۱۸۹۸) منګوړ په اور کي سوځول جائز دی او کنه؟ (۹۲۱/ ۱۳۳۵هـ)

جواب: منګوړ په اور کي سوځول مکروه دی. (۲) فقط والله تعالی اعلم

---

(۱) عن عامر بن سعد عن ابيه رضى الله تعالى عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم امر بقتل الوزغ وسماه فويسقا.

وعن ابي هريرة رضى الله عنه: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قتل وزغة في اول ضربة، فله كذا وكذا حسنة ومن قتلها في الضربة الثانية فله كذا وكذا حسنة لدون الاولى، وان قتلها في الضربة الثالثة فله كذا وكذا حسنة لدون الثانية. (الصحيح لمسلم: ۲/ ۲۳۶ كتاب قتل الحيات وغيرها، باب استحباب قتل الوزغ.)

(۲) وجاز قتل ما يضر منها ككلب عقورو هرة تضر ويذبحها اى الهرة ذبحا ولايضربها لانه لايفيد ولا يحرقها، وفي المبتغي: يكره احراق جراد وقمل وعقرب. وفي الشامي: قوله: يكره احراق جراد اى تحريما ومثل القمل البر غوث ومثل العقرب الحية. (الدر والرد: ۵۳۰/۵ كتاب الخنثى مسائل شتى ط رشيديه.) منګوړ: وينه څښونکی خسمان دی چي زياتره د سپي، وزې، غوا، غويي پر جسم منښللي. (فيروز اللغات)

نقصان رسونکې پیشي وژل صحیح ده

سوال: (۱۸۹۹) پیشي که نقصان ورسوي نو وژل یې جائز دي او کنه؟ (۱۷۷۳/۱۳۳۵هـ)

جواب: په در مختار کې راغلي دي: وجاز قتل مایضر منها ککلب عقور وهرة تضر ویذبحها ای الهرة ذبحا ولا یضربها الخ (۱) له دې څخه معلوم شو چې که پیشي نقصان وکړي نو وژل یې صحیح دي مګر ذبح دي کړي په لرګي او بل شي دي نه وژني. فقط والله تعالی اعلم.

ضرر رسونکی ملخ په اور سوځول

سوال: (۱۹۰۰) ملخان خو کښت ته تاوان رسوي نو سوځول یې څنګه دي؟ (۱۲۳۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: په اور کې سوځول صحیح نه دي (۲) فقط والله تعالی اعلم.

د وریښمو چنجی په ورم وژل

سوال: (۱۹۰۱) د وریښمو له خوره وریښم نه راوني تر څو دغه خوره چې پکښې ژوندي چنجي وي د ایشیدلو اوبو ورم ورنکړي دغه چنجیان په داسي طریقه وژل او وریښم راکښل جائز دي او کنه؟ (۲۱۲۳/۱۳۷۱هـ)

جواب: په بیان شوي صورت کې د وریښمو د حاصلولو لپاره داسي فعل کول صحیح دي. فقط

ضرر رسونکې بیزو (شادوګی) وژل صحیح دي

سوال: (۱۹۰۲) بیزو چې کښت او میوو ته ډیر نقصان رسوي د دې وژل جائز دي او کنه؟ (۲۰۵۱/۱۳۴۳هـ)

جواب: د دې وژل صحیح دي. فقط والله تعالی اعلم.

---

(۱) الدر المختار مع الرد: ۵/۵۳۰، کتاب الخنثی، مسائل شتی ط رشیدیه.

(۲) یکره احراق جراد (شامي: ۵/۵۳۰، کتاب الخنثی، مسائل شتی ط رشیدیه)

تکلیف رسونکی سپی وژل جائز دي

سوال: (۱۹۰۳) یو سپی سخت تکلیف رسونکی دی د مسلمانانو شیان ماتوي د ده وژل صحیح دي او کنه؟ (۱۴۸۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: جائز دي فقط والله تعالی اعلم.

کمزوری آس له تکلیف څخه خلاصولو په نیت ذبح کول

سوال: (۱۹۰۴) یو آس ډیر کمزوری د سوارلۍ ور نه دی حال یې ډیر خراب دی چې کښیني ولاړیدلای نشي، ایا شرع اجازه کوي چې حلال یې کړو یو ځای یې ښخ کړو، خرمن یې هم په ښه نه ده. (۲۱۲/۳۵-۱۳۳۲ھ)

جواب: ذبح د کوم حیوان بیله کومې ګټې او فایدې ښه نه ده، لهذا دغه آس مه حلالوی، اما کله چې علامې د مرګ پر ښکاره شي هغه وخت یې ذبح کول پروا نلري، د درد او تکلیف سپکولو په نیت. وفي الدر المختار: والاولى ذبح الكلب اذا اخذته حرارة الموت، قوله: والاولى الخ، لما فيه من تخفيف الالم عنه قال: والتقييد بالكلب ليس له مفهوم. (۱) فقط والله تعالی اعلم.

مچان وژل جائز دي او کنه؟

سوال: (۱۹۰۵) مچان ضرر رسونکی دي او کنه؟ او وژل یې صحیح دي او کنه؟ (۲۱۳۱/۱۳۳۸ھ)

جواب: مچان له خبائثو څخه دي، لیکن پکې د دم سائل نه کیدو په وجه ناپاک نه دي. او وژل د دوی که په کومه وجه او ضرورت وي نو صحیح دي، مثلاً په حدیث شریف

---

(۱) الدر والرد: ۳۳۷/۵، کتاب الصید ط رشیدیه.

کي راغلي دي چي که مچ په ترکاري کي ولويږي نو غوټه پکي ورکړئ راوې کاږئ(۱) نو ښکاره خبره ده چي په دې سره دى مري، نو دا صحيح دي.

د جمعيت اصلاح المسلمين مخالفت کونکی د جنازې لمونځ نه کول

سوال: (۱۹۰۲) په مقام(تواړه) کي د ټولو مسلمانانو تر مينځ اتفاق پيدا کولو لپاره او دوی چي له هندوانو څخه کوم رنګ اخيستی د هغه د ختمولو لپاره "جمعيت اصلاح المسلمين" جوړ شوی دی، ځيني خلک د جمعيت او د هغه د اغراضو مخالفت کوي. په دغه صورت کي د مخالفينو د جمعيت غړی تنګول او د دوی څخه اړيکي قطع کول تکليف ور رسول، دوی ته نجديان او وهابيان ويل څنګه دي؟ د دوی د جنازې لمونځ نه کول او نه پورته کول څنګه دي؟ (۱۴۷۵/ ۱۳۴۰هـ)

جواب: په حديث شريف کي راغلي دي: صلوا خلف کل برو فاجر (الحديث) (۲) يعني په هر نيک او بد پسي لمونځ کوئ او د هر يو د جنازې لمونځ کوئ. نو د هر مسلمان د جنازې لمونځ کول پکار دی، پرته له هغو د کو استثناء چي فقهاء کړې ده.

(۱) عن ابي سعيد الخدري رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: في احد جناحي الذباب سم وفي الآخر شفاء، فاذا وقع في الطعام فامقلوه فيه، فانه يقدم السم ويؤخر الشفاء. (سنن ابن ماجة: ص: ۲۵۰، ابواب الطب، الذباب يقع في الاناء) وعن ابي هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: اذا وقع الذباب في اناء احدكم فليغمسه كله، ثم ليطرحه، فان احد جناحيه شفاء وفي الآخر داء. (صحيح البخاري: ۲/ ۸۶۰ كتاب الطب، باب اذا وقع الذباب في الاناء)

(۲) عن ابي هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: صلوا خلف كل بروف فاجرو وصلوا على كل برو فاجر، وجاهدو مع كل برو فاجر. (سنن الدار قطني: ۱/ ۱۸۵ كتاب الصلاة، باب صفة من تجوز الصلاة معه والصلاة عليه، المطبوعة. المطبع الانصاري الواقع في الدهلي.)

لکه باغیان او نور(١) او د مسلمانانو تر مینځ اتفاق ډیر ضروري او مهم دی د اتفاق د تعریف او د نااتفاقۍ د غندنې او خرابیو په اړه ډیر آیتونه او حدیثونه راغلي دي: قال الله تعالی: "واعتصموا بحبل الله جمیعًا ولاتفرقوا الآیة" (سورة آل عمران، آیت: ١٠٣) وقال تعالی: (واصلحوا ذات بینکم) (سورة انفال، آیت: ١) او فرمایي: (انما المؤمنون اخوة فاصلحوا بین اخویکم) (سورة حجرات، آیت: ١٠) دا غه راز په ډیرو حدیثونو کې دا مضمون راغلی دی(٢) نو مسلمانان باید پخپل مینځ کې اتفاق وکړی او له نااتفاقي څخه پرهیز کول پکار دی او په کومه ډله کې چې کوم زیاتوب او تیری وي هغه باید ختم کړی او کوم ثوک چې ښه خبره کوي او روغه راولي د هغه سره اتفاق کول پکار دی او د هغه همکاري پکار ده. فقط والله تعالی اعلم.

---

١) وهي فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة: بغاة وقطاع طریق فلا یغسلوا ولا یصلی علیهم... وکذا اهل عصبة ومکابر في مصر لیلا وخناق (الدر) وفي الشامي: وانما لم یغسلوا ولم یصل علیهم اهانة لهم وزجراً لغیر هم عن فعلهم (الدر والرد: ٦٤٢/١، کتاب الصلاة، باب صلوة الجنازة، مطلب: هل یسقط فرض الکفایة بفعل الصبي ط رشیدیه.)

٢) عن ابي الدرداء رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الا اخبرکم بافضل من درجة الصیام والصلاة والصدقة؟ قالوا: بلی یا رسول الله! قال: اصلاح ذات البین وفساد ذات البین الحالقة (ابو داؤد، ص: ٦٧٣ کتاب الادب، باب في اصلاح ذات البین) وعن انس بن مالک رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا تباغضو او لا تحاسروا ولاتدابروا وکونوا عباد الله اخوانا الحدیث. (الصحیح لسلم: ٢/ ٣١٥ کتاب البر والادب والصلة، باب کریم التحاسد والتباغض والتدابر)

وعن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تحاسدوا ولاتناجسوا ولا تباغضوا ولا تدابروا... وکونوا عباد الله اخوانا، المسلم اخو المسلم، لا یظلمه ولایخذ له ولا یحقره، التقوی ههنا ویشیر الی صدره ثلاث مرارٍ، بحسب امرء من الشر ان یحقر اخاه المسلم، کل المسلم علی المسلم حرام، دمه وماله وعرضه. (الصحیح لسلم: ٢/ ٣١٧، کتاب البر والادب والصلة، باب تحریم ظلم المسلم وخذله واحتقاره الخ.)

حکومتي کامیټه که د مسجدونو امامان او مؤذنان د ذلیلو په فهرست کې داخل کړي

سوال: (۱۹۰۷) حکومتي کامیټی پخپل تجویز د مسجد ملا امام د ذلیلو خلګو په فهرست کې داخل کړي. په دې هکله شرعي حکم څه دی؟ (۱۲۵/ ۱۳۴۵هـ)

جواب: واقعتًا امام او مؤذن د ذلیلو په فهرست کې داخلول سخت ظلم دی، د دې اصلاح ضروري ده، مسلمانان باید په دې کې کوښښ وکړي، امام شرعًا او عرفًا معظم او مکرم دی. فقهاءتٍ چې چیرې د فاسق امام جوړول مکروه لیکلي دي هلته همدا وجه لیکلې ده چې په امام جوړولو کې د ده تعظیم راځي او د فاسق تعظیم حرام دی. په شامي کې راغلي دي: وبان في تقديمه للامامة تعظيمه الخ[1] نو کومه عهده چې شرعًا معظمه او مکرمه بلل شوې وي هغه ته حقیره ویل او سپکه ګڼل سخت ظلم دی او داغه راز د اذان کولو فضیلتونه په حدیثو کې راغلي دي[2] په درمختار کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وار په سفر کې اذان پخپله او پخپله لمونځ ورکړي ځکه صاحب د درمختار لیکي چې افضل همدا دي چې امام اذان وکړي، ان الافضل كون الامام هو المؤذن الخ[3] نو معلوم شو چې مؤذن او امام دواړه عند الله معظم او مکرم دی، ځکه په هیڅ ډول دا جائز نه دي چې دوی د ذلیلو په فهرست کې داخل کړي، دا اصلاح کول ضروري دي او

---

[1]) الشامي، كتاب الصلاة: ١/ ٤١٤، باب الامامة، مطلب في تكرار الجماعة في المسجد ط رشيديه.

[2]) عن طلحة بن يحيى عن عمه قال: كنت عند معاوية بن ابي سفيان فجاءه المؤذن يدعوه الى الصلاة، فقال معاوية: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: المؤذنون اطول الناس اعناقا يوم القيامة (الصحيح لمسلم: ١/ ١٦٧، كتاب الصلاة، باب فضل الاذان وهرب الشيطان عند سماعه)

وعن عبد الرحمان بن عبد الله بن عبد الرحمان بن ابي صعصعة الانصاري ثم المازني عن ابيه انه اخبره ان ابا سعيد الخدري قال له: اني اراك تحب الغنم والبادية، فاذا كنت في غنمك او باديتك فاذنت للصلاة فارفع صوتك بالنداء، فانه لايسمع مدى صوت المؤذن جن ولا انس ولا شي الا شهد له يوم القيامة، قال ابو سعيد سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم. (صحيح البخاري: ١/ ٨٦، كتاب الاذن، باب رفع الصوت بالنداء)

[3]) الشامي: ١/ ٢٨٦، كتاب الصلاة، باب الاذان، مطلب في اول من بني المنائب للاذان ط رشيديه.

دوی د ذلیلو له فهرست څخه را ایستل لازم دي، حکومتي غړیو ته باید یادونه وشي او د دې اصلاح وکړي. وما توفیقي الا بالله. فقط

که نوکر د مالک په درختو غلطه دعوی وکړي؟

سوال: (۱۹۰۸) د زید پلار پخپل ژوند کي د خپل اولاد او جائداد ټول نظم وخالد ته وسپاري. د زید د پلار تر وفات وروسته خالد زید د تعلیم او زده کړي لپاره بل وطن ته ولیږي او ټول واک یې په لاس کي واخیستی د کوم نظم یې ډیر ښه تر سره کاوي بیا د ضرورت په وجه خالد خپل یو عزیز بکر په ډوډۍ او جامو ولګاوی هغه به د خالد په څارنه کي کار کاوي او د زید کره اوسیدی د زید په کور کي یوه درخته د تروې ملې وه بکر له هغه ځایه وکښه دباندي په دروازه کي ولګوله، څو ورځي وروسته بکر د زید له کور څخه اړیکي قطع کړې ولاړې د درختي څارنه خالد کوله، درخته ورسیده زید به همیشه ځني میوه اخیستله، خو کله چي خالد وفات شو نو بکر دا ډول دعوی وکړه چي د زید په کور کي چي کومي درختي ولاړي وې مزدورانو هغه کښلي ما دغه درخته له هغه ځایه راوکښه د ځان لپاره مي دباندي ولګوله، که ما دا درخته دلته نه وایي لګولې نو مزدورانو دا هم پرې کوله دباندي غورځوله لهذا دا درخته زما ده په دغه صورت کي شرعًا دغه درخته د زید ده که د بکر؟ (۹۱۳/ ۱۳۳۵هـ)

جواب: دغه درخته د زید ده او د زید ملک ده او بکر پخپله دا خبره مني چي دا درخته د زید په کور کي وه ما له هغه ځایه راویسته د زید په دروازه کي مي ولګوله، نو ښکاره خبره ده چي هم هغه درخته ده وکره غټه شوه او هغه اصلا د زید په کور کي وه او د زید ملک وه نو د بکر ملکیت په هیڅ وجه پکي نشته او دعوی د ده غلطه او باطله ده. فقط والله تعالی اعلم

پلار د زوی په ځمکه کي د بیري درختي ولګولې اوس یې مالک څوک دی؟

سوال: (۱۹۰۹) زید د عمر پلار دی عمر یوه ټوټه ځمکه رانیوله د پلار والي او زوی والي د اړیکو په وجه زید پکي ولاړه ناسته کوله په همدغه ځمکه کي زید د سایې لپاره د بیري درختي ولګولې، کله چي درختي غټي شوې اوس عمر وایي چي دغه درختي زما دي د درختو لرګي او نور عمر وراخلي وزید ته یو شی هم د استفادې لپاره نه

ورکوي، په دغه صورت کې څه حکم دی؟ او د "الشجر لمن غرس" څه معنی ده؟ او دغه درختي د عمر دی که د زید؟ (۲۲۲۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: دغه درختي په ملک کې د عمر دی، ځکه چې درختي د ځمکې د مالک وي. اما د عمر لپاره د پلار ره داسي رويه کول شرعًا او عرفًا ناوړه او بد کار دی. "الشجر لمن غرس" هغه وخت وي چې پخپله ځمکه کې وي. ځکه چې په صحيح حديث شريف کې راغلي دي: ليس لعرق ظالم حق[1] فقط والله تعالى اعلم.

یو ورور بل ورور ته د هستوګنې لپاره ورکړي سرای مالک څوک دی؟

سوال: (۱۹۱۰) شيخ الهي بخش مرحوم خپل سکه ورور شيخ رحيم بخش ته پر خپله ځمکه د اوسيدو اجازه وکړه اوس د شيخ رحيم بخش کړوسيانو پر همدغه ځای د مالکانو په توګه قبضه کړې ده چې د روڅلويښت کلونه کيږي ودغه قبضه کونکيو ته د بيع او د رهن شرعًا اختيار شته او کنه؟ او د شيخ الهي بخش لمسی وايي چې دا زموږ ملک دی حال دا چې دغه ځمکه نه د ده په قبضه کې ده او نه د ده د پلار په قبضه کې راغلې ده؟ (۲۴۸۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: نوموړو قبضه کونکيو ته د بيع او رهن اختيار نشته او دوی د دې مالکان نه دي، مالکان يې د شيخ الهي بخش لمسيان دي، د دوی او د دوی د پلار په قبضه نه کولو د دوی ملک نه زائليږي، د فقهي په کتابونو کې راغلي دي: ان الحق لا يسقط بتقادم الزمان[2] او په درمختار کې راغلي دي: لا لوقال: هبة سكنى او سكنى هبة بل تكون عارية اخذًا بالمتيقن الخ[3]

---

[1]) عن سعيد بن زيد رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال: من احى ارضا ميتة فهي له وليس لعرق ظالم حق رواه احمد والترمذي وابو داؤد (مشكوة المصابيح، ص: ۲۵۵، كتاب البيوع، باب الغصب والعارية، الفصل الثاني)

[2]) الشامي: ٥/٥٢٤، كتاب الخنثى، مسائل شتى ط رشيديه.

[3]) الدر مع الشامي: ٤/٥٦٨، كتاب الهبة ط رشيديه.

که سرې ښځي ته د نکاح کولو په وجه روپۍ ورکړي او ښځه له نکاح کولو څخه انکار وکړي. نو سرې بیرته هغه روپۍ ځني اخیستلای شي او کنه؟

سؤال: (۱۹۱۱) یوې ښځي د یو سړي سره وعده کړې وه چي زه ستا سره نکاح کوم په همدي وجه هغه سړي ډیري روپۍ ورکړې، اته کاله وروسته ښځي له نکاح کولو څخه انکار وکړی. ښځي هغه روپۍ څه مسجد ته ورکړي او څه یې خیرات کړي، دا جائز دي او کنه؟ سړی خپلي روپۍ ځني اخیستلای شي او کنه؟ (۲۱۲۹/ ۱۳۴۲هـ)

جواب: کله چي ښځي د ده سره نکاح ونکړه نو کومي روپۍ چي ده د نکاح په وجه ورکړي دي هغه بیرته ځني اخیستلای شي او که دی بیرته ځني وانخلي او ښځي ته د مصرفولو اجازه وکړي نو مصرفول یې صحیح دي او د مسجد په تعمیر کي لګول یا خیراتول یې جائز دي. فقط والله تعالی اعلم

د حکومت له طرفه ورکړل شوې ځمکه حکومت بیرته ځني واخیسته بل چا ته ورکړه نو څه حکم دی؟

سؤال: (۱۹۱۲) ابراهیم ته یوه ټوټه ځمکه حکومت ورکړې وه، ابراهیم یو خوا ته ولاړی حکومت هغه ځمکه بیرته قبضه کړه د ه اکاګانو ورته خواست وکړی حکومت هغو ته ورکړه کله چي ابراهیم راغلی نو په محکمه کي وربانديي دعوی وکړه، پنځپله مینځ کي دا فیصله وشوه چي ځمکه دري برخه کړه یوه برخه د ابراهیم شوه او دوې برخي د دوو اکاګانو شوې، یو اکا خپله څه ځمکه خرڅه کړه، دغه ځمکه ابراهیم ته ملاوېدلای شي او کنه؟ او د حکومت ضبطول (قبضه کول) صحیح شو او کنه؟ او له صلح وروسته ابراهیم د خپلي برخي مالک شو او کنه؟ (۲۹۱/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: قبضه کول صحیح شوي و او بیا تر صلح وروسته ابراهیم د خپلي برخي مالک شو او پر خرڅه کړل شوې ځمکه د ابراهیم خاص حق نه شو پاته که دی شفیع وي نو په شفعه راګرځولای شي که شرائط موجود وي.

د ویش پر مهال د ورور په واده کې شوي مصرف غوښتنه کول

سوال: (۱۹۱۳) د یو سړي دوه زامن دي دواړو ودونه کړي دي د یو هلک په واده کې نژدې څلور سوه روپۍ مصرف وشوا د دوهم په واده کې یو مخ مصرف نه دی شوی، دی وايي چې تر ویش مخکې دې د ده د واده مصرف راکول شي بیا به جائداد نیم په نیمه کړو کنې پر ما به ظلم وي؟ (۲۲۴/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: شرعًا په دغه صورت کې چې د کوم هلک په واده کې مصرف ونه شو یا لږ وشو ده ته دا حق نشته چې له پلار څخه د هغو روپیو غوښتنه وکړي چې د بل هلک په واده کې مصرف شوې او پلار که هغه روپۍ ورنکړې نو دا ظلم نه دی. فقط

د خاوند پر ملکیت د ښځې مور او پلار قبضه وکړه


سوال: (۱۹۱۴) د زید ښځه د پلار کره کښېنسته د زید پر ملکیت زیوراتو، سرای او نورو د دې مور او ناسکه پلار قبضه وکړه، دا جائز دي او کنه؟ زید پخپله قبضه پر کولای شي او کنه؟ (۱۰۴۸/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: د زید په ژوند کې د ده د ښځې، مور و پلار او نورو خپلوانو ته هیڅ حق نشته چې د زید پر سرای، زیوراتو او نورو قبضه وکړي او د مالکانو په حیث پکې تصرف وکړي او زید د دوی قبضه ورختمولای شي. فقط والله تعالی اعلم.

خاوند چرګه رانیوله ښځې ته ورکړه د آمدني مالک یې څوک دی؟

سوال: (۱۹۱۵) یو سړي پخپلو روپیو چرګه رانیوله کور ته راوړه ښځې ته ورکړه او د چرګې خوراک د خاوند په روپیو راوړل شو، بیا چرګه کړکه شو چیچان یې وشو، د دغې چرګې په هګۍ، خرڅولو او چیچیانو خرڅولو د ده ښځې دوه سوه روپۍ وګټلې، خاوند څنې واخیستې، ښځه ورته وايي چې دغه روپۍ ما ته راکړه دا زما محنت دی په دې کې ستا هیڅ حق نشته، شرعًا د چا حق جوړیږي؟ (۱۲۴۱/ ۱۳۴۵هـ)

جواب: دغه روپۍ د خاوند حق دی اما که دی ښځې ته ورکړي نو دا هم جائز دي. فقط والله تعالی اعلم.



کتاب الرهن

د رهن (ګرو) بیان

سوال: (۱) په آیت "فرهان مقبوضة الآية" (سورة بقرة، آیت: ۲۸۳) د ځمکي په رهن کي اینبودل ثابتیږي او کنه؟ (۱۹۰۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: ځمکه په رهن کي اینبودل صحیح ده په دې کي د هیڅا هیڅ اختلاف نشته، اما له مرهونه ځمکي څخه د مرتهن لپاره استفاده کول حرام دي، د دغه حدیث په وجه "کل قرض جر نفعا فهوربا" (۱) او کما قال صلى الله عليه وسلم په آیت کي صرف د دې خبري بیان دی چي د پور پخولو لپاره د رهن په توګه د مقروض ځمکه او نور اینبودل صحیح دي مګر د استفادې کولو جائز والی په دغه آیت کي نشته

(۱) عن عمارة الهمداني: سمعت عليا رضى الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كل قرض جر منفعة فهوربا (للحارث) المطالب العالية بزوائد المائيد الثمانية: ۱/ ۴۱۱، حديث: ۱۳۷۳، وفيه سوار بن مصعب متروک الحدیث، ضعفه البوصيري، وقال: له شاهد من حديث نضلة بن عبيد، رواه الحاكم وعنه البيهقي (من هامش المطالب العالية) وفي فتح القدير: ٦/ ٣٥٥، كتاب الحوالة، عند قول صاحب الهداية: ويكره السفاتج. وعن الحكم عن ابراهيم قال: كل قرض جر منفعة فهوربا (مصنف ابن ابي شيبة: ٤/ ٣٣٣، كتاب البيوع والاقضية، باب من كره كل قرض جر منفعة، المطبوعة: دار الكتب العلمية، بيروت لبنان)

او له حدیث شریف څخه د استفادې حاصلولو حراموالی معلوم شو. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲) پر بکر باندې د زید قرض دی، زید د خپل اطمینان لپاره د بکر سرای د روپیو په بدل کې په رهن غواړي مګر له مرهونه سرای څخه په هیڅ ډول استفاده کول نه غواړي، دا رهن جائز دی او کنه؟ (۱۲۰۱/ ۱۳۳۵هـ)

جواب: دا ډول سرای په رهن اخیستل صحیح دي، رهن اخیستل او ورکول په شریعت کې منع نه دي: قال الله تعالی: "ان کنتم علی سفر ولم تجدوا کاتباً فرهن مقبوضة الاية" بلکه استفاده کول د مرتهن لپاره له رهن څخه منع ده، کله چې له رهن څخه هیڅ ډول استفاده نه اخلي نو په جواز کې هیڅ شک نشته. فقط

د رهن په اړه یو حدیث او د هغه مطلب

سوال: (۳) زید وایي چې د رهن له ځمکې، سرای او نورو څخه انتفاع د بخاري د حدیث "الظهریرکب بنفقته اذا کان مرهونا، ولبن الدر یشرب بنفقته اذا کان مرهنا الحدیث(۱)" د مفهوم سره سمه جائز ده او بکر د حدیث مفهوم صرف د رکب او درسره خاص بولي نورو ته ناجائز وایي، نو په دغه دواړو صورتونو کې د چا قول راجح دی او د بکر پر قول یعني خصوصیت باندې کوم شرعي دلیل شته؟ د دې بیان په شرعي دلائلو راته وکړي (۱۹۰۲/ ۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: د احنافو په نزد د مرتهن له رهن څخه استفاده کول مطلقاً علی قول الصحیح ناجائز ده. لان کل قرض جر نفعا فهوربا (۲) د زید او بکر دواړو قول صحیح نه دی د دغه حدیث تاویل عند الحنفیه دا دی چې (ب) د سببیت ده یا منسوخ دی. کما قال السید في حاشیة المشکاة قوله: الظهر یرکب بنفقة الظهر الخ والجمهور علی ان منافع المرهون للراهن والنفقة علیه، قالوا: والحدیث منسوخ بآیة الربا فانه یلزم انتفاع المرتهن لاجل دینه وکل قرض

---

(۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الظهر یرکب بنفقته الحدیث (صحیح البخاري: ۱/ ۳٤۱، کتاب الرهن، باب الرهن مرکوب ومحلوب)

(۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کې وګورئ.

جر نفعا فهو حرام. وقيل الاولى ان يقال: ليس الباء للبدلية بل للمعية اى الظهر يركب وينفق عليه فلا يمنع الرهن الراهن عن الانتفاع بالمرهون ولا يسقط عنه الانفاق (اى يركبه الراهن وينفق عليه) ([1]) كما يدل عليه الحديث الآتي (حاشية سيد على المشكاة) والحديث الاتي: لا يغلق الرهن الرهن (اى المرهون) من صاحبه الذي رهنه له غنمه وعليه غرمه رواه الشافعي مرسلا وروى مثله او مثل معناه لا يخالف عنه عن ابي هريرة رضى الله عنه متصلا (مشكوة شريف، ص: ٢٤) ([2]) فقط والله تعالى اعلم.

---

[1]) د دغه حدیث څرګنده تشریح په تحفة الالمعي کې راغلې ده:

حدیث (۱۲۳۹) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: د سوارلۍ حیوان سوارلۍ پر کول کله چې د چا سره په ګرو وي او د شیدې لرونکې حیوان شیدې خوري کله چې د چا سره په ګرو وي او څوک چې ورباندې سوارلۍ کوي او شیدې يې خوري پر هغه د ده چاره او به دي.

تشریح: په دغه حدیث کې نبي علیه السلام له مرهون څخه د استفادې اجازه کړې ده او دا د امام احمد رحمه الله دلیل دی. نور امامان فرمايي: دا حدیث د باب د مسئلې سره اړه نلري بلکې د دغه حدیث مطلب دا دی چې د مرهون شي د بقاء مصرفونه خو پر راهن وي ځکه چې هم هغه د دې مالک دی او حفاظت پر مرتهن وي، او که آس د سوارلۍ دی نو د هغه په کرایه ورکول او د مرهون حیوان شیدې خرڅول پر مرتهن دي او کومه آمدني چې راځي هغه په رهن کې شاملیږي مګر په ساده معاشره کې توسع وي او د یوې یوې آنې حساب نه کیږي، داغه راز صحراوو کې حیوان په کرایه ورکول او شیدې خرڅول مشکل وي او د راهن لپاره سهار او ماښام د حیوان خوراک د مرتهن کور ته وروړل او د دې څارنه کول هم مشکل وي ځکه نبي علیه السلام فرمايي: مرتهن دې د حیوان مصرف کوي او په بدله کې دې سوارلۍ پر کوي او شیدې دې خوري نو دا له ګرو څخه استفاده نه ده بلکه د مصرف کولو لم سم بدله ده او دلیل د همدغه حدیث هغه الفاظ دي چې په بخاري (حدیث ۲۵۱۲) کې راغلي دي: الظهر يركب بنفقته اذا كان مرهونا ولبن الدر يشرب بنفقته اذا كان مرهونا وعلى الذي يركب ويشرب النفقة: په دغه حدیث کې د بنفقته مطلب هم هغه دی کوم چې جمهورو بیان کړی دی چې دغه انتفاع په عوض د مصارفو ده، له مرهون څخه استفاده کول نه دي

(تحفة الالمعي: ٤/ ١٧٧، ابواب البيوع، باب ماجاء في الانتفاع بالرهن)

[2]) مشكوة المصابيح، ص: ٢٥٠، كتاب البيوع، باب السلم والرهن، ورقم الحاشية: ٨

څمکه او سرای په رهن ورکول جائز دي

سوال: (۴) څمکه او سرای په رهن ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۴۲۲/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: سرای یا څمکه په رهن ورکول صحیح دي لیکن د مرتهن لپاره له داسي څمکي او سرای څخه استفاده کول حرام دي، بلکه هر څومره نفع چي وي هغه د څمکي د مالک یعني د راهن ده. فقط والله تعالی اعلم.

کرایه دار د کرایي څمکه چا ته په ګرو نشي ورکولای

سوال: (۵) یو هندو د کاله په څلور روپۍ خپله څمکه اکبر ته ورکړه اوس اکبر له نواز څخه شپږ روپۍ واخیستي د غه څمکه ده په رهن کي ورکړه او نواز څلور روپۍ د څمکي مالک ته ورکوي هغه یې په خوشحالي اخلي دا معامله جائز ده او کنه؟

(۴۹۵/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په در مختار کي راغلي دي: واما المستاجر فیؤاجر الخ ولا یرهن. الخ (۱) له دي څخه معلومېږي چي د اکبر لپاره دا جائز نه دي چي د غه څمکه نواز ته په رهن کي ورکړي او د نواز لپاره له مرهون څخه استفاده کوي صحیح نه دي. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲) بزګر له یو چا څخه څمکه په اجاره واخیسته اوس د غه څمکه بل چا ته په رهن کي ورکولای شي او کنه؟ (۱۷۲۰/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: په اجاره اخیستي څمکه مستاجر بل چا ته په رهن نشي ورکولای. کما في الدر المختار: واما المستاجر فیؤاجر ویودع ویعار ولا یرهن الخ فقط والله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۵۶۱/۴، کتاب العارية ط رشيديه.

مرتهن مرهونه ځمکه په اجاره اخیستلای شي او کنه؟

سؤال: (۷) زید له ما څخه سل روپۍ په قرض واخیستې او یوه ټوټه ځمکه ما ته په رهن راکړه، ما ده ته د کاله عوض ورکړی استفاده مي له ځمکه څخه شروع کړه او س خو دا شرعًا رهن نه شو پاته، اجاره شوه، مګر دا اجاره خو صحیح نه ده ځکه چي راهن خو د قرض په وجه ضرور زما سره په عوض اخیستلو کي رعایت وکړی، دا معامله جائز ده او کنه؟(۲۴۴۹/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: صرف په دغه فعل چي مرتهن عوض ورکړی او استفاده یې ځیني شروع کړه د اجارې عقد منعقد نه شو بلکه مال ورکول تبرع شو او استفاده کول د مرتهن لپاره حرام شنو. وکل ما وجب علی احدهما فاداه الآخر کان متبرعًا الخ (قبل اسطر) ونفقة الرهن والخراج والعشر علی الراهن (۱) اما که سم عقد د اجارې کړی وي او په اجاره اخیستلو لپاره نوې قبضه شوې وي نو اجاره صحیح شوه او رهن باطل شو (۲) فقط والله تعالی اعلم

په دې شرط ځمکه په رهن ورکول چي که مي تر فلاني وخته راخلاصه نکړ نو بیع یې وشمیره

سؤال: (۸) یو سړی ځمکه په رهن په دې شرط ورکړه چي په اووه کاله کي به نه راخلاصوم او چي اووه کاله تیر شو بیا نو په درې کاله کي د روپیو ادا کولو سره راخلاصولای شم او په دغه ټوله موده کي به مرتهن له ځمکي څخه استفاده کوي او حکومت ته به مالیه ورکوي او که مي دغه ځمکه په دریو کلونو کي نکړه راخلاصه او د رهن له تاریخ څخه پوره لس کلونه تیر شول نو د پور په روپیو به دغه ځمکه د مرتهن په بیع وبلل شي، راهن په مقرره موده کي ځمکه نکړه خلاصه، دا بیع الوفاء ده که څه ده؟ او د دې څه حکم دی؟(۱۷۷۵/۱۳۴۲ھ)

جواب: دا د بیع الوفاء صورت نه دی لکه چي ظاهر دی بلکه له رهن وروسته ورته وویل چي که مي تر فلاني وخت راخلاصه نکړه نو بیع یې وشمیره او په "بیع الوفاء" کي بیع هم هغه وخت یعني د معاملې د عقد په وخت کیږي او په هغه کي دا شرط وي چي که

---

(۱) الدر مع الرد: ۳٤۷/۵ کتاب الرهن ط رشیدیه.

(۲) وان کان هو (ای المستاجر) المرتهن وجدد القبض للاجارة... بطل الرهن والاجرة للراهن (الشامي: ۳٦۳/۵، کتاب الرهن، باب التصرف في الرهن ط رشیدیه)

تر فلاني وخته ما روپۍ در کړې نو مبيع به بيرته راکوې نو په دې کې چې کوم اختلاف دی د فقهي په کتابونو کې په تفصيل سره بيان شوی دی(١) نور نو دا صورت چې په سوال ليکل شوی دی دا صرف د رهن دی په دې کې د مرتهن لپاره له مرهونه څخه استفاده کول ناجائز ده. که څه هم د راهن په اجازه وي لکه چې د علامه شامي رحمه الله تعالى له تحقيق څخه چې معلومېږي(٢) او په دا ډول وينا چې که مې تر فلاني وخته څمکه نکړه را خلاصه نو بيع بې وشميره، دا ډول بيع نه کيږي ځکه چې د بيع د صحت لپاره حالاً ايجاب او قبول ضروري دی او په حديث شريف کې راغلي دي: نهى عن بيع وشرط(٣) ځکه فقهاء رحمهم الله هغه شرط بيع فاسدونکی بللی دی چې د عقد د مقتضاء خلاف دی. وتحقيقه في کتب الفقه(٤) فقط والله تعالى اعلم.

سوال: (٩) په رهن بيع الوفاء کې تر ميعاد تيريدو وروسته کوم حق د راهن شته او کنه؟ (١٩٢٩/١٣٤٠هـ)

جواب: په رهن کې د مرهونه شي مالک راهن وي تر څو چې په نوي معامله بيع ونکړي. فقط والله تعالى اعلم.

---

١) د بيع الوفاء د تفصيل لپاره د دار العلوم ديوبند فتاوی: ١۴/ ٣٢٣-٣٢٧ وګورئ.

٢) قال في المنح: وعن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن، لانه اذن له في الرباء لانه يستوفي دينه كاملا فتبقي له المنفعة فضلاً فيكون ربا الخ. قال ط: قالت: والغالب من احوال الناس انهم إنما يريدون عند الدفع الانتفاع ولو لاه لما اعطاه الدراهم، وهذا بمنزلة الشرط، لانه المعروف كالمشروط وهو مما يعين المنع (الشامي: ٣٤٣/٥، كتاب الرهن ط رشيديه)

٣) عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن بيع وشرط، البيع باطل والشرط باطل الخ (المعجم الاوسط للطبراني: ٣/ ٢١١، باب العين، من اسمه عبد الله، رقم الحديث: ٤٣٦١، المطبوعة: دارالكتب العلمية، بيروت، لبنان وكذا في بدائع الصنائع: ٤/ ٣٨٧، كتاب البيوع، الشروط الفاسدة.)

٤) قال في الدر المختار: ولا بيع بشرط.... يعني: الاصل الجامع في فساد العقد بسبب شرط لا يقتضيه العقد الخ وفي الشامي : قوله ولا بيع بشرط شروع في الفساد الواقع في العقد بسبب الشرط لنهيه صلى الله عليه وسلم عن بيع وشرط. (الدر والرد: ١٣٥/٤ كتاب البيوع، مطلب في البيع بشرط فاسد ط رشيديه.)

په فاسد شرط سره د رهن عقد نه فاسیږي

سوال: (۱۰) یو مسلمان د ضرورت په وجه خپل سرای د یوې معلومې مودې لپاره په رهن ورکوي که تر دغه مودې روپۍ ور ادا نکړي نو بیع به بلل کیږي په دا سې صورت کې بیله معاوضې رهن جائز دی او کنه؟ (۲۰۹/ ۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: دا صورت د رهن دی په دا ډول معامله کولو رهن صحیح شو. د مودې تر ختمیدو وروسته بیع نه ګرځي، دا یوه وعده ده د مودې تر ختمیدو وروسته د مالک خوښه ده که بیع کوي او کنه کوي، دا سې نه دي چې پخپله به بیع وشي او په درمختار کې راغلي دي چې په فاسد شرط رهن نه فاسدیږي، شرط لغو ګرځي، وقال في الشامي: وان لم اوف متاعک لک الی کذا فالرهن لک بمالک بطل الشرط وصح الرهن الخ(۱) فقط والله تعالی اعلم.

د مرهونه ځمکې تبادله جائز نه ده

سوال: (۱۱) د زید سره یوه ځمکه د کنبت په رهن پرته ده که زید دغه ځمکه د عمر سره په هغه ځمکه بدله کړي کومه چې د عمر سره په رهن پرته ده په دې نیت چې د عمر سره د رهن ځمکه مالک ډیر ژر خلاصوي او د زید سره ځمکې خلاصون په ځنډ دی دا تبادله جائز ده او کنه؟

جواب: دا تبادله جائز نه ده زید اختیار نلري چې د بل په رهن ورکړې ځمکه د بل چا د مرهونه ځمکې سره تبادله کړي. فقط والله تعالی اعلم.

د ښځې سرای په پټه چاته په رهن ورکول

سوال: (۱۲)... (الف) زید یو خپل سرای خپل مړوړ ته په مهر کې د خپل زوی په ژوند کې د ده په رضا ورکړي، ایا خسر دا سې کولای شي؟

(ب): بکر په پټه دغه سرای یې د ښځې له رضا چاته په رهن ورکړي او وفات شو دا سې تصرف د بکر جائز دی او کنه؟ (۱۵۴۱/۱۳۴۲ھ)

جواب: (الف- ب) خسر دا سې کولای شي او خسر چې کوم سرای خپلې مړوړ ته د دې په مهر کې ورکړې مړوړ

---

۱) الشامي، کتاب البیوع: ٤/٢٥٥، باب المتفرقات، مطلب قال لمدیونه: اذا مت فانت بریٔ ط رشیدیه.

د دغه سرای مالکه شوه، د بکر لپاره يې د ښځې له رضا او اجازې په دغه سرای کې د بيع، رهن او بل تصرف اختيار نشته داسې رهن شرعًا صحيح نه شو د بکر ښځه مجبوره نه ده چې د مرتهن قرض ادا کړي يا مرتهن له دغه سرايه خپل قرض واخلي. فقط والله تعالی اعلم

د يو وارث د نورو وارثانو برخې په رهن ورکول

سوال: (۱۳) د يو سړي د جائداد وارثان د ده زامن، لوڼې او ښځه دي که يو وارث د نورو وارثانو برخې هم په رهن ورکړي نو څه حکم دی؟ (۲۱۲/ ۱۳۴۰هـ)

جواب: که د مالک خوښه نه وي نو د ده په برخه کې رهن نه صحيح کېږي او د کوم شريک لپاره جائز نه دی چې د نورو شريکانو له خوښې د دوی برخې په رهن ورکړي دا ظلم او معصيت دی. فقط والله تعالی اعلم

که په رهن ورکړي ځمکه يو شريک راخلاصه کړي نو د نورو شريکانو برخې په د ده سره رهن وي

سوال: (۱۴) د دريو کسانو ځکه د يو سړي سره رهن ده يو سړی خپلې او د نورو شريکانو روپۍ ورکړې ځمکه راخلاصه کړه دوی دواړو راخلاصونکي ته د دې ګټه په خوښې وبخښله دغه ګټه اخيستل جائز ده او کنه؟ (۷۳۳/ ۱۳۴۱هـ)

جواب: اوس د دغه دواړو برخه د خلاصونکي سره رهن ده، نو د مرتهن د دوی له برخو څخه استفاده کوي که څه هم د دوی په اجازه وي صحيح نه ده، ځکه چې فقهاء دې ته سود ويلی دی لکه چې راغلي دي: کل قرض جر نفعا فهو ربا [1] او سود په اجازه نه حلاليږي، نو دغه راخلاصونکي ته پکار دي چې د دوی دواړو د برخې ګټه دوی ته ورکړي او ځمکه دې پخپله قبضه کې وساتي، کله چې دوی د خپلو خپلو برخو روپۍ ادا کړي هغه وخت دې مرهونه ځمکه دوی ته ورکړي. فقط والله تعالی اعلم

---

[1]) د دغه حديث تخريج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کې دي

د مرهون او د هغه د منافع مالک راهن دی

سوال: (۱۵) زمونږ په وطن کي د رهن رواج شته او مرتهن د منافع حاصلولو په سبب ځان مالک بولي او راهن په دې وجه چي ځمکه د ده له قبضې وتـه ځان مفلس بولي. په دغه صورت کي د مرتهن لپاره له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول او آدمدني یې پخپلو اړتیاوو کي مصرفول جائز دي او کنه؟(۱۱۰۷/ ۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: کله چي عقد کونکی معامله د رهن کوي د بیع معامله نه کوي نو ښکاره خبره ده چي داسي معامله به د رهن وي د بیع به نه وي، دا د خلګو جهالت دی چي مرتهن د استفاده کولو په وجه ځان مالک بولي او راهن پـه دې وجه چي ځمکه د ده لـه قبضې څخه ووتله ځان مفلس او غیر مالک بولي نو کله چي دا معامله شرعًا د رهن وشوه نو د رهن احکام پردې متفرع کیږي او د مرتهن لپاره پـه هیڅ ډول لـه مرهونه ځمکي څخه استفاده کول او د دې آمدني راګرځول جائز نه دي چي دا عین سود دی. مسئله منله شوې ده او په کتابونو کي څرګنده ده: کل قرض جر نفعا فهو ربا (۱) قال في الشامي: قوله: (وقیل: لا یحل للمرتهن) قال في المنح: وعن عبدالله محمد بن اسلم اسمرقندي وکان من کبار علماء سمرقند انه لا یحل له ان ینتفع بشئ منه بوجه فتبقي له المنفعة فضلا فیکون ربا الخ (۲) بیا په دې کي علامه څه بحث کړی دی په پای څرګندونه کړې ده: والغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع، ولو لاه لما اعطاه الدراهم، وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط وهو مما یعین المنع (۲) فقط والله تعالی اعلم.

له مرهونه ځمکي څخه په استفاده کولو پور نه ساقطیږي

سوال: (۱۲) زید خپل څو کښتونه بکر ته په رهن ورکړي وو بکر تر یوې مودې پورې

---

۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کي دی.

۲) الشامي: ۳۴۳/۵، اوائل کتاب الرهن ط رشیدیه.

له دغه کښتونو څخه استفاده کوله تر دې چې تر خپلو روپیو څخه څو چنده زياته استفاده وکړه دا سود دی او کنه؟ او پر زيد باندي دغه روپۍ ادا کول واجب دی او کنه؟ او که دغه استفاده زيد د پور په ادا کولو کي ورشمار کړي خپل کښتونه بيرته څيني اخيستلای شي او کنه؟ (۹۹۳/ ۳۳-۱۳۳۴)

جواب: د بکر لپاره له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول ناروا او سود دی ليکن په عوض د هغه منافع چي بکر له مرهونه ځمکي څخه حاصل کړو پور نه ساقطيږي. نو زيد که دغه مرهونه ځمکه راخلاصول غواړي نو کوم قرض چي اخيستی او هغه دي ادا کړي او ځمکه دي بيرته څيني واخلي، ليکن پر بکر باندي لازم دی چي څومره نفع له مرهونه ځمکي څخه حاصله کړې ده هغه زيد ته ورکړي. فقط والله تعالى اعلم.

د مرتهن لپاره له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول صحيح نه دي

سوال: (۱۷) يوه ټوټه ځمکه مي په دوه سوه روپۍ په ګرو واخيستله چي دوې روپۍ به د کاله راکرځول کيږي او د نورو روپيو د ادا کولو په صورت به تا ته ځمکه درکول کيږي حال دا چي د کاله دوې روپۍ د دغه ځمکي آمدني وي دا جائز دی او کنه؟ (۱۲۴۲/ ۱۳۳۵ھ)

جواب: دا ډول معامله صحيح نه ده، بلکه د مرهونه ځمکي چي څومره ګټه وي ټوله د راهن يعني د ځمکي د مالک ده د مرتهن لپاره له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول صحيح نه ده. لانه ربا والربا لا يحل بالاذن كذا في الشامي (۱) فقط والله تعالى اعلم.

سوال: (۱۸) يو سړی خپله ځمکه بل ته په رهن ورکوي او مرتهن ته قبضه ورکوي که يې پخپله کري او که بزګر ته ورکوي که پخپله وکري نو راهن ته به په کوم حساب کرايه ورکوي که د پور په روپيو کي حساب کړي او که بزګر ته ورکړي نو څه ډول؟ (۲۰۹۲/ ۱۳۴۳ھ)

---

۱) لا الانتفاع به مطلقا لا باستخدام ولا سكنى ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة الخ وفي الشامي: عن عبد الله بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشيء منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له في الربا الخ (الدر المختار والشامي: ۳۴۳/۵، اوائل كتاب الرهن ط رشيديه)

جواب: دا ډول رهن ورکول شرعًا صحیح نه دی د مرتهن لپاره جائز نه دي چي په مرهون کي کوم ډول تصرف وکړي، په سوال کي چي کوم صورتونه لیکل شوي دي هغه بناء فاسد علی الفاسد دی، په دې کي یو صورت هم د جواز نشته. حکم دا دی چي که پخپله وکري او که په بل وکري چي څومره حاصل راغلي راهن ته دي ورکړي یا دي په پور کي ور واخلي او له بزګر څخه چي کومه کرایه واخلي هغه دي په پور کي حساب کړي. فقط والله تعالی اعلم

که مرتهن د مرهونه ځمکي مالیه ادا کوي نو استفاده ځني کولای شي او کنه؟

سوال: (۱۹) زید د عمر ځمکه د شلو بیښتو روپیو په پور کي په رهن راوګرځوله اوس د زید لپاره له دغه مرهونه ځمکي څخه استفاده کول جائز ده که سود دی؟ که مالیه د ځمکي زید ادا کوي نو هم استفاده ځني کول جائز ده او کنه؟ (۳۸/ ۱۳۴۵هـ)

جواب: اصل خبره دا ده چي د مرتهن لپاره له مرهون څخه استفادهٔ کول په هیڅ حال او په هیڅ صورت کي هم جائز نه ده، انتفاع من الرهن جائز نه ده چي د عمر له ځمکي څخه استفاده حاصله کړي، زید که مالیه ادا کوي هغه پر عمر شمیرل کیږي زید ته هر وخت اختیار دی چي دی له اصل مالک عمر څخه دا روپۍ واخلي(۱) او آئنده مالیه نکړي ادا لکن دا نشي کیدلای چي په دغه وجه له مرهون څخه استفاده کوي د مالیې ادا کول پر عمر دي زید که ادا کړي نو دا د عمر له طرفه بلل کیږي چي دی یې هر وخت ذمه وار دی، لهذا مالیه ادا کول یا نه ادا کول د انتفاع د حرمت په لحاظ برابر دي، اما د مالیې ادا کولو په صورت د مرهون د نفع او مالیې د روپیو په پوره احتیاط سره حساب کوي نو بیا چي څومره نفع د مالیې په روپیو کي حسابل کیږي د زید لپاره حلاله ده. پاته نفع د اصل مالک عمر ده، لنډه دا چي دا ډول هیڅ وخت جائز نه دي چي مرتهن دي مالیه ادا کړي او بیا دي مطلقاً له مرهون څخه استفاده کوي: په در

---

(۱) دا حکم هغه وخت دی کله چي مرتهن د راهن یا قاضي په حکم د ځمکي مالیه ادا کړې وي که یې د راهن یا قاضي له حکمه پرته د ځمکي مالیه ادا کړه نو بیا یې له راهن څخه نشي اخیستلای ځکه چي دی تبرع کونکی دی ۱۲

مختار کي راغلي دي: لا الانتفاع به مطلقاً الخ الا یاذن الخ وقیل: لا یحل للمرتهن لانه ربا (الدر) قوله: (وقیل لایحل للمرتهن) قال في المنح، وعن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وکان من کبار علماء سمرقند انه لایحل له ان ینتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له في الربا الخ قلت: والغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع، ولو لاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط الخ (۱) (شامي) وفي الاشباه کل قرض جر نفعا حرام (۲) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۰) که مرتهن د حکومت مالیه نه ادا کوي هغه وخت خو د ده لپاره له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول جائز ده او که مالیه هم دی ادا کوي نو نفع د ده لپاره څني اخیستل به روا وي او کنه؟ او په دې کي څه فرق شته او کنه؟ (۱۷۷۹/ ۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: هیڅ فرق نشته هر ډول استفاده له رهن څخه کول ناروا او حرامه ده. فقط والله اعلم

سوال: (۲۱) زید له عمر څخه یو ټوټه ځمکه (چي د کاله پنځوس روپۍ آمدني لري) د سل روپۍ پور په رهن کي راوګرځوله، عمر ورته وویل چي زه پخپله خوښي او رضا درته وایم چي د روپۍ د ادا کولو تر وخته زما د دغه ځمکي سره هیڅ اړه نشته، ته د دغه ځمکي په آمدني د حکومت مالیه ادا کوه او پاته ګټه ستا ده کله چي زه ستا روپۍ ادا کړم نو هغه وخت به ځمکه در څخه اخلم. یا عمر زید ته داسي وویل چي د یو نیم سل روپیو په عوض تر دوه کاله پوري ته د دغه ځمکي له آمدني څخه استفاده کوه او مالیه هم ادا کوه نه به ستا پر ما څه وي او نه به زما پر تا څه وي دوه کاله وروسته په زه دغه ځمکه در څخه راګرځوم. (۲۱۰/ ۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: دواړه صورتونه شرعًا ناروا دي، د مرتهن لپاره له رهن څخه استفاده کول په هیڅ حال کي جائز نه ده او محصول او مالیه د راهن په

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار: ۳۴۳/۵، کتاب الرهن ط رشیدیه.

(۲) الدر مع الشامي: ۱۹٤/٤ کتاب البیوع، مطلب: کل قرض الخ قبل باب الربا ط رشیدیه.

ذمه یعني د ځمکي د مالک دي مرتهن که محصول ادا کړي نو هغه هم پر ده شمیرل کیږي له راهن څخه نشي اخیستلای او نه یې د رهن له آمدني څخه اخیستلای شي. بلکه د رهن ټوله آمدني د راهن ده، مرتهن ته صرف دو مره حق شته چي د مرهون د ځان سره کنبیږدي یعني د خپل پور تر وصولولو نور نو ځو مره آمدني چي راځي هغه د راهن ده مګر د پور تر وصولولو د مرهون نور منافع هم مرتهن د ځآن سره کنبیښنودلای شي. لان نماء الرهن رهن مع الاصل كذا في الشامي (۱) وفي الدر المختار: ونفقة الرهن والخراج والعشر على الراهن .... وكل ما وجب على احدهما فاداء الآخر كان متبرعاً الا ان يامره القاضي به الخ (۲) فقط والله تعالى اعلم.

مرتهن که د مرهونه ځمکي ټیکس (مالیه) ادا کړي نو له راهن څخه اخیستلای شي او کنه؟

سوال: (۲۲) انتفاع بالرهن د راهن په اجازه جائز ده او کنه؟ که مرتهن مالیه ادا کړي ځکه استفاده ځني کوي نو څه حکم دی؟ (۸۲۱/ ۱۳۳۷هـ)

جواب: په در مختار کي راغلي دي: لا الانتفاع به مطلقًا لا بالاستخدام ولاسكنى ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة سواء كان من مرتهن او راهن الا باذن كل للآخر، وقيل: لا يحل للمرتهن لانه ربا، وقيل: ان شرطه كان ربا والا لا الخ ثم افاد في الاشباه انه يكره للمرتهن الانتفاع بذلك وسيجئ آخر الرهن (درمختار) وفي رد المحتار: قال في المنح: وعن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له في لاربا، لانه يستوفي دينه كاملا فتبقي له المنفعة فضلا فيكون ربا(۳) الى آخر ما حقق ورجح الحرمة، وفي الدر المختار ايضًا: ونفقة الرهن والخراج والعشر على الراهن (الى ان قال) وكل ما وجب على احدهما فاداه الآخر كان متبرعا الا ان يامره القاضي به ويجعله دينا

---

۱) الشامي: ۳٤۳/٥، كتاب الرهن ط رشيديه.

۲) الدر مع الشامي: ۳٤٦/٥، ۳٤۷، كتاب الرهن ط رشيديه.

۳) الدر مع الشامي: ۳٤۳/٥، كتاب الرهن ط رشيديه.

على الآخر الخ (١) له دغه عبارتونو څخه دا خبري معلومي شوي.
یوه دا چي د مرتهن لپاره له مرهون استفاده کول مطلقاً ناجائز ده که څه د راهن په اجازه وي لان کل قرض جر نفعا فهو ربا (٢) او ربا په اجازه نه روا کیږي نو معلوم شو چي احوط او راجح حرمت د انتفاع دی دوهمه دا چي د مرهونه ځمکي محصول پر راهن دی دریمه دا چي که مرتهن محصول درکړي نو که بې د قاضي له اجازې او بې له کومي داسي حیلې چي پر راهن قرض شي نو دی پر راهن رجوع نشي کولای او نه د مرهون له منافع څخه اخیستلای شي فقط والله تعالی اعلم

سوال: (٢٣) که مرتهن د مرهونه ځمکي مالیه پر خپل سر پخپله ادا کړي نو بیا یې له راهن څخه اخیستلای شي او کنه؟ (١٢٧٠/٣٢-١٣٣٣هـ)

جواب: د مرهونه ځمکي مالیه د ځمکي پر مالک یعني راهن ده که مرتهن بې د راهن له امر کولو ورکړه نو له راهن څخه نشي اخیستلای. قال في الدر المختار: ونفقة الرهن والخراج والعشر على الراهن وفي الشامي عند البرزاية: اخذ السلطان الخراج او العشر من المرتهن لا يرجع على الراهن لانه ان تطوع فهو متبرع، وان اكره فقد ظلمه السلطان والمظلوم لا يرجع الا على الظالم (٣) او د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد پر راهن رجوع کولای شي(٤) لنډه دا چي د مرهونه ځمکي مالیه پر راهن ده او منافع هم د ده دي د مرتهن لپاره د مرهونه ځمکي منافع راګرځول صحیح نه دي ځکه چي دا پر قرض باندي نفع ده. وکل قرض جر نفعا فهو ربا (٥) کما حققه الشامي (٦) فقط والله تعالی اعلم

---

١) الدر المختار مع الشامي: ٣٤٧/٥، كتاب الرهن ط رشيديه.

٢) د دغه حدیث تخریج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کي وګورئ.

٣) الدر المختار والشامي: ٣٤٦/٥ كتاب الرهن ط رشيديه.

٤) وعن الامام: لا يرجع لو صاحبه حاضرا مطلقا خلافا للثاني (الدر) وفي الشامي: قوله: (خلافا للثاني) حيث قال: يرجع حاضرا وغائبا الخ (الدر والشامي: ٣٤٧/٥، كتاب الرهن ط رشيديه)

٥) د دغه حدیث تخریج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کي وګورئ.

٦) قال في الشامي: قوله: (وقيل لا يحل للمرتهن) قال في المنح: وعن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له في الربا لانه يستوفي دينه كاملا فتبقى له المنفعة فضلا فيكون الربا الخ (الشامي: ٣٤٣/٥ اوائل كتاب الرهن ط رشيديه.)

د راهن په اجازه هم له مرهون څخه استفاده ناروا ده

سوال: (۲۴) د مرتهن لپاره له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول او د هغې حاصل خوړل جائز دي او کنه؟ مولانا عبد الحی صاحب رحمه الله لیکلي دي چې د راهن په اجازه جائز دي. (۱۳۴۵/۴۱۰هـ)

جواب: علامه شامي رحمه الله په دې هکله دا فیصله کړې ده چې د مرتهن لپاره له مرهون څخه استفاده مطلقا په هر حال کي ناروا ده که راهن اجازه وکړي او که نه وکړي او شرط پر کنبیږدي او که نه پر کنبیږدي ځکه چي دا اجازه په ربا کي ده او ربا په اجازه نه حلالیږي او ځکه چي معروف د مشروط په رنګه وي او اوس انتفاع بالمرهون معروف ده لهذا دا د مشروط په رنګه شوه. قال في المنح: وعن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشى منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له في الربا لانه يستوفي دينه كاملا فتبقي له المنفعة فضلاً فيكون ربا الخ قال ط قلت: والغالب من احوال الناس انهم انما يريدون عند الدفع الانتفاع، ولو لاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط، لان المعروف كالمشروط وهو مما يعين المنع (۱) (شامي: ۵/ ۳۱۱) فقط والله تعالى اعلم.

ایا مرتهن مرهونه ځمکه په کرایه اخیستلای شي؟

سوال: (۲۵) که مرتهن مرهونه ځمکه په اجاره واخلي نو څه حکم دی؟ (۳۲/۱۵۸۸-۱۳۳۳هـ)

جواب: د مرتهن مرهونه ځمکه په اجاره اخیستل رهن باطلوي اوس دا سي ځمکه رهن نه پاتیږي. وفي الشامي: وان كان هو (اى المستاجر) المرتهن وجد القبض للاجارة الخ بطل الرهن والاجرة للراهن. (۲)

---

۱) رد المحتار: ۵/۳٤۳ كتاب الرهن ط رشيديه.

۲) رد المحتار: ۵/۳٦۳ كتاب الرهن، باب التصرف في الرهن الخ ط رشيديه.

د انتفاع بالرهن لپاره حیله کول

سوال: (۲۲) زید له عمر څخه دوه سوه روپۍ په قرض واخیستې خپله ځمکه په ګرو ورکړه او عمر ته د استفادې کولو اجازه وکړه، څو کاله وروسته زید عمر ته خپل روپۍ ورکړې او ځمکه بیرته ځیني واخیسته او د روپۍ ادا کولو پر مهال یې دا حیله وکړه چې څو مره له مرهونه ځمکې څخه استفاده کړې وه د هغه په عوض یې درې روپۍ کمې کړې د اجارې په توګه حال دا چې دا ډول نورو ځمکو کرایه اووه اته روپۍ وې تر څو حلاله شي دا طریقه جائز ده او کنه؟ (۲۵۲/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: دا طریقه صحیح نه ده او له مرهون څخه انتفاع صحیح نه ده او په بیان شوي حیله انتفاع بالرهن نه شو صحیح. فقط والله تعالی اعلم

په هندوستان کې د انتفاع بالرهن حکم

سوال: (۲۷)... (الف) که مرتهن محصول د مرهون ادا کړي یا راهن ورته اجازه وکړي نو استفاده له مرهون څخه وکړي ایا دا جائز دي او کنه؟

(ب) او هندوستان خو دار الحرب دی ځکه نو که پکې سود واخیستل شي نو جائز دي او کنه؟ (۱۴۰۳/ ۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: (الف ب) د مرتهن لپاره له رهن څخه استفاده مطلقا ناروا ده؟ وان اذن له الراهن (۱) کما ورد: کل قرض جر نفعا فهو ربا (۲) لهذا که څه هم مرتهن محصول ادا کړي بیا هم د ده لپاره له مرهونه ځمکې څخه استفاده کول جائز نه ده او محصول پر راهن دی او د هندوستان په دار الحرب کیدو کې اختلاف دی که دار الحرب کیدل ومنل شي بیا هم له سود اخیستلو څخه پرهیز کول پکار دي کما قال عمر رضی الله عنه دعوا الربا والریبة (۳) نو د ربا او سود له شبهې څخه هم

---

(۱) الشامي: ۳٤۳/۵ کتاب الرهن ط رشیدیه.

(۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کې وګورئ.

(۳) مشکوة المصابیح، ص: ۲٤٦ کتاب البیوع، باب الربا، الفصل الثالث.

بچ کیدل لازم دي. فقط والله تعالی اعلم وعلمه اتم واکمل.

په مرهونه سرای کي د مرتهن لپاره هستوګنه صحیح نه ده

سوال: (۲۸) زید خپل سرای عمر ته په ګرو ورکړی او عمر ته ئني استفاده کولو اجازه وکړه نو د عمر لپاره له دغه سرای څخه استفاده جائز ده او کنه؟ (۲۰۸۱/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: د صحیح او مفتي به قول سره سم جائز نه دي، لانه ربا والربا لا یجوز بالرضا[1] (كذا في الشامي) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۹) د رهن په سرای کي هستوګنه روا ده او کنه؟ (۳۰۲/ ۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: له مرهون سرای څخه استفاده کول د مرتهن لپاره صحیح نه ده، لهذا د ده پکي اوسیدل صحیح نه دي. فقط والله تعالی اعلم.

د نامسلمان ځمکه په رهن اخیستل صحیح ده مګر استفاده ځني کول صحیح نه ده

سوال: (۳۰) له کفارو څخه ځمکه په رهن اخیستل جائز ده او کنه؟
(۲۷۹۵/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: ځمکه دا ډول په رهن اخیستل چي منافع بې پخپله راوګرځوي صحیح نه ده او د کفارو له ځمکه څخه هم د رهن په صورت کي استفاده جائز نه ده. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۱) د مسلمانانو له هندوانو څخه ځمکه په رهن اخیستل جائز ده او کنه؟
(۱۱۷/ ۱۳۴۵هـ)

جواب: ځمکه په رهن اخیستلو وروسته ځني استفاده کول جائز نه دي که له مسلمان څخه وي او که له هندو څخه لکه چي په حدیث کي راغلي دي: كل قرض جر نفعا فهو ربا [2] او كما قال

---

[1]) لا الانتفاع به مطلقا لاباستخدام ولا سكنى ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة الخ وفي الشامي: عن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن، لانه اذن له في الربا الخ (الدر والشامي: ۳٤۲/٥ اوائل كتاب الرهن ط رشيديه.)

[2]) د دغه حدیث تخریج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کي وګورئ.

صلی الله علیه وسلم. فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۳۲) د راهن او مرتهن د کفر او اسلام په هکله که په مسئلو کي فرق وي راته وي لیکئ. (۲۳۳۷/۱۳۳۷هـ)

جواب: د مسلمان لپاره په هر حال کي له مرهون څخه استفاده کول حرام او سود دی راهن که مسلمان وي او که کافر، د مسلمان لپاره له حرام او شبه څخه بچ کيدل لازم دي په مرهونه سرای کي هستوګنه کول یا په کرایه ورکول صحیح نه دي

سوال: (۳۳) یو سړی له چا څخه په رهن سرای راوګرځاوي او که پخپله پکي هستوګنه وکړي یا یې په کرایه ورکړي د سرای مالک ته هیڅ شئ نه ورکوي دا صورت جائز دي او کنه؟ (۲۳۸/۱۳۳۸هـ)

جواب: په مرهونه سرای کي د مرتهن هستوګنه کول یا یې کرایه خوړل صحیح نه دي فقط

مرتهن راهن ته مرهونه ځمکه په کرایه ورکوي

سوال: (۳۴) بکر له خالد څخه پنځه سوه روپۍ په قرض واېخستې او د اطمینان لپاره خپله یوه ځمکه خالد ته په رهن ورکړه بیا بیرته خالد همدغه ځمکه بکر ته په اجاره ورکړه نو په داسي حالت کي د مرتهن له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول صحیح ده او کنه؟ (۲۹۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د مرتهن یعني خالد لپاره له مرهونه ځمکي څخه استفاده کول جائز نه ده او صفا سود دی، له بکر څخه اخیستل د ده لپاره جائز نه دي او په دغه صورت کي کله چي مرتهن راهن ته ځمکه په اجاره ورکړه رهن هم باطل شو. په در مختار کي راغلي دي: لا الانتفاع به مطلقا لا باستخدام ولا سكنى ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة الخ، و في الشامي: عن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن، لانه اذن له في الربا الخ (١) فقط والله تعالى اعلم.

---

(١) الدر المختار و الشامي: ٥/٣٤٢، ٣٤٣ اوائل كتاب الرهن ط رشيديه.

د مرهونه سرای کرایه راهن ته نه ورکول

سوال: (۳۵) د زید سرای د سلو روپیو په عوض د بکر سره رهن دی د بکر په دغه سرای کي تصرف کول او د دغه سرای کرایه زید ته نه ورکول جائز دي او کنه؟ او له تصرف وروسته بکر د دې مالک ګرځي که به زید مالک وي او د بکر لپاره له تصرف وروسته دا راګرځول صحیح دي او کنه؟ (۳۷۳/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د بکر لپاره دا صحیح نه و چي د زید په مرهونه سرای کي تصرف وکړي له تصرف وروسته هم دا سرای د زید ملک دی د بکر لپاره راګرځول صحیح نه دي او د مرهونه سرای کرایه نه ورکول سود دی. فقط والله تعالی اعلم.

مرهون زیور مرتهن استعمالولای شي او کنه؟

سوال: (۳۶) که زیور رهن وي نو استعمالول یې جائز دي او کنه؟ (۱۰۴۰/۱۳۴۱هـ)

جواب: د دغه زیور او نورو استعمال هم د مرتهن لپاره منع دي. فقط والله تعالی اعلم.

له رهن څخه استفاده کوونکي ګواهي نه قبلیږي

سوال: (۳۷) د خالد سره د یو سړي دوکانونه رهن دي د خالد لپاره د هغو کرایه اخیستل او پخپل تصرف کي راویستل صحیح دي او کنه؟ او ګواهي شرعًا د ده قبلیږي او کنه؟ (۱۱۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د خالد لپاره د مرهونه دوکانونو کرایه اخیستل د صحیح مذهب سره سم ناروا او سود دی او کله چي خالد د دغه حرام فعل کونکی شو نو فاسق دی شرعًا ګواهي د ده نه قبلیږي. قال في المنح: وعن عبد الله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كبار علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له في الربا لانه يستوفي دينه كاملاً فتبقي له المنفعة فضلاً فيكون ربا، وهذا امر عظيم الخ

(شامي)

ثم قال بعد التوفيق في الروايات: قلت: والغالب من احوال الناس انهم انما يريدون عند الدفع الانتفاع، ولو لاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف كا المشروط وهو مما يعين المنع (١) فقط والله تعالى اعلم.

له مرهون څخه استفاده کونکی امامت څنګه دی؟

سوال: (۳۸)... (الف) زيد له عمر څخه سل روپۍ واخيستې او خپله ځمکه عمر ته ورکړه خبره دا رنګه سره وکړه چې په دوه کاله کې به زيد روپۍ ورکوي خپله ځمکه به اخلي اوس د ځمکې منافع د عمر لپاره جائز دي او کنه؟

(ب) او امامت د عمر جائز دی او کنه؟ (۱۰۱۵/ ۱۳۳۸هـ)

جواب: (الف - ب) که زيد عمر ته د قرض په وجه ځمکه رهن ورکړه نو د عمر لپاره له دغه مرهونه ځمکې څخه استفاده کول صحيح نه ده بلکه سود دی او په داسې حال کې امامت د ده مکروه دي (٢) او که زيد خپله ځمکه پر عمر خرڅه کړې ده او په دوه کاله کې بيرته ورکولو وعده ده نو دا "بيع الوفاء" ده او په دې کې اختلاف د فقهاء دی او صحيح خبره دا ده چې که د بيع کولو سره د بيرته ورکولو شرط وي نو بيع فاسده ده (٣) او که تر بيع وروسته د بيرته ورکولو وعده کړې ده نو صحيح دي په داسې صورت کې امامت د ده صحيح دی. فقط والله تعالى اعلم

له مرهونه سرای څخه استفاده کوونکی که توبه ونه باسي نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۹)...(الف) زيد له بکر څخه سرای په رهن اخيستې دی اوس يې په کرايه ورکړی دی

---

(١) رد المحتار: ٣٤٣/٥، كتاب الرهن ط رشيديه.

(٢) ويكره... امة عبد.... واعرابي... وفاسق الخ (الدر المختار) قال في الشامي: قوله: (وفاسق) من الفسق: وهو الخروج عن الاستقامة، ولعل المراد به من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزاني وآكل الربا ونحو ذلک (الدر والرد: ٤١٣/١، كتاب الصلاة، باب الامامة، قبل مطلب، البدعة خمسة اقسام ط رشيديه.)

(٣) د تفصيل لپاره د فتاوى دار العلوم ديوبند: ۱۴/ ۳۲۳-۳۲۷ وګورئ.

او له هغه څخه استفاده کوي دا کرایه سود دی او کنه؟ که سود دی نو د زید څخه سزا باید وي؟

(ب) زید د مرهونه سرای له نفع څخه توبه وایستله او بیا څو ورځي وروسته بیا د مرهون سرای کرایه واخیسته د پخوا په رنګه استفاده ځني وکړه په داسي حال کي د زید څخه اړیکي قطع کړو که څنګه؟ (۵۳/ ۳۵-۱۳۳۶هـ)

جواب: (الف) دا سود دی دا کرایه بکر ته ورکول پکار ده او زید باید توبه وباسي.

(ب) له مرهون سرای څخه استفاده کول حرامه ده، زید باید توبه وباسي او که دی توبه نه وباسي نو د خبرولو په توګه له ده څخه اړیکي قطع کول پکار دي فقط والله تعالی اعلم

له مرهونه ځمکي څخه استفاده کونکي لپاره څه وعید راغلی دی؟

سوال: (۴۰) کوم څوک چي له مرهونه ځمکي څخه استفاده کوي په شریعت کي د هغه لپاره څه وعید راغلی دی؟ (۵۹۷/ ۱۳۳۵هـ)

جواب: د ده لپاره هم هغه وعید دی کوم چي د سود خور لپاره دی([1]) فقط والله اعلم

د انتفاع بالرهن په صورت راهن ګناهکار دی او کنه؟

سوال: (۴۱) زید یوه ځمکه عمر ته په رهن ورکړه چي عمر ځني فایده اخیسته په دغه صورت کي زید او عمر دواړه ګنهکاره دي که صرف عمر؟ (۳۱۹/ ۱۳۳۷هـ)

---

[1]) عن عبد الله بن حنظلة غسيل الملائكة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: درهم ربا ياكله الرجل وهو يعلم اشد من ستة وثلاثين زنية رواه احمد وغيره وعن ابي هريرة رضى الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الربا سبعون جزء ايسرها ان ينكح الرجل امه رواه ابن ماجة وغيره...

وعن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اتيت ليلة اسرى بي على قوم بطونهم كالبيوت، فيها الحيات ترى من خارج بطونهم، فقلت: من هؤلاء ياجبرئيل؟ قال: هؤلاء اكلة الربا رواه احمد وابن ماجة (مشكوة، ص: ٢٤٥-٢٤٦، كتاب البيوع، باب الربا وابن ماجة، ص: ١٦٤، ابواب التجارات، باب التغليظ في الربا)

جواب: کله چي دا فایده اخیستل سود دی نو دواړه ګناهکاره شول فقط والله تعالی اعلم

د مرهون سرای د ترمیم او نورو مصارف پر راهن دي

سوال: (۴۲) "الف" یو سرای "ب" ته د دریو سو روپیو په عوض رهن ورکړی او دا لاندي شرطونه سره ولیکل:

(۱) پر شپږمه شپږمه میاشت به قسط درکوم په دري کاله کي په سرای را خلاص کړم.

(۲) که مي سرای په دري کاله کي نکړی را خلاص نو مي سرای له لاسه وواتی.

(۳) "ب" له دغه سرای څخه هر ډول استفاده کولای شي.

(۴) د سرای په ترمیم او نورو چي کوم مصرف راشي هغه به هم زه د سرای راخلاصولو پر مهال درکوم.

ایا په پورتني شرطونو "ب" سرای په رهن اخیستلای شي؟ (۱۳۳۵/۹۷۷هـ)

جواب: په رهن کي د اشرطونه چي که "الف" یعني راهن تر دریو کلونو نکړي راخلاص نو سرای به له لاسه ووځي یعني د مرتهن به شي، یا دا چي "ب" یعني مرتهن هر ډول استفاده ځیني کولای شي باطل او لغو دی، له دري کاله وروسته په نه دا سرای د "ب" وي او نه د "ب" لپاره استفاده ځني کول صحیح دي، اما دا شرط چي د سرای پر ترمیم چي کوم مصرف راځي هغه به "الف" ورکوي دا صحیح دي، که شرط وي او که نه وي د ترمیم مصارف پر "الف" راځي.(۱) فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۴۳) یو سړی بل چا ته قرض ورکړي، څه موده وروسته مقروض خپل یو سرای قرض ورکونکي ته په رهن ورکړي او د هغه د مات او روغ اختیار یې مرتهن ته ورکړی په ترمیم او نورو چي څومره مصرف راشي د هغه د اخیستلو حق به مرتهن ته وي او کنه؟ او په سرای کي د هستوګني او په کرایه ورکولو هم اختیار ورته شته او کنه؟ یعني چي کرایه د مرتهن وي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۳۹۰هـ)

جواب: مسئله دا ده چي د مرتهن لپاره له مرهون سرای څخه کوم ډول استفاده کول جائز نه ده، کرایه او نور پخپله کارول جائز نه دي او د هستوګني استفاده ځني کوي هم

---

(۱) و اجرة راعيه لو حيوانا ونفعة الرهن والخراج والعشر على الراهن، والاصل فيه ان كل ما يحتاج اليه لمصلحة الرهن بنفسه وتبقيته فعلى الراهن الخ (الدر مع الشامي: ٥/٣٤٦ كتاب الرهن ط رشيديه.)

جائز نه دي او د سرای چي د ترمیم او نورو کوم مصارف دي هغه پر راهن یعني مالک باندي دي. (۱) فقط والله تعالی اعلم

په رهن کي به عشر څوک ادا کوي؟

سوال: (۴۴) بکر زید ته ځمکه په رهن ورکړه قرض یې ځني واخیستی او د بکر په اجازه زید له د غه ځمکي استفاده کوله او مالیه مرتهن پخپله ادا کوي. ایا زید داغه مرهونه ځمکي په حاصل کي عشر ورکړي که زکاة؟ (۱۳۳۸/۳۲۱هـ)

جواب: انتفاع عن المرهون د مرتهن لپاره ناجائز ده او سود دی، که څه هم د راهن په اجازه وي، كما حققه الشامي (۱) او سرکاري مالیه او نور پر راهن دي او پر زید باندي د روپیو اخیستلو وروسته د روپیو زکوة شته د ټولو کلونو زکوة واجب دی او د حاصل عشر پر ده باندي نشته. فقط والله تعالی اعلم

د مرتهن د رهن په آمدني کي تصرف کول

سوال: (۴۵) د مرهونه ځمکي له آمدني څخه چا ته هبه کول یا اجرت ورکول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۵۳۱)

جواب: د مرهونه ځمکي آمدني د مرتهن لپاره راګرځول او اخیستل حرام دي ځکه چي دا سود دی لکه چي راغلي دي: كل قرض جر نفعا فهو ربا (۲) نو په دې کي هیڅ ډول تصرف کول د مرتهن لپاره جائز نه دي، بلکه راهن یعني د ځمکي مالک ته ورکول پکار دي او بل چا ته له دې څخه هبه او اجرت نه دي ورکول پکار. فقط والله تعالی اعلم

---

(۱) قال في الشامي: قوله: (وقيل: لا يحل للمرتهن) قال في المنح: وعن عبدالله محمد بن اسلم السمرقندي وكان من كباز علماء سمرقند انه لا يحل له ان ينتفع بشئ منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن، لانه اذن له في الربا لانه يستوفي دينه كاملا فتبقي له المنفعة فضلا فيكون ربا الخ (الشامي: ۳۴۳/۵، اوائل كتاب الرهن ط رشيديه)

(۲) د دغه حدیث تخرج د کتاب الرهن د لومړي سوال په جواب کي وګورئ

له راهن څخه مرهونه ځمکه د کښت لپاره په عاریت اخیستل

سوال: (۴۶) زید مسلمان یو هندو ته سل روپۍ په قرض ورکړې یوه ټوټه ځمکه په رهن ځني واخیسته څو ورځي وروسته زید مرتهن له راهن (هندو) څخه مرهونه ځمکه په عارية وغوښته، اوس کښت پکي کري او استفاده ځيني کوي دا صورت جائز دی او کنه؟ په عالمګیري باب الحیل کي جائز لیکلي دي. (۱) (۱۳۴۵/۲۹۰۳هـ)

جواب: په عالمګیري باب الحیل کي که څه هم دا صورت جائز لیکلی دی (۱) مګر د هغه مطلب دا دی چي د انتفاع تر موده پوري به د رهن عقد پر شا وي، د ځانته عارية په عقد د دې د انتفاع اجازه شته، نو عام خلګ خو لومړی د دې په حقیقت نه پوهیږي بیا هر څه چي دي د حیلې په درجه کي دي، د حیلې مسئلې د دې وړ نه وي چي مستقلي اسوه دي وګرځولي شي، ځکه له دې څخه پرهیز کول مناسب دي چي دا هم یو ډول ربا ده ځکه چي د دغه عارية منشا صرف د رهن عقد دی. فقط والله تعالی اعلم

د راهن بې اجازته مرهون سرای خرڅول صحیح نه دي

سوال: (۴۷) زید خپل یو سرای بینک ته په رهن ورکړی د رهن له مودې څخه مخکي بینک افسر بدل شو بل افسر راغلی د رهن تر مودې ختمیدو مخکي دغه نوي افسر هغه سرای لیلام کړی او بینک پخپله رانیوی بیا یې پر یو مسلمان خرڅ کړی، اوس زید هغه مسلمان ته وایي چي دغه سرای تا په څومره اخیستیدی په هغومره ما ته راکړه هغه مسلمان ورته وایي چي شرعًا دا پر ما لازم نه دی، دا بیع صحیح شوې ده او کنه؟ او پر دغه مسلمان د دغه سرای واپسول لازم دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۱۵۷هـ)

جواب: په درمختار کي راغلي دي: ولا یملک راهن ولا مرتهن بیعه بغیر رضی الاخر الخ (۱) وفیه ایضا: توقف بیع الراهن رهنه علی اجازة مرتهنه الخ قال في الشامي: وکذا توقف علی اجازة الراهن بیع المرتهن فان اجازه جاز والا فلا (۲) (الشامي، کتاب الرهن) نو معلوم شو

---

(۱) رجل اراد ان یرتهن من رجل رهنا، واراد ان ینتفع بالرهن بان یکون الرهن ارضًا اراد المرتهن ان یزرعها، او یکون دار اراد المرتهن ان یسکنها، فالحیلة في ذلک ان یرتهن ذلک الشيء ویقبضه، ثم یستعیر المرتهن ذلک الشيء من الراهن، فاذا اعاره ایاه واذن له بالانتفاع طاب له ذلک، والعارية لا ترفع الرهن الخ (الفتاوی الهندیه: ۶/ ۴۳۰، کتاب الحیل، الفصل الرابع والعشرون في الرهن.)

چي دغه بيع د مالک يعني راهن پر اجازه موقوفه وه نو کله چي ده د دغه بيع اجازه ونکړه نو دا بيع باطله شوه او د ده لپاره د خپل شي څني اخيستلو حق شته د رانيونکي وينا د بيع صحيح کېدو په هکله غلطه ده. فقط والله تعالی اعلم

بزگر چي د کرني لپاره کومه ځمکه اخيستې ده هغه بل چا ته په رهن ورکولای شي او کنه؟

سوال: (۴۸) زيد له يو سړي څخه د کرني لپاره ځمکه واخيسته اوس د ضرورت په وجه زيد له بکر څخه لس روپۍ قرض واخيستې او يوه ټوټه ځمکه د څلورو کلونو لپاره بکر ته ورکړه چي ته له دې څخه استفاده کوه دا جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۹۱هـ)

جواب: دا د رهن په رنګه دي او له رهن څخه استفاده کول د مرتهن لپاره جائز نه ده، ولو اذن له الراهن([3]) او د زيد لپاره دغه ځمکه په رهن ورکول جائز هم نه ده. فقط

په دې شرط رهن ورکول چي که دی تر فلاني وخته قرض ادا نکړي نو مرتهن به د مرهون مالک شي

سوال: (۴۹) که بکر د زيد سره د پنځو سو روپيو قرض په عوض کوم شئ په دې شرط په ګرو ورکړي ي څلور مياشتي وروسته په پنځوس روپۍ درکوم که دوې څلور ورځي تر څلور مياشتي زياتي شوې نو ته زما د شي مالک شوې چي هر څه په کوې هغه په وکړه، بکر د پنځو سو روپيو وس نکړی پيدا، ايا زيد به په دغه شرط د مرهون مالک شي؟ (۱۳۳۸/۹۰۴هـ)

جواب: په درمختار او نورو کي دا صورت خو جائز ليکلي دي چي که راهن مرتهن ته د مرهون خرڅولو اجازه وکړي چي که ما تر فلاني وخت پوري روپۍ درنکړې نو

---

[1]) الدر مع الشامي: ۳۵۹/۵، کتاب الرهن، باب الرهن يوضع علی يد عدل ط رشيديه.

[2]) الدر المختار والشامي: ۳۶۱/۵ کتاب الرهن، باب التصرف في الرهن ط رشيديه.

[3]) الشامي: ۳٤۳/۵ کتاب الرهن ط رشيديه.

مرهون خرڅ کړه خپلي روپۍ ځني واخله نو دا خو جائز دي يعني دا وخت که مرتهن داشی خرڅ کړي خپل پور ځني را اخيستلای شي.

د درمختار عبارت دا دی: سلطه ببيع الرهن ومات للمرتهن بيعه بلا محضر وارثه (۱) فان وكل الراهن المرتهن اووكل العدل او غيرهما ببيعه عند حلول الاجل صح توكيله الخ (۲) (در مختار) ليکن دا صورت چي په سوال کي ليکلی دی چي که تر فلاني وخته ما ستا روپۍ در ادا نکړې نو ته د مرهون مالک شوې دا صحيح نه دي تر څو چي د مودې تر پوره کيدو وروسته راهن خرڅ نکړي تر هغو مرتهن د مرهون مالک نه ګرځي، د دې صورت دا دی چي راهن دي د مودې تر پوره کيدو وروسته مثلا يا له دې څخه مخکي مرتهن ته ووايي چي ما مرهون پر تا باندي د قرض په عوض خرڅ کړی او مرتهن دي قبول کړي نو دا وخت بيع تاميږي او مرتهن مالک ګرځي ليکن په بيان شوي شرط خرڅول او بيع معلقول په دې سره بيع نه کيږي، ځکه چي بيع د شرط سره نه صحيح کيږي او داغه راز مرتهن پخپله بائع او مشتري نشي کيدلای فقط

که راهن مرهون نشي راخلاصولای نو مرتهن که خرڅ کړي نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۰) يو هندو د بل هندو سره خو درختي په دې رهن کړې چي که مي په يو کال کي رهن نکړې راخلاص نو مرهون به ستا په لاس بيع بولو او ما ته به د راخلاصولو اختيار نه وي له مقررې وعدې څخه لس کاله زياتوب تير شول راهن جائداد نکړی راخلاص، يو مسلمان دغه جائداد د بيع په توګه له مرتهن څخه واخيستی يو مياشته وروسته په بل مسلمان خرڅ کړی دغه جائداد رانيول او د مسلمانانو لپاره له دې څخه استفاده کول شرعًا جائز ده او کنه؟ (۱۳۴۳/۲۷۳۷هـ)

---

۱) الدر مع الشامي كتاب الرهن۵/۳۵۷، باب ما يجوز ارتهانه وما لا يجوز ط رشيديه.

۲) الدر مع الرد كتاب الرهن۵/۳۵۷، باب الرهن يوضع على يد عدل ط رشيديه.

جواب: سلطه ببيع الرهن ومات للمرتهن بيعه بلا محضر وارثه (۱) د دې حاصل دا دی چي که راهن مرتهن ته د مرهون خرڅولو اختيار ورکړي او راهن مړ شو نو مرتهن يې خرڅولای شي بې د وارثانو له حاضريدو، نو کله چي مرتهن د راهن د اجازې سره سم مرهون خرڅ کړي نو بيع صحيح شوه او د نورو له ده څخه رانيول او استعمالول يې صحيح دي. فقط والله تعالی اعلم

د راهن او مرتهن په مرګ رهن نه باطليږي

سوال: (۵۱) څه فرمايي علماء د دين چي وحيده او لطيفه دوې خوندي په قوم کنچن(۱) دي چي وحيده کشره او لطيفه مشره وه. وحيدې د خپلي سرمايې په عوض څه جائداد په رهن اخيستی و او لطيفه چي د وحيدې مشره خور وه د وحيدې په ژوند کي وفات شوه چي عبدو، سيد جان يې زامن او بنديه او امراة يې لوڼي پاته شوې، بيا وحيده بې اولاده وفات شوه نو د مرهون جائداد شرعاً خوريان او خورځې وارثان کيدلای شي او کنه؟ او که کيدلای شي نو په څومره اندازه؟ او دا دواړي خوندي له يو بل څخه جلا او سيد لي؟ (۲۲۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: د راهن يا مرتهن په مرګ رهن نه باطليږي بلکه که مرتهن مړ شي نو مرهون به د ده وارثانو سره وي تر څو چي قرض وصول کړي او که راهن مړ شي نو د ده وارثان به قرض ادا کوي رهن به راخلاصوي. کما في الدر المختار آخر ب التصرف في رهن: وفي معين المفتي للمصنف لا يطل الرهن بموت الراهن ولا بموت المرتهن ولا بموتهما و يبقى الرهن رهنا عند الورثة. (۲)

---

۱) کنچن: يوم قوم چي خپلي ښځي رقصوي او کسب په کوي. (فيروز اللغات)

۲) الدر مع الشامي: ۳۶۹/۵، کتاب الرهن، باب التصرف في الرهن الخ، قبيل فصل مسائل متفرقة ط رشيديه.

نو که د وحیدې د خور له بچیانو پرته بل کوم وارث نشته یعني نه کوم ذوی الفروض او نه عصبه نو د وحیدې پر ځای دې د دې خوریان او خورځې دغه جائداد پخپله قبضه کې وساتي تر دې چې قرض له راهن یا د هغه له وارثانو وصول کړي کله چې قرض ورادا کړي جائداد دې بیرته ورکړيي. فقط والله تعالی اعلم

کتاب الوصیة

د وصیت بیان

وصیت کله صحیح کیږي

سوال: (۱) یو سړی د صحت او روغتیا پر مهال د خو شیانو وصیت وکړي:

یو دا چې زما له مرګ وروسته په زما له ترکې څخه فلاني او فلاني ته یو یو زر روپۍ ورکړئ. دوهم دا چې زما له مرګ وروسته به زما په سرای کې د کهولوړ اسلامي مدرسې مدرس او حافظ هستوګنه کوي

دریم دا چې زما له مرګ وروسته په زما ښځه چې تر څو ژوندۍ وي په دې شرط چې بل واده ونکړي زما په سرای کې به اوسیږي وروسته دې بیا د دغه مدرسې مدرسان اوسیږي، دغه وصیت عملي کړو او کنه؟ د مړي نور وارثان هم شته

(۱۵۸۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: که دغه دوه کسان وارثان نه دي نو د دوی لپاره وصیت صحیح دی او دوه زره روپۍ که تر دریمه زیاتي نه دي د دوو زرو روپیو وصیت صحیح دی، کنې د دریمي په قدر صحیح دی او په سرای کې د هستوګني وصیت صحیح دی او س هغه نشي خرڅیدلای په در مختار کې راغلي دي:

صحت الوصية بخدمة عبده وسكنى داره مدة معلومة وابداً ويكون محبوساً على ملك الميت في حق المنفعة كما في الوقف كما بسط في الدر[1] او د ښځي لپاره بې د نورو وارثانو له خوښي وصیت صحیح نه دی. لانه لا وصية لوارث[2] فقط والله تعالى اعلم.

سوال: (۲) وصیت په کوم حال کې جائز دی؟ که د لیکلو پر مهال وارثان موجود نه وي نو وصیت صحیح دی او کنه؟ او په مرض الموت کې وصیت صحیح دی او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۹۴۱هـ)

جواب: د وصیت جائز کیدو لپاره د وارثانو موجود کیدل شرط نه دی، که یو وراث هم نه وي موجود بیا هم وصیت صحیح کیږي او په مرض الموت کې هم وصیت صحیح دی لیکن وصیت د وارث لپاره صحیح نه دی مګر کله چې نور وارثان اجازه وکړي او وصیت په دریمه کې صحیح کیږي په زیاتوب کې بې د وارثانو له رضا نه صحیح کیږي. فقط والله تعالى اعلم.

صرف په اراده وصیت نه صحیح کیږي

سوال: (۳) زید درې سوه روپۍ د بکر سره امانت کښیښودې څو کاله وروسته چې کله زید بوډا شو نو د الله ویره ور په یاد شوه او پوهه شو چې په ژوند کې خیرات کول ډیر د ثواب کار دی، زید له بکر څخه د روپیو غوښتنه وکړه او دا یې ورته وویل چې زه دا روپۍ دا ډول ویشم چې سل روپۍ خپل سکه وررور ته سل روپۍ فوجي مسجد ته او

---

[1] الدر مع الشامي: ٤٨٩/٥، كتاب الوصايا، باب الوصية بالخدمة والسكنى والثمرة ط رشيديه.

[2] ولا لوارثه... الا باجازة ورثته لقوله عليه الصلوة والسلام: لا وصية لوارث الا ان يجيزها الورثة (الدر مع الشامي: ٤٦٤/٥، كتاب الوصايا ط رشيديه.)

سل روپۍ د کلي مسجد ته ورکوم، بکر ورته وویل چي اوس زما سره نشته زه به در پیدا کړم څه موده وروسته زید وفات شو اوس بکر د زید د وصیت سره سم دغه روپۍ تقسیم کړي که څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۲۲۸هـ)

جواب: په دغه صورت کي زید هیڅ وصیت چا ته نه دی کړی چي زما وروسته دا روپۍ وویشه او صرف په دا اراده چي که مي روپۍ واخیستی نو داسي به وکړم وصیت نه دی صحیح شوي، لهذا دغه روپۍ د زید وارثانو ته باید ورکړي فقط والله تعالی اعلم

په خوله هم وصیت صحیح کیږي

سوال: (۴) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کي چي اسماعیل وفات شو او تر مرګ مخکي د څو کسانو په مخکي د خپلي عمه خاوند حسرت خان ته وصیت وکړي چي زما له جائداد څخه دریمه ته خامخا واخله. زید وایي چي په خوله بیله لیکلو ته اعتبار نشته او صرف په خوله صرف د ګواهانو په ګواهي وصیت نه نافذیږي تر څو چي د مړي له طرفه کوم لیکلی ثبوت نه وي یعني نو مړی اسماعیل که د وصیت پانه نه ده لیکلې صرف د ګواهانو په مخکي په خوله وصیت کړی دی نو دا وصیت نه صحیح کیږي او نه شرعًا دي ته څه اعتبار شته، ایا د زید وینا شرعًا نافذیږي او کنه؟ (۳۲۳/ ۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: د زید خبره د منلو وړ نه ده، د خولي وصیت هم د لیکلي وصیت په رنګه معتبر دي او نافذیږي که ثابت شي او د شرعًا نافذیدو شرطونه موجود وي مثلاً دا چي موصی له به وارث د موصي نه وي، هکذا في عامة کتب الفقه (۱) فقط والله تعالی اعلم

بیله دستخط او ثبوت د وصیت پانه معتبره ده او کنه

سوال: (۵) یو سړی پخپل ژوند کي یو داسي د وصیت پانه تیاروي چي ورباندي نه تاریخ شته او نه دستخط، اما دا یقین دی چي دا لیک د همدغه وفات شوي دي چي زما

---

(۱) ولا لوارثه.... الا باجازة ورثته لقوله علیه الصلاة والسلام: لا وصیة لوارث الا ان یجیزها الورثة (الدر مع الشامي: ۵/۴٦٤، کتاب الوصایا ط رشیدیه.)

له جائداد څخه د هغه ضروري مصارف وباسي په پاته روپیو د اسلامي مدرسې طالبانو ته کتابونه راوړي د داسې وصیت شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۵۲۲هـ)

جواب: که وارثان دغه د وصیت پاڼه مني نو په دغه لیک وصیت ثابتیدلای شي کنې کله چې دا لیک مکمل نه دي او دستخط هم ورباندې نشته او دوه معتبر ګواهان هم پر دغه لیک یا د خولې د وصیت دا نشته، نو داسې وصیت پاڼې ته اعتبار نشته او په ترکه کې د وارثانو حق شته او که دغه د وصیت پاڼه ثابته شي نو په یوه دریمه کې وصیت نافذیږي په دې شرط چې د وارث لپاره به نه وي او د وارثانو د اجازې په صورت په ټول کې هم نافذیدلای شي پاته دوې دریمې پر وارثانو د دوې د شرعي برخو سره سمې ویشل کیږي. فقط

د مرض الموت هبه د وصیت په حکم ده

سوال: (۲) هنده وفات شوه په وارثانو کې یو زوی دوې لوڼې او خاوند پاته شو، تر مرګ مخکې د خپل مرض پر مهال خپل زیورات دوې برخې کړو یوه برخه خاوند ته ورکړه چې ته خپل قرض په ادا کړه او د دوهمې برخې په اړه د مرګ پر مهال وصیت وکړي چې دا زما خاوند ته ورکړي چې په کومه مدرسه یا بل نیک کار کې مصرف کړئ په داسې صورت کې څه حکم دی؟ (۴۰۵/ ۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د مرض الموت هبه په حکم د وصیت ده او وصیت د وارث لپاره صحیح نه دی. اعتاقه ومحاباته وهبته الخ کل ذلک حکمه کحکم وصیة الخ (۱) ولا لوارثه الخ (در مختار) (۲) او په نیک کار یا مدرسه کې چې د مصرفولو کوم وصیت کړي دي دا صحیح دي د دې د ټولې ترکې به دریمه کې په وصیت نافذیږي. اوصی بثلث ماله البیت المقدس جاز ذلک الخ وفي المجتبي اوصی بثلث ماله لکعبة جاز وتصرف لفقراء الکعبة لا غیر وکذا

---

[1]) الدر مع الشامي: ۴۸۱/۵، کتاب الوصایا، باب العتق في المرض ط رشیدیه.

[2]) الدر المختار مع الشامي: ۴۶۴/۵، کتاب الوصایا ط رشیدیه.

للمسجد وللقدس الخ (۱) (در مختار) وفیه تفصیل للشامي. نو د وفات شوي ترکه د حقوق مقدمه علی المیراث او وصیت تر اجراء وروسته شپاړس برخې کیږي څلور برخې د خاوند، شپږ برخې د زوی او درې درې برخې د هرې لور دي. فقط

په مرض الموت کې مهر بخښل د وصیت په حکم دی

سوال: (۷) د زید ښځې د مرض الموت پر مهال خپل مهر وبخښی او خاوند ته وویل چې څو مره خیراتونه ته په خپل ژوند کې کوې هغه نیم ماته راوبخښه نو زید وعده ورسره وکړه، اوس زید دا ډول خیرات کوي چې پنځه روپۍ د پلار له طرفه او پنځه روپۍ د ښځې او ځان له طرفه خیراتوي په داسې صورت کې به خو د زید غاړې نه وي بندې؟ (۵۲۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: په مرض الموت کې مهر معافول په حکم د وصیت دی په یوه دریمه کې جاري کیدلای شي یعني که مهر د ټولې ترکې تر دریمه زیات نه دی نو ټول مهر معافیږي کنې د ترکې د دریمې په اندازه معافیږي او ثواب چې هر ډول وروبخښې صحیح دی، مګر زید ته پکار دي چې د خپلې وعدې سره سم چې څومره نفلي خیرات کوي که د ځان له طرفه کوي او که د پلار له طرفه کوي په هغه کې دې د نیم ثواب ښځې ته بخښي، نور نو که د پلار لپاره جلا خیرات وکړي او د ځان په خیرات کې ښځه ورشریکه کړي په دې کې هم د زید غاړې نه دي بندې. فقط

په مرض الموت کې مهر زیاتول

سوال: (۸) زید د خپلې لومړۍ ښځې تر وفات وروسته د هغې باکره خورځه په نکاح کړه او د پنځو سو زیوراتو ورکولو وعده یې ورسره وکړه، تر نکاح یوه میاشته وروسته زید د سرطان مریض شو خپل اکا او نورو مشرانو ته وویل چې زما د وهمې ښځې ته زما له جائداد څخه پنځه سوه روپۍ د مهر او پنځه سوه روپۍ زما د وعدې سره سم د زیوراتو ټولې زر روپۍ ورکړئ او په فلاني کلي کې مې یوه څمکه ده هغه مې فلانۍ مدرسې ته وقف کړه هغه څمکه د مدرسې غریبو ته ورکړئ، بیا په همدغه ناروغي کې وفات شو، ایا د ده دوهمه ښځه د زیوراتو په اړه پنځه سوه روپیو اخیستلو حق لري او کنه؟ (۲۸۸۰/۱۳۴۱ھ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۵/۴۷۰، کتاب الوصایا ط رشیدیه.

جواب: د حدیث "احق الشروط ان توفوا به ما استحللتم به الفروج" (۱) په حکم په دغه صورت کي هغه پنځه سوه روپۍ چي د مهر د زیوراتو په اړه ورکولو زید اقرار وکړی دا روپۍ په مهر کي زیاتوب شمیرل کیږي دوهمي ښځي ته ورکړئ په درمختار کي راغلي دي:
او زید علي ما سمی فانها تلزمه بشرط قبولها في المجلس وفي الشامي: (قوله بشرط قبولها الخ) افاد انها صحیحة ولو بلا شهود، او بعد هبة المهر، والا براء منه الخ ولا یشترط فیها لفظ الزیادة الخ (۲) (شامي) فقط والله تعالی اعلم.

د وارثانو لپاره وصیت نه صحیح کیږي

سوال: (۹) زید چي د وارثانو په هکله کومه د وصیت پاڼه لیکلي ده د زید پر زامنو د دغه ټولو خبرو پابندي کول شرعًا واجب ده او کنه؟ که واجب نه ده نو سرایونه، نغدي روپۍ او نور شیان د کور سامانونه پر ټولو وارثانو باید وویشل شي که څنګه؟
(۱۳۳۳-۳۲/۲۸۲هـ)

جواب: د وارثانو لپاره شرعًا وصیت ناروا دي، په حدیث شریف کي راغلي دي: لا وصیة لوارث (۳) نو د زید تر وفات کیدو وروسته ټوله ترکه سرایونه، نغدي روپۍ، زیورات او د کور سامان پر ټولو وارثانو د شرعي برخو سره سمه ویشل کیږي، د وصیت د پاڼي پابندي کول پر دوی لازمه نه ده نور نو پخپله خوښه او رضا چي ټول وارثان څرنګه کول غواړي ودي کړي. فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۱۰) هندې دا وصیت وکړی چي زما ټول جائداد زما زوی ته ورکړئ، لونو ته مه ورکوئ او هلک خو اوس نابالغ دی ځکه زه خپل وررور د ده ولي ګرځوم دا وصیت جائز دی او کنه؟ شرعًا د ماما او دوو خوندو په موجودیت کي د ده ولي څوک کیدلای شي؟ په کوچنۍ او غټه خورکي فرق شته که په ولي کیدو کي برابري دي؟

---

۱) عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: احق الشروط الحدیث (صحیح البخاري: ۳۷٦/۱، کتاب الشروط، باب الشروط في المهر عند عقدة النکاح، وفیه ایضا: ۷۷٤/۲، کتاب النکاح، باب الشروط في النکاح)

۲) الدر والشامي: ۳٦٥/۲، کتاب النکاح، باب المهر، مطلب في احکام المتعة ط رشیدیه.

۳) عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: لا وصیة لوارث الا ان یشاء الورثة (المشکوة المصابیح، ص: ۲٦٥، باب الوصایا، الفصل الثاني)

(۲۹۳/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: هندي چي د خپل زوی لپاره کوم وصيت کړی دی هغه شرعًا ناجائز دی، بې د نورو وارثانو له رضا دا وصيت نشي نافذيدلای ځکه چي لا وصية لوارث راغلی دی(۲) هکذا في کتب الفقه او د نابالغ ولي په دغه صورت کي د ده دوې خوندي دي(۱) تر ماما خوندي مخکي دي، که دواړي خوندي بالغي دي نو په ولي والي کي دواړي سره برابري دي، د مشري او کشري هيڅ فرق نشته، کنې نو کومه خور چي بالغه ده هغه وليه ده.

د وارثانو کومه اجازه معتبره ده؟

سوال: (۱۱)... (الف) د وارثانو لپاره شرعًا وصيت جائز دی او کنه؟

(ب) ايا د موصي تر وفات وروسته د شرعي وارثانو په وصيت راضي کيدل ضروري دي؟ (۹۱/۱۳۴۱ھ)

جواب: (الف-ب) د وصيت په اړه شرعي مسئله دا ده چي د وارثانو لپاره وصيت صحيح نه دی، مګر کله چي نور وارثان د وصيت کونکي تر مرګ وروسته اجازه وکړي او د غير وارث لپاره وصيت تر يوه دريمه جائز دی او که د ترکې تر دريمه زيات وي نو د وارثانو اجازې ته ضرورت شته، بې د وارثانو له اجازې تر دريمه زيات موصي لهم ته نشي ورکول کيدلای او اجازه هغه معتبره ده چي د موصي تر مرګ وروسته وي په ژوند کي د اجازې اعتبار نشته په در مختار کي راغلي دي: وتجوز بالثلث للاجنبي الخ وان لم يجز الوارث ذلک، لا الزيادة عليه الا ان تجيز ورثته بعد موته، ولا تعتبر اجازتهم حال حياته اصلا بل بعد وفاته الخ (۲) وايضاً فيه: ولا لوارثه وقاتله الخ الا باجازة ورثته لقوله عليه الصلاة والسلام: لا وصية لوارث الا ان يجيزها الورثة الخ (۳) وانما يصح قبولها بعد موته الخ فبطل

---

(۱) فان لم يکن عصبة فالولاية للام... ثم للاخت لاب وام (الدر مع الشامي: ۳۳۹/۲، کتاب النکاح، باب الولي، مطلب: لا يصح تولية الصغير شيخا على خيرات ط رشيديه.)

(۲) الدر المختار مع الشامي: ۴۶۰/۵، کتاب الوصايا ط رشيديه.

(۳) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۶۴/۵، کتاب الوصايا ط رشيديه.

قبولها و ردها قبله الخ (۱) له دغه عبارتونو ښخه څرګند شو چي د وارثانو لپاره د وصيت د جواز دا شرط دی چي ټول وارثان د وصيت کوونکي تر وفات وروسته په دې راضي وي او د غير وارث لپاره تر دريمه په زياتوب کي د وصيت جائز کيدو لپاره هم دا شرط دی چي وارثان د موصي تر وفات وروسته په راضي وي.

د مطلقه ښځي لپاره وصيت کول

سؤال: (۱۲) شخصي در مرض الموت مثل هيضه وطاعون به حالت ثبات عقل وحواس در ثلث مال وصيت کرد وجان به حق سپرد، اين چنين وصيت نافذ شود يا نه؟ وهم چنين وصيت کسي که ثلث مال خود به مطلقه خارج عن العدة هبه يا وصيت نمود نافذ است يا نه؟ (۱۳۳۷/۲۷۸۳هـ)

جواب: وصيت ثلث مال براے کسي که وارث نباشد ومانع از وصيت درو نباشد در مرض الموت مثل هيضه وطاعون صحيح ونافذ است در درمختار است: والا تطل وخيف موته فمن ثلثه الخ (۲) و وصيت کردن براے زوجه مطلقه خارجه عن العدة صحيح است في الدر المختار: وتجوز بالثلث للاجنبي الخ (۳) فقط والله تعالى اعلم

ترجمه: سوال: (۱۲) يو سړی په مرض الموت لکه په وبا او طاعون کي د عقل او حواسو د سمون سره د مال دريمي وصيت وکړي او وفات شو، په داسي صورت کي وصيت نافذيږي او کنه؟ داغه راز يو سړی دا ډول وصيت کوي چي د ده د مال دريمه دي د ده مطلقه ښځي ته چي عده يې تيره شوې ده هبه کړل شي يا دي د وصيت په توګه ورکوله شي نو داسي وصيت نافذيږي او کنه؟

جواب: د چا لپاره د مال د دريمي وصيت کول چي وارث نه وي او له وصيت ښخه کوم مانع موجود نه وي په مرض الموت لکه په وبا او طاعون کي صحيح او نافذ دی. په درمختار کي راغلي دي: او که د مرض موده اوږده نه وه (يعني يو کال نه وي تير شوی)

---

(۱) الدر مع الرد: ٥/٤٦٥، كتاب الوصايا ط رشيديه.

(۲) الدر المختار مع الشامي: ٥/٤٦٧، كتاب الوصايا ط رشيديه.

(۳) الدر مع الرد: ٥/٤٦٠ كتاب الوصايا ط رشيديه

او د مرګ ویره وي نو د ده هبه په دریمه د مال کي نافذیږي. او د کومي مطلقي ښځي چي عده تیره شوې ده د هغې لپاره وصیت کول صحیح دی. په در مختار کي راغلي دي: "او په دریمه د مال د اجنبي لپاره وصیت کول جائز دی." فقط.

د کونډي مړور لپاره وصیت کول

سوال: (۱۳) یو سړی دا لاندي لیک ولیکی په حکومت کي رسمي کړی چي داسي پکي لیکلي و: بي بي حواء زما د وفات شوي زوی داؤد ښځه ده چي اوس کونډه ده زه یوسف په نن ورځ کي تا ته لیکم چي د خپل زوی داؤد په نوم فلاني ځمکه د فلاني سړي څخه رانیولې وه چي زه یې مالک یم، لیکن ما په حکومت کي د خپل زوی داؤد پر نامه وراړولې وه چي د مالک والي حق یې زما دی او په قبضه کي هم زما ده، لنډه دا چي زما ملک دی، زه په نن ورځ دا اقرار حواء تا ته درلیکم، پورته لیکل شوې ځمکه چي زما ده د دې د محصول ته حکومت ته ورکوه او د ټول کال ګټه ته دراخله، تر څو چي ته ژوندۍ یې تر دغه ځمکه تا ته د خوړلو لپاره درکوم تا ته د دغه ځمکي خرڅولو او په رهن ورکولو حق نشته او نه تا ته د هبه کولو حق شته، صرف پخپل ژوند کي ته د دې منافع خوره، له تا وروسته چي د دغه ځمکي څومره منافع راځي هغه دي ستا لور خدیجه زما لمسۍ ستا په رنګه خوري او که خدای مه کړه خدیجه وفات شوه نو زما د وفات شوي زوی ابراهیم زوی محمد چي د خدیجي خاوند دی او زما وارث دی هغه د دغي ځمکي وارث دی او مالک دی او که خدای مه کړه تر خدیجه مخکي محمد وفات شي نو خدیجه د دغي ځمکي مالکه ده او که محمد او خدیجه دواړه د حواء په ژوند کي وفات شي نو د دغه ځمکي مالکان زما عصبه دي، مګر زه په داسي کولو راضي نه یم ځکه زه نن ورځ دا انتظام کوم چي د حواء تر وفات وروسته که د تجهیز او تدفین ضرورت و هغه د دې له ملکیت څخه پوره کړي نوره ځمکه مسجد ته ورکړي دا ملکیت مسجد ته وقف دی، دا وقف صحیح دی او کنه؟

په دغه صورت کي یوسف صاحب وفات شو، وروسته نابالغه خدیجه وفات شوه، بیا محمد هم مړ شو او د یوسف خپل کوم اولاد نه دی پاته شو، د محمد وارثان د ده عصبه دي چي د یوسف د پلار شریک (علاتي) ورور بچیان دي، سلیمان، موسی،

احمد او بي بي حواء دا وخت ژوندي دي، نو له حواء وروسته د دغه ځمکي وارثان د محمد عصبه دي او کنه؟ که به دا ځمکه د مسجد لپاره وقف وي؟ (۳۲/۸۹۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: که د غه ځمکه د ترکې تر دریمه زیاته نه ده نو د دې ټول منافع کني د دریمي په اندازه د حواء دي د دې تر ژوندې ده، موسی او احمد به د خپلو برخو سره سمه ویشي، وقف دا ډول نه صحیح کیږي، نو دا ځمکه وقفیږي نه، صحت الوصية بخدمة عبده وسكنى داره مدة معلومة وابدا الخ وبغلتهما الخ. (۱)

(در مختار) وبعد موته يعود العبد والدار الى الورثة اى ورثة الموصي بحكم الملك الخ (۲) (در مختار) وكتاب الوقف من العالمغيرية: ومنها ان يكون منجزا غير معلق الخ (۳)

د اولاد په موجودیت کي د لمسي او د هغه د مور لپاره وصیت کول

سوال: (۱۴) که د ا زوی واده کړی وي او بچي یې هم وي خو هغه پر خپله ښځه او زوی پوښتنه نه کوي د ده پلار یې حال او احوال پوښتي که د دغه هلک د ښځي او زوی لپاره څه تنخواه د اقرار د پاڼي په وسیله د ټول عمر د خوراک څښاک لپاره مقرره کړي لکه چي پخپل ژوند کي کوي نو دا جائز دي او کنه؟ (۴۴/۳۳۸-۱۳۴۵هـ)

جواب: د اولاد په موجودیت کي خو لمسی محروم وي، ځکه د دغه لمسي او د ده د مور لپاره هم وصیت صحیح دی مګر د ټول عمر په قید صحیح نه دی، بلکه څه چي دوی ته ورکول غواړي هغه دي له وفات وروسته د دوی ملک کړي، د جائداد یو ټوټه یا نغدي چي اندازه یې معلومه وي او د دې خیال به ساتي چي تر دریمه زیات نه شي. فقط

د اولاد په موجودیت کي د لمسی او لمسي لپاره وصیت کول

سوال: (۱۵) زید وفات شو، لاندي لیکل شوي وارثان یې پاته شو:

---

(۱) الدر مع الشامي: ۴۸۹/۵، کتاب الوصايا، باب الوصية بالخدمة والسكنى والثمرة ط رشيديه.

(۲) الدر مع رد المحتار: ۴۹۰/۵، کتاب الوصايا، باب الوصية بالخدمة الخ ط رشيديه.

(۳) الفتاوى الهندية: ۳۵۵/۲، کتاب الوقف، الباب الاول في تعريفه وركنه الخ.

يوه ښځه فاطمه، دوه زامن محبوب احمد او عابد . پنځه لوڼې: طاهره. خديجه. رحمته، بي بي، صغيره، يو لور فائزه د زيد په ژوند کې وفات شوه . د هغې يوه لور هاجره شته او د زيد دوې ښځې مخکې وفات شوې وې. زيد تر خپل مرګ څورلس کاله مخکې خپل مشر زوی محبوب چې له ده څخه جلاو د ځان سره په تجارت کې شريک کړی او په دوکان کې پرته خاتې د سر پر ورقه داسې وليکل چې له نن څخه ته زما په هره معامله کې ځمکو او نورو شيانو کې نيم په نيمه شريک يې او خاته يې بيله کړه. له وفات کيدو څخه دوې ورځې مخکې د روغيتا . هوش او د عقل پر ځای والي پر مهال زيد يوه د وصيت پاڼه وليکله چې د خپل ټول منقول او نامنقول جائداد د تقسيم صورت يې داسې بيان کړي:

(۱) د دريو سره ناود کړيو انجونو ، رحمي، بي بي، صغيرې ته د دوی د ورونو لپاره يو يو زر روپۍ ورکړې او له واده وروسته پنځه سره انجونو ته جلا جلا پنځه پنځه سوه روپۍ ورکړي او لمسۍ هاجره ته هم پنځه سوه روپۍ ورکړي

(۲) زما ښځه فاطمه د جواهري پا نامه ځمکه او باغ چې د همدغه ځمکې څنګ ته دي چې نژدې درې زره قيمت کيږي ورکړي

(۳) د پاته منقول او نامنقول جائداد کور او نورو درې برخې کړئ محبوب او عابد دواړو زامنو ته يوه يوه برخه او يوه برخه نور زما لمسي ته ورکړه.

(۴) د دکان او پراميسري[1] اسنادو ټولې روپۍ دوې برخې کړې يوه برخه زما زوی محبوب او لمسي نور ته ورکړي او يوه برخه بل زوی عابد ته ورکړي

(۵) زما د ښځې فاطمې سره چې کوم زيور دي هغه مې دې ته په مهر کې ورکړي دي، نور زيورات چې د هر چا سره دي هغه د هغه دي

(۶) يوه ځمکه چې زما پلار د ربيع الاول د خيرات لپاره وقف کړې ده او د وصيت سره سم زه پخپل ژوند کې د هغې متولي وم اوس د مخکني فيصلې سره سم زما کشر ورور سيد قاسم د هغې متولي دی، د وصيت سره سم به هغه کار کوي او د هغه چې

[1] پراميسري نوټ (Promissary-note) هغه ليک چې د روپۍ ادا کولو په اړه د چا سره د کوم خاص وخت پوري وليکل شي (فيروز اللغات)

کومي روپۍ زما سره پرتې دي له هغه څخه د کوچني مسجد د تعمیر لپاره یو زر څلور روپۍ ورکولو ما وعده کړې ده هغه ورکړئ او آئنده چي څرنګه د ده زړه غواړي په خیرات او نورو دي وصیت سره سم عمل کوي. (۱۳۴۳/۲۵۹هـ)

جواب: شرعي حکم په دې اړه دا دی چي وصیت د وارث لپاره جائز نه وي، مګر د ټولو وارثانو په اجازه په دې شرط چي هغه به ټول بالغان او عاقلان وي او د ناوارث لپاره تر یوه دریمه وصیت صحیح دي و تجوز بالثلث للاجنبي ... وان لم یجز الوارث ذلک الخ ([1]) (درمختار) ولا لوارثه الخ الا باجازة ورثته لقوله علیه الصلاة والسلام: لا وصیة لوارث الا ان یجیزها الورثة الخ وهم کبار عقلاء... ولو اجاز البعض ورد البعض جاز علی المجیز بقدر حصته الخ (در مختار) قوله: (جاز علی المجیز الخ) بان یقدر في حق المجیز کان کلهم اجازوا وفي حق غیره کان کلهم لم یجیزوا الخ ([2]) (شامي)

نو له دغه تمهید وروسته جواب د دغه سوال دا دی چي د لمسۍ هاجرې او لمسي نور لپاره چي د زید کوم وصیت دی هغه خو بیله شکه او بیله کوم وارث څخه اجازه اخیستلو صحیح او نافذ دی، دوی دواړو ته به د وصیت په اندازه ورکول کیږي کله چي هغه د ترکې تر دریمه زیات نه وي او له دوی دوو څخه پرته نور ټول وارثان دي د هغو لپاره په شوي وصیت هغه وخت عمل کیدلای شي چي ټول وارثان راضي شي په دې شرط چي هغه په عاقلان بالغان وي. ښځه که په دغه وصیت راضي ده نو د دې په هکله وصیت صحیح کیږي، لیکن که ناود شوي لونې نابالغي دي نو د هغو اجازه معتبره نه ده، اما د دوی لپاره چي د کوم د زرو روپیو وصیت کړی دی د واده لپاره که نور ټول بالغ وارثان په دې راضي وي نو دغه روپۍ به دوی ته ورکول کیږي، لنډه دا چي که ټول وارثان بالغ دي او ټول د زید په دغه وصیت راضي دي نو د همدغه تفصیل سره سم عمل کیږي او کوم چي نابالغ دي یا په دغه وصیت راضي نه دي د هغو په حق کي د شرعي برخو سره سمه ترکه ویشل کیږي او شرعي برخي په دغه صورت کي دا ډول دي چي د

---

[1]) الدر المختار مع الشامي: ٥/٤٦٠، کتاب الوصایا ط رشیدیه.

[2]) الدر المختار والشامي: ٥/٤٦٤ کتاب الوصایا ط رشیدیه.

حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته د زید ترکه دوواویا (۷۲) برخي کړي نهه برخي د ده ښځي فاطمي ته او خورلس خورلس برخي د ده زامنو محبوب او عابد ته او اووه اووه برخي د ده پنځو سرو لوڼو طاهره، خدیجه، رحمته، بي بي او صغیره ته ورکړي. فقط

د انجلۍ تر برخي ایستلو وروسته د هلکانو په برابر لمسیانو ته ورکولو وصیت کول

سوال: (۱۲) د منګل خان درې زامن یوه لور وه، د منګل خان په ژوند کي مشر زوی وفات شو او د هغه درې زامن یوه کونډه پاته شوه، د وفات پر مهال پخپله منګل خان دا وصیت وکړی چي زما تر مرګ وروسته زما له جائداد څخه چي مي کله زما لور ته برخه ورکړه په نور جائداد کي زما دواړه زامن او د زوی زامن یعني لمسیان برابر دي. (۱۹۱۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: که ټول وارثان په دې راضي دي نو بیا خو ټولو لمسیانو ته د زامنو د برخو په برابر برخي ورکړی که څه هم تر دریمه زیاتي وي او که دوی راضي نه وي نو په یوه دریمه کي وصیت جاري کیږي یعني د ترکي یوه دریمه به د دوه لمسیانو ته ورکوی او پاته دوې دریمي پر وارثانو ویشل کیږي. فقط والله تعالی اعلم

د زامنو په موجودیت کي د لمسیانو لپاره وصیت کول

سوال: (۱۷) د زید څلور زامن او یو لمسی وفات شوی زوی څخه دي، زید وصیت وکړی چي که زما لمسی د پلار له برخي څخه محروم دی نو زه ده ته د خپلو زامنو په برابر برخه هبه کوم ځکه چي زما له وفات وروسته څوک دي محروم نکړي او په مینځ جګړه نه وي، بلکه زید د خپلي متروکي په اندازه قبضه لمسي ته ورکړه پاته مال تر اوسه مشترک دی، اوس هغه هلک بالغ شو لیکن نور وارثان یعني د زید زامن دغه یتیم له برخي ورکولو څخه انکار کوي، لهذا پوښتنه دا ده چي د زید له میراث څخه دغه هلک یعني د ده لمسی محروم کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۵۱هـ)

جواب: د زید د وصیت سره سم د ده لمسي ته د څلورو زامنو د برخو سره سمه برخه ورکوله کیږي ځکه چې لمسی په دغه صورت کې د نورو زامنو د موجودیت په وجه محروم دی، لهذا وصیت د ده لپاره صحیح دی. فقط والله تعالی اعلم.

د لمسي لپاره د ټول مال وصیت کول

سوال: (۱۸) عظیمه بي بي د وصیت د پاڼې په وسیله خپل ټول جائداد سره د کور د سامان د خپل لمسي په نوم ولیکی وفات شوه، دا د وصیت پاڼه جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۹۴۵هـ)

جواب: که د دې کوم زوی هم شته نو د زوی په موجودیت کې خو لمسی وارث نه ګرځي، لهذا په داسې حال د لمسي لپاره وصیت صحیح دی، په دریمه کې وصیت جاري کیږي او که د دې زوی نشته نو بیا خو لمسی هم وارث دی نو د ده لپاره وصیت نه صحیح کیږي ځکه چې د وارث لپاره بې د نورو وارثانو له رضا وصیت نه صحیح کیږي. فقط والله تعالی اعلم.

خوریي ته د څه ورکولو وصیت په صورت به څومره ورکوو؟

سوال: (۱۹) حافظ نظام الدین خپل خوریي عبد الشکور ته له خپل مال څخه د څه ورکولو وصیت وکړی، اوس دا وصیت اعتبار وړ دی او کنه؟ په ترکه کې په ده ته څومره ورکول کیږي او نور وارثانو ته څومره؟ (۲۰۹۸/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: په دغه صورت کې که حافظ نظام الدین د خپل خوریي عبد الشکور لپاره د وصیت پاڼه لیکلې وه نو عبد الشکور خو د نظام الدین شرعي وارث نه دی، لهذا د ده په هکله وصیت صحیح دی او وصیت په یو ثلث کې نافذیږي پاتې د وارثانو دی. فقط

د خپلې لور او زوم لپاره د ټول مال وصیت کول

سوال: (۲۰) ګل بشرې چې د الف خان ښځه ده د خپل وفات شوي خاوند ټول جائداد یې یو اځي قبضه کړی او د تجارت په وسیله یې نوره ترقي ورکړه څه جائداد ونه جوړ کړو، د الف خان یوه لور چې له ګل بشرې څخه ده بي بي ګله پاتې شوه او د ګل بشرې یو سکه ورور وړوکي خان چې له همیشه څخه سره د خپلو بچیانو خپله ځانته ګزاره کوي او د خپلې خور هیڅ مرسته نه ده کړې او د ګل بشرې د جائداد سره هیڅ اړه نه وه، ګل

بشرۍ ته د دې د پلار له جائداد څخه یوه آنه هم نه ده ورکوله شوې بلکه ټول جائداد یې د وفات شوي خاوند و، بې د چا له شرکته تجارت کاوي د ځان او د لور ګزاره یې په کوله وروسته د شیرخان سره د خپلې لور نکاح پخپل کور کې وکړه شیرخان د دوی سره اوسیدی او خپله ټوله تنخواه به خوابنې ته ورکول، په ژوند خو باور نشته ځکه ګل بشرۍ پخپل ژوند کې د ټولو خپلوانو، سکه ورور او جرګې مخته د خپل ټول منقوله او نامنقوله جائداد یوه د وصیت پانه د خپلې لور بي بي ګلې او زوم شیرخان په نوم ولیکله، مالکانه قبضه یې دوی ته ورکړه، د دغه وصیت پر پانه د دې ورور وړوکي خان ګوته د ګواه په لګیدلې ده، اوس ګل بشره وفات شوه او یو میاشته وروسته د دې لور بي بي ګله هم وفات شوه د بي بي ګلې یوه سکه نابالغه لور پاته شوه د هغې پلار کوي په داسې صورت کې چا چا ته برخه ورکول پکار ده؟ ځکه چې د ګل بشرۍ په جائداد کې د دې د زوم شیرخان ګټه هم ګډه ده نو ایا په داسې حال کې په وړوکي خان ته هم برخه ورکوله کیږي او کنه؟ که ورکوله کیږي نو له کوم جائداد څخه په وي؟(۴۲/۲۰۷۹-۱۳۴۷ھ)

جواب: په دغه صورت کې خو بي بي ګله د خپلې مور وارثه ده ځکه د دې هکله وصیت صحیح نه شو، په حدیث شریف کې راغلي دي: لا وصیة لوارث الحدیث(۱) اما د زوم په هکله وصیت صحیح شو، لهذا د ترکې یوه دریمه د ګل بشرۍ له ترکې څخه د دې زوم ته د وصیت په توګه ورسیده او په پاته دوو دریمو کې نیمه برخه د ګل بشرۍ د لور بي بي ګلې شوه او نیمه برخه د دې د سکه ورور وړوکي خان شوه، بیا د بي بي ګلې ترکه د دې د لور ده ماما محروم دی او د ګل بشرۍ او نورو دا ویل چې زما په جائداد کې زما د زوم د ګټې جائداد هم ګډ دی بیله شرعي ثبوته معتبر نه دی فقط والله تعالی اعلم

---

(۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الوصیة د سوال (۹) په جواب کې دي

د ورور او خور په موجودیت کي د ټولي ترکې وصیت د ښځي لپاره کول

سوال: (۲۱) زید وفات شو یو ورور بکر، خور هنده او کونډه باصره یې وارثان پاته شول او زید یوه د وصیت پاڼه داسي لیکلې ده چي زما ښځه باصره زما د ټول جائداد چي پکي د کور سامان هم دی مالکه ده او تر اوسه د زید د ښځي باصرې مهر هم نه دی ادا شوی، په دغه صورت کي څه حکم دی؟ (۱۱۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په مسئوله صورت کي د زید له ترکې څخه د تجهیز او تکفین له ضروري مصارفو وروسته لومړی به د ښځي مهر ادا کیږي داغه راز که بل قرض او پور پر زید و هغه به لومړی ادا کیږي له قرضو ادا کولو وروسته وصیت نافذیږي مګر ښځه خو وارثه هم ده ځکه په حکم د لا وصیة لوارث(۱) د ښځي لپاره چي زید کوم وصیت کړی دی هغه بې د ورور او خور شرعي وارثانو له رضا نافذ او صحیح نه دی، بلکه د زید ټوله ترکه چي پکي د کور ټول سامان او زیورات هم داخل دي د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته چي پورته یادونه وشوه څلور برخي کیږي یوه برخه د ده ښځي باصرې ته دوې برخي ورور بکر ته او یوه برخه خور هندې ته ورکوله کیږي. فقط والله تعالی اعلم

د خاوند د خپلوانو لپاره وصیت کول

سوال: (۲۲) بي بي جانه چي د عطا حسین مرحوم کونډه ده، د عطا حسین صاحب یو ورور ؤ چي د هغه یو زوی محمد اسحاق دی او دوې لوڼي شته او د عطا حسین صاحب یو بل ورور شته او داغه راز یوه یې خور شته او د بي بي جاني له همدغه پورته بیان شویو کسانو پرته بل کوم قریب او شرعي وارث نشته له بي بي جاني وروسته دوی ته څه جائداد ملاویدلای شي او کنه؟ که ملاویدلای شي نو څومره څومره؟ او یا که په دوی کي د چا لپاره د وصیت پاڼه ولیکي نو هغه د بي بي جاني جائداد ولاس ته کولای شي او کنه؟ (۱۷۳۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په دوی کي چي کوم د خاوند خپلوان دي په هغوی کي يو هم د بي بي جاني شرعي وارث نه دی، بي بي جانه که په دوی کي د چا لپاره وصيت وکړي نو صحيح دی. فقط والله تعالی اعلم.

که د خپلي اخښي او خپل زوی د اخښي په نوم جلا جلا د وصيت پاڼي وليکي نو کومه يوه صحيح ده؟

سوال: (۲۳) يار محمد خان يوه د وصيت پاڼه د خپل اخښي رحيم خان په نوم وليکله او بيا يي يوه د وصيت پاڼه د ګل ولد رحمت الله په نوم وليکله او رحمت الله د يارمحمد د زوی اخښی دی او د يار محمد په وارثانو کي له لمسۍ څخه پرته بل کوم څوک نشته، اوس په دواړو وصيتونو کي کوم يو صحيح دی؟ (۲۴۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: دواړه وصيتونه شرعًا صحيح دي، په يو ثلث کي دواړه شريکان دي او نور د لمسي دي، بخلاف ما اذا اوصى به لرجل ثم اوصي به الآخر، لان المحل يحتمل الشركة وللفظ صالح لها (۱) (شامي) فقط والله تعالى اعلم.

ښځي ته د څه نه ورکولو او مړور ته د ټول جائداد ورکولو وصيت کول

سوال: (۲۴) زيد له خپل وفات څخه اتلس کلونه مخکي يوه د وصيت پاڼه وليکله چي لنډيز يي داسي دی چي زما له وفات وروسته په زما د ټول جائداد مالکه زما د وفات شوي زوي کونډه وي او زما دوهمه ښځه چي له بل خاندان څخه ده هغه ته يو شی مه ورکوئ صرف د نفقي لپاره دي تر مرګه د کاله سل روپۍ زما د وفات شوي زوی ښځه دې ته ورکوي او زما د دغي ښځي مهر پنځه سوه روپۍ ما دا ډول ور ادا کړی دی چي د دې لور چي له ما څخه نه ده له مخکني خاوند څخه ده زما سره د نکاح کولو پر مهال ورسره راغلې وه دغه پنځه سوه روپۍ د دغي انجلۍ په واده کي ما مصرف کړی دی،

---

(۱) الدر المختار: ٤٦٦/٥ كتاب الوصايا ط رشيديه.

اوس پر ما باندي مهر نشته، اوس له ټولو شرعي وارثانو ځخه دوه وریرونه دغه د وصیت پانه مني او ښځه نه مني، دغه د وصیت پانه شرعًا جائز ده او کنه؟

(۱۳۳۸/۱۳۹۳هـ)

جواب: وصیت په یوه دریمه کي جاري کیږي که شرعي وصیت صحیح شوی دی او الفاظ د وصیت د دغه وصیت په پانه کي موجود دي نو یوه دریمه د موصي لها راوباسی له پاته ځخه د ښځي برخه ښځي ته ورکړی کوم چي د زید د اولاد نه کیدو په صورت څلورمه ده او د ښځي مهر په هم ورکول کیږي او ټول حقوق به لومړی ادا کول کیږي او د ښځي د لور په واده کي په مصرف کولو مهر ساقط نه شو او هغه مصرف په مهر کي نه شمیرل کیږي او کوم وریرونه چي په ټول وصیت راضي دي هغو ته اختیار دی چي خپله برخه اخلي او که نه اخلي مګر د ښځي برخه نه ساقطیږي. فقط والله تعالی اعلم.

له خور ځخه د ناراضګی په صورت د ټول مال د خیر په کار کي لګولو وصیت کول

سوال: (۲۵) یو سړی له وفات کیدو ځخه مخکي خپل ټول مال خپل افسر ته وسپاری چي زه بچیان نلرم زما مال د خیر په کار کي ولګوه او له سکه خور ځخه خوشحاله نه ؤ د هغې لپاره هیڅ وصیت ونکړی، په دغه صورت کي د ده خور ته څه ورکول صحیح دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۴۶۸هـ)

جواب: شرعًا وصیت په دریمه د ترکه کي جاري کیږي، دغه آفسر ته پکار دي چي ټوله ترکه د تجهیز او تکفین او د قرض تر ادا کولو وروسته درې برخي کړي یوه برخه د وصیت سره سمه د خیر په کار کي مصرف کړي او پاته دوې برخي د ده وارثانو ته ورکړي او که په وارثانو کي صرف یوه خور ده نو دغه دوې دریمي دي هغې ته ورکړي. فقط والله تعالی اعلم.

د نابالغ وصیت صحیح نه دی

سوال: (۲۶) د نابالغ وصیت صحیح دی او کنه؟ او د بلوغ حکم په کوم عمر کیږي؟ (۱۳۳۵/۴۲۹هـ)

جواب: د نابالغ وصیت صحیح نه دی([1]) او شرعاً د پنځلس کلونو په عمر کي ښځه او نر بالغ شمیرل کیږي او که له دغه عمر څخه مخکي کوم علامت د بلوغ ښکاره شي نو په هغه سره هم د بلوغ حکم وربانديلګیږي([2]) فقط والله تعالی اعلم.

د مقروض وصیت کله لغوکیږي؟

سوال: (۲۷) بي بي ولیپ خپل سرای هبه کړی او څلور زره روپۍ پر باندي وې چي وفات شوه، له مرګ وروسته د وارثانو د وصیت په اړه جګړه ده یوه ډله دا وایي چي دي وصیت هم کړی دی او بله ډله وایي چي کله دې هیڅ نه پرېښودو یو سرای یې ؤ هغه یې هم هبه کړی ؤ او څلور زره پر باندي وې وفات شوه نو وصیت یې د کوم شئ کړی دی؟ کله چي مال نه دی پرېښی نو بیا وصیت څه ډول کیدلای شي؟ که څه مال پرېښی وای نو په هغه کي وصیت کیدلای شو چي مال یې پرېښی نه دی نو بیا خو وصیت ممکن هم نه دی، نو علماء کرامو څخه پوښتنه کیږي چي په دغه صورت کي وصیت کیدلای شي او کنه؟(۲۲۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: کوم څوک چي مقروض مړ شي او د هغه ترکه د قرض لپاره بس نه وي یا د قرض سره برابره وي نو که بالفرض هغه سړی څه وصیت وکړي نو وصیت د ده لغو دی، ځکه چي د وصیت نفاذ د قرض تر ادا کولو وروسته دی. كما في الدر المختار: ثم ديونه الخ ثم وصيته... من ثلث ما بقي بعد تجهيزه وديونه، وانما قدمت في الاية اهتما مالكونها مظنة التفريط الخ ([3]) نو معلوم شو چي نفاذ د وصیت تر قرض ادا کولو وروسته دی کله چي د

---

[1]) ولا من صبي غير مميز اصلا ولو في وجوه الخير... وكذا لا تصح من مميز (الدر المختار مع الشامي: ۴٦٤/۵، كتاب الوصايا ط رشيديه.)

[2]) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ والجارية بالاحتلام والحيض والحبل الخ، فان لم يوجد فيهما شئ فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة، به يفتي.... وادنى مدته له اثنتا عشرة سنة ولها تسع سنين (الدر المختار مع رد المحتار: ۱۰۷/۵، كتاب الحجر، فصل: بلوغ الغلام بالاحتلام الخ ط رشيديه.)

[3]) الدر المختار مع الشامي: ۵۳٦/۵، اوائل كتاب القرائض ط رشيديه.

قرض تر ادا کولو وروسته څه پاته نشي یا له سره قرض پوره ادا نشي نو وصیت به څنګه عملي کړل شي؟ فقط والله تعالی اعلم.

د نکاح په اړه وصیت ته اعتبار نشته

سوال: (۲۸) یو سړی د خپلي لور په هکله د دوستۍ کولو خبره وکړه، څو ورځي وروسته دی وفات شو د وفات کیدو پر مهال یې دا وصیت هم وکړی چي زما د لور نکاح هم هلته وکړی چیري ما خبره کړې ده، اوس نیکه د دغي انجلۍ بل ځای نکاح ورکول غواړي، ایا د مخکنۍ خبري په وجه د انجلۍ مور د دې نکاح هم هغه ځای کولای شي او کنه؟ (۱۳۳۵/۸۷۱هـ)

جواب: فقهاء دا څرګندونه کړې ده چي د نکاح په اړه وصیت ته اعتبار نشته او د پلار تر مرګ وروسته د نابالغي د نکاح ولي نیکه دی، نو په دغه صورت کي چي د نابالغي نیکه کومه نکاح وکړي هم هغه به صحیح وي، د مور ورکړي نکاح بې د نیکه له رضا او اجازې نه صحیح کیږي. په درمختار کي راغلي دي: ولیس للوصي من حیث هو وصي ان یزوج الیتیم مطلقاً وان اوصی الیه الاب بذلک علی المذهب الخ (۱) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۹) د عمر بچیان نه ؤ نه څکه نامسلمان زید د خپلي ښځي په پالنه رالوي کړی، بیا یې مسلمان کړی پخپل قوم کي واده ور وکړی، عمر د بچیانو نه درلودلو په وجه زید خپل زوی کړی، د الله فیصله وه چي عمر وفات شو، له ده وروسته زید هم دوې لوڼي یو زوی نابالغان پریښودو وفات شو، له مرګ مخکي وصیت وکړی چي که زه مړ شوم نو زما د بچیانو د پالني او واده اختیار زما رضاعي اکا بکر ته دی او زما د مال امین هم دی دی، دا وصیت جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۷/۵۸۲هـ)

جواب: د مال په حفاظت او نورو ضروري تصرفاتو کي وصیت صحیح دی او د نابالغانو د نکاح په اړه دغه وصي ته اختیار نشته، بلکه د نکاح ولي حاکم دی، که حاکم هم دی وتاکي نو صحیح دی. په درمختار کي راغلي دي: ولیس للوصي من حیث هو وصي ان

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۳٤۰/۲، کتاب النکاح، باب الولي، مطلب لا یصح تولیة الصغیر شیخا علی خیرات ط رشیدیه.

یزوج الیتیم مطلقاً وان اوصی الیه الاب بذلک علی المذهب الخ (¹) او په شامي کي راغلي دي چي په داسي صورت کي چي ولي نه وي بیا حاکم ولي ګرځي (²) فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۰) د پیر بخش دوې لوڼي دي د مشري لور واده پیر بخش د محمد اسماعیل خان د مشر زوی سره کړی ؤ، کشره نابالغه لور یې پخپل ژوند کي د یوې وصیت د پاڼي په وسیله چي د هادي حسین په هکله لیکلې وه، هادي حسین ته وسپارله او د وصیت په پاڼه کي ولیکل چي د دغه نابالغي واده ته ور وکړه، مګر د اسماعیل خان کره هیڅکله مه ورکوه، پیر بخش وفات شو او ناوړ شوي انجلۍ څه زمانه د هادي حسین کره وه چي وتښتیده او د خپلي خور کره ولاړه اوس دا بالغه ده محمد اسماعیل یې د خپل کشر زوی ته ور ودول غواړیي او د انجلۍ هم خوښه ده دا وصیت جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۸/۰۹هـ)

جواب: د دغه وصیت شرعًا اعتبار نشته کوم چي پیر بخش کړی ؤ، اوس خو انجلۍ بالغه ده نو د دې خوښه ده که پخپله خوښه د محمد اسماعیل خان د کشر زوی سره نکاح وکړي دا نکاح روا کیږي کذا في الدر المختار (³) فقط والله تعالی اعلم

د وفات پر مهال که څوک داسي ووایي چي زما د نابالغي لور او زما د مال مالک زید دی نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۱) بکر د وفات پر وخت وویل چي زما د نابالغي لور او زما د مال مالک زید دی او د بکر پلار ژوندی صحیح العقل موجود دی او وارثان د ده نور هم شته: درې ورونه یوه خور، د پلار سره د ده هیڅ جګړه نه وه اما د ده په عقل کي د ناجوړۍ په وجه څه تاوان ؤ، ډیري خبري به سمي کولې او ډیري به چپه، لکه چي یوه ورځ پلار ته وویل چي زما دا سپی زین زید ته ورکړه او پر ما باندي د خور نهه روپۍ قرض دي هغه ادا کړه

---

¹) مخکنۍ حواله

²) وانتقلت الولایة للحاکم عند عدم قریب (الشامي: ۳۴۰/۲، کتاب النکاح باب الولي ط رشیدیه.)

³) ولا تجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ (الدر المختار مع الشامي: ۳۲۴/۲، کتاب النکاح، باب الولي ط رشیدیه.)

او یو وار یې دا هم وویل چې زما آسپه زین کړه ځکه چې د هغې یخ کیږي، پلار په جواب کې ورته وویل اوس خو ګرمي ده، ده ورته وویل چې زما چې یخ کیږي د دې به هم یخ کیږي اوس معلوم نه دي چې د بې هوښې په حالت کې وویل چې زما لور او مال د زید دی که په هوښ کې ؤ او د بکر پلار دا وخت موجود نه ؤ، اوس لنډه دا چې د بکر په دغه وینا زید د بکر وصي ګرځي که موصي له هم ګرځي او د بکر پلار د دغې خبرې اجازه نه کوي یعني د زید د وصي او موصي له کیدلو اجازه نه کوي او خوندې هم وارثان دي؟
(۱۳۳۷/۴۷۲هـ)

جواب: د نابالغي په اړه وصیت صحیح نه دی د نکاح ولي تر پلار وروسته نیکه دی، زید ته هیڅ اختیار د دې د نکاح نشته او د مال په اړه وصیت د زید لپاره تر یو ثلث پورې صحیح دی(۱) پاتـــه دوه ثلثـــه د وارثـــانو دي د شـــرعي برخـــو ســـره ســـم (او د پلار په موجودیت کې ورونه او خوندې وارثان نه ګرځي.)

د ورور پر ځای خورځه وصي ټاکل

سوال: (۳۲) زید نژدې د دریو زرو جائداد پرینښودی وفات شو د زید دوه سپین ږیري زامن عبد الغني او عبد الرحیم دي، عبد الرحیم هم دوه نابالغ بچیان یو د نهو کلونو بل د پنځو کلونو سره د یوې وصیت د پانې د خپلې خورځې په نوم د ماشومانو د روزنې او تعلیم په هکله پرینښودو د خپل ورور عبد الغني په نه موجودیت کې وفات شو، نو عبد الغني د عبد الرحیم د بچیانو او جائداد ولي کیدلای شي او کنه؟
(۱۳۳۹/۷۴۵هـ)

---

(۱) په سوال کې په غور کولو معلومیږي چې بکر معتوه دی که واقعتًا بکر معتوه او مجنون دی نو د مال په اړه هم د ده وصیت نه صحیح کیږي په در مختار کې راغلي دي: و شرائطها کون الموصي اهلا للتملیک فلم تجز من صغیر ومجنون (الدر مع رد المختار: ۵/۴۵۹ اوائل کتاب الوصایا ط رشیدیه.)
و کذا لو اوصي ثم اخذ بالوسواس فصار معتوها حتی مات بطلت، خانیة: (الدر المختار مع الرد کتاب الوصایا، قبل باب الوصیة بثلث المال ط رشیدیه.)

جواب: د وفات شوي عبد الرحیم د وصیت سره سم به د ده خورځه د ده د مال او جائداد خوندي کونکې او متصرفه وي، د ماشومانو په پالنه او نورو کې چې څومره ضرورت وي هغومره مصرف به کوي او حساب د مصارفو به صفا ساتي، د عبد الرحیم ورور عبد الغني ته د ده په مال کې د تصرف هیڅ اختیار نشته. اما د نابالغانو د نکاح ولي عبد الغني دی ځکه چې د نکاح په هکله وصیت ته هیڅ اعتبار نشته. کذا في کتب الفقه [۱] فقط والله تعالی اعلم.

پر قبر د دېوال راګرځولو وصیت باطل دی

سوال: (۳۳) عمر وصیت کړی ؤ چې زما پر قبر شاوخوا دېوال راوګرځوئ او قبر خام جوړ کړی دغه وصیت عمل کړو او کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۱۵۲هـ)

جواب: دا وصیت د عمر نافذ نه دی بلکه داسي وصیت باطل دی. په درمختار کي راغلي دي: اوصي بان یصلي علیه فلان، او یحمل بعد موته الی بلد آخر، او یکفن في ثوب کذا، او یطین قبره او یضرب علی قبره قبة، او لمن یقرا عند قبره شیئا معینا فهي باطله. [۲] فقط.

د جنازې د لمانځه ورکولو په هکله وصیت کول

سوال: (۳۴) که څوک دا وصیت وکړي چې ده ته دې د جنازې لمونځ فلانی ورکړي د تقوی او دینداری په وجه، دا وصیت به صحیح او معتبر وي او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۲۱۳هـ)

جواب: څوک تاکل چې زما د جنازې لمونځ دې فلانی راکړي دا وصیت باطل دی.

شامي (۶۵۰/۱): والفتوی علی بطلان الوصیة لغسله والصلاة علیه. [۳] فقط والله تعالی اعلم.

---

[۱] په در مختار کي راغلي دي: ولیس للوصي من حیث هو وصي ان یزوج الیتیم مطلقًا وان اوصي الیه الاب بذلک علی المذهب الخ (الدر المختار مع الشامي: ۳۲۰/۲، کتاب النکاح باب الولي، مطلب لا یصح تولیة الصغیر شیخا علی خیرات ط رشیدیه.)

[۲] الدر المختار مع الشامي: ۴۷۱/۵، کتاب الوصایا، قبل باب الوصیة بثلث المال ط رشیدیه.

[۳] الدر المختار مع الرد: ۶۵۰/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب: تعظیم اولی الامر واجب ط رشیدیه.

د تعزیې کولو وصیت عملي کول صحیح نه دي

سوال: (۳۵) زموږ اکا به له ډیري زمانې راهیسي تعزیه کوله ده فکر وکړی چي یوه داسي طریقه پکار ده چي زما له مرګه وروسته هم دا رواج وي او د ده اولاد هم نشته، ځکه نو ده خپل جائداد خپلو وراړو ته د وصیت د پاڼي په وسیله ورکړی او دا شرط یې هم ولیکی چي که دوی تعزیه نه کوي نو نور خپلوان او عزیزان دي د تعزیې انتظام وکړي او که هغو هم نه شوای کولای نو د دغه وصیت په وجه چي هر مسلمان کولای شي ودي کړي او که کوم مسلمان هم نکړای شوه نو حکومت دي پخپل انتظام کوي، وراړونه د همدغه مجبورۍ په وجه تعزیه کوي مګر دوی دا کار ناوړه او ناروا بولي او د اهل سنت عقیده لري د روافضو عقیده یې نه ده، ایا داسي وصیت شرعًا صحیح دی؟ او په داسي حال کي د دوی لپاره تعزیه کول جائز ده او کنه؟ (۱۳۳۸/۴۸۴هـ)

جواب: داسي وصیت باطل دی او شرعًا داسي وصیت عمل کول صحیح نه دی او تعزیه جوړونه تعزیه کونه چي ډیر شرکیه افعال پکښي دي او د دې په وجه جاهلان په شرک اخته دي، جائز نه دي بلکه قطعي حرامه او معصیت ده او تعزیه جوړونکی که څه هم دې ته بد وایي او پخپله ناوړه او شرکیه افعال نه کوي لیکن د تعزیې سره چي جاهلان کوم د شرک افعال کوي د هغو ګناه پر جوړونکیو راځي او دغه تعزیه جوړول د اعانت علی المعصیت باعث ده. قال الله تعالی: "وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان" (سورة مائده، آیت:۲) وفي الحدیث: ومن سن في الاسلام سنة سیئة کان علیه وزرها ووزر من عمل بها الحدیث. (۱) فقط.

---

۱) الصحیح لمسلم: ۳۲۷/۱، کتاب الزکاة، باب الحث علی الصدقة، ولو بشق تمرة الخ.

له ښخولو وروسته قبر په مسجد کې ورګډولو وصیت کول

سوال: (۳۶) زه دا وصیت کول غواړم چې کله ما ښخ کړی نو زما قبر دې په مسجد کې ورګډ کړئ او د قبر نښان هم مه پرېږدی ځکه چې د مسجد فرش کوږ دی د هغه د برابرولو ضرورت دی، دا وصیت جائز دی او کنه؟ او قبر په مسجد ورګډول جائز دی او کنه؟ (۱۳۴۳/۷۲۵هـ)

جواب: داسې وصیت نه دی کول پکار، د دې څه ضرورت دی چې د مسجد په غولي کې مې ښخ کړی او بیا هغه برابر کړی او د قبر نښان هم مه پرېږدئ، بلکه دا پکار دي چې مسلمان مړی د مسلمانانو په هدیره کې ښخ کړل شي او د قبر نښان لکه چې سنت دی هغه رنګ وي (۱) او داسې وصیت نه صحیح کیږي او عمل په کول جائز نه دي، لهذا داسې وصیت نه دي کول پکار. فقط والله تعالی اعلم.

په تجهیز او تکفین کې د ورور نه شریکیدو وصیت کول باطل دی

سوال: (۳۷) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په لاندې مسئله کې:
دوه کسان سره سکه ورونه دي، مشر ورور یو دریم سړي ته دا وصیت وکړی چې زما په تجهیز او تکفین کې دې زما ورور برخه نه اخلي، نو په داسې صورت کې کشر ورور په تجهیز او تکفین کې برخه اخیستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۳۳۲هـ)

جواب: دا وصیت ناجائز او باطل دی عمل نه دي په کول پکار (۲) بلکه د کشر ورور لپاره د اسلامي حق او صله رحمي ادا کولو په خاطر که څه هم نور خلګ ډیر وي برخه اخیستل پکار ده. قال النبي صلی الله علیه وسلم حق المسلم علی المسلم خمس: رد السلام وعیادة المریض، واتباع الجنائز، واجابة الدعوة، تشمیت العاطس الحدیث (۳) قال في الدر المختار:

---

(۱) عن سفیان التمار انه حدثه انه رای قبر النبي صلی الله علیه وسلم مسنماً (صحیح البخاري: ۱۸۶/۱، کتاب الجنائز، باب ماجاء في قبر النبي صلی الله علیه وسلم الخ.)

(۲) الوصیة بالمعاصي لا تصح (بدائع الصنائع: ۴۴۰/۶ کتاب الوصایا، شرائط رکن الوصیة.)

(۳) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: حق المسلم علی المسلم خمس الحدیث (صحیح البخاري: ۱۶۶/۱ کتاب الجنائز، باب الامر باتباع الجنائز)

اوصي بان يصلي غليه فلان (الى ان قال) او يطين قبره او يضرب على قبره قبة او لمن يقرا عند قبره شينا معينا فهي باطله الخ (۱) فقط والله تعالى اعلم

د قبر سره د لمونځ کولو لپاره د چوتره (دکانچه) جوړولو وصیت کول

سوال: (۳۸) يو سړي دا وصيت وکړی چي زما د قبر سره د لمانځه لپاره چوتره جوړه کړئ، تر څو تلونکي راتلونکي لمونځ پرې کوي او زما به هم ثواب وي، د ده د قبر سره چوتره جوړول مناسب دي او کنه؟ (۱۳۴۰/۲۳۴هـ)

جواب: د لمانځه کولو لپاره د قبر سره چوتره جوړول مکروه ده (۲) نو په دغه وصيت عمل نه دی کول پکار. فقط والله تعالى اعلم

د کومو روپیو چي في سبیل الله ورکولو وصیت شوی وي په هغو څوک حج ته لیږل څنګه دي؟

سوال: (۳۹) يو سړي وصيت کړیٔ چي زما وروسته درې زره روپۍ في سبيل الله ورکړی، په دغو روپيو څوک حج ته ليږل جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۹۵۲هـ)

جواب: د في سبيل الله ورکولو مطلب دا دی چي په نيکو کارونو کي مصرف کړی نو څوک حج ته ليږل هم هم نيک کار دی، لهذا په دې کي مصرفول جائز دي او په نورو نيکو کارونو کي مصرفول هم جائز دي. په شامي کي راغلي دي: وقال محمد: جائزة، ويتصرف الى وجوه البر، وبه يفتي الخ (۳)

---

۱) الدر المختار مع الشامي: ۴۷۱/۵، كتاب الوصايا، قبل باب الوصية بثلث المال ط رشيديه.

۲) په در مختار کي راغلي دي: وكذا تكره في اماكن كفوق كعبة... ومقبرة ومغتسل وحمام. په رد المحتار کي راغلي دي: واختلف في علته فقيل: لان فيها عظام الموتى وصديدهم وهو نجس وفيه نظر، وقيل: لان اصل عبادة الاوثان اتخاذ قبور الصالحين مساجد، وقيل: لانه تشبه باليهود وعليه مشي في الخانية (الشامي: ۲۷۷/۱، كتاب الصلاة مطلب في اعراب كائنا ما كان ط رشيديه.)

۳) الشامي كتاب الوصايا: ۴۶۹/۵، قبل باب الوصية بثلث المال رشيديه.

د خير په کار کي مصرفولو وصيت کونکى د مصرف اندازه بيان نکړه نو...

سوال: (۴۰) يو سړى وصيت وکړي چي زما وروسته زما له مال څخه د خير په کار کي مصرف وکړي دا وصيت صحيح دي او کنه؟ (۱۳۸۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: دا وصيت صحيح دى مگر موصي خو د مصرف اندازه نه ده بيان کړې، لهذا وارثانو ته اختيار دى چي څومره خوښه وي د خير په کاروو کي دي مصرف وکړي په در مختار کي راغلي دي: وبجزء اوسهم من ماله فالبيان الى الورثة، يقال لهم: اعطوه ماشئتم الخ وفي الشامي قوله: (فالبيان الى الورثة الخ) لانه مجهول يتناول القليل والكثير، والوصية لاتمتنع بالجهالة، ولاورثة قائمون مقام الموصي فكان اليهم بيانه.(۱)

که يتيمانو او کونډي د حج د وصيت روپۍ وخوړې نو....

سوال: (۴۱) يو سړي له خلکو څخه د حج لپاره روپۍ راجمع کړي وې مړ شو او دا يې وويل چي په دغه روپيو حج وکړى ليکن هغه د ده يتيمانو او کونډي د مسکينۍ په وجه وخوړلې اوس يې ځيني بچيان بالغ او ځيني نابالغ دي اوس په داسي روپيو حج کول پر دوى ضروري دي او کنه؟ (۱۳۳۹/۱۱۰۵هـ)

جواب: هغه روپۍ د ده د يتيمانو او ښځي دي همدې ته ورکول کيږي اما که وصيت کړى دى چي په دغه روپيو زما له طرفه حج وکړئ نو په يوه دريمه د روپيو چي حج له کوم ځايه کيدلاى شي، وې کړي (۲) او پاته دوې دريمي د روپيو د ده د ښځي او بچيانو دي فقط.

---

۱) الدر المختار والشامي: ۴۷۴/۵، کتاب الوصايا، باب الوصية بثلث المال ط رشيديه.

۲) والا فيحج عنه من بلده... إن وفى به أى بالحج من بلده ثلثه وإن لم يف فمن حيث يبلغ استحسانا.
[الدر المختار مع الشامى: ۲۶۳/۲ کتاب الحج، باب الحج عن الغير، مطلب: العمل على القياس دون الاستحسان هنا ط رشيديه.]

د جهیز د سامان د خاوند پر ځای د بل چا لپاره وصیت کول

سوال: (۴۲) یوه ود شوې انجلۍ د پلار کره وفات شوه، د ناجوړۍ پر مهال د ده د جهیز د سامان په اړه وصیت وکړی چې هغه ټول سامان زما له مرګ وروسته زما له خاوند څخه فلاني ته ورواخلئ، د وصیت کولو پر مهال د دې له خسرګنۍ څخه کوم خپل یا خاوند موجود نه و، دا وصیت جائز دی او که نه؟ (۱۳۴۲/۲۱۰هـ)

جواب: که دا خبره ثابته شي چې دغه ښځې وصیت کړی دی او دوه عادلان ګواهان پر وصیت باندې موجود دي نو داسې وصیت د ترکې په یو ثلث کې نافذ او صحیح دی، په دې شرط چې دا وصیت به د کوم وارث لپاره نه وي شوی ځکه چې په حکم د "لاوصیة لوارث" (۱) د کوم وارث لپاره کوم وصیت بې د ټولو وارثانو له اجازې نه صحیح کیږي. اما د ناوارث لپاره په یو ثلث کې وصیت جائز دی، که څه هم خاوند هلته موجود نه وي یا کوم خپل موجود نه وي، مګر دوه عادلان ګواهان موجود وي یا باقاعده لیک وي. او ترکه د ښځې هغه بلله کیږي چې د پلارګنۍ څخه د واده پر مال دې ته ورکوله شوې وي یا خاوند زیور او نور دې ته ورکړي وي او دا یې مالکه ګرځولې وي یا یې مهر پر خاوند پاته دی، هغه هم د ښځې ترکه ده، د ښځې له دغه ټولې ترکې څخه یو ثلث د وصیت سره سم وباسئ او که قرض وي، هغه ادا کړئ، نور چې پاته شي، هغه پر شرعي وارثانو د دوی د شرعي برخو سره سم وویشئ. فقط. والله تعالی أعلم

د ټولو زیوراتو خیراتولو وصیت کول

سوال: (۴۳) که ښځې وصیت کړی وي چې زما ټول زیور (ګینه) خیرات کړئ، په دغه صورت کې وارثانو ته هم څه رسي او که نه؟ (۱۳۳۲-۳۵/۲۸۰هـ)

جواب: وصیت په دریمه کې جاري کیږي، نور د وارثانو دي. فقط. والله تعالی أعلم

سوال: (۴۴) د زید ښځه مرګ ته نژدې شوه نو بې د زید له اجازې یې خپل مور او پلار ته وویل چې زما ټول زیورات مدرسه ته ورکړئ چې کله مړه شوه نو زید د زیوراتو

---

۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الوصیة د سوال (۹) په جواب کې دی.

غوښتنه وکړه، مور او پلار یې ورته وویل چې زما لور په مدرسه کې د زیوراتو ورکولو ویلي و، لهذا زید ته به ترکه ورکول کیږي او که نه؟ (۱۱۹۳/۱۳۳۹ه)

جواب: که هغه زیورات د زید د ښځې خپل ځاني و، مثلاً دې ته مور او پلار ورکړي و یا خاوند دې ته په ملک ورکړي و نو د وصیت حکم په دې کې جاري کیږي یعنې که د دې د ترکې تر یو ثلث زیات نه دي نو ټول زیورات به خیراتوي، کنې یو ثلث مدرسې ته ورکړئ نور پر وارثانو تقسیم کړئ او په وارثانو کې خاوند هم دی او مور او پلار هم دي، هر یوه ته به خپله شرعي برخه ورکول کیږي. فقط. والله تعالی أعلم

د خاوند په زیوراتو کې د ښځې وصیت ته اعتبار نشته

سوال: (۴۵) یوې ښځې وصیت وکړی چې زما په زیوراتو کې فلانی، فلانی شی مدرسې او مسجد ته ورکړئ خو زیورات ټول د خاوند دي نو خاوند د ښځې وصیت باید پوره کړي او که نه؟ (۱۴۵/۱۳۳۷ه)

جواب: کوم زیورات چې د خاوند دي، په هغه کې د ښځې وصیت ته اعتبار نشته، د خاوند خوښه ده. که یې په مسجد او مدرسه کې ورکوي او که نه. فقط. والله تعالی أعلم

د چا سره روپۍ امانت ایښودل او له هغه څخه د قربانۍ وصیت کول

سوال: (۴۶) د صفري په شلمه کال ۱۳۴۱ حافظ قاسم علي زما سره امانت کیښودی او هغه وخت یې د روغتیا پر مهال دا ولیکل چې دا زما امانت چې دی همیشه څلور برخې د قربانۍ کړئ، زما په ژوند کې او زما له مرګ وروسته هم، زما وروسته کوم وارث ته مه ورکوئ، اوس یو کال کیږي چې حافظ قاسم علي وفات شوی دی، څه روپۍ د ده شته، په دې کې د ده د وارثانو حق شته او که نه؟ (۳۲۱/۱۳۴۵ه)

جواب: دا صورت د وصیت دی، لهذا که دغه روپۍ چې ده د قربانۍ لپاره ایښې دي، د ترکې تر یو ثلث نه دي زیاتې نو پاته روپۍ د همدغه کار لپاره کښیږدئ، د ده له طرفه د ده د وصیت سره سمې قربانۍ په کوي او وارثانو ته مه ورکوئ، په درمختار کې

راغلي دي: ورکنها أوصيت بكذا لفلان ومايجرى مجراه من الألفاظ المستعملة فيها الخ، وقوله: (وما يجرى مجراه الخ) في الخانية قال: أوصيت لفلان بكذا ولفلان بكذا وجعلت ربع دارى صدقة لفلان: قال محمد: أجيز هذا على الوصية الخ. (۱) [الشامى] وفى الأضحية: من ضحى عن الميت يصنع كما يصنع فى أضحية نفسه من التصدق والأكل، والأجر للميت والملک للذابح. قال الصدر: والمختار أنه إن بأمر الميّت لايأكل منها وإلا يأكل الخ. (۲) فقط.

په مرض الموت کي په کم قيمت پر وارث جائيداد خرڅول

سوال: (۴۷) د اشفاق احمد په زياته ناجوړي کي د اکتوبر په ۲۳ کال ۲۲ يوه د بيع پانه په زر روپۍ زما مشر ورور محمد اسحاق د ځان لپاره وکړه او زه يې محروم کړم. د دې قيمت له دوه زره کم نه دی، د اکتوبر په ۲۷ دي وفات شو، په دې کي شرعًا زما حق شته او که نه؟ (۱۳۴۵/۱۱۴۵هـ)

جواب: په مرض الموت کي د بيع کولو حکم دا دی چي که مريض خپل جائيداد په کم قيمت خرڅ کړي نو څومره چي په قيمت کي کمي وکړه، د وارث په هکله دا جائز نه ده، په قيمت کي چي څومره کمي وکړه، هغه د ټولو وارثانو حق دی. په درمختار کي راغلي دي: اعتاقه ومحاباته وهبته ووقفه الخ حكمه كحكم وصية فيعتبر من الثلث الخ. (۳) نو کله چي دغه کمي په حکم د وصيت ده نو د وارث لپاره نه صحيح کيږي. ځکه چي د وارث لپاره وصيت بې د نورو وارثانو له اجازې صحيح نه دی. فقط.

په مرض الموت کي د مسجد مناره جوړولو وصيت کول

سوال: (۴۸) زيد و عمر ته څلويښت روپۍ ورکړې او دا يې ورته وويل چي په دغو روپيو د فلانۍ مسجد مناره جوړه کړه، دوې درې ورځي پس يې بيا ورته وويل زما

---

۱) الدرالمختار ورد المحتار: ۴۵۹/۵ أوائل كتاب الوصايا ط رشيديه.

۲) رد المحتار: ۲۲۹/۵ كتاب الأضحية ط رشيديه.

۳) الدر المختار مع الشامى: ۴۸۱/۵ كتاب الوصايا، باب العتلق فى المرض ط رشيديه.

ومخته د دغه منارې ځبنتي پر له ووډه او د زيد زياته دا انديښنه وه چي داسي نه چي عمر دغه روپۍ د زيد وراره ته ورکړي، خو د عمر سستي وه، ده لا مناره نه وه جوړه کړې چي زيد وفات شو، زيد دغه روپۍ عمر ته په مرض الموت کي ورکړي وې، اوس دغه روپۍ د عمر سره پرتې دي او د ده وراره شته، ايا دغه روپۍ د ده وارث ته ورکړو، که ميناره په جوړه کړو؟ که په ثلث د مال ميناره جوړه کړو، نور وارث ته ورکړو، څه ډول کول په کار دي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۳۲هـ)

جواب: زيد چي په مرض الموت کي کومي روپۍ عمر ته د مسجد لپاره ورکړي دي، هغه د وصيت په حکم دي او وصيت په يو ثلث کي صحيح کيږي، لهذا که هغه ځلويښت روپۍ د ترکي تر يوه دريمه زياتي نه دي نو وصيت صحيح دی او پر عمر لازم دی چي دغه روپۍ په مسجد کي ولګوي، د زيد وراره ته ورکول صحيح نه دي فقط والله أعلم

د مسجد لپاره په وصيت کړي سرای کي د وارثانو حق شته او که نه؟

سوال: (۴۹) يوې ښځي په خپله ژوند کي خپل جائيداد او سرايونه پر خپلوانو او وارثانو وويشل او صرف يو سرای يې د رسمي وقف د پاڼي له مخه په دې شرط وقف کړی چي له ما وروسته فلانی فلانی دوه کسان دي دا خرخ کړي، چيري چي مناسب وي نو مسجد دي جوړ کړي، لهذا شرعًا هغه دوه کسان که سرای خرخ کړي، مسجد په جوړولای شي او که نه؟ او د دې وارثان که پکي خپله دعوه وکړي نو جائز ده او که نه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۲۰هـ)

جواب: ظاهره په دغه صورت کي دا دی چي دا وصيت دی نو د کوم سرای په قيمت چي د مسجد جوړولو وصيت کړی دی، که هغه د ترکي ثلث دی نو د ټول سرای وصيت صحيح دی، دواړه کسان دي خرخ کړي، په قيمت دي مسجد جوړ کړي او که دغه سرای د ترکي تر ثلث زيات دی نو د ثلث په اندازه کي وصيت صحيح دی، زياتوب د وارثانو حق دی فقط والله تعالی أعلم

سوال: (۵۰) يو سړي له خپل جائيداد څخه په خپل ژوند کي څه برخه پر وارثانو وويشله او د هستوګني د سرای په اړه يې دا وصيت وکړی چي دا خرخ کړئ، مسجد په جوړ کړئ، په دغه وصيت کړي سرای کي د وارثانو څه حق جوړيږي او که نه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۰۲هـ)

جواب: که دغه سرای د ترکې تر دریمه زیاتوب نه دی نو وصیت صحیح دی او که دا سرای تر دریمه زیاتوب دی نو د دریمي په اندازه قیمت په مسجد کي ولګوئ، نور د وارثانو حق دی، که د هغو خوښه وي نو په مسجد کي دي ولګوي، کنې ور دي کړئوي. فقط والله تعالی أعلم.

د شرعي وارثانو لادرکه کیدو په صورت د ټول مال وصیت کول

سوال: (۵۱) د زید یو زوی او یوه ښځه هنده وه، د زید ښځه هنده سره د خپل زوی عمر ولاړه، تر اوسه هیڅ معلومات نشته، زید وفات شو او د وفات کیدو پر مهال زید یوې ښځي ته دا وصیت وکړی چي زما د هستوګني سرای او ټول سامان خرځ کړه، په مسجد یا څاه کي قیمت مصرف کړه، په دغه صورت کي د هندې د وړور او خور څه حق شته او که نه؟ او کلیوال دغه سرای په کرایه ورکوي، کرایه یې د خیر په کار کي مصرفوي، دا جائز دي او که نه؟ (۳۲/۱۷۳۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: په دغه معامله کي هغه کار کول په کار دي چي د شریعت سره سم وي، کومي ښځي ته چي زید وصیت کړی دی، باید دا د څو پوهانو په مشوره له کلیوالو څخه دغه سرای خرځ کړي، له قیمت څخه یوه دریمه په مسجد او نورو کي مصرف کړي او پاته دوې دریمي دي د زید د لادرکه ښځي او زوی لپاره کښیږدي. (۱) تر هغه وخته چي د هلک عمر دومره شي چي د ده همزولي مړه شي، د دې موده متأخرینو فقهاء شپیته یا اویا کاله عمر بیان کړی دی. (۲) که په دغه موده کي هغه هلک رانشي نو بیا ټولي روپۍ او نور په مسجد کي مصرفي کړي، د زید د ښځي هندې وړور او خور ته په دې کي هیڅ حق نشته او د کلیوالو په دې اړه دا انتظام کول چي په کرایه باندي ورکړي،

---

۱) وهو فی حق نفسه حی بالاستصحاب، هذا هو الاصل فیه، فلا ینکح عرسه غیره ولایقسم ماله الخ. [الدر المختار مع رد المحتار: ۳/۳۶۰ أوائل کتاب المفقود ط رشیدیه]

۲) ولایستحق ما أوصی له إذا مات الموصی بل یوقف قسطه إلی موت أقرانه فی بلده علی المذهب لأنه الغالب. قال فی الشامی: قوله: (علی المذهب) وقیل یقدر بتسعین سنة بتقدیم التاء من حین ولادته، واختاره في الکنز، وهو الارفق، هدایة وعلیه الفتوی، ذخیره، وقیل: بمائة وعشرین، واختار المتأخرون ستین سنة، واختار ابن الهمام سبعین، لقوله علیه الصلاة والسلام: اعمار امتي مابین الستین الی السبعین، فکانت المنتهی غالباً. [الدر المختار ورد المحتار کتاب المفقود، مطلب فی الإفتاء بمذهب مالک فی زوجة المفقود ط رشیدیه.]

ټوله کرایه یې د خیر په کار کې مصرف کړي، دا هم صحیح نه دي. فقط. والله تعالی أعلم.

د مرګ پر مهال ټول شیان مسجد ته ورکول

سوال: (۵۲) یو سړي چې د مرګ پر مهال وویل چې زما ټول ملکیت مسجد ته ورکړئ، آیا دا ټول مال به مسجد ته وقف بلل کیږي او له دې څخه وارثان اخیستلای شي او که نه؟ (۵۱۰/۱۳۴۲هـ)

جواب: دا وصیت بالوقف دی، لهذا په یو ثلث کې جاري کیږي او دوه ثلث د وارثانو دي. د شرعي برخو سره سم، اما که وارثان په ټول وقف راضي وي نو ټول وقف کیږي او د مسجد له اوقافو څخه شمیرل کیږي، آمدني به په مسجد کې مصرفیږي او که وارثان په ټول وقف راضي نه وي نو یو ثلث وقف ګرځي او دوه ثلث د وارثانو دي او تقسیموي به یې، د مسجد برخه به ورجلا کوي، قال في الشامی: رجل وقف دارا له في مرضه علی ثلاث بنات له الخ قال: الثلث من الدار وقف الخ قال الفقیه ابواللیث: هذا إذا لم یجزن، أما إذا أجزن صار الکل وقفا الخ. (۱) فقط. والله تعالی أعلم.

ناجوړه سړي خپله ځمکه د مسجد په نوم کړه نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۳) یو سړی به زیاتره ناجوړه و، همدا وخت خلګو د مسجد په نوم ځمکه په حکومت کې ولیکله او وارث هیڅوک ورسره نه و، دا سړی همدا وخت مړ شو، مګر د نوم کولو په وخت کې په صحیح هوښ کې و. (۲۰۴۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په یوه دریمه ترکه کې وصیت صحیح دی، وراثان که راضي وي او که نه وي. اما په زیاتوب کې د وارثانو رضاء ضروري ده نو دریمه د دغه

---

۱) رد المحتار: ۳۹۷/۳ کتاب الوقف، مطلب في وقف المریض ط رشیدیه.

ځمکې د مسجد په نوم وقف شوه، که له دې څخه پرته نوره ترکه نه وي. فقط والله تعالی أعلم.

مریض یو سړي ته روپۍ ورکړې او په بیلابیلو کارونو کې د مصرفول وصیت وکړ

سوال: (۵۴) یو سړی په مرض الموت کې نه سوه شپېته روپۍ حکم مولوي مسعود احمد صاحب ته ورولېږلې او ورته وې لیکل چې سل روپۍ د دیوبند مدرسې ته ورکړه او سل روپۍ د ګنګوه مدرسې ته ورکړه او په اوه سوه شپېته روپۍ دوه کسان حج ته ولېږه. د دغه سړي یو د ورور لمسی شته او څه جائیداد نور هم لري، اوس د دغه روپیو په اړه څه حکم دی؟ آیا په ټولو کې تصرف وکړي که په ثلث کې او حج مخکې کړي که مدرسې ته ورکول؟ (۳۲/۲۲۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: په دغه صورت کې نور جائیداد ورسره ملګري کړي، ثلث یې وګورئ چې څومره دی، په ثلث کې وصیت ادا کړئ او فرض حج مخکې کړئ، له دې وروسته که څه پاته شي، هغه د برخې په اندازه مدرسو ته ورکړئ او نفلي حج په وکړئ. في المحيط عن المنتقى: أوصى لرجل بألف وللمساكين بألف ولحجة الإسلام بألف والثلث الفان يقسم الثلث بينهم أثلاثا ثم تضاف حصة المساكين إلى الحجة فما فضل عن الحجة فللمساكين، لأن البداءة بالفرض أهم. (۱) (شامي دوهم ټوک، باب الحج عن الغير) فقط.

د مدرسې لپاره وصیت کول

سوال: (۵۵) یو سړي د یوې مدرسې لپاره وصیت وکړی نو ثابتیږي او که نه؟ (۳۲/۵۵۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: وصیت د مدرسې لپاره بې له معتبره شهادته نه ثابتیږي. فقط.

---

۱) رد المحتار: ۲/۲۶۹ كتاب الحج، قبيل باب الهدى ط رشيديه.

د دریمي نیمی مشر زوی ته او نیمی مدرسه ته د ورکولو وصیت کول

سوال: (۵۲) زید وصیت وکړی چي زما په مال کي د ثلث نیمی مشر زوی ته ورکړئ او نیمی فلانی مدرسي ته ورکړئ، نو دا جائز دي که پوره ثلث د مال مدرسي ته ورکړي؟ (۵۲۱/۱۳۴۳هـ)

جواب: د زوی لپاره وصیت باطل دی، إلا أن یجیزها الورثة (۱) او په مدرسه کي د ثلث نیمی ورکړئ فقط. والله تعالی أعلم

د وصیت روپی د خیر په کار کي لګولو پر ځای تجارت په کول او آمدني یې د خیر په کار کي لګول

سوال: (۵۷) یو سړي وصیت وکړی چي زما له مرګ وروسته پنځه زره روپی د خیر په کار کي ولګوئ، مصارف یې وښودل او د مصارفو شمیر یې هم بیان کړی، اوس که په دغه روپیو تجارت او نورو کړو آمدنی په دغه مصارفو کي لګول جائز ده او که نه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۹۷۳هـ)

جواب: د وصیت نافذیدو شرطونه که موجود شي، مثلاً دا چي موصي چي د پنځه زره روپیو د خیر په کار کي مصرفولو وصیت وکړي، هغه د ترکې تر ثلث زیاتي نه دي، نو دا روپی د وصیت کونکي د وصیت سره سمي په بیان کړیو مصارفو کي لګول په کار دي، تجارت په کول صحیح نه دي فقط. والله تعالی أعلم

د قضاء شویو لمونځونو او روژو د فدیې او د فرض حج ادا کولو وصیت کول واجب دي

سوال: (۵۸) هنده ناجوړه ده، دا وایي چي زما له زیوراتو او نور سامان یوه دریمه زما له

---

۱) لقوله علیه الصلاة والسلام: لا وصیة لوارث إلا أن یجیزه الورثة. [الدر مع الشامی: ۵/٤٦٤ کتاب الوصایا ط رشیدیه]

مرګ وروسته خیرات کړئ او د دریو میاشتو روژو او لمونځو کفاره ادا کړئ او په پاته مال زما له طرفه حج وکړئ، ګویا ټول مال د بیان شوي تفصیل سره سم د الله په لار کې مصرف کړئ، نو اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چې دا وصیت شرعًا د دې جائز دی او که نه؟ که په دریمه د مال کي وصیت نافذیږي نور پر وارثانو ویشل کیږي؟
(۱۳۳۵/۱۵۱۲هـ)

جواب: د لمونځونو او روژو د فدیې وصیت واجب دی په دې شرط چې پر دې به لمونځونه او روژې پاته وي او حج که پر دې فرض و نو د هغه وصیت هم ضروري دی نو له فدیې او حج ادا کولو وروسته چي څومره پاته شي، هغه وارثانو ته ورکړئ، په فرض حج او د لمانځه او روژې په فدیه کي که ټول مال هم مصرف شي نو مصرف یې کړئ (۱)
قال في الشامي: في البدائع: الوصية بما عليه من الفرائض والواجبات كالحج والزكاة والكفارات واجبة الخ. (۲)

د وصیت له ځینو روپیو څخه رجوع کول

سوال: (۵۹) هندي بې د خاوند له موجودیته وصیت وکړی چي څلور سوه روپۍ مدرسې ته ورکړئ، کله چي دې ته وویل چي څه کمې کړه نو یې یو نیم سل، بیا یې سل بیا یې دوه نیم سوه، بس بیا پر یو نیم سل ودریده، ځینو کسانو خطا کول وغوښت او د دوو سوو مشوره یې ورکړه، بیا یې د دوو سوو وصیت وکړی. لیکن بیا په یو نیم سل راضي شوه نو په دغه صورت کي به کوم وصیت منل کیږي؟ (۴۲/۳۲۰۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: په دغه صورت کي د یو نیم سلو روپیو وصیت صحیح او معتبر دی، په دې شرط

---

۱) صحیح قول دا دی چي د ترکې تر دریمه د لمانځه، روژې او فرض حج وصیت نافذیږي، په در مختار او شامي کي راغلي دي: ولو مات وعليه صلوات فائتة، وأوصى بالكفارة، يعطى لكل صلوة نصف صاع من برّ كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم، وإنما يعطى من ثلث ماله. [الدر] قوله: (يعطى)..... أى يعطى عنه وليّه: أى من له ولاية التصرف فى ماله بوصاية أو وراثة فيلزمه ذلک من الثلث إن أوصى. [الدر المختار والشامى: ۵٤۱/۱ كتاب الصلاة، باب قضاء الفوائت، مطلب في إسقاط الصلاة عن الميت ط رشيديه]

(۲) رد المحتار: ٤۵۸/۵ كتاب الوصايا ط رشيديه.

چي ټوله ترکه د دې لږ نه لږ څلور نیم سوه روپۍ وي او له یو نیم سل روپیو څخه پرته له نورو روپیو څخه چي کله وصیت کونکي رجوع وکړه نو رجوع د دې صحیح شوه. په در مختار کي راغلي دي: وله أی للموصی الرجوع عنها الخ. (۱) فقط. والله تعالی أعلم

له وصیت کولو وروسته بیرته باطلول صحیح دي

سؤال: (۲۰) یوې ښځي مرګ ته نژدې د غیر وارث لپاره وصیت وکړی چي کله جوړه شوه نو اوس هغه وصیت باطلول غواړي نو شرعًا دې ته دا اختیار شته او که نه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۲۲هـ)

جواب: دا حق دې ته شته په درمختار کتاب الوصیت کي راغلي دي: وله الرجوع عنها الخ. (۲) فقط. والله تعالی أعلم.

د وصیت پټونکي ګواهي نه قبلیږي

سؤال: (۲۱) که څوک له مرګ څخه مخکي د روغتیا په زمانه کي زید ته وصیت وکړی چي ته زما جائداد دا ډول تقسیم کړه، څه موده دی ژوندی و، وروسته وصیت کونکی وفات شو، د ده له مرګ وروسته زید هیڅ وصیت د ده په جائداد کي پر ځای نه کړی او پټوی یې، که ورته ووایي نو انکار هم کوي چي ما ته هیڅ وصیت نه دی کړی، لنډه دا چي د خپل نقصان په وجه دغه وصیت قصدًا پټوي نو د زید ګواهي شرعًا جائز ده او که نه؟ (۱۳۳۵/۲۰۸هـ)

جواب: زید چي کله قصدًا د مړي وصیت پټوي او پر هغه باندي له شریعت سره سم عمل کولو څخه انکار کوي ځکه دی فاسق دی، د ده ګواهي نه قبلیږي. فقط. والله تعالی أعلم

د ترکي د دریمي وصیت کولو مطلب

سؤال: (۲۲) د زید وصیت له ترکي څخه په یو ثلث کي مصرف کولو دی، د دې څه

---

۱) الدر مع الشامی: ٥/٤٦٥ کتاب الوصایا ط رشیدیه.

۲) الدر مع الشامی: ٥/٤٦٥ کتاب الوصایا ط رشیدیه.

مطلب دی؟ (۱۳۴۰/۴۱۵هـ)

جواب: مطلب له درو روپیو څخه یوه روپي مصرفول دي. فقط. والله تعالی أعلم.

که موصي له تر موصي مخکي مړ شو نو وصیت باطلیږي

سوال: (۲۳) زید د خالد سره پنځه سوه روپۍ د سود د اقرار سره اوه کاله کیږي جمع ایښي وې، او هر کال به د سود د نحساب پر مهال زید خالد ته د وصیت په توګه ویل چي که خدای مه کړه زه حج ته نه ولاړم نو دغه روپۍ زما پیر او مرشد مولوي محمد عمر صاحب ته ورولیږه، نژدې درې کاله کیږي چي کله مولوي محمد عمر صاحب ژوندی و، زید بیا داسي وویل. له دې وروسته مولوي محمد عمر صاحب چي په وصیت خبر نه و، وفات شو او د هغه له وفات څخه نژدې یو نیم کال وروسته زید موصي وفات شو او د مولوي محمد عمر په مرګ زید خبر نه و، د زید له وفات وروسته خالد د وضیت سره سم د مولوي محمد عمر صاحب په نوم خط ولیکی چي زما سره جمع روپیو په اړه زید ما ته وصیت کړی، ته دغه روپۍ یوسه، د مولوي محمد عمر صاحب وارثانو نه خالد ته په جواب کي ولیکل چي مولوي صاحب وفات شوی دی، د دریمي برخي مستحق جوړیږي، راوې لیږه نو په مسئوله صورت دي د مولوي محمد عمر صاحب وارثان د مال د دریمي شرعًا حقداران دي او که نه؟ او دوه ثلثه د زید حقیقي وارثان یعني وریرونه په میراث وړلای شي او که نه؟ (۱۳۳۹/۴۲۱هـ)

جواب: وصیت د تملیک بعد الموت نوم دی نو کله چي موصي له د موصي په ژوند کي وفات شو نو وصیت باطل شو، کما في الدر المختار: هی تملیک مضاف إلی ما بعد الموت الخ. (۱) وفي الشامي: حتی لو ماتوا (أی الموصی لهم) بطلت (الوصیة) الخ. (۲) لهذا په مسئوله صورت کي د مولوي محمد عمر صاحب وارثان د موصي د مال د دریمي حقداران نه دي او د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته ټول مال د زید د وارثانو دی. فقط. والله تعالی أعلم.

---

۱) الدر مع رد المحتار: ۴۵۸/۵ أوائل کتاب الوصایا ط رشیدیه.

۲) رد المحتار: ۴۷٦/۵ کتاب الوصایا، باب الوصیة بثلث المال ط رشیدیه.

كتاب الفرائض

د ميراث بيان

په شرعي طريقه د ميراث نه ويشلو ګناه

سوال: (۱) کوم سړی چي عالم وي خو بيا هم په آيت شريفه: "يوصيكم الله فى أولادكم" باندي عمل نه کوي، د هغه څه کم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۰۷۸هـ)

جواب: که په آيت کريمه: "يوصيكم الله فى أولادكم الآية" [النساء: ۱۱] بآندي د عمل نه کولو دا مطلب دی چي په شرعي طريقه ميراث نه تقسيموي نو دا د الله ﷻ ډيره غټه نافرماني ده او د عالم لپاره داسي کول ډير ناوړه او د فسق باعث دي، ځوک چي ميراث د شرعي حکم سره سم نه ويشي او لونو ته برخه نه ورکوي، هغه سخت ګنهکار او فاسق دی، له هغه څخه اړيکي ختمول ضروري دي. فقط.

جرګې چي د شرعي په خلاف کوم ويش کړی دی، هغه ته اعتبار نشته

سوال: (۲) زيد وفات شو، دوې ښځي او بچيان ځيني بالغ او ځيني نابالغ پاته شو، د جائداد د ويش لپاره جرګه وټاکل شوه، جرګې د خپلي رايي سره سم يوې ډلي ته کمه برخه او بلي ته زياته ورکړه، څه وخت پر همدې حال تير شو او دواړو ډلو په خپلو، خپلو برخو کي زياتوب وکړی، اوس نابالغان هم بالغان

شول او هره ډله دا غواړي چي هغه مخکني ويش مات کړو، په برابرو برخو بيا ويش وکړي، دا جائز دي او که نه؟ او جرګې چي کوم ويش کړی دی، هغه صحيح دی او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۷۹۲هـ)

جواب: د جرګې حکم د شرعي په خلاف نافذ نه دی او صحيح نه دی، دا به ماتوي، نو له شرعي برخو څخه کم او زياتوب کول د جرګې لپاره جائز نه و نو دغه مخکني ويش مات کړي، پر ټولو وارثانو باندې د شرعي برخو سره سم وويشي او کوم زياتوب او نور چي هري ډلي پخپله برخه کي کړی دی، د هغه هيڅ معاوضه پر هيچا لازمه نه ده. قال في الدر المختار: إلا ما خالف كتاباً.... أو سنة مشهورة.... أو إجماعا (إلى أن قال) لا ينفذ مطلقا [كتاب القضاء] (۱) وفي باب التحكيم منه: وشرطه من جهة المحكم.... صلاحيته للقضاء كما مر الخ. (۲) وفي الباب السابق: في قوله: والحاكم كالقاضي الخ. (۳)فقط. والله تعالى أعلم.

د حقوق مقدمه علی الميراث تفصيل

سوال: (۳) حقوق مقدمه علی الميراث څه ته وايي چي له کومو حقوقو وروسته ترکه وويشل شي؟ او خيرات کول په حقوق مقدمه علی الميراث کي داخل دي او که نه؟

جواب: حقوق مقدمه علی الميراث درې دي چي ادا کول يې د ترکې تر تقسيم مخکي دي: لومړی له ترکې څخه د تجهيز او تکفين مصرف وکړئ، له دې وروسته که پر مړي قرض شته (او د ښځي د مهر قرض ورباندي وي) نو هغه ادا کړئ، له دې وروسته که مړي وصيت کړی و نو د ترکې له يوې دريمي څخه هغه ادا کول په کار دي، له دې

---

۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۳۶۶/٤ كتاب القضاء، مطلب في الحكم بما خالف الكتاب أو السنة أو الإجماع ط رشيديه.

۲) الدر مع الرد: ۳۸٦/٤ كتاب القضاء، باب التحكيم ط رشيديه.

۳) الدر مع رد المحتار كتاب القضاء مطلب: طاعة الإمام واجبة ط رشيديه.

وروسته چې څه پاته شي، هغه پر وارثانو وویشي، (۱) او له مشترکې ترکې څخه د خیرات کولو حکم نشته، د ترکې له تقسیم وروسته چې هر وارث خومره وغواړي، له خپلې برخې څخه خیرات کولای شي، لنډه دا چې خیرات کول په حقوق مقدمه علی المیراث کې داخل نه دي. فقط. والله تعالی أعلم.

له ترکې څخه لومړی قرض ادا کړئ، بیا وصیت نافذ کړئ

سوال: (۴) څه فرمایي علماء د دین او مفتیان د شرع متین په دغه مسئله کې چې اسماعیل وفات شو، پنځه سوه روپۍ ورباندې قرض پاته شو او د خپلې عمه خاوند حسرت خان ته وصیت وکړی چې زما له جائداد څخه دریمه ته واخله، اوس د اسماعیل له جدائداد څخه لومړی قرض ادا کړو، که وصیت نافذ کړو؟ او که پر وارثانو وویشو؟ صفا، صفا د کتابونو د حوالو سره په عبارتونو، ترجمه او د نورو نامتو علماوو په دستخطونو او ټاپو ښائسته جواب راکړئ بینوا توجروا. (۱۳۳۰-۲۹/۳۲۳ھ)

جواب: په مسئوله صورت کې له تجهیز او تکفین وروسته لومړی د مړي قرض ادا کړئ، له هغه وروسته وصیت نافذ کړئ کما فی الدر المختار: وتؤخر عن الدین لتقدم حق العبد الخ. (۲) یعني وصیت تر قرض وروسته دی. والله أعلم بالصواب.

که د مړي قرض له ورثاء پرته نور خپلوان ادا کړي نو څه حکم دی؟

سوال: (۵) د عمر بچیان هم شته خو دی مقروض و چې وفات شو، د کور ټوله سامان د عمر بچیانو ته ورپاته شو، لیکن کوم قرض چې پر عمر و، هغه نه ادا کوي، که

---

۱) یبدأ من ترکة المیت الخالیة عن تعلق حق الغیر بعینها کالرهن والعبد والجانی .... بتجهیزه.... من غیر تقتیر ولا تبذیر.... ثم تقدم دیونه التی لها مطالب من جهة العباد ..... ثم تقدم وصیته ..... من ثلث ما بقی .... ثم ..... یقسم الباقی .... بین ورثته. [الدر مع الشامی: ۵/۵۳۵ کتاب الفرائض ط رشیدیه]

۲) الدر مع الشامی: ۵/٤٦١ کتاب الوصایا ط رشیدیه.

نور خپلوان وراره او نور دغه قرض ادا کړي نو د عمر غاړې په خلاصيږي او که نه؟ (۱۳۳۹/۵۷۷هـ)

جواب: د عمر له ترکې څخه لومړی د ده قرض ادا کول ضروري دي، له دې وروسته چې څه پاتـه شـي، د هغـه مالکـان د ده بچيـان کيـدلای شـي، کـه د عمـر وراره او نور د عمر قرض ادا کړي نو په دغه طريقه هم د عمر غاړې خلاصيږي. فقط. والله تعالی أعلم.

د مړي قرض که وارثان وبخښي نو معافيږي

سوال: (۲) پر زيد باندې د عمر قرض و، عمر وفات شو، که د ده وارثان معاف کړي نو معافيږي او که نه؟ او په آخرت کې خو به غاړې نه وي بندې؟ (۸۱۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د وارث په معافولو معافيږي او په آخرت کې غاړې خلاصيږي (۱) فقط.

د مړي قرض د موقوفه جائداد له آمدني څخه ادا کړو که له ناموقوفه جائداد څخه؟

سوال: (۷) يو سړی وفات شو او پخپله ژوند کې خپل جائداد چې ورباندې څه قرض هم و، پر اولاد باندې وقف کړې، د وقف پاڼه د حکومتي قانون سره سمه رسمي کړه، مګر د وقف په پاڼه کې د قرض په اړه هيڅ خبره نه ده ليکلې نو په داسې صورت کې آيا کوم قرض چې د وقف پر جائداد دی، هغه به د دغه وقف له آمدني څخه لومړی ادا کيږي او له دې وروسته به د وقف سره سم د منافعو د تقسيم او نورو عمل کيږي؟ له موقوفه جائداد څخه پرته څه منقوله او نامنقوله جائداد داسې هم د مړي پاتـه شوی دی چې له وقف څخه بيل دی او پر دغه متروکه جائداد باندې هم څه نا څه قرض شته، په داسې صورت مخکنی قرض چې پر متروکه جائداد دی، هغه به ادا کيږي، بيا به پاتـه متروکه جائداد پر وارثانو د دوی د شرعي برخو سره سم ويشل کيږي؟ يعني د متروکه

---

۱) دا حکم هغه وخت دی چې کله د قرض ورکونکي يو وارث او هغه هم بالغ وي. که څو کسه وارثان وي او ټول بالغ وي نو کوم وارث چې معاف کړي، د هغه حق معافيږي، د نورو وارثانو حق نه معافيږي، داغه راز په وارثانو کې که څوک نابالغ دي نو د هغه حق په معافولو نه معافيږي.

قرض به له متروکه څخه او د وقف قرض به د وقف له آمدني څخه ادا کیږي. که په دواړو کې چي له هر یو څخه وغواړي، ادا کولای شي؟ متروکه دومره نه دی چي د متروکه او وقف دواړو ټول قرض په ادا شي. (۱۳۳۷/۲۴۴۲هـ)

جواب: ټول قرض له هم هغه جائداد څخه ادا کیږي چي وقف نه دی او له وقف کړي جائداد له آمدني څخه قرض مه ادا کوئ، هغه به د وقف کونکي د شرط سره سمه ویشئ او د ناوقف کړي متروکه جائداد له آمدني څخه یا هغه خرڅ کړئ، د مړي ټول قرض په ادا کړئ، د قرض او نورو حقوقو مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته چي څه پاته شي، پر وارثانو باندي د خپلو برخو سره سم ویشل کیږي او که له دغه جائداد څخه ټولي قرضې ادا نه شوې، څه چي پاته شي، هغه د وقف جائداد په آمدني ادا کړئ. فقط

پر وارث باندي د اصل قرض ادا کول ضروري دي، د سود روپۍ ادا کول ضروري نه دي

سوال: (۸) یو سړي څه روپۍ بل چا ته په قرض ورکړې، لس کاله وروسته ده د اصلو روپیو او سود حساب ورسره وکړی، څه روپۍ یې ادا کړې او څه پاته دي چي مقروض مړ شو نو وارثان باید هغه روپۍ ادا کړي که څنګه؟ او که روپۍ غوښتونکی عارضه وکړي نو څه حکم دی؟ (۱۴۳۴-۳۳/۱۱۸۳هـ)

جواب: کله چي اصل روپۍ د قرض ادا شوې نو که وارثان د سود روپۍ نه ورکوي نو هیڅ پروا نه لري، بلکه په کومه حیله چي کیدلای شي، هغه مه ادا کوئ، لیکن که مدعي عارضه وکړي او وارث مجبور شي، ادا یې کړي نو په ورکولو نه دی ګناهکار. فقط والله تعالی أعلم

د مړي له ترکې څخه د امانت روپۍ اخیستل

سوال: (۹) خالد د خپل پلار باقر سره څه روپۍ په امانت کښېښودې، پلار هغه روپۍ استعمال کړې، وفات شو او دومره څمکه پاته شوه چي روپۍ ادا کیدلای شي، نو په داسي صورت کي پر وارثانو د روپیو ادا کول واجب دي او که نه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۵۹۷هـ)

جواب: دغه روپۍ د پلار له جائداد څخه ادا کول واجب دي. د ترکې تر تقسیم مخکې ادا کول په کار دي. فقط والله تعالی أعلم

سوال: (۱۰) که یو سړي د خپل زوی سره پنځه زره روپۍ امانت ایښي وې او زوی یې وفات شي، په وارثانو کې ښځه او پلار پاته شي نو پلار ته دا حق شته او که نه چې د زوی له ترکې څخه د امانت روپۍ واخلي؟ (۱۳۴۲/۲۹۴۹هـ)

جواب: قرض او د چا امانت او نور د ترکې تر تقسیم مخکې حقدار ته رسول ضروري دي، داغه راز ټول حقوق مقدمه علی المیراث د ترکې تر تقسیم مخکې ادا کول ضروري دي، نو پلار ته به د امانت روپۍ مخکې ورکول کیږي، قال الله تعالی: "إن الله یأمرکم أن تؤدوا الأمانات إلی أهلها" (النساء:۵۸) فقط.

پر خاوند چې د وفات شوي ښځې قرض دی، د هغه حقدار څوک دی؟

سوال: (۱۱) یو سړی وفات شو، بچیان یې نشته، ښځه د ده له ده څخه مخکې وفات شوې ده، وفات شوي سړي له خپل مرګ څخه مخکې د مسلمانانو مخته دا اقرار وکړی، وصیت یې وکړی چې پر ما باندې دومره قرض زما د ښځې دی چې امانت دی، د وفات شوي سړي یو ورارہ شته، د وفات شوي ښځې څلور وریرونه شته. په دغه صورت کې دا قرض د سړي د وارثانو دی، که د ښځې د وارثانو؟ (۸۱۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: څومره اقرار چې د قرض د وفات شوي ښځې لپاره وکړي. هغومره د ښځې د وارثانو دی او په وارثانو کې خاوند هم ورګډ دی او پاته ترکه د حقوقو مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته د نارینه د وارثانو ده، قال في الدر المختار: إقراره بدین لأجنبی نافذ من کل ماله... وأخر الإرث عنه الخ.[۱] فقط والله تعالی أعلم

۱) الدر المختار مع الشامي: ۵۱۳/٤ کتاب الإقرار، باب إقرار المریض ط رشیدیه.

د تجهیز اؤ تکفین مصرف او د ټولو قرضو ادا ینه د ترکې تر تقسیم مخکې دی

سوال: (۱۲) مولوي رشید احمد صاحب وفات شو، یو لور امة المنان، یوه ښځه فاطمه، دوه وریرونه محمود احمد او ناظر حسن، دوې وریرګاني امة الغني او امة الحبیب، یو اکا حافظ محمد خیراتي، دا کسان یې وارثان پاته شول، پر مولوي صاحب مرحوم باندې د خپلې ښځې فاطمې مهر، د سودا ګرو قرض او نور قرضونه او د قضاء شویو لمونځونو یو سل لس روپۍ فدیه واجب دي، مرحوم د فدیې وصیت کړی و، نو په داسې حال کې به د ده ترکه څه ډول تقسیمیږي؟ او بل دا چې د ده د تجهیز او تکفین مصرف او ناجوړۍ قرض د ترکې پر تقسیم مخکې دی او که نه؟ (۳۳/۷۱۴-۱۳۳۴ھ)

جواب: د تجهیز او تکفین مصرف دومره چې د سنت سره سم وي، بې له تبذیر او تقتیر د ترکې تر تقسیم مخکې دی، داغه راز د ښځې د مهر دین او نورو کسانو او د ناجوړۍ قرضې چې سبب یې معلوم وي او د لمونځونو فدیه کله چې مرحوم د هغو وصیت کړی دی:(۱) د ترکې تر تقسیم مخکې دی (۲) لنډه دا چې په دغه صورت کې د مولوي رشید احمد ترکه د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته شپاړلس برخې کیږي، دوې برخې د ده د

---

۱) صحیح قول دا دی چې د نورو وصیتونو په رنګه د فدیې وصیت هم د ترکې تر دریمه نافذیږي، لکه چې په درمختار او شامي کې راغلي دي: ولو مات وعليه صلوات فائتة، وأوصى بالكفارة، يعطى لكل صلوة نصف صاع من برّ كالفطرة وكذا حكم الوتر، والصوم، وإنما يعطى من ثلث ماله. [الدر] قوله: (يعطى)...... أى يعطى عنه وليّه: أى من له ولاية التصرف فى ماله بوصاية أو وراثة فيلزمه ذالک من الثلث إن أوصى. [الدر المختار والشامي: ۵٤۱/۱ كتاب، الصلاة، باب قضاء الفوائت، مطلب في إسقاط الصلاة عن الميت ط رشيديه]

(۲) يبدأ من تركة الميت الخالية عن تعلق حق الغير بعينها كالرهن والعبد والجانى... بتجهيزه... من غير تقتير ولا تبذير...ثم تقدم ديونه التى لها مطالب من جهة العباد، ويقدم دين الصحة على دين المرض إن جهل سببه... ثم تقدم وصيته..... من ثلث ما بقى .... ثم ..... يقسم الباقى..... بين ورثته. [الدر المختار مع الشامي: ۵۳۵/۵ كتاب الفرائض ط رشيديه]

بنځي فاطمې او اته برخي د ده د لور امة المنان، شپږ برخي د ده د دواړو وریرو محمود احمد او ناظر حسن یعني د هر وراره دري برخي دي، سکه اکا حافظ خیراتي او وریرګاني د مړي له ترکې څخه محروم دي فقط. والله تعالی أعلم

ورونه یا د دوی بچیان د خور برخه نشي خرڅولای

سوال: (۱۳) یو سړی وفات شو، د ده دوه زامن اکبر او اصغر او یوه لور کبری پاته شوه، مګر اکبر او اصغر په حکومت کې د پلار جائداد پخپل نامه کړی، د خپلې خور نوم یې پکې نه و اچاوه، اوس اکبر، اصغر او کبری درې سره وفات شوي دي، د اکبر او اصغر بچیان شته او د کبری بچیان هم، د کبری بچیان اکبر او اصغر له بچیانو څخه خپله برخه غواړي، پر دوی باندي ادا کول واجب دي او که نه؟ د اکبر او اصغر بچیان دغه ترکه خرڅول غواړي، خرڅولای یې شي او که نه؟ (۱۲۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: اکبر او اصغر هغومره اندازه ترکه خرڅولای شي چې شرعًا د دوی برخه جوړیږي، د کبری د برخي دوی مالکان نه دي او نه هغه خرڅولای شي او نه بیع د دې بې د کبری یا د دې د بچیانو له اجازې صحیح کیدلای شي. نو د اصغر او اکبر پر بچیانو لازم دي چې د کبری برخه د کبری بچیانو ته ورکړي، که نه د بندګانو په حق به غاړې بندي وي فقط

خویندو او لوڼو ته خپله برخه نه ورکول ډیر لوی ظلم دی

سوال: (۱۴) ځیني خلک وایي چې خویندو او لوڼو ته ځکه میراث نه دي ورکول په کار چې داسي نه چې په غیر کفو کې نکاح وکړي او مال یوسي، دا عذر شرعًا صحیح دی او که نه؟ (۱۷۲/۱۳۴۵هـ)

جواب: خویندو او لوڼو ته په دغه باطل خیال او فکر د میراث حق نه ورکول څرګند ظلم، ناجائز او حرام دی، دوی د خپلو برخو شرعًا مالکاني دي نو دوی ته د دوی حق نه ورکول شرعًا څرګند ظلم او جور دی فقط. والله تعالی أعلم

سوال: (۱۵) زید چې په کورنۍ کې تر اوسه شرعًا عمل نه و شوی، له همیشه څخه به خویندو له خپلو ورونو څخه د خپل حق غوښتنه نه کوله، بلکه پرې به ښودی، په همدې وجه زید د خپل جائداد په اړه په خپله ژوند کې دا قانوني فیصله وکړه او د خویندو په هکله په مخکني رواج عمل وکړی، ایا زید ګنهکار دی که غافل؟ (۴۹/۳۳۴۹-۱۳۴۷هـ)

جواب: له الهي احکامو څخه غفلت کول هم د ګناه باعث دي، لهذا که زید د خویندو او ښځو شرعي حق د خپل او خپل مورث له جائداد څخه ادا نه کړي او حقدارو ته حق ونه رسوي نو د بندګانو د حق په وجه به غاړي بندي وي او په دغه وجه دی ګنهکار او عاصي ګرځي، شرعي قانون پریښودل او د دنیا په قانون عمل کول او د همدې سره سم ژوند کول سخت ناوړه او منع دی او د آخرت د وبال باعث دی. فقط.

سوال: (۱۲) کوم خلک چې خویندو ته میراث نه ورکوي او دا عذر بیانوي چې مورږ خو مخکې هندوان و، زموږ مشران مسلمانان شول، ځکه په موږ کې د هندوانو دا رواج راروان دی چې ورونه وي نو خویندي او چې زامن وي نو لوڼې په میراث کې حق نه لري، په واده کې کالي، جیز او نور شیان ورکول کیږي، آیا شرعًا خویندي او لوڼې په ترکه کې حق لري او که نه؟ او کوم خلک چې د دوی په حق ساقطولو کې کوښښ کوي، وکیلان او ګواهان، د هغو په اړه څه حکم دی؟ د داسې خلکو سره خبري، سلام او ناسته پاسته کول جائز دي او که نه؟ (۱۳۳۷/۲۲۹۸ھ)

جواب: د ښځو چې کوم حق د میراث الله پاک مقرر کړی دی، هغه څوک نشي باطلولای، او کوم خلک چې د دې په مقابل رواج رامخته کوي، د ښځو حق باطلول غواړي، هغه سخت ګنهکاران دي او بیان شوی عذر د دوی باطل دی او د دوی په سړو، سړو عذرونو او سپکو تأویلونو د لوڼو حق نه ساقطیږي، بې له دا د اسلام له حقوقو څخه دي چې کوم خلک د ښځو حق باطلوي او د هندوانو په رواج رامخکې کولو کې کوښښ کوي، د هغو سره خبري او سلام بند کړئ او د دوی په غم او ښادي کې برخه مه اخلئ، تر څو دوی عبرت حاصل کړي او پر دغه ناوړه عمل پښیمان شي. فقط. والله تعالی أعلم

پخپل ژوند کې جائداد تقسیمول او ښځه او لوڼو ته څه نه ورکول

سوال: (۱۷) زید په خپل ژوند کې ټول جائداد خالد او بکر ته برابر ور تقسیم کړی، لوڼو او ښځه ته هیڅ برخه ورنه کړه، اوس د زید له مرګ وروسته د زید لوڼې او ښځه د زید په جائداد کې د خپلو برخو غوښتنه د زید له دواړو زامنو څخه کوي، کومو ته چې زید تر مرګ مخکې د جائداد قبضه ورکوله شوې ده، په دغه صورت کې شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۵۵۰ھ)

جواب: دا فعل د زید چي نارینه اولاد ته ټول جائداد ورکړي او زنانه اولاد او ښځه ته هیڅ شی ورنه کړي، ظلم او معصیت دی (۱) لیکن د دې هر څه سره د احنافو مذهب دا دی چي مورث چي پخپل ژوند کي چا ته څه ورکړو هغه یې مالک شو، نور په دې هیڅ دعوی نشي کولای، کما فی الدر المختار: ولو وهب فی صحته کل المال للولد جاز وأثم الخ (۲) مګر دا هغه وخت دی چي د هبې د صحیح کیدو او نافذیدو شرائط موجود شي، مثلاً زید چي دواړو زامنو ته کوم جائداد ورکړی، هغه یې ور وویشی، جلا، جلا یې نیم نیم هر زوی ته هبه کړی او که یو ځای دواړو ته په قبضه کي ورکړی وي، بې له ویشلو نو داسي هبه د مشاع کیدو په وجه باطله ده او نه نافذیږي، په دغه صورت کي د زید ټولو وارثانو ته شرعي برخي له ترکې څخه ملاویږي او د لوڼو او ښځي دعوی صحیح کیږي. هکذا فی الدر المختار: ولو سلمه شائعا لایملکه الخ وفی الشامی: قال فی الفتاوی الخیریة: ولا تفید الملک فی ظاهر الروایة الخ وکما یکون للواهب الرجوع فیها یکون لوارثه بعد موته لکونها مستحقة الرد الخ. (۳) [شامي: ۵۱۱/٤] فقط.

په کوم وطن کي چي بې له په حکومت کي لیکلو لوڼو ته میراث نه ورکول کیږي، هلته په حکومت کي لیکل ضروري دي

سوال: (۱۸) په پنجاب کي ښځو ته میراث نه ورکول کیږي، که د انجلی پلار په حکومت کي ورولیکي چي زما جائداد دي د شرعي سره سم وویشل شي نو د شرعي

---

۱) عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: ألک بنون سواه؟ قال نعم، قال: فکلهم أعطیت مثل هذا؟ قال: لا، قال: فلا أشهد علی جور. [الصحیح لمسلم: ۳۷/۲، کتاب الهبات، باب کراهة التفضیل بعض الأولاد فی الهبة]

۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۵۷۳/٤ کتاب الهبة ط رشیدیه.

۳) الدر المختار مع رد المحتار: ۵۷۰/٤ کتاب الهبة ط رشیدیه.

سره سم ويشل کيږي نو پر داسي چا په حکومت کي داسي ورليکل فرض دي او که نه؟
(۱۳۳۹/۴۷۰هـ)

جواب: په دغه صورت کي په حکومت کي ورليکل پر ده ضروري دي. فقط والله تعالى أعلم

"د پلار له ترکې څخه برخه نه اخلم" په داسي وينا د خور حق نه ساقطيږي

سوال: (۱۹) زينبي خپل ورور زيد ته وويل چي زه له تا څخه د پلار په ترکه کي برخه نه اخلم نو په دغه وينا د زينبي برخه ساقطه شوه که د اخيستلو حق لري؟
(۱۳۳۵/۱۲۸۹هـ)

جواب: په دغه وينا د زينبي برخه د پلار له ميراث څخه ساقطه نه شوه، دا خپله برخه اخيستلای شي، كذا في الأشباه والنظائر. (۱) فقط والله تعالى أعلم

د خويندو په پريښودلو د دوی حق نه ساقطيږي

سوال: (۲۰) هندي خپله برخه د پلار له ترکې څخه دوو ورونو او مور ته پريښوده، په دې شرط چي هميشه به هنده ته د کاله دري سوه روپۍ ورکوي

(الف) دا پريښودل دي که صلح؟

(ب) او د بالعوض پريښودلو شرعي حکم څه دی؟

(ج) که صلح شي نو د بدل د جهالت په وجه فساد راځي او که نه؟

---

۱) لو قال الوارث: تركت حقي لم يبطل حقه، إذ الملك لا يبطل بالترك الخ قوله: "لو قال الوارث: تركت حقي الخ" إعلم أن الإعراض عن الملك أو حق الملك ضابطة أنه إن كان ملكا لازما لم يبطل بذالك، كما لو مات عن ابنين فقال أحدهما: تركت نصيبي من الميراث لم يبطل، لأنه لازم لا يترك بالترك (إلى أن قال) وفيه التصريح بأن إبراء الوارث من إرثه في الأعيان لايصح، وقد صرحوا بأن الإبراء من الأعيان لاتصح الخ (الأشباه مع شرح الحموي: ۳/۵۳-۵٤، الفن الثالث: وهو فن الجمع والفرق، ما يقبل الإسقاط من الحقوق وما لا يقبله الخ)

(د) او که هبه سي نو هبه د مشاع به وي او که نه؟

(هـ) مطلقًا داسي ويل چي ما له خپلي برخي لاس واخيستی او په دې کي چي د فلاني او فلاني په هکله مي لاس ځني واخيستی، شرعًا څه فرق دی؟ (۵۹۲/۱۳۴۲هـ)

جواب: (الف) قال فی الأشباه والنظائر: لو قال الوارث: ترکت حقی لم یبطل حقه، إذ الملک لا یبطل بالترک الخ، وفی شرحه للحموی: قوله: (لو قال الوارث: ترکت حقی الخ) اعلم أن الاعراض عن الملک او حق الملک ضابطة أنه إن کان ملکا لازما لم یبطل کذالک کما لو مات عن ابنین، فقال احدهما: ترکت نصیبی من المیراث لم یبطل، لأنه لازم لا یترک بالترک بل إن کان عینا فلا بد من التملیک، وإن کان دینا فلا بد من الإبراء الخ (۱) نو لاس اخيستل په معنی د ميراث حق پريښودل د مجهولو روپيو په عوض دي، ځکه چي ټول مقدار د عوض معلوم نه دی او ښځه هغه رنګه د خپلي برخي مالکه ده، ځکه چي ميراث اختياري نه اضطراري دی، کما فی الدر المختار، کتاب الفرائض، والثالث: اما اختیاری وهو الوصیة أو اضطراری وهو المیراث (۲) نو که کوم وارث له خپلي برخي څخه لاس واخلي يا دا ووايي چي زه د خپلي شرعي برخي وارث نه يم يا نه جوړيدل غواړم نو دی مالک دی او د ده حق او برخه په ترکه کي شته نو دې ته صلح وو ايه يا هبه بالعوض، په هر صورت ناجائز او غير نافذه دی چي د صلح کيدو په صورت د عوض د مجهول والي په وجه ناجائز شوه او د هبه په صورت کي د هبې د مشاع کيدو په وجه او داغه راز د عوض د نامعلوموالي په وجه باطله شوه او د ښځي دا وينا چي ما له خپلي برخي څخه لاس واخيستی يا مي د فلاني او فلاني په هکله پريښودو برابره ده او په هر حال کي لاس اخيستنه او پريښودنه صحيح نه ده او شرعي برخه نه په ساقطيږي فقط. والله تعالی أعلم

---

۱) الأشباه والنظائر مع شرح الحموی: ۵۳/۳، الفن الثالث: وهو فن الجمع والفرق، ما یقبل الإسقاط من الحقوق وما لا یقبله الخ.

۲) الدر مع الرد: ۵/۵۳٤ أوائل کتاب الفرائض ط رشیدیه.

سوال: (۲۱) عمر وفات شو، پنځه لوڼې درې زامن يې پاته شول، خويندو خپله برخه پرېښوده يعني لاس يې ځنې واخيستی نو دا صحيح دي او که نه؟ او وروڼه د انجونو د دغه برخو مالکان شول او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۱۹۴هـ)

جواب: دغه پرېښودل چې د خويندو د وروڼو په هکله راغلي دي، صحيح نه دي، بلکه خويندې اوس هم د خپلو برخو خاوندانې دي او له دوی وروسته د دوی د وارثانو ملک دی، په اشباه ونظائر کې راغلي دي: بأن إبراء الوارث من إرثه فى الأعيان لايصح الخ.(۱)

سوال: (۲۲) يو سړی وفات شو، څو هلکان او انجونې پاته شول، وروڼه په خويندو باندې د خپلو برخو پرېښودلو په اړه سند وليکی او هلکانو يوازې قبضه پر جائداد وکړه، په سند ليکلو د خويندو حق ساقط شو او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۳۰هـ)

جواب: د پرېښودلو په سند ليکلو د انجونو حق ساقط نه شو، دوی اوس هم د خپلو برخو مالکانې دي، اما د صلح په توګه د څه عوض په بدل خپل حق د ميراث پرېښودلای شي. فقط والله تعالی أعلم

په ځان وژلو کوم وارث له ميراث څخه نه محروميږي

سوال: (۲۳) يو سړي ځان مړ کړی، د ده وارث به ميراث وړي او که نه؟ يو سلفي فتوی ورکړې ده چې ده خو ځان مړ کړی، ځکه دی کافر شو، د ده وارثان ميراث نشي وړلای؟ (۱۳۳۸/۱۹۵۲هـ)

جواب: په ځان وژلو کوم وارث له ميراث څخه نه محروميږي، مسئله دا ده چې که بل (يعني وارث) قاتل وايي نو هغه له ميراث څخه محروم ګرځيدی او کله چې کوم وارث قاتل نشته نو دی څنګه محروميدلای شي؟ او د سلفي فتوی غلطه ده. فقط

---

۱) شرح الحموى على الأشباه والنظائر:۳/٥٤، الفن الثالث وهو فن الجمع والفرق، ما يقبل الإسقاط من الحقوق وما لايقبله.

د جهیز ورکولو په وجه انجلۍ د پلار له میراث څخه نه محرومیږي

سوال: (۲۴) انجلۍ ته چې په واده کې د پلار له کوره کوم سامان ورکول کیږي، د هغه په وجه د پلار له مرګ وروسته د پلار له ترکې څخه محرومیږي او که نه؟ (۱۳۴۳/۱۰۵هـ)

جواب: په پورتني صورت کې د جهیز په وجه چې د واده په وخت ورکول کیږي، د پلار تر مرګ وروسته له میراث څخه نه محرومیږي، ځکه چې میراث یو اضطراري شی دی چې مرګ وروسته ظاهریږي. کما فی الدر المختار: أو اضطراری وهو المیراث. (۱) او کوم مال چې د جهیز په توګه د واده پر وخت ورکول کیږي، هغه د انجلۍ ملک ګرځي، د پلار او د دې یعني انجلۍ تر مرګ وروسته کوم وارث ته د بیرته راګرځولو حق نشته کما فی الدرالمختار: جهز ابنته بجهاز وسلّمها ذالک، لیس له الإسترداد منها ولا لورثته بعده إن سلّمها ذالک فی صحته بل تختص به، و به یفتی. (۲) د نزاع او اختلاف په صورت که پلار د عاریت په دعوی میراث وبولي او ښځه یا د دې له مرګ وروسته د دې خاوند د تملیک دعوی وکړي نو د ښځې او د دې د خاوند قول معتبر دی. کما فی الدرالمختار: جهز ابنته ثم ادعی أن ما دفعه لها عاریة وقالت: هو تملیک أو قال الزوج ذالک بعد موتها لیرث منه، وقال الأب أو ورثته بعد موته: عاریة؛ فالمعتمد أن القول للزوج ولها الخ. (۳) فقط. والله تعالی أعلم.

که یې د میراث په نیت انجونو ته جهیز ورکړی وي، بیا هم د دوی د میراث حق نه ساقطیږي

---

۱) الدر مع الرد: ٥/٥٣٤ أوائل کتاب الفرائض ط رشیدیه.

۲) الدر المختار مع الشامی: ۲/۳۹۷ کتاب النکاح، باب المهر، مطلب: أنفق علی معتدة الغیر ط رشیدیه.

۳) الدر المختار مع رد المحتار: ۲/۳۹۷ کتاب النکاح، باب المهر، مطلب: أنفق علی معتدة الغیر ط رشیدیه.

سوال: (۲۵) لوڼو ته د دې وطن د رواج په وجه شرعي میراث نه ورکول کیږي، که زید لوڼو ته جهیز د شرعي میراث په نیت ورکړی نو میراث شرعًا ادا بلل کیږي او که نه؟ (۱۳۴۵/۱۵۱۳هـ)

جواب: په دې سره شرعي میراث نه ادا کیږي او نه په دې سره د لوڼو د میراث حق ساقطیږي، د مورث له وفات وروسته دوی د خپلو برخو په اندازه حق لري فقط والله تعالی أعلم.

د اعلی جد (ور نیکه) له ترکې څخه لوڼو او خویندو ته برخې نه دي ورکول شوي نو اوس به د غاړي خلاصولو څه صورت وي؟

سوال: (۲۶) حکومت زموږ له نیکه څخه پوښتنه کړې وه چې ته رواج قبلوې که شریعت؟ نیکه د جهالت په وجه رواج قبول کړی، اوس چې موږ ته په قرآن شریف کې د خویندو او لوڼو حق معلوم شو نو پښیمان او نادم یو او دا راته نه معلومیږي چې موږ په دغه جائداد کې د څومره برخې مالکان یو نو د غاړې خلاصولو کوم صورت راته ولیکئ. (۱۳۳۴-۳۳/۵۰۱هـ)

جواب: د بندګانو له حقوقو څخه د غاړې خلاصولو صورت دا دی چې پورته ټول وارثان معلوم کړئ، د ور نیکه ترکه د ده پر ټولو وارثانو وویشئ، بیا د هر یوه برخه هغه ته یا د هغه بچیانو ته ورکړئ او څومره چې مو خوړلي ده، د هغه معافي ځني واخلئ. فقط.

که خویندو له ورڼو څخه نقدي روپۍ واخیستې، نور جائداد یې ورپریښودی نو....

سوال: (۲۷) یو سړی وفات شو، دري زامن دوې لوڼې پاتې شوې، زامنو د ټول جائداد او ترکې په عوض خویندو ته څه نقدي روپۍ ورکړې چې تاسو خپل حق وبخښئ، خویندو وبخښی، اوس یې د خویندو بچیان غواړي چې موږ ته زموږ د مور برخه راکړئ، په دغه صورت کې یې اخیستلای شي او که نه؟ (۱۳۴۳/۱۱۴۴هـ)

جواب: دغه صورت چي ورونو وکړی، د تخارج او صلح دی، له دې وروسته د خویندو بچیان د میراث دعوی نشي کولای او نه د غوښتني حق لري، په در مختار کي راغلي دي: أخرجت الورثة أحدهم عن التركة وهى عرض أو هى عقار بمال أعطاه له، أو اخرجوه عن تركة هى ذهب بفضة، دفعوها له أو على العكس الخ صحّ فى الكل صرفا للجنس بخلاف جنسه، قل ما أعطوه أو كثر الخ. (۱) [درمختار] فقط. والله تعالى أعلم

د مورث په ژوند کي وارث د میراث غوښتنه نشي کولای

سوال: (۲۸) دوه ورونه دي د پلار تر مرګ وروسته مشر ورور د کشر ورور پالنه وکړه، واده او نور یې هم ورو کړه، پخپله ګټه باندي، پلار چي مړ شو، هیڅ ترکه یې نه ده پاته شوې، کشر ورور چي واده وکړی، جلا شو، دیرش څلویښت کاله وشول، په دغه موده کي کشر ورور درې ودونه نور وکړه، لیکن د ده بچیان نشته او د مشر ورور یې بچیان شته، اوس څو ورځي کیږي چي کشر ورور خپلي ټولي ښځي طلاقي کړې او له بې کاره خلکو سره شراب او نور ناوړه اعمال شروع کړل او څو مره چي یې ګټلي دي، د هغو د بربادولو خیال یې دی، په دې فکر چي زما له مرګ وروسته زما مشر ورور مالک جوړیږي نو په ژوند کي مشر ورور د کشر ورور د نیم جائداد حقدار دی او که نه؟

(۱۳۴۷-۴۲/۲۰۶۲هـ)

جواب: کشر ورور چي تر څو ژوندی دی، تر هغو د خپل جائداد خپله مالک او واکمن دی، د مشر ورور د ده په ملک کي هیڅ حق او برخه د ده په ژوند کي نشته فقط والله تعالى أعلم

سوال: (۲۹) د مور او پلار په ژوند کي د پلار بې اجازې زامنو ته د جائداد ویشلو حق شرعًا شته او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۴۳هـ)

جواب: د مورث په ژوند کي وارثانو ته د جائداد ویشلو هیڅ حق نشته

---

۱) الدر المختار مع الشامي: ٥٣٦/٤ كتاب الصلح، فصل فى التخارج ط رشيديه.

په ژوند کي د جائداد تقسيمولو طريقه

سوال: (۳۰) پخپل ژوند کي که څوک جائداد ويشل غواړي نو څه ډول وکړي، لکه چي تر مرګ وروسته دي که څه ډول؟ (۱۳۳۷/۱۲۲۸هـ)

جواب: په دې کي دوه قوله دي چي داسي تقسيم کړي لکه تر مرګ وروسته، هذا عند محمد رحمه الله، برابر يې وويشي، هذا عند أبي يوسف رحمه الله او صاحب د درمختار هم پر همدې باندي فتوی ليکلې ده: ليسوى بينهم يعطى البنت كالابن عند الثاني وعليه الفتوى (۱) فقط والله تعالى أعلم (۲)

ځينو بچيانو ته زيات او ځينو ته کم ورکول

سوال: (۳۱) پخپل ژوند کي ځينو زامنو ته کم او ځينو ته زيات له خپل جائداد څخه ورکول څه حکم لري؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۴۳هـ)

جواب: ځينو بچيانو ته کم او ځينو ته زيات ورکول بې له کومي خاص وجي بد کار دی او ګناه ده، په حديث شريف کي راغلي دي چي دا ظلم دی. (۳) د دې هر څه سره که پلار څوک د کم او څوک د زيات مالک کړي او سمه هبه ورته وکړي نو هغه يې مالکان

---

۱) وفي الشامي: قول: (وعليه الفتوى) أى على قول أبي يوسف: من أن التنصيف بين الذكر والأنثى أفضل من التثليث الذى هو قول محمد. رملي [الدر المختار ورد المحتار: ٥٧٣/٤، كتاب الهبة ط رشيديه]

۲) د حضرت مفتي صاحب رحمه الله فتوی صحيح ده، ليکن زما په نيمګړي فکر کي د صاحبينو رحمهما الله د اقوالو د تطبيق يو صورت راځي او هغه دا دی چي که کوم څوک پخپل ژوند کي د مرګ تر تصور مخکي اولاد ته کوم شی هبه کړي نو په هغه صورت کي د امام ابو يوسف رحمه الله قول راجح دی، لأن مفاد الحديث هو هذا. او که تر مرګ مخکي د اولاد د ترکې له جګړې څخه د بچ کولو لپاره جائداد او نور هبه کړي نو په دغه صورت کي د امام محمد رحمه الله قول راجح دی والله أعلم [سعيد احمد پالن پوري]

۳) عن النعمان بن بشير رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ألك بنون سواه؟ قال نعم، قال: فلكهم أعطيت مثل هذا؟ قال لا، قال: فلا أشهد على جور. [الصحيح لمسلم: ۳۷/۲، كتاب الهبات، باب كراهة تفضيل بعض الأولاد في الهبة.]

ګرځي، په درمختار او شامي کي راغلي دي چي که بل ته ضرر رسول مقصود نه وي نو يو ته زيات ورکول صحيح دي او که بل ته ضرر رسول مقصود وي نو کمبود او زياتوب منع دي. (۱) فقط. والله تعالی أعلم

يوه ښځه پخپل ژوند کي خپل جائداد پر لمسيانو او خوريانو ويشل غواړي نو څنګه وکړي؟

سوال: (۳۲) بي بي مفيد النساء پخپل ژوند کي خپله ترکه علی حسب فرائض الله پر وارثانو تقسيمول غواړي او وارثان يې دا دي: څلور لمسيان (د لوڼو زامن) چي مياندي يې وفات شوي دي او دري خوريان، نو د خوريانو برخي څومره دي؟
(۱۳۳۷/۵۸۷هـ)

جواب: که قريبان د دې همدغه بيان شوي دي، يعني څلور لمسيان او دري خوريان نو په دوی کي وارثان صرف لمسيان دي، د لمسيانو په موجوديت کي خوريان محروم دي، کذا في السراجي. (۲) نو که دا وفات شي او همدغه کسان پاته وي نو وارثان به صرف لمسيان وي، خوريان وارثان نه جوړيږي، ليکن که دا د خوريانو لپاره څه وصيت وکړي نو تر دريمه نافذيږي او داغه راز که خوريانو ته څه مال د دوی د اړتيا په وجه پخپل ژوند کي ورکړي نو دا هم صحيح دي، يعني که داسي وکړي چي دريمه د مال

---

١) وفي الخانية: لا بأس بتفضيل بعض الأولاد في المحبة لأنها عمل القلب وكذا في العطايا إن لم يقصد به الإضرار وإن قصده يسوى بينهم، يعطى البنت كالإبن عند الثاني وعليه الفتوى. [الدرالمختار مع رد المحتار: ٥٧٣/٤، كتاب الهبة ط رشيديه.]

(٢) وذوو الأرحام أصناف أربعة: الصنف الأول ينتمي إلى الميت وهم أولاد البنات.... والصنف الثالث ينتمي إلى أبوى الميّت وهم أولاد الأخوات وبنات الإخوة.... وروى أبويوسف والحسن بن زياد عن أبي حنيفة وابن سماعة عن محمد بن الحسن عن أبي رحنيفة رحمه الله: إن أقرب الأصناف الصنف الأول ثم الثاني ثم الثالث ثم الرابع كترتيب العصبات وهو المأخوذ به. [السراجي في الميراث، ص:٥٦-٥٧، باب ذوى الأرحام]

خوریانو ته ورکړي یا وصیت وکړي او پاته دوې دریمې برابري پر لمسیانو تقسیم کړي نو هیڅ پروا نه لري او غاړي نه بندیږي. فقط والله تعالی أعلم

د مورث په ژوند کې که کوم وارث خپله برخه نورو وارثانو ته ورکړي او مورث یې پر نورو وارثانو تقسیم کړي نو جائز دی

سوال: (۳۳) یو دوه وارثان خپله برخه نه غواړي، نورو وارثانو ته په ورکولو راضي دي، مورث داغه رنګه تتسیم ولیکی، په داسي حال کي مورث ګناهکار دی او که نه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۹۰۲هـ)

جواب: که یو دوه وارثان خپله برخه نورو وارثانو ته ورکړي او پخپله یې وانه خلي نو دا هم جائز دی، پر مورث باندي هیڅ ګناه نشته فقط. والله تعالی أعلم

د ښځي له وفات وروسته د خاوند ورکړیو زیوراتو حقدار څوک دی؟

سوال: (۳۴) له نکاح وروسته چي خاوند ښځي ته کوم زیور، جامې او نور شیان ورکوي، د ښځي له وفات وروسته داسي زیور، کپړې او نور د ښځي ترکه ګرځي او د دې پر وارثانو د شرعي برخو سره سم ویشل کیږي او که نه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۹۸هـ)

جواب: کوم زیور چي خاوند ښځي ته ورکړي دي، که یې په مهر کي ورکړي دي، یا یې ورهبه کړي دي، بیا خو هغه د زوجې ملک شو او د ښځي له وفات وروسته خاوند هغه بیرته نشي اخیستلای، بلکي د ښځي پر وارثانو به دا زیور د شرعي برخو سره سم ویشل کیږي او خاوند ته به هم د ده د شرعي برخي سره سم ورکول کیږي او که خاوند دغه زیور ښځي ته په مهر کي نه و ورکړي او نه یې ورهبه کړي و، بلکي په عاریت باندي یې ورکړي و نو خاوند یې د دې له وفات وروسته اخیستلای شي. فقط والله تعالی أعلم

د ښځي له وفات وروسته د مور او پلار د ورکړيو زيوراتو حقدار څوک دی؟

سوال: (۳۵) د جيز زيورات چي مور او پلار، وفات شوي ته ورکړي و، د دې له وفات وروسته خاوند بيرته اخيستل غواړي، حال دا چي خاوند نه پر دې پوښتنه کوله او نه يې کومه دوا دارو په کړې دي، له ډيري مودې راهيسي د پلار کره وه، خاوند نفقه يو مخ نه ورکوله، زيور اخيستل غواړي نو څه حکم دی؟ (۳۰۰/۲۹-۱۳۳۰ھ)

جواب: د جيز زيورات يعني چي مور او پلار يې لور ته ورکوي، د دې ملک گرځي، خاوند په هيڅ حال کي د دغه زيور د ملک دعوی نشي کولای، اما د ښځي تر مرگ وروسته

د خاوند هم پکي برخه شته او هندې خاوند په وجه د پوښتني نه کولو او نفقه نه ورکولو گنهکار دی. فقط. والله تعالی أعلم

وفات شوي چي پخپل ژوند کي کوم وارث ته کوم سامان ورکړي، هغه په ترکه کي شامليږي او که نه؟

سوال: (۳۶) څه فرمايي علماء د دين په دغه مسئله کي چي سيد احمد بن محمد شيخ وفات شو، په وارثانو کي دوه زامن اسماعيل د يويشت کلونو بل يوسف عمر د پنځو کلونو او دوې لوڼي يوه د يوولسو کلونو او بله د نهو کلونو او يوه ښځه عائشه پاته شول، مرحوم سيد احمد په خپل ژوند کي يوه د وصيت پاڼه ليکلې ده، په هغه کي ليکلي دي چي زما وارثان دي زما وروسته د محمدي ﷺ شرعي سره سم ميراث تقسيم کړي.

(۱) اوس پوښتنه دا ده چي مرحوم سيد احمد په خپل ژوند کي د خپل مشر زوی اسماعيل په نوم لايسنس اخيستی و، پخپلو روپيو باندي دوکان خلاص کړی و او په دغه تجارت کي يو شريک احمد چي هم ورسره و، مگر د شريک يې صرف خواري وه، پيسې يې نه وې او اسماعيل په دغه دوکان کي يو مخ کار نه کاوه، بلکه اسکول ته تلی، څو ورځي وروسته مرحوم تجارت ختم کړی او په گټه کي يې شريک ته خپله برخه ورکړه او هغه بله برخه په همدغه دفتر کي جمع وه چي پکي د همدغه دوکان حساب ليکي او د وصيت په پاڼه کي د

دې هیڅ یادونه نشته چې دا برخه زما ده که د اسماعیل. نو دا برخه به د چا وي؟ که د اسماعیل وي نو ده ته به یې ورکړو او که د سید احمد وي نو د ده پر وارثانو به یې تقسیم کړو.

(۲) داغه راز مرحوم د اسماعیل په واده کې ډیر مصرف وکړی او د ده ښځې ته یې زیور او جامې ورکړې، مګر دا یې نه دي ویلي چې دا زه هبه ورکوم او نه پر دې باندي کوم ګواه شته نو شرعًا د دې څه حکم دی؟ د مرحوم په ترکه کې به دغه زیور شمیرو چې پر وارثانو باندې یې تقسیم کړو، که به د اسماعیل د ښځې وي؟

(۳) داغه راز مرحوم خپلو دوارو لونو ته هم زیورات او جامې پخپلو روپیو وروا خیستو چې دا وخت د دغه نابالغو نجونو سره دي، د دې د ورکولو پر مهال یې هم څه نه دي ویلي چې دا مې تاسو ته درکړو یا یې صرف د استعمال لپاره درکوم. بیا یې بیرته درڅخه اخلم نو د دې څه حکم دی؟

(۴) داغه رنګه د مرحوم سید احمد صاحب ښځه عائشه دا د ده دریمه ښځه ده یعني د ده ټولي درې ښځې شوي دي، دوې خو د ده په ژوند کې مړې شوې او دریمه د ده له مرګ څخه دوې میاشتي وروسته وفات شوه، له لومړۍ ښځې څخه یو زوی محمد اسماعیل او له دوهمې څخه دوې لوڼي حواء، فاطمه او له دریمي څخه یو زوی یوسف، دې ته هم تر نکاح مخکې په کوزده کې یو د سپینو زرو او یو د سرو زرو زیور ورکړي او له نکاح وروسته د یو سل اته ویشت روپیو مهر سره د شپږ کاله په موده کې نور زیورات او جوړې ورکړو، دا ټول به د دغه ښځې سره و، داغه راز د نکاح پر مهال او وروسته تر نکاح به په ودونو او اخترونو کې د مور او پلار او نورو خپلوانو له لوري دغه ښځې ته نغدي روپۍ، زیور او جامې ورکول کیده، دا هم د دې سره و، له دې څخه پرته سید احمد صاحب به کله نا کله خرڅ ورکاوه چې دې به پخپله خوښه مصرفاه کاوي، آن چې په دغو او نورو خپلو روپیو باندې به کله نا کله تجارت هم کاوه او پخپله خوښه به زیورات بدلول رابدلول، سید احمد صاحب دا هر څه لیدل، نه یې منع کول، دغه ټول شیان به دغه ښځې بې له فرق کولو چې دا پلار راکړي دي. یا فلاني قریب راکړي دي او دا د خاوند دي، پخله قبضه کې په یو صندوق کې اینودل او تر مرګه د دې سره وو، د سید احمد تر مرګ دوې میاشتي وروسته دغه ښځه

وفات شوه، د دغه دوو میاشتو په موده کي سره د دې چي د سید احمد ټول وارثان یو ځای موجود وو، هیڅ د سید احمد صاحب وصیت نه دی اورولی.

اوس د دغي ښځي تر وفات وروسته د سید احمد صاحب مشر زوی اسماعیل وایي چي زما پلار ما ته په آخر وخت کي وصیت کړی و چي ستا میرېي ته چي مي کوم څه ورجوړ کړي دي، هغه ټول زما دي، ګوره پام پر کوه چي څوک یې یو نه شي، اوس د دغه هلک وینا ته اعتبار شته او که نه؟ د مور او پلار، خپلوانو او خاوند په ورکولو د ښځي په قبضه کي راتللو او د دې پکي تصرف کولو او پخپله زکاة ادا کولو او د چا له طرفه د منع نه کولو څخه د دې لپاره حکم د هبې ثابتیږي او که نه؟ داو د ښځي مور او پلار یا بل کوم قریب که ګواهي ورکړي چي خاوند فلاني شی خپلي ښځي ته هبه کړ نو د سماعت وړ ده او که نه؟(۱۳۳۸/۴۶۰هـ)

جواب: د لومړي سوال جواب: کومه ګټه او سرمایه چي له دغه دکان څخه حاصله شوه، هغه سره له اصل ملک د سید احمد بن محمد دل، خاص د اسماعیل ملک نه دی، ځکه چي کوم لفظ د هبې یا تملیک سید احمد صاحب د دې په اړه نه دی ویلی او صرف د اسماعیل په نوم دکان خلاصول د ده د ملک باعث نه ګرځي ن سرمایه د دغه دکان او ګټه د دې ټول د سید احمد ملک دی، د ده له وفات وروسته ټول وارثان پکي شرعي برخي لري چي تفصیل یې دا دی چي د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته د ده مرحوم ترکه اته څلویښت برخي کړئ، شپږ ونډې د ده ښځي عائشې ته، څوارلس څوارلس هر زوی او اوه اوه هره لور حواء او فاطمې ته رسیږي.

د دوهم سوال جواب: او د اسماعیل ښځي ته چي کوم زیورات او جامې سید احمد مرحوم ورکړو، د دې په اړه که کومه څرګندونه د سید احمد وای د هبې، هدیې، عاریه او نورو نو د هغه سره به سم عمل کیدی لیکن کله چي د ده له طرفه هیڅ رګندونه نشته نو په عرف او تعامل باندي عمل کیږي یعني که عرف او تعامل دا دی چي د خاوند مور او پلار چي کوم زیورات او جامې د خپل زور ښځي ته ورکوي، هغه ته یې په ملک ورکوي او ښځي ته په هغه کي د تصرف کولو اختیار وي نو دا ټول شیان د دې ملک دی او که داسي عرف او تعامل نشته نو د دې ملک نه دی، د هر وطن عرف او تعامل جلا دی، مثلاً زموږ په خوا کي عرف دا دی چي د خاوند خپلوان او مور پلار چي ښځي ته څه

ورکوي هغه د ښځي ملک نه بولي ځکه د خاوند مور او پلار په دې کي بې له کوم خنډه تصرف کوي نو که داسي عرف هلته هم دی نو زیورات او نور د سید احمد ترکه ده، ټولو وارثانو ته به د شرعي برخو سره سم ورکول کیږي او که هلته عرف او تعامل دا دی چي دا شیان ښځي ته په ملک ورکول کیږي نو د ښځي ملک دی.

د دریم سوال جواب: او لونو ته چي تر ودولو مکي کوم زیورات او نور ورجوړ کړو یا یې په واده کي جیز دوی ته ورکړی، هغه د دوی ملک دی، په دې کي د نورو وارثانو هیڅ حق نشته، لکه چي له راتلونکیو روایتونو څخه چي به ظاهر شي.

د څلورم سوال جواب: او د سید احمد مرحوم د دریمي ښځي عائشې سره چي کوم سامان، زیور، نقدي روپۍ او نور دي، په هغه کي دا تفصیل دی چي کوم زیورات، جامې، لوښي او نور دې ته مور او پلار او خپلوانو د نکاح پر مهال یا وروسته تر نکاح وخت ناوخته ورکړو، هغه د دې ملک دی، د کوم بل چا پکي هیڅ حق نشته داغه راز سید احمد چي کومي نقدي روپۍ د خرچې لپاره ورکړي، د هغه هم دا مالکه شوه او کوم تجارت چي دې کاوه او ګټه وکړه، هغه خاص د دې ملک دی، پاته شول هغه زیورات چي سید احمد دې ته ورکړو، هغه ته د عرف سره سم کتل کیږي، که هلته عرف هم داسي دی لکه زموږ په خوا کي چي دی یعني په ملک یې نه ورکوي، بیا خو نو زیورات او نور ټول د سید احمد مرحوم دي، د وارثانو پکي حق دی او که هلته عرف دا دی چي خاوند خپله ښځه ته یا پلار د خپل زوی ښځه ته چي د نکاح پر مهال کوم زیورات او نور ورکوي، هغه په ملک ورکوي نو بیا ټول شیان د ښځي ملک دی، د وارثانو پکي هیڅ حق نشته

او په دې خبره هم ځان پوه کول ضروري دي چي عرف د هر ځای جلا وي او د هغه ځای د اوسیدونکیو لپاره هغه خپل عرف معتبر وي او بله خبره دا چي په عرف کي د زیاتره کسانو اعتبار وي یعني که په کوم ملک یا ښار کي داسي عرف دی چي خاوند یا پلار د خاوند چي د نکاح پر مهال څه ورکوي، په ملک یې ورکوي نو د زیاتره خلکو عمل ته به ګورو، د دوو څلورو کسانو عمل که د دې په خلاف وي، هغه ته اعتبار نشته، داغه راز که عرف دا دی چي ورکوي هغه په عاریت ورکوي په ملک یې نه ورکوي نو په دې کي هم د زیاترو خلکو عمل ته کتل کیږي

او که د ښځي او خاوند اختلاف شي، مثلاً خاوند وايي چي د نکاح پر مهال چي ما کوم زيورات او نور درکړي و، په عارية مي درکړي و او ښځه وايي چي په ملک نو څوک چي د عرف په خلاف خبره کوي، هغه به ګواهان راولي، که دوه ګواهان ورسره نه وي نو د دوهم قول ته اعتبار دی، داغه راز که د خاوند او ښځي د وارثانو تر منځ اختلاف شي نو همدا حکم دی، لکه چي له لاندي عبارتونو څخه چي دا خبري ثابتيږي، په درمختار کتاب الهبة کي راغلي دي: ورکنها هو الإيجاب والقبول الخ، وفي الشامي: وذكر في الكرماني أنها تفتقر إلى الإيجاب، لأن ملك الإنسان لاينتقل إلى الغير بدون تمليكه؛ وإلى الإيجاب، لأنه إلزام الملك على الغير الخ. (۱) [الشامي: ۵۶۷/٤] في الدر المختار: جهز ابنته بجهاز وسلمها ذالک، ليس له الإسترداد منها ولا لورثته بعده إن سلّمها ذالک في صحته بل تختص به، وبه يفتى، وكذا لو اشتراه لها في صغرها والوالجية، والحيلة فيما لو أراد الإسترداد منها أن يشهد عند التسليم إليها أنه إنما سلّمه عارية إلخ. (۲) [درمختار]

ترجمه: او رکن د هبې ايجاب او قبول دی او په شامي کي راغلي دي چي کرماني بيان کړي دي چي بې له شکه هبه ايجاب ته احتياج لري، ځکه چي ملک د کوم غير طرف ته نه نقليږي بې له مالک جوړولو او قبول ته ځکه چي هغه لازمول د ملک دي پر غير باندي، په درمختار کي راغلي دي چي يو سړي خپل لور ته جيز ورکړی او دې ته يې وسپاری نو د ده لپاره هغه بيرته له لور څخه اخيستل صحيح نه دي او نه د ده د وارثانو لپاره، وروسته تر دې چي ده سپارلی دی د پل صحت په زمانه کي، بلکه هغه جيز خاص د دغه انجلۍ ملک دی او پر همدې باندي فتوی ده او داغه راز که ده د لور لپاره د دې په کوچنيوالي رانيوی، هغه هم د دې دی او حيله د دې چي هغه بيرته ځني اخيستلای شي، دا ده چي د ورکولو پر مهال دي پر دې ګواهان ونيسي چي ما دې ته څه ورکړو، په عارية مي ورکړو.

---

(۱) الدرالمختار و رد المحتار: ۵۶۷/٤، أوائل كتاب الهبة ط رشيديه.

۲) الدر المختار مع الشامي: ۳۹۷/۲، كتاب النكاح، باب المهر، مطلب: أنفق على معتدة الغير ط رشيديه.

وفي العالمغيرية: رجل اتخذ لولده او تلميذه ثيابًا ثم أراد أن يدفع إلى ولده الآخر او تلميذه الآخر ليس له ذالک إلا إذا بين وقت الإتخاذ أنها عارية، كذا في السراجية، اشترى ثوبا فقطعه لولده الصغير صار واهبًا بالقطع مسلما إليه قبل الخياطة الخ. (۱)

ترجمه: يو سړي د خپل بچي يا شاګرد لپاره جامې جوړې کړې، بيا يې بل چا ته ورکول غواړي نو دا د ده لپاره صحيح نه دي، مګر کله چې د جوړولو پر مهال دا خبره ښکاره کړي چې دا په عاريه دي.

يو سړي يو ټوکر رانيوی، بيا يې د خپل کوچني بچي لپاره پرې کړی نو په دې سره هبه شو او له ګنډلو مخکې ماشوم د دې مالک شو.

جهز ابنته ثم ادعى أن ما دفعه بها عارية وقالت: هو تمليک او قال الزوج ذالک بعد موتها ليرث منه، وقال الأب أو ورثته بعد موته: عارية فالمعتمد أن القول للزوج، ولها إذا كان العرف مستمرًا أن الأب يدفع مثله جهازًا لا عارية، وأما إن مشتركا كمصر والشام فاقول للأب.... والأم كالأب في تجهيزها. [درمختار من آخر باب المهر] وفي رد المحتار بعد نقل كلام الأشباه: قلت: ومقتضاه أن المراد من استمرار العرف هنا غلبته ومن الإشتراک كثرة كل منهما: إذ لا نظر إلى النادر، لأن حمل الإستمرار على كل واحد من أفراد الناس في تلک البلدة لايمكن الخ (وبعد أسطر) قال نقلاً عن حاشية الأشباه: وقال الشيخ الامام الاجل الشهيد: المختار للفتوى ان يحكم بكون الجهاز ملكا لا عارية، لانه الظاهر الغالب الا في بلدة جرت العادة بدفع الكل عارية الخ (۲)

وفي الدر المختار: ولو بعث الى امراته شيئا ولم يذكر جهة عند الدفع غير جهة المهر كقوله لشمع اوزيت او حناء ثم قال: انه من المهر لم يقبل (قنية) لو قوعه هدية فلا ينقلب مهرًا، فقالت: هو اى المبعوث هدية، وقال: هو من المهر او من الكسوة او عارية فالقول له بيمينه والبينة لها، فان حلف والمبعوث قائم فلها ان ترده وترجع بباقي المهر وذكره ابن الكمال (۳)

---

۱) الفتاوى الهندية: ٤/٣٩٢، كتاب الهبة، الباب السادس في الهبة للصغير.

۲) الدر المختار ورد المحتار: ٢/٣٩٧، كتاب النكاح، باب المهر، مطلب: انفق على معتدة الغير ط رشيديه.

۳) الدر مع الرد: ٢/٣٩٤، كتاب النكاح، باب المهر، مطلب فيما يرسله الى الزوجة ط رشيديه.

وفي الهداية: ولو كان الاختلاف بعد موت احدهما فالجواب فيه كالجواب في حياتهما (١) وفي الدر المختار: وموت احدهما كحياتهما في الحكم. (٢)

ترجمه: یو سړی خپلې خور ته کردار (جیز) ورکړي او بیا یې دعوی ورکړه چې ما په جیز کې کوم څه ورکړي ؤ ټول د عارية په توګه ؤ او لور په جواب کې ورته وایي چې هغه دې ما ته په ملک راکړي ؤ یا د لور تر مرګ وروسته خاوند ووایي چې دې ته په ملک ورکول شوي ؤ تر څو خاوند پکې میراث ورسیږي او پلار یا د ده وارث وایي چې نه د عارية په توګه ؤ نو په دغه صورتونو کې د اعتماد وړ خبره دا ده چې د خاوند او لور قول معتبر دی که دائمي عرف دا دی چې پلار لور ته څه ورکوي هغه په ملک ورکوي او که عرف مشترک دی یعني څوک یې په ملک ورکوي او څوک یې په عارية لکه چې په مصر او شام کې چې دي نو په داسې صورت کې د پلار وینا ته اعتبار دی.

او د مور حال د جیز ورکولو په صورت کې د پلار په رنګه دی. (در مختار آخر باب المهر) او په رد المحتار کې د اشباه کلام رانقل کړی دی لیکي: زه وایم چې د عرف له دائمي کیدو څخه مراد دا دی چې غلبه او کثرت د دې وي او له مشترک عرف څخه مراد هر طرفته کثرت دی ځکه چې د یو دوو کسانو عمل ته نه کتل کیږي او ځکه چې که د عرف دائمي والي په هر هر ځا حمل کړی نو دا مشکل دی او بیا شامي د اشباه له حاشیه څخه رانقل کوي لیکي: او شیخ امام اجل شهید فرمایلي دي چې د فتوی لپاره مختار دا دی چې جیز دې ملک وبلل شي عاریت نه، ځکه چې ظاهره او غالبه همدا خبره ده: اما کوم ځای چې د دې په خلاف عادت وي هلته به عاریت بلل کیږي او په در مختار کې راغلي دي: که خپله ښځه ته کوم شی ورکوي او د ورکولو پر مهال یې کوم جهت د مهر له جهت څخه پرته لکه شمع او حنا بیان نکړو، بیا یې دا وویل چې په مهر کې دي نو قول د ده معتبر نه دی ځکه چې هغه هدیه شوه او س د مهر طرفته نه نقلیږي، بیا ښځې وویل چې هغه شی هدیه ؤ او خاوند وویل چې په مهر کې دی یا د جامو لپاره یا عارية دی نو قول د خاوند سره د قسمه معتبر دی او ګواهان د ښځې لپاره دي، نو که خاوند

---

١) الهداية: ٣٣٧/٢، كتاب النكاح، باب المهر.

٢) الدر مع الرد: ٣٩٣/٢، كتاب النكاح، باب المهر، مطلب: مسائل الاختلاف في المهر ط رشيديه.

قسم واخیستی او هغه شی موجود دی نو ښځي ته پکار دي چي دا رد کړي او نور مهر له خاوند څخه واخلي.

او په هدایه کي راغلي دي چي که اختلاف په دوی کي د یو تر مرګ وروسته وي نو حکم هم هغه دی کوم چي د دوی د ژوند په صورت کي ؤ او په در مختار کي دي چي په دوی کي د چا مړه کیدل همداسي دی لکه چي ژوندی وي.

او د ښځي د مور او پلار فروع او اصول شهادت د ښځي دعوی نشي ثابتولای ځکه چي د اصول او فروع شهادت معتبر نه وي، نو د نورو خپلوانو لکه ورور وراره او نورو شهادت مقبول دی. کما في الدر المختار: والفرع لاصله وان علا الخ وبالعکس للتهمة الخ (۱)

ترجمه: د فرع شهادت یعني د اولاد د مور او پلار لپاره او د مور او پلار د اولاد لپاره د تهمت په وجه نه قبلیږي.

او د بیان شویو تصرفاتو خو په دغه صورت کي دلالة اجازه شته ځکه دا تصرفات صحیح دي، لیکن د ملک دلیل نه دی، په تیره بیا د اختلاف په صورت کي دغه تصرفاتو ته چي وکالة هم کیدلای شي دلیل د ملک نه شو ویلای فقط والله تعالی اعلم

لیکونکی: (مفتي) عزیز الرحمن عفی عنه د دیوبند د مدرسې مفتي

الجواب صحیح: اشرف علی

الجواب صحیح: محمد اعزاز علی غفرله مدرس دار العلوم دیوبند

الجواب صواب: محمد انور عفا الله عنه، مدرس دار العلوم دیوبند

الجواب صواب: محمد ابراهیم عفی عنه، دار العلوم دیوبند

الجواب صحیح: احمد شیر عفی عنه، مدرس دار العلوم دیوبند

الجواب صحیح: عبد السمیع، مدرس دار العلوم دیوبند

الجواب صحیح: احمد امین، مدر دار العلوم دیوبند

اصاب المجیب: محمد ادریس غفرله، معین المدرسین دار العلوم دیوبند.

---

(۱) الدر مع الرد: ۴/۴۲۲، کتاب الشهادات، باب القبول وعدمه ط رشیدیه.

الجواب صواب: محمد تفضل حسین عفا الله عنه، معین المدرسین دار العلوم دیوبند

الجواب صحیح: محمد رسول خان عفی عنه، مدرس دار العلوم دیوبند.

الجواب صحیح: محمد کفایت الله غفرله، مدرس مدرسه امینیه دهلي

الجواب صحیح: بنده ضیاء الحق، مدرس مدرسه امینه دهلي

الجواب صحیح: کفایت الله غفرله گنگوهي، مدرس مدرسه فتح پوري دهلي

الجواب صحیح: خاکسار سراج احمد خان کان الله له

الجواب صحیح: سلطان محمود، مدرس مدرسه فتح پوري دهلي

ذلک کذلک: محمد عرفان عفی عنه، مدرس مدرسه مینڈهو ضلع علی گړه

الجواب صواب: شفیع دیوبندي غفرله

ښځي ته چي د خپل پلار له ترکې څخه کوم سامان ورکول شوی دی د هغه مالک څوک دی؟

سؤال: (۳۷) هندې ته چي د خپل پلار له ترکې څخه کوم سامان ورکول شوی دی د هغه مالکه دا پخپله ده که د دې خاوند؟ او ښځه چي د مور او پلار له ترکې څخه کوم سامان حاصل کړي

د خاوند لپاره په هغه کي د ښځي بې اجازته تصرف کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۱۳هـ)

جواب: هنده د دې مالکه ده د دې خاوند یې مالک نه دی او د خاوند لپاره د هندې بې اجازته پکي تصرف کولو صحیح نه دی. فقط والله تعالی اعلم

کوم سرای چي پلار زوی ته سره د قبضې هبه کړی هغه میراث نه گرځي

سؤال: (۳۸) زید خپل زوی خالد ته یو سرای ورکړي جلا یې کړی او قبضه یې هم ورکړه او یو مکان زید خپلي ښځي هندې په نوم رانیولی ؤ او هغه یې هم خالد ته ورکړی ؤ، خالد دا دواړه سره یو کړی ؤ پکي اوسیدی، اوس زید ا وهنده مړه شول نو دغه سرای

چي زيد خالد ته ورکړی ؤ او هندي هم انکار نه ؤ کړی اوس دا د زيد ترکه ده که صرف د خالد ملک؟(۴۵۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: کوم سرای چي لومړی زيد خپل زوی خالد ته ورکړی ؤ او د قبضې سره يې ورهبه کړی ؤ د هغه مالک خالد شو هغه سرای خالص د خالد دی، د زيد په ترکه کي نه شميرل کيږي او کوم سرای چي زيد د خپلي ښځي هندي په نوم رانيولي ؤ که د هغه مالک هم صرف زيد ؤ يعني هندې ته ورهبه کړی نه ؤ صرف نوم يې د هندې ليکلی ؤ رانيونکی او مالک دی پخپله ؤ لکه چي له قرائنو څخه چي معلوميږي نو د ده هبه هم د خالد لپاره صحيح شوه او د هغه مالک هم خالد شو د زيد په ترکه کي نه شميرل کيږي. فقط والله تعالی اعلم

پلار چي د کوم بچي په نوم روپۍ جمع کړي وي هغه د پلار ترکه ده

سوال: (۳۹) زيد وفات شو، په ژوند کي د ده دا عادت ؤ چي څومره ګټه به را تله څه روپۍ به د خپلو مشرانو بچيانو په نوم جمع کولې او له دې څخه به د دوی د ودونو او نورو مصرف کاوي، همدا رنګه ده د خپلو دريو بچيانو ودونه وکړو اوس يې د څلورم بچي په نوم روپۍ جمع کولې چي زيد وفات شو له مرګ څخه څو مياشتي مخکي خپل خسر ته دا خبره وکړه چي که نن د ده لپاره له کوم ښه ځای څخه مرکه راشي نو زه نن واده ورکوم، ما د ده په نوم روپۍ جمع کړي دي، له مرګ څخه څو ورځي مخکي زيد يوه د وصيت پاڼه وليکله د ټولو وارثانو په نوم: په هغه کي څو وصيتونه مثلا د حج بدل، مسجد، څاه او نورو وليکل مګر د دغه روپيو په اړه څه ونه ليکل مګر د دغه روپيو په اړه څه ونه ليکل د پورته بيان شويو بچيانو څخه پرته د زيد پنځه بچيان نور دي چي نابالغ دي، اوس دغه روپۍ مشترکه ترکه بلل کيږي که صرف د هغه بچي دی د چا په نوم چي جمع کړی دی؟ بالغ وارثان دغه روپۍ دغه بچي ته ورکولای شي او کنه؟(۱۰۴۳/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: صرف د کوم بچي په نوم روپۍ جمع کولو یا په هغه الفاظو کوم چي زید خپل خسر ته بیان کړو د بچي لپاره د دغه روپیو هبه کول نه ثابتیږي او د وصیت په پاڼه کي د دې بیان نه کول د هبې نه کیدو قرینه ده، نو په داسي حالت کي دغه روپۍ مشترکه ترکه ده، هو بالغ وارثان د خپلي برخي په اندازه هغه بچي ته د چا په نوم چي روپۍ دي ورکولای شي. فقط والله تعالی اعلم

محمد کفایت الله غفرله مدرسه امینیه دهلي.

په مرض الموت کي خپل جائداد یو وارث ته هبه کول

سوال: (۴۰) محمد عارف سخت ناجوړه ؤ له مرګ څخه پنځلس شپاړس ورځي مخکي خپل جائداد د وصیت د پاڼي په طریقه د یوې فرضي بیع پاڼه د خپل زوی په نوم یو اخي ولیکله چي د هغه روپۍ یې نه چا ته ورکړي دي نه یې اخیستي دي، د جائداد قیمت د ډیرو روپیو دي د بیع په پاڼه کي فرضي قیمت ډیر کم لیکلی دی او خپلي لور ته هیڅ شی نکړی ور، په داسي مرض الموت کي داسي فرضي دروغجنه د بیع پاڼه جائز ده او که نه؟ (۱۳۳۹/۱۱۲۳هـ)

جواب: په در مختار کي راغلي دي: اعتاقه محابا ته وهبته ووقفه وضمانه کل ذلک حکمه کحکم وصیت فیعتبر من الثلث الخ[۱] له دې څخه معلوم شو چي د مریض د هبې او نورو حکم د وصیت دی او وصیت د وارث لپاره د نورو وارثانو بې اجازته صحیح نه دي، لهذا دغه د فرضي بیع پاڼه باطله ده او د وفات شوي ترکه پر ټولو وارثانو د دوی د برخو سره سمه ویشل کیږي. فقط والله تعالی اعلم

د بیرته واپسولو په شرط چي خلګو د مسجد امام ته په امامت کي ځمکه ورکړې ده د هغه حقدار څوک دی؟

سوال: (۴۱) داسي ځمکه چي یو وخت خلګو د مسجد امام ته په حق الخدمت کي ورکړې وي او دا شرط یې پر لګولی وي چي که د نوموړي مولوي صاحب نارینه بچیان څوک پاته نه شو د ده نورو وارثانو ته به دا ځمکه نه ورکوله کیږي بلکه اصل مالکانو یا

---

[۱] الدر مع الرد: ٥/٤٨١، کتاب الوصایا، باب العتق في المرض ط رشیدیه.

د هغو بچیانو ته به بیرته ورکوله کیږي په داسي څمکه کي د ښځو حق شرعًا ثابتیدلای شي او کنه؟(۱۳۳۸/۴۲۴هـ)

جواب: کله چي نومړی مولوي صاحب ته دغه ځمکه هبه کړله شوه نو د مولوي صاحب تر وفات وروسته دغه ځمکه د ده پر نارینه او ښځینه ټولو وارثانو د شرعي برخو سره سمه ویشل کیږي، ورکونکیو چي کوم شرط وربانديي لګولی دی باطل دی، د مولوي صاحب تر وفات وروسته دغه ځمکه ورکونکیو یا د هغو بچیانو ته نه ورکول کیږي فقط

پلار چي پخپل ژوند کي د ځینو زامنو په ودونو کي مصرف کړی دی

سوال: (۴۲)... (الف) عمر پخپل ژوند کي خپلو زامنو بکر، زید او خالد ته ودونه په پنځه سوه، دوولس سوه او څلور زره ور وکړو د عمر تر وفات وروسته د میراث د تقسیم پر مهال بکر او زید وايي چي د خالد پر واده ډیر مصرف راغلی دی، لهذا مورث ته د خالد په برابر عوض باید راکول شي، ایا شرعًا د بکر او زید دغه عوض غوښتل جائز دی او کنه؟

(ب) عمر پخپل ژوند کي د دریو زامنو ودونه ور وکړو، د عمر تر وفات وروسته د عمر نور کشران بچیانو له لوري دعوی ده چي لکه څرنګه چي عمر پخپل ژوند کي د مشرانو زامنو ودونه ورکړي ؤ داغه راز که عمر ژوندی وایي نو د کشرانو ودونه هم ورکول، لهذا له ترکي څخه تر تقسیم مخکي کشرانو زامنو ته برخه ورکړئ وروسته میراث تقسیم کړی داسي دعوی کول د بچیانو له طرفه جائز ده او کنه؟(۱۳۳۴-۳۳/۸۸۲هـ)

جواب: (الف) د بکر او د زید د مهر عوض غوښتل ناجائز او باطل دی شرعًا دوی ته هیڅ حق د غوښتني نشته.

(ب) داسي دعوی د کشرانو بچیانو صحیح نه ده، مورث چي پخپل ژوند کي کوم مصرف وکړي د هغه هیڅ حساب پر وارثانو نشته او په ترکه کي هغه نه حسابل کیږي فقط والله تعالی اعلم

له ډیري مودې وروسته هم وارث خپل میراث غوښتلای شي

سوال: (۴۳)..... (الف) یو وارث تر اتلس کلونو پوري د مورث د ترکې غوښتنه ونکړه، نو ایا اوس له اتلس کلونو وروسته غوښتنه کولای شي؟

(ب) شرعًا کومه داسي موده شته او کنه چي د هغې تر تیریدو وروسته د غوښتني حق نه پاتیږي او هغه څومره موده ده؟ (۱۱۲۲/۱۳۳۸هـ)

جواب: (الف) غوښتنه کولای شي.

(ب) شرعًا له کومي مودې وروسته د کوم حقدار حق نه ساقطیږي. کما في الشامي: ان الحق لا يسقط بتقادم الزمان وهكذا في الاشباه والنظائر ([1]) فقط والله تعالى اعلم.

سوال: (۴۴) د شامي: په تکلمه: ۳۷۱/۱ کي راغلي دي: الارث جبري لا يسقط بالاسقاط داغه راز په شامي او نورو کي هم راغلي دي ([2]) د دغه عبارت څه مطلب دی؟ زید د میراث په مال کي خپله برخه ورکړه شریکان یې بیله عوض معاف کړو یا یې ورهبه کړه یا یې ترک کړه یا یې ورته وویل چي ما خپله برخه ساقطه کړه، په دغه صورتونو کي که پخپله زید لس شل کاله وروسته یا د ده وارثان له ده وروسته برخه طلب کړي نو ورکول کیږي به او کنه؟ (۹۲۵/۱۳۳۸هـ)

جواب: قال في الاشباه والنظائر: لو قال الوارث: تركت حقي لم يبطل حقه اذ الملك لا يبطل بالترك الخ. قوله: "لو قال الوارث: تركت حقي الخ" اعلم ان الاعراض عن الملك اوحق الملك ضابطة انه ان كان ملكاً لازما لم يبطل بذلك كما لو مات عن ابنين، فقال احدهما: تركت نصيبي من الميراث لم يبطل، لانه لازم لا يترك بالترك (الى ان قال) وفيه التصريح بان

---

[1]) ان الحق لا يسقط بالتقادم (الشامي: ٥/٥٢٤، كتاب الخنثى، مسائل شى ط رشيديه.) والاشباه والنظائر: ١٩٣/٢، الفن الثاني، الفوائد، كتاب القضاء والشهادات والدعاوي، رقم القاعدة: ١٣٧٧.

[2]) والثالث اما اختياري وهو الوصية او اضطراري وهو الميراث (الدر ع الرد اوائل كتاب الفرائض: ٥/٥٣٤ ط رشيديه.)

ابراء الوارث من ارائه في الاعيان لا يصح و قد صرحوا بان البراءة من الاعيان لا تصح الخ (١) له دغه عبارت څخه څرګند دي چي د میراث برخه په معافولو یا ساقطولو نه ساقطیږي او د تملیک او هبې لپاره پخپله قبضه کول بیا موهوب له ته قبضه ورکول ضروري دي او شیوع مانع عن الهبة وي. کما بین في موضعه (٢) نو له لس، شل او ثلویښت کاله وروسته وارث دعوی د خپل میراث کولای شي، ځکه چي حق د کوم مالک او وارث په تقادم د زمان نه ساقطیږي. کما قالوا: ان الحق لا يسقط بالتقادم كذا في الشامي. (٣)

چا چي په میراث کي د خپلي برخي له اخیستلو انکار کړی وي د هغه بچیان د ده د میراث د برخي غوښتنه کولای شي

سؤال: (۴۵) یو سړی د خپل پلار له جائداد څخه له حق اخیستلو څخه انکار کړی ؤ، اوس د ده اولاد د خپل نیکه په جائداد کي د شرعي برخي حقداران کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۳۵۷هـ)

جواب: د حق پرېښودونکي اولاد د نیکه له جائداده برخه اخیستلای شي. کما في الاشباه والنظائر: لو قال الوارث: تركت حقي لم يبطل حقه الخ وفي الشرح: ضابطة انه ان كان ملكاً لازماً لم يبطل بذلك، كما لو مات عن ابنين، فقال احدهما: تركت نصيبي من الميراث لم يبطل لانه لازم لا يترك بالترك. (٤)

---

(١) شرح الحمولي على الاشباه والنظائر: ٣/٥٣-٥٤، الفن الثالث: وهو فن الجمع والفرق ما يقبل الاسقاط من الحقوق ومالايقبله.

(٢) وشرائط صحتها في الموهوب ان يكون مقبوضاً غير مشاع مميز غير مشغول (الدر مع الشامي: ٤/٥٦٧، كتاب الهبة ط رشيديه.)

(٣) الشامي: ٥/٥٢٤، كتاب الخنثى، مسائل شتى ط رشيديه.

(٤) الاشباه مع شرح الحموي: ٣/٥٣، الفن الثالث: وهو فن الجمع والفرق، ما يقبل الاسقاط من الحقوق وما لا يقبله الخ.

کومو بچیانو چي ودونه نه دي کړي هغه د ودونو لپاره له مشترکي ترکې څخه څه نشي اخیستلای

سوال: (۴۶) زید وفات شو د ده شپږ لوڼي، دوه زامن او دوې ښځي پاته شوې په دوی کي د یوې لور واده نه دی شوی شرعًا ناود کړې انجلۍ له ترکې څخه پرته د پلار په میراث کي د واده د اسبابو حق لري او کنه؟ (۴۶/۵۵۳-۱۳۴۷هـ)

جواب: د نورو وارثانو په رنګه دا انجلۍ هم صرف د دومره برخي حق لري کومه چي شرعًا د دې حق جوړیږي، د واده د اسبابو لپاره له مشترکه ترکې څخه کومه بیله برخه نشي اخیستلای، اما ټول وارثان که پخپله خوښه د دې څه انتظام وکړي نو کولای شي، په دې کي د دوی لپاره ثواب شته، لیکن شرعًا پر دوی هیڅ لازم نه دی. فقط

سوال: (۴۷) .... (الف) د زید له مرګ وروسته یوه لور واده شوه د دې د واده مصرف به له ټولي ترکې څخه را اخلو که به صرف د دې له برخي څخه؟

(ب) د دوهمي ښځي ټول بچیان کم عمر دي د متروکه مال تر تقسیم مخکي د کور خرڅي څه ډول وکړو؟ (۴۶/۱۹۳۱-۱۳۴۷)

جواب: (الف - ب) د دغه انجلۍ د واده مصرف د دې له برخي څخه وکړئ، له ټولي مشترکي ترکې څخه مصرف کول جائز نه دي اما که نور ټول وارثان بالغ وي او دوی په خوښي د دغه انجلۍ د واده مصرف کولو اجازه وکړي نو بیا له مشترکي ترکې څخه مصرف کول صحیح دي، مګر د دوهمي ښځي بچیان خو کم عمر دي ځکه له مشترکي ترکې څخه مصرفول صجیح نه دي د هر بالغ او نابالغ خرڅ د ده له برخي څخه وکړي او له مشترکي ترکې څخه چي کوم څه د چا په مصرف کي راشي هغو مره د هغه له برخي را وباسئ. فقط والله تعالی اعلم

د حکومت په کورکي که ځمکه دیوورور په نوم شي نو نور وارثان پکښي نشي محرومیدلای

سوال: (۴۸) د زید، عمر، بکر، خالد او نور اعلی مورث ته حکومت د قوم د اړتیاؤ لپاره د یوې ځمکي حاصلات وروبښودل او دا حکم یې ورته وکړی چي د دې حاصل د کاله تاسو خورئ، ځکه تر څو نسلونو پوري د یو بل په نوم په حکومت کي کیږي له دوه درې پښته وروسته په حکومت کي تقسیم شوه د هر یو برخه لرونکي په نوم جلا جلا شوه، د هر برخه لرونکي تر وفات وروسته چي د ده په بچیانو کي به کوم مشر ؤ د هغه په نوم به شوه، په نامه کیدو څخه تر اوسه پوري زید، عمر، بکر، خالد او نورو په ګډه د دغه ځمکي حاصل خواړي د حکومت په کورکي چي د وفات شوي کوم مشر زوی وي هم هغه د ځمکي د حاصل مالک ګرځول کیږي، لهذا د زید په نوم خو د ځمکي حاصل شوی دی او حکومت همدې د ځمکي د حاصل مالک ګرځولی دی، اوس زید خالد، بکر، عمر او نورو ته له دې څخه هیڅ شی نه ورکول غواړي دا جائز دي که څه حکم دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۸۵هـ)

جواب: شرعي قاعده ده: المعروف کالمشروط[1] په کومه طریقه چي عمل کول راروان دی د هغې سره مصرفول پکار دی د مشر بچي په نوم کولو هغه یوازي د حاصل مالک نه بلل کیږي ځکه چي معروف همدا دی چي په حکومت کي د یو نوم وي او ټول یې خوري، د همدې سره سم ځکه له حکومت څخه عملي کیږي نو ګواکي دا حکم د حکومت له طرفه وي چي ستا په نوم باندي لیکم مګر منافع به ټول خورئ. فقط والله تعالی اعلم

له صحیح خلوت څخه مخکي ښځه وفات شوه نو څومره مهر به ترکه بلل کیږي؟

سوال: (۴۹) زید د هندې سره نکاح وکړه او هنده بیله صحیح خلوت کولو وفات شوه.

---

[1]) الشامي: ۳۷۹/۲، کتاب النکاح، باب المهر، مطلب: مسئلة دراهم النقش والحمام ولفافة الکتاب ونحوها ط رشیدیه.

د هندې څومره مهر پر خاوند راځي؟او درې وارثان هندې پرېښودو: يو خاوند، يو نيکه(د مور پلار) او يوه خور نو د هندې ترکه به پر دغه دريو وارثانو څه ډول ويشل کيږي؟(۱۹۸/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: په مسئوله صورت کې ټول مهر پر خاوند لازميږي، يعني که تر صحيح خلوت مخکې دا وفات شوه نو ټول مهر لازميمي. قال في الدر المختار: ويتاكد عند و طء او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما (۱) او ترکه د دې سره د مهر دوې برخې کيږي يوه برخه د خاوند او يوه برخه د خور ده. په مسئوله صورت کې نيکه(د مور پلار) محروم دی، لنډه دا چې په مسئوله صورت کې ټول مهر پر خاوند لازم دی، ليکن نيم د ده حق دی او نيم به د دې خور ته ورکوئ. فقط والله تعالی اعلم

زوی د وفات شوي مور له مهر څخه خپله برخه له پلار څخه اخيستلای شي

سوال: (۵۰) د زيد يو زوی عمر دی د دريو کلونو ؤ چې مور يې وفات شوه، اوس عمر د خپلې مور هندې مهر له خپل پلار زيد څخه اخيستلای شي او کنه؟(۲۳۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: د هندې چې کوم مهر پر زيد باندې ؤ د هندې له مرګ وروسته څلورمه د زيد ده او درې څلورمې د عمر دي. فقط والله تعالی اعلم

کومې ښځې چې مهر معاف کړی نه وي وفات شي د دې مهر به وارثانو ته ورکول کيږي

سوال: (۵۱) کومه ښځه چې وفات شي او مهر يې نه وي بخښلی نو مهر څه ډول بايد ادا شي؟(۲۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د وفات شوي ښځې مهر د دې وارثانو ته د شرعي برخو سره سم ورکړئ، په وارثانو کې پخپله خاوند هم شته، که د دې بچيان نه ؤ نو خاوند ته نيم مهر او نيمه ترکه د دې ورکول کيږي او که اولاد ؤ نو د ده لپاره څلورمه ده، نور د نورو وارثانو دي. فقط والله تعالی اعلم

په مرض الموت کې د مهر په عوض کې جائداد ورکول شرعاً جائز دي

سوال: (۵۲) په مرض الموت کې که چا جائداد د ښځې د مهر په عوض ښځې ته ورکړي

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۳۵۸/۲، کتاب النکاح، باب المهر ط رشيديه.

نو دا ورکول شرعًا صحیح دي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۳۹۸)

جواب: د ښځي مهر پر خاوند قرض دی او د قرض ادا کول په مرض الموت کي هم صحیح دی، لهذا کوم جائداد چي، مورث په مرض الموت کي د مهر په عوض ښځي ته ورکړي دا ورکول شرعًا صحیح دي او ښځه د دغه جائداد مالکه شوه. فقط والله تعالی اعلم.

د پلار په سرمایه یو زوی تجارت وکړي نو ګټه او اصل سرمایه ټول په ترکه کي شمیرل کیږي

سوال: (۵۳) زید د ضعیفۍ پر مهال معذور شو پر کور کښیناستی، د ده سره څه سرمایه ده او درې یې زامن دي: عمر، بکر، خالد د خپل پلار په اجازه نژدي لس کاله تجارت وکړی ډیره ګټه وکړه، اوس زید وفات شو د بکر او خالد دعوی ده چي دا ټولي روپۍ د ګټي سره دي ترکه شي، عمر وایي چي دا زما حق المحنت دی په دغه صورت کي به ایا ټولي روپۍ سره د ګټي ترکه بلل کیږي که څنګه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۲۲هـ)

جواب: دغه ټولي روپۍ سره د ګټي د زید ترکه ده پر دریو سره زامنو به برابره ویشل کیږي او د عمر هیڅ مبادله د دغه خدمت او محنت پرته له دغه شرعي برخي نشته. قال في الشامي: الاب وابنه یکتسبان في صنعة واحدة ولم یکن لهما شئ فالکسب کله للاب ان کان الابن في عیاله لکونه معینا له؛ الا تری او غرس شجرة تکون للاب (شامي) .... وفي الخانیة: زوج بنیه الخمسة في داره وکلهم في عیاله: واختلفوا في المتاع فهو للاب وللبنین الثیاب التي علیهم لاغیر، فان قالوا هم او امراته بعد موته: ان هذا ستفدناه بعد موته، فالقول لهم، وان اقروا انه کان یوم موته فهو میراث من الاب [1] (شامي: ۳/۳۵)

---

[1] رد المحتار: ۳/۳۸۳، کتاب الشرکة، فصل في الشرکة الفاسدة، مطلب: اجتمعا في دار واحدة واکتسبا ولا یعلم التفاوت فهو بینهما بالسویة ط رشیدیه.

مشر ورور چې په قرض اخیستلو تجارت شروع کړی په هغه کې د کشرانو ورونو برخه شته او که نه؟

سوال: (۵۴) زید، عمر او خالد سکه ورونه دي د دوی پلار وفات شو ترکه یې هیڅ شی نه دی پریښی، زید قرض واخیستی سوداګري یې شروع کړه او په کشرانو ورونو باندي سبقونه ویل، څه موده وروسته زید په دغه سوداګري کې ډیره ګټه وکړه او کشرانو ورونه ته هم سامان ورکړی دوکان یې په وکړی، تر څه مودې پوري داغه ډول مشترک کاروبار کولو وروسته جلا شول، کشران ورونه له زید څخه د پوره ونډه غوښتنه کوي، په دغه صورت کې کله چې زید پخپل اعتبار او خپل سرتوله ګټه کړې ده، نو کشرانو ورونو خالد او عمر ته د پوره برخو ورکولو ذمه وار دی که څنګه؟
(۱۳۳۴-۳۳/۲۸۱هـ)

جواب: په شامي کي څرګندونه راغلي دي چې که د پلار په ترکه کي ټول ورونه کار وکړي او ګټه وکړي نو هغه پر ټولو برابره ویشل کیږي. وكذلک لو اجتمع اخوة يعملون في تركة ابيهم ونما المال فهو بينهم سوية، لو اختلفوا في العمل والرای الخ([1]) لیکن په دغه صورت کي سوال دا دی چې د پلار ترکه هیڅ شی نه ؤ، مشر ورور قرض او نور واخیستو تجارت یې شروع کړی، کشران ورونه د ده په روزنه او تربیه کي ؤ، نو په دغه صورت کي ټول سامان د مشر ورور دی، د هغه خوښه ده چې څومره وغواړي کشرانو ورونه ته ورکولای شي. كما في القنية: الاب وابنه يكتسبان في صنعة واحدة لم يكن لهما شئ فالكسب كله للاب ان كان الابن في عياله الخ(۱) (شامي: ۳۴۹/۳)

د پلار په ترکه چې دوو ورونو کومه ګټه وکړه هغه به پر دواړو برابره ویشل کیږي

سوال: (۵۵) د یو سړي دوه زامن د دوو ښځو څخه ؤ کله چې دا سړی وفات شو، کشر زوی یې

---

[1]) الشامي: ۳۸۳/۳، كتاب الشركة، فصل في الشركة، الفاسدة، مطلب: اجتمعا في دار وحدة واكتسب الخ ط رشيديه.

دنیوي تعلیم حاصل کړی وکیل جوړ شو او مشر وروړ خالد یې د پخوا په رنګه په کښت او کرنده لګیا ؤ او د کور کارونو او نور یې کول داغه ډول له همیشه څخه دواړو ورونو په اتفاق سره کار کاوی خوراک او نور بندوبست یې سره یو ؤ او تر اوسه د دوی دواړو بچیان هم یو ځای سره اوسیږي په همدغه زمانه څه نا څه جائداد هم دوی جوړ کړل او په دې کي هیڅ تخصیص نه دی کړی چي مشتري څوک دی او په حکومت کي د چا په نوم دی؟ بلکه کله به د زید نوم ولیکل شو او کله په د خالد نوم، څه موده وروسته چي کله د حکومت بندوبست وشو نو خالد وفات شو او ټول جائداد د زید په نوم په حکومت کي ولیکل شو، مګر د خالد بچیان د پخوا په رنګه هغه ډول د زید سره ؤ له دې وروسته زید هم وفات شو، بیا هم د دوی دواړو بچیان تر اوسه یو ځای ؤ، اوس د زید د بچیانو دعوی ده چي د خالد د بچیانو هیڅ حق زموږ په جائداد کي نشته، ځکه چي ټول جائداد زموږ پلار ګټلی دی، په دغه صورت کي څه حکم دی؟ (۱۲۳۲/۱۳۳۷هـ)

جواب: په دغه صورت کي د زید او خالد دواړو بچیانو په برابرو برخو مالکان دي

كما في رد المحتار، كتاب الشركة: وكذلك لو اجتمع اخوة يعملون في تركه ابيهم ونما المال فهو بينهم سوية ولو اختلفوا في العمل والراى الخ [1] او له دې څخه مخکي دا عبارت دی: يؤخذ من هذا ما افتي به في الخيرية في زوج امراة وابنتها اجتمعا في دار واحدة، واخذ كل منهما يكتسب على حدة ويجمعان كسبهما ولا يعلم التفاوت ولا التساوى ولا التمييز فاجاب بانه بينهما سوية الخ (۱) (شامي: ۳/۳٤۹) فقط والله تعالى اعلم.

د مفقود (لادرکه) ترکه څه وخت ویشل کیږي؟

سوال: (۵۲) د کوم سړي چي اووه کلونه کیږي ورک دی او عمر د ده اندازاً شپیته کاله دی، دی ژوندی وشمیرو که مړی؟ او که مړی وبولو نو له کوم وخت څخه؟
(۱۲۷/۱۳۴۳هـ)

جواب: د فقهي په کتابوو در مختار او نورو کي راغلي دي چي اصل مذهب د امام ابو حنیفه رحمه الله دا دی چي کله د ده همزولی نه وي وفات شوی تر هغو مفقود الخبر

---

[1] الشامي: ۳/۳۸۳، كتاب الشركة، فصل في الشركة الفاسدة مطلب: اجتمعا في دار واحدة واكتسبا الخ ط رشديه.

ژوندی بلل کیږي، د ده مال پر وارثانو نه ویشل کیږي، بیا د همزولو د وفات کیدو زمانې په اړه بیلا بیلي ویناوي کړي دي، ځیني فرمايي: يو سل شل کلونه، ځيني فرمايي سل کاله، ځيني فرمايي نوی کاله او متاخرينو د شپيتو يا او يا کلونو په عمر د مفقود د مرګ حکم کړی دی(١) او زياتره فقهاؤ پر نوي کلونو فتوی ورکړې ده. واختاره في الكنز وهو الارفق هداية وعليه الفتوی ذخيره (١) (شامي) وقد قال في النظم المعروف. ع

مال مفقود رامعطل دان * تا نود سال ازولادت آن(٢)

نو د دغه مفتي به قول سره سم کله چي د دغه مفقود الخبر سړی عمر نوي کلونه شي پر ده د مرګ حکم ولګوي او د ده ميراث پر موجود وارثانو وويشي يعني کوم وراثان چي دا وخت موجود دی هغو ته به ورکول کيږي او کوم چي مخکي وفات شوی دی هغه محروم دی. كما في الدر المختار: ويقسم ماله بين من يرثه الآن الخ (در مختار) قوله: (بين من يرثه الآن) اى حين حكم بموته، لا من مات قبل ذلک الوقت من ورثته (٣) فقط والله تعالى اعلم.

متبني (نومولي زوی) وارث نه جوړيږي

سوال: (۵۷) د هندې بچيان نشته د ليري خپلوان خو لري اما دې خپل خوريي زيد زوی

---

(١) ولا يستحق ما اوصي له اذا مات الموصي، بل يوقف قسطه الى موت اقرانه في بلده على المذهب لانه الغالب (الدر المختار) وفي الشامي: قوله: (الى موت اقرا انه) هذا ليس خاصًا بالوصية، بل هو حكمه العام في جميع احكامه من قسمة ميراثه وبينونة زوجته وغير ذلک.... قوله: (على المذهب) وقيل يقدر بتسعين بتقديم التاء من حين ولادته، واختاره في الكنز وهو الارفق، هداية وعليه الفتوى، ذخيرة، وقيل: بمائة وعشرين، واختار المتاخرون ستين سنة واختار ابن الهمام سبعين الخ (الدر المختار ورد المحتار: ٣٦٢/٣، كتاب المفقود، مطلب في الافتاء بمذهب مالک في زوجة المفقود ط رشيديه.)

(٢) ترجمه: د مفقود مال د ده له پيدا کيدو څخه تر نوي کلونو پوري موقوف کړی (يعني پر وارثانو باندي مه تقسيموی)

(٣) الدر والشامي: ٣٦٣/٣، كتاب المفقود، مطلب في الافتاء بمذهب مالک في زوجة المفقود ط رشيديه.

جوړ کړی، آیا د هندي تر وفات وروسته به زید د دې سکه زوی بلل کیږي او هندي په جائداد کې به د زید برخه د سکه زوی په رنګه وي؟ (۱۳۳۸/۹۲۰ھ)

جواب: د هندي په ژوند کې او تر مرګ وروسته زید د دې سکه زوی نه بلل کیږي او د عصباتو او ذوي الفروضو په موجودیت کې د هندي وارث نه ګرځي او د متبنی کیدو په وجه هیڅ برخه د میراث ده ته نه ورکوله کیږي، کما قال الله تعالى: وما جعل أدعياءكم أبناءكم. [الأحزاب:٤] قال في التفسير الأحمدى: و بالجملة المتنى ليس بابن حقيقة، فلا يحرم حليلته ولا يجب عليه نفقته ولا يجرى عليه شيء من أحكام الشرع الخ. (١) (ص:٣٢٥) فقط. والله تعالى أعلم.

سوال: (۵۸) څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شرعي په دغه مسئله کې چې له سکه زوی څخه پرته د نورو وارثانو په موجوديت کې د ميراث ورکولو لپاره څوک له همدغه وارثانو څخه يا کوم بل څوک متبنی جوړول صحيح دي او که نه؟ او داسي متبنی د شرعي له قانون سره سم د ميراث حقدار دی او که نه؟ او د ميراث مال حاصلولو لپاره کومه معينه موده شته او که نه؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۴۴ھ)

جواب: څوک متبنی جوړول که په وارثانو کې وي او که بل څوک وي ناجائز او حرام دي، قال الله تعالى: "ادعوهم لآبائهم هو أقسط عند الله" الآية. [الأحزاب:٥] او متبنی د ميراث حقدار نه ګرځي، د تبنيت هيڅ اصل په شريعت کې نشته، دا د جاهليت د زماني رواج دی، شريعت دا باطل کړی دی او د وارثانو په موجديت کې کوم بل چا ته که متبنی وي او که نامتبنی وي، مال ورکول او وارثان محروmول سخته ګناه ده، په حديث شريف کې راغلي دي: من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة (٢) [مشکوة شريف] او د ميراث مال حاصلولو او وارث جوړيدلو لپاره هيڅ معينه موده نشته، کله چې مورث مړ شي، موجود وارثان بې په ترکه کې د شرعي برخو سره سم حقداران ګرځي او کوم څوک په خدمت او

---

١) التفسيرات الأحمدية، ص:٤٠٨، المطبوعة: المكتبة الأشرفية، ديوبند.

٢) مشكوة المصابيح،ص:٢٦٦، كتاب الوصايا، الفصل الثالث، وأخرجه ابن ماجة عن أنس رضي الله عنه بلفظ: من فرّ من ميراث وارثه قطع الله. الحديث. [سنن ابن ماجة،ص:١٩٤، كتاب الوصايا، باب الحيف في الوصية]

نورو کولو د چا وارث نه جوړېږي، وارثان شریعت مقرر کړي دي. دوی که خدمت کوي او که نه کوي، په هر حال کې د شرعي برخو حقداران دي فقط والله تعالی أعلم

شرعي وارثان محروموول او متبنی وارث جوړول صحیح نه دي

سوال: (۵۹) د یو سړي بچیان نشته، ده یو متبنی جوړ کړی دی او هغه د ځان وارث جوړول غواړي، لیکن درې پښته پورې عصبات هم شته نو په داسې صورت دی دوی وارثان نه جوړول غواړي، متبنی وارث جوړوي، شرعًا څه حکم دی؟ (۱۲۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: شرعًا داسې صحیح نه دي چې وارثان دې محروم کړل شي، په مشکوة شریف کې حدیث راغلی دی چې چا د خپل وارث میراث قطع کړی، الله تعالی به د ده میراث له جنت څخه قطع کړي (۱) نو درې پښته عصبات چې کله د ده شته هم هغه شرعي وارثان دي، هغه محروموول نه دي په کار، او متبنی شرعًا وارث نه وي، که د ده لپاره وصیت وکړي نو د ترکې یو ثلث ده ته د وصیت په وجه ورکول کېږي، نور د دغه درې پښته عصباتو دي. فقط

د یو وارث د مشترک سرای په یوه برخه کې مسجد جوړول صحیح نه دي

سوال: (۶۰) یو سړی وفات شو، بچیان یې نه وو، د ده دوې لوڼې، یوه کونډه او یو سکه ورور یې شته، د متوفي ټولې د کرنې ځمکه، د هستوګنې سرای نه د ده د کونډې په قبضه کې دي، دغه کونډې یې د نورو وارثانو بېله اجازې د سرای په یوه برخه کې مسجد جوړ کړی، شرعًا د دې لپاره داسې مسجد جوړول جائز دي او که نه؟

(۱۹۲۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د متوفي ترکه په دغه صورت کې د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته څلورویشت برخخې کړې، درې برخې د ده ښځې ته، شپاړس برخې دواړو لوڼو ته او پنځه برخې سکه ورور ته رسیږي نو کونډه په خپله برخه کې مسجد جوړولای شي، د بل چا په برخه کې یې نشي جوړولای او د ترکې تر تقسیم مخکې د دې لپاره دا حق نشته

---

۱) عن أنس رضي الله عنه: من فرّ من میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. [سنن ابن ماجة:ص: ۱۹۴، کتاب الوصایا، باب الحیف فی الوصیة]

چي پخپله پُر خپل سر په مشترک سرای کي مسجد جوړ کړي، هغه مسجد نه ګرځي فقط والله تعالی أعلم.

د دریمي، څلويښتي او نورو ورځو په خيراتونو کي بې اجازې مصرف کونکي په برخه کي به دا شيان حسابل کيږي

سوال: (۲۱) له کفن دفن څخه پرته د څلويښتي او نور خيراتونه او نور د ټولو وارثانو بې اجازته يو وارث کولای شي او که نه؟ او دا مصرف به د چا په برخه کي شميرل کيږي؟ (۱۹۹۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: له کفن دفن څخه پرته د دریمي، څلويښتي په خيرات او نورو کي که د نورو وارثانو بې اجازې له مشترکي ترکې څخه مصرف وکړي نو هغه د ده په برخه کي شميرل کيږي. فقط

د کوم وارث په قبضه کي چي مال دی، هغه د ده د ميراث تر برخه کم دی نو د ده لپاره راګرځول صحيح دي او که نه؟

سوال: (۲۲)..... الف: زما ښځه مرحومه ته زما ورور مرحوم څه زيورات له هغه مال څخه د استعمال لپاره ورکړي وو کوم چي زموږ پلار د تجارت لپاره ده ته ورکړی و او د ورور تر وفات وروسته هغه زيورات اوس زما سره دي او زما د پلار په ترکه کي چي زما خومره برخه جوړيږي، تر هغه کم دي او د کوم وارث په قبضه کي چي کوم شی دی، هغه بل ته نه ورکوي، نو د دغه زيوراتو زما لپاره راګرځول صحيح دي او که نه؟

(ب) او زما وفات شوي ورور ما ته څه روپۍ د تجارت لپاره هم راکړي وې، په هغه کي څه مال ما خرځ کړی، روپۍ مي ورکړې او پاته روپۍ اوس زما سره دي، د هغو هم زه مالک کيدلای شم او که نه؟ د پلار په ترکه کي تر دغه زيوراتو او مال زما برخه زياته جوړيږي (۳۲/۱۲۰۵-۱۳۳۳هـ)

جواب: (الف) کله چي دغه زيورات تر شرعي برخي کم دي نو راګرځول يې صحيح دي

(ب) دغه پاته روپۍ هم په خپله برخه د میراث کي راګرځول صحیح دي. فقط. والله تعالی أعلم.

د ټولو شیانو پر ټولو وارثانو ویشل ضروري دي او که نه؟

سوال: (۲۳) په ترکه کي څه شیان داسي هم شته چي د هغو پر ټولو وارثانو ویشل ضروري نه وي؟ مثلاً سرای، د کسب کولو سامان، کتابونه او نور، که د ټولو شیانو پر وارثانو ویشل ضروري دي؟ (۱۲۴۳/۲۰۹۰هـ)

جواب: د ترکې ټول شیان پر وارثانو د دوی د برخو سره سم ویشل ضروري دي، اما که وارثان کوم ډول پخپله مصالحت سره وکړي نو داسي صحیح دی. فقط. والله تعالی أعلم.

د وفات شوي د پنشن حقدار څوک دی؟

سوال: (۲۴) د وفات شوي محمود څه پنشن (وظیفه) د میاشتي راځي، د ده یوه ښځه (رقیه) او دوې نابالغي لوڼي او له یوې بلي وفات شوي ښځي څخه بالغ زوی دی نو پر دوی به پنشن څه ډول ویشل کیږي؟ (۱۳۴۳/۲۰۹۰هـ)

جواب: د محمود وفات شوي پنشن چي څومره د ده له مرګ وروسته راځي، هغه د محمود ترکه نه ده، په دې کي شرعي میراث نه جاري کیږي، بلکه په دې کي چي د چا، چا نوم په حکومت کي لیکلی وي او د چا، چا په نوم چي دا پنشن راځي، هغو ته به ورکول کیږي او که په هغه کي دا حکم وي چي د محمود ټولو وارثانو ته د شرعي برخو سره سم ورکړي نو بیا به دا ډول تقسیموي چي له ټولو دو دیرش برخو څخه به څلور برخي د ده ښځي رقیه ته او څوارلس برخي د ده زوی ته چي له صفي څخه ذی او اوه، اوه برخي هري لور ته رسیږي. فقط

که ځیني وارثان پر ټوله ترکه قبضه وکړي نو څه حکم دی؟

سوال: (۲۵) د زید ښځه وفات شوه، د دې څلور زامن درې لوڼي یو خاوند وارثان پاته شو، لیکن یو زوی او خاوند یې د دې پر مال، زیوراتو او نورو قبضه وکړه، په دغه

صورت کي د زيد د ښځي ترکه پر ټولو بچيانو ويشل کيږي؟ که د دې مالکان خاوند او يو زوی دی؟ (۱۰۵۳/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: د زيد د ښځي چي څومره ترکه ده، هغه ټوله د بچيانو او خاوند ده، خاص يو زوی يا خاوند د ټولي ترکې مالکان نشي کيدلای، که دوی داسي وکړي چي پخپله پر ټوله ترکه قبضه وکړي، تصرف پکي کوي نو په حقوق العباد باندي غاړي بندي او د عذاب مستحقين دي، د متوفيه د ترکې تقسيم په صورت د څلورو زامنو، درې لونو او خاوند د موجوديت دا ډول دی چي د حقوق مقدمه علی الميراث تر تقسيم وروسته څلور څلويښت برخي کړي، يوولس خاوند ته، شپږ شپږ هر زوی ته او درې درې هري لور ته رسيږي فقط

د ښځي او خاوند که ګټه سره مشترکه وي او يو وفات شي نو ترکه به څه ډول ويشل کيږي؟

سوال: (۲۶) په يوه وطن کي رواج دی چي ښځه او خاوند دواړه ګټه کوي مګر په خوراک او لباس کي هيڅ فرق نه وي، هر يو ټوله ګټه او نور خپل بولي، اوس که په دوی کي کوم يو وفات شي نو خپله نيمه برخه به جلا کوي، تقسيم به کوي، که به ټول مال ترکه بلل کيږي؟ (۴۰۳/۱۳۳۸ھ)

جواب: خپله نيمه برخه دي جلا کړي، پاته نيمه ترکه د متوفي بلل کيږي او پر وارثانو باندي ويشل کيږي.

که د ښځي ګټه جلا وي نو صرف د خاوند ترکه به تقسيږي

سوال: (۲۷) لعل محمد خان وفات شو، په وارثانو کي يوه ښځه يو د اکا زوی دوه د عمه زامن او يو خوريی پاته شو په دغه وارثان کي څوک، څوک محروم دي؟ او چا چا ته څومره څومره برخه ورکول کيږي؟ او د لعل محمد خان ښځي تر شپاړلس کلونو پوري د مياشتي ديرش روپۍ او وروسته تر اته کلونو پوري څلويښت روپۍ خپله ګټلي او دغه خپله ګټه يو مخ جلا اېښودله نو د ده ښځي ته چي څه ورکول کيږي، هغه د دغه مال چي

دې ګټلې دی، سره وي که به د دې ګټه جلا وي او په ترکه کي بهٔ جلا برخه وي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۳۵ھ)

جواب: د لعل محمد د ښځي چي کومه خپله ګټه ده او هغه دې جلا ایښودله، هغه صرف د دې ملک دی او کومه ترکه چي د لعل محمد ده هغه د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته څلور برخي کړي یوه برخه د ښځي او درې برخي د ده د اکا د زوی دي، د عمه زامن او خور یې محروم دي. فقط والله تعالی اعلم

د هندوانو ترکه څه ډول باید تقسیم شی

سوال: (۲۸) د هندوانو ترکه څه ډول باید تقسیم شی، په شریعت که د دوی په مذهب؟ (۱۳۳۷/۱۰۵۴ھ)

جواب: که په موږ تقسیم وي نو موږ یې د خپل مذهب سره سم ورتقسیمو. فقط

د پلار په ژوند کي وفات شوي بچیان د نیکه په میراث کي حق نلري

سوال: (۲۹) زما د نیکه جائداد ؤ په هغه کي څلورو کسانو ونډه لره دوه زامن او دوې لونې، زما د نیکه په ژوند کي یوه لور وفات شوه او زما د نیکه په ژوند کي زما پلار هم وفات شو، د نیکه تر وفات وروسته هغه جائداد زما اکا خرخ کړی نو شرعًا زما برخه پکي شته او کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۳۴۱ھ)

جواب: کوم زوی او لور چي د سوال کونکي د نیکه په ژوند کي وفات شو د هغو لپاره هیڅ برخه نشته په دغه جائداد کي بلکه کوم زوی او لور چي د سوال کونکي د نیکه تر مرګ وروسته ژوندی دی د هغو برخه د "للذکر مثل حظ الانثیین" (سورة نساء، آیت: ۱۱) په حساب رسیږي، د زوی دوې برخي او د لور یوه برخه ده، نو د سوال کونکي لپاره چي پلار یې د مورث په ژوند کي وفات شوی دی په دغه جائداد کي هیڅ برخه نشته.

د نابالغ ماشوم شیان في سبیل الله ورکول صحیح نه دي

سوال: (۷۰) یو سړی وفات شو یو نابالغ زوی یې پاته شو او څه د کور شیان غله، زیورات او نور یې شته ځینې شیان یې داسې دی چې خرابیدونکی دی لکه غوړي، تیل او نور او د اغستلو جامې یې هم پاته شوې د خرابیدونکیو شیانو غلې جامو او نورو په اړه څه حکم دی؟ جامې او نور في سبیل الله ورکړو که څنګه؟ او غله او نور په مړي پسې خیرات کړو که څنګه؟ (۱۳۳۷/۱۰۷ھ)

جواب: کوم شیان چې خرابیدونکي دي او د ماشوم په ښه نه دي هغه خرخ کړي قیمت یې امانت کښیږدي، تر بلوغ وروسته ماشوم ته د نوري ترکې سره وسپاري او د اغستلو جامې هم یا د ماشوم تر بالغیدو کښیږدي یا کومې چې په کار نه وي هغه خرڅي او لیلام کړی قیمت یې د ماشوم لپاره کښیږدي، في سبیل الله ورکول او خیراتول د ماشوم شیان صحیح نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د هندو حکومت له لوري مسلمان ته ورکړي جائداد کې میراث جاري کیږي

سوال: (۷۱) د هندو حکومت له طرفه یو مسلمان ته جائداد ورکول شو، که دغه مسلمان وفات شي نو دغه د حکومت په ورکړي جائداد کې میراث جاري کیږي او کنه؟ او د حکومت په ورکړي دغه جائداد مسلمان د بیع او هبې او نورو تصرف نشي کولای؟ (۱۳۴۵/۲۸۳۰ھ)

جواب: کله چې دغه جائداد مسلمان ته په ملک ورکړي دي نو شرعًا په دې کې میراث جاري کیږي او دا شرط باطل دی چې معطي له به پکې کوم د بیع، رهن، هبې تصرف نشي کولای، په درمختار کې راغلي دي: جاز العمری للمعمرله ولورثته بعده لبطلان الشرط[1] فقط

---

[1]) الدر مع الرد: ۵۸۰/٤، کتاب الهبة، اوائل فصل في مسائل متفرقة ط رشیدیه.

د مخکني خاوند زوی د دوهم خاوند وارث نه جوړیږي

سوال: (۷۲) زید د یوې ښځي سره واده کړی ؤ د دغي ښځي سره یو هلک له مخکني خاوند څخه راغلی ؤ، او د زید یو زوی عمر دی او یوه دغه ښځه او یوه لور ده، نو د زید په ترکه کي دغه د ښځي زوی شرعًا حق لري او کنه؟ (۷۳۳/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: که زید اوس ژوندی دی نو بیا خو دي پخپله د خپل جائداد او سرایونو مالک دی او که زید وفات شوی دی نو د ده ترکه د ده د ښځي، زوی عمر او لور ده، د ښځي د زوی چي له مخکني خاوند څخه دی د زید په ترکه کي هیڅ حق نشته، دغه هلک د زید په ترکه کي یو مخ محروم دی، نو د زید په ژوند کي د ده څه حق شته او نه د زید له مرګ وروسته د ده څه حق شته. فقط والله تعالی اعلم.

د مجاورت (ملنګي) په ګټه کي میراث نه جاري کیږي

سوال: (۷۳) زید د یو ولي الله پر مزار ملنګ ؤ بچیان یې نه درلودو، د وفات کیدو پر مهال ده ولیکل چي د دغه ملنګي چي کومه ګټه راځي هغه زما د لمسي (د لور زوی) ده، شرعًا زید داسي کولای شي؟ (۳۴۷/۱۳۴۵هـ)

جواب: د ملنګی، خدمت او نورو په آمدني کي میراث نه جاري کیږي دا حق د هغه چا دی چي ملنګ وي او چا ته چي ورکوله شي نو زید چي کله خپل ځای ناستی خپل لمسی وټاکی او هغه د ده پر ځای کښیناستی نو اوس چي کومه آمدني راځي او زیارت کونکي ده ته ورکړي او هدیه ورکړي هغه د ده ملک دی بیله د کوم چا له شراکته چي دی یې هر چا ته وغواړي ورکولای شي. فقط والله تعالی اعلم.

په قضا او امامت کي میراث نه جاري کیږي

سوال: (۷۴) قاضي محي الدین وفات شو چي په نوم باندي د معاش ټاکلی عطیه د حکومت له لوري د قضاءت او امامت د خدمت کولو په شرط جاري دی، د دغه وراثت حقداران یې څوک دي؟ (۱۸۷۸/۱۳۴۵هـ)

جواب: دا ښکاره خبره ده چي د قضاء او امامت په حق کي شرعًا میراث نشته، نو کومه عطیه چي د حکومت له طرفه د قضاء او امامت په وجه د یو خاص شخص لپاره ده د هغه له وفات کیدو څخه وروسته حکومت چي هر چا د قضاء او امامت ذمه واري

وسپاري هم هغه د دې حقدار دی، یا د حکومت د حکم په پانه کې چې څه ډول څرګندونه وي او کوم ترتیب د قضاء او امامت چې پکې ښودل شوي وي یا چې څه تعامل وي د هغه سره سم عمل وکړي. فقط

له زنا څخه پیدا شوي بچیان د زنا کونکي په ترکه کې حق نلري

سوال: (۷۵) له زنا کونکي څخه چې د ښځې کوم بچیان پیدا شول هغه د زنا کونکي په ترکه کې حق لري او کنه؟ (۸۸۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: له زنا کونکي څخه پیدا شوي بچیان د زاني د ترکې وارثان نه دي. فقط والله تعالی اعلم.

د زنا په وجه کونده د خاوند په ترکه کې محرومه نه ګرځي

سوال: (۷۶) د یوې کونډې ښځې له زنا څخه زوی پیدا شو، د داسې ښځې د لاس پخ شوې ډوډۍ خوړل جائز ده او کنه؟ او د دغه فعل په وجه دغه ښځه د خاوند له جائداد څخه محرومیدلای شي او کنه؟ او له اوبو ډکولو څخه منع کړو او کنه؟ (۱۱۳۱/۱۳۳۵هـ)

جواب: دغه کونډه ښځه د دغه ناوړه عمل په وجه د خاوند په ترکه کې نشي محرومیدلای او له اوبو ډکولو څخه دا مه منع کوی او د دې د لاس پخ کړې ډوډۍ خوړل صحیح دي، مګر په دې توبه وباسئ. فقط والله تعالی اعلم

زوی له میراثه محرومول صحیح نه دي

سوال: (۷۷) یو سړی له خپل زوی څخه ناراض دی، له خپلې ترکې څخه محرومول غواړي، وجه د ناراضګۍ دا ده چې د پلار ناروا اړیکې د خپلې دوهمې ښځې له هغې لور سره دي چې له مخکني خاوند څخه ده، دوهمه ښځه وفات شوې ده، ورسره راغلې انجلۍ موجوده ده د دغه انجلۍ سره د ښځې په څیر اړیکې ساتلې دي، زوی پلار له دغه ناروا عمل څخه منع کوي په همدې وجه پلار ناراض دی، زوی یې هر ډول خدمت کوي. ایا په داسې حال کې کوم پلار خپل زوی له خپلې ترکې څخه محرومولای شي؟ د داسې سړي سره اړیکې ساتل روا دي که ناروا؟ له داسې پلار څخه په اړیکې قطع کولو زوی ګناهګار دی او کنه؟ (۸۵۲/۱۳۳۵هـ)

جواب: په دغه حال کې د زوی هیڅ قصور نه دی، له داسې بې حیا او حرام کارکونکي پلار څخه که اړیکې قطع کړل شي نو هیڅ ګناه نلري او زوی نافرمان نه بلل کیږي او داسې زوی له میراث څخه محرومول صحیح نه دي او که پلار دی محروم کړي نو نه محرومیږي، د پلار ترکه تر مرګ وروسته د ده د ترکې وراث ګرځي او که پلار پخپله ژوند کې کوم بل څوک د فرضي بیع یا هبې او نورو په وسیله د خپل جائداد مالک جوړ کړي نو پلار ګناهګاریږي، په حدیث شریف کې راغلي دي: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة، رواه ابن ماجة عن ابن انس رضی الله عنه (۱) فقط والله تعالی اعلم.

نافرمان اولاد له میراث څخه محرومول جائز نه دي

سوال: (۷۸) یو زوی د خپل پلار نافرمان شو او د اقرار په خلاف د پلار اطاعت نه کوي، په همدې وجه که پلار دی محروم کړی نو جائز دي او کنه؟ که څه برخه د جائداد في سبیل الله خیرات او وقف کړي نو جائز دي او کنه؟ (۵۲۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: په دې وجه چې زوی خپل اقرار مات کړي او د پلار اطاعت یې ونکړی او نافرمان شو، پلار ته شریعت دا اجازه نه ورکوي چې دغه نافرمان زوی یو مخ محروم کړي، څکه چې د وارث په محرومولو باندې په حدیث شریف کې سخت وعید راغلی دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة (۱) یعني چا چې خپل وارث محروم کړی، الله تعالی به دی د جنت وارث نه کړي او د قیامت په ورځ به له جنت څخه د ده میراث قطع کړل شي، نور نو که څه برخه د جائداد د پلار في سبیل الله وقف کړي او د زوی لپاره هم څه برخه پریږدي نو دا جائز دي او وقف صحیح کیږي او څرګندونه دي وي چې د مور او پلار نافرماني کول کبیره ګناه ده او زوی چې د پلار نافرمان دی په سخته ګناه اخته دی، الله تعالی دي توفیق ورکړي

---

(۱) مشکوة المصابیح، ص: ۲٦٦، کتاب الوصایا، الفصل الثالث، واخرجه ابن ماجة عن انس رضی الله عنه بلفظ: من فر من میراث وارثه قطع الله الحدیث (سنن ابن ماجة، ص: ۱۹۴، کتاب الوصایا، باب الحیف في الوصیة.)

چې د پلار اطاعت وکړي، مګر د پلار لپاره په دغه ضد کې محروم ول نه دي پکار. فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۷۹) زما دوه زامن دي، یو صالح بل ډیر ناصالح، لمونځ نه کوي روژې نه نیسي او ډیر لوفر دی، زما په ګټه په ناروا کارونو کې مصروفوي، له دغه تکلیفونو څخه پر ته ما هم زهیر وي، ان چې د وژلو په نیت باندې په ما جادو وکړي چې د پلار له مرګه وروسته به ترکه را او رسیږي، ما ده ته واده ورکړی دی بچیان هم لري، او س زه له ژوند څخه عاجز شوم دی عاقول غوارم او هیڅ شئ ده ته ورکول نه غوارم، په دې هکله محمدي شرع څه وايي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۷۵ھ)

جواب: په داسې حال کې دا غوره دي چې دغه نافرمان او بد چلنده هلک ته هیڅ ونه ورکول شي د دې بچیانو ته دې ورکول شي، پاته شو عاقول او نه عاقول د هغه حال دا دی چې په عاقولو څوک نه عاقیږي او شرعًا محرومیږي هم نه، کوم بچی چې عاق دی هغه پخپله عاق دی د عاق معنی ده د مور او پلار نافرمان، نو کوم زوی چې نافرمان دی هغه عاق دی او ګناهګار دی او په خلکو کې چې خبره مشهوره ده چې پلار خپل زوی عاقوي له ترکې څخه محروم ول غواړي په دې سره هغه له ترکې څخه نه محرومیږي، د پلار تر مرګ وروسته هغه وارث ګرځي او له میراث څخه محروم ول منع هم دي که څه هم زوی فاسق او نافرمان وي، ځکه چې په حدیثونو کې د دې منع راغلې ده چې کوم وارث مه محروموئ[۱] امکان لري چې وروسته دی هغه صالح شي، په بیان شویو وجهو باندې تاسو فکر وکړئ پخپله چې څرنګه بند وبست کول مناسب وي هغسې وکړئ. انما الاعمال بالنیات ولکل امرئ ما نوی الحدیث (صحیح البخاري: ۱/۲)

د مورث له مرګ وروسته مرتد شوی وارث په ترکه کې حق لري

سوال: (۸۰) یو سړی د خپل مورث د مرګ پر مهال مسلمان ؤ، وروسته د ترکې تر تقسیم مخکې مرتد شو نو دی په ترکه کې حق لري او کنه؟ (۱۳۴۱/۱۲۲۴ھ)

[۱] مخکنی حواله

جواب: قال في الدر: هل ارث الحی من الحی ام من المیت المعتمد الثاني ([1]) لـه دې څخه معلوم شو چې کوم وارث مورث د مرګ پر مهال پر دین باندي ؤ هغه ته میراث ورکول کیږي، ځکه چې اختلاف د دینینو په وارث او مورث کې معتبر دی([2]) او د وارث کیدو وخت یا د ژوند آخري جز دی یا د مرګ وخت دی، نو کوم وارث چې دا وخت د مورث پر دین ؤ هغه په میراث او ترکه کې حق لري. فقط والله تعالی اعلم.

مسلمان زوی د کافر پلار وارث نه دی

سوال: (۸۱) یو سړی مسلمان شو، پلار یې کافر دی، د پلار تر مرګ وروسته دی برخه اخیستلای شي او کنه؟ (۱۳۳۷/۸هـ)

جواب: مسلمان د کافر وارث نه جوړیږي، لهذا مسلمان زوی د کافر پلار وارث نه دی. کما في عامة الکتب. ([3])

قادیانی زوی د مسلمان پلار وارث نه دی

سوال: (۸۲) یو سړی مسلمان اهل حدیث پر شرع برابر دی، د ده زوی د قادیاني مرید او د هغه پر عقائدو اعتقاد ساتي، پلار ته لیونی، سودایي او نور هم وایي، پلار دی عاقول غواړي، نو ایا په داسې کولو خو به شرعًا د پلار غاړې نه بندیږي؟ او که په دې حال کې پلار وفات شي نو دغه قادیانی زوی شرعًا د ده وارث جوړیږي او کنه؟

(۱۸۷۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

[1]) الدر مع الرد، کتاب الفرائض ط رشیدیه.

[2]) عن اسامة بن زید رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یرث المسلم الکافر والکافر المسلم متفق علیه (مشکوة المصابیح، ص: ۲۶۳، باب الفرائض الفصل الاول)

[3]) د حدیث تخریج د مخکني جواب په دوهمه حاشیه کې وګورئ.

وفي الرد: وموافعه: اختلاف الدین اسلاماً وکفرًا (الدر المختار مع رد المحتار: ۵/۵۴۲ کتاب الفرائض، ص: رشیدیه)

جواب: د داسي زوی عاق کیدل ښکاره دي که پلار عاقوي او که نه عاقوي دی پخپله عاق دی او په دغه حال کي د پلار وارث نه جوړیږي. فقط والله تعالی اعلم

کافره ښځه د مسلمان خاوند وارثه نه ده

سوال: (۸۳) یو سړی د یوې هندوانۍ سره اړیکي پیدا کړي وې. اوس دغه سړی وفات شو، ښځه پر خپل دین قائمه ده او بچیان یې هم موجود دي نو دا د مهر او میراث حق لري او کنه؟ (۱۳۴۰/۹۹۲هـ)

جواب: که دغه ښځه پر خپل مذهب باندي قائمه وه او ده او دې اسلام نه دی قبول کړی او نکاح یې نه ده کړې نو مهر، میراث او نور یو شی د دې لپاره نشته. لیکن که د مسلمان کیدو دعوی کوي او د نکاح کولو دعوی کوي نو قول د دې معتبر دی، په داسي صورت کي د میراث او مهر حقداره ګرځي. فقط والله تعالی اعلم

شیعه ښځه د مسلمان خاوند وارثه جوړیږي او کنه؟

سوال: (۸۴) زید او هنده اهل سنت والجماعت ؤ څه موده وروسته هنده شیعه شوه او زید پر خپله عقیده وفات شو، نو هنده د خپل خاوند زید په ترکه کي حق لري او کنه؟ (۱۳۴۵/۴۷۲هـ)

جواب: د روافضو هغه ډله چي د صدیق اکبر رضی الله عنه د صحبت انکار کونکي او پر بي بي عائشه صدیقه رضی الله عنها تهمت وایي مرتده ده[1] نو که د هندي هم دا عقیده ده نو دا خو مرتده ده، ځکه د خپل خاوند په میراث کي حق نلري، بلکه له کوم وخت څخه چي دا په دغه لعنت کي ګرفتاره شوه د دې نکاح له هغه وخت څخه ماته شوه او که له غالي ډلي څخه نه ده یعني د صدیق رضی الله عنه له صحبت څخه انکار کوني او د تهمت وینا کونکې نه ده نو د ده په ترکه کي حق لري. فقط والله تعالی اعلم

---

[1]) نعم لاشک في تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها، او انکر صحبة الصدیق رضی الله عنه .... او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن (الشامي، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم في حکم ساب الشیخین ط رشیدیه.)

د نامسلمان اولاد له میراث څخه محرومولو کوښښ کول

سوال: (۸۵) عمر یو نوی مسلمان چې مخکې هندو ؤ، ده ښه ډېر د نیکه جائداد له خپل هندو پلار څخه حاصل کړی دی(^١) اوس د ده هغه بچیان چې تر اسلام راوړلو مخکې ؤ یعنې هندو بچیان هم قانونًا د عمر تر وفات کیدو وروسته وارثان جوړیږي، لهذا د عمر لپاره دا کوښښ کول چې په یو رنګه د ده هندو بچیان وارثان نشي واجب دی او کنه؟ د عمر دا وخت دوې مسلماني ښځې، دوه مسلمان زامن او دوې مسلماني لوڼې دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۹۵هـ)

جواب: بیله شکه پر عمر داسې تدبیر او کښښ کول لازم او واجب دي چې د ده کافر بچیان د ده وارثان نشي، مثلاً دا طریقه وکړي چې پخپل ژوند کې پر خپلو مسلمانانو بچیان او ښځو د برخو په اندازه جائداد تقسیم کړي ورهبه یې کړي او دوی ته قبضه ورکړي، یعنې د مشاع هبه دې نه کوي چې وروسته ماتیدلای شي یا دې کوم بل تدبیر دا ډول وکړي چې هندو بچیان یې وارثان نشي. فقط والله تعالی اعلم

حرامه ترکه د وارثانو لپاره حلاله ده او کنه؟

سوال: (۸۲) ایا د مورث تر وفات کیدو وروسته د وارثانو په هکله ټول مال حلال بلل کیږي که څنګه؟ (۱۳۳۹/۵۸۰هـ)

جواب: په دې کې تفصیل دی له کومو خلګو څخه چې په حرامه طریقه مورث مال حاصل کړی دی، که هغه معلوم وي نو هغو ته بیرته ورکول واجب دی او که هغه معلوم نه وي چې له کوم کوم چا څخه مې اخیستی دی، مګر فلانی شئ بعینه ده په حرامه حاصل کړی دی نو د وارث لپاره پخپله مصروفول حرام دي د هغه صدقه کول واجب دي، مګر په صدقه کې دې د اصل مالک نیت وکړي ګواکې د هغه د هغه له طرفه صدقه

---

^١) مسئله دا ده چې مسلمان زوی د هندو پلار وارث نه جوړیږي، لهذا عمر که د پلار تر وفات کیدو وروسته مسلمان شوی دی نو د هندو پلار له ترکې څخه چې کوم جائداد حاصل کړی دی د هغه دی مالک دی او که د پلار تر وفات کیدو مخکې مسلمان شوی دی نو د هندو پلار له ترکې څخه چې کوم جائداد حاصل کړی دی د هغه دی وارث او مالک نه دی، د پلار هندو وارثان د هغه وارثان او مالکان دي۱۲

کیږي او که مال له حرام او حلال څخه ګډوډ دی او نه دا معلوم دی چي مورث له کومو خلګو څخه حاصل کړی دی او کوم شئ بعینه حرام معلوم نه دی نو په داسي صورت کي دغه مال د وارث لپاره د فتوی له مخه حلال دی او صدقه کول یې ډیر غوره دی، په شامي کي راغلی دی: والحاصل: انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم، والا فان علم عین الحرام لایحل له ویتصدق به بنیة صاحبه وان کان مالاً مختلطا مجتمعا من الحرام ولا یعلم اربابه ولا شیئا منه بعینه حل له حکما والاحسن دیانة لتنزه عنه. (۱)

سوال: (۸۷)..... (الف) یو سړی په سود جائداد جوړ کړی وفات شو د ده د وارثانو لپاره دغه جائداد حلال دی که حرام؟

(ب) په دوکه او چل باندي جائداد جوړ کړي مړ شو د وارث لپاره دغه جائداد حلال دي که حرام؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۱۸۳ھ)

جواب: (الف) صحیح خبره دا ده چي عین حرام مال د وارث لپاره نه حلالیږي، نو د کوم چا حق چي مورث اخیستی دی وارث دي هغه ادا کړي یا دي په معاف کړي.

(ب) په دوکه او چل باندي که د خلګو حقوق خوړلي دي او د خلګو مالونه غصب کړي دي پر وارث د دغه حقوقو ادا کول یا په معافول ضروري دي. فقط والله تعالی اعلم

د سود خور مال د وارثان لپاره حلال دي او که نه؟

سوال: (۸۸) سود خوړ مړ شو د ده د وارثان لپاره سودي مال حلال دی او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۱۳۰ھ)

جواب: د وارثانو لپاره دا مال حلال نه دی. کما في الدر المختار: وعلی هذا لو مات مسلم وترک ثمن خمر باعه مسلم لا یحل لورثته الخ (۲) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۸۹) یوې ښځي د خپل وفات شوي سود خور پلار له ترکي څخه څه کمه او روپۍ ورسیدې د دې لپاره په دغه مال کي تصرف کول او خوړل جائز دي او که نه؟

---

۱) الشامي: ، کتاب البیوع، باب البیع الفاسد، مطلب في من ورث مالاحراما ط رشیدیه.

۲) الدر مع الرد: ۱٤٦/٤ باب البیع الفاسد، مطلب فیمن ورث مالاً حرامًا، ط رشیدیه.

(۱۳۳۹/۵۷۲هـ)

جواب: فقهاء په دې کي دا تفصیل بیان کړی دی چي که وارث ته معلوم شي چي له فلاني فلاني سړي څخه د ده مورث په حرامه وسیله مال حاصل کړی ؤ نو پر وارث باندي لازم دي چي دومره اندازه مالکانو ته ورکړي یا یې د هغو وارثانو ته ورکړي یا که مالکان او د هغو وارثان نه وي نو د دوی د راضي کولو په نیت دغومره اندازه صدقه کړي، په شامي کي راغلي دي: قوله: (الا في حق الوارث الخ) ای فانه اذا علم ان کسب مورثه حرام یحل له، لکن اذا علم المالک بعینه فلا شک في حرمته ووجوب رده علیه الخ وفي منیة المفتي: مات رجل ویعلم الوارث ان اباه کان یکسب من حیث لا یحل ولکن لا یعلم الطالب بعینه لیرد علیه حل له الارث والافضل ان یتورع ویتصدق بنیة خصماء ابیه اهـ وکذا لا یحل اذا علم عین الغصب مثلاً وان لم یعلم مالکه لما في البزازیة: اخذ مورثه رشوة او ظلما اذ علم ذلک بعینه لا یحل له اخذه والا فله اخذه حکما اما في الدیانة فیتصدق به بنیة ارضاء الخصماء الخ[1] فقط والله تعالی اعلم.

په ترکه کي که ګډ وډ مال وي نو څه حکم دی؟

سوال: (۹۰) د یو سړي سره حلال مال ؤ په همدغه حلال مال باندي سود او تجارت دواړه شروع کړو او نیم حرام مال یې پاته شو وفات شو، د زوی لپاره ایا دا مال حلال دی که حرام؟ او په همدغه ګډوډ مال مسجد جوړول او حج په کول جائز دي او کنه؟ (۱۳۴۳/۱۱۰۹هـ)

جواب: ده ته پکار دي چي څومره مال حرام دی هغه دي جلا کړي مالکانو ته دي ورکړي او که هغه نه وي نو د هغو وارثانو ته دي ورکړي او که هیڅوک نه وي نو صدقه دي کړي او نیم مال چي حلال دی هغه دي را جلا کړي، همدغه حلال مال دي په مسجد، حج او نورو د خیر په کارونو کي مصرف کړي. حرام مال په مسجد او نورو کي مصرفول صحیح نه دی. فقط والله تعالی اعلم

[1] الشامي: ۱٤٦/٤، کتاب البیوع، باب الفاسد، مطلب في من ورث مالاً حرامًا ط رشیدیه.

طلاقه شوې ښځه په میراث کې حق لري او کنه؟

سوال: (۹۱) یو سړي سره د خپل زوی او مزدور سره د نکاح تړلو لپاره ولاړې نکاح وشوه هلک ګواه شو او مزدور وکیل، یوه دوې میاشتې وروسته ښځه وتښتیده او خاوند ته وایي چې زما نکاح ستا سره نه ده شوې ستا د زوی سره وشوه، له دې وروسته خاوند طلاقه کړه او خاوند وفات شو، ایا د دغې ښځې لپاره د دغه سړي په ترکه کې حق شته او کنه؟ (۱۳۳۸/۵۸۳هـ)

جواب: کله چې د ښځې په خوښه د زوی او مزدور په مخکې نکاح وشوه او ایجاب او قبول وشو نو نکاح د پلار سره وشوه، د ښځې انکار وروسته اعتبار نلري او کله چې خاوند د روغتیا پر مهال دا طلاقه کړه نو دغه طلاقه شوې ښځه د خاوند په ترکه کې حق نلري فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۹۲) زید د شکر ناجوړه ؤ په همدغه هلاکونکي ناجوړې کې خپله حامله ښځه هنده طلاقه کړه، له طلاق څخه پنځلس شل ورځې وروسته بچی پیدا شو او نژدې درې میاشتې وروسته زید وفات شو، په دغه صورت کې طلاق واقع شو او ښځه د خاوند په ترکه کې حق لري او کنه؟ (۱۳۴۲/۳۲۲هـ)

جواب: کله چې مرض د زید ورځ په ورځ زیاتیدی دی کمزوی کیدی، تر دې چې په همدغه مرضې کې وفات شو نو دا مرض د ده مرض الموت دی، په داسي مرض کې طلاق ورکولو ښځه طلاقیږي لیکن که خاوند د ښځې تر عدې ختمیدو مخکې وفات شي نو بائنه مطلقه ښځه د ده وارثه ګرځي، مګر په بیان شوي صورت کې خو د ښځې د عدې تر تیریدو وروسته زید وفات شو ځکه د ده ښځه د ده په میراث کې حق نلري، ځکه چې د حاملې عده د بچي پیدا کیدل دي که طلاقه شوې وي او که خاوند وفات شوی وي. هو کذا في الدر المختار: کما قال الله تعالی: "و اولات الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن" (سورة طلاق، آیت: ٤) د درمختار عبارت دا دی: فلو ابانها الخ وهو کذلک.... ومات.... بذلک السبب.... اوبغیره.... في

العدة للمدخولة ورثت هي منه الخ (۱) نو د في العدة له قید څخه معلوم شو چې که د عدې تر ختمیدو وروسته خاوند وفات شو نو ښځه د ده وارثه نه جوړیږي. فقط والله تعالی اعلم

متبني او د خاوند زوی دواړه وارثان نه دي

سوال: (۹۳) یوه ښځه وفات شوه څه ترکه یې پاتـه شوه کوم وارث یې نه ؤ ځکه اسلامي حزب تجهیز او تکفین وکړي، د دې قرض هم دا حزب ادا کړي له مرګ څخه څو ورځې وروسته یوې متبني (نومولي) لور او د وفات شوي خاوند زوي چې له بلې ښځې څخه دي د دغه وفات شوي ښځې د ترکې غوښتنه وکړه، ایا دوی دواړه وارثان کیدلای شي او کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۸۷۹)

جواب: د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته چې پکې د دغه اسلامي حزب روپۍ هم دي، د دغه وفات شوي ښځې مال د خیر په کارونو کې مصرف کړي، د متبني انجلۍ او نوموړي هلک هیڅ حق په میراث کې نشته. محمد اعزاز علی غفرله

میره شرعي وارثه نه ده

سوال: (۹۴) میره ته میراث ورکول کیږي او کنه؟ (۱۳۴۲/۱۲۷۲هـ)

جواب: د پلار ښځه شرعي وارثه نه ده، د دې لپاره د سړي میراث څخه برخه نشته فقط

په ډوډۍ جامو ورکولو د مور برخه نه ساقطیږي

سوال: (۹۵) یو سړي له خپل میراث څخه یو دوکان بیع کړي او له هغه څخه د مور برخې د شرعي سره سمه راوایسته، یو بل سړي ورته وویل چې ته خو مور ته ډوډۍ او جامې ورکوې نو دې ته د برخې ورکولو څه ضرورت دی؟ او جائداد د ده پلار ګټلې دي د پلار تر مرګ وروسته خرڅ شو د مور برخه له دې څخه را ایستل کیږي او کنه؟ (۱۳۳۸/۱۸۱۵هـ)

جواب: د مور برخه چې هر څومره ده هغه باید دې ته ورکړي، په ډوډۍ او جامو ورکولو د دې برخه نه ساقطیږي. فقط والله تعالی اعلم

---

(۱) الدر مع الرد: ۵٦٦/۲، كتاب الطلاق، باب طلاق المريض ط رشيديه.

که ټول وارثان میراث یو وارث ته ورکړي او په محکمه کي بیان وکړي وروسته یو وارث منکر شي؟

سوال: (۹۲) یو سړی چي بچیان نلري ده خپل ټول وارثان را جمع کړو ورته وویل چي په تاسو کي څوک زما او زما د ښځي خدمت وکړي او له وفات کیدو وروسته تجهیز او تکفین وکړي هغه په زما د ځمکي مالک وي نو ټولو وارثانو په کورنۍ کي یو سړی چي وس لري وي ټاکي او هغه بچیان نلرونکي شخص دا شرط هم ولګاوی چي پر ما چي څومره قرض دی هغه دي هم ادا کړي، نو دغه ټاکل شوي سړي د ده او د ده د ښځي تر ډیره موده پوري پالنه وکړه او قرض یې هم ادا کړی او له وفات کیدو څخه وروسته تجهیز او تکفین هم وکړی، له دې وروسته معامله په محکمه کي پیش شوه، ټولو وارثانو د حق الخدمت په وجه خپل خپل حقوق پریښودو او په قسم سره بیانونه وکړو، نو محکمې هغه ځمکه پالونکي ته ورکړه د ده په وارثانو کي یو سړي چي په محکمه کي په قسم سره بیان کړی دی اوس دی دعوی کوي چي پالونکی زما سره پټه وعده کړې وه چي که ما ته ځمکه راکړه نو تا ته هم برخه ځني درکوم، ګواه هیڅوک نشته، د دغه وعدې په وجه ما د دروغو بیان په محکمه کي وکړی د نورو وارثانو حق مي په غصب کړی، نو پوښتنه دا ده چي په محکمه کي کوم څوک په قسم سره بیان وکړي له شلو کلونو تیریدو وروسته دعوی وکړي چي ما چي په محکمه کي کوم بیان کړی دی هغه دروغ دي، اوس چي کوم بیان کوم دا رینښتیا دي، نو شرعًا د ده هغه بیان معتبر دي چي په محکمه کي په قسم سره کړی دی، که اوس چي شل کلونه وروسته د هغه په خلاف کوي؟ (۲۳۲/۴۴-۱۳۴۵ه)

جواب: په دغه صورت کي کله چي ټولو وارثانو په شرعي توګه نومړي د مرحومانو د ترکي مالک جوړ کړي نو نومړی مالک شو، اوس د کوم وارث لپاره شرعًا دا حق نشته چي دې ته دروغ ووایي او وارثانو چي مخکي کوم بیان کړی دی هم هغه شرعًا معتبر دی اوس د کوم وارث بیان د هغه په خلاف نه اوریدل کیږي. فقط

که په نکاح کې شک وي نو ښځه او د دې بچیان وارثان دي او کنه؟

سوال: (۹۷) زیده یو ښځه هنده چې خاوند یې ژوندی ؤ د آشنایي په طریقه خپل کور ته راوسته، وروسته خاوند هندې ته طلاق ورکړی، هنده د زید کره ولاړه، اورېدلي مې دي چې زید څه موده وروسته د خپلو یارانو په یو خاص مجلس کې هنده په نکاح کړه، مګر په هغه نکاح عام خلګ نه دي خبر شوي، هنده د زید کره د ښځې په رنګه اوسیده، څکه ځني دري زامن هم پیدا شول، اوس زید وفات شو هنده او درې زامن یې پاته شو، اوس د زید ورور خالد د زید پر جائداد قبضه وکړه، وایي چې لومړی د زید نکاح د هندې سره ثابته کړی بیا برخه کیږي؟ د کومو اندېوالانو په مخکې چې نکاح شوې ده هغه وفات شوي دي (۱۳۴۰/۱۲۳۲هـ)

جواب: شرعًا د زید او هندې نکاح منله کیږي او د هندې چې کوم بچیان پیدا شوي دي هغه له زید څخه ثابت النسب دي او د زید د ترکې وارثان دي، د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته د زید ترکه څلورویشت برخې کیږي درې برخې د ده د ښځې د هندې دي او اووه اووه برخې د ده د هر زوی دي د زید ورور خالد په دغه ترکه کې حق نلري

والنسب يحتال لاثباته مهما امكن، والامكان هنا يسبق التزوج بها سرًا بمهر يسير، وجهرًا باكثر سمعة، ويقع ذلک كثيرًا، وهذا جوابي لحادثة فليتنبه له الخ (۱) فقط والله تعالى اعلم.

بيله نكاح ساتلي ښځې بچيان وارثان دي او كنه؟

سوال: (۹۸) يو سړي له ډيرشو كلونو راهيسي يوه ښځه ساتلې وه بيله نكاح په زنا سره يو هلک او يوه انجلۍ پيدا شوه، تر مرګ مخكې ده خپل سراى او نغدي روپۍ چې څه ؤ د دغه هلک او انجلۍ په نوم وليكل او د ليكلو پر مهال يې خپل زوى او لور وليكل او ښځه اقرار كوي چې زما نكاح تر اوسه نه ده شوې، اوس د دغه سړي دوه وړېرونه دي هغه په ميراث كې حق لري او كنه؟ (۱۳۳۸/۱۲۳۲هـ)

جواب: په دغه صورت كې كله چې زيد اقرار كوي چې دغه زوى او لور زما دي نو دا د ده بچيان بلل كيږي او نسب د دوى له زيد څخه ثابتيږي او دوى دواړه د زيد وارثان ګرځي يعني د "للذكر مثل حظ الانثيين" (۲) او د وړېرو لپاره هيڅ شئ نشته (۳) فقط والله تعالى اعلم.

زوم وارث جوړيږي او كنه؟

سوال: (۹۹) زوم هم وارث جوړيږي او كنه؟ (۱۳۴۳/۲۰۹هـ)

---

(۱) الشامي: ۶۸۱/۲، كتاب الطلاق، باب العدة، فصل في ثبوت النسب، مطلب في ثبوت النسب من الصغيرة ط رشيديه.

(۲) ومع الابن للذكر مثل حظ الانثيين وهو يعصبهن (السراجي في الميراث، ص: ۱۲، فصل في النساء)

(۳) حضرت مفتي صاحب رحمه الله د خاوند د قول پر اساس جواب وركړى دى، مګر ښځه ژوندۍ ده او هغه اقرار كوي چې زما نكاح تر ننه نه ده شوې، نو نسب نه ثابتيږي او دغه هلک او انجلۍ د ميراث حق نلري. په حديث كې راغلي دي: عن عبد الله بن عمرو رضى الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم قال: ايما رجل عاهر بحرة او امة فالولد ولد زنا لا يرث ولا يورث. رواه الترمذي (مشكوة، ص: ۲۶۳، باب الفرائض) ۱۲ سعيد احمد پالن پوري.

جواب: په زوم کې که کوم بل حیثیت د عصوبت او نورو نشته نو د زوم کیدو په وجه د ده هیڅ حق د خسر په مال کې نشته، صرف د ده ښځه یعني د متوفي لور د خپل شرعي برخې وارثه ده. فقط والله تعالی اعلم

په بله نکاح کولو د ښځې مهر او د میراث حق نه ساقطیږي

سوال: (۱۰۰) که د کومې ښځې خاوند وفات شي او ښځه تر عده تیره‌ږدو وروسته بل ځای نکاح وکړي نو د لومړي خاوند له مال څخه خپل مهر اخیستلای شي که د دوهمې نکاح کولو په وجه څه کیږي؟ (۱۵۹۴/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: د لومړي خاوند له ترکې څخه دغه ښځه خپل مهر اخیستلای شي او پوره مهر به اخلي، د دوهمې نکاح کولو په وجه په مهر کې هیڅ کمې نه راځي. فقط والله اعلم

سوال: (۱۰۱) د یوې ښځې خاوند وفات شو، له عدې وروسته دې بل ځای نکاح وکړه، اوس د دوهمې نکاح کولو په وجه د خاوند له ترکې څخه د دې برخه شته او کنه؟ (۲۰۱۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د دوهمې نکاح کولو په وجه د کونډې د میراث برخه له لومړي خاوند څخه نه باطلیږي، دا خیال د جاهلانو غلط دی، کومه برخه چې د خاوند په ترکه کې الله تعالی مقرره کړې ده هغه په دوهمه نکاح کولو نه باطلیږي. قال الله تعالی: "ولهن الربع مما ترکتم ان لم یکن لکم ولد فان کان لکم ولد فلهن الثمن مما ترکتم." (سورة نساء، آیت: ۱۲) ترجمه: او ښځو ته ستاسو (خاوندانو) په ترکه یوه څلورمه ورکول کیږي که ستاسو اولاد نه وي او که ستاسو اولاد وي نو د دوی ستاسو په ترکه کې اتمه برخه ده. فقط والله تعالی اعلم

نوې مسلمانه که وفات شي او کوم مسلمان وارث نلري نو د دې د ترکې څه حکم دی؟

سوال: (۱۰۲) یوه هندوانۍ یو سړي مسلمانه کړه نکاح یې ورسره وکړه د دغه سړي له وفات کیدو وروسته د ده مخکنۍ بچیانو دغه ښځه ته چې بچیان نلري د خپل پلار

له ترکې څخه مناسبه برخه ورکړه، اوس څه کم يوه مياشت کيږي چي دا ښځه وفات شوه، د دې د ترکې وارث څوک دی؟(۱۳۴۰/۱۳۰۸هـ)

جواب: که د دغه نوي مسلماني ښځي کوم ليري يا نژدې قريب مسلمان موجود وي هغه ته ورکړی او که هيڅوک نه وي د دې ترکه اسلامي مدرسو او نورو ته ورکړی ترڅو د دې ثواب وي. فقط والله تعالی اعلم

که اولاد وي نو د خاوند څومره برخه ده؟

سوال:(۱۰۳) که ښځه وفات شي او اولاد ولري نو د دې په جائداد کي د خاوند څومره برخه ده؟(۱۳۳۷/۲۲۹۴هـ)

جواب: په دغه صورت کي د خاوند حق څلورمه ده.(۱) فقط والله تعالی اعلم

د خاوند په ترکه کي د ښځي څومره برخه ده؟

سوال:(۱۰۴) که خاوند وفات شي د ښځي څومره حق جوړيږي؟(۱۳۴۰/۱۹۴۸هـ)

جواب: د خاوند له وفات کيدو وروسته د ښځي حق د خاوند په ترکه کي که اولاد موجود وي اتمه ده او که اولاد نه وي څلورمه ده.(۲) فقط والله تعالی اعلم

که چا د نرښځي سره نکاح وکړه نو د ميراث به څه حکم وي؟

سوال:(۱۰۵) يو مسلمان په ناداني او ناخبرتيا کي د نرښځي سره نکاح وکړه چي دا انجلۍ ده، وروسته معلوم شو چي دا نرښځی دی، بيا دا سړی وفات شو نو د ده په ميراث کي د نرښځي څومره برخه جوړيږي؟(۱۳۴۷-۴۶/۱۳۸۸هـ)

جواب: په شريعت کي د خنثی تعريف دا دی چي پکي دواړه علامتونه وي د نارينه هم او

---

(۱) "فان كان لهن ولد فلكم الربع مما تركن الآية" (سورة نساء، آيت: ۱۲)

(۲) "ولهن الربع مما تركتم ان لم يكن لكم ولد فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم." (سورة نساء، آيت:۱۲)

زنانه هم، یا دواړه پکې نه وي، بیا د ده دوه قسمه دي، خنثی مشکل او خنثی غیر مشکل، خنثی مشکل خو هغه دی چې پکې کوم اړخ د نر کیدو یا ښځې کیدو راجح نه وي، نو کوم چې داسې خنثی دی د هغه نکاح د نر سره یا ښځې سره نه صحیح کیږي، بلکه موقوفه وي، که وروسته معلوم شو چې دا ښځه ده نو د نر سره نکاح صحیح ده او که معلوم شو چې نر دی نو د نر سره نکاح باطله ده او د ښځې سره صحیح ده او خنثی غیر مشکل هغه دی چې د هغه نر کیدل یا ښځه کیدل په علاماتو ثابت شي نو څنګه چې دی معلوم شي د هغه سره به سم حکم لګول کیږي، نو په مسئوله صورت کې که دا خبره ثابته شوې ده چې دا نر نه بلکه ښځه ده، لیکن خاوند ورسره د کوم مانع په وجه کوروالی نشي کولای نو نکاح صحیح شوه او احکام د نکاح وربانديي مرتبیږي او دا د خپل خاوند وارثه ګرځي او که د ښځې علامات پکې نشته، بلکه د نر پکې موجود دي مګر خصي او عنین دی نو ښکاره خبره ده چې د نارینه نکاح ورسره باطله ده، په دغه صورت کې احکام د نکاح وربانديي نه مرتبیږي او میراث نه جاري کیږي، لنډه دا چې دا تحقیق په کار دی چې دی څه ډول خنثی دی. په درمختار کتاب الخنثی کې راغلي دي: وهو ذو فرج وذکر او من عری عن الاثنین جمیعا، فان بال من الذکر فغلام، وان بال من الفرج فانثی وان بال منهما فالحکم للاسبق، وان استویا فمشکل الخ هذا قبل البلوغ، فان بلغ وخرجت لحیته اوصل الی امراة او احتلم کما یحتلم الرجل فرجل، وان ظهر له ثدي اولبن او حاض او حبل او امکن وطوه فامراة، وان لم تظهر له علامة اصلا او تعارضت العلامات فمشکل([1]) او په کتاب النکاح کې راغلي دي: فخرج الذکر والخنثی المشکل الخ([2]) یعني د نارینه نکاح د نارینه سره یا د خنثی مشکل سره صحیح نه ده، هغه د نکاح له تعریف څخه خارج شو، لنډه دا چې مسئله مشکله ده، لومړی د حال تحقیق وکړئ بیا حکم پر ولګوئ فقط

د سکه ورور په موجودیت کې علاتي خوندي میراث نه وړي

سوال: (۱۰۲) یو سړی څه جائداد د خپلې ښځې په نوم چې تر مهر ډیر زیات دی کړی

---

[1]) الدر مع الرد: ۵۱۳/۵، اوائل کتاب الخنثی ط رشیدیه.

[2]) الدر المختار مع رد المحتار: ۲۸۱/۲، اوائل کتاب النکاح ط رشیدیه.

د ښځي او خاوند دواړو بچیان نشته، ښځه وفات شوه چي په وارثانو کي: خاوند، یو ورور، یوه سکه خور، دوې خوندي له بلي مور څخه دي او یوه یې خپله مور ده، نو په دغه صورت کي میریځي خوندي میراث وړي او کنه؟ که وړي نو څومره دی؟
(۱۳۳۴-۳۳/۲۱۳ھ)

جواب: د وفات شوي ښځي ترکه تر حقوق مقدمه علی المیراث وروسته اتلس برخي کړئ نهه برخي د خاوند، څلور برخي سکه وروسته، دوي برخي سکه خور او درې برخي مور ته وکړئ، په پلار شریکي (علاتي) خوندي محرومي دي. فقط

د زوی په موجودیت کي لمسیان وارثان نه جوړیږي

سوال: (۱۰۷) زید وفات شو یو زوی دوه لمسیان (د لور زامن) او یوه لمسی (د لور لور) پاته شو، د ده په ترکه کي د لمسیانو برخه شته او کنه؟ (۱۳۳۵/۹۱۳ھ)

جواب: په دغه صورت کي د زید ترکه د ده د زوی ده یعني د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته د زید د ترکې وارث د ده زوی دی، لمسیان محروم دي
فقط والله تعالی اعلم

په عصبه بنفسه او بغیره کي ترجیح چا ته ده؟

سوال: (۱۰۸) که عصبه بنفسه او بغیره دواړه موجود وي نو ترجیح چا ته ده؟ مثلاً د زید وفات شوي یوه لور، یوه خور او څلور د اکا زامن عصبه بنفسه موجود دي، نو ترکه به د اکا زامنو عصبه بنفسه وي که به نیمه د لور او نیمه د خور وي؟ یا مثلاً هنده وفات شوه د دې دوې لوڼي، یوه سکه خور او یو سکه ورور دی، نو خور یې عصبه بغیره ده او ورور یې عصبه بنفسه، دوی دواړو ته به برخه ورکوله کیږي که صرف ورور ته مدلل به وي؟ (۱۳۳۷/۱۰۵۴ھ)

جواب: که د متوفي یوه لور یوه خور او څلور ابناء العم وي نو نیمه ترکه د لور او نیمه د خور ده ابناء العم محروم دي، ځکه چي دوی که څه هم عصبه بنفسه دي مګر بعید دي، نو د الاقرب فالاقرب په قاعده خور مقدمه ده. قال علیه الصلاة

والسلام: اجعلوا الاخوات مع البنات عصبة (۱) او په دوهم صورت کي خور او ورور دواړه په یوه درجه کي دي او خور د خپل ورور سره عصبه ګرځي لهذا په دغه صورت کي دواړو لونو ته دوه ثلثه او پاته ورور او خور ته د للذکر مثل حظ الانثیین په حساب ورکول کیږي. کذا في السراجي. (۲) فقط والله تعالی اعلم

چي زامن وي لمسیان حق نلري

سوال: (۱۰۹) زما د پلار مرحوم جائداد ما او زما سکه ورور سره دوې برخي کړی، زه دومره مقروض یم چي هندوان زما برخه لیلامول غوړي، زما شپږ زامن، یوه لور، یوه لمسی (د زوی لور) او د هلکانو مور شته، داسي خبر شومی یم چي په شرعي قانون د لمسیانو (د زوی زامنو) حق د نیکه پر رانیولي جائداد کي وي، څو وکیلان داسي خبره کوي او څو وکیلان بیا وایي چي د پلار په ژوند کي حق نلري، که د لمسیانو حق شته، نو مورږ ته د حدیث یا کوم اسلامي قانون په حواله ولیکئ تر څو مورږ ته آساني او په محکمه کي عذر وکړو. (۳۲۳۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: چي زامن وي لمسیان هیڅ حق نلري د الاقرب فالاقرب(۳) په قاعده اما که نیکه لمسیانو ته څه جائداد شرعي قانون سره سم هبه کړی او دوی مالکان کړي نو لمسیان

---

۱) لم اجده بهذا اللفظ، قال في الشامي: جعله في السراجية وغيرها حديثا. قال في "سكب الانهر" ولم اقف على من خرجه، لكن اصله ثابت بخبر ابن مسعود رضى الله عنه، وهو ما رواه البخاري وغيره في بنت وبنت ابن واخت للبنت النصف، ولبنت الابن السدس وما بقي فللاخت (الشامي: ۵۴۸/۵، كتاب الفرائض، فصل في العصبات ط رشيديه.)

۲) ومع الاخ لاب وام للذكر مثل حظ الانثيين يصرن به عصبة لاستوانهم في القرابة الى الميت (السراجي في الميراث، ص: ۱۶، فصل في النساء)

۳) ثم العصبات بانفسهم اربعة اصناف: جزء الميت، ثم اصله، ثم جزء ابيه ثم جزء جده، ويقدم الاقرب منهم بهذا الترتيب، فيقدم جزء الميت كالابن ثم ابنه وان سفل الخ-(الدر المختار مع الشامي: ۵۴۶/۵، كتاب الفرائض، فصل في العصبات ط رشيديه.)

مالکان ګرځي او د زامنو په وسیله هم شرعًا لمسیانو ته برخه رسیدلای شي. فقط والله تعالی اعلم.

چي عصبه وي ذوی الارحام حق نلري

سوال: (۱۱۰) الله بخش وفات شو، یوه ښځه یو وراره او د بل ورور دوي لوڼي پاته شو او د الله بخش له وفات کیدو وروسته ښځي مهر ور وبخښی خو ګواهان شته، اوس د الله بخش ښځه جائداد خپل ورور ته ورهبه کول غواړي او ښځي د مهر په بدل کي پر جائداد قبضه کړې ده او د الله بخش د وربرو او وربرګانو حق شته او کنه؟
(۱۲۳۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: په دغه صورت کي د الله بخش ترکه تر حقوق مقدمه علی المیراث ادا کولو وروسته څلور برخي کړئ یوه برخه د ده ښځي ته او درې برخي وراره ته ورکړئ او د هغه بل ورور لوڼي محرومي دي ځکه چي هغه له ذوی الارحام څخه دي او وراره عصبه دی چي عصبه وي ذوی الارحام حق نلري (۱) د الله بخش ښځه خپله څلورمه برخه د ترکي له تقسیم وروسته خپل ورور ته هبه کولای شي ټول جائداد نشي ورکولای ځکه چي د الله بخش د ټولي ترکي دا مالکه نه ده او مهر چي کله دې وبخښی نو هغه ساقط شو او الساقط لا یعود (۲) منله شوې مسئله ده. کذا في الاشباه والنظائر. فقط والله تعالی اعلم

که صرف یو د خاله زوی وارث وي نو ترکه څه ډول تقسیمیږي؟

سوال: (۱۱۱) د زید د خاله لور وفات شوه او د هغې له زید څخه پرته بل کوم وارث نشته، بچیان یې نه ؤ، نو د دې ترکه به څه ډول تقسیمیږي؟ (۷۲۴/۴۴-۱۳۴۵هـ)

---

(۱) ولا یرث مع ذی سهم ولا عصبة سوی الذوجین لعدم الرد علیهما (الدر مع الرد: ۵۵۹/۵ کتاب الفرائض، باب توریث ذوی الارحام ط رشیدیه.)

(۲) غمزعیون البصائر علی الاشباه النظائر: ۳۲۷/۲ کتاب الاقرار، قبیل کتاب الصلح، وایضاً منه: ۶۰/۳ (بیان ان الساقط لا یعود، المطبوعة، زکریا بک ډپو، دیوبند)

جواب: که د متوفیه له زید څخه پرته بل کوم وارث نشته، نه عصبه شته او نه ذوی الفروض، صرف یو د خاله زوی زید یې وارث دی، نو تر حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته ټوله ترکه د زید ده(۱) فقط والله تعالی اعلم

که صرف د خاوند وراره موجود وي نو ترکه د چا ده؟

سوال: (۱۱۲) بي بي ستاره وفات شوه، د دې هیڅوک خپل وارث نشته، صرف د دې د خاوند وراره شته، نو د دې د ترکې څه حکم دی؟(۵۵۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: اصلاً خو د داسي ترکې حق د بیت المال دی لیکن کله چي دلته په هندوستان کي دا دار الحرب کیدو په وجه بیت المال او بله د اسلامي ضروریاتو اداره نشته، نو بیا به دا ترکه هغه چا ته ورکول کیږي چي د مړي سره په هر حیث چي وي د قرابت تړون لري، په مسئوله صورت کي چي کله د ستارې کوم شرعي وارث نشته نو د دې د خاوند وراره چي له دې څخه محض اجنبي نه دی بلکه د خاوند په وسیله د قرابت تړون لري د دې د ترکې حقدار دی دغه استحقاق د وارث کیدو په حیث نه دی صرف د قرابت د تړون په وجه دی. په شامي: ۵۱۲/۵ کي راغلي دي: وقیل: ان لم یترک الا بنت المعتق یدفع المال الیها لا ارثا بل لانها اقرب الخ وبه یفتي لعدم بیت المال الخ (۲) فقط والله اعلم.

د مور له عمه زوی څخه پرته بل وارث نشته نو ترکه د چا ده؟ او په مرض الموت کي د هبه کولو حکم

سوال: (۱۱۳) د متوفي زید هیڅوک وارث نشته مګر یو بکر ماما هغه هم سکه نه دی، یعني د ده د مور د عمه زوی دی، نو اوس د زید د ترکې مستحق څوک دی؟ او داغه راز زید په مرض الموت د خالد په اړه چي ده د خپلي وفات شوي خور کوز ده ورسره کړې وه وویل چي زما د مال مالک دی دی، نو په دغه صورت کي د زید وینا وصیت بلل

---

(۱) فیاخذ المنفرد جمیع المال بالقرابة (الدر مع الرد کتاب الفرائض: ۵۵۹/۵، باب توریث ذوی الارحام ط رشیدیه.)

(۲) الشامي: ۵۵۶/۵، کتاب الفرائض، اوائل باب العول ط رشیدیه.

کیږي او کنه؟ که وصیت دی نو په دریمه د ترکه کي دی که څنګه؟ (۲۹/۳۱۵-۱۳۳۰ھ)

جواب: د زید که کوم وارث عصبه او ذوی الفروض نشته او نه په ذوی الارحام کي کوم مقدم او اقرب تر بکر شته نو بکر د زید وارث ګرځي نو د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته ټوله ترکه د زید بکر ته ورکول کیږي او د زید په مرض الموت کي خالد ته دا ویل چي زما د مال دی مالک دی هبه ده او هبه بیله قبضه نه تامیږي، لهذا باطله ده او د وصیت په حکم هم نه ده او که دا وویل چي زما د مال دی مالک دی قبضه یې هم ورکړه او موهوب مشاع نه دی نو دا هبه صحیح شوه اما دا خو په مرض الموت کي ده ځکه د وصیت په حکم ده په یو ثلث کي جاري کیږي او د یو ثلث مال مالک خالد بلل کیږي کما في الدر المختار، باب العتق في المرض: اعتاقه ومحاباته وهبته الخ، کحکم وصية الخ قال العلامة الشامي: قوله: (وهبته) ای اذا اتصل بها القبض قبل موته، اما اذا مات ولم يقبض فتبطل الوصية، لان هبة المريض هبة حقيقة وان كانت وصية حكما كما صرح به قاضي خان وغيره (۱) (شامي) فقط والله تعالی اعلم.

د مړي یو زوی او خاوند شته

سوال: (۱۱۴) د یوې ښځي په مهر کي یو سرای دی اوس هغه ښځه وفات شوه، د دې یو زوی شته دې د غه سرای د دوولسو روپیو په عوض چا ته په ګرو ورکړی ؤ، د دې زوی د دغه سرای قرض پخپله ادا کړی او د دغه ښځي خاوند هم شته، مګر د قرض په اړه خاوند یوه پیسه هم نه ده ورکړې او کله چي دا وفات شوه نو تجهیز او تکفین یې خاوند او زوی وکړو، اوس د هلک څومره حق جوړیږي او د خاوند څومره؟ (۲۹/۱۰۸۴-۱۳۳۰ھ)

جواب: هلک دي خپل د قرض روپۍ ځني واخلي نوري چي پاته شوې هغه به خاوند او زوی دا د ول تقسیم کړي چي له څلورو برخو څخه به یوه برخه خاوند ته او درې برخي زوی ته ورکړي په دې

---

(۱) الدر والرد: ۴۸۱/۵، کتاب الوصايا، باب العتق في المرض ط رشيديه.

شرط چي کوم بل وارث به نه وي قال في الدر المختار من شهادة الاوصياء: او كفن الوارث الميت او قضى

دينه من مال نفسه، فانه يرجع ولا يكون متطوعًا اهـ (۱) فقط والله تعالى اعلم.

که وارثان یوه لور او دوه ورونه وي نو....

سوال: (۱۱۵) زید مشر، بکر میانی او عمر کشر ورونه دي د زید دري زامن یوه لور ده د بکر صرف یوه لور ده، د عمر دوې لوڼي دي، بکر وفات شو اوس د بکر جائداد څه ډول تقسیمیږي؟ (۱۴۲۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د بکر جائداد د حقوق مقدمه على الميراث تر ادا کولو وروسته په دغه صورت کي څلور برخي کړئ دوې برخي لور ته یوه برخه زید ته او یوه عمر ته ورکړئ فقط

وارثان خاوند، یوه لور، دوه پلار شریک ورونه او دوې پلار شریکي خوندي دي

سوال: (۱۱۶) بي بي کلثوم وفات شوه د دې خاوند، یوه لور، دوه ناسکه ورونه، دوې ناسکه خوندي، یو سکه اکا، یوه د اکا لور، لیور او د لیورو بچیان یې شته ترکه یې څه ډول تقسیمیږي؟ (۱۴۲۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د کلثوم ترکه د حقوق مقدمه على الميراث تر ادا کولو وروسته څلورویښت برخي کړئ شپږ برخي د دې وخاوند ته دوولس د دې لور ته او دوې دوې برخي هر ناسکه ورور ته او یوه یوه برخه هري ناسکه خور ته ورکړئ فقط والله تعالى عالم

---

(۱) الدر المختار مع ردالمحتار: ۵۰۵/۵، كتاب الوصايا، باب الوصي وهو الموصي اليه، فصل في شهادة الاوصياء ط رشيديه.

که وارثان خاوند، یو زوی دوه ورونه او یوه خور وي نو ترکه څه ډول ویشل کیږي؟

سوال: (۱۱۷) بي بي زاهده وفات شوه یوه خور، دوه ورونه، یو د اوو کلونو زوی او خاوند یې پاته شو، د دې میراث به څه ډول تقسیمیږي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۸۰۱هـ)

جواب: د مرحومې ترکه د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته څلور برخې کړئ یوه برخه خاوند ته، درې زوی ته ورکړئ، خور او ورور یې محروم دي فقط

که خاوند، زوی، مور او پلار او نور وارثان وي نو د ترکې تقسیم به څرنګه وي؟

سوال: (۱۱۸)... (الف) بي بي هنده وفات شوه یو نابالغ زوی، خاوند، مور او پلار، څلور ورونه او دوې خوندې موجود دي، ترکه به څه ډول تقسیمیږي؟

(ب) د هندې زیور څه په وکړو؟

(ج) کوم سامان او نور شیان چې د هندې سره د خاوند ورکړي ؤ ایا هغه به هم په ترکه کې تقسیمیږي که څنګه؟

(د) د هندې خاوند غواړي چې څومره ترکه ده هغه په هنده پسې خیرات کړې، تو له ترکه دا ډول خیراتول صحیح ده او که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۹۲۸هـ)

جواب: (الف) د هندې ترکه چې د دې ملک وه د دې تر مرګ وروسته د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته دوولس برخې کړئ درې برخې د دې خاوند ته، دوې دوې برخې مور او پلار ته او پنځه برخې زوی ته ورکړئ، ورور او خور یې محروم دي

(ب) پر وارثانو باندې وویشئ او د نابالغ برخه دې د ده د پلار یعني د وفات شوې د خاوند سره وي

(ج) د جیز ټول سامان د دې ملک دی، دا پر ټولو باندې د بیان شوي تفصیل سره سم تقسیم کړئ او کوم مال او سامان چې خاوند ورکړی دی که هغه خاوند د دې ملک کړخولی دی نو په دې کې هم هغه ډول تقسیم کیږي او که هغه سامان د ښځې سره په عاریت ؤ نو خاوند دې پخپله واخلي.

(د) خاوند پخپله برخه کي داسي کولای شي او د مور او پلار که خوښه وي نو د دوی په برخو کي هم داسي کیدلای شي، مګر د نابالغ برخه خوندي کول پکار ده او پلار دي پخپله د ده برخه امانت کښیږدي. فقط والله تعالى اعلم

په وارثانو کي ښځه، لور، يو سکه ورور او نور دي

سوال: (۱۱۹) يو سړی وفات شو يوه يې کونډه، يوه لور، سکه ورور او يوه يتيمه وريره پاته شو نو ترکه د ده څرنګه تقسيمږي؟ (۴۱۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د متوفي ترکه په دغه صورت کي د حقوق مقدمه على الميراث تر ادا کولو وروسته اته برخي کړئ، يوه برخه ښځي ته، څلور برخي لور ته او دري برخي سکه ورور ته ورکړئ، وريره محرومه ده.

وراثان ښځه، لور، مور او پلار او نور دي

سوال: (۱۲۰) زيد وفات شو په وارثانو کي ښځه، لور، مور، پلار، يو ورور او دري خوندي دي، ترکه يې څه ډول تقسيمږي؟ (۷۴۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په دغه صورت کي د متوفي ترکه د حقوق مقدمه على الميراث تر ادا کولو څلور ويښت برخي کړئ دري برخي ښځي ته، دوولس يې لور ته، څلور برخي مور ته او پنځه برخي پلار ته ورکړئ، ورور او خوندي محروم دي. فقط والله تعالى اعلم

په وارثانو کي مور، يو ناسکه اکا او نور دي

سوال: (۱۲۱) وليد وفات شو په وارثانو کي سکه مور هنده، زيد علاتي اکا، بکر د علاتي اکا زوی، علاتي عمه زبيده ده وليد ته د حکومت له طرفه سره د اکا د اکا د زوی او نورو برابره برخه ورکول کيده او تنخواه هم د حکومت له طرفه ورکول کيده، لهذا د حکومت له طرفه ورکونکي برخي او تنخواه د وليد د چا دي؟ او څو برخي به جوړيږي؟ (۴۸/۱۳۳۹هـ)

جواب: په دغه صورت کي د زيد ملک ترکه د حقوق مقدمه على الميراث ترادا کولو وروسته دري برخي کړئ يوه برخه د ده مور ته، او دوې برخي د ده د علاتي اکا دي د اکا زوی او علاتي عمه محروم دي فقط والله تعالى اعلم

په وارثانو کي ښځۀ، دوې لوڼي یو زوی دي

سوال: (۱۲۲) د شیخ محمد هاشم ترکه شرعًا څه ډول تقسیمیږي؟ یعني که له نیکه څخه ورپاته شوی جائداد وي د ده په روپیو نه وي رانیول شوی، د شیخ محمد هاشم وارثان یوه دوهمه ښځه دوې لوڼي له دوهمي ښځي څخه او یو زوی له لومړۍ ښځي څخه دي؟ (۱۳۴۱/۴۰۱هـ)

جواب: د محمد هاشم ترکه که له نیکه ورپاته شوې وي او که خپله ګټلې وي هغه ټوله د وارثانو ده او په دغه صورت کي د محمد هاشم مرحوم ترکه پر موجوده وارثانو دا ډول ویشل کیږي چي د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته دوو دیرش برخي کړئ څلور برخي ښځي ته، څورلس یې زوی ته او اووه اووه برخي هري لور ته ورکړئ. فقط والله تعالی اعلم

په وارثانو کي یوه ښځه، زوی او دوه یتیمان لمسیان دي

سوال: (۱۲۳) حامد وفات شو د ده یوه ښځۀ، یو زوی عابد او دوه یتیمان لمسیان دي د حامد ترکه څه ډول تقسیمیږي؟ (۱۳۴۳/۲۰۹۰هـ)

جواب: په دغه صورت کي د حامد ترکه د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته اته برخي کړئ یوه برخه د ده ښځي ته او اووه برخي د ده زوی عابد ته ورکړئ، لمسیان دواړه محروم دي(۱) فقط والله تعالی اعلم

په وارثانو کي لور، لمسی او د زوی مړور ده

سوال: (۱۲۴) د یو سړي درې وارثان پاته شول یوه لور، یو لمسی (د زوی زوی) او یوه د مړور ښځه نو اوس د ده په ترکه کي د هر یو څومره څومره پر برخه جوړیږي؟

جواب: په دغه صورت کي د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته ترکه د ده دوې برخي کړئ یوه برخه د ده لور ته او یوه برخه لمسي ته ورکړئ د زوی مړور محرومه ده. فقط والله تعالی اعلم

---

(۱) وبعد الترجیح بالجهة اذا تعدد اهل تلک الجهة اعتبر الترجیح بالقربة، فیقدم الابن علی ابنه.... لقرب الدرجة (الشامي: ۵٤٧/۵، کتاب الفرائض، فصل في العصبات ط رشیدیه.)

که وارثان يوه زوی، يوه لور او د ماما د زوی کونډه وي نو....

سوال: (۱۲۵) یو سړی وفات شو یو زوی یوه لور او یوه د ماما د وفات شوي زوی کونډه شته نو که دغه کونډه د ده په جائداد دعوی وکړي نو په داسي حال کي حقدار د جائداد څوک دي؟ (۷۱۵/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: د وفات شوي ترکه په دغه صورت کي د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته درې برخي کړئ دوې برخي د ده زوی ته او یوه برخه د ده لور ته ورکړئ او د ماما د زوی کونډه په دې کي هیڅ حق نلري. فقط والله تعالی اعلم

وارثان دوه زامن، يوه لور يوه خور او يو لمسی دی

سوال: (۱۲۶) یو سړی وفات شو دوه يې زامن، یوه لور، یوه خور او یو لمسی (د زوی زوی) پاته شو، د ده سل روپۍ نغدي او یوه قلعه چي پکي څو سرايونه دي پاته شول نو د ده ترکه به څه ډول ویشل کیږي؟ (۹۱۰/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: په دغه صورت کي د ده ترکه د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته پنځه برخي کړئ دوې برخي هر یو زوی ته او یوه برخه لور ته ورکړئ، خور او لمسی محروم دي. فقط والله تعالی اعلم

وارثان مور او پلار، درې ورونه، دوې خوندي او يوه حامله ښځه ده

سوال: (۱۲۷) زید وفات شو، درې ورونه، دوې خوندي او یوه حامله ښځه پاته شو او د زید مور او پلار هم ژوندي دي نو د ده ترکه څه ډول باید تقسیم شي؟ بینوا توجروا. (۲۴۲/۱۳۴۳ھ)

جواب: په دغه صورت کي غوره خو دغه دي چي تر څو د حاملي ښځي بچی نه وي پیدا شوی تر هغو تقسیم د ترکې ونشي تر څو معلوم شي چي

هلک پیدا شو که انجلی، بیا به د هغه سره سم ترکه تقسیم شي، ځکه چي د زوی او لور په برخه کي فرق شته او دا به هم معلوم شي چي یو بچی دی که زیات لیکن که اوس ترکه تقسیموی نو د هغې تفصیل دا دی چي ښځي ته د ځلورویشتو برخو څخه درې برخي، مور او پلار ته څلور څلور برخي او پاته دیارلس برخي د حمل لپاره کښېږدئ که هلک پیدا شو نو دغه دیارلس برخي د هغه دي او که انجلۍ پیدا شوه نو دوولس برخي د هغې دي او یوه برخه چي پاته شوه هغه به پلار ته ورکوئ او ورونه او خوندي په هر حال کي محروم دي که هلک پیدا شي او که انجلۍ. فقط والله تعالی اعلم

وارثان پنځه خوریان او دوې خورځیګاني دي

سوال: (۱۲۸) هنده وفات شوه صرف پنځهٔ خوریان او دوې خورځیګاني شته، نو ترکه به صرف د هلکانو وي که انجونو ته هم ورکول کیږي؟ (۱۳۳۴/۳۳/۱۰۱۷هـ)

جواب: د هندې ترکه په دغه صورت کي خورځیګانو ته هم ورکول کیږي، خوریان او خورځیګاني دواړه ذوی الارحام دي پر دوی باندي د هندې ترکه د "للذکر مثل حظ الانثيين" په حساب تقسیمیږي، نو په موجوده حالت کي د هندې ترکه د حقوق مقدمه علی المیراث تر ادا کولو وروسته دوولس برخي کړئ دوې دوې برخي هر خوریي ته او یوه یوه برخه هري خورځې ته ورکوړئ فقط

په وارثانو کي د اکا د زوی زامن، وریرګاني، خوریی او د ماما زامن دي

سوال: (۱۲۹) زید وفات شو بچیان یې نهٔ په وارثانو کي د خپل سکه اکا د زوی زامن او د خپل سکه ورور لوڼي، د خپلي سکه خور زوی او د ماما زوی پاته شول، په داسي صورت کي په ترکه کي د کوم کوم چا حق کیږي؟ بینوا توجروا.

(۱۳۳۳-۳۲/۹۲۲هـ)

جواب: په دغه صورت کي د اکا د زوی زامن د زید وارثان دي، وریرګاني، خوریی او د ماما زوی دا ټول محروم دي ځکه چي دا ټول ذوی الارحام دي. عصبه صرف د اکا د زوی زامن دي او د عصبه په موجودیت کي

ذوی الارحام ورثان نه جوړيږي. کما في السراجي وغيره (۱) فقط والله تعالى اعلم

په وارثانو کي يو ورور، لمسی او زوم دی

سوال: (۱۳۰) زما ورور وفات شو د ده يوه لمسی (د لور لور) يو زوم او يو ورور پاته شو ترکه يې د چا ده؟ (۱۷۲/۱۳۳۵هـ)

جواب: ستا د ورور ترکه د حقوق مقدمه على الميراث تر ادا کولو وروسته په دغه صورت کي ټوله ستا ده، لمسی او زوم محروم دی. فقط والله تعالى اعلم

د ترجمې پای ته رسيدو نيټه
۹ ربيع الثاني ۱۴۳۶هـ بمطابق ۳۰ جنوري ۲۰۱۵ د جمعې مبارکي ورځ
ستاسو د دعاګانو محتاج
محمد ابراهيم خليل عفى عنه

کمپوزر: عبيد الرحمن منيب ۳۰۰۹۳۸۳۲۸۹ - ۰۰۹۲
۲۰۱۵/۰۳/۱۲ د ماخستن ۱۲ بجې ۴ دقيقې

النور کمپوزر او نشراتي اداره

(۱) ولا يرث مع ذى سهم ولا عصبة سوى الزوجين لعدم الرد عليها (الدر مع الرد: ۵۵۹/۵، کتاب الفرائض، اوائل باب توريث ذوى الارحام ط رشيديه.)